# څلوېښت کاله په توپان کې

عبدالکریم خُرم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**څلوېښت کاله په توپان کې**

لیکوال: عبدالکریم خُرم

خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی

ډیزاین: حسیب‌الرحمن ساحل

چاپځی: وایګل چاپ

چاپ وار: دویم «له جزوي تصحیح سره»

چاپ کال: ۱۳۹۸ / ۲۰۱۹

**بیه: ۴۷۰ ؋**

پته: افغانستان-کابل، دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

ISBN: 978-9936-653-22-1

0202 504 652, 0798 98 96 96

aksosbookstore@gmail.com

aksos book store aksosbookstore

www. aksosbookstore.af

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اهدأ

هغوی ته چې په دې اوږدو توپاني کلونو کې په پرديو فکرونو، زر، مقام، او آرام ژوندانه دوکه نه شول، له زوره ونه وېرېدل، بلکې د ژوند تر وروستۍ شېبې ټينګ ودرېدل او پر مخ لاړل.

پلار او مور ته مې چې هغوی هم له همدې ډلې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

سریزه ........................................................................ ۹
**لومړی برخه** ........................................................................ ۱۲
د ماشومتوب دوره او کورنی ........................................................ ۱۳
ښوونځی: ........................................................................ ۱۵
د ۱۳۵۷ د غویي کودتا: ........................................................ ۱۶
د سیاسي فعالیت پیل: ........................................................ ۱۹
د سیاست نړۍ ته څه ډول ورننوتم؟ ........................................ ۲۱
له کودتا یو کال وروسته: ........................................................ ۲۳
د مخالفتونو پیل او د پاڅونونو آوازې: ........................................ ۲۵
د منظم فعالیت پیلول: ........................................................ ۲۷
د مرغومي شپږمې پېښه او د کب د درېیمې پاڅون: ........................ ۲۸
د کابل پوهنتون او ښوونځیو لاریونونه: ........................................ ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم ځلې زنداني کېدل او په وردګو کې پټېدل: ........................... ۳۵
لومړی ځل په وردګو کې پټېدل: ........................................... ۳۹
درېیم ځل بندي کېدل: ........................................... ٤٤
د نیول کېدو جریان: ........................................... ٤٦
پلچرخي زندان: ........................................... ۵٦
په زندان کې ستونزې: ........................................... ٦١
له زندانه خلاصون: ........................................... ٦٧
وردګو ته تګ: ........................................... ۷۲
د پېښور په لور خوځېدل: ........................................... ۸۳
د پېښور ژوند: ........................................... ۹۰
د حزب په فرهنګي دفتر کې د کار پیل: ........................................... ۹۳
د لوړو زده کړو د دوام لپاره پاریس ته سفر: ........................................... ۹۸
په پېښور کې د سیاسي ژوند نوی پړاو ........................................... ۱۰۷
د وطن مجلې پیل: ........................................... ۱۱۳
په افغان پوهنتون کې استادي: ........................................... ۱۱۵
سیاسي فعالیتونه: ........................................... ۱۱۷
د قبرس په غونډه کې ګډون: ........................................... ۱۱۹
کابل ته سفرونه: ........................................... ۱۲۹
د سپټمبر پېښې او د بن کنفرانس ........................................... ۱۳۸
امریکا او د پایپ لاین دیپلوماسي: ........................................... ۱٤۳
اسامه داسې زوی چې له نورو سره یې توپیر درلود: ........................................... ۱٤۸
د بن کنفرانس: ........................................... ۱۵۱
لنډمهالې ادارې ته د واک لېږدول: ........................................... ۱۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته راستنېدل او په هېواد کې د کار پیل:............................... ۱۷۵
د واک له انتقال وروسته د هېواد اداري او سیاسي وضعیت ............. ۱۸٤
په ارگ کې د کار پیل: ....................................................... ۱۹۰
په اطلاعات او کلتور وزارت کې کار: ........................................ ۱۹۸
د ملي راډیو ټلویزیون د برخلیک مسأله: ..................................... ۲۰٤
د ملي راډیو-ټلویزیون دننه ستونزې: ......................................... ۲۰٦
د پالیسي او عمل گروپ یا Policy Action Group (PAG): ......... ۲۱٤
د اړیکو د همغږۍ ملي مرکز (NCCC) جوړېدل:............................ ۲۲۰
د پوهنتون او دانشگاه مسأله: ................................................. ۲۳۰
د سریالونو جنجال: ............................................................. ۲٤۱
عمومي فرهنگي وضعیت او په دې برخه کې د وزارت هڅې:........... ۲٤۷
د رسنیو قانون او په ولسي جرگه کې زما د استیضاح مسأله: ............ ۲٦۳
د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ انتخابات: ......................................... ۲٦۸
**دویمه برخه**................................................................ ۲۸۵
ارگ ته بیا راستنېدل.......................................................... ۲۸٦
له حامد کرزي سره کار کول:.................................................. ۲۹۲
د ۲۰۱۰ ز کال د پارلماني انتخاباتو لانجې: .................................. ۲۹۸
د کابلبانک مساله:............................................................. ۳۰۳
بگرام، هغه زندان چې امریکایان یې تړلو ته حاضر نه وو ................ ۳۱۲
په افغانستان کې د امریکایي زندانو په تړاو د تفاهم‌لیک لاسلیک:..... ۳۲۵
د ځایي خلکو پاڅون او د وردگو له نرخ نه د امریکایي ځانگړیو ځواکونو
وتل:........................................................................... ۳٤۷
د بهرنیانو د پټو زندانو کشفیدل: .............................................. ۳۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زندانونو مساله کرار کرار حل شوه! .......................................... ۳۵۶
له امریکا سره د اوږد مهاله ستراتیژیکې ملګرتیا د تړون پر سر خبرې . ۳۶۰
په ایبټ آباد کې د اسامه وژل کېدل: .......................................... ۳۶۵
د ستراتیژیک تړون پر سر د خبرو دوام: ...................................... ۳۶۹
افغانستان ته د اوباما راتګ .......................................................... ۳۸۹
ارګ ته د اوباما راتلل او په نیمه شپه کې د تړون لاسلیک: .............. ۳۹۳
ملکي مرګ ژوبله او له تړون وروسته ستونزې:.................................. ۳۹۵
د هغې سولې لپاره هڅې چې تر پایه په لاس را نغله: ...................... ۴۰۲
د افغانستان سوله له امریکا او پاکستان سره برمته:.......................... ۴۰۵
کابل ته د سید یوسف رضا ګیلاني مهم سفر: .................................. ۴۰۷
له استاد رباني وروسته د سولې برخلیک او د سولې عالي شورا وضعه: ۴۲۳
د قطر د دفتر د پرانیستلو پېښه: ..................................................... ۴۲۸
امریکا ته وروستی سفر: ................................................................ ۴۴۷
دوحې ته سفر او د قطر له امیر سره لیدل:........................................ ۴۶۱
په بروکسل کې درې اړخیزه غونډه: ................................................. ۴۶۵
د بروکسل سفر: ......................................................................... ۴۷۰
په ناټو کې د امریکا د سفیر په کور کې درې اړخیزې خبرې: ........... ۴۷۸
بالاخره د قطر دفتر پرانیستل شو: .................................................. ۴۹۴
له حزب اسلامي سره د سولې هڅې:.............................................. ۵۰۶
د امریکا او افغانستان تر منځ امنیتي او دفاعي تړون......................... ۵۱۴
کابل ته د جان کیري سفر او د امنیتي تړون پر سر خبرې ................ ۵۳۸
له امریکا سره د امنیتي او دفاعي تړون په تړاو مشورتي لویه جرګه: .... ۵۷۹
د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره د کورنیو او بهرنیو فشارونو دوام: ........ ۵۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ پر انتخاباتو څغلند نظر او د واک لېږد:........٦١٤
انتخاباتي قوانین او د کمېسیونونو د نویو غړیو ټاکل:...................... ٦١٧
د نوماندانو د لست نهایي کېدل:............................................ ٦١٩
حامد کرزی باید ولسمشر پاتې شي:........................................ ٦٢٣
د انتخاباتو ترسره کېدل او تر هغو وروسته لانجې:...........................٦٢٦
د ا مریکا علني مداخله او کابل ته د جان کیري سفر:...................... ٦٣٩
ولسمشر اشرف غني ته د واک لېږد: ......................................... ٦٥١

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

کله چې شاته ګورم، پر تېرو څلوېښتو کلونو کې، وینم چې مبارزه مې کړې نه سیاست. له ماسره د ارګ په ماڼیو کې هماغه احساس ؤ چې د څرخي پله زندان په پنجرو کې ؤ.

متاسفانه افغانستان له څلوېښتو کلونو را هیسې له یوه اشغال نه پر بل او له یوه بحران نه پر بل اوښتی او د زوال په لوري یې مزل کړی.

البته د انسان د ژوند له لومړنیو پړاوونو تر ننه پورې د تاریخ د یرغلګرو منطق او چلن داسې اړخونه درلودلي دي چې ډېر پرې دوکه شوي او یا یې پر خلاف د درېدو توان له لاسه ورکړی.

یو وخت یې موږ ته مرتجع عناصر ویل چې په اصطلاح د «تاریخ د جبر» پر وړاندې ولاړ وو او «بې ځایه لاس او پښې» مو غورځولې چې د بشریت د پرمختګ د حرکت مخه ونیسو او د «نړیوال کارګري انقلاب» د بریا مانع شو.

بل وخت یې موږ «پوپولیست» او د توطیې پر تیورۍ باوري بللو چې د «ترهګرۍ پر خلاف د آزادۍ او بشري حقونو د علمبردارانو پر صادقانه مبارزه» مو شک کړی ؤ.

خو زه ځان د هغه اروپایي فولکلوریکې کیسې ماشوم په شان ګڼم چې په یوې لویې، حیرانې او دوه زړې غونډه کې یې غږ کړی ؤ چې «پاچا بربنډ دی!» له دنیاوي او مادي اندېښنو نه فارغ ضمیر، انسان ته خامخا دا فرصت ورکوي چې داسې غږ اوچت کړای شي.

کلونه مخکې یې چې زه د استیضاح لپاره پارلمان ته ور بللی وم د استعمار او د هېواد پر رسنیو یې د نفوذ او له هغو د وسیلې په توګه د کار اخیستلو خبره مې وکړه. هغه وخت یو شمېر و نه پوهېدل چې څه مې وویل، ځینو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه او دغه نومونو تورن کړم او د امریکا په سفارت کې یې پرېکړه وکړه چې زه یې «دوست» نه یم، کله مې چې وغوښتل په افغانستان کې د امریکا د نویو او منعه شویو وسلو د کارولو او د هغو د بدو اغېزو مساله مطرح کړم زه یې له «وسله‌والو مخالفینو» سره پر همکارۍ تورن کړم او د بگرام زندان په لانجه کې د درېدو په پار یې توهین کړم. تر ټولو په زړه پورې دا چې هغو کسانو هم دغه کار کاوه چې غازي امان الله خان یې خپل اتل باله او تصویرونه به یې په خپلو دفترونو کې راځړولي وو.

باور مې دی چې که همدغه کسان له انگریزانو سره د افغانانو د لومړۍ جگړې پر مهال اوسېدای دوی به د محمد شاه خان بابکرخېل پر ځای د ولي محمد خان لاټي په څنگ کې ولاړ وو.

ما ته داسې مشورې راکړل شوې چې په لومړي گام کې د دې کتاب له لومړۍ برخې تېر شم چې زما د شخصي ژوند او جهاد دوران پکې رانغښتی دی، خو داسې مې ونشو کولای، ځکه چې د جهاد دوره زموږ د هېواد د تاریخ له مهمو دورو څخه ده. باید هغه څه مې چې د جهاد د صفونو د یوه وړوکي سرتېري په توگه پکې لیدلي وو ویلي وای. ځکه خو هغه څوک چې د ولسمشر کرزي د حکومت د وروستیو کلونو له تودو سیاسي جریاناتو سره لېوالتیا لري کولای شي د کتاب په دویمه برخه کې یې ولولي.

ما هڅه کړې هغه څه چې مې لیدلي او اورېدلي دي له کمي او زیاتي پرته یې کټ مټ ولیکم. ښکاره ده چې زه د پېښو د یوې برخې شاهد وم نه د ټولو، ځکه خو د پېښو په روایت کې هر ډول نیمگړتیا قصدي نه بلکې ښایي زما د ناخبرۍ په سبب وي. په ځینو برخو کې مې ډیالوگونه راوړي دي. له دې نه مې دوه هدفونه وو: یو دا چې په روایت کې امانت رعایت شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم دا چې د هغې غونډې فضا پکې انځور کړای شم کوم کار چې په عادي نقل قول سره ممکن نه دی.

زه د دې کتاب په لیکلو کې د ډېرو دوستانو، د هغوی له جملې ښخه د حمید ناصري، نذیر احمد سهار او جاوید کوټوال له همکارۍ او مهربانۍ ښخه برخمن وم چې له ټولو مننه کوم.

په ځانګړې توګه له خپلې خور لیلا خُرم، زوی مې عبدالله او لور مې عایشه جانې ښخه مننه چې د دوی له همکارۍ پرته دا کار ناشونی ؤ.

له ګران دوست محمد زبیر شفیقي ښخه چې د پښتو متن په لیکلو کې یې راسره همکاري وکړه مننه کوم.

درنښت

عبدالکریم خُرم

کابل- پروان مېنه

چنګاښ ۱۳۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ماشومتوب دوره او کورنۍ

ما په ۱۳۴۲ لمریز کال په یوه نسبتاً سوکاله کورنۍ کې د کابل په پروان مېنه کې نړۍ ته سترګې وغړولې، پلار مې دولتي مامور ؤ او هغه مهال چې زه لا ماشوم وم د ښکار پر مهال یې په یوې پېښې کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، د پلار له وفات وروسته مې مور زما له تره عبدالغفور خُرم سره واده وکړ، تره مې د پلار له وفات څخه مخکې هم او تر هغه وروسته هم زما او زما د ورور او خویندو د روزنې مسوولیت پر غاړه اخیستی ؤ. زه چې په ژوند کې څه لرم د هغه له برکته دي، تره مې یو مهربانه، وطندوست او زیارکښ سړی ؤ چې ډېر زر یې دولتي کار پرېښود او په خپل شخصي کاروبار کې یې چې پیل کړی ؤ ښه پرمختګ وکړ. هغه یو وخت د سید احمد ګیلاني او یوه لبناني سوداګر سره یو ځای یو شرکت جوړ کړ او د «NCR» نمایندګي یې ترلاسه کړه او لومړی ځل یې کمپیوټري ماشینونه چې ډېر لوی لوی وو افغانستان ته راوړل او لومړی ځل یې د باولینګ کلپ جوړ کړ دغه شرکت د ایسکریم ماشینونه هېواد ته وارد کړل. که څه هم د ده پانګونې او سوداګري دوه ځله یو ځل د چنګاښ د ۲۶مې د سردار داود خان له کودتا سره او بل ځل د غویي د اوومې له کمونیستي کودتا سره سختې ضربې ولیدې، خو بیا هم مایوس نه شو. تر دې چې د ډاکتر نجیب د واکمنۍ پر مهال مجبور شو چې کور، کلی او کاروبار هر څه زما مشر ورور او د هغه کورنۍ ته پرېږدي او له کورنۍ سره له کابله پېښور ته هجرت وکړي. په دې کتاب کې چې تر دې وروسته هر ځای د «پلار» یادونه کوم، هدف مې تره دی- هغه څوک چې د وطندوستۍ لومړنی درس یې راښودلی دی.

مور مې د یوه متقي سړي لور وه چې د خپل ژوند زیاته برخه یې له انګریزانو سره د خپلواکۍ په جهاد کې د جنوب په جبهه کې تېره کړې وه. د پلار له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوري مې بابا د وردګو د سيدآباد او د مور له اړخه بابا مې د چك ولسوالۍ ؤ، چې په کابل کې د پير سيد احمد ګيلاني د پلار نقيب صاحب په دربار کې يو له بل سره آشنا شول او وروسته يې دغه پېژندګلوي په خپلوۍ بدله کړه.

د پلار له لوري نيا مې د مشرقي او د ساپي له قوم څخه وه او د مور له لوري نيا مې د وردګو د دراني ټبره وه.

څرنګه چې هغه مهال د وردګو په کليو کې د نجونو ښوونځي نه وو، مور مې د عربانو درې د کوډۍ کلي له ملا عبدالغني اخوندزاده نه سبقونه ويلي دي. هغه د ژور نظر خاونده او پر ټولنيزو بدلونونو خبره وه. شعري طبعه يې هم درلوده، کله يې چې په کابل کې ژوند پيل کړ د هغه مهال جريدې او اخبارونه به يې مطالعه کول. پر هېواد د شوروي تر يرغل، په تېره زما تر بندي کېدو وروسته يې د خپلې شعري قريحې له مخې د شعر په ويلو پيل وکړ، داسې شعرونه چې د مجاهدينو په ستاينو او د يرغلګرو د غندنې په باب وو. د هغو شعرونو کتابچه يې د خاد غړيو زموږ د کور د تلاشي پرمهال ورسره يوووړه. د هجرت پرمهال يې هغه شعرونه چې په ياد پاتې وو له سره وليکل چې اوس د «کړاو» په نوم په وړوکې ټولګه کې چاپ او خپاره شوي دي.

مور مې زما مشره خور ملالۍ سليمي چې په وردګو کې زيږېدلې وه له خپلې غېږې بېله کړه او کابل ته يې واستوله چې دلته ښوونځی ووايي، خور مې چې د ملالۍ لېسې له ممتازو شاګردانو څخه وه د کابل د طب پوهنځی يې بشپړ کړ هلته په کدر کې شامله شوه او درس يې هم ورکړ.

دوهمې خور مې ګلالۍ خُرم د لېسې له زده کړو وروسته لږ وخت لوړو زده کړو ته دوام ورکړ بيا د کور په کار بوخته شوه. درېيمه خور مې چې تر ما کشره ده شاعره او ليکواله ده، هغې د حقوقو پوهنځي وروستی کال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبورۍ پرېښود او له کورنۍ سره پېښور ته مهاجره شوه. لیلا خُرم په پښتو او دري دوې شعري ټولګې، یوه د مقالو ټولګه او یوه د طنزونو ټولګه چاپ کړې دي. په پېښور کې هغه لومړۍ «د پیام زن مسلمان مجلې» او «نسأ» جریدې مسووله مدیره وه او وروسته د «وطن» مجلې مسووله مدیره چې موږ په ګډه د یو شمېر لیکوالو دوستانو په قلمي همکارۍ خپروله.

ورور مې عبدالرحیم خُرم د کابل له انجنیرۍ پوهنځي څخه فارغ شو. د سردار محمد داود خان د حکومت پر مهال عسکري خدمت ته لاړ، هلته د احتیاط له یو شمېر نورو عسکرو سره په دې جرم چې له عسکري قوانینو یې سرغړونه کړې او په اعتراض یې لاس پورې کړی شپږ میاشتې زیات په عسکري خدمت کې پاتې شو او په جزایي ډول د کونړ سرکانو ته واستول شو، چې د ثور له کودتا څه لږ مخکې یې ترخیص واخیست.

## ښوونځی

ما لومړنۍ زده کړې د پروان مېنې په رابیا ښوونځي کې چې زموږ کور ته نږدې ؤ سر ته ورسولې. پلار مې هیله درلوده چې نورې زده کړې د هغه مهال تر ټولو په غوره ښوونځي کې چې استقلال لیسه وه وکړم. استقلال لیسې چې زیاتره د اشرافي کورنیو زامنو پکې درس وایه سخت شرطونه درلودل.

هغو ته د شاملېدو لپاره زده کوونکي باید کانکور ازموینه ورکړې وای او د نورو لیسو پر خلاف چې د بریا نومره پکې له سلو نه ۳۵ نومرې وې، دلته زده کوونکي باید لږ تر لږه پنځوس نومرې ګټلې وای.

زموږ له ښوونځي نه یو ګروپ نجوني او هلکان ورغلو او په کانکور کې مو ګډون وکړ، له لسګونو تنو څخه په هلکانو کې موږ دوه تنه بریالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو چې استقلال لېسې ته لاړو او له نجونو څه دوې تنې بریالۍ شوې چې ملالۍ لېسې ته شاملې شوې. استقلال او اماني هغه دوې لېسې وې چې بهرنیانو اداره کولې.

استقلال فرانسویانو اداره کوله، پر عادي ورځنیو درسونو سربېره، موږ په اونۍ کې دوې ورځې له ماسپښین وروسته فرانسوي ژبه ویله او د ژمنیو رخصتیو پر وخت هم، په ځانګړې توګه د اووم ټولګي له پیلېدو مخکې فرانسوي ښوونکیو موږ ته د ژبې درس را کاوه. د لسم ټولګي له پیل سره ټول ساینسي مضامین په فرانسوي ژبه وو او فرانسوي ښوونکیو یې درس ورکاوه، په استقلال لېسه کې د درس نظم او ترتیب، ورزش او فرهنګي فعالیتونو ډېر ارزښت درلود. فرانسویانو هڅه کوله چې استقلال لېسه د افغانستان د راتلونکیو نخبه ګانو د ځانګړې روزنې ښوونځی شي.

په نظر کې وه چې پر ۱۳۵۷ لمریز د نا پېیلو هېوادونو کنفرانس په افغانستان کې جوړ شي، ارګ او بهرنیو چارو وزارت ته د نږدې والي په دلیل د دې کنفرانس یوه برخه په استقلال لېسه کې جوړېده. له همدې امله د لېسې په ودانۍ په ځانګړې توګه په ادیتوریم کې تیارۍ نیول کېدو، ټولو زده کوونکیو به په تلوسه هغو ته کتل، خو د غویي پر اوومه کودتا وشوه او دغه کنفرانس د افغانستان پر ځای په کیوبا کې تر سره شو.

## د ۱۳۵۷ د غویي کودتا

د پنجشنبې ورځ وه پلار مې د پخوا په څېر سهار په خپل موټر کې ښوونځي ته ورسولم. زه د نهم ټولګي زده کوونکی وم، درسونه مو پیل شول، ښه مې په یاد پاتې نه دي چې د کوم مضمون ساعت ؤ، خو ښایي د غرمې لس بجې به وې چې یو ډول غرونه اوچت شول. ورو ورو غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات شول، ما فکر کاوه چې د کابل ولايت ودانۍ ته څېرمه پوستين گنډونکي دي چې معمولاً به يې د حيواناتو څرمنې دربولې، ځکه چې دوی د پوستين له گنډلو مخکې دا کار کاوه، خو غږونه نور هم زيات شول. نه پوهېږم چې په څه ډول وو خو په ټولگي کې اوازه خپره شوه چې کودتا شوې ده، که څه هم د کودتا نوم مې په ۱۳۵۲ لمريز کې هم اورېدلی ؤ او آن چې ټانکونه او پوځيان مې هم ليدلي وو چې اوسپنيزې خولۍ يې پر سر کړې وې. هغه مهال مې هم ليدلي وو چې د ښار په بېلابېلو برخو په تېره د باغ بالا د غونډۍ د لارې په مخه کې درېدلي وو، خو هغه مهال مې د ډزو غږ نه ؤ اورېدلی، د غږونو له زياتېدو چې اوس مو فکر کاوه د ټوپکو ډزې دي په ټولگي کې وضعه يو څه بدله شوه، څرنگه چې زموږ ټولگي د ارگ لوري ته کړکۍ نه درلوده نه پوهېدو چې د ارگ په برجونو کې پوځيان تيارسئ شوي دي که نه؟ ښايي چې زموږ ټولگيو ته به د کودتا اوازه له هغو ټولگيو راغلې وه چې ارگ لوري ته يې کړکۍ درلودې، يا به ښايي په ښوونکيو او زده کوونکيو کې هم داسې څوك وو چې له سياسي وضعې خبر وو.

د غوېيي له اوومې يوازې څو ورځې وړاندې زموږ په کور کې هم د «کينې اړخو» د لاريون خبره شوې وه، په ياد مې دي چې هغه مهال مې هم له خپل پلار نه وپوښتل چې دا کينې اړخي څوك دي؟ هغه په ځواب کې راته ويلي وو چې کينې اړخي کمونيستان او د شوروي اتحاد پلويان دي. دا چې په دې برخه کې پر څه نه پوهېدم او له چا نه مې تفصيلي ځواب هم نه ؤ اورېدلی، نور مې پوښتنه ونه کړه، خو د کينې اړخو نوم را ته عجيب ښکارېدو، په ځانگړې توگه دا چې ويل کېدل چې کينې اړخو شبنامې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرې کړې دي، زه ترې ووېرېدم، ځکه داسې څوک مې په ذهن کې انځور شول چې د شپې له لوري خطرناک کارونه کوي. د شاهي حکومت پر مهال کله چې بېلا بېلو گوندونو د محصلينو په منځ کې ښکاره فعاليت کاوه او لاريونونه به يې کول، مشر ورور او خور مې په انجنيري او طب پوهنځيو کې درس وايه او کله کله به يې د خپلو درسونو له ځنډېدو شکايتونه کول، خو څرنگه چې هغوی له سياست سره لېوالتيا نه درلوده د لاريونونو له جريانه به يې کيسې نه کولې زه هم نه پوهېدم چې څوك په وطن کې څه کوي.
کله چې سردار داود خان په ۱۳۵۲ لمريز کودتا وکړه او سياسي فعاليتونه يې منع کړل، زه د ښوونځي په درېيم ټولگي کې وم. تر هغو وروسته د گوندونو فعاليتونه او لاريونونه منع شوي وو، په همدې دليل زه هم و نه توانېدم چې هغوی وپېژنم.
د غويي کودتا مې په مغزو کې زنگ وواهه، پوښتنې يې را سره پيدا کړې او همدې پېښې د سياسي نړۍ دروازه زما پر مخ پرانيسته.
د پلټنو په پايله کې وپوهېدم چې له کينې اړخو مشرانو څخه يو تن د مير اکبر خيبر په نامه د غويي له اوومې څو ورځې وړاندې وژل شوی ؤ، وروسته خلقيانو او پرچميانو د ده د جنازې د ښخولو په مراسمو کې لاريون وکړ، د ده د وژلو تور يې پر دولت پورې کړ او د کسات اخيستو شعارونه يې ورکړي وو.
کله چې د ډزو غږونه زيات شول، که څه هم د رخصتۍ وخت لا نه ؤ را رسېدلی د ښوونځي ادارې را ته وويل چې رخصت ياست او خپلو کورونو ته لاړ شئ. چې د باندې راووتو پلار مې وليد چې له موټر سره يې ما ته انتظار دی. زه به له رخصتۍ وروسته معمولاً په ملي بس کې کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته تلم. کله مې چې پلار ولید، هغه هم تر رخصتۍ وړاندې، وپوهېدم چې وضعه عادي نه ده، د ښوونځي په مخه کې د لوکسو او د هغه مهال په اصطلاح د تورو شپږ گزه موټرونو اوږد کتار درېدلې ؤ چې د حکومت د جگپوړيو غړيو زامن چې زياتره د استقلال لېسې زده کوونکي وو کورونو ته ورسوي.

په هر صورت موږ خپل کور ته راغلو، د ډزو غږونو دوام موند او د ټوپکو پروړو ډزو د درنو وسلو ډزې هم ور زياتې شوې. له غرمې وروسته جيټ الوتکې چې د جشن له مراسمو پرته موږ د هغو الوتل نه وو ليدلي راپورته شوې پر ارگ يې دورې پيل شوې، موږ د خپل کور له بامه دغه ننداره کوله، مازديگر مهال الوتکو پر ارگ بمونه وغورځول، له کابل راډيو نه مازديگر مهال ملي نغمې پيل شوې، ماښام مهال ؤ چې راډيو اعلان کړه «د نادري کورنۍ واکمني د تل لپاره پايته ورسېده» د درنو وسلو ډزې د شپې هم روانې وې چې ډېره وېروونکې فضا يې جوړه کړې وه. سبا ته د جمعې ورځ وه، د جمعې ورځې په بهير کې هم د ډزو تيت او پرك غږونه او د جيټ الوتکو الوتنو دوام درلود. په دې ډول د غويي کودتا بريالۍ شوه.

## د سياسي فعاليت پيل

زه په داسې کورنۍ کې ستر شوم چې هم يې د اطراف يانې د کليو له وطني خلکو سره سروکار ؤ او هم يې د ښاري لوېديزپالو اشرافي خلکو سره. له دغو دوو متفاوتو دنياوو سره اړيکې زما د ذهن او نظر د پراخې سبب کېدې. د ظاهر شاه او وروسته د سردار محمد داود خان په دوره کې افغانستان داسې پلازمېنه درلوده چې ډېره گړندۍ غربي کېدله، خو کابل په تېره د شتمنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړو زده کړو خاوندانو سیمې د یوې داسې وړوکې جزیرې حیثیت درلود چې د دودیزو سخت پر دین پابندو بې وزلو خلکو د سمندر په منځ کې پرته وه. سیاستوالو او د زده کړو خاوندانو له عامو خلکو څخه بېله دنیا درلوده، آن تر دې چې هڅه یې نه کوله چې شریکه ژبه ور سره ولري.

د افغانستان وګړو د تیمور شاه او وزیر فتح خان د کورنیو له انقلابونو او خپلمنځي جګړو نه جبرانېدونکي ګوزارونه لیدلي وو، د ظاهرشاه د پاچاهۍ له ټینګېدو او د هغو د تره د کلکې ادارې له برکته یې د ژوند آرامې ورځې شپې تېرولې. خو د ژوند په ډېرو اړخونو کې د هېواد وروسته پاتې والي، سیاسي مشران او د زده کړو خاوندان دې ته اړ کړي وو چې سیاسي فعالیتونه ولري. د پاچهۍ د حساب وړ دوره له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د سړې جګړې او د نړۍ د دوه قطبي کېدو په دوران کې راتله. افغانستان چې د هند نیمې وچې ته د لویې بریتانیا له نوتلو او د کابل له حکومت سره یې له اړیکو سره د روسیې او بریتانیا د سیالۍ او کړکېچ په ډګر بدل شوی ؤ. د نړۍ له دوه قطبي کېدو او د دواړو ښکېلو لوریو تر منځ د هغو له وېش سره افغانستان د خپل سیاسي او ټولنیز ثبات شپې ورځې تېرولې .

د نړۍ په کچه دغه دوره د ایډیولوژیو د حاکمیت او د دوو متضادو او متفاوتو نظریو دوره وه چې هرې یوې غوښتل خپله مدینهٔ فاضله (ایډیال ټولنه) جوړه کړي او د نړۍ ډېره برخه په هغو کې ورګډه کړي. دغه دوې بېلې دنیاوې او دوې متفاوتې نظریې یوه سوسیالیستي نړۍ وه چې مارکسیزم- لیننیزم یې تر شا ؤ او بل د لوېدیز پانګوال نظام ؤ چې د لیبرال ډیموکراسۍ پر نظریې ولاړ ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان پاچهي نظام چې په ذهن او انګېرنو کې يې لوېديز ته تمايل درلود د جيو پولیتيک جبر له مخې يې له شوروي اتحاد سره ښې اړيکې ساتلې وې.
بل لور ته د افغانستان جغرافياوي موقعيت د دې سبب شوی ؤ چې د امريکا متحده ايالات چې د لوېديز لېبرال جهان مشري يې په اوږو وه، په افغانستان کې ډېرې مداخلې ته لېوالتيا و نه ښيي، ځکه خو د امريکا د ملاتړ په لاسته راوړو کې په تېره په پوځي برخه کې د افغانستان د حکومت هڅو کومه پايله نه درلوده او هغه هېواد د «سيټو» او «سياتو» تړونونو پر بنسټ عملاً په دې سيمه کې ايران او پاکستان خپل متحدين غوره کړل .

## د سياست نړۍ ته څه ډول ورننوتم؟

د غويي کودتا بريا او په هېواد کې د نظام بدلون ګواکې زه له خوبه را ويښ کړم، بل لور ته د دې کودتا پر مهال زه د عمر په داسې پړاو کې وم چې ځوانان په هغو کې يا سياست ته مخه کوي، يا لوبو او سپورت او يا کومې ځانګړې هنري څانګې ته.
کله چې د کودتا له بريا وروسته ښوونځي ته لاړو ډېر بدلونونه مو هلته وليدل، يو شمېر ښوونکي او شاګردان چې پخوا زموږ په څېر ښکارېدل، د خلق او يا پرچم ډلو غړي را ووتل او د ښوونځي په چاپېريال کې د هر ډول فعاليتونو واکداران وګرځېدل.
زموږ په نصاب کې سياسي درسونه شامل شول، چې په هغو کې زياتره له د باندې څخه راغلیو آن د غير تعليمي ادارو غړيو، د پينځو تاريخي دورو، د تاريخ جبر او د تاريخي ماټرياليزم او ډيالکتيک درسونه ورکول. زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځي مدير چې له دې مخکې د ټولنې له مخورو څخه ؤ او فرانسوي مېرمن يې درلوده له دندې گوښه شو، ځای يې د ځوړندو بريتونو خاوند يوه خلقي ونيو. ورو ورو په سرو ټوکرانو شعارونه د ښوونځي پر دېوالونو را وځړېدل، آن تر دې چې د استقلال لېسې د ښکلي اډيټوريم دننه پر دېوالونو يې هم ميخونه ټک‌وهل او د خلق ديموکراتيک گوند انقلابي شعارونه يې پرې را وځړول. په دې شعارونو کې مې داسې کليمې، اصطلاح گانې او مفاهيم ليدل چې ذهن مې يې خوځاوه او پوښتنې يې را سره پيدا کولې. مثلاً پر يوه شعار ليکل شوي وو:

«مرگ د ايران پر رژيم، دا په سيمه کې د امپرياليزم ژاندارم او نوکر»!

د سيمې ژاندارم او امپرياليزم او نورې هغه اصطلاوې وې چې زه نوی ورسره اشنا کېدم.

ځينې ټولگيوال مې چې يا يې پلرونو او يا مشرانو ورونو او د کورنۍ غړيو د خلق او پرچم له ډلو سره اړيکې درلودې، د خلق ديموکراتيک گوند د ځوانانو په سازمان کې شامل شول، هغوی د نورو شاگردانو په جذب او جلب لاس پورې کړ. همدغه وخت د هغې ناحيې د لومړني سازمان دفتر چې استقلال لېسه پکې شامله وه زموږ ښوونځي ته را ولېږدول شو او زموږ کفيتريا د لومړني سازمان په دفتر بدله شوه. د ځوانانو سازمان غړيو د گوندي غونډو او نورو فعاليتونو تر څنگ د شاگردانو راپورونه هم سازمان ته ور وړل .

په ياد مې دي چې د ځوانانو سازمان يوه غړي چې زموږ همدوره ؤ يو زده کوونکی په دې گناه چې ويلي يې وو، موږ په کور کې بي بي سي راديو اورو د لومړني سازمان دفتر ته بوتلو، هلته يې به آبگرمۍ هغه شکنجه کړ تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو د خپلې کورنۍ پر «انقلاب ضد» نورو فعالیتونو اعتراف وکړي، دغه سازماني اوس په یوه اروپایي هېواد کې ژوند کوي .

د کودتا له بریا وروسته یې زده کوونکي هر سهار ټولګی په کتار کې درول، د ملي سرود او انقلابي ترانو له خپرېدو وروسته به د ښوونځي مدیر لنډه وینا کوله او سازماني هلکانو به توند او تېز شعارونه بدرګه کول او «هورا» نارې به یې وهلې، موږ ټول مجبور وو چې انقلابي نارې په هورا نارو بدرګه کړو .

یو سهار «رام پردېش» زموږ هندو ټولګیوال چې له موږ سره یې په پروان مېنه کې ژوند کاوه او له اوږدې مودې مو اندېوالي وه، په دې ګناه چې ما هورا نارې نه دي کړې تر لاس یې ونیولم په کشولو یې له کتاره وایستلم غوښتل یې چې د لومړني سازمان دفتر ته مې بوځي، نورو ټولګیوالو مې ډېرې زارۍ او عذرونه وکړل او زه یې ترې وژغورلم. خدای پوهېږي چې که یې سازمان ته بېولی وای له څه برخلیک سره به مخ کېدم.

## له کودتا یو کال وروسته

له کودتا یو کال تېر شو، نوی بیرغ، نوی ملي سرود او نوی سیاسي او ټولنیز فرهنګ منځته راغی، خلکو د خلقیانو او پرچمیانو له ظلم نه ورځ تر بلې زیات شکایت کاوه.

د فرانسوي ښوونکیو شمېر مو په ښوونځي کې کرار کرار مخ پر کمېدو ؤ، د فرانسوي ښوونکیو له تلو سره د درسونو سویه هم ښکته راغله. له کودتا وروسته زموږ سازماني ټولګیوال ځو ځلې په ما او نورو ټولګیوالو پسې راغلل هڅه یې وکړه چې سازمان ته مو ورجذب کړي، یو شمېر یې د تاریخي ماټریالیزم فلسفه او د تاریخ جبر د خپلې پوهې په حدودو کې یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وو، موږ ته به يې تشريح کول، يو شمېر نورو يې د سرو او شنو باغونو په راښودولو چې دوی په خپل سازمان کې ليدلي وو هڅه کوله چې موږ سازمان ته ورجذب کړي .
د تلوسې حس زه هڅولم چې کمونيستي نظريه مطالعه کړم، په نړۍ کې انقلاب راوستل، په ټولنه کې د عدالت ټينګول او له کمزوريو هېوادونو په نړيواله کچه دفاع هغه ټکي وو چې زه يې ور جلبولم، خو له خدای او د اسلام له دين نه انکار د دې خنډ شو چې زه د مارکسيزم د نظريې پيروي وکړم. په همدې سبب زه د داسې مفکورې په لټه کې شوم چې په ټولنه کې له بې عدالتۍ سره مبارزه وکړي، د ښکېلاکګرو ظالمو هېوادونو پر خلاف ودرېږي او هممهاله پر يکي يو خدای او اسلام باور ولري .
د ښوونځي غير سياسي فضا ډېره ګړندۍ مخ پر سياسي کېدو روانه وه، سازمانيان چې د زده کوونکيو پر جلب او جذب او د نورو فکرونو د خاوندانو پر وېرولو او ګواښلو بوخت وو، پخپله د دې سبب شول چې د مخالفينو ډلې په ښوونځي کې سره منظمې شي، ورو ورو مې هغه زده کوونکي هم وپېژندل چې ويل يې موږ هم مارکسيستان يو خو طريقه او چلن مو له خلقيانو او پرچميانو سره توپير لري، شوروي له کمونيزم سره خيانت کړی. دغه ډله کمونيستان د چين پلويان وو چې په شعليانو مشهور وو. شعليان د شمېر په حساب زموږ په ښوونځي کې لږ وو او ډېر زر تيت او پرک شول ځينې يې بهر ته لاړل. لومړنی کتاب چې مارکسيزم او لينينيزم يې رداوه او اسلام يې د ژغورنې لار ګڼله و مې لوست، «هزار و يک دليل» يې نوم ؤ، تر هغه وروسته مې ټولګيوال او نږدې انډيوال «احمد نواز» د علي شريعتي، سيد قطب او مطهري کتابونه را ته راوړل. ما هغه ولوستل او پر دې باوري شوم چې اسلام زموږ په ټولنه کې تحريف شوی دی، که رښتينی

(c) ketabton.com: The Digital Library



انقلابي اسلام زموږ په ټولنه کې پلی شوی وای هېڅکله به پردیپال کمونیستان دلته واک ته نه وو رسېدلي، نه یوازې زموږ هېواد بلکې ټول اسلامي هېوادونه به د پرمختګ لوړو پوړیو ته ختلي وو .
زموږ د ټولګیوالو او ملګریو تر منځ بحثونه هره ورځ روان وو او په ټولنه کې لوی بدلون راغلی ؤ چې دا د دې سبب کېده چې هر څوک په دې تړاو خپل دریځ او ځای روښانه کړي. هر څوک د یوه فکري او سازماني چوکاټ په لور تلو تر څو هلته خپل ځای ثابت کړي.

## د مخالفتونو پیل او د پاڅونونو آوازې

د خلق دیموکراتیک ګوند او ایډیولوژۍ د تېلو او مطلق حاکمیت په اړه د خلقیانو او پرچمیانو ماشومانه چلن ورو ورو په خلکو کې د مبارزې او مقاومت د را ټوکېدو سبب شو. ظلم او مطلق استبدادي نظام په ټولنه کې د حکومت پر خلاف حساسیتونه را پیدا کړل. مسلماني او له «خلقي مفکورې» سره نه جوړېدل جرم بلل کېدو او دغه ډول خلک د «انقلاب ضد» په نوم زندان ته اچول کېدل. په هره کچه چې په هېواد کې د مبارزې او مخالفت اغېزې را څرګندېدې زموږ په ښوونځي کې سازمانیان لا بد ګوزاره کېدل .
د سردار داود خان د حکومت په وروستیو کلونو کې د لېسو ازموینې میاشتنۍ شوې او د کال په پای کې یوازې یوه کلنۍ ازموینه اخیستل کېده، د ۱۳۵۸ د لمریز کال دوبی و، موږ میاشتنۍ ازموینه درلوده، له معمول سره سم زده کوونکي د مېزونو تر شا ناست او یو له بل نه بېل وو، زما مېز د ټولګي دروازې ته نږدې و. دروازه وازه وه، هر څوک د خپلو سوالونو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حل کولو بوخت وو او پر ټولګي چوپتیا خپره وه، ناڅاپه د لېسې مدیر «سمیع کاریار» په دروازه کې را ښکاره شو.

فکر مې کاوه چې د ازموینې جریان به ګوري، د لېسې مدیر د «ملي بس» یو وړوکی ټکټ له جیبه راویوست او وې ویل عبدالکریم څوک دی؟ ورته و مې ویل زه یم! وې ویل چې له ازموینې وروسته زما دفتر ته راشه، دا بده نښه وه، هره ورځ په ادارو او دولتي دفترونو کې کسان په همدغه ډول لومړنیو سازمانونو او یا د دوی دفترونو ته ور بلل کېدل او بیا به تري تم کېدل. ما غلي خپلو ځینو انډیوالانو ته وکتل، ټول را ته په اندېښنه کې وو، په هر صورت د ازموینې له پایته رسېدو وروسته مدیریت ته لاړم.

د ښوونځي مدیر د ده د میز مخې ته پر اېښې چوکۍ د کېناستلو را ته وویل، بیا یې خپله تومانچه له ملا نه پرانیسته او پر میز یې کېښودله، وې ویل: ولې انقلاب تخریبوې؟ ځواب مې ورکړ چې هېڅکله مې دا کار نه دی کړی. بیا یې وویل ته دا تبلیغ کوې چې شاوخوا ته مجاهدین پیدا شوي دي، جګړه او مقاومت یې پیل کړی دی، انکار مې وکړ، وې ویل شاهد لرم که غواړې راځي او شاهدي درباندې وایي، ما بیا انکار وکړ. زنګ یې وواهه، چپراسي ته یې وویل رحمت الله او محب الله راوله. دا دواړه زما ټولګیوال او انډیوالان وو او دواړه سازمانیان وو، محب الله رانغی، رحمت الله راغی شاهدي یې ورکړه. مدیر مننه ترې وکړه او رخصت یې کړ. بیا یې ما ته مخ را واړاوه وې ویل :

همدا اوس دې پلچرخي ته استولی شم چې بیا دې د کور مخ هم و نه وینې، خو دا ځل فرصت درکوم بیا داسې ونه کړې!.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه ورځ ډېر ناوخته کور ته راستون شوم، مور مې ډېره اندېښمنه وه، زما په راتلو یې سترګې روښانه شوې. کیسه مې ورته وکړه، بیا بیا یې را ته وویل، زویه ډېر پام کوه، ډېر پام کوه، دغه خلک ډېر ظالمان دي .

## د منظم فعالیت پیلول

په هره کچه چې خلقیانو او پرچمیانو خپل چلن سختاوه او نوي فرمانونه یې صادرول د خلکو حساسیتونه ورسره ډېرېدل. ما د خپلې شخصي مطالعې تر څنګ اراده وکړه چې د رژیم پر خلاف عملي مبارزه پیل کړم، په پیل کې مو ږ څو تنو انډیوالانو او ټولګیوالو په خپلو کې غونډې پیل کړې. خو له دې سره هممهاله مو هڅه وکړه چې د مجاهدینو له یوه تنظیم سره ځانونه تنظیم کړو چې په پېښور کې فعال شوي وو او نومونه یې په کابل او شاوخوا سیمو کې مشهور کېدل.

ما د محمد انور ماما له لارې چې زموږ خپلوان و، د کابل د منډوي په یوه سرای کې له استاد اکبر سره ولیدل او رسماً له حزب اسلامي افغانستان سره ملګری شوم .

استاد اکبر پر بایسکل سپور د لیدو ځای ته راغی، قره قلي خولۍ یې پر سر وه او ظاهراً یې څېره د اوړو او وریجو یوه عمده پلورونکي دوکاندار ته ورته وه، استاد اکبر په کابل کې د حزب اسلامي د زده کوونکیو او محصلینو د فعالیتونو مسوول و، د یوه جدي او انقلابي شخصیت په څېر راته ښکاره شو چې هېڅ وېره یې په زړه کې نه وه، وروسته مې تبلیغاتي پاڼې «د غړیو د مسوولیتونو» وړوکې رساله او د سید مودودي، سید قطب او ... کتابونه مې له هغه تر لاسه کړل او رسماً مې فعالیت پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلقيانو او پرچميانو تر منځ مخالفت مخ پر زياتېدو و، پرچميان گوښه کړای شول، ځينې يې ان د حکومت پر مخالفينو او منتقدينو بدل شول، کارمل او نړدې ملگري يې د سفيرانو په توگه بهر ته تبعيد شول، ډېره موده نه وه تېره شوې چې د تره‌کي او حفيظ الله امين تر منځ هم اختلاف راغی. دغه اختلافات زيات شول تر دې چې د امين له لوري د تره‌کي په بندي کېدو او وژل کېدو تمام شو. دې پېښې د کمونيستانو په منځ کې نوي درزونه واچول او يو شمېر د تره‌کي پلويان له گونده ووتل، زموږ په ټولگيوالو کې هم داسې کسان وو چې نور گوندي غونډو ته نه ورتلل او په گوندي فعاليتونو کې يې برخه نه اخيستله.

## د مرغومي شپږمې پېښه او د کب د دريېمې پاڅون

د نور محمد تره‌کي له وژل کېدو وروسته حفيظ الله امين د حزب او دولت په بلا تنازع حاکم بدل شو.

نوموړی له ارگه د تاج‌بيك غونډۍ ته ولېږدېد. د پرچميانو او خلقيانو او د خلقيانو د دوو اړخونو تر منځ خپلمنځي مخالفتونه د هرې ورځې په تېرېدو زياتېدل، ځينې کسان يې د ځرخي پله زندان ته هم واستول شول، يو شمېر يې د کودتا په گناه ونيول شول او ښه ورېړول شول، له دې سره هممهاله د جهادي گوندونو فعاليتونه هم چې ځينې يې نوي جوړ شوي وو زيات شول.

د ۱۳۵۸ لمريز د مرغومي له شپږمې ځو ورځې وړاندې د شبنامو په ځېر پاڼې د حکومت له لوري خپرې شوې، په هغو کې د کابل خلکو ته يو شمېر هدايات ليکل شوي وو. د مثال په توگه دا چې د شپې له لوري مو د کوټو پر کړکيو پردې واچوئ، له کوره مه راوځئ او داسې نور. له دې سره د بار وړونکيو او ترانسپورتي الوتکو الوتنې پيل شوې چې ځو شپې ورځې يې پرلپسې دوام درلود. د مرغومي په شپږمه د درنو زغره والو موټرو او ټانکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غبرونه اوچت شول، د زره پوښونو يو اوږد کتار زموږ د کور له مخې د باغ بالا د (دهن نل) په لور تېر شو چې ظاهراً د ميرويس ميدان په لور لاړ. د شپې د ازبکستان له راديو نه د ببرک کارمل غږ اوچت شو چې د امين د واکمنۍ پای او د «ثور انقلاب د نوي پړاو پيل» يې اعلان کړ، سبا ته د کابل واټونه او بازارونه د شوروي پوځ ټانکونو او زرهپوښونو نيولي وو، حفيظ الله امين د شپې په بهير کې د روسي پوځيانو په لاس وژل شوی و، پر ځای يې د خلق ديموکراتيک گوند د عمومي منشي او د انقلابي شورا د عمومي رييس په توگه د شورويانو لخوا ببرک کارمل ټاکل شوی و. په دې ډول حکومت له خلقيانو څخه واخيستل شو او پرچميانو ته ورکړل شو .
د نوي پړاو له پيل او د پرچميانو له واک ته رسېدو سره د حکومت په چلن کې يو لږ بدلونونه راغلل، د هغو له جملې څخه له محاکمې پرته د خلکو وژل او محاکمه کول يو څه کم شول، خو د شورويانو لخوا برالا د هېواد نيول او ښکاره تېري د مجاهدينو ارادې نورې هم ټينگې کړې، تر دې چې هغو کسانو هم چې تر اوسه بې پرې وو هڅه وکړه چې له مجاهدينو سره ملگري شي او د وطن له آزادۍ او عقيدې څخه دفاع وکړي .
د کب په درېيمه ورځ د کابل دوکانونه بند وو او د شپې د کابل خلک په داسې حال کې چې نيغ د «خاد» د څارگرې ادارې او K.G.B تر «تيغ» لاندې وو را پورته شول او د شپې له لوري د خپلو کورونو بامونو ته وختل، د شوروي د يرغل پر خلاف يې د «الله اکبر» شعارونه بدرگه کړل. زموږ په کوڅه کې زما ورور لومړنی کس و چې بام ته وخوت او د «الله اکبر» نارې يې اوچتې کړې. د الله اکبر نارو د کابل فضا سر تاسره ډکه کړې وه، له څو ساعتونو وروسته زه او ورور مې زموږ د محلې جومات ته لاړو، هلته خلک راټول شوي وو تکبيرونه يې ويل، که به کوم دولتي موټر له هغه سيمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېده په ډېرو او لرګيو به يې پرې برید کاوه، یو دولتي جیپ چې تر برید لاندې راغی پر خلکو یې ډزې وکړې خو له نېکه مرغه څوک پکې ضایع نه شول .

د هغې شپې په سبا خلک کوڅو او واټونو ته راووتل، د حکومت او بهرنیو یرغلګرو پر ضد یې شعارونه ورکړل، د ښار په ځینو برخو کې یې د پولیسو ماموریتونه ونیول، ما د خپلې محلې د کورونو پر دېوالونو پر سکرو د حکومت او شورویانو پر ضد شعارونه ولیکل او خپل نور اندېوالان او دوستان مې هم وهڅول چې دوی هم هر یو دا کار وکړي.

حکومت د دې پاڅون پر ځپلو لاس پورې کړ، تر دې چې جنګي الوتکې یې را پورته شوې، یو شمېر پاڅونوال شهیدان کړای شول او زیات شمېر زندانونو ته ولوېدل.

د کب د درېیمې پاڅون د کابل د خلکو ډېر مظلومانه او سپېڅلی اعتراض و. د مجاهدینو ګوندونو چې مرکزونه یې په پېښور کې وو په دې پاڅون کې چندان ونډه نه درلوده، د یوه ظالم او یرغلګر ځواک تر ملاتړ لاندې د حاکمیت په مرکز کې دغه پاڅون ښايي په ۱۹مه پېړۍ کې د انګلیسي یرغلګرو پر خلاف د کابل د خلکو د پاڅونونو په شان ثبت شي.

## د کابل پوهنتون او ښوونځیو لاریونونه

د پسرلي له را رسېدو او د نوي تعلیمي کال له پیلېدو سره په کابل پوهنتون او لېسو کې خوځښتونه پیل شول، دغه خوځښتونه د رژیم او شوروي پر خلاف د لاریونونو سبب شول.

هره ورځ به نوي ښوونځي له هغو لېسو سره ملګري کېدل چې لاریونونه یې کول، د استقلال لېسې زده کوونکي تر دغه وخته پر لاریون کوونکیو نه وو ور شریک شوي خو تیارۍ یې د پیل لپاره روانې وې. یوه ورځ سهار له

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمول سره سم زه خپل پلار په موټر کې ښوونځي ته ورسولم، چې له موټره ښکته شوم او موټر روان شو پخوا تر دې چې ښوونځي ته ننوځم د ځوانانو سازمان یو غړی را نږدې شو، له لاسه یې ونیولم را ته ویل یې راځه چې د سازمان ملګریو ته غوښتی یې. زه یې د سازمان اولیه دفتر ته بوتلم چې د ارګ تر څنګ د کفتریا په پخوانۍ ودانۍ کې و. هلته یې څو پوښتنې را نه وکړې، وې ویل ته زده کوونکي لمسوې او لاریون ته یې هڅوې، ما انکار وکړ، انتظار مې هلته اوږد شو، د ښار له منځه غړونه راتلل دا یې ښودله چې لاریون روان دی او خلک شعارونه ورکوي. روسي جیپانو پرلپسې هغه ځوانان چې په ښار کې نیول شوي وو د سازمان اولیه دفتر ته راوستل، د هغوی په منځ کې د استقلال لیسې زده کوونکي ډېر لږ وو، دوولس بجې شوې، بیا تر دوولسو هم واوښتې، زما برخلیک معلوم نه و. یو شمېر کسان یې په جیپانو کې بل ځای ته لېږدول، ویل کېدل چې هغوی صدارت ته وړي .

زه مې کورنۍ په تېره مور ته په اندېښنه کې وم چې په څه وضعه کې به وي؟ نږدې مازیګر مهال یې زه هم په روسي جیپ کې سپور کړم او صدارت (د خاد نظارت خونې) ته یې یوووړم. په صدارت کې یې یوې زړې ودانۍ ته یووړم چې نه پوهېدم په کومه برخه کې وه. دغه پخوانۍ ودانۍ ډېره ښکلې وه خو اوس ډېره ورسته شوې وه، یوه لوی اطاق ته چې ښایي تر پنځوسو ډېر کسان پکې وو ور وستل شوم. هغوی ټول محصلین او زده کوونکي وو، هغوی زما په څېر د داسې څه په انتظار وو چې ښایي ډېر خطرناک وي. شپه شوه، ډوډۍ یې راوړه، ښوروا وه، د ډوډۍ له خوړلو وروسته د نومونو اخیستل پیل شول، په ترتیب سره یې یو یا دوه تنه تحقیق ته وربلل، زما نوبت نیمه شپه را ورسېد. په یوه وړوکې خونه کې چې په دوهم پوړ کې وه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوان مستنطق تحقیق را نه پیل کړ. یوه بل تن ورسره ملګرتیا کوله، لومړی یې زما شهرت واخیست بیا یې پوښتنې پیل کړې :

ځوانان دې ولې لاریون ته هڅول؟

له چا نه دې دستور اخیستی؟

له چا سره اړیکې لرې... او داسې نور!

د مستنطق له چلن نه وپوهېدم چې حکومت خبره ډېره جدي او سخته نه ده نیولې، شپه تېره شوه سبا ته هم تر څه ساعته په صدارت کې پاتې شوم، وروسته یې ټول کسان له اطاق نه د باندې بوتلو، کاغذونه یې په مخ کې را ته کېښودل او وې ویل: ولیکئ چې بیا به داسې کارونه نه کوئ او لاسلیک یې کړئ.

ما ولیکل چې نه مې پخوا کوم خلاف کار کړی او نه به یې تر دې وروسته وکړم. بیا یې ځو څو کسان د صدارت له دروازې نه را اېستل او خوشې یې کړل. زه له هماغه ځایه د میرویس میدان-باغ بالا د لین په بس کې سپور شوم او کور ته راغلم.

د کور غړي زما په لیدو خوشاله شول، په تېره مور او پلار چې په ورکېدو مې ډېر په اندېښنه کې وو. په توقیف کې له یوې شپې تېرولو وروسته چې یو ځل بیا کور ته راستون شوم یو عجیب احساس را سره پیدا شو. له را خوشې کېدو وروسته خبر شوم چې یوه د ښوونځي زده کوونکې د «ناهید» په نوم په لاریونونو کې د دولت د کسانو لخوا شهیده شوې ده .

تحقیق او بندي کېدو مې په فعالیتونو کې هېڅ بدلون را نه ووست، هم مې په ښوونځي او هم په هستوګنځي کې حزب ته د ځوانانو جلب او جذب ته دوام ورکړ، له دې سره جوخت مې د کتابونو لوستلو ته زور ورکړ او د سید

(c) ketabton.com: The Digital Library



قطب، محمد قطب، علي شريعتي، مطهري، مودودي، انجنير عمر او حکمتيار له انقلابي آثارو مې خوند اخيست .

د جلال الدين فارسي «درسهای دربارهٔ مارکسيزم» نومي کتاب له سازمانيانو سره په بحثونو کې ډېره مرسته را سره کوله، هر څه به مو چې لوستي وو د خپلو انډيوالانو په منځ کې به مو بحث پرې کاوه.

موږ يو ګروپ وو، فکري او عقيدوي دوامداره بحثونه به مو درلودل او کتابونه به مو يو بل ته ورکول. په دې منځ کې احمد نواز چې وروسته انجنير شو فلسفې او تصوف ته ډېر ور مات و او ما ته بيا د انقلابي او مبارزو ليکوالانو آثارو ډېر راښکون درلود، د هغوی په نظرياتو کې مې د اسلامي انقلاب د جوړولو او د رښتيني اسلامي حکومت ټينګولو لارې چارې لټولې. د نن ورځې په څېر پښتني بانک ته څېرمه د سرک پر سر کتاب پلورنځي وو، يو چا ما ته د سرک پر سر د يوه کتاب پلورنځي ادرس راکړ چې اسلامي آثار يې پلورل. څرنګه چې د دغسې آثارو پلورل او لوستل منعه وو او جرم ګڼل کېدل بايد هغه خاص شفر او رمز د چا زده وای چې وروسته به کتاب پلورونکي پرې اعتماد کاوه او کتابونه به يې ورته را اېستل.

زه ورغلم شفر مې ورته ووايه، کتاب پلورونکي وويل کوم کتابونه غواړې؟ د ځينو ليکوالانو نومونه مې ورته واخيستل، د ځينو نورو هغه مشوره راکړه، په ايران کې د تازه چاپ شويو کتابونو څخه مې وپېرل چې په هغو کې د ايراني او عربي ليکوالانو آثار وو. کارتن مې د بايسکل تر شا وتاړه او د کور په لور روان شوم، يو عجيب احساس را سره و، هره شېبه مې فکر کاوه چې د «خاد» کسان راپسې دي او و به مې نيسي. له نېکه مرغه روغ رمټ کور ته ورسېدم، تر دې وروسته مې د کتابونو د را نيولو لړۍ دوام درلود. ډېر کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وپېرل او پټ کتابتون مې شتمن کېدو. حکومت ته دغه هر یو کتاب، د ماین او ټوپک حیثیت درلود .

موږ خپل انډیوالان چې د مبارزې او فکر ملګري وو هر مازیګر سره راټولېدو او د باغ بالا غونډۍ ته به چې زموږ د کوڅې له پایه پیلېده ورتلو، بحثونه مو کول، مشاجرې به مو کولې او د یوې ایډیال ټولنې او اسلامي عادلانه نظام خوبونه به مو لیدل. زموږ په نظر زموږ پخوانیو خلکو، علماؤ او سیاستوالو پر ربښتیني اسلام عمل نه و کړی چې افغانستان پر داسې برخلیک واوښت تر دې چې شوروي پرې یرغل راوړ او و یې نیو.

د اسلامي نهضت د مسلمانو ځوانانو د تقوا کیسې به کېدې، په ځانګړې توګه د هغوی چې پخپل وخت کې یې د کمونیزم خطر درک کړی و او د شاهي نظام او سردار داود د حکومت پر خلاف یې مبارزه کړې وه، هره ورځ به د مجاهدینو د نویو بریاوو یادونه کېده چې خلک به نوي پرې خبرېدل او ټولو به یې د بري لپاره دعاګانې کولې .

ما د ځوانانو د جلب او جذب تر څنګ، عقیدوي غونډې جوړولې، هغه شبنامې او اعلامیې مې چې حزب خپرولې وېشلې او په ډېره بې باکۍ مې دغه کارونه کول .

په یاد مې دي چې یو ځل سهار وختي د لمانځه پر وخت ما باید د خپل کور شاوخوا محله کې چې د «خاد» ځینې دفترونه هم هلته وو شبنامې خپرې کړې وای، ځینو کوڅو ته شبنامې و نه رسېدې، بېرته کور ته ستون شوم، نورې شبنامې مې را واخېستې او بیا مې یې پر وېشلو پیل وکړ. په داسې حال کې چې هوا ډېره روښانه شوې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم ځلې زنداني کېدل او په وردګو کې پټېدل

زه چې کله د دوولسم ټولګي زده کوونکی وم، د خاد لخوا دوهم ځلي ونيول شوم او اته ورځې مې په خاد شش‌درک کې تېرې کړې. د ۱۳۶۰ لمريز کال د پسرلي موسم او د جمعې ورځ وه، د فزيک د درس د تکرار لپاره باغ بالا ته لاړم. د انټرکانتيننټل هوټل لاندې غونډۍ د ناجو د جګو ونو لاندې په شنه چمن کې چې نوې يې ځوکې وهلې وې ناست وم او د فزيک درسونه مې تکرارول. د ورځې رڼا او د باغ بالا په زړه پورې هوا په بدن کې د کار او خيال ځواک ته شيمه ورکوله. يوه ورځ وړاندې يې زما ټولګيوال او مبارز ملګری عمر زر شويي «خاد» بندي کړی و. شاوخوا يوولس بجې وې د کور په لور روان شوم، تر دغه وخته د باغ بالا تر غونډۍ لاندې د هستوګنې کورونه نه وو جوړ شوي او له هغه ځايه زموږ کوڅه ښکارېدله .

د کوڅې په خوله کې مې پام شو چې ورور مې له دوو تنو نا آشنا کسانو سره ولاړ دی او ما ته اشاره کوي چې ورشم. زه وپوهېدم چې څه پېښه شوې خو بيا هم ډاډه نه وم، په هر صورت زر تر زره مې ځان ور ورساوه. له سلام وروسته مې ورور وويل دغه دوه تنه انډيوالان دې کور ته راغلي وو، ته نه وې څه احوال يې راوړی او ځواب دې غواړي، ما ورته وويل چې دا زما انډيوالان نه دي، نه يې پېژنم، په همدې خبرو کې يو تن چې دريشي يې په تن وه له موږ نه د پنځوس مترو په واټن لرې د يوه تبنګ والا سره ولاړ و او چغندر يې خوړل، په ډېره چټکۍ يې تومانچه را واېستله او زما په لور يې راواړوله وې ويل لاسونه پورته کړه! دوه تنه چې ځانونه يې زما انډيوالان معرفي کړي وو، ساده کميسونه او پرتوګونه يې اغوستي او په پټو ګانو کې نغښتي، هغوی هم لاس په کار شول، ورور مې حيران او وارخطا شو، زما وضعې ته انديښمن شو، هڅه يې وکړه چې د خاد له کارکوونکيو سره خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي، دلیل ورته ووایي او هغوی وپوهوي چې ما کوم ناوړه کار نه دی کړی، خو هغوی تومانچه زما په لور نیولې وه او امر یې وکړ چې د ښکته کوټې په لور لاړ شم. ورور مې بیا هڅه وکړه، نه یې غوښتل چې ما ترې بوځي، هغه د دریشۍ خاوند یوه کلکه څپېړه پر مخ وواهه. دا لومړی ځل و چې ما مې ورور لیدو چې یو څوک یې پر مخ په څپېړه وهي. یو عجیب احساس را سره پیدا شو، دواړه یې کوزنۍ کوټې ته بوتلو، ځینو ګاونډیانو ولیدو چې موږ وسله‌والو کسانو لادا او جیپ موټرونو ته چې د کوټې په سر کې زموږ په انتظار وو ور وستو .
نه پوهېږم چې ورور مې څه شو، خو زه یې په یوه لادا موټر کې سپور کړم، دواړو لوریو ته مې د خاد وسله‌وال کسان کېناستل او یو روسی جیپ راپسې و. څرنګه چې د جمعې ورځې په سرکونو بېروبار نه و ډېر زر شش‌درک ته ورسېدو. د شش‌درک خاد ډېر مشهور و، زه یې په یوه دهلېز کې ودرولم. بیا یې د تحقیق لپاره یوه دفتر ته بوتلم، څو څپېړې یې راکړې او د تحقیق لړۍ پیل شوه، کله چې تحقیق ختم شو او له کوټې نه دهلېز ته را ووتم، هلته مې پلار او ورور ولیدل چې دواړه یې راوستي وو. فکر مې کاوه چې ټوله کورنۍ مو برباده شوه. له هغوی سره مې خبرې ونه کړای شوې، یوې تاکاوۍ ته یې بوتلم، هلته ډېر وړوکي اطاقونه وو چې پنجره دارې دروازې یې درلودې. زه یې یو اطاق ته ننه ویستم او دروازه یې را پسې قلف کړه، په اطاق کې دوې خیرنې اسفنجي توشکې پرتې وې، یو ځوان تر ما مخکې په دې پنجره کې اوسېده، په چورتونو کې ډوب شوم، پر کورنۍ مې چې کومه ټکه رالوېدلې وه د ځان غم یې را نه هېر کړ. هره شېبه مې کور، مور او خویندې سترګو ته ولاړې وې، نه پوهېدم چې هغوی به له کوم برخلیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مخ شوي وو. پلار به مې په څه حالت و او له ورور سره مې يې څه وکړل.

د اطاق ملګري ځوان را ته وويل چې زه نن يا سبا ته خلاصېږم، که چا ته څه احوال لرې او ملګريو ته دې کوم پيغام استوې را ته ووايه، فکر مې وکړ چې دا جاسوس نه وي او په دې ډول به غواړي زما نور ملګري پيدا کړي، مننه مې ترې وکړه او ورته مې ويل چې هېڅا ته هېڅ پيغام نه لرم.

اتکل مې رښتيا و هغه ځوان ناڅاپي له اطاقه بې درکه شو، سبا ته يې يو بل سړی زما اطاق ته راوست، توره قره قلي يې درلوده، دريشي يې اغوستې وه، ښايي چې د ۴۵ کلونو په شاوخوا کې عمر به يې و، راته وې ويل چې نوم مې «خوشه‌چين» دی او د حبيبې په ليسه کې ښوونکی يم، مجلسي سړی و او ښکلي شعرونه يې را ته ويل. ما يې احترام کاوه ځکه هغه ښوونکی و او زه زده کوونکی. پر دې ونه پوهېدم چې پر کوم تور يې نيولی دی، فکر کوم چې تر ما مخکې خوشې شو په نورو اطاقونو کې هم بنديان وو. د ډوډۍ د وېش پر مهال او يا تحقيق ته د بېولو پر مهال مې يې غږونه اورېدل. کله به يې چې موږ تشناب ته بېولو موږ پوهېدو چې دلته نور کسان شته، خو له اطاقونو به ګړندي تېرېدو د هېڅ کوم څېره يې را ياده نه ده.

دوه ځله نور يې هم زه تحقيق ته بوتلم، پوښتنې او تحقيق په نسبتاً لوکسو دفترونو کې تر سره کېده، هغه چا چې ځانته د شش‌درک د رياست مرستيال وايه او يو ځل پخپله رييس چې ښايي جلال رزمنده و له ما نه تحقيقات وکړل. زه به يې په ځورولو او شکنجه ګواښلم، خو له سوکانو، څپېړو او لغتو پرته يې زه نور شکنجه نه کړم، آن د ويښې پاتې کېدو لپاره يې دهلېز ته يو نه وړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلار اوورور برخلیک زیات ځورولم، د ریاست رییس را ته وویل چې پلار او ورور مو دې خوشي کړل. سره له دې چې د دوی پر خبره باور کول ګران وو خو د دې خبرې په اورېدو مې روحي فشار را کم شو. له هغو پوځیانو مو چې مور ته یې ډوډۍ راوړه او یا به یې تشناب ته بېولو پوښتنې کولې چې آیا پلار او ورور مې په نورو اطاقونو کې شته که نه. هغوی په آسانه ځواب نه راکاوه، خو داسې مې احساسوله چې هغوی دلته نشته او بیا به لږ هیله را سره پیدا شوه.

له څو پړاوونو تحقیق او اتو شپو وروسته، مازدیګر مهال و چې زه یې یوه دفتر ته ښایي د رییس له دفترونو څخه به یو و ور وبللم. را ته وې ویل: موږ ته ثابته ده چې مجرم یې، له کوره دې تومانچه هم پیدا شوې ده، خو خوشي کوو دې، پام کوه چې بیا دا کار ونه کړې، کومه تومانچه چې دوی یادوله له پخوانیو تومانچو څخه وه چې له پخوانیو کلونو زموږ په کور کې وه.

د پسرلي په زړه پورې هوا، د شش‌درک پاک واټ او د ونو ګلونو خوږې وږمې مې د شپېږم ریاست او یا د شش‌درک ریاست د باندې هېڅ له یاده نه وځي.

زه او عمر یې یو ځای خوشي کړو، باور مې نه راتلو، ولې یې موږ خوشي کړو. د وېرې له احساس سره د خوښیو هممهاله احساس مې پر ذهن یو عجیب حالت راوستلی و، زه او عمر د شش‌درک له واټه راووتو او د صدارت تر څلور لارې پورې په چکر او کیسه ویلو راغلو. وېره مې له دې وه چې په آزادۍ کې ښایي د «خاد» تر سختې څارنې لاندې وم تر څو زما ملګري او فعالیتونه له ټولو جزئیاتو سره را پیدا کړي.

کله چې کور ته ورسېدم نږدې ماښام و، دا دوهم ځل و چې له بندي کېدو وروسته بیا کور ته راتلم، فکر کوم چې هېڅچا به ژوند او کور دومره ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي ليدلي. پلار او ورور مې يې په هماغه ورځ پرېښي وو، کور مو نه يوازې خاد تلاشي کړی و بلکې هغه پيسې او نور سامان مو چې د ساتنې لپاره له شرکت نه راوړي وو، مثلاً د کاغذونو بنډولونه له هغې تومانچې سره يې ټول ششدرک ته وړي، هغه پيسې او نور شيان يې زما د پلار له بيا بيا غوښتنې سره بېرته را و نه سپارل او چې پلار مې د خاد د کارکوونکيو له لوري وګواښل شو بيا يې د پيسو او مال احوال وا نه خيست.

شپه مې په خپل اطاق او بستره کې تېره کړه، ډېره خوندوره وه، سهار مې چې سترګې وغړولې  مور مې وليده چې سر ته مې ناسته ده او له سترګو يې د خوښۍ اوښکې بهېدې. بيا ښوونځي ته لاړم خو پخپلو حزبي او سياسي چارو کې مې ځنډ راوست، پام مې کاوه او هر چا ته مې د شک په نظر کتل.

## لومړی ځل په وردګو کې پټېدل

له څه مودې وروسته مې بيا د کمونيستي رژيم او شورويانو پر خلاف مبارزه او فعاليتونه لا ګړندي پيل کړل. ګوندي کار، د کتابونو او رسالو مطالعه او له همفکره او مبارزو انډيوالانو سره بحثونو دوام درلود. څه موده وروسته ياني د همدغه کال په اوړي کې ملي راديو تلويزيون اعلان کړه چې استاد اکبر (استاد حميدالله) د امنيتي ځواکونو لخوا وپېژندل شو او ووژل شو. د استاد اکبر شهادت د حزب پر فعاليتونو او د هغو ځوانانو پر روحيه سخت ګوزار و چې هغه يې د مبارزې بېلګه باله. استاد اکبر يو متقي، فقير مشربه او با شهامته شخصيت و، چې د حزب اسلامي د محصلينو او زده کوونکيو فعاليتونه يې د کابل په ښار کې په ډېرو سختو شرايطو کې له خاد او کا جي بي سره په نا برابره مقابله کې رهبري کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد اکبر، نصیر چې وروسته په نصیر عبدالرحمان مشهور شو او په پېښور او کابل کې یې سبا او میوند خپرندویې موسسې جوړې کړې، ما ته را معرفي کړ چې له هغه نه هدایات واخلم.
د استاد اکبر د شهادت له پېښې وروسته موږ ته دستور راکړل شو چې خپل فعالیتونه خپ کړو او تر یوې مودې پټ شو.
له محمد انور ماما سره مې اړیکه ونیوه، پر هغه هم د استاد اکبر له شهادت وروسته په کابل کې د فعالیت ساحه محدوده شوې وه. له کورنۍ سره په مشوره مې اراده وکړه چې دواړه وردګو ته لاړ شو او زه تر یوې مودې پورې هلته ځان غلی کړم. له لرې د کابل وضعه وڅارم او بیا د راتلونکي په اړه تصمیم ونیسم.
په دې ورځو کې «نعیم مصطفی» هغه څوک چې وروسته یې د حزب اسلامي په سیاسي کمېټه کې مهم مقامونه درلودل او په پېښور کې یې وروسته له یو شمېر نورو فرهنګیانو سره په ګډه د «سهار ورځپاڼې» بنسټ کېښود، د استاد اکبر پر ځای د حزب اسلامي د محصلینو او زده کوونکیو مسوولیت اخیستی و.
له «مصطفی» سره مې اړیکه ونیوه، هغه د حزب د مرکزي حوزې له لوري معرفي خط راکړ، مور مې لیک د چای په قطي کې ځای پر ځای کړ او له محمد انور ماما سره مې په میرویس میدان کې د وردګو د موټرو په اډه کې وعده کېښوده. سبا ته مې د سهار له لمانځه وروسته له مور او پلار سره چې زه یې په موټر کې تر اډې رسولم روان شوم او اډې ته ورسېدو.
کله مې چې د وردګو په لیني موټرو کې ځای ونیو، له مور او پلار مې دعا واخیستله او خدای پاماني مې ورسره وکړه، هغوی ډېر په تشویش کې وو، زموږ د موټر تر روانېدو پورې یې انتظار کاوه او تر کمپنۍ پورې یې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر بدرگه کړ. د وردگو نارنجي رنگه ليني زاړه موټر وو چې پر سپرليو سربېره به يې د خلکو خوراکي توکي او نور اړتيا وړ شيان هم لېږدول چې دوکاندارانو به په کابل کې پېرل او وردگو ته به يې وړل، د ساري په توگه د هرې چوکۍ لاندې به بوجۍ اېښې وې. موټر له سپرليو ډک و او ورو ورو روان و له ارغندۍ د وردگو تر چک پورې بايد تر زياتو کوتلونو اوښتی وای.

په هغه وخت کې د چک ولسوالۍ موټر يوازې تر «انبو خاک» پورې تلای شوای او تر هغو وړاندې يې د تلو اجازه نه درلوده.

مجاهدين چې ورځ په ورځ پياوړي شوي وو او د وردگو ولايت نږدې ټوله ساحه يې تر واک لاندې راوستلې وه، د موټرو په سرکونو يې ماينونه ښخ کړي وو، تر څو سيمې ته د دولت د پوځي قواو د ننوتلو مخه ونيسي.

د وردگو ولس د خلقيانو د واکمنۍ پر مهال پاڅون وکړ، کله چې د هزاره جات ولس د حکومت له اطاعت نه سرغړونه وکړه، حفيظ الله امين امر وکړ چې د وردگو خلکو ته د هغوی پر خلاف وسلې ورکړي او هزاره گان پرې وځپي. د همدې لپاره د چک په ولسوالۍ کې لويه غونډه جوړه شوې وه، له غونډې وروسته چې د هزارهؤ پر خلاف د خلکو احساسات ولمسول شول، په زرگونه ميله وسلې پر خلکو ووېشل شوې، خلکو له حکومت نه مرمۍ او ټوپک واخيستل خو له هزاره گانو سره د جگړې پر ځای غرونو ته وختل او د کمونيستي رژيم پر خلاف يې پاڅون پيل کړ.

د پاڅونوالو له قومي مشرانو څخه يو تن حاجي احمد جان و، هغه څوک چې اوس يې د عربانو په دره کې د مجاهدينو مشري پر اوږو وه، زه همده او د خپلې مور د کاکا زوی ته چې بزگر و او د منو ښکلي باغونه يې درلودل، ورتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ موټر چې د کابل-کندهار له پاخه سرکه د چک ولسوالۍ په لور وگرځېد خام سرک ته ووت. لږ فاصله وه خو د غرمې ۱۱ بجې به وې چې د «انبو خاك» کلي ته ورسېدو انبو خاک د موټرو وروستی تمځای و، له هغه وروسته به مو پلي سفر ته دوام ورکاوه، چې له موټر نه ښکته شوو د یوه گروپ مجاهدینو را ته پام شو، څو تنه یې وړاندې راغلل او زموږ د هویت پوښتنه یې وکړه چې څوک یو. د دوی هدف زه وم ځکه چې لیدل یې چې زه د دې ځای نه یم، ما سمدستي هغه معرفي خط چې په کابل کې یې راکړی و د چایو له قطي څخه را وکېښ او ور و مې ښود، په دې لیک کې زه د حزب اسلامي د مرکزي حوزې فعال غړی معرفی شوی وم.

د لیک له لوستلو وروسته مجاهدینو د انبو خاک په دوکانونو کې د چایو ست را ته وکړ، ما مننه ترې وکړه ورته و مې ویل چې اوږده لاره مو په مخه کې ده رخصت مو ترې واخیست. غرمه مو د لارې په اوږدو کې ډوډۍ او غوښه چې مور مې را ته تیاره کړې وه او په یوه دسمال کې یې را ته غوټه کړې وه وخوړه، په یوه جومات کې مو د ماسپښین لمونځ ادا کړ چای مو وڅښه، ما چې په دې سفر کې له چای څښلو خوند اخیستی بیا مې په هېڅ ځای کې نه دی اخیستی.

دا زما لومړنی پلی سفر و، په هره دمه کې چې خلکو چای او شیریني راوړه زموږ ستړیا به یې لرې کوله. د وردگو په کلیو کې د دوبي په وروستیو کې د فصلونو په منځ کې، د ویالو او سیند پر غاړه سفر ځانگړی خوند درلود. وطني منې نوې پخې شوې وې، د هغو هغه ځانگړي وږم یو عجیب احساس را ته پیدا کاوه.

هره شیبه مو چې غوښتلای منې مو را شکولای شوای چې د ویالو په رڼو او پاکو اوبو یې ومینځو او له خوراکه یې خوند واخلو. شپه مو د چک له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازار نه بره په يوه وړوکي جومات کې شوه، جومات د يوې لويې کلا دننه و. د کلا خاوند ماښام مهال موږ وليدو، د شپې ډوډۍ يې قروت او زيړ غوړي له چايو او شيريني سره راته راوړل، سهار مو له چايو وروسته بيا مزله ته دوام ورکړ. د فصلونو په منځ کې سوي ټانکونه ليدل کېدل چې مجاهدينو له منځه وړي وو، کمونيستانو هغه پرېښي وو او دوی ماته خوړلې وه او له سيمې تښتېدلې وو، کله د ګڼو ونو په منځ کې، کله د وياله پر غاړه او کله د سيند پر غاړه موږ مزله ته دوام ورکړ.

يو وخت مو د کلاشينکوف د ډزو غږونه واورېدل، لږ وارخطا شوو، محمد انور ماما د سيمې له يوه تن څخه پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟ هغه ځواب راکړ چې مجاهدين دي نښه ولي. همدغه مهال دوه تنه ساه نيولي په منډه په موږ پسې را ورسېدل، وې ويل چې تاسو څوک ياست او چېرته درومئ؟ هغوی ويل چې د جمعيت قوماندان مولوي شيرين موږ له لرې ليدلي يو او غواړي وپوهېږي چې موږ څوک يو. موږ خپل ليک ور وښود، هغوی ليک مولوي شيرين ته ور ووړ، غوښتل يې چې هغه د مجاهدينو د شورا مشر ته هم ور وښيي. نوموړی ويده و، په هر صورت زموږ له لوري ډاډه شول، معرفي خط يې بېرته راکړ او اجازه يې راکړه چې خپل سفر ته دوام ورکړو، ماسپښين مهال د عربانو درې ته چې زموږ د سفر منزل و ورسېدو، په بهادر خان کلي کې مو په ژيړو غوړيو کې هګۍ نوش جان کړې او بيا زما د مور کلي ته چې کوډۍ نومېږي لاړو.

ما يوه اونۍ هلته تېره کړه، هم مجاهدينو او هم مې د مور کليوالو ډېره مېلمه پالنه وکړه. په وردګو کې چې پاتې وم زما د مور د کاکا د زوی مستو خان مېلمه وم. له يوې اونۍ وروسته مې تصميم ونيو چې بېرته کابل ته لاړ شم، فکر مې کاوه چې خطر لرې شوی دی. حاجي صاحب احمد جان په ټينګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



را ته وویل چې مه څه، که دا ځل بندي شوې بیا به دې پرېښږدي، خو زه باید کابل ته تللی وای. محمد انور ماما په وردګو کې پاتې شو او حاجي صیب تر انبوخاکه را سره ملګری و، پر هماغه لاره چې له دې اړخه تللی وم بیا روان شوم. مستو خان ماما د دې لپاره چې پلی مزل راته اسانه شي خپل یوه جوړه نوي ساقدار بوټونه راکړل. چې انبو خاک ته ورسېدو یوه له بوسو (وښو) ډکه لارۍ کابل ته په روانېدو وه، حاجي صیب د موټر چلوونکي نوم ورسره ولیکه او ورته وې ویل چې دغه ځوان به روغ رمټ کابل ته رسوې. موټر چلوونکي وعده ورکړه او زه یې تر څنګ په سیټ کې کېناستم او د کابل په لور وخوځېدو.

مازدیګر مهال میرویس میدان ته را ورسېدم، نرۍ نرۍ باران اورېدو، ټکسي مې ونیو او کور ته راغلم، د کور زنګ مې وواهه، پلار مې راووت او ټینګ یې په غېږ کې ونیولم، یو ځل بیا د کور تودې غېږې ته راستون شوی وم.

## درېیم ځل بندي کېدل

کابل ته له راستنېدو سره مې لیدل چې د نیولو او ټکر ګواښ ډېر را ته نشته او نه «خاد» زما په لټون پسې زموږ کور ته راغلی دی، ځکه خو څه نا څه ډاډمن شوم او حزبي فعالیتونه مې کرار کرار له سره پیل کړل، «مصطفی» او «نصیر» یو پر بل پسې را پیدا شول او زموږ فعالیتونه بیا پیل شول، خو د استاد اکبر ځای هماغسې تش و. د استاد اکبر اتلولي، زړورتیا او مهرباني ټولو هغو ځوانانو ته یوه بېلګه وه چې د کابل په سختو شرایط کې یې مبارزه کوله.

د حزب اسلامي د مرکزي حوزې (کابل) اړوند ګروپ له نیول کېدو وروسته چې «خاد» ته یو لړ اسناد په لاس ورغلل، یو ګروپ ځوانانو پېښور ته هجرت وکړ او یو لږ شمېر یې په کابل کې پټ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځوانان چې پېښور ته یې هجرت وکړ زیاتره یې محصلین او زده کوونکي وو، یو شمېر یې هلته په نظامي برخه کې وروزل شول او له څو میاشتو وروسته په پټه له جعلي اسنادو سره بېرته ښار ته رانوتل، څرنګه چې په کابل کې مجاهدینو نشوای کولای چې مرکز ولري، دغه کسان به د حزب د نورو غړیو په کورونو کې اوسېدل او هره شپه به یې خپل ځای بدلاوه.
دغو ځوانانو د چریکې جګړو زده کړې کړې وې، د کابل ښار دننه به تل پر بایسکل ګرځېدل او تومانچې به ورسره وې، له دې ډلې څخه عبدالرحمان چې د خالد په فرعي نوم یې فعالیت کاوه وروسته د پنجشیر والي شو. قاسم چې وروسته ونیول شو او په څرخي پله کې په دار شو او نصیر زموږ کور ته ډېر تګ راتګ درلود، کله به چې زه په کور کې نه وم، مور به مې په ډېرې مهربانۍ د هغوی مېلمه پالنه کوله او په کور کې یې د دوی د اسنادو او خطرناکو شیانو د پټولو لپاره ځانګړی ځای جوړ کړی و.
په مرکزي حوزه یانې کابل کې چې د حزب اسلامي فعالیتونو ته درنه ضربه ورسېده هغه د قاري عبد الحی مسأله وه، قاري عبدالحی د حزب اسلامي له ارکانو څخه و چې له لېستونو او مهمو اسنادو سره یو ځای له یو فعال حزبي ګروپ سره د «خاد» په واسطه ونیول شول. د دولت جاسوسي اداره وتوانېده چې په اوپراتیفي فعالیت دغه شبکه په نښه او په دام کې یې وغورځوي.
د «خاد» په لاس کې د دغه اسنادو او مهمو حزبي فعالیتونو له لوېدلو سره د دې زمینه برابره شوه چې د حزب یوه برخه فعالیتونه افشا شي او د یو شمېر نورو کسانو د نیول کېدو سبب شي.
قاري عبدالحی او د استاد اکبر ورور نجیب وروسته د حزب اسلامي له یو شمېر نورو غړیو سره په څرخي پله کې په دار شول. که څه هم زه د قاري عبدالحی له نیول کېدو وروسته سمدستي و نه نیول شوم، خو لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې مې يادونه وکړه د «خاد» لاسته د مهمو اسنادو له لوېدو سره د دې زمينه برابره شوه چې دغه سازمان پېښه پسې تعقيب کړي او د اوپراتيفي کار له لارې ډېرې پټې شبکې په کابل ښار کې وپېژني.

## د نيول کېدو جريان

هر ځل چې حزب په کابل کې ضربه خوړه او کدرونه يې له لاسه ورکول زما د مسووليت ساحه ورسره زياتېدله او مسووليت مې لوېدو، پر ۱۳۶۱-۱۳۶۰ لمريز کلونو کې زه د کابل پولي تخنيک انستيتيوت د منهدسۍ د ځانگې محصل وم. دغه وخت د کابل د يو زيات شمېر ښوونځيو او د کابل پوهنتون يو شمېر محصلين له ما سره په اړيکو کې وو او ما د هغوی د تنظيم او رهبرۍ د چارو مسووليت درلود، جهاد په ټول هېواد کې ډېر پياوړی شوی و او مجاهدينو په ولاياتو کې سترې برياوې لاسته راوړې وې، دا د دې سبب شو چې په کابل کې د «خاد» فعاليتونه ډېر زيات شي.

د ۱۳۶۱ لمريز د سنبلې مياشت وه، هوا لږ سړه شوې وه، ما د پوليتخنيک انستيتيوت صفري سمستر پای ته رسولی و او د انجنيري پوهنځي د مهندسۍ ځانگې ته شامل شوی وم. موږ د مهندسۍ د هغې ځانگې لومړنۍ ډله محصلين وو چې د انجنيرۍ په پوهنځي کې نوې پرانيستل شوې وه، د افغاني استادانو تر څنگ روسي استادانو هم موږ ته درس راکاوه، يو شمېر د ښوونځي ټولگيوال مې چې زياتره وخت به مو يو ځای تېرېده. په پوليتخنيک انستيتيوت کې هم راسره يو ځای وو. دوه تنه يې په مهندسۍ ځانگه کې هم را سره وو، د هغوی چې کورونه په پروان مېنه کې وو هر سهار به زموږ کور ته راتلل، دا چې زموږ کور د باغ بالا په لمن کې و او زموږ د کور له دروازې نه يو ځای د باغ بالا غونډۍ ته تلو او له هغه ځايه به پوليتخنيک ته ور ښکته کېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیمې شپې شاوخوا درې بجې وې چې د جیپ موټرو غږ مې واورېد چې زموږ په کوڅه کې ښکته پورته ګرځېدل، زما خونه په دوهم پوړ کې وه چې له کړکۍ نه یې د کور بهرنۍ دېوال ښکارېدو.
د موټرو غږونه غیر عادي وو، په بیړه له بسترې را جګ شوم او د کړکۍ په لور مې منډه واخیسته و مې لیدل چې درې ځلور تنه عسکر پر دېوال را پورته شوي دي، یو تن یې نورو ته وایي: «سپی نه لري ټوپ وهه» او بیا هر یوه ځانونه حویلۍ ته راوغورځول، زه پوهېدم چې هر څه دي هدف یې زه یم، ما په بیړه کورتۍ واغوستله او ښکته پوړ ته مې منډه واخیسته، کتابونه او یو شمېر پاڼې مې په یوه الماري کې اېښې وو په بیړه مې هغه را واخیستل. دغه مهال زموږ د کور زنګ پرلپسې کړنګېده، ورور مې چې له وضعې خبر نه و د دهلېز دروازه یې پرانیستله او همدلته د خاد له وسله‌والو کسانو سره مخامخ شو. هغوی زما ورور ځنګ ته ټېل واهه او کور ته په منډه را ننوتل، پلار، مور او خویندې ټول په وار خطايۍ له خونو راووتل او د لومړي پوړ په دهلېز کې را ټول شول. زه په زینه کې په بیړه پاس ختلم دوو تنو را باندې حمله وکړه وې ویل «خاینه چېرته ځې!» کتابونه او کاغذونه یې په زور زما له لاسه والوځول، د کورتۍ په جیب کې مې وړوکې کتابچه وه چې په هغو کې مې د لیدنو وعدو او د هغو کارونو لېست و چې په راتلونکیو ورځو کې مې باید کړي وای. په هغو کې لیکنې ټولې زما په خپل شفري لیک وې، په همدې لانجو کې مې څو پاڼې ترې را وشکولې او په ژوولو مې یې پیل وکړ. نه پوهېږم چې څو تنه را باندې راټول شوي وو، یوه تر مرۍ ونیولم، بل پر سر په سوکانو وهلم او ټولو ویل «مه پرېږدئ چې پاڼې تېرې کړي او اسناد له منځه یوسي!» مور، پلار، خویندو چې هر څه وکړل چې د خاد د کسانو لخوا زما د ډبولو مخه ونیسي، ګټه یې ونه کړه او په غوسه به له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه لرې شړل کېدل، ما کاغذونه وژوول چې کله یې زما له خولې را وویستل هېڅ پکې د لوستلو پاتې نه وو. زه یې په بیړه له زینو را کوز کړم او د کورنۍ په مخ کې یې پر مخ په لغتو او سوکانو او پر شا د ټوپکو په کنداغونو وهلم. بربنډې پښې یې له کوره را واېستلم، د باندې مې د موټر په څراغونو کې ولیدل چې زموږ کوڅه له موټرو ډکه ده.

زه یې یو لنډرووړ موټر ته ور پورته کړم، دغه یوه تن یوه جوړه چپلکې راوړې وې ویل «مور یې ډېر ټینګار کاوه چې دغه چپلکې ورکړئ». په داسې حال کې چې یو روسی جیپ مو مخکې او بل وروسته وو وخوځېدل.

زه د شا په څوکۍ کې د خاد د دوو وسله‌والو کسانو په منځ کې ناست وم، موټر له باغ بالا او پولي تخنیک نه تېر شو او وړاندې لاړ، تر دې چې د دارلامان سرک ته ور ننوت. وپوهېدم چې ما د خاد پینځم ریاست ته بیایي.

د هغو کسانو په منځ کې چې په کابل کې یې مبارزه کوله پینځم ریاست، د خاد خطرناک ریاست ګڼل کېدو، سره له دې چې د هغوی فعالیتونه د اطرافو پر جبهو متمرکز وو خو د فعال او ظالم ریاست په نوم پېژندل کېدو.

له څو دقیقو وروسته موټر یوې ودانۍ ته ننوت، دغه ځای ته یې د «سید کیان کور» وایه. زه یې په منډو منډو نېغ له اصلي ودانۍ د باندې پیاده خانو په لور بوتلم چې د کابل د معمولي کورونو په څېر جوړ وو. کومو کسانو چې زه تر دې ځایه راوستلی وم بیا بیا یې ویل چې ما باید روغتون ته بوځي چې معده مې ومینځي ځکه ګواکې مهم اسناد مې تېر کړي وو.

اطاق ته ورسېدو، دوه یا درې ډېر عادي د کار مېزونه او یو کټ هلته اېښودل شوي وو، خو فرش یې نه درلود. اطاق ته له ننوتلو سره مې په مخ څپېړې را حواله شوې، او څو سپورې کنځلې یې را ته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يې چې اطاق ته بوتلم له هماغې شېبې پوښتنې پيل شوې، را ته ويل يې، ووايه «نصير» چېرته دی، «مصطفی» چېرته دی، د ښځو په شبکه کې څوک څوک دي... چې زما له انکار سره به مخ شول پر مخ به يې په سوکانو او لغتو وهلم، بالاخره يې وويل «پهلوان راولئ!» يو نسبتاً چاغ سړی چې دريشي يې پر ځان وه راغی، خو د پوځيانو په څېر يې عسکري تعظيم ونه کړ. فکر کوم چې د افغانستان د شمال له ازبکانو څخه و. څو تنو په بيړه زه پر ځمکه څملوم، يوه تن مې پښې ونيوې، بل تن مې پر اوږو کېناست او «پهلوان» په لرگيو پر ملا، پښو او شا وهلم.

پهلوان ستړی شو او بيا بل کس گوزارونو ته دوام ورکړ. له دوه درې لرگيو ماتېدو وروسته يې را جگ کړم وې ويل «د باندې يې چار نعل ودروئ!»

سهار نږدې شوی و، له خونې نه د باندې يې په يوه دهلېز کې ودرولم او را ته وې ويل چې پښې دې له يو بله لرې او لاسونه دې له غاړې سره موازي ونيسه، وپوهېدم چې چار نعل مانا څه ده.

له څو دقيقو وروسته مې نور د لاسونو د پورته نيولو توان نه درلود، لاسونه به مې ښکته راغلل هغه پهره دار چې ما ته نږدې پر يوه چوکۍ ناست و او پرلپسې يې سگرټ دودول د سگرټو سکروټې به يې په لاسو را کېښوده او زه به يې بيا دې ته اړ کړم چې لاسونه پورته کړم. سهار شو، هوا رڼا شوه، د حويلۍ له هغه لوري څخه چې څو ختيني کوټې ښکارېدلې يو تن راغی، له پهره دار سره يې د پوښتنې او سوال او ځواب نه وپوهېدم چې آشپز دی. له پهره دار نه يې پوښتنه وکړه «دا څوک دی؟» پهره دار وويل « اشرار دی له لويانو څخه يې دی، گلبدينی دی، يو څو لښتې يې نه وهې؟»

آشپز د يوه پلاستيکي پايپ يوه ټوټه چې هلته لږ لرې پرته وه را پورته کړه او د دود لپاره يې څو کلکې ضربې راکړې، څرنگه چې څو ساعته وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لرګیو ګوزارونو زما بدن ټپي کړی و د هغه پایپ په ګوزارونو مې ډېر زیات درد او څړیکې احساس کړې. کله چې لمر را وخوت، زه یې یو ځل بیا د تحقیق اطاق ته بوتلم. څو پوښتنې یې وکړې بیا یې وویل چې ټوله کورنۍ دې راولو، تاسو ټول د انقلاب ضد یاست. بیا یې زه د اصلي ودانۍ تاکاوۍ ته بوتلم. په تاکاوۍ کې یو اوږد دهلېز و چې د ډېر شمېر پنجرو دروازې ورته را وتلې وې. څو تنه په دهلېز کې ولاړ وو، وروسته وپوهېدم چې هغوی هر یو یې بې خوبه کاوه.
د دهلېز په یو کونج کې یو میز اېښی و، د هغو تر شا دوه تنه عسکر ناست وو او یو لوی ټیپ ریکارډر یې په مخ کې اېښی و. هغوی د بېلا بېلو سندرغاړو کسټونه یو پر بل پسې ور اچول، په دې ډول پرلپسې په لوړ غږ موسیقي د تاکاوۍ په دهلېز کې پخپله په یوه عذاب بدله شوې وه، ځینو بندیانو ویل چې عسکر دغه کار د دې لپاره کوي چې څوک تر عذاب لاندې د زندانیانو د ژړا او فریاد غږ وا نه وري او کوم کسان چې باید بې خوبه کړای شي، د ساز غږ هغه ویښ وساتي.
زه یې یوې ډېرې وړوکې پنجرې ته یووړم چې یوازې یو دوه پوړه کټ پکې ځای شوی و، دغه وړوکی اطاق د پاسني اطاق تر تشناب لاندې و، کله چې زه ورننوتم احمدشاه (عوض الدین صدیقي) مې ولید، چې د کټ پر دوهم پوړ پروت و او زما له ور ننوتلو سره کیناست.
احمدشاه د مرکزي حوزې له فعالو ځوانانو څخه یو و او د نادریې لېسې زده کوونکی و، ما هغه پېژانده خو اړیکې مې ورسره نه درلودې. هغه د ځاځیو ولسوالۍ د یوې روښاندې کورنۍ غړی و چې په آریانا مېنه کې اوسېدل. زه ډېر ستومانه او بې خوبه وم، بدن مې خوږېده او پر شا نشوای پرېوتلای، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه سره مې جوړ تازه وکړل او بیا پر عسکري کمپله په ځنګ ور ولوېدم.

هغه وویل چې وروڼه او د تره زامن یې هم راوستلي دي چې دلته په نورو پنجرو ته ورته کوټو کې پراته دي، د ورځې په اوږدو کې یې هم زه او احمد شاه تحقیق ته بوتلو.

د «رفیق فدا» په نوم یو تن راغی چې له ما نه پوښتنې او تحقیق وکړي. رفیق فدا یو وړوکی سړی و، لنډۍ ونه او په تور مخ یې ببر بریتونه راځړېدل. نوموړی تر ټولو ډېر بې رحمه مستنطق و چې تر اوسه مې لیدلی و، هغه له پوښتنو ډک کاغذونه زما مخې ته کېښودل.

ښایي د لومړۍ شپې په اوږدو کې مې هم لیدلی وي. هغه ډېر توند چلن کاوه، چې تحقیق د ده په خوښه پر مخ نه ولاړ او څه یې لاسته ورنغلل نو امر یې وکړ «هنډلکي تیلفون» راوړي او ما پر ځمکه څملوي، پښې مې یې په روجایي وتړلې، یوه سرباز مې پښې کلکې ونیوې او «پهلوان» مې پر سر ګونډه ووهله، یوه بله روجایي یې زما پر خوله را واچوله، یوه بل تن مې لاسونه کلک ونیول. له هنډلکي تیلفون نه راوتلي سیمونه یې زما د پښو پر ګوتو وپېچل او د رفیق فدا په امر یوه تن څارنوال د تیلفون هنډل تاو کړ.

نړۍ مې تر سترګو تیاره شوه، داسې مې وګڼله چې څو انچه میخونه مې د پښو پر ګوتو ننوځي او بیا دغه میخونه پورته لوري ته حرکت کوي، له څو ځله هنډل وهلو وروسته پهلوان د کړکۍ له تاخچې نه چاینکه راوړه چې اوبه او یا سوړ چای یې زما پر پښو را تش کړ او بیا یې د تیلفون د هنډل په تاوولو پیل وکړ، رفیق فدا چې هر څومره په غوسه کېدو سګرېټ به یې ډېر دوړول او د شرابو بوتل به یې چې د کار پر میز اېښی و، را واخیست او پر سر به یې واړاوه. د شکنجو په وقفه کې به مې کله کله فکر کاوه چې ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کسان مې کله په ښار کې، په پلي لاره ليدلي وي او فکر به مې کړی وي چې دوی هم زموږ په څېر انسانان دي.

د څارنوالانو ګواښونه، د پوښتنو نامنظم بهير چې کله به د ورځې په اوږدو کې او کله په نيمه شپه کې تر سره کېده، د شپې او ورځې توپير را ته ګران کړی و.

په دوو ورځو کې يې درې ځله ما ته د برېښنا ټکانونه راکړل، دوه ځلې د پښو په برخه کې او يو ځل د لاسونو په ګوتو کې، تر دې مهاله مې له مجاهدينو او حزب سره له اړيکو انکار کړی و، ښايي د تحقيق درېيمه ورځ وه له پوښتنو وروسته چې په آرامۍ تېرې شوې او زه يې بېرته د زندان پنجرې ته وړم. چې له اطاقه را ووتلم او وړوکي دهلېز ته راغلم له مخامخ اطاق نه مې چې دروازه يې خلاصه او پرده پرې راځړېدلې وه د خپلې کشرۍ خور غږ واورېد چې د څارنوالانو ځوابونه يې ورکول، نړۍ مې پر سترګو تياره شوه او وپوهېدم چې د څارنوالانو ګواښونه دروغ نه وو، هغوی مې د کورنۍ غړي هم راوستلي وو. دا ځل يې چې تحقيق ته بوتلم ور ته و مې ويل چې زه د اسلامي حزب د مرکزي حوزې غړی يم، هغه اسناد چې کتابونه، مجلې، د مسوولیت‌های عضو رسالې، کارتونه، جريدې او نور وو او زموږ له کوره يې د تلاشۍ پر مهال تر لاسه کړي وو، و مې منل چې دا ټول زما وو او نور څوک ترې خبر نه وو. څارنوالان حيران شول چې دا څه وشول، ما تر شکنجې لاندې له ټولو انکار کاوه او اوس مې په آرامه پر فعاليتونو او غړيتوب اعتراف کاوه. زموږ يو ځوان ګاونډي چې پوهېدم پرچمي دی خو چا ګومان نه کاوه چې د خاد غړی به وي، له ما او زما له کورنۍ سره ډېره مرسته وکړه. زما له کوره يې يوه جوړه پاکې جامې، برس او د غاښو کريم او صابون را ته راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله مې چې خپلې خيرنې جامې ورکولې چې زما کور ته يې يوسي څو دقيقې مې يې په وينو ککړې برخې پر دېوال او ځمکه وموښل چې وينې ترې پاکې شي، چې د کورنۍ او مور د زيات ځور او آزار سبب نشي.
نورې غرفې (پنجرې) هم له بنديانو ډکې وې، زياتره يې ما نه پېژندل، وروسته وپوهېدم چې زياتره يې زموږ د دوسيې اړوند وو، ما ته يې د بېخوبۍ جزا هم راکړه. په دهلېز کې د بېخوبۍ درې درجې عذابول عملي کېدل، يو شمېر يې حق درلود چې پر چوکۍ کښېني خو د خوب اجازه يې نه درلوده، يو شمېر نور درېدلي وو او طبعاً د خوب اجازه يې نه درلوده. د بېخوبۍ هغه تر ټولو سخته جزا يې بيا دا وه چې چار نعل بايد بېخوبه ولاړ واى، ما داسې يو څوک هم وليد چې په دهلېز کې څو شپې ولاړ و، پښې يې وپړسېدې او له ډېرې بېخوبۍ ولوېد او په بې سده حالت کې د ادارې ډاکټر ته ور وړل شو. سپکاوى او پوچې خبرې د خاد د سرتېرو عادت گرځېدلى و.
موږ په يوه شواروز کې دوه ځله تشناب ته د تلو حق درلود چې د حويلۍ په کونج کې و. د ۱۵ ورځو په بهير کې چې په پينځم رياست کې مو تېرې کړې اختر را ورسېد، د اختر په ورځ يې د تاکاوۍ د غرفو بنديان ټول دهلېز ته راوستل. يو تلويزيون يې هم را ته راوړ، کله چې ټول سره يو ځاى شوو هلته وپوهېدو چې ۲۲ تنه يې يوازې زموږ له کوره راوستلي وو.
کله يې چې ونيولم خاد يوه اونۍ زموږ په کور کې کمين نيولى و. دوى په دې لټه کې وو چې د مرکزي حوزې مهم غړي چې د دوى په گومان به خامخا هلته راتلل ونيسي. مور مې پخوا ويلي وو چې کله خطرناک حالت راشي، د دوهم پوړ په يوه کړکۍ کې به يو ټوکر را وځړوو چې له لرې ښکاري. دغه رمز مو هغو کسانو ته ورښودلى و چې زموږ کور ته به راتلل.
په همدې دليل زموږ د شرکت له شخصي مامورينو، زما له ټولگيوالو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر سهار به زموږ کور ته راتلل او بیا به پلي پولیتخنیک ته تلو او د هغوی د کورنیو له غږیو پرته چې د خپلو عزیزانو له بې درکه کېدو نه په اندېښنه کې وو او زموږ کور ته راغلي وو، نور څوک د خاد په دام کې و نه لوېدل. د دې ټولو دوستانو په لیدو عجیب احساس را سره پیدا شو. دې کسانو ته به یې «ټک ټکیان» ویل، یانې هغه کسان چې زموږ د کور دروازه یې ټک ټک کړې وه او خاد هغوی بندیان کړي وو. زیاتره یې له یوې اونۍ وروسته بېرته خوشي شول. کوم کسان چې په اصلي دوسیه کې شامل وو له پینځلس ورځو وروسته د صدارت نظارت خانې یا د «خاد» نظارت خانې ته ولېږدول شوو.

کله یې چې زه په روسي جیپ موټر کې له پینځم ریاست نه صدارت ته وړم، د کابل ښاروالۍ مخې ته مې نعیم نومی خپل یو ټولګیوال ولید چې د پوهنې وزارت ودانۍ شا ته د میرویس میدان د بسونو تمځای ته روان ؤ چې پوهنځي ته لاړ شي. زه چې د نامعلوم برخلیک په لور روان وم پوهېدم چې تحصیل نور را نه پاتې دی، خو هدف مې تر هغو ډېر لوی و چې د پښېمانۍ احساس را سره پیدا کړي. ما له یوه پلوه د وطن د آزادۍ لپاره مبارزه کوله او په دې لاره کې مې قرباني ورکوله، بل لور ته مې په هېواد کې د یوه عادلانه نظام د راتلو لپاره هلې ځلې کولې.

د صدارت په نظارت‌خانه کې دوه نیمې میاشتې پاتې شوم. لومړی یې داسې خونې ته بوتلم چې تر ما مخکې دوه تنه نور هم پکې پراته وو، یو یې یو ځوان پولیس منصبدار و بل یې د امریکا د سفارت یو کارکوونکی.

په صدارت کې د تحقیق جریان له شکنجو پرته دوام کاوه، کله کله به یو روسی سلاکار هم راغی او له څارنوالانو سره به یې خبرې کولې، «خاد» د تحقیق لپاره بېلا بېل ډولونه ټاکلي وو هر «ډول» د بېلو ګوندونو او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړيو موضوعاتو لپاره و. حزب اسلامي د لومړي ډول اړوند و. خاد دغه کار د دې لپاره کړی و چې څارنوالان په يوه ځانګړې ساحه کې معلومات او تخصص تر لاسه کړي. موږ په څلورويشت ساعتونو کې دوه ځله تشناب ته د تلو اجازه درلوده، د خوراک، څښاک او پايوازی شرايط په صدارت کې ښه وو.

په دوو اونيو کې يې يو ځل ما ته له کوره پاکې جامې راوړې، اجازه مو درلوده چې له کورنۍ نه لنډ ليک تر لاسه کړو او په ځواب کې يې دعا و سلام او د جامو له رسېدو ډاډ ورکړو. د صدارت په نظارت‌خانه کې بنديزونه ډېر سخت وو، د امنيت د ټينګښت لپاره روسي پوځيان له خپلو زرهپوښونو سره د صدارت په انګړ کې ګومارل شوي وو.

يو ايرانی ځوان چې له مجاهدينو سره د مرستې په تور د افغانستان دننه نيول شوی و کله به چې تشناب ته بېول کېدو د پوځيانو له حکم نه د سرغړونې په دود به يې د پنجرې له شا نه غږ کړ «دا کوم ځای دی؟» بيا به يې پخپله ځواب ورکړ «د زمري پنجره». د نور محمد تره‌کي د استخباراتي ادارې «اکسا» مشر اسدالله سروري هم په همدې نظارت‌خانه کې بندي و. په کومه احاطه کې چې موږ وو اطاقونه ترې را چاپېر وو او په منځ کې يې نسبتاً يو لوی ميدان و.

له څه مودې تېرولو وروسته يې زه يوې بلې پنجرې ته بوتلم چې تر پخوا تنګه او تياره وه، چې «کوټه قلفي» يې ورته ويل، څرنګه چې تشناب د کوټې دننه و، نو نه مې شو کولای چې د څو شيبو لپاره هم لمر ووينم، په دې پنجره کې د ارغندۍ يو مهربانه سپين ږيری او د وردګو يو د ښوونځي ځوان زده کوونکی هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوه نيمو مياشتو تېرولو وروسته چې تحقيق مو پای ته ورسېد، زه او يو شمېر نور بنديان يې په هغو موټرو کې چې «ديګ بخار» يې ورته ويل پلچرخي زندان ته يووړو. «ديګ بخار» هغه بنز موټر و چې هېنداري يې نه درلودې، يوازې يو وړوکی سوری يې په چت کې درلود او بس! له دوو څلو څخه يو ځل چې موږ يې له پلچرخي نه محکمې ته را وستلو، د ځای د تنګوالي او تودوخې د زياتوالي په سبب زموږ د دوسيې يو تن په لاره کې بې سده شو.

## پلچرخي زندان

له غرمې مخکې څرخي پله زندان ته ورسېدو، هغه ورځ او شين اسمان مې نه هېرېږي. کله چې له موټر نه ښکته شوو څومره مې چې کولای شو د اسمان ننداره مې وکړه او خوند مې ترې واخيست، د پلچرخي په آزاده هوا کې مې نفس تازه کړ، ټول ځايونه را ته لوی او پراخ ښکارېدل. موږ يې کتار ودرولو د دوهم بلاک دننه يې بوتلو. زه نه پوهېږم څو ځايه مو نومونه وليکل شول، څرخي پله زندان ته زموږ سپارلو زيات وخت ونيو. زموږ تصويرونه يې واخيستل او هر يوه ته يې دوسيه جوړه کړه، بيا يې په بېلا بېلو اطاقونو ووېشلو، زه او څو تنه نور يې د دوهم پوړ يوې پنجرې ته يووړو. په پنجره کې د بنديانو شمېر زيات و. په څنډو او منځ کې يې څو دوه پوړه کټونه اېښودل شوي وو، په دې ډول يو وړوکی دهلېز جوړ شوی و چې مرکز يې د پنجرې له څنډو بېلاوه. د څرخي پله زندان لوی او عمومي اطاقونه د پنجرې په نوم يادېدل، په هره پنجره کې له دوو تر درې سوو تنو پورې ساتل کېدل. هرې پنجرې يوازې دوه تشنابونه او يو ځای د حمام لپاره درلود، باشي ما ته يو کټ را وښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ځنگ تر ځنگ اېښودل شویو دوو دوه پوړه کټونو باید شپږ کسان ویده شوي وای. څوک به چې نوی راغی طبعاً به په منځ کې ځای ورکول کېدو، د خوب پر مهال به د دوو چپرکوټونو په منځ کې په عذابېدو.

په پینځم ریاست کې د پینځلسو ورځو او د صدارت دوه نیمو میاشتو پر مهال مې ډېره اندېښنه د کورنۍ په اړه وه. په ډېر زحمت را ته معلومه شوه چې زموږ له کوره یې یوازې زما کشره خور «لیلا خُرم» تحقیق ته را وستلې وه، خاد ته یې د راوستلو پر مهال یوه ټولگیواله ورسره ملگرې وه چې د سازمان غړې وه او له څلورو ورځو او درې شپو تېرولو وروسته بېرته خوشې شوه او کور ته یې استولې وه، ډېرې ورځې به مې له ځانه سره چورتونه وهل چې کله یې زما خور له کوره بېوله مور او پلار به مې په څه حالت کې وو؟ د صدارت په نظارت خونه کې مې چې ورور لومړی د لیک ټوټه له پاکو جامو سره را واستوله په شفر یې را ته لیکلي و چې ټول په کور کې یو! له دې سره مې آرامه ساه واخیستله، بیا به مې کله له ځانه سره ویل چې دا یې زما د تسلې لپاره نه وي لیکلي.

په پنجره کې له ځای پر ځای کېدو وروسته، باشي را ته وویل چې له ده سره ملگری شم او له کانتین نه خپل د ضرورت وړ شیان را ونیسم. ډېر ضروري توکي څو شیان وو: پلاستیکي کاسه، کاشوغه، گیلاس او پلاستیکي کوزه. پلاستیکي کوزه ډېره مهمه وه ځکه چې تشناب ته د تلو او اوداسه لپاره مو باید نوبت نیولی وای. کله کله به د تشناب په مخه کې له ۳۰-۴۰ کوزو پورې نوبت ته اېښودل شوې وې. ترموز په څرخي پله زندان کې بل د ډېرې اړتیا وړ شی و. چایدار باشي به په پلاستیکي کوزو کې په دوو آبگرمیو اوبه اېشولې او هر دلگي ته به یې چې لس نفره به پکې وو جوش اوبه ورکولې. ډېرې میاشتې په یو شواروز کې زموږ استحقاق یو گیلاس جوش اوبه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چای، بوره، او مېوه د زندان د ادارې له لوري په غیر منظم ډول په ډېره لږه اندازه راکول کېدل.

د څرخي پله په زندان کې په دوو اونیو کې یو ځل زموږ پایواز راتلو، د بې سرنوشتۍ په موده مو د خپلې کورنۍ له غړیو سر ه د لیدو اجازه نه درلوده. ما یو کال د زندان په دوهم بلاک کې په بې سرنوشتۍ کې تېر کړ. له یوه کال پوره کېدو نه لږ مخکې هغه وخت چې لا بې برخلیکه وم وتوانېدم د څو دقیقو لپاره له خپل مور او پلار سره وګورم، هغوی د ټولې کورنۍ له ډېرو هڅو او د ځینو جګپوړیو چارواکیو له واسطه کولو وروسته دا اجازه تر لاسه کړې وه چې له ما سره څو دقیقې وګوري.

د مور او پلار د سپینو ویښتانو په لیدو چې دوی په دې یوه کال کې ډېر عذاب لیدلی و ما ټکان وخوړ، دوی زما په لیدو ډېر خوښ وو، خو ژور غمونه یې په څېرو کې ښکارېدل. په هغه ورځ لمر ډېر ځلانده ؤ او موږ د دوهم بلاک د احاطې په یوه ګوښه کې د یوه عسکر په حضور کې څو دقیقې ولیدل.

د یوه کال په اوږدو کې یې زه دوه ځله محکمې ته یووړم، دا چې په سرپټې موټر کې به یې بېولو، نه پوهېدو چې محکمه چېرته وه، خو د بندیانو په منځ کې ویل کېدل چې د «ځانګړې انقلابي محکمې» ځای چې سیاسي جرمونه یا «انقلاب ضد» جرمونه یې څېړل په صدارت کې ؤ. د بندیانو لپاره د محکمې شتون خپله یو بدلون ؤ چې دغه بدلون د ببرک کارمل له واک ته رسېدو سره چې ده او د خلق دیموکراتیک ګوند هغو ته «د ثور انقلاب تکاملي او نوی پړاو» ویل، منځته راغلی ؤ. خو په واقعیت کې محکمه، قاضي او څارنوال هسې ظاهري تشریفات وو، د ساري په توګه په دواړو وارو چې موږ هلته یووړل شوو او دوه یا درې تنه به قاضي ته ور وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو له کنځلو پرته مو له قاضي نه څه وا نهورېدل، زه په دوهم ځل وپوهېدم چې ځارنوال څوک دی، ځکه په هر ځل یوازې قاضي ؤ چې یو سپین سری سړی ؤ موږ ته به یې د انقلاب دښمنان او د وطن خاینان ویل او د محاکمې بهیر به له څو دقیقو زیات دوام نه کاوه.
د بې سرنوشتۍ په بهیر کې یانې تر هغه وړاندې چې موږ ته د محکمې حکم واورول شي، بیا بیا یې زموږ د اطاق ملګري را نه بوتلل او په دار یې کړل، زیاتره به یې د شپې له لوري کسان اعدام ته بېول.
هغه څوک به یې چې بل اطاق ته له بدلېدو پرته او د محکمې له حکم پرته ویوست، د دې نښه وه چې په دار کوي یې.
تر یوه کال او څه مودې تېرېدو وروسته بالآخره ما ته د ابلاغ پاڼه راغله او زه د انقلابي ضد فعالیتونو او له انقلاب ضد ګوندونو سره د اړیکو په جرم په پینځه کاله تنفیذي بند محکوم شوم.
تر هغه وروسته چې برخلیک مې معلوم شو زه یې د بې برخلیکو له پنجرې را وایستلم او هغه پنجرې ته یې بوتلم چې د بند سزا پرې ختلې وه. هلته موږ تلویزیون درلود او کولای مو شوای چې د میاشتې یو ځل له خپلو کورنیو سره وګورو. په هغه موده کې چې په صدارت او پلچرخي کې بندي وم ورور مې مجبور ؤ چې پرلپسې په پایوازۍ زما لیدو ته راشي. هغه مجبور ؤ چې د سهار له لمانځه مخکې له کوره ووځي او په انتظار د نوبتونو د نیولو لپاره په اوږده لین کې ودرېږي له څو تلاشیو نه ډوډۍ، مېوه او پاکې جامې چې په کور کې به یې را ته تیارول راوړي او په یوه لیک کې د کورنۍ احوال را ته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایوازان د پلچرخي د زندان د مامورینو له سپک او بد چلن سره مخ وو، ځکه چې دوی هر یو د کوم «ضد انقلاب عنصر» له نږدې خپلوانو او د کورنۍ له غړیو څخه ؤ.
زموږ په منځ کې داسې کسان هم وو چې پایواز یې نه درلود، د هغوی وضعه ډېره خرابه وه، دوی پیسې نه درلودې چې خپل د اړتیا وړ شیان له کانتین نه وپېري، باید دوی پخپله خپلې جامې په پنجره کې دننه مینځلې وای. خو نورو بندیانو به ورسره مرسته کوله، د توشکو او کمپلو وضعه په تېره د بې برخلیکۍ په موده کې ډېره خرابه وه، ځکه هره ورځ به نوي بندیان راتلل او پخواني بندیان به یا بدل شول، یا به خوشې کېدل او یا به یې برخلیک ټاکل کېدو، دې کار د خوب بسترو نظافت ناممکن کړی ؤ.
هغه بندیان به چې د زندان د ادارې له لوري خطرناک وګڼل شول، هم به د باشیانو او جاسوسانو لخوا تر سختې څارنې لاندې وو او هم به تر نورو ډېر زر له یوه اطاق نه بل ته بدلېدل. بدلېدل د زندان د ساتونکیو له لوري د یوې روحي شکنجې په توګه کارېدل، په هر ځل بدلېدو به مو باید خپله کاسه، کوزه او بستره راټولول او په شا به مو وړل. په همدې دلیل مو هڅه کوله چې کالي او سامان مو لږ وي چې په بدلېدو کې له جنجال سره مخ نه وو. زه به په هر ځل د اطاق له بدلېدو او له نویو کسانو سره د آشنا کېدو پر مهال له هماغومره روحي فشار سره مخامخ کېدم لکه د نیول کېدو په پیل کې چې ورسره مخامخ شوی وم. تر هغه وروسته چې زموږ برخلیک معلوم شو او په بند محکوم شوو، دا اجازه مو درلوده چې له کور نه ځینې کتابونه را وغواړو او مطالعه یې کړو. زندان هم یو کتابتون درلود چې یوازې مارکسیستي آثار پکې موندل کېدل. ما به د غني خان د اشعارو له ټولګې (د غني پلوشې) ډېر خوند اخیست، زما د ټینګار او غوښتنې له امله چې د جلال الدین فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «درسهایی از مارکسیزم» ټول ټوکونه یو ځل بیا ولولم، وروړ مې مجبور شو چې دغه «منعه شوی» کتاب د یو بل کتاب په پوښ کې ځای پر ځای کړي او را یې وړي، د څرخي پله په تلاشیو کې «دغه خطرناک شی» کشف شو، وروړ مې یې تحقیق ته بوتلو، زه یې هم سوال او ځواب ته ور وبللم، وضعیت ډېر خطرناک شو. ما ځان پر دې ډېر ملامت کړ چې یو ځل بیا مې خپله کورنۍ له اضافي مشکلاتو سره لاس او ګرېوان کړه، وروړ ته مې یې ماښام مهال اجازه ورکړه چې کور ته لاړ شي. د زندان څو تنه منصبداران زموږ پنجرې ته راغلل او بندیانو ته یې د کتاب په ورښودلو ګواکې زما د جرم ژوندی سند ور وښود. له ډېرو پوښتنو، ګواښونو او تحقیق وروسته دولت کتاب ضبط کړ او زه وتوانېدم چې بېرته پنجرې ته راشم.

## په زندان کې ستونزې

د پلچرخي زندان ادارې ته د جاسوسۍ به سبب یو شمېر بندیان په دې وتوانېدل چې یو څه خاص امتیازات تر لاسه کړي. هغوی چې د باشي په نوم په هره پنجره کې ټاکل کېدل او د خپلو اطاقونو مسوولیت یې پر اوږو ؤ، دوی د بندیانو او د بلاک د قوماندانۍ تر منځ د اړیکو ټینګولو دنده درلوده. باشیانو له اطاق نه د باندې په وتلو او خوراک کې تر نورو امتیاز درلود، د بې سرنوشتۍ په موده کې د باشیانو رول ډېر ؤ، ځکه چې د محکمې د وروستي حکم له صادرېدو وړاندې دوی هر بندي څاره او کړه وړه یې کنترولول.

په یوه ډېر ساړه ژمي کې چې په تلویزیون کې د دولت د اعلان پر بنسټ د یخنۍ سړه څپه له سایبریا نه راغلې وه، د اسلامي ګوندونو د غړیو او ماؤیستانو تر منځ د شخړې له پیښېدو وروسته موږ څو تنه د یوه تش بلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستي پوړ ته ولېږدول شوو او هر یو په یوه انفرادي پنجره کې واچول شول. د دهلېز پنجرو هېنداري نه درلودې، په کوټو کې فرش، توشکې او کمپلې هم نه وې، هر یو له ډېرې یخنۍ تر سهاره پر پښو ولاړ وو او گرځېدو. دا چې د یو بل غبږونه مو اورېدای شوای، پرېکړه مو وکړه چې د دې جزا پر خلاف به په اعتراض کې د ډوډۍ نه خوړلو اعتصاب کوو. د اعتصاب له پیل سره د زندان اداري زموږ پر خلاف توند غبرگون وښود، له صدارت نه پلاوي راغلل موږ ته یې گواښ وکړ چې پر دوسیو به مو له سره غور وکړو او له سره به تحقیقات در نه پیل شي. څرنگه چې د کب له درېیمې سره په تصادفي توگه زموږ اعتصاب پیل شوی ؤ، خاد فکر کاوه چې موږ اصلاً د کب د درېیمې په یاد اعتصاب کړی دی. چې دا روښانه شوه چې زموږ اعتراض د غیر انساني شرایطو او موږ ته د جزا په تړاو ؤ نو زموږ د دوسیو له بیا غور نه تېر شول او موږ یې لومړي بلاک ته ولېږدولو. په لومړي بلاک کې یې موږ هر یو د خلق دیموکراتیک گوند د حفیظ الله امین د ډلې له یوه تن سره په یوه اطاق کې واچولو. په لومړي بلاک کې بندیزونه ډېر وو، د حفیظ الله امین د کورنۍ غړي هم په یوه وړوکې احاطه کې بېل په همدې بلاک کې ساتل کېدل. زه یې داسې پنجرې ته یوړم چې هلته د امین له کلکو پلویانو څخه یو تن، عبیدالله محک د خلق دیموکراتیک گوند د ښځو د سازمان رییسې دلارا محك مېړه اوسېدو.

ما او محك په زړه پورې بحثونه درلودل. هغه د خلق گوند پخوانی غړی او زه یو مسلمان انقلابي ځوان وم چې د بهرني ښکېلاك له منگولو نه د هېواد د ژغورنې او عادلانه اسلامي نظام ټینگولو لپاره مې مبارزه کوله.

په څرخي پله زندان کې د جهادي گوندونو پر غړیو او عامو افغانانو سربېره چې په مرکز او اطرافو کې له مجاهدینو سره همکار وو، یو لږ شمېر د حفیظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله امین د ډلې د خلق دیموکراتیك ګوند غړي او یو شمېر ماؤیستان هم بندیان وو.

د مجاهدینو په برخه کې یې زیاته برخه عام خلك وو، چې د اتحاد شوروي د یرغلګر پوځ او د هغوی د لاسپوڅي حکومت پر خلاف یې د وطن د آزادۍ لپاره مبارزې کولې او د «خاد» لخوا نیول شوي وو او زندان ته لوېدلي وو.

په محصلینو او د زده کړو خاوندانو مجاهدینو کې بیا ډېری برخه د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي غړي وو. علما زیاتره له حرکت انقلاب اسلامي سره د غړیتوب په تور بندیان شوي وو، د حزب اسلامي د غړیتوب په تور په بندیانو کې درې تنه سیکان هم وو.

د تحصیل په خاوندانو کې یو شمېر داسې وو چې د افغانستان جهاد یې نه یوازې د آزادۍ جګړه بلله بلکې دا یې د اسلامي حکومت راوستلو لاره هم بلله.

دغه ډله چې زه هم له هغوی څخه وم پر دې باوري وه چې موږ په تېرو اوږدو کلونو کې د اسلام له واقعي روح څخه لرې شوي وو، زموږ نظام له اسلامي اصولو څخه پیروي نه کوله؛ په همدې دلیل زموږ حکومتونه ناکام او له خلکو څخه منزوي شوي وو. همدغه سبب ؤ چې کمونیستي ګوندونو وده وکړه، د اتحاد شوروي نفوذ زیات شو او بالاخره هېواد د سرو پوځونو لخوا ونیول شو. زموږ افغانانو په اند موږ باید د اسلام لومړیو وختونو ته ورګرځېدلي وای او رښتینی اسلامي نظام جوړ شوی وای. د اسلام په باب دا نوی نظر طبعاً د اسلام له دودیز تعبیر سره مخالف ؤ. همدغه د نظر او انګېرنې اختلاف د دې سبب شو چې زه او یو شمېر بندیان په بېلا بېلو نومونو مثلاً پنج پیري، وهابي او نورو وکوبل شو. دغه دننه اختلاف زه د «خاد» له

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکنجو او عذابونو زيات ځورولم. زموږ پر خلاف چې کوم چلن غوره شوی ؤ يو يې دا ؤ چې له موږ سره اړيکې پرې شي. خبرې راسره بندې شي. په داسې حال کې چې زموږ ټول ژوند د زندان په يوه پنجره کې را ايسار شوی ؤ، دغه گوښه کېدل ډېر عذاب ؤ.

د يوه اطاق بنديان د باشي لخوا په دلگيو وېشل کېدل چې حساب کتاب او قروانه يې ښه تنظيم کړای شي. پر دلگي سربېره د يوې طبعې او سره نږدې بنديانو په خپلو کې نور گروپونه هم جوړول چې «انډيوالي» بلل کېده.

د انډيوالۍ غړيو به ډوډۍ يو ځای خوړله او د يوه کور د غړيو په څېر به يې خپل هست او بود سره شريکول.

په ياد مې دي چې يو وخت د درېيم بلاک د لومړي پوړ په پنجره کې زما په انډيوالۍ کې ۱۴ تنه وو، ټول مې ډېر گران ملگري وو، د «اړيکو پرېکون» د سياست په بهير کې ټول اړ شول چې له ما سره اړيکې غوڅې کړي، ورو ورو زه په انډيوالۍ کې يوازې پاتې شوم. دا ډېره دردوونکې وه او په يوه پنجره کې دننه ژوند يې ناممکن کاوه. دغه مهال زموږ د اطاق درې تنه د اهل تشيع بنديان چې د نصر سازمان او حرکت اسلامي په تور بنديان شوي وو، د مهربانۍ له مخې يې د تجريد او پرېکون د حکم پروا ونه کړه او بلنه يې راکړه چې زه د دوی د انډيوالۍ غړی شم، زه د دوی دغه مينه او مهرباني نشم هېرولای. کوم چا چې په دغه ډول نويو نظرياتو کې ډېر شهرت وموند د حزب اسلامي غړی حاجي محمد امين فروتن ؤ. نوموړی وروسته په پېښور کې د «شهادت» جريدې مرستيال شو او تر هغه وروسته چې د حزب له مشرتابه سره يې اختلاف راغی د مولوي نصرالله منصور گوند ته ورغی او د هغه مرستيال شو. محمد امين فروتن نوموړي گوند ته د ايران د ملاتړ په ترلاسه کولو کې مهم رول ولوباوه. وروسته نوموړی د پېښور په حيات آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تر برید لاندې راغی، په داسې حال کې چې دوې مرمۍ یې پر سر لګېدلې وې روغتون ته یووړل شو چې وروسته د درملنې لپاره هالنډ ته واستول شو.

د یادونې وړ ده چې د نویو نظریاتو لرونکي د دوو تنو غوره علماؤ هر یوه مولوي عرب (مولوي کوچی) او مولوي عبدالرشید (حاجي آغا) له معنوي ملاتړه برخمن وو چې د دغو دوو درنو علماؤ ملاتړ عملاً د دودیزو ملایانو د توند لارو پیروانو فشار پر موږ کم کړی ؤ.

د درېیم بلاک د لومړي پوړ په پنجره کې د سنتي ملایانو یوه توند لاري ګروپ غوښتل چې ما د تفریح پر مهال د قدم وهلو پر وخت ووهي، زما نویو انډیوالانو په تېره ډاکتر سخي چې د افغانستان د تکواندو له اتلانو څخه یو ؤ ما ته ډاډ راکړ چې د تیري په صورت کې به له ما نه دفاع کوي، په هغه ورځ ډاکتر سخي خپلو شاګردانو ته د تکواندو تمرین ور نکړ او له ما سره یو ځای یې قدم واهه، د ده په لیدو هغه ګروپ جرئت ونه کړ چې پر ما لاس اوچت کړي.

مثلث د پلچرخي د ادارې په وینا د درې «وینګونو» د بلاکونو تر منځ ایساره درې کونجه ساحه وه، د تفریح پر مهال مو د ورځې یو ساعت په همدې ساحه کې قدم واهه، د مثلث په کونج کې د والیبال یو میدان هم جوړ شوی ؤ چې یو شمېر بندیانو به د تفریح پر مهال هلته والیبال کاوه.

کله به مو چې له خپلې کورنۍ سره د لیدو اجازه تر لاسه کړه، په همدې مثلث کې به د یوې کمپلې له غوړولو سره د کورنۍ له غړیو سره کیناستلو او روغبړ به مو کاوه.

دغه جشن موږ ته په میاشت کې یو ځل برابرېدو، په یاد مې دي چې له هر ځل لیدو وروسته به چې په تیاره دهلېز کې د خپلې کورنۍ له غړیو نه بېلېدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپلې تيارې پنجرې ته به تلم له ژونده ستومانه شوې مور به مې سوړ اسويلى وکېښ او ويل به يې: «زويه هلته ژوند ډېر درته سخت دى؟» هر څومره به مې چې ورته وويل چې په زندان کې کومه ستونزه نه لرم، باور به يې نه کېدو.

د يادونې وړ ده تر کومه وخته چې زه بندي وم مور مې د کور له خونې د انګړ چمن او باغچې ته نه وه وتلې، ځکه چې زه په زندان کې وم. يو وخت د هغو بلاکونو مسووليت چې برخليک يې معلوم شوى ؤ له «خاد» نه کورنيو چارو وزارت ته وسپارل شو. له دې بدلون سره زموږ په ژوند کې بدلونونه راغلل، د مثال په ډول مېوه موږ ته منظمه او ډېره رسېدله، په قروانه کې د غوايه د غوښې ځاى د چرګ غوښې ونيو. بنديانو په دوهمه ورځ د چرګ د غوښې له خوړلو انکار وکړ او هغه چرګان به چې راوړل کېدل ټول به د پنجرې په کونج کې د کثافاتو لپاره اېښودل شوي بېلر ته ورغورځېدل. دغه کار په ټولو اطاقونو کې کېده، د بنديانو په منځ کې آوازه خپره شوې وه چې په قوي احتمال رښتيا هم وه چې د وارسا تړون هر غړي هېواد د پوليسو او ملي اردو او له جملې څخه د بنديانو د لګښتونو يوه برخه په غاړه اخيستې وو. په دې لړ کې بلغاريا د کورنيو چارو وزارت خوراکي لګښتونه په غاړه اخيستي وو، پلچرخي بنديان چې اوس د کورنيو چارو وزارت اړوندوو خوراکي لګښتونه يې د بلغاريا پر اوږو وو. ځکه خو هغه هېواد افغانستان ته د چرګانو غوښې را استولې- هغه غوښې چې د بنديانو له نظره حلالې نه وې. له څو ورځو تېرېدو وروسته چې له پنجرې نه د چرګانو له غوښو ډک بېلرونه ووتل يو جګپوړى پلاوى راغى او موږ يې وهڅولو چې له زندان نه د باندې چا ته د چرګانو غوښه نه رسېږي او تاسو دلته هغه په کثافاتو کې غورځوئ، دغه غوښه تاسو ته ښه ده وې خورئ! بنديانو استدلال وکړ چې دا حلاله نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده موږ یې نه خورو. پلاوي ګواښ وکړ خو کار یې ور نه کړ، بالاخره د زندان اداره دې ته اړه شوه چې زموږ د قرواني پخوانۍ مینو را ته حواله کړي. د کورنیو چارو وزارت غوره نظم لنډ مهاله ؤ او له یوې مودې تېرېدو وروسته بېرته بې نظمي او کمبود په هر څه کې را ښکاره شو. دې کار پر بندیانو زیات اغېز نه درلود ځکه چې موږ له حکومت څخه زیاته تمه نه درلوده. د څرخي پله زندان مجاهدینو ته د مدرسې حیثیت درلود.

له ډېر لږ وخت څخه چې لاسته راتلو او وړوکی کتاب به چې کوم زنداني ترلاسه کاوه له هغو نه به ډېره ګټه اوچتېده. د قرانکریم د حفظ، تجوید، احادیثو او فقې درسونه پرلپسې روان وو.

## له زندانه خلاصون

د هر کال په تېرېدو پر حکومت او بهرنیو ملاتړ کوونکیو یې فشارونه زیاتېدل. د مجاهدینو نړیوال ملاتړ مخ پر زیاتېدو ؤ او د حکومت تر کنترول لاندې ساحه مخ په کمېدو وه. حکومت د ببرک کارمل په مشرۍ د هغې جګړې د پایته رسولو لپاره چې ورځ تر بلې یې دوی د دوام ورکولو توان له لاسه ورکاوه د خپلو هڅو په لړ کې د پلار وطنې ملي جبهې په جوړولو لاس پورې کړ او د لومړي ځل لپاره یې یوه لویه جرګه را وبلله.

موږ په خپله پنجره کې د تلویزیون له لارې د لویې جرګې د جریان ننداره کوله. د جرګې یو شمېر غړي د خپلو مېزونو د پاسه ودرېدل او ببرک کارمل ته یې د بندیانو د بښنې او د سزا د کمولو غوښتنلیک وړاندې کړ. موږ د دولت د نورو ژمنو په څېر دې ته هم تمه نه درلوده. خو واقعیت دا دی چې د بندیانو شمېر ډېر زیات شوی ؤ او زندانونه له ځوانانو او بوډاګانو نه ډک شوي وو. دولت غوښتل چې د ښه نیت په دود هغوی خوشي کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو زړونه لاسته راوړي. زموږ د تمې پر خلاف د بندیانو د وضعې ارزونه پیل شوه. زموږ کورنیو د ملاقات په ورځو کې د هغو د پرمختګ له بهیره خبرولو. دې پروسې ډېر وخت ونیو. بالاخره هغه بندیان چې تر پینځو کلونو پورې بند پرې ختلی ؤ د هغو درېیمه برخه موده وبښل شوه. څرنګه چې پر ما پینځه کاله بند ختلی ؤ او تر نیمایي زیاته موده مې تېر کړې ؤ باید حکومت بښلی وای او له زندان نه به خوشی کېدم.

د حکومت د ښښنې او تخفیف د فرمان عملي کېدو دومره وخت ونیو چې فکر مو کاوه چې دا کار به و نه شي. په یوه «ملاقات» کې مې پلار په خوشالۍ ډاډ را کړ چې ډېر زر به خوشی شم.

بالاخره د څو ادارو یو ګډ پلاوی د څرخي پله زندان ته راغی او د هغو کسانو د خوشي کولو پروسه یې پیل کړه چې په ښښنه کې شامل وو.

نوموړی پلاوی زموږ پنجرې ته له نیمې شپې وروسته را ورسېد او هغه کسان چې د خوشي کېدو پرېکړه یې شوې وه د اتهام له یادولو سره یې نومونه واخیستل شول. زما تور یې د «ګلبدین» په باند کې غړیتوب یاد کړ، ما په لوړ غږ وویل: «د ګلبدین باند نه، حزب اسلامي!» دوستانو مې هڅه وکړه چې منعه مې کړي، وې ویل «لیونی شوی یې، اوس خوشی کېږې او ته داسې خبرې کوې». په هر صورت د خپل اطاق له اندیوالانو سره مې خدای پاماني وکړه، د کالیو او سامان یوه برخه مې همدې اندیوالانو ته پرېښوده او نور مې را سره را واخیستل او له پنجرې نه راووتو. هغه پروسه چې باید تر سره شوې وای، ډېر وخت یې ونیو، د تلاشۍ له بېلابېلو پړاوونو تر تېرېدو وروسته د هویت او نامه تطبیق، د انتظار په اوږده کتار کې تر اوږده ځنډ وروسته د تنکۍ غرمې لس نیمې بجې د زندان له دروازې راووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو بنديانو چې په کابل کې يې ژوند کاوه خپلوان او د کورنۍ غړي د دوی هرکلي ته راغلي وو، پلار، مور او ورور مې زما په انتظار وو، ورور مې په منډه لاړ او خپل موټر يې راوست، يو عجيب حالت ؤ، فکر مې کاوه چې خوب وينم.

معمولاً به يې هغه بنديان چې د بند موده به يې بشپړوله له زندان نه به يې د ملي اردو د جلب او جذب مرکزونو ته بېول او د ناامنو ولاياتو کومې پوځي قطعې ته به يې معرفي کول. ځرنګه چې مور د ښښې او تخفيف د فرمان اړوند وو، يوازې دومره اجازه يې راکړه چې دوې ورځې بشپړ آزاد وو. په همدې سبب د ځرخي پله له زندانه تر پروان مېنې پورې پر هېڅ تلاشۍ ور برابر نه شوو او نه يې د عسکرۍ اسناد را نه وغوښتل.

موټر د وزير اکبر خان مېنې او نوي ښار نه تېر شو، ما ښار له درې کلونو وروسته ليدو. ټول ځايونه را ته زاړه او وراسته ښکارېدل. کله چې هغې کوڅې ته ننوتو چې زه پکې را لوی شوی وم، کورونه او دېوالونه مې تر نظره تېټ او وړوکي راغلل. کور ته له راتلو سره جشن جوړ شو. ګاونډيان او دوستان د کلچو او شيريني له پتنوسونو سره راتلل، ځينو به د خيرات لپاره ډوډۍ راوړې وه، مور تر څو ورځو پورې د خپلې کوڅې په مخ کې په تېر شوي سرک پر تېرېدونکيو خلکو همدغه ډوډۍ وېشلې.

مور مې له راتلو او خوشي کېدو سره داسې شوک وخوړ چې هغو ته يې تاب را نه وړ او يوه اونۍ په بستره کې پرېوته. زمور ټول دوستان او ګاونډيان نه يوازې زما پر خوشي کېدو خوښ وو بلکې ما ته يې د يوه اتل په سترګه کتل.

له حکومت نه کرکه ورځ تر بلې زياتېدله، څوک چې له دوی سره په مقابله کې زندان ته تللي وو او د دوی پر خلاف يې مبارزه کړې وه د ټولو په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مجاهد او اتل ښکارېدو. لومړۍ شپه چې خپل اطاق ته لاړم او څراغ مې ګل کړ له خوشالۍ تر سهاره خوب رانغی.

په کور کې مې له درې کلونو وروسته د دوو نورو شپانو مزه هم ولیده، یو د یخو اوبو څښل او بل په داسې خونه کې خوب چې څراغ یې مړ وي. له کورنۍ سره د یو ځای کېدو بې پایه خوند و نه توانېد چې زما په وجود کې یو بل عجیب احساس له منځه یوسي. د هغه کار احساس چې نیمګړی پاتې ؤ او باید تر سره کړی مې وای. زه د دې لپاره زندان ته نه وم تللی چې وروسته بیا فکر وکړم چې هدف ته ورسېدم، برخلاف، هدف مې له هېواده د یرغلګرو شړل، د دوی د لاسپوڅي حکومت را پرځول او د یوه اسلامي نظام ټینګول وو چې تر اوسه لاسته نه وو راغلي. په همدې دلیل مې د ناکرارۍ احساس کاوه او په دې هڅه کې وم چې بیا به مبارزه پیلوم.

دا چې اسناد مې نه درلودل له کوره نشوای وتلی، ځکه چې هره شېبه او په هره ګوښه کې کېدای شول چې د عسکري د تلاشیو په دام کې را ګیر شم. په هغو ورځو کې حکومت د عسکرو له کمبود سره مخ ؤ او د ښار په هره برخه کې یې د تلاشۍ پوستې جوړې کړې وې، هغه ځوانان چې د محصل، یا د زده کوونکي او یا ترخیص اسناد به یې نه درلودل له ځانه سره به یې بېول او عسکري خدمت ته به یې استول.

دولت آن د خلکو کورونه تلاشي کول چې کوم ځوان پیدا کړي او عسکرۍ ته یې واستوي. کله کله به یې زده کوونکي او محصلین هم چې اسناد به یې درلودل عسکرۍ ته استول.

څو ځلې مې وکولای شول چې جعلي اسناد جوړ کړم او له کوره ووځم. یو ځل له انجنیر نواز سره تېې ته لاړم چې له بندي کېدو څخه مخکې به مې ورسره تل د باغ بالا په سمسور، له خوږو ورمو ډک او ارواپال چاپېریال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواږه فلسفي بحثونه درلودل. د تپې په لیدو مې جټکه وخوړه، نور نه هغه سمسورتیا وه او نه تازګي، د تپې پر سر پلې لارې یې کانکریټ کړې وې او اوسپنیزې پنجرې یې ترې راګرځولې وې. باغ بالا وچ او له ګردونو ډک ؤ، خپه شوم او هڅه مې وکړه چې زر بېرته کور ته راستون شم.
پلار مې لاره راته جوړه کړه چې د جلال‌اباد او تورخم له لارې پېښور ته لاړ شم. په کور کې مو ټول حیران وو چې ولې داسې یو ګوند چې د ځواک او نظم آوازې یې تر هر ځایه رسېدلې دا توان نه لري چې خپل یو فعال غړی له کابله وباسي. د عسکرۍ د سند د تر لاسه کولو لپاره مې د اوښني «ډاکتر غلام سخي سلیمي» په مرسته چې په ځلور سوه بستریز روغتون کې ډاکتر ؤ او په بېلا بېلو وختونو کې یې مرستې را سره کړې وې، د لویو لارو په ۲۲مه لوا کې د «سرتیري» په توګه شامل شوم، ځو ورځې وروسته مې رخصت واخیست او له پلار سره مې جلال‌اباد ته لاړم. پلار مې یوه لار بلد حاجي صاحب ته وسپارلم او پخپله کابل ته ستون شو.
زه یوه اونۍ د نوموړي په شخصي کور کې په انتظار پاتې شوم، له تورخم سره نږدې جګړه پیل شوې وه، و مې نشو کولای چې پېښور ته لاړ شم بېرته مې کابل ته د راستنېدو اراده وکړه، په یاد مې دي چې د لغمان د سرخکانو په برخه کې مجاهدین د تلاشۍ لپاره عمومي سرک ته راوتلي وو، د مینيبس له سپرلیو یې چې زه هم پکې وم د مجاهدینو لپاره مرسته وغوښتله. ما تر نورو ډېرې پیسې ورکړې، دې کار د هغوی پام ما ته را واړاوه، را باندې شکمن شول او له موټره یې ښکته کړم. غوښتل یې چې ما د حزب اسلامي د قوماندان ناصر مرکز ته بوځي. زه وار خطا شوم، ځکه چې ټول پلانونه مې سره ګډوډ کېدل، هغوی زه هېڅ نه پېژندلم او تر څو چې موضوع روښانه کېدای نو ډېره موده به وتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما لار بلد حاجي صاحب او د موټرو سپرلۍ له مجاهدينو وغوښتل چې ما پرېږدي. هغوی ومنله او موږ سفر ته دوام ورکړ. څو سوه متره وړاندې د حکومتي عسکرو تلاشي وه، حيران شوم چې په دومره لږ فاصله کې دوه دښمن ځواکونه څه ډول په يوه وخت کې تلاشي کوي.
د کابل-جلال‌اباد لارې نور هغه پخوانۍ ښکلا له لاسه ورکړې وه، په پخوا وختونو کې به د ژمي له پيل سره د کابل سيند پر غاړه په کاږه واږه سرک موږ خوندور سفرونه پيلول او جلال‌اباد ته به تلو، تر څو د يخنۍ موسم په جلال‌اباد کې په خپل کور کې تېر کړو. خو اوس د کابل- جلال‌اباد د لارې په اوږدو کې د روسي او افغان ځواکونو زيات شمېر پوستو او د سرک ويجاړتيا ناوړه ننداره ښودله او د ټانکونو او زرهپوښونو ليدو سفر په وېرووونکي بهير بدل کړی ؤ.
افغانستان نور هغه هېواد نه ؤ چې ما درې کاله پخوا ليدلی ؤ. جګړې هر څه بدل کړي وو، سرک، هوا، خلک، دودونه او عادتونه او هر څه. افغانستان په يوه بېل هېواد بدل شوی ؤ، چې کله کور ته ورسېدم ټول حيران شول، په ليدو مې خوشاله شول، خو د راتلونکې انديښنو بيا د ټولو پر فکرونو چپاو راوړ. په دې ډول د اوسني حکومت د حاکميت له دايرې نه زما د وتلو لومړنۍ هڅه بې پايلې شوې وه. بايد بله لاره مې لټولې وای.

## وردګو ته تګ

تر دې وروسته چې د جلال‌اباد له لارې پېښور ته پر تلو برياليی نه شوم، يوازينۍ بله لاره چې را ته پاتې وه وردګو ته تګ ؤ. په کور کې مو پرېکړه وکړه چې لومړی وردګو ته لاړ شم او له هغه ځايه بيا پېښور ته روان شم.
د چک په ولسوالۍ کې حزب اسلامي ځواکمنې جبهې درلودې او زه بايد د چک ولسوالۍ د عربانو درې ته چې زما د مور خپلوان پکې اوسېږي تللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وای. د هغه ځای یوه سپین ږیري «شاه ولي ماما» دا دنده واخیستله چې تر هغه ځایه را سره ملګرتیا وکړي.

سهار د لمانځه پر وخت له کوره وخوځېدو، له پلار او مور سره مې د شاه ولي ماما سره په ګډه له کوره ووتو او د میرویس میدان یا کوټه سنګي مخه مو ونیوله، دا دی پر هماغه لاره بیا روان شوم چې څو کاله پخوا پرې تللی وم.

د چک د لین موټړو اډې ته ورسېدو. د ورځې یو بس موټر ولسوالۍ ته تلو، موټرونه او سپرلي یې هماغه څه ته ورته وو چې څو کاله پخوا مې لیدلي وو، البته له یوه توپیر سره، چې بې وزلي، نهیلي او وېره په خلکو کې زیاته شوې وه.

د ارغندۍ په سیمه کې زموږ موټر تلاشي شو. دغه ځای په سخته تلاشۍ مشهور ؤ، په خیر ترې تېر شوو، دوهمه تلاشي په میدان ښار کې وه، د «خاد» او پوځ کارکوونکي بس ته راننوتل، له ځینو یې د اسنادو پوښتنه وکړه، له نېکه مرغه ما ته یې پام نه شو، موټر بیا روان شو.

له میدانښاره لږ لرې له غزني لوري یو اوږد پوځي کتار راغی، موږ او یو شمېر نور موټر چې د کابل له لوري د دوی مخالف لور ته روان وو له مجبورۍ ودرېدل، تم کېدو ډېر وخت ونیو، ځینې سپرلۍ له دې وېرې چې د روسي عسکرو تر برید لاندې را نشي وړاندیز یې کاوه چې میدانښار ته بېرته ور وګرځو. زه ډېر په اندېښنه کې شوم، له ځانه سره مې فکر کاوه چې که هلته له سره تلاشي وکړي زه به یې په دام کې ولوېږم. بالاخره پرېکړه پر دې شوه چې میدان ته نه ورګرځو، د شوروي پوځ ټانکونه او زرهپوښونه زموږ له دواړو لوریو ډېر ګړندي تېرېدل، تر دې چې کتار ختم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د چک ولسوالۍ په لور خپل سفر ته دوام ورکړ، د خوښۍ ځای دا ؤ چې له دې ځایه وروسته نور دولت حاکمیت نه درلود او هېڅ تلاشي مالاشي نه وې.

دا ځل چې د وردګو په ولایت کې د مجاهدینو بشپړ حاکمیت ټینګ شوی ؤ اجازه یې ورکړې وه چې د مسافر وړونکي موټر د ولسوالۍ تر مرکزه چې اوس حکومت خوشې کړې وه او د چک د برېښنا بند ته نږدې وه لاړ شي.

د خوات په سیمه کې زموږ د سپرلۍ موټر مجاهدینو ودراوه، یو سپین پوستی د سرېږیرې خاوند چې د مجاهدینو قوماندان ښکارېده، د موټر له مخکې دروازې نه را وخوت. ما ته یې اشاره وکړه چې ښکته شم، له هغه سره څو تنه وسله‌وال هم وو، وې ویل زه د دې سیمې د جمعیت اسلامي قوماندان یم. له ما نه یې پوښتنه وکړه چې څوک یم او چېرته ځم؟

ورته و مې ویل «زه تا ته څه نه نشم ویلی، مهرباني وکړه ما د دې سیمې د حزب اسلامي قوماندان ته چې په معلم خمیني مشهور دی وسپاره. زه یوازې هغه ته ځان ور پېژندلی شم. که زما په باب څه شکونه در سره وي، بیا د هغه په مخ کې ستاسو د هر ډول پوښتنې ځواب ته حاضر یم».

دا چې ږیره مې خرېیلې وه او روسۍ خولۍ مې پر سر وه، آوازه خپره شوه چې قوماندان (مامور صادق) یو پیلوټ چې له کابله راغلی ؤ بندي نیولی دی. دوی قوماندان خمیني ته زما له سپارلو انکار وکړ او زه یې خپل مرکز ته چې په «شېرخانه» مشهور ؤ بوتلم.

سبا ته یې یو تن راوست چې څارنوال صاحب یې ورته ویل او له ما نه یې پوښتنې پیل کړې، څرنګه چې د تحقیقاتو بشپړه تجربه مې درلوده پوښتنو ته مې یې لنډ ځوابونه وویل، د تحقیق په بهیر کې څه لاسته ورنغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زه د جمعیت اسلامي کسانو خپل مرکز ته بوتلم، شاه ولي ماما لاړ چې د عربانو درې مجاهدین پر دې پېښه خبر کړي.
د عربانو د مجاهدینو رییس حاجي احمد جان ؤ چې پخوا یې نوم یاد شوی دی او تر دې مخکې هم زه یو ځل هلته تللی وم او هغه مې په سیمه کې لاربښود ؤ. د دې خبر له اورېدو سره حاجي صاحب احمد جان په بیړه ځان د شېرخانې مرکز ته را رسولی ؤ چې ما د جمعیت اسلامي له مجاهدینو څخه بوځي، دوی هلته زما له شتون څخه منکر شوي وو.
موضوع د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي د مجاهدینو تر منځ لفظي ناندریو ته رسېدلې وه، بله ورځ سهار یې چې د جمعیت اسلامي عمومي قوماندان (ملا سید جان) هم حاضر ؤ پرېکړه یې وکړه چې ما د «سیاو» مرکز ته بوزي له دې ځایه تر سیاو پورې اوږده لاره په مخکې وه، باید له یوه اوږده کوتل نه اوښتي وای. ما د پلي تګ عادت نه درلود او دغه لاره مې په سختۍ ووهله.
شپه مو د «سیاو» د یوه خان په کور کې چې د جمعیت اسلامي غړی ؤ تېره کړه، خان صاحب د قوماندان سید جان تود هرکلی وکړ او د شپې یې موږ ته مکلفه ډوډۍ له ښوروا او د لاندي له غوښې سره راوړل.
د ماسخوتن له لمانځه وروسته د خوب تیاری ونیول شو او اریکین ګل شو چې ناڅاپه دروازه ټک ټک شوه، وسله‌وال کسان ور ووتل چې وګوري څوک دي، بېرته راغلل وې ویل دوه تنه وسله‌وال مجاهدین له عربانو راغلي او یو لیک یې راوړی دی. ملا سید جان له بسترې را جګ شو وې ویل مجاهدین راولئ، لیک یې پرانیست او په لوستلو یې پیل وکړ له څو شېبو وروسته یې لیک ما ته راکړ وې ویل «حزبیانو ډېرې توندې خبرې لیکلې، که حوصله ونه کړم د حزب او جمعیت تر منځ به ټکر راشي.» وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وپوهېدم چې احمد جان په خپل مکتوب کې لیکلي وو «که زموږ د حزب غړي زر تر زره موږ ته و نه سپارې، موږ به له زور نه کار واخلو او بیا به یې مسوولیت ستاسې پر غاړه وي.»

په هر صورت د حزب اسلامي هغو مجاهدینو ته چې ما هم پېژندل او اوږده لاره یې وهلې وه او ستومانه وو ملا سید جان بلنه ورکړه چې ویده شي، سهار به خبرې کوو، د حزب مجاهدینو وویل «نه! موږ ته امر شوی چې ځواب زر ور ورسوو» ملا سید جان وعده ورکړه چې «سړی مو سبا درته سپارم اوس ویده شئ».

بېرته څراغونه مړه شول او هر څوک په خپله بستره کې پرېوتل.

سهار د چایو پر وخت د «بیکسمند» په دره کې د جمعیت اسلامي قوماندان «ګلالی» چې زموږ له خپلوانو څخه ؤ په اس ځان را ورساوه. د جمعیت مجاهدینو ته یې وویل چې کوم څوک مو چې له موټره راکوز کړی او بندي کړی دی مجاهد دی او ډېر زحمتونه یې ګاللي. قوماندن ګلالي له ما نه وغوښتل چې له ده سره لاړ شم.

ملا سید جان واک ما ته وسپاره چې له هر چا سره درومې خپله خوښه دې.

ما له «قوماندان ګلالي» نه له مننې وروسته وویل چې غواړم عربانو درې ته خپلو حزبي همسنګرو ته لاړ شم. د جمعیت له قوماندان او د کور له خاوند نه مو رخصت واخیست او درې تنه د غرونو له لارې د عربانو درې په لور روان شوو، له ډېر مزله وروسته چې په لاره کې ځینې ځایونه واورې هم وې، په «بهادر خان» کلي کې د حاجي احمد جان د خسر کور ته ورسېدو. نور نو ټول له ما سره بلد وو او ډېر تود هرکلی یې را ته ووایه.

په هماغه ورځ د غرمې له ډوډۍ وروسته د خپلو ماما خېلو کلي «کوډۍ» ته وخوځېدو، هلته له رسېدو سره د کلي یو شمېر خلک او مجاهدین زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکلي ته راوتلي وو او زموږ په ليدو يې د خوښۍ ډزې وکړې، زه يې د کلي جومات ته چې هلته سپين ږيري پکې راټول شوي وو بدرګه کړم، «حاجي عبدالقيوم» چې د کلي له مشرانو څخه يو ؤ، په اوږدو خبرو کې زموږ د کورنۍ او زما د مبارزو او جهاد ستاينه وکړه او له نورو يې پوښتنه وکړه چې زه به چېرته اوسېږم؟

«انجنير مؤمن» چې زما د مور د کاکا لمسی ؤ او له پوليتخنيک انستيتيوت څخه تر فراغت وروسته د خپل پلار په هدايت کلي ته راغلی ؤ او دلته په بزګرۍ بوخت ؤ، هغه وويل چې تر څو چې زه په وردګو کې وم نو دی به زما مېلمه وي. زه تر يوه کال لږه موده هلته پاتې شوم، انجنير مؤمن، مېرمن او مور يې تر وروستي حده زما مېلمه پالنه وکړه، د انجنير مؤمن کور زما دوهم کور ؤ.

کومه ورځ به چې له حاجي صاحب او نورو مجاهدينو سره د «بوم تنګي» او يا کوم بل مرکز ته نه وم تللی، نو له انجنير مؤمن سره به يې باغونو او فصلونو ته تلم.

کوم وخت چې زه په وردګو کې اوسېدم هغه يو ځانګړی پړاو ؤ، له کابل سره اړيکې په وروستۍ کچه وې، وردګ بشپړ د مجاهدينو په لاس کې ؤ. پر ۱۳۵۹ لمريز د شوروي او افغان پوځونو يوې ګډې قوې پر وردګو يرغل ور وړی ؤ، د سيمې د خلکو په منځ کې هغه په «ستره قوه» يادېده، سترې قوې د وردګو په درې ولسواليو کې (چک، دايميرداد او سيدآباد) کې درانه ځاني او مالي زيانونه واړول. په دغه قوه کې شوروي پوځ په زيات شمېر له هر ډول وسلو څخه کار واخيست. مجاهدينو د پخوا په څېر خپل مورچلونه ساتل او مخامخ جګړې ته چمتو وو، خو روسانو له نوي تاکتيک نه کار واخيست چې کوم ځای ورسره مقاومت وشو دوی شا ته په هليکوپترو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوماندو ورته کوز کړل او مجاهدین به کلابند شول. په دې قوه کې په درېیو ولسوالیو کې ټولټال تر (۱۲۰۰) تنو پورې وسله‌وال مجاهدین او عام خلک د ښځو او ماشومانو په شمول شهیدان شول. د ۱۳۵۹ کال د زمري پر دوهمه د وردگو پر ولایت یرغل ښایي د افغان –شوروي د جگړې له سترو جگړو څخه یوه وي.

روسانو د نورو جنایاتو تر څنگ په دې جگړه کې د جوماتونو حرمت تر پښو لاندې کړ، څو ځایه یې په جوماتونو کې سپي وژلي وو.

په ستره قوه کې روسانو کورونه هم ویجاړ کړل او یو شمېر درمندونه یې هم وسوځول. د وردگو د سیدآباد په اونخي او تنگي درو کې او د چک ولسوالۍ تقریباً په ټولو جهادي مرکزونو کې سختې جگړې وشوې، روسانو ته هم درانه تلفات واوښتل او د مجاهدینو د څو قوماندانانو په شمول جهادي جبهې د لنډې مودې لپاره ړنگې شوې.

د همدې سترې قوې په سبب د وردگو ولایت په سلگونو کورنۍ هجرت ته اړې شوې، د کورمې په اړولې او د کوېټې به سرخاب او پشین کمپونو کې یې واړول.

ستره قوه له څو ورځو وژنو او ورانولو وروسته بېرته ورټوله او کابل ته ستنه شوه او مجاهدین بېرته خپلو سیمو ته را ستانه شول. په بله وینا د یو شمېر خلکو له وژلو او عامه شتمنۍ او کورونو ته له زیان اړولو پرته یې هېڅ لاسته راوړنه نه درلوده، یوازې د څو تنو کمونیستانو کورنۍ یې چې مجاهدینو کابل ته د تلو اجازه نه ورکوله دوی کابل ته بوتلې. له دې یرغل وروسته دولت منلې وه چې نشي کولای د چک ولسوالي اداره کړي، سره له دې چې د ولسوالۍ په نوم د پنه په نامه یوه کلي کې دوې وړوکې غونډۍ نیولې وې. خو سیمه بشپړه د مجاهدینو په لاس کې پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عربانو درې د مجاهدينو عمومي مرکز په «بوم تنگي» کې ؤ، د حزب اسلامي، حرکت انقلاب اسلامي او جمعيت اسلامي مجاهدينو دلته مرکزونه درلودل. بوم يو وړوکی کلی ؤ چې اصلي اوسېدونکي يې د شاهي او سردار داود خان په جمهوري دورو کې په کابل کې د لويو پوځي او ملکي چوکيو خاوندان وو، دغه کلی د دوو غرونو تر منځ پروت دی.

سمسور باغونه چې د دې غرونو په لمن کې د وړوکي سيند په رڼو اوبو غوړېدلي وو، له دې وړوکي سيند نه ځو لښتي هر لور ته بهېدل.

طبيعت د بوم تنگي ته د يوه ډېر کلک مورچل بڼه ورکړې وه. په همدې دليل کله چې جهاد پيل شو مجاهدينو دغه کلی د خپل مورچل په توگه غوره کړ، د بوم تنگي د عربانو درې او هغو نورو درو د دروازې حيثيت درلود چې تر عربانو پورته پرتې وې او تر هزاره جات پورې غځېدلې، د بوم کلی د روسانو له لوري څو ځلې بمباري شو. روسانو هلته لوی لوی بمونه وغورځول او ټولې کلاگانې يې ويجاړې کړې.

په بوم کې هېڅ کور روغ پاتې نه ؤ او هر لوري ته کنډوالې ښکارېدې، د بوم اصلي اوسېدونکي چې يو شمېر يې د جهاد پر مهال له مهمو کسانو څخه شمېرل کېدل د جنرال عبدالرحيم وردگ په څېر يا په پېښور او اسلام‌اباد کې اوسېدل او يا اروپا او امريکا ته مهاجر شوي وو.

هغه مهال چې زه په وردگو کې اوسېدم، د خلکو د ژوند طريقه د سل او دوه سوه کلونو پخوا ژوندانه ته ور گرځېدلې وه. له دې سببه چې له کابل سره اړيکې لږ او آن بشپړې شلېدلې وې، خلکو د خپلو نيکونو په څېر ژوند غوره کړی ؤ، هرې کورنۍ هڅه کوله چې له خپلې ځمکې، باغ او څارويو سره په ځان بسيا ژوند جوړ کړي، يوه نارنجي بس موټر به لږ شمېر د چک ولسوالۍ مسافرين دوې يا درې ورځې وروسته او يا د اړتيا پر وخت هره ورځ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس میدانه د چک ولسوالۍ تر بازاره پورې ورل راوړل، په دې موټر کې یې د غوړیو پیپونه، د وریجو بوجۍ، د ګوګړو قطي، د تېلخاک بوشکې، تار، ستنې، مالګه، بوره او نور شیان سیمې ته وړل، څو کورنیو به یو تن سپین ږیری کابل ته استولو چې د اړتیا وړ شیان ورته وپېري. پر دې سربېره په هر کلي کې یو یا دوه دوکانونه پرانیستل شوي وو. ځوانو دوکاندارانو هم خپل د اړتیا وړ شیان د سپین ږیرو په واسطه له کابل نه راوړل.

خلکو خپلې ټولې اړتیاوې د ځمکې له حاصل څخه پوره کولې، چا چې کافي ځمکه نه درلوده او یا به ځوانانو کوژده کوله او باید د ولور پیسې یې ګټلې وای د مزدورۍ لپاره به کوټې او یا ایران ته تلل، هغوی مجبور و چې ډېرې ورځې پلي مزلونه وکړي او ډېر ځله به په لارو کې د روسانو او یا دولتي ځواکونو پر کمین ور برابر شول او ژوند به یې له لاسه ورکاوه.

که څه هم د خلکو ژوند د سل دوه سوه کاله پخوا خلکو ژوند ته ورته ؤ، نور له ښار سره د اړیکو هېڅ څرک نه لګېده، خو پاکي او وطني صداقت، د جهاد جذبې او له وطن نه دفاع یو سپېڅلی او د دوستۍ له احساسه ډک چاپېریال جوړ کړی ؤ. د کلیو خلک بې وزله وو، د کرنې ځمکه یې لږه وه، خو کورونه یې پاک او کندوان یې ډک وو، ځکه ټولو له قناعت سره ژوند کاوه، غوښه په خاص خوراک کې شمېرل کېده، چې د ډېر ګران مېلمه قدر به یې په ښوروا او لاندي کاوه. رسم او رواج به کله کله فلمي بڼه خپله کړه، چې په هغو کې به یې ګواکې د څو زره کاله پخوا آریایانو ژوند ننداره ته وړاندې کاوه. د نجونو او هلکانو ترمنځ اړیکې ساده، معصومانه او له صمیمیته ډکې وې، د پاخه عمر ښځې تر کابل ډېرې له رعب او اتوریتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخمنې وې. په ځینو کلیو کې داسې ښځې وې چې نورو یې د خبرو او پرېکړو متابعت کاوه او عملاً د کلي مشرانې ګڼل کېدې.

د وردګو د کلیو سپېڅلی او سوچه طبیعت د ژمي د واورو ښکلې منظرې او د دوبي سمسورتیا او ښکلا انسان ته وجد او خوښي وربښله.

یوه ورځ د سهار له لمانځه وروسته له انجنیر مؤمن سره د «چارشنیې» غره ته روان شوم. مور د دې لپاره چې څارویو ته د ژمي خوراک «بېده» ټوله کړو غره ته لاړو. چې له کلي ووتو، نوې د لمر وړانګې، د ختیځو غرونو له څوکو د ونو او بوټو پر سرونو چې لا د پرخې رڼه غمي پرې ځلېدل ولګېدې. هوا دومره صافه او بې وزنه وه چې ساه مو په ګرانه اخیستله.

له حکومت سره جګړې او د اړیکو شلېدو د وردګو ولایت په شمول د ټول هېواد د زده کړو نظام ګډوډ کړی ؤ. له لېسو او ښوونځیو د خلقیانو او پرچمیانو لخوا د سیاسي او ایډیولوژیکو موخو لپاره ناوړه ګټه اخیستل د دې سبب شول چې په لومړیو کې عام خلک او مجاهدین ښوونځي د کمونیستانو د روزنې مرکزونه او د حاکم ګوند سازماني دفترونه وګڼي، همدغه سبب و چې په ځینو ځایونو کې پر ښوونځیو بریدونه وشول او ځینې ښوونځي وسوځول شول. خو ډېر زر مجاهدینو تر خپل واک لاندې سیمو کې بېرته ښوونځي پرانیستل او خلکو خپل ماشومان ور واستول.

د عربانو په دره کې لومړنی ښوونځی بیا فعال شو، د لېسې زده کوونکي چې د جګړو په سبب یې په درسونو کې ځنډ راغلی ؤ او د ښوونځي ودانۍ یې ورانه شوې وه، د ښوونکیو، ځای او درسي موادو د کمبود په سبب و نه توانېدل چې زر تر زره یې بیا درسونه پیل شي. زده کوونکیو، د بمبارۍ له وېرې په یوه ثابت ځای کې درس نه وایه، دوی کله چېرته د ونو تر سیورې لاندې او کله د غره په لمن کې پر ځمکه کېناستل او درسونه یې زده کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونکي به د ژمي په موسم کې معمولاً پېښور ته تلل چې له یوه پلوه خپل یو کلنی معاش له خپلو اړوندو ګوندونو او یا له بهرنیو مؤسسو لکه سویډن کمېټه لاسته راوړي او بل لوري ته د راتلونکي کال لپاره کتابونه او درسي مواد ور سره راوړي.

په هغه کال د ژمي له تېرېدو او د نوي تعلیمي کال له پیل سره د امنیتي ستونزو او د روسي او افغان ځواکونو د پرلپسې هوایي بمباریو په سبب د مجاهدینو او ښوونکیو کاروانونه پر خپل وخت زیاترو ولایاتو ته و نه رسېدای شول.

د سیمې مشرانو او د ښوونځي مسوولینو له ما نه وغوښتل چې د ښوونکیو تر را رسېدو زده کوونکیو ته درس ووایم. ما په خوښۍ دا ومنله، زما شاګردان له لومړي تر پینځم ټولګي زده کوونکي پورې وو. هغوی له لرې او نږدې کلیو راتلل، ډېر د استعداد او ښه ذکاوت خاوندان زده کوونکي وو او له درسونو سره یې ښه مینه درلوده، ما به په ترتیب سره کله یوه او کله بل ټولګي ته درس ورکاوه، د تورې تختې، قلمونو، کتابچو او کتاب کمبود زموږ لویه ستونزه وه.

کله چې څو کاله وروسته د عربانو درې ته لاړم او خبر شوم چې ځینو زده کوونکیو مې درسونه پرېښي او ایران او پاکستان ته د مزدورۍ لپاره تللي دي ډېر خپه شوم. په ځانګړې توګه چې یو شمېر یې ډېر د لوړ استعداد خاوندان وو او د خپلو ټولګیو اول او دوهم نومره ګان وو.

د چک د برېښنا بند ته له نږدې څو کلیو پرته د ولایت نورې برخې د پخوا په څېر له برېښنا څخه محرومې وې، که څه هم دا نوې خبره نه وه، له شوروي پوځونو سره د جګړې په کلونو کې د تېلو د کمبود او د بمباریو له وېرې له اریکین او د تېلو له څراغونو ګټه اخیستل هم ډېر کم شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو د تېلو او لاسي څراغونو په کارولو کې ډېر پام کاوه، چې دې کار د وردګو شپې ډېرې تیاره او له ستوریو ډکې کړې وې.

## د پېښور په لور خوځېدل

په وردګو کې زما د هستوګنې شپې ورځې زما د ژوند يوه خوږه دوره وه. زه د خلکو له بې کچې مينې برخمن وم، چې چا به په کور کې ښه خواړه پخ کړي وو خامخا يې د شپې ډوډۍ ته مېلمه کولم. مجاهدين به د روسي او دولتي الوتکو د بمباريو پر مهال زما په غم کې وو، په ياد مې دي يو ځل يوه اونۍ شپه او ورځ بمباريو دوام درلود. په «خواجه انګور» کلي کې د هستوګنې کورونه هم بمباري شول. له نېکه مرغه د دغه بمباريو او توغنديو مرګ ژوبله ډېره لږه وه. زه د دې عملياتو په سبب نه پوهېدم خو مجاهدين په دې نظر وو چې د کابل-کندهار سرک په ځينو ځايونو کې نظامي پوستې جوړېږي او دغه بمبارۍ د مجاهدينو د بوخت ساتلو لپاره دوام لري چې و نه کولای شي د دولت د دې کار مخه ونيسي.
د ۱۹۸۵ کال د مني په يوه شپه د سهار له لمانځه نه مخکې زه له حاجي صاحب احمد جان او د هغه له دوو وړو ماشومانو سره، له دوو کرايه وړونکيو سره چې اسونه ور سره وو د کوډۍ له کلي د جغتو ولسوالۍ په لور روان شوو، لومړۍ شپه مو د «مورو» کلي ته يوه جومات ته ورسوله چې د کابل – کندهار له عمومي سرک نه ډېر واټن نه لري. د «ګوربت» له مشهور غره نه چې راښکته شوو مازديګر مهال دې کلي ته را ورسېدو. مجبور وو چې سبا ورځ هم دلته ايسار شو او بيا په شپه کې له سرکه تېر شو ځکه د ورځې په رڼا کې له عمومي سرک نه تېرېدل خطرناک وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې مازدیگر د ټانکونو او پوځي موټرونو یو کاروان د غزني په لور تېر شو. د سیمې خلکو ویل چې کله کله د کاروان له تېرېدو وروسته سرک ته نږدې دولتي قواوې په شېلو او کندو کې کمین نیسي. په همدې سبب کله چې د شپې له را رسېدو سره د سرک پر لور وخوځېدو سرک ته تر رسېدو مخکې مو د یوه کور دروازه وټکوله اود کورونو له خاوندانو مو پوښتنه وکړه چې دلته به شاو خوا چېرته عسکرو کمین نه وي نیولی؟ هغوی موږ ته ډاډ راکړ چې کتار غزني ته تېر شو او هېڅ خطر نشته، موږ هم ډاډه پر سرک واوښتو.

د سپوږمۍ په رڼا کې په شپه کې چې زموږ د اسونو د پښو غږ پاخه سرک ته له ور ختو سره اوچت شو سړي به د خطر احساس کاوه. له سرک نه چې واوښتو جټکه مې وخوړه، ناڅاپه مې سپوږمۍ د یوه زرهپوښ په هېنداره کې ولیده، فکر مې کاوه چې په کمین کې ولوېدو، له ځانه سره مې ویل چې دا ځل به له زندانه را خوشی نه شم. دوهم او درېیم زرهپوښ مې ولیدل. خو سمدستي مې پام شو چې د زرهپوښ دوهمه هېنداره نشته، لږ ځیر شوم درې واړه زرهپوښونه ویجاړ او نیم سوځېدلي وو. دغه زرهپوښونه پخپله د مجاهدینو د کمین قرباني شوي وو، آرامه ساه مې واخیستله او د خدای شکر مې ادا کړ.

د «جنجای» کلی چې د سیدآباد ولسوالۍ اړوند دی نږدې ۇ دلته د دوو قوماندانانو سره په جنجال کیوزو.

کله چې وپوهېدل چې له چک ولسوالۍ نه راغلي یو د سفر اجازه یې راکړه، موږ په دې تنگو درو کې، د لښتیو په غاړه چې شاوخوا ته یې چمنونه را شنه وو د پرښو په منځ کې کاږه واږه ښکته لوېدل. پورته د غره په لور روان وو. د اوبو شرهار د شپې سکوت ماتاوه، له ځانه سره مې ویل چې که سوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرامي وي او سړی د ورځې په لمرینه رڼا کې دلته راشي څومره خوند به واخلي. په داسې حال کې چې په هغه شپه د بمبارۍ او کمین له وېرې هغه ښکلې منظره په یوه وېروونکي انځور بدله شوې وه.

د غره څوکې ته له رسېدو وروسته د لوګر د خروار ولسوالۍ «قلعهٔ سبزي» کلي ته ور ښکته شوو. د شپې په وروستیو کې یوه جومات ته چې یو سماوار يې هم تر څنګ و ورسېدو، تر اوسه لا هوا تیاره وه.

چې کوټې ته ور ننوتلو په زحمت مو ځانونه ځای کړل، د مجاهدینو یو کاروان چې له وسلو سره له پېښوره راغلي وو په کوټه کې ویده وو. موږ څو شېبې آرام وکړ، ښايي تر یوه ساعت به لږ موده ویده وو، ورځ مو په خروار کې تېره کړه او مازدیګر مهال مو مزله ته دوام ورکړ، ځکه چې له خطرناکو سیمو او هغو ځایونو چې دولت لاسرسی ور ته درلود باید په تیاره کې تېر شوي وای. له هغو کاروانو څخه چې له پېښوره راتلل او په لاره کې ورسره مخامخ کېدو موږ د لارې د وضعیت په اړه پوښتنه کوله، د هغوی د معلوماتو په رڼا کې مو خپل لوری او لاره غوره کول.

«زرمت» ولسوالۍ ته باید له «یکپایه کوتل» نه تېر شوي وای، دغه کوتل ډېر خطرناک ځای و، ویل کېدل چې کله کله روسي پوځیان دلته خطرناک کمینونه نیسي. کله چې د کوتل سر ته ورسېدو، شپه نیمايي اوښتې وه. ناڅاپي د مړو اوښانو له پاتې شونو سره مخ شوو، شمېر يې ډېر و، له هر یوه سره په څنګ کې د مرمیو اوسپنیز او د لرګي صندوقونه ګډوډ پراته وو. د ښځو او نارینه ؤ جامې هر لوري ته تیت پرتې وې، خو د کوم انسان په مړي مو سترګې و نه لګېدې، زموږ ملګریو ویل چې دغه کاروان خامخا له ګردیز نه د توپونو تر ډزو لاندې راغلی دی، له جامو او پر ځای پاتې سامان څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېدله چې دا د همغو کورنیو کاروان دی چې د شمال له کوم ولایت نه راغلی او هیله یې وه چې پېښور ته لاړ شي.

وېرووونکې نندارہ وه، د سپوږمۍ رڼایي هیبت نور هم زیات کړی ؤ، هڅه مو وکړه چې زر تر زره له دې ځایه تېر شو. دغه پېښه به یوه یا دوې شپې مخکې تېره شوې وه، د کمین له وېرې چې دلته چېرته نیول شوی نه وي، نور هم ګړندي شوو.

یکپایه کوتل د زرمت لور ته تونده شېوه لاره لري. له کوتل نه تر راکوزېدو وروسته د زرمت هوارې او پراخې سیمې ته ننوتلو، چوپتیا پر هر لوري حاکمه وه، یوازې د سپیو غپا اورېدل کېدله، پاتې شپه مو د یوې کلا په جومات کې شوه چې غولی یې په وچو وښو پوښل شوی ؤ.

ورځ مو په زرمت کې تېره شوه، زرمت د ځلور لارې حیثیت درلود. د مجاهدینو ځینې ګروپونه له پاسه ښکته، یانې پېښور ته تلل او له زرمت نه تېرېدل او ځینې نور به له ښکته راغلي وو او له زرمت نه د مرکزي یا شمالي ولایاتو په لور روان وو.

د زرمت زیاتره کلي او کورونه له اوسېدونکیو تش وو، اوسېدونکي یې د ډېرو جګړو له شره پېښور ته په هجرت مجبور شوي وو.

تش کورونه او باغونه د شیشکو کورونه ښکارېدل، د مجاهدینو په منځ کې دغه خبره ډېره مشهوره شوې وه چې هغه زرمتیان چې تر اوسه یې هجرت نه دی کړی له دولت سره یې همکاري درلوده، ځکه خو هغو ته د شک په سترګه کتل کېدل. موږ مازیګر مهال وخوځېدو چې خپل سفر ته دوام ورکړو، د مجاهدینو نور ګروپونه هم ځوک پلي ځوك زموږ په څېر له اسونو سره روان شول، له پینځه سوه متره مزله وروسته ناڅاپه د ټوپکو ډزې وشوې، زموږ نه مخکې د مجاهدینو ګروپ شا ته منډې پیل کړې وې ویل «قوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله» موږ هم منډه واخیسته، څو دقیقې چې تېرې شوې څو تنه په کلاشینکوفونو وسله‌وال راغلل وې ویل «هېڅ خبره نشته، موږ خپل مدعي وواژه، تاسو مو خپله لاره وهئ». لږ وړاندې د یوه تن مړی د لارې تر څنګ په یوه ژوره کې پروت ؤ، نوموړی پر یوه ژېړ اس سپور څو دقیقې مخکې تر موږ مخکې شو، کلاشینکوف هم ورسره ؤ، کلاشینکوف یې قاتلانو وړی ؤ او اس یې هم تر څنګ ورسره مړ پروت ؤ. د شپې چې «ځدراڼو» سیمې ته ورسېدو آرامه ساه مو واخیسته، د ځدراڼو په سیمه کې د حکومت او روسانو د کمین او جاسوسانو درک نه ؤ، په ډاډه زړه مو خپل مزله ته دوام ورکړ.

د «فخریو» کوتل پر سر مو پر خاورینه لاره په نیمه شپه کې مزل کاوه ځکه دغه ځنګلي سیمه یوه ورځ وړاندې روسي الوتکو بمباري کړې وه، ټول ځایونه یې سوځېدلي وو او پر ځینو ونو لا تر اوسه اورونه بل وو، د سیمې خلک او مجاهدین د تیت او پرك سامانونو او هغه لرګیو په را ټولولو بوخت وو چې له بمبارۍ روغ پاتې وو له دې سره یې «غرنۍ» غمګینې سندرې زمزمه کولې.

په هغه سیمه کې چې د «بېلرونو دوکانونه» په نوم یادېده یو وړوکی بازار ؤ، چې دلته را ورسېدو ناڅاپه جېټ الوتکې راغلې او ډېرې ټیټې په یو کړس زموږ پر سر تېرې شوې، هر څوک پر یوه لور وتښتېدل چې ځان په ډبرو کې پناه کړي، د جېټ الوتکو له دې دورې وروسته چې کله ټول ډاډه شول چې خطر نشته په لسګونو نا آشنا کسانو په خپلو ملګریو پسې چیغې وهلې، ټولو هڅه کوله چې خپل ملګري را پیدا کړي او خپل سفر ته دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپې تیاره، د الوتکو وحشت او ژړا او ساندو ته ورته غږونو مې په ذهن کې د محشر ورځ انځوروله. ما هم خپلو د سفر انډیوالانو ته چیغې وهلې تر دې چې را پیدا مې کړل.

د سفر په بهیر کې چې نږدې ټول د شپې په تیارو کې ؤ، د «تڼیو» په سیمه کې چې د خوست ولایت اړونده ده له غلو سره مخامخ شوو چې په کمین کې را ته ناست وو. دا چې موږ یوازې یو کلاشینکوف درلود، دا ناشونې وه چې مقابله ورسره وکړو، زموږ بخت وینښ ؤ چې کومه شېبه هغوی غوښتل له خپلو مورچلو را ووځي له ښکته لوري د مجاهدینو د کاروان د اوښانو او اسونو د پښو ترپهار او شور اوچت شو چې وسلې پرې بار وې. د کاروان له را نږدې کېدو سره غله وتښتېدل او موږ یې له شره بې غمه شوو. د وردګو او لوګر له سرحده تر خوسته په دښتو او شېلو کې، د کوتلونو پر سرونو ځای ځای ډبرې انبار وې چې ځینې ځایونه یو وړوکی بیرغ هم پرې رپېدو، زموږ لار بلدو چې پر لارو باندې ډېر ځله تللي او راغلي او له هرې ګوښې سره یې آشنا وو، کیسې به یې کولې چې دلته فلانی شهید په کمین کې راګیر او شهید شو او دلته فلانی چې د مزدورۍ لپاره ایران او پاکستان ته تلو د روسانو په کمین کې ووژل شو.

دغه قبرونه د هغو کسانو وو چې زیاتره یې د روسانو په کمین کې شهیدان شوي وو، ملګرو یې دا فرصت نه ؤ موندلی چې جنازې یې ولېږدوي یا به داسې کسان وو چې هېڅوک به یې نه درلودل او یا به یې څوک ژوندي پاتې نه وو، چې په راتلونکیو ورځو کې د نورو مجاهدینو ګروپونه راغلي او پر هغوی یې ډبرې راټولې کړې او یو دسمال یې پرې راځړولی دی، تر څو ټول وپوهېږي چې دلته تر دې ډبرو او خاورو لاندې یو شهید ښخ دی. دغه د ډبرو انبارونه چې تر هر یو لاندې یو ځوان پروت ؤ د مظلومیت او وحشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هممهاله یو انځور یې وړاندې کاوه او هر لیدونکي ته یې دا احساس ورکاوه چې کېدای شي همدغه برخلیک ورته په انتظار وي.

ښایي له نیمې شپې وروسته به دوې یا درې بجې وې چې د شمالي وزیرستان سرحد ته ورسېدو، نور مو د اتو شپو ورځو بېخوبي او ستوماني پای ته رسېدلې وه، همدغسې وړاندې روان وو چې د پیک اپ موټرو اډې ته ورسېدو. دغه پیکپونو ستومان مسافر د میرانشاه ښار ته رسول، یوه موټر هم د روسي او افغان هوایي ځواکونو د بمباریو له وېرې څراغونه نه روښانه کول، زموږ دوه د لارې ملګري پر خپلو اسونو میرانشاه ته روان شول، زه او حاجي صاحب له دوو زامنو سره یې په موټر کې سپاره شوو او په مړو څراغونو د میرانشاه په لور وخوځېدو. موټر چې میرانشاه ته ورسېدل څراغونه یې روښانه کړل. موږ د یوه هوټل مخې ته ښکته شوو، په هغه شپه چې ما د موټر له سپرلۍ کوم خوند واخیست بیا مې په ژوند کې و نه لید.

سهار د پېښور د موټرو اډې ته لاړو، مازدیګر نژدې و چې پېښور ته ورسېدو، موږ ته یې وویل چې اوس د حزب اسلامي مرکز نصرت مېنې ته چې په «شمشتو» کې دی لېږدېدلی دی. ماښام شمشتو ته ورسېدو او د حاجي صیب احمد جان د یوه آشنا د کور پوښتنه مو وکړه. شپه مو له «ډاکتر محمد خان» سره چې د حزب اسلامي له پخوانیو ارکانو څخه دی، وکړه. هغوی موږ ته تود هرکلی ووایه او زموږ د اته ورځني سفر جامې یې را ته ومینځلې. هغه مهال د شمشتو د نصرت مېنې زیاتو اوسېدونکیو د خپلو ولایتونو له مجاهدینو څخه تود هرکلی کاوه او په ورین تندي یې چې هر څه درلودل هغوی ته یې پر دسترخوان اېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پېښور ژوند

کله مې چې لومړی ځل د «نصرت مېنې» نوم واورېد لا په وردگو کې وم، په ذهن کې مې دا د مدینهٔ فاضله هغه رښتینې کوچنۍ بېلگه وه چې موږ باید جوړه کړې وای. خو کله چې دلته راغلم او و مې لیده نهیلی شوم. د حزب د دفترونو وضعه دولتي غوندې وه، یوازې په ظواهرو کې یې مذهبي عصبیت ور زیات کړی ؤ. بې مسوولیتي تر دې بریده وه چې ما غوندې یو چا چې په کابل کې یې د «K.G.B» تر تېغ لاندې مبارزه کړې وه او څو کاله بندي شوی وم د دفتر او سوابقو د نشتوالي په سبب مې باید له حزب سره د نوي ملگري شوي کس په څېر ثبت‌نام کړی وای، خو که مې واسطه درلودای کولای مې شوای چې په مهمو مقامونو وگومارل شم.

سبا ته موږ د حزب اسلامي دفتر ته لاړو چې په یوه پراخه ساحه کې په یو پوړېزه ودانۍ کې ؤ، دفتر رنگ شوی نه ؤ خو منظم ؤ. د مرکزي دفتر او د ډاکټر محمد خان د کور تر منځ یوازې یو سرک تېر ؤ.

زه تر ټولو مخکې د «ارشاد او فرهنگ ریاست» په لټه کې شوم تر څو خپل د زندان د وخت دوست چې زه یې له اخلاصمندانو څخه وم پیدا کړم. ما ته ویل شوي وو چې «حاجي امین فروتن» همدلته په کار بوخت دی.

هلته خبر شوم چې نوموړی د حزب اسلامي خپرنیز ارگان «شهادت جریدې» د مرستیال په توگه دنده تر سره کوي. په دې ورځو کې د حزب د خپرنیز ارگان له نورو مسوولینو سره په لاهور کې و چې مجلې او نورې خپرونې چاپ کړي. موږ دغه مهال معمولاً د «ورسک» په غونډ کې چې د پېښور له ښاره د باندې ؤ او د حزب اسلامي د مجاهدینو لپاره ځانگړی شوی ؤ ژوند کاوه، دغه کمپ د یوه غره په لمنه کې پروت ؤ- کله به چې په ورسک کې وم، داسې مې گڼله چې د افغانستان په هوا کې ساه اخلم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتاسر هېواد مجاهدينو هلته د لنډې مودې لپاره ژوند کاوه، دې ته يې دوهم نمبر غونډ وايه، په غونډ کې د هر ولايت د مجاهدينو ځای ټاکل شوی ؤ، زياتره مجاهدينو په خېمو کې ژوند کاوه، خو د بېلا بېلو ولايتونو لپاره د ځانګړيو اطاقونو د جوړولو کار پيل شوی ؤ، موږ په هغو اطاقونو کې ژوند کاوه چې نوي جوړ شوي وو او د ميدان وردګو ولايت اړوند وو. د ورسك په لومړي لمبر غونډ کې هغه مهاجرين اوسېدل چې کلونه پخوا مهاجر شوي وو او هلته يې خټينې جونګړې جوړې کړې وې، کله کله به مې په شمشتو کې د حزب اسلامي د قضايي کمېټې د رييس «څارنوال نقيب الله» په کور کې شپې کولې، نوموړی زموږ له خپلوانو څخه ؤ.
مرکزي دفتر ته له دوو اونيو پرلپسې ورتلو مې بالاخره ښاغلی فروتن پيدا کړ. هغه نوی له لاهور نه راستون شوی ؤ. زما په ليدو خوښ شو او بې له ځنډه يې زه خپل کور ته ورسره بوتلم.
د نوموړي کور دوې خونې، يو پخلنځی او يو تشناب درلودل چې د «نعمت محل» په نامه پېښور پوهنتون يا په اصطلاح «اسلاميه کالج» ته نږدې محله کې ؤ.
دغه اطاقونه په دوهم پوړ کې وو، د کثافاتو د ډېران تر څنګ يوه لرګينه زينه ور ختلې وه چې پر هغو بايد کور ته ورختلي وای. د خپل انډيوال د ډېر ټينګار په سبب مې له حاجي احمد جان نه په نعمت محل کې د اوسېدو اجازه واخيستله او خپلې جامې مې چې په يوه وړوکي بکس کې ځای پر ځای وې هلته راوړې.
په نعمت محل کې له ځای پر ځای کېدو مخکې مې لويه ستونزه د جامو مينځل او حمام ؤ. زه په ورسك کې وم يوه شپه مې د ماسخوتن له لمانځه وروسته ځان خوب ته چمتو کاوه چې د وردګو نويو راغليو مجاهدينو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوره لیك راته راوړ. په لیك کې مې د ورور د کوژدې او واده مراسمو یادونه شوې وه چې ډېر پرې خوښ شوم، ځکه چې ورور مې ویلي وو تر څو زه له زندانه خوشې نشم واده به نه کوي.
ما او حاجي امین فروتن اوږده بنداړونه وکړل، د زندان خاطرې مو بیا را تازه کړې او د حزب له وضعې مو ګیلې او شکایتونه وکړل. نوموړي ما ته مشوره راکړه چې د حزب په دفترونو کې د دندې پر ځای پر یوه پراخ فرهنګي کار په ګډه لاس پورې کړو، چې خپلو انقلابي ارمانونو ته د رسېدو لپاره اغېزناك کار وکړای شو. ما یې دغه سلا ومنله. هماغه ؤ چې په لومړي ګام کې مو په «شاهین ټاون» کې په هغه محله کې چې د حضرت صاحب په کوڅه مشهوره وه یو کتابپلورنځی پرانیست، اراده مو دا وه چې په دوهم ګام کې یوه فکري – سیاسي خپلواکه جریده خپره کړو.
کتابونه مو ټول د ایران له فرهنګي مرکز نه راوړل، ځکه چې ښاغلي فروتن له هغه هېواد سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې. د کتابپلورنځي نوم مو «ابوذر غفاري» کېښود. ما دغه کتابپلورنځی د آزادو او ګوندي خپرونو د پلور په مرکز بدل کړ، د بېلا بېلو نظریاتو لرونکیو افغانانو خپلې خپرونې د پلورلو لپاره موږ ته راوړې او زیاتو لیکوالانو خپل چاپ شوي کتابونه د پلورلو لپاره زموږ کتابپلورنځي ته راوړل.
تر یوه کال زیاتې مودې له تېرېدو وروسته په بېلابېلو عواملو زما او زموږ د زندان د وخت د یو شمېر نورو دوستانو او ښاغلي فروتن ترمنځ اختلافونه راغلل، کتابپلورنځی وتړل شو او د خپرونې د چاپ فرصت مو و نه موند.
د حضرت مجددي کورنۍ او امنیتي کسانو یې فکر کاوه چې دغه کتابپلورنځی د دوی د کورنۍ او فعالیتونو د څارنې لپاره د حزب اسلامي د اطلاعاتو لخوا یو پوښ دی، په داسې حال کې چې اصلاً د دغه مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول د حزب د حاکم وضعیت پر خلاف یو اعتراضي حرکت ؤ او د حزب له هیڅ دفتر سره یې هم اړیکه نه وه.
زه چې په دې بهیر کې د حزب اسلامي له فرهنګي څېرو لکه محمد نذیر بشارت د شهادت ورځپاڼې مسوول مدیر چې هغه مهال اونیزه وه، د هغه همکار محمد زبیر شفیقي، د شفق مجلې له مسوول مدیر محمد معروف فروغګر، زمرك عابد او نورو سره آشنا او انډیوال شوی وم. د دوی لخوا وهڅول شوم چې د حزب په فرهنګي څانګه کې کار پیل کړم. دا هغه مهال و چې ښاغلی فروتن له حزبه ګوښه شوی ؤ او د پلچرخي د زندان د یو شمېر دوستانو په ملتیا یې چې د فکر او نظر خاوندان ځوانان وو د «قسط مجلې» او وروسته د «کوثر» جریدې په خپرولو پیل وکړ.
ښاغلی فروتن همدغه مهال له «مولوي نصرالله منصور» سره ملګری شو او د هغه د ګوند د مرستیال په توګه یې کار ورسره پیل کړ، نصرالله منصور چې د هېواد د اسلامي مبارزې له مخکښانو څخه ؤ مخکې د «مولوي محمد نبي محمدي» څخه بېل شوی او د خپل ګوند بنسټ یې کېښود. څرنګه چې د پاکستان حکومت له دغه نوي ګوند سره له مرستې ډډه وکړه مولوي منصور اړ شو چې د ایران له اسلامي جمهوریت څخه مرسته ترلاسه کړي او ښاغلي فروتن چې له هغه هېواد سره نږدې اړیکې درلودې کولای یې شول چې په دې برخه کې مرسته ورسره وکړي.

## د حزب په فرهنګي دفتر کې د کار پیل

سره له دې چې له زندان څخه تر راوتلو وروسته مې چې د حزب د واقعیتونو او خپلو خیالونو او ایډیالونو تر منځ توپیرونه ولیدل زړه مې ډېر سوړ شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له ښاغلي فروتن سره په اصطلاح د انقلابي کار ناکامې تجربې زه دې ته اړ کړم چې د حزب په دفترونو کې رسماً کار پیل کړم .
لومړنۍ دنده مې په ارشاد او فرهنګ ریاست کې د مطبعې مدیریت ؤ. له همایون جریر سره مې چې اړیکې زیاتې شوې و مې کولای شوای چې پرمختګونه وکړم .
همایون جریر چې وروسته د حزب د امیر زوم شو نوښتګر او هڅاند سړی ؤ، د خپل رییس پر خلاف نوموړی په وړوکیو مادي امتیازاتو قانع نه ؤ، یوه ورځ یې ما ته وویل: « راځه چې په ګډه د حسینیه ارشاد په څېر یو شی جوړ کړو.» زه په همدې ریاست کې د هنر او فرهنګ د نوې جوړې شوې څانګې آمر شوم .
د دغه دندې پر مهال مې هڅه وکړه چې د حزب اسلامي د (سید جمال الدین افغان لیسې) د زده کوونکیو په ملتیا د ځوانانو تیاتر جوړ کړم، په دې کار کې د حزب د نورو ادارو د ناغېړۍ په سبب بریالی نه شوم، خو وتوانېدم چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د جهاد هنري فلم جوړ کړم چې «اولین پیروزي» نوم مو پرې کېښود. د دې فلم هدایات د یوه ځوان «زبیر فرغند» په اوږو وو، د هنري فلم جوړول هغه مهال ستر نوښت ؤ. تر هغو مخکې یوازې د مجاهدینو د جګړې له ډګر څخه فلمونه اخیستل کېدل چې هېڅ پیغام به یې نه درلود، زموږ له فلم وروسته دغه لړۍ پیل شوه او نور فلمونه هم جوړ شول. «اولین پیروزی» فلم له ډېر تاوده هرکلي سره مخ شو. وروسته بیا زه د شفق مجلې مرستیال وټاکل شوم .
په ارشاد او فرهنګ ریاست کې دوه نظره وو، د یوې یې همایون جریر مشري کوله او دوهمه یې هغه کسان وو چې د شهادت ورځپاڼې مسوول مدیر محمد نذیر بشارت ته نږدې وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې محمد معروف فروغګر له مجلې څخه استعفا وکړه، زه ښاغلي بشارت ته د نږدې توب له امله ونه توانېدم چې د فروغګر ځايناستی شم. سره له دې چې د مجلې د مرستيال په توګه مې د مجلې چارې پرمخ بېولې. د دغو دوو لوريو تر منځ اختلاف د هرې ورځې له تېرېدو سره زياتېدو، د دې اختلاف د له منځه وړو په موخه مونږ څو تنه د ځاځيو په سپينه شګه کې پوځي غونډ ته د حکمتيار ليدو ته ورغلو، خو دې هڅې مو ګټه ونه کړه او د ښاغلي جرير فشارونه پر مونږ کم نه شول، تر دې چې پرېکړه مو وکړه چې په ارشاد او فرهنګ کې له خپلو دندو استعفا وکړو. زمونږ اتو تنو د استعفا خبر د جمعيت اسلامي خپرنيز ارګان «مجاهد جريدې» ډېر تود خپور کړ.

څه موده وروسته مې مور او پلار په هغه بس موټر کې چې د کابل – پېښور تر منځ يې تګ راتګ کاوه زما ليدو ته راغلل. په پام کې وه چې مونږ کراچۍ ته لاړ شو. پير سيد احمد ګيلاني چې زما د پلار د ماشومتوب له ملګرو څخه ؤ او زمونږ د کورنيو تر منځ ډېرې دوستانه اړيکې وې، زما له پلار څخه يې وغوښتل چې اسلام‌اباد ته د هغه ليدو ته ورشي. په اسلام‌اباد کې د شپې له تېرولو وروسته سهار د پير صاحب ليدو ته د هغه کور ته ورغلو، دا لومړی ځل ؤ چې د جهاد له پيل وروسته مې ورسره ليدل، په خوښۍ يې زمونږ هرکلی وکړ او له ما سره يې په مينه چلن کاوه. په ګيله منه لهجه يې را ته وويل چې ولې يې تر ننه ليدو ته نه وم ورغلی، هغه وويل چې خبر وم چې په پېښور کې يې، خو نه پوهېدم چې څنګه دې پيدا کړم. په همدې سفر کې مې مور او پلار ډېر ټينګار را باندې وکړ چې بايد خپلې لوړې زده کړې سر ته ورسوم، څومره مې چې توان و د دوی د دې غوښتنې په مخکې ودرېدم ځکه چې ما ته د جهاد او هجرت له چاپېريال څخه ځان اېستل ګناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارېده، پلار مې وویل چې د لوړو زده کړو په باب دې پیر صاحب ته خبره کوم چې په فرانسه کې درته زمینه برابره کړي.

وروسته چې دوی سره ولیدل له نوموړي نه یې همدغه غوښتنه وکړه او پیر صاحب هم منلې وه، د پیر صاحب وړاندیز هم دا ؤ چې ما په استقلال لیسه کې په فرانسوي ژبه درس لوستی ښه به دا وي چې فرانسې ته لاړ شم او خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړم.

موږ اتو تنو چې له ارشاد او فرهنګ نه استعفاوې ورکړې وې، خپله ملګرتیا مو وساتله خو د وخت د شرایطو له مخې د مجاهدینو په بېلابېلو ادارو کې بوخت شوو. ما او محمد نذیر بشارت بېرته د حزب په سیاسي ریاست کې کار پیل کړ. زه وروسته په افغان خبري اژانس کې چې د حزب اسلامي اړوند ؤ او مسوولیت یې د استاد قریب الرحمان سعید پر اوږو ؤ بوخت شوم. له یو نیم کال وروسته مې د ارواښاد صدیق سلجوقي په لاس د زده کړو د بورس په اړه د فرانسې له بهرنیو چارو وزارت څخه مثبت ځواب ترلاسه کړ.

پر ۱۹۹۰ کال له هجرت وروسته دوهم ځلي وردګو ولایت ته لاړم او هلته مې د حاجي احمد جان له لور سره واده وکړ. دغه مهال مې کورنۍ په پېښور کې اوسېدله او کور او اور یې په کابل کې پرېښي وو. سره له دې چې زما له مشرې خور او د هغې له دریو کوچنیو زامنو پرته د کورنۍ له غړیو څخه نور څوك را سره نه وو، د کوډۍ اوسېدونکیو چې واده مې هلته کړی ؤ په هېوادنۍ مینه په ټولو چارو کې راسره مرسته وکړه، دا ځل په دوو شپو ورځو کې له وردګو نه د ډېورنډ کرښې بل لوري پېښور ته ورسېدو. مجاهدینو نور د ډېورنډ له پورې غاړې په موټرو کې مزلونه کول او د کمونیستي حکومت او د دوی د بهرنیو ملاتړو طلسم د ماتېدو په حال کې ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پېښور او یا د هغه مهال په دودیزې اصطلاح د هجرت پر چاپېریال واکمن وضعیت داسې ؤ چې زه یې سوکه سوکه د لوړو زده کړو لپاره بهر تلو ته چمتو کولم. محمد امین فروتن به کله کله په ټوکو ویل چې زندان د یخچال په څېر دی، انسان چې زندان ته ولوېد تر خلاصون وروسته هماغه ډول وي چې زندان ته د ننوتلو پر مهال وي. دغه خبره بلکل رښتیا وه، کله چې زه بندي کېدم مجاهدین په کلك ایمان او پیاوړې اراده د ډېرو ستونزو په زغملو له یوه نړیوال پوځي ځواك سره په ډغرو او مقابله بوخت وو، هغوی ډېر مظلومانه او فقیرانه ژوند درلود او قوماندانې له ډېر خطر سره د ټکر او قربانۍ ته د وړاندې کېدو په مانا وه، کله چې له زندان څخه راووتم د «وسله پلورلو» له اصطلاح سره آشنا شوم. په پېښور کې مې لوی موټر پلورنځي ولیدل چې د جهاد د قوماندانانو وو، رهبران او قوماندانان مې ولیدل چې په گرانبیه موټرو کې گرځېدل او په ښکلیو ماڼیو کې یې ژوند کاوه، هغوی د شتمنیو خاوندان شوي وو او په خلیجي او لوېدیزو هېوادونو کې یې پانگونې او کاروبارونه پیل کړي وو. هغوی خپل زامن او کله کله خپلې لوڼانې بهر ته استولې البته کله کله د زده کړو لپاره. د چارو واگې د رهبرانو کورنیو ته د لېږد په حال کې وې. د مجاهدینو لوېدیزو ملاتړو او پاکستاني منصبدارانو د پیسو او وسلو د مرستو په بدل کې له جهادي مشرانو نه رشوتونه ترلاسه کول، ورو ورو عادي مجاهدین د ځایي قوماندان او یا (نوي خان) او یا مشر په نوکر او خدمتگار بدلېدل، چې لاس به یې بر شو پخپله به یې د پیسو د لاسته راوړو لارو چارو ته لاس اچاوه.

داسې قوماندانان هم وو چې له میرانشاه، وانه، باجوړ او ترې منگل نه وړاندې نه تلل او په دې بازارونو کې به د وسلو، مرمیو او خوراکي موادو له پلورلو وروسته بېرته پېښور او اسلام‌اباد ته راستنېدل، په پېښور کې د غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي موسسو بازار هم ډېر تود ؤ. يو شمېر کسان له دې لارې هم د ډېرو شتو خاوندان شول. له دې انجي او ګانو څخه يې يو شمېر لوېديزو هېوادونو ته عملاً په جاسوسي فعاليتونو بوختې وې، په داسې حال کې چې يو شمېر نورې يې په رښتينې مانا په خدمت بوختې وې. لنډه دا چې د لوېديز د پانګوالۍ نظام د فساد کلتور ورو ورو جهادي ګوندونو ته ور ننوت.

## د لوړو زده کړو د دوام لپاره پاريس ته سفر

پر ۱۹۹۱ کال د خپل ژوند د سترې پېښې شاهد وم، مور مې په پېښور کې د سرطان په ناروغۍ اخته شوه. هغې له دغه بې رحمه ناروغۍ سره تر شپږ مياشتنۍ مقابلې وروسته د سرطان د مياشتې په يوه سوځنده شپه روح حق ته وسپاره او موږ يې د تل لپاره يوازې پرېښودو. دغه پېښه زموږ مهاجرې کورنۍ ته ستر روحي ګوزار ؤ. مور مې حساسه ښځه وه، زما په بندي کېدو يې ډېرې ستونزې وګاللې، د بهرنيو پوځونو يرغل او د هېواد لاندې کولو يې اروا ډېره ستومانه کړه، همدغه سبب ؤ چې دردناك شعرونه يې وويل، د هجرت ستونزو چې د ژوند عادي بهير يې ګډوډ کړی ؤ هغه ډېره ځوروله. زه مجبور وم چې د مور له وفات نه څو ورځې وروسته فرانسې ته لاړ شم. پلار مې چې له ماشومتوبه د پير سيد احمد ګيلاني د لوبو ملګری او انډيوال ؤ دغه مهال د اسلامي ملي محاذ د مالي او اداري چارو د رييس په توګه په کار بوخت ؤ. که د نوموړي هڅونې او ډاډګيرنې نه وای ښايي فرانسې ته مې د تلو زړه نه وای ښه کړی. کله چې د اسلاماباد له هوايي ډګره زموږ الوتکه پورته شوه داسې مې ګڼله چې زړه مې د سينې له قفسه را و ووت او شاته پاتې شو. د الوتکې له بدلېدو وروسته مو نيمه شپه د پاريس په لور الوتکه والوته، سهار د فرانسې پر وخت له لمر ختلو مخکې پاريس ته ورسېدم. پاسپورت مې نه درلود، د فرانسې ويزه يې د سفر د سند (Laissez

(c) ketabton.com: The Digital Library



Passer) پر یوه تخته کاغذ راکړې وه، د ۱۹۹۱ کال د اکتوبر په میاشت کې پاریس ته ورسېدم. د (CROUS) لوړو زده کړو د بورسونو په ارګان کې له نوملیکنې وروسته هغه انستیتوت ته چې باید درس مې پکې ویلی وای لاړم، د (ILERI) «د نړیوالو مطالعاتو انستیتوت» یوه خصوصي د زده کړو اداره وه چې مشر یې د فرانسې یو پخوانی صدراعظم ؤ.

هغه مهال چې «ژېس کاردستنګ» د فرانسې ولسمشر ؤ «ریمون بار» د ده د صدراعظم په توګه دنده سرته رسوله، نوموړی د خپل هېواد له نومیالیو اقتصاد پوهانو او د درناوي وړ شخصیت ؤ، د انستیتوت ادارې دې ته په پام چې د درسونو له پیل څخه تر دوو اونیو ډېرې ورځې تېرې شوې وې، پر دې سربېره چې معلومه شوه زما فرانسوي ژبه د درسونو د بهیر لپاره کافي نه وه، دولت ته یې وړاندیز وکړ چې ما د بهرنیانو لپاره د فرانسوي ژبې د زده کړو خاص مرکز ته واستوي. دغه مرکز پاریس ته نږدې د «ویشي» په ښار کې ؤ. ویشي وړوکی ښار دی چې په څو شیانو مشهور دی: یو د معدني اوبو پرېمانه چینې چې آن د خلکو په شخصي کورونو کې بهېدې، دوهم د المان لخوا د فرانسې د نیولو پر مهال د فرانسې د پلازمېنې په توګه، یانې د «مارشال فېلېپ پتن» د حکومت پر مهال چې د دوهمې نړیوالې جګړې پر وخت له نازي المان سره همکار ؤ «ویشي» یې خپله پلازمینه وټاکله او د CAVILAM یا د بهرنیانو لپاره د فرانسوي ژبې د تدریس همدغه اداره او سیاحت.

کله چې وپوهېدم باید یو کال نور هم په فرانسه کې پاتې شم، ډېر خپه شوم. دا راته سخته وه چې کورنۍ مې له وطنه لرې د مور د وفات غم ته یوازې پرېښې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر یوه کال لږه موده په «ویشي» کې وم، یوازې ما او یوه جاپاني ټولګیوال مې وکولای شول چې ټول لازم ډیپلومونه لاسته راوړو. په هغه شپه چې د فراغت جشن ؤ په ډېره عجیبه آرامۍ کې د سندرو او تمثیلي پارچو ننداري ته ناست وم.

د لومړي کال د درسونو لپاره تیاریو پرېښودم چې رخصتي مې له کورنۍ سره تېره کړم، درسونه مې په پاریس کې پیل شول. له ښوونکیو او ټولګیوالو مې ډېرې ښې خاطرې لرم. ټولو راسره مهرباني کوله، زه مې له ټولګیوالو لس کاله مشر وم، هغوی په داسې عمر کې وو چې هغه مهال زه نوی زندان ته لاړم، په فرانسه کې محصلین وایي «کله چې د پوهنځۍ دوهم ټولګی بریالی پایته ورسوې نور نو نه ناکامېږې» چې د دوهم ټولګي د فراغت سند مې ترلاسه کړ یو ځل بیا مې د آرامۍ احساس کاوه. د درېیم ټولګي په پای کې د لیسانس سند ترلاسه کېږي او د څلورم کال په پای کې Maitrise یا ماستري لاسته راځي. چې په ډیپلوماسۍ او نړیوالو اړیکو کې مې ماستري ترلاسه کړه، غوره مې وبلله چې یو کال نور هم لوړو زده کړو ته دوام ورکړم، په هغو کلونو کې دې د ماسترۍ او دکتورا ترمنځ باید یو کال درس نور ویلی وای چې DEA (د ژورو مطالعاتو ډیپلوم) یا DESS لاسته راوړې. لومړی سند زیاتره اکاډمیکو څېړنو ته لار هواروي او دوهم سند بیا محصل مسلکي ژوند ته ورننوتلو ته ښه چمتو کوي.

زه له یوه کال وروسته د «رنه دکارت» په پوهنتون کې د صادراتو د حقوقو په څانګه کې د DESS ( د تخصصي عالي مطالعاتو ډیپلوم) پر لاسته راوړلو بریالی شوم. په پاریس کې د زده کړو په بهیر کې له لومړي کال پرته هر کال د رخصتیو تېرولو لپاره پېښور ته خپلې کورنۍ ته راتلم. په پاریس کې د هېوادوالو شتون په ځانګړې توګه ښاغلی توخی، ظاهر غوث، ډاکتر ولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاتم، فتاح جان او ډاکتر اکبر ستايلي له وطن او کورنۍ نه د لرې والي ستوماني او خپګان راته کم کړی ؤ.

فرانسې ته زما د تلو کال نه و پوره شوی چې د ډاکتر نجيب حکومت رانسکور شو او د مجاهدينو حکومت راغی، دغه پېښه متأسفانه په داسې ډول وشوه چې د مجاهدينو او عامو خلکو هغه لږ هيلې يې هم په نهيلۍ بدلې کړې، هغه وخت کې له انټرنېټ نه ګټه اخيستل عام شوي نه وو. ما د کابل کوڅه په کوڅه جګړې د فرانسې د تلويزيونونو پر پرده ليدلې او پرې ځورېدم. د هېواد له وضعې د خبرېدو لپاره مې د لنډو څپو لرونکې غوره راډيو وپېرله، نهيلۍ ورځ په ورځ زياتېدې او پېښو ښودله چې په کابل کې چارواکي له بربادۍ نه د هېواد د ژغورلو کافي سياسي هوښياري نه لري.

زه لا په فرانسه کې وم چې د طالبانو تحريك را پيدا شو او بالاخره يې په کابل کې واك ترلاسه کړ. ما د هېواد پېښې منظمې څارلې او ځينې يادښتونه مې هم نيول. په همدې کلونو کې مې په هغو سيمينارونو کې برخه اخيستله او ويناوې مې کولې چې زياتره به د افغانستان په اړه د ايرانيانو لخوا دايرېدل.

کله کله به مې ليکنې پېښور ته استولې چې زما دوست ښاغلي شفيقي به په سهار ورځپاڼه کې خپرولې. له دغو ليکنو څخه يوه د تاپې د پروژې، د هغو ارزښت او د هغو پر خلاف د ايران د احتمالي دريځ په اړه وه، فکر کوم تر هغه وخته پورې په دې موضوع په دومره تفصيل بحث نه ؤ شوی.

ما فرانسې ته تر تلو وړاندې چې مطالعه درلوده زه يې د افغان سيد جمال الدين، افکارو او د ملا صدرا او آيت الله تالقاني فلسفې ته ور مات کړم، د «سن توماس داکن»، «مونتسکيو»، «توماس هابس» او «جان لاك» د نظرياتو مطالعې زما فکر او نظر نور هم پياوړی کړ، دغه نظريات او فکر زياتره د ارسطو له فلسفې او د مسلمانو پوهانو د طلايي دورې له فکري پنځونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړوبېدو. له مطالعې وروسته تر پخوا زيات پر دې باوري شوم چې سياست يو شريف مسلک دی او موخه يې د ټولنې روزنه او لارښوونه ده.

سياست زما د ژوند په ټولو پړاوونو کې د پرمختګ په لور د ټولنې د روزنې او رهبرۍ هنر دی. له همدې سببه په سياست کې زما چلن په افغانستان کې له دوديز سياسي چلند او سياسي لوبو سره توپير لري. په حقيقت کې په دنيا کې له ايمان سره نېك کړه وړه او غوره اعمال په اخرت کې د جنت دريڅه او خدای ته د رسېدو لاره ده، په همدې دليل د دولت له مهمو دندو څخه يوه د داسې شرايطو او فضا برابرول دي چې په هغو کې انسان وغوړېږي او نېك کړه وړه تر سره کړي.

د افغانستان پېښې او د سيمې او ګاونډيو هېوادونو لاسوهنې د دې سبب شوې چې د ليسانس مونوګراف مې د ايکو (ECO، د اقتصادي همکاريو سازمان) په باب وليکم. په فرانسه کې د دې موضوع لپاره د کافي اسنادو او سرچينو موندل ډېر ګران وو. ما په دې سند کې هڅه وکړه وښيم چې د ايکو سازمان غړي هېوادونه يو د بل بشپړوونکي دي، دوی له يو بل سره د ملګرتيا په لړ کې کولای شي چې د اروپايي اتحاديې په څېر خپلې ورانوونکې سياسي ستونزې شاته کړي او د اقتصادي ودې د پراختيا او غوړېدا لاره غوره کړي. زما مطالعې دا ښودله چې همدغه سياسي سياليو او مخالفتونو د اقتصادي همکاريو لارې تړلې دي چې له بده مرغه دغه وضعيت تر ننه دوام لري.

د نړيوالو اړيکو د مطالعاتو په انستيتيوت کې زما وروستی يانې څلورم کال ؤ چې وا مې ورېدل يو افغان نوی د لومړي کال محصل شوی دی. نوموړی «ميرويس» نومېده چې وروسته په افغانستان کې خلکو هغه د «ميرويس صادق» په نوم وپېژاند، هغه د جمعيت اسلامي د مشهور قوماندان (وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرات والي او د اوبو او برېښنا وزیر) محمد اسماعیل خان مشر زوی ؤ. میرویس د ښاغلي توخي په واسطه پیغام را واستاوه چې د درسونو په باب مشوره ورکړم.

زه پوهېدم چې په ډېرو دلایلو لومړی کال ډېر له ستونزو ډک کال وي ومې غوښتل چې د خپلو تجربو کیسه ورته وکړم او لازمې مشورې ورکړم. له توخي سره یو ځای د پاریس په ځنډه کې د هغه اپارتمان ته ورغلو. نوموړي زما په څېر د محصلینو په شان ژوند نه درلود، په یوه مناسب اپارتمان کې یې له مېرمنې سره اوسېدو. ډېر مفصل ورسره وغږېدو. چې پر کومو شیانو پوهېدم هغه مې ورته وویل آن چې د ازموینو بڼه او د استادانو خوی او عادت مې ورته بیان کړل. ژمنه مې ورسره وکړه چې هرچېرته له ستونزې سره مخ شي مرسته به ورسره وکړم.

میرویس په بېلا بېلو دلایلو و نه کولای شول چې آن لومړی کال بشپړ کړي، هغه بېرته مشهد ته ستون شو. دوهم ځلي مې هغه د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې د بن په کنفرانس کې ولید چې له هغه ځایه په لنډ مهاله اداره کې د وزیر په توګه ترې راووت تر دې چې ژوند یې په هرات کې په یوه پېښه کې له لاسه ورکړ.

د ماسترۍ تر دورې پورې هر محصل پر دې مکلف ؤ چې پر «فرانسوي چې محصلینو ته مورنۍ ژبه وه» سربېره دوې بهرنۍ ژبې زده کړي. ما دا اجازه واخیسته چې د خپل هېواد د یوې ژبې درسونه د فرانسې په یوه پوهنتون کې induced وایم او دا ما ته له بهرنیو ژبو څخه یوه حساب شي، ځکه چې فرانسوي ما ته دوهمه بهرنۍ ژبه وه، هماغه ؤ چې د «ختیځو ژبو او تمدنونو په ملي انستیتوت» (INALCO) کې چې په «سوربن سه» پوهنتون کې ؤ ما نوم ولیکه او د پښتو ژبې پر زده کړه مې پیل وکړ. پښتو ژبه د انستیتوت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ایرانو - ایراني» دیپارتمنت اړوند وه. د جګړې د کلونو په اوږدو کې د افغانستان لپاره ځانګړی دیپارتمنت له منځه تللی ؤ او د افغانستان برخه یې د ایراني فرهنګ او تمدن د ژبو په ټولګه کې لوستله، ایرانیانو د افغانستان د دولت له غیابت نه ډېره ګټه اوچتوله او هڅه یې کوله چې د افغانستان تاریخ، کلتور او ژبه د پروني فارس او نني ایران اړوند وښیي. د پښتو ژبې مسوول له فرانسوي اوچتو پروفیسرانو څخه یو تن ؤ چې «دانیل سپتفاند» نومېدو، نوموړی پر پښتو ګرامر تر هر چا ښه پوهېدو او د «اورمړي ژبې» په اړه یې یو معتبر څېړنیز اثر لیکلی ؤ.

له «مریم ابوذهب» سره همدلته آشنا شوم چې د ځوانۍ په عمر کې د فرانسې له کیڼ اړخو ښځو څخه یوه وه، د فلسطینیانو سره یې اوږه په اوږه مبارزه کړې وه او اوس مسلمانه شوې وه.

«مریم ابوذهب» افغانستان پېژندونکې وه او وروسته یې د پاکستان د شیعه ګانو پر ټولنه تحقیقاتو ته پام واړاوه. د پښتو ځانګې په وړاندیز د افغانستان د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو په باب د INALCO له لوري یو ټولګی جوړ شو او له ما نه یې وغوښتل چې د قراردادي استاد په توګه په هغو کې درس ورکړم، یو کال مې هلته درس ورکړ.

پر ۱۹۹۵ کال مې د «الیویه روه» افغانستان پېژندونکي فرانسوي کتاب د « سیاسي اسلام ماته» تر عنوان لاندې چې په دري مې ژباړلی ؤ په پېښور کې چاپ کړ. په پېښور کې تر دغه عنوان لاندې له داسې منځپانګې سره د کتاب چاپول آسانه خبره نه وه، آن هغه خطاط چې باید د کتاب د پښتۍ عنوان یې لیکلی وای دوه زړی ؤ چې و یې لیکي که نه! ویل یې چې ښایي په ژباړه کې تېروتنه شوې وي، هغه زما په ډېر ټینګار عنوان ولیکه، په اسلام‌اباد کې د فرانسې سفیر هم له ما نه وپوښتل چې آیا د دې کتاب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپه نه وېرېږم؟ کله چې ژباړه له چاپه راووته يو ټوك مې د ځاځيو په «سپينه شگه» کې په «الفتح غونډ» کې انجنير گلبدين حکمتيار ته په خپل لاس ډالۍ کړ، دا هغه مهال و چې نوموړي د طالبانو له بريدونو څخه شاتگ کړی ؤ او چارآسيا يې پرېښې وه. دا وروستی ځل ؤ چې ورسره و مې ليدل، تر دې وروسته مو بيا ليدل په ۲۰۱۷م کال په کابل کې د ده په هستوگنځي کې وو، هغه مهال چې له حکومت سره د سولې د تړون له لاسليك وروسته کابل ته راغی، د کتاب بل ټوك مې په وزير اکبر خان مېنه کې احمدشاه مسعود ته ورکړ، دغه وخت مې لنډ ليده کاته ورسره وشول او بالاخره د ژباړې يو ټوك مې په پغمان کې استاد عبدالرب رسول سياف ته ډالۍ کړ، دا هغه مهال ؤ چې د استاد سياف کور د ميدان له لوري د پغمان له غرونو څخه د طالبانو تر بريدونو لاندې راتلو.

د «د سياسي اسلام ماته» کتاب ډېر زر په بازار کې ورك شو، حزبيان، جمعيتيان او پخواني کمونيستان يې له مهمو لوستونکيو څخه وو. همدارنگه په پېښور کې د ايران قونسلگرۍ زيات شمېر وپېرل. د دې کتاب ژباړه د ايران په ځينو پوهنتونونو کې تدريس هم شوه.

په ۱۹۹۶ کال مې د «پاسکال بونيفاس» اثر «قدرت های بزرگ در تلاش بی قدرتی» هم له فرانسوي نه په دري وژباړه او په پېښور کې مې چاپ کړ. پاسکال بونيفاس د «ستراتېژيکو او نړيوالو اړيکو د انستيتيوت» (IRIS) رييس او د اتم پاريس په پوهنتون کې د اروپايي مطالعاتو استاد دی. د عنوان له ټکي پر ټکي ژباړې سره د هغو راښکون کم شو، ښايي دا به غوره وای چې «له سړې جگړې وروسته نړيوال نظم» مې عنوان غوره کړی وای ځکه چې د کتاب موضوع همدغه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه کتاب مې داسې مهال چاپ کړ چې طالبان پر کابل واکمن وو. زما دوست «احمد وحید مژده» چې په بهرنیو چارو وزارت کې جګپوړی چارواکی ؤ، دغه کتاب لوستی او خوښ کړی ؤ. «شېر محمد عباس ستانکزی» دغه مهال د بهرنیو چارو وزارت معین ؤ، غوښتل یې چې زه د کتاب د منځپانګې په باره کې د دوی مامورینو ته لېکچر ورکړم، خو وزیر د دې کار اجازه نه وه ورکړې.

له «رنه دکارت» پوهنتون نه د DESS ډیپلوم له ترلاسه کولو سره مې په فرانسه کې لوړې زده کړې بشپړې کړې او د ۱۹۹۷ کال د ډسمبر پر ۲۵ مه د پېښور په لور والوتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پېښور کې د سياسي ژوند نوی پړاو

د سياسي ژوند د نوي پړاو پيل مې د ۱۹۹۸ ميلادي کال له پيل سره هممهاله ؤ. د افغانستان سياسي وضعه هغه وخت ډېره نهيلي کوونکې وه، طالبان سره له دې چې د جګړې په بېلا بېلو ډګرونو کې پر مخ روان وو او کله کله به په شا هم راتلل خو په ټوله کې يې د واکمنۍ ساحه ټول افغانستان ته رسېدلې وه.

اوس يې نو پلازمېنه هم په لاس کې وه. د استاد رباني حکومت د کابل له پرېښودو وروسته د هېواد په شمال کې دوام درلود خو هلته يې هم سختې ماتې وخوړې تر دې چې مزارشريف او تالقان يې هم له لاسه ورکړل.

انجنير ګلبدين حکمتيار چې په وروستيو کې د صدراعظم په توګه د استاد رباني له حکومت سره ملګری شوی ؤ، دغه حکومت چې کابل پرېښود لومړی يې د هېواد شمال او وروسته بيا ايران ته پناه يووړه.

څو حاکميتونو عملاً افغانستان په څو برخو وېشلی ؤ تر دې بريده چې هر حاکميت خپل ځانګړی بيرغ او سکه درلوده، مور او پلار نه پوهېدل چې اولادونو ته څه ووايي چې د هېواد رسمي بيرغ يې کوم يو دی!

د اوږدو جګړو، وچکالۍ او ناوړه اقتصادي وضعې له امله زيات شمېر مهاجرين ايران او پاکستان ته واوښتل.

هغوی په دې دوو هېوادونو کې ډېر محروميتونه او سپکاوي وزغمل. داسې حکومت نه ؤ چې د هغوی له حقونو دفاع وکړي، دوو ډلو چې هرې يوې ځانته د افغانستان قانوني حکومت وايه خپل مخالف لوري ته د ماتې ورکولو او د زياتو امکاناتو تر لاسه کولو لپاره لاسونه د ښکېلو هېوادونو لمنې ته اچولې وو. په هېواد کې درې ډوله پيسې وې: د استاد رباني د حکومت پيسې، دوستمي پيسې او د طالبانو د حکومت پيسې. د پوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونو د تخریب او د سپکو او درنو وسلو د لوټ او تالان لړۍ چې د ډاکټر نجیب له ماتې وروسته پیل شوې وه په دې پړاو کې ډېره ګړندۍ شوه.
اوس نو افغانانو یوازې کلاشینکوف، ماین او سپك توغندي درلودل چې د ورور وژنې لپاره بس وو.
زیاتره جنګي الوتکې یا ګاونډیو هېوادونو ته یووړل شوې او یا ورستې شوې او د بیا ترمیم د شرایطو د نشتوالي په سبب له کاره ولوېدې.
د هېواد معدنونه په غیر مسلکي او خپلسري ډول ایستل کېدل او پیسې یې یا د زورواکو شخصي جیبونو ته لوېدې او یا د وسلو د پېرلو لپاره لګېدلې.
د افغانستان د پوهنې بهیر وروستۍ سلګۍ وهلې. خلك مجبور وو له خپلو خپلوانو سره چې په بهر کې یې ژوند کاوه د یوې تېلفوني اړیکې لپاره پېښور، کویټې او مشهد ته لاړ شي. لرغوني آثار او موزیمونه چې د نجیب له را نسکورېدو وروسته په بهر کې د پلور لپاره تالا او لوټ شول، دا دي اوس یې د طالبانو ځپېړه هم په مخ خوړله، طالبانو دغه آثار د بت پرستۍ د زمانو پاتې شوني بلل او له منځه یې وړل.
ماهرو کارګرانو هره ورځ وطن پرېښودو او په ګاونډیو هېوادونو کې یې په سختو شرایطو کې د ودانیو کار کاوه. په هېواد کې دننه د ډېرو ساده ناروغیو درملنه هم ګرانه شوې وه، داسې ښکارېدله چې القاعده په افغانستان کې یوازې هغو کسانو ته اړتیا درلوده چې یا یې دوی ته د نوکر په څېر کار کاوه او یا به یې د مورچلونو او سمڅو د جوړولو بدني وړتیا درلوده. شرایط داسې برابر شول چې نور خلك باید له هېواده ووځي.
په سیاسي ډګر کې د روم پروسه د ساه ایستلو تر کچې پاتې وه او کله کله به یې نوم واورېدل شو، وروسته د قبرس پروسه هم پرې ورزیاته شوه، د روم پروسه چې د پخواني پاچا په مشرۍ یې فعالیت کاوه د لوېدیزوالو له نیمچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملاتړه برخمنه وه او د قبرس پروسې د ایران د اسلامي جمهوریت ملاتړ درلود.

دوې سیاسي او روحاني څېرې، پیر سید احمد ګیلاني او حضرت صبغت الله مجددي، نه له طالبانو سره وې نه د استاد رباني له حکومت سره او نه په دغو دوو یادو شویو بهیرونو کې شامل وو، خو په پېښور کې یې تر یوه بریده خپل سیاسي شتون ساتلی ؤ.

افغانانو په پېښور کې چې ما هم هلته ژوند کاوه د ښوونځیو، پوهنتونونو، اتحادیو، شوراګانو جوړولو ته مخه کړې وه او بېلابېلې خپرونې یې درلودې.

زما پلار هم د هغوی په ډله کې آرام نه ؤ ناست د یو کار د ترسره کولو په هیله یې له هر فرصت نه ګټه اوچتوله، کله د تفاهم شورا په چوکاټ کې کله د سولې او ملي وحدت ټولنې. نوموړی په بېړنۍ لویه جرګه کې هم د غړي په توګه ټاکل شوی ؤ چې د ناروغۍ له امله یې پکې ګډون ونکړای شو.

افغانانو په اقتصادي برخه کې هم مهم نوښتونه کړي وو چې کله کله به یې ښې پایلې ترلاسه کولې.

ما چې د شوروي اتحاد له تېري څخه د هېواد په ژغورنې او د یوه اسلامي حکومت د جوړولو لپاره مبارزه کړې وه او په دې لار کې مې زیات زحمتونه ګاللي وو د خپلو خوبونو شاهد وم چې اوبو وړل. د افغانستان جهاد چې د پېړۍ ستره حماسه وه د پېړۍ په غمیزه بدل شو. د سرو لښکرو له وتلو وروسته هېواد ته د نورو ډېرو هېوادونو لاسونه را اوږده شول. جنایتکارو مافیایي بانډونو د پرهېزګاره مجاهدینو ځای ونیو. خلکو پر جهادي ګوندونو باور له لاسه ورکړی و او اوس یې د طالبانو تر متروکو لاندې د خپګان ورځې تېرولې. افغانستان نور په بشپړه مانا «حکومت» نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زړه پورې دا وه چې طالبان کابل ته تر رسېدو پورې د «نجات پرښتې» يادېدې او وخت پر وخت به لوېديزو رسنيو دوی د ظاهر شاه د پوځ په نامه معرفي کول، خو چې کله يې کابل ونيو او د هېواد شمال لور ته يې پرمختګونه پيل کړل د لوېديزو هېوادونو په تېره امريکا لهجه د دوی په اړه بدله شوه. تر دې چې د «چرګانو جنګول» او د «مرزانو جنګولو» مخنيوی هم د دوی د ظلم او زور بېلګه ياد شول او له «له بشري حقونو د سرغړاوي» پر دوسيه يې هره ورځ نوې پاڼې ور زياتې کړې. داسې ښکارېدله چې امريکايان خوښ نه وو چې د افغانستان په ټوله خاوره يو حکومت واکمن شي.

د کېنيا او تانزانيا له چاودنو وروسته چې د امريکا سفارتونه پکې نښه شوي وو او پر اسامه بن لادن په هغو کې د لاس درلودو له تور لګېدو وروسته د امريکايانو او طالبانو په اړيکو کې ستونزې زياتې شوې. امريکا پر طالبانو اقتصادي بنديزونه ولګول او پر خوست يې کروز توغندي و اورول.

کله چې طالبانو په شمال کې پرمختګ وکړ درې هېوادونو يانې سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو د دوی حکومت په رسميت وپېژاند، خو دغه پرمختګ پر همدې ځای ودرېد او هېڅ کوم بل هېواد د طالبانو د حکومت په رسميت پېژندلو ته چمتو نه شو. د نړيوالې ټولنې دغه دريځ په طالبانو کې د توندلارو دريځ پياوړی کاوه او هغوی يې نور هم توندو کړو وړو ته هڅول. دغه لړۍ آن له سيکانو او هندوانو سره د توپيري چلن، له ښځو سره تاوتريخوالی او له کار او زده کړو څخه د هغوی د محرومېدو او بالاخره په باميانو کې د بودا د لويو مجسمو د ورانولو سبب شوه. په دې ډول طالبان ورځ تر بلې په نړيواله ټولنه کې منزوي کېدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه انزوا د پاکستان په ګټه او پر طالبانو د اسلام‌اباد د نفوذ د زیاتېدو پایلې درلودې. ..

زه چې پېښور ته را ورسېدم پیر صاحب سید احمد ګیلاني را نه وغوښتل چې ورسره همکار شم، په دې تړاو مو پخوا هم خبرې شوې وې. ما د ده غوښتنه ومنله او په فرهنګي او سیاسي چارو کې یې سلاکار شوم.

دا چې د نړیوالو اړیکو او د صادراتو د نړیوالو حقوقو په څانګو کې مې تازه لوړې زده کړې پایته رسولې وې، ډېره تلوسه مې وه چې په خپل هېواد کې دننه کار وکړم.

په فرانسه کې د لوړو زده کړو په وروستیو کلونو کې زموږ ټولګیوالو هر یوه خپل راتلونکی پروګرام طرحه کاوه، له هغوی نه یو شمېر د اروپایي اتحادیې په بېلا بېلو ادارو کې د شاملېدو تیاری نیولو، یو شمېر نورو یې په نړیوالو سازمانونو لکه د نړیوالې سوداګرۍ سازمان، ملګري ملتونه او نورو کې د کار کولو علاقه درلوده. ځینو غوښتل په لویو څو ملیتي شرکتونو او یا د خپل هېواد په بهرنیو چارو وزارت کې په کار وګومارل شي. هغوی مجبور وو چې دې ادارو ته د ورننوتلو لپاره بېلا بېلې ازموینې ورکړي او د ستاژ دورې تېرې کړي. زه د ۱۹۹۷ کال په وروستیو کې له یوه بهرني هېواد څخه بل بهرني هېواد ته لاړم چې له خپلې مهاجرې کورنۍ سره یو ځای شم. په داسې حال کې چې هېواد مې د کورنۍ جګړې په اور کې سوځېده او د ملکي اداري او پوځي ځواك څخه یې مهم شی پاتې نه وو.

سره له دې چې د طالبانو د ادارې له بڼې او هغه نظام سره چې دوی جوړ کړی و موافق نه وم بیا مې هم هیله درلوده چې د داسې چا په توګه چې په بهر کې یې لوړې زده کړې وې خپل هېواد ته کار وکړم کېدای شي چې یو ځای ګټور ثابت شم. خپلو زده کړو ته په پام په دوو ځایونو کې را ته کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول مناسب وو: یو د بهرنیو چارو وزارت او بل د پلان وزارت (اوسنی اقتصاد وزارت) پرېکړه مې وکړه چې کابل ته لاړ شم او د کار لپاره غوښتنه وکړم. له پېښور نه کابل ته د ورور او د هغه د کورنۍ د لیدو په نیت وخوځېدم. راتلونکی سهار د خپل انډیوال وحید مژده په همکارۍ چې بهرنیو چارو وزارت جګپوړی مامور ؤ هغه وزارت ته لاړم. ملا محمد حسن اخوند د دې وزارت سرپرست ؤ، د هغه سکرتریت ته ورغلم، د دفتر رییس یې یو ځوان با نشاطه طالب ؤ، زما یې د مېلمه پالنې په دود تود هرکلی وکړ. د ځان په باب مې معلومات ورکړل او خپله سي وي مې ورکړه ورته و مې ویل چې غواړم د بهرنیو چارو وزارت په کومه برخه کې خدمت وکړم. هغه دا ټول معلومات د وزیر صاحب خدمت ته یووړل او زما له ارادې یې خبر کړ. بهرنیو چارو وزارت په یوه چوپه ودانۍ بدل شوی ؤ. مېزونه، کرسۍ، موټر او نور وسایل یې ډېر وراسته شوي وو. برېښنا نه وه او په دهلېزونو کې مامورین کوزه په لاس ښکته، پورته ګرځېدل، د وزیر د دفتر رییس د چایو ست راته وکړ او دواړه زما د لوړو زده کړو او د هېواد او نړۍ په وضعه وغږېدو، خو انتظار مې ډېر اوږد شو، خبره له ۱۲ بجو واوښته، له ډېر انتظار وروسته مې د وزیر ځواب ترلاسه کړ چې نه غواړي راسره وګوري، آن دا چې نه یې غوښتل ما کومې بلې څانګې او یا کوم مسوول ته ورمعرفي کړي. د وزیر د دفتر رییس چې په ښکاره له دې ځوابه خواشینی شوی ؤ د ښښې تر څنګ یې خپل د دفتر موټر چې تور مرسدیز بنز ؤ زما په واک کې راکړ چې کور ته مې ورسوي.

له دې وضعې وپوهېدم چې هر څومره ځان د طالبانو له نظام سره جوړ کړم بیا هم د هېواد په ادارو کې د کار فرصت نه لرم، دا په داسې حال کې وه چې افغانستان د زده کړو خاوندانو کدرونو ته زیاته اړتیا درلوده، وزارتونو زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کدرونه له لاسه ورکړي وو او زه د جهاد د بهیر د ګوتو په شمار د لوړو زده کړو خاوندانو له جملې څخه وم چې بېرته خپل هېواد ته راستون شوی وم. زه داسې وخت دغه وزارت ته د کار لپاره ورغلم چې د زده کړو خاوندان مامورین یې هره ورځ له هېواده د تېښتې په حال کې وو، په ډېر خپګان او د نهیلۍ په اوج کې وپوهېدم چې طالبان نه غواړي چې د هېواد اداره د نورو هېوادونو په څېر جوړه شي، د دوی په اند د هېواد د ادارې لپاره همدغه طالبي نظام بس ؤ. په داسې حال کې چې په نړۍ کې تازه په د تکنالوژۍ انقلاب راغلی ؤ او په دې برخه کې حیرانوونکې پرمختګونه کېدل، طالبانو افغانستان په منزوي شوې او بې دولته جغرافیه بدل کړی ؤ.
زما باور دی چې د طالبانو په اداره کې داسې کسان وو چې نه یې غوښتل پخوانی تجربه لرونکې کدرونه او د لوړو زده کړو خاوندان په حکومت کې پاتې شي او یا نوي کدرونه جذب شي. دغه ډول فکر که له یوه پلوه د طالبانو د وړوکي نړۍ لید زېږنده ؤ بل لور ته د پاکستان پیاوړی لاس هم پکې څرګند ؤ چې په دې ډول یې غوښتل له افغانستان نه یوه بې دولته خاوره جوړه کړي او وروسته یې دوی په نړیواله ټولنه کې استازي او قیم شي.

## د وطن مجلې پیل

د ۱۹۹۹ ز د جنورۍ په میاشت کې د وطن مجلې لومړۍ ګڼه په پېښور کې له چاپه راووته، په اروپا کې د اوسېدو په وروستیو کلونو کې مې له ډاکټر محمد قاسم همت سره د یوې معیاري ورځپاڼې او یا مجلې د خپراوي پر اړتیا ډېر اوږده بحثونه او مجلسونه درلودل. ډاکټر همت چې د جهاد په بهیر کې په المان کې د مجاهدینو استازی ؤ د پوهې او نظر خاوند او هڅاند

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی ؤ. نوموړي ژمنه راسره وکړه چې په اروپا کې د افغان مهاجرینو له مرستې څخه د یوې مجلې د چاپ لګښت تر هغه پورې پیدا کړي چې مجله د ګڼون بیې له لارې له مرستو بېغمه شي.

وطن مجلې د لیلا خُرم په مدیریت په لږه موده کې د پېښور او اروپا په افغانانو کې ځانګړي لوستونکي او مینه وال په خاصه توګه په هغو افغانانو کې، چې د افغانستان او نړۍ پېښو ته یې په ژور نظر کتل او د علمي تحلیلونو تږي وو وموندل. پیاوړیو لیکوالانو له اروپا، پېښور او د هېواد دننه څخه له دې مجلې سره قلمي همکاري کوله.

طالبانو هم له دې مجلې سره علاقه درلوده او په منظم ډول یې یو شمېر ګڼې هره میاشت د الیاس «وحدت» په واسطه ترلاسه کولې، نوموړی د دې کرښو د لیکلو پر مهال د پکتیکا والي دی او هغه مهال د اطلاعاتو او کلتور وزارت په استازیتوب پېښور ته راتلو. دغه څو ګڼې طالب چارواکیو ته رسېدلې خو عامو خلکو ته نه. متأسفانه طالبانو په کابل او نورو ولایتونو کې د دې مجلې د عام وېش اجازه رانکړه. د دې ستونزې د حل لپاره کابل ته لاړم او په وزیر اکبر خان مېنه کې مې د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور له وزیر امیر خان متقي سره د ده په کور کې ولیدل، وروسته مې د وزارت له معین رحیم الله زرمتي سره ولیدل، په دې تړاو مې هڅو کومه پایله نه درلوده، ښاغلي زرمتي په مجله کې د عکسونو خپرېدو ستونزه یاده کړه. په ځواب کې مې ورته وویل چې له عکسونو پرته مجله نشي کولای چې خپل پیغام بشپړ ورسولای شي، هغه غوښتل د ستونزې حل لاره پیدا کړي، ځکه یې وړاندیز وکړ چې چېرته د یوه ژوندي شي عکس چاپولو ته اړتیا وي باید سر یې له تنې څخه بېل چاپ کړو، خو ښکاره وه چې پر عکسونو سربېره د مجلې منځپانګه هم د طالبانو ادارې ته د منلو وړ نه وه، ځکه مجلې د خپل ملي دریځ له مخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې پر دواړو ښکېلو لوریو نیوکې کولې شعار یې د افغاني نشنلیزم پیاوړتیا او د یوه ځواکمن او خپلواك افغانستان جوړول وو. یو ځل همدغه دریځ د دې سبب شو چې د پاکستان د پوځي استخباراتو اداري (ISI) موږ ته اخطار راکړ، زه بېله ځنډه افراسیاب خټك ته ورغلم چې هغه مهال د دې مجلې یو لوستونکی او د پاکستان د بشري حقونو د کمیسیون رییس ؤ. له هغه نه مې د ISI د کوم اقدام په صورت کې د ملاتړ غوښتنه وکړه، افراسیاب خټك ډاډ راکړ چې که د پاکستان د دولت له لوري څه خنډونه جوړ شول دی به زموږ ملاتړ کوي.

موږ په وطن مجله کې هڅه کوله چې پر روانو سیاسي جریاناتو سربېره د افغانستان تاریخ او فرهنګ ته هم پام واړوو، ځکه کوم وضعیت چې پر هېواد حاکم ؤ د تاریخ او فرهنګ د تدریجي مرګ په مانا ؤ. وطن مجله دوه نیم کاله خپره شوه، وروستۍ ګڼه یې د بن له کنفرانس وروسته په هېواد کې د لنډ مهالې اداري له جوړېدو سره راووته. ما له «سهار» ورځپاڼې سره هم چې په پېښور کې یوازینۍ آزاده افغاني ورځپاڼه وه او د هېواد د نوموتي شاعر او لیکوال محمد زبیر شفیقي په مدیریت خپرېده قلمي همکاري درلوده. یو شمېر لیکنې مې په دې ورځپاڼه کې په خپل اصلي او فرعي نامه خپرې شوې دي.

## په افغان پوهنتون کې استادي

د جهاد پر مهال بېلا بېلو ګوندونو د ښوونځیو، لېسو، دیني مدرسو او پوهنتونونو په جوړولو لاس پورې کړ، د ډاکتر نجیب د رژیم له را نسکورېدو او د جهادي ګوندونو ترمنځ د ګوندي جګړو له پیل سره له یوه پلوه زیاتره د ښارونو اوسېدونکي په تېره د کابل اوسېدونکي پېښور، اسلاماباد او کویټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مهاجر شول. بل لور ته جهادي ګوندونو سوکه سوکه د خپلو تعلیمي ادارو دروازې وتړلې. په دې پړاو کې د مهاجرینو ژوند له پخوا سره توپیر درلود. ګوندي اړیکې ډېرې تتې او پیکه شوې او د ژوند ژواك لپاره په ځانګړیو فعالیتونو کې زیاتوالی راغی. د زده کړو ځانګه یوه له اړتیاوو او هغه برخې څخه وه چې افغانانو پکې پانګونه وکړه، زیاتو کسانو د تعلیمي ادارو په جوړولو لاس پورې کړ.

د پاکستان حکومت کله کله د دغو ادارو په مخ کې خنډونه جوړول تر دې چې د افغانانو د ټولو پوهنتونونو د تړلو حکم یې صادر کړ، دغه ګام د هغو کورنیو لپاره چې د اولادونو راتلونکې یې تیاره کوله ډېر له وحشته ډك ؤ، د علمي او سیاسي شخصیتونو او مدني فعالانو له زیاتو هڅو وروسته حکومت ومنله چې په پېښور کې یوازې یو افغاني پوهنتون جوړ شي په دې شرط چې په مشرتابه کې به یې یو تن پاکستانی هم وي. هماغه ؤ چې د نجونو او هلکانو لپاره «افغان پوهنتون» جوړ شو، چې ودانی یې د پېښور د «بورډ» په سیمه کې وه.

د «استاد ګلرحمان قاضي» چې وروسته یې په کابل کې د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون د رییس په توګه هم دنده ترسره کړه، د افغان پوهنتون د حقوقو پوهنځي ریاست پر غاړه ؤ. د استاد قاضي د پاملرنې او له تدریس سره زما د مینې په سبب پر دې وتوانېدم چې د اداري پړاوونو له تېرولو او د استادۍ د شرطونو له پوره کولو وروسته په دې پوهنتون کې د استاد په توګه شامل شم.

په یاد پوهنځي کې مې د «اساسي حقوق» او «د سیاسي افکارو تاریخ» مضمونونو درس ورکاوه. د هغو محصلینو له جملې څخه چې ما ورته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



درس ورکولو ویاړ درلود یو شمېر د دې کرښو د لیکلو پر مهال مهمې حکومتي او غیرحکومتي دندې لري او په بریا یې پرمخ وړي.

## سیاسي فعالیتونه

د جهاد په پیل کې چې زه په کابل کې زده کوونکی وم تر ټولو فعال او بانظمه جهادي ګوند، په ځانګړې توګه په کابل کې حزب اسلامي ؤ. حزب اسلامي هم پیاوړي او مبارز کدرونه درلودل او هم یې معلومه ایډیالوژي لرله چې د جوړېدو له مهاله یانې د ظاهر شاه د پاچاهۍ له وخته یې د هغو پر بنسټ مبارزه کوله. په همدې دلیل د غوایي کودتا له بریا وروسته حزب اسلامي چې له پخوا څخه فعال ؤ یوازې د فعالیتونو په بڼه کې یې لازم بدلونونه راوستل او تر نورو ټولو مخکښ شو.

پنځوسمه او شپېتمه او تر څه حده اویایمه میلادي لسیزه د درېیمې نړۍ د مبارزو لسیزې وې چې که په سوسیالیستي بڼه وې او که په نشنلستي.

نړیوال اسلامي غورځنګ هم په یوه بڼه د درېیمې نړۍ په غورځنګونو کې شامل ؤ. د دوی ترمنځ په موخو کې دومره نږدې والی ؤ چې ځینو التقاطي ګوندونو د مارکسیزم او اسلام په ګډولې لاس پورې کړی ؤ.

په اویایمه مېلادي لسیزه کې د افغان جهاد پیل او د ایران د اسلامي انقلاب بریا د مسلمانو هېوادونو په ځوانانو کې یوه نوې ولوله او جذبه را وټوکوله.

د مسلمانو عربي نړۍ هېوادونو او د درېیمې نړۍ نورو هېوادونو چې د فرانسې او انګلیس له زاړه او د متحده ایالاتو د نوي میدان ته راوتلې استعمار سره د مقابلې لپاره یې د هیلې سترګې د شوروي اتحاد په لور اړولې. هیله یې درلوده چې د اسرائیلو او لوېدیز ښکېلاك پر خلاف مبارزه کې به یې هغه ملاتړ وکړي، دغه مهال نور نهیلي شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد د يوه نړيوال ځواك په توگه په نړيواله کچه په خپلو سياسي معاملو کې بوخت ؤ ستره موخه يې پراختيا غوښتنه او د برلاسۍ ساتنه وه، که به ورته اړينه ښکاره شوه د هېوادونو او مبارزو سازمانونو پر سر يې معاملې هم کولې، پر افغانستان د شوروي اتحاد يرغل هغه څه را ښکاره کړل چې د درېيمې نړۍ مبارزين له يوې مودې راهيسې د زړه له کومي پر هغو پوهېدل او د مسکو په اړه بدگومانه شوي وو.

د افغانستان جهاد او د ايران د اسلامي انقلاب بريا د مسلمانو هېوادونو مبارزو ځوانانو ته د هيلو نوې کړکۍ پرانيسته، ځکه دا دواړه د «نه شرقي نه غربي» او د «عادلانه اسلامي نظام جوړول» شعارونو پر محور راڅرخېدل. ما په دغسې فضا کې د سياست او يا په غوره وينا د مبارزې پر ډگر پښه کېښوده. خو کله چې له فرانسې نه راستون شوم نور نه د هغو شعارونو درك ؤ او نه هغه انقلابي جذبې او ولولې پاتې وې. د افغانستان جهاد په کورنۍ جگړه بدل شوی ؤ او طالبان له هغو نه زيږېدلي وو چې اوس يې پر کابل واکمني کوله، په ايران کې هم اسلامي انقلاب په مذهبي او نشنلېستي خول ننوتلی ؤ. په ياد مې دي کله چې مجاهدين کابل ته ننوتل او له يو بل سره ونښتل د کابل د کوڅه په کوڅه جگړو ننداره هره شپه د فرانسې له تلويزيوني چينلونو ښودل کېدلې، نو زما يوه ټولگيوال چې د مالي هېواد ؤ راته وويل: «مور د افغانستان له جهاد او حکمتيار نه ډېرې هيلې درلودې او هغه مو ځانته بېلگه گڼلی ؤ، دا څه شی ستاسو په هېواد کې روان دي، جهاد څه شو؟»

له فرانسې نه زما د ستنېدو پر مهال چې پر افغانستان کومه فضا حاکمه وه، تر ټولو بېړنی کار چې بايد شوی وای دا ؤ چې هېواد د پاکستان د ظالمانه او پټ تسلط او بې وزلۍ او ناپوهۍ له منگولو وژغول شي. افغانستان په «مدينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاصله» نه بلکې لږ تر لږه په یوه عادي هېواد بدل شي چې ماشومان یې ښوونځیو او ځوانان یې پوهنتونونو ته لاړ شي او خلك یې د تېلفون او یا د ډېرو ساده ناروغیو د درملنې لپاره ګاونډیو هېوادونو ته لاړ نشي او بالاخره افغانستان د یوه بیرغ او یوې پیسې (سکې) خاوند شي! لنډه دا چې افغانستان د یوه دولت په توګه پاتې شي او له منځه لاړ نشي.

زما تشخیص دا ؤ چې له پیر سید احمد ګیلاني سره همکاري دې موخې ته د رسېدو لپاره تر ټولو غوره لاره وه. پیر صاحب د روم پروسې د غړیو په څېر د افغانستان له واقعیتونو نه ناخبره او پردی نه ؤ، نوموړی ډېرو طالبانو ته د درناوي وړ ؤ چې تر اوسه یې هغه لومړی نسل یانې د افغانستان له کلیو نه راپورته شوی نسل شته، پیر صاحب له لوېدیز او پاکستان سره چې پر کابل د حاکمو طالبانو ملاتړ یې کاوه ښې اړیکې درلودې او بالاخره پیر صاحب یو منځلاری شخصیت ؤ چې په کورنیو جګړو کې یې برخه نه درلوده. زه راغلم او له هغه سره همکار شوم.

پېښور ته زما له راتلو وړاندې پیر سید احمد ګیلاني او حضرت صبغت الله مجددي د یوې سیاسي ټولنې په جوړولو لاس پورې کړی ؤ چې د ځینو مسایلو پر سر د نه تفاهم په سبب له فعالیته لوېدلې وه. دغه دوه مشران چې د جهاد پر مهال له لږو امکاناتو او واك څخه برخمن وو په دې وروستیو کې په پاکستان کې د مهاجرو افغانانو او په هېواد کې دننه د هغو افغانانو لپاره په سیاسي مرجع بدل شوي وو چې له طالبانو سره نه وو.

## د قبرس په غونډه کې ګډون

د «قبرس غونډو» څلورم پړاو د ۲۰۰۰ کال د سپتمبر له ۱۵ تر ۱۷مې پورې د دغه هېواد په مرکز نیکوسیا کې ترسره شو. د قبرس پروسه هغه مهال پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړای شوه چې د روم بهیر و نکړای شول چې په سیاسي ډګر کې پام‌وړ پرمختګ وکړي.

د قبرس پروسې مشري د همایون جریر پر غاړه وه، د ده تر څنګ نور شخصیتونه لکه عبدالحق شفق، ډاکتر عزیزالله لودین، ډاکتر امیریار، استاد محمد زمان مزمل، سید اسحق ګیلاني، حاجي روح الله، پوهاند عبدالاحد جاوید، ډاکتر بصیر انور، قاضي محمد حکیم حکیم، انجنیر احسان الله مالیار، مېرمن صدیقه بلخي، سلیمان یاري او نور هم وو. ما د پیر سید احمد ګیلاني له لوري دنده واخسته چې د سید محمد ګیلاني تر څنګ د ځلورم پړاو په غونډه کې ګډون وکړم. په دې غونډه کې تر ۷۰ زیاتو کسانو ګډون درلود.

زموږ د اوسېدو او غونډو ځای هېلتون هوټل ؤ. د غونډې جوړوونکیو د دغه ځای د انتخاب لپاره دوه دلایل ویل، یو یې موقعیت ؤ چې له افغانستان، ایران، پاکستان او همدارنګه اروپا او امریکا څخه راتګ ورته آسانه ؤ. دوهم یې د دې هېواد د ویزې د ترلاسه کولو آسانتیا وه. د قبرس د غونډو لګښتونه ایرانیانو ورکول.

د قبرس بهیر ځلورم پړاو غونډه په داسې شرایطو کې جوړه شوه چې په هېواد کې د جګړې لمبې بلې وې او طالبانو په شمال کې ګړندي پرمختګونه کول. انجنیر رحیم د استاد رباني په استازیتوب په دې غونډه کې ګډون درلود خو طالبانو د پلاوي له رالېږلو ډډه کړې وه.

څه موده وړاندې د قبرس د غونډو په استازیتوب یو پلاوی طالبانو ته ورغلی ؤ. هغوی یې ادبانه هرکلی وکړ، سره له دې چې د قبرس پروسې ملا محمد عمر اخوند ته د امیرالمؤمنین لقب منلو ته لېوالتیا ښودلې وه خو طالبانو دې پلاوي ته له هر ډول ژمنې ځانونه تېر کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قبرس په غونډه کې ما د لومړي ځل لپاره په ایران کې له مهاجرو افغانانو سره د روغبړ او خبرو فرصت وموند.

د لومړي ځل لپاره د دوبۍ په یوه هوټل کې له هغوی سره مخامخ شوم، د دوی جامو او د خبرو لهجې ما ته جټکه راکړه، وروسته په قبرس کې خبرې او بحثونه په ځینو اړخونو کې تر هغو ډېر رېږدوونکي، د هغو ښاغلیو او مېرمنو له ډلې څخه یې یو شمېر اوس د هېواد په مهمو دندو گومارل شوي دي. هلته مې هغه ترخه واقعیتونه درك کړل چې موږ افغانانو ته د کلونو کلونو جگړې دوام راوړي وو، موږ افغانانو د هجرت په بېلا بېلو چاپېریالونو کې د بېلا بېلو کلتورونو په فضا کې ژوند وکړ او له هغوی څخه اغېزمن شوو. دغه مسأله زموږ راتلونکیو نسلونو ته تر پخوا هم سخته وه، هغوی په بېلا بېلو چاپېریالونو کې وزیږېدل یا رالوی شول او زده کړې یې وکړې. د یوه ولس په وگړیو کې دغه ټول توپیرونه د ښې راتلونکې نښه نه ده.

په پوره باور به هغوی ته موږ تر ځانونو په همدې پیمانه بدل ښکارېدو، نه مې هېرېږي چې د پرېکړه لیك په چمتو کولو کې د لغتونو د کارولو په اړه د ښاغلو سید عسکر موسوي، مولایي او سید اسحق گیلاني ترمنځ د نظرونو اختلاف په یوه لنډه لفظي شخړه بدل شو. په هر صورت دا زموږ د ژوند واقعیت ؤ چې اوس هم شته.

څرنگه چې طالبانو ځانونه د جگړې د ډگر فاتحان بلل او پاکستان د دوی تر شا خپل ستراتېژیك اهداف تعقیبول داسې نه ښکارېدله چې د روم او قبرس غونډې به کومه لاره لنډه کړي، خو بیا هم دغه ډول سیاسي خوځښتونه بې گټې نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما یو ځل بیا د پیر صاحب په ملګرتیا د قبرس په غونډه کې ګډون وکړ، حضرت صبغت الله مجددي له ډنمارکه راغلی ؤ او په هغو کې یې ګډون کړی ؤ. ښاغلي ګیلاني د غونډې له پایته رسېدو وړاندې د قبرس غونډه پرېښوده او د روم له لارې اسلام‌اباد ته ستون شو.

ښاغلي جریر د قبرس په غونډو کې د دغو دوو مشرانو پر ګډون ډېر ټینګار کاوه، ځکه چې د دوی ګډون د دغو غونډو اعتبار زیاتاوه.

کله چې زه له قبرس نه بېرته ستون شوم په اسلام‌اباد کې مې له ښاغلي پیر ګیلاني او د ده له مشر زوی سید حامد ګیلاني سره د دوی په کور کې ولیدل، د سفر د راپور د ورکولو ترڅ کې مې ورته وویل:

«د ایران هېواد د جګړې په جبهو کې د طالبانو پر خلاف د شمال جبهې ملاتړ کوي خو له دې سره یې هممهاله د سیاسي خبرو اترو لپاره د قبرس پروسه د سیاسي حل لارې د موندلو لپاره پیل کړې ده، دې ته په پام چې پاکستان د جګړې په ښکېلو لوریو کې د طالبانو فعال ملاتړ کوي او دا ناشونې ده چې تر ابده د سیاسي طرحې له نشتوالي پرته جګړې دوام وکړي. نو تاسې (پیر صاحب) دې ته په پام چې له پاکستان سره ښې اړیکې لرئ، دوی ته وړاندیز وکړه چې د قبرس د پروسې په څېر د یوه جریان ملاتړ وکړي، چې ستاسو په مشرۍ دغه پروسه یوه د منلو وړ سیاسي طرحه د جګړې د پایته رسولو لپاره وړاندې کړي.»

ښاغلي ګیلاني دغه مفکوره خوښه کړه او هماغه وو چې د «د سولې او ملي یووالي ټولنې» د بېرته فعالولو لپاره چټک کار پیل شو، مخکې مې یادونه وکړه چې دغه ټولنه پخوا جوړه شوې وه خو د پیر صاحب او حضرت صاحب ترمنځ اختلافونه د دې سبب شوي وو چې غیر فعاله پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «سولې او ملي يووالي ټولنې»د بيا جوړېدو پر مهال ښاغلی مجددي په ډنمارك کې اوسېده او ډېر لږ پېښور ته راتلو.
هغه وخت چې زه لا په فرانسه کې په زده کړو بوخت وم، چې کله به په رخصتيو کې پېښور ته راغلم خامخا به مې کابل ته هم سفر کاوه، په دې موده کې دوه ځله داسې وخت کابل ته راغلم چې طالبانو پرې حکومت کاوه، هر ځل مې دې ته پام شوی چې د هېواد ټول حکومتي بنسټونه او ادارې د ملي اردو په شمول له منځه تللي دي. د دې تر څنګ طالبانو چې کوم زور زياتی او بد چلن غوره کړی ؤ د مدني فعاليتونو لپاره يې هېڅ فضا نه وه پرېښې، بې وزلۍ او ناداری خلك دې ته اړ ايستي وو چې يوازې د ژوندي پاتې کېدو په فکر کې شي نور د ځان او خپلې کورنۍ په اړه له هر ډول فکر او تدبير نه محروم شوي وو، لنډه دا چې له هغه وضعې څخه د راوتلو پوځي لاره نور پاتې نه وه. له همدې سببه زه يو ځل (له روانې وضعې او د عقيدوي بېلاريو له ستونزو د وتلو لار) تر عنوان لاندې د بحث لپاره په «هجرت کلي» کې د فرهنګي مرکز لخوا وبلل شوم، ښاغلي «مزمل اسلامي» دغه بحث چلاوه، مولوي قيام الدين کشاف او يو شمېر نورو علماؤ هم په دې بحث کې ګډون درلود. ما پر هېواد له حاکمې وضعې څخه د ژغورنې لاره د «مدني ټولنې» پر پياوړتيا ټينګار وکړ، يانې دوديزه مدني ټولنه او د غير دولتي ادارو په بڼه مدني ټولنه پياوړې شي. دا يوه اوږده لاره وه خو زما په اند يوازينۍ لاره همدغه وه. د بحث ځينو ګډونوالو زما له خبرو نه داسې انګېرلې وه چې ګواکې ما يوه غير اسلامي حل لاره وړاندې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مې د سپټمبر له يوولسمې لړ وړاندې د «يونسما» (UNSMA) يا د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي ماموريت له پلاوي سره چې په پېښور کې به يې کله کله له ما سره ليدل همدغه وړانديز وکړ، کله چې د بن کنفرانس جوړ شو نو ملګرو ملتونو د سياسي اړخ د پلاوو تر څنګ د مدني ټولنې استازي هم ور وبلل.

د همدې واقعيتونو په رڼا کې زه پر دې باور وم چې که د هېواد دننه او په پېښور کې هستوګن سياستوال چې د خپلې ټولنې واقعيتونو ته ډېر نږدې دي، پر دې وتوانېږي چې د پاکستان پښه يوه سياسي بهير ته ور دننه کړي، وژل او مرګونه پای ته ورسوي او د هېواد د لا زيات ورانېدو مخه ونيسي، له دې سره هممهاله افغانان د بامسووليته مدني ټولنې د پياوړي کولو هڅې وکړي کېدای شي چې هغه د غميزو د دوام وضعه پای ومومي. پير سيد احمد ګيلاني زما په اند د دې خوځښت د مشرۍ لپاره تر ټولو مناسب شخصيت ؤ. همدغه موضوع مې د سوات په يوه سفر کې له ډاکټر بصير انور، اسدالله فلاح او مولوي فضل الهادي شينواري سره په ګډه د مولوي محمد يونس خالص له مرستيال او د مجاهدينو له يوه مشر حاجي دين محمد سره مطرح کړه.

موږ ګومارل شوي وو چې نوموړي ته ورشو او هغه د سولې او ملي يووالي ټولنې سره يو ځای کېدو ته راوبولو، حاجي دين محمد دې نظريې ته او په دې خوځښت کې د پير صاحب په رول ډېر په ملنډو او مرموزه موسکا ځواب راکړ، هغه مهال نوموړی د خپل ورور په منځګړيتوب له احمدشاه مسعود سره په اړيکه کې ؤ.

د سولې او ملي يووالي ټولنه ډېر زر په يوه ځواکمن سياسي خوځښت بدله شوه، د شمالي ټلوالې جبهه چې ځانته يې قانوني حکومت وايه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد وضعیت سره مخ وه او ورځ تر بلې یې وضعه خرابېده، دې جبهې په ځو ځله ماتو او شاتګ تر خپل کنټرول لاندې زیاته خاوره له لاسه ورکړه. له همدې سببه کوم ګوندونه چې د استاد رباني په حکومت کې شامل وو هغوی همدې «ټولنې» ته خپل استازي را واستول. د ساري په توګه د جمعیت اسلامي په استازیتوب انجنیر ایوب چې په انجنیر لالا مشهور ؤ، د اتحاد اسلامي په استازیتوب موسی خان اکبرزاده، د وحدت اسلامي په استازیتوب ښاغلی عارفي، د نجات ملي جبهې په استازیتوب اسدالله فلاح، د افغان ملت په استازیتوب کله انوارالحق او کله سید هاشم فولاد ګډون کاوه. خپلواک شخصیتونه لکه پوهاند نعمت الله شهراني، مولوي فضل الهادي شینواری او یو شمېر نورو هم د دې ټولنې غړیتوب درلود. د « سولې او ملي یووالي ټولنه» دوهم ځل د ۱۹۹۹ ز کال د جنوري پر ۴مه د پېښور په کبابیانو کې د پیر سید احمد ګیلاني په کور کې رسماً اعلان شوه. ۱۸ ډلو او مهمو سیاسي او جهادي شخصیتونو یې غړیتوب درلود. «ټولنې» ډېره هڅه کوله چې د پخواني پاچا په مشرۍ د روم پروسې سره په ګډه کار وکړي. د همدې لپاره ښاغلي ګیلاني هڅې پیل کړې چې په سویس کې د «روم بهیر» او «ټولنې» ګډه غونډه جوړه شي. د محمد ظاهر شاه پر شاوخوا راټولو کسانو نه غوښتل چې په ګډه کار وکړي د پاچا د ناروغۍ په پلمه یې په غونډه کې له ګډون ډډه وکړه، د سویس حکومت دې چمتو شو چې یوه امبولانس الوتکه روم ته واستوي چې نوموړی ژنیو ته راوړي او هلته یوه روغتون ته لنډ دولتي مېلمستون ورته ځانګړی کړي چې له انټرکانټیننټل هوټل نه لرې نه وي. د دغه هوټل غوره کول هم مانا دار وو، ځکه د یو شمېر نړیوالو لانجو مهمې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اترې په همدې هوټل کې ترسره شوې وې او ښې پایته رسېدلې وې. خو پر دې ټولو سربېره د پاچا شاوخوا کسانو په یوه ګډه غونډه کې له ګډون ډډه وکړه، سویس ښاغلي ګیلاني ته آشنا ځای ؤ. کوم وخت چې د کابل کمونستي حکومت د مجاهدینو د ورځ په ورځ زیاتېدونکي فشار له امله دې پایلې ته ورسېد چې نور پخوانی چلن ورته ناشونی دی، د وخت ولسمشر ډاکتر نجیب الله له سیاسي او جهادي مشرانو سره اړیکې پیل کړې او ځینو ته یې لیکونه واستول. په دې ډله کې یې له پیر صاحب سره اړیکه ونیوه او د لیدو غوښتنه یې وکړه، ښاغلي ګیلاني بلنه ومنله او د لیدو ځای یې سویس غوره کړ. د ده په نظر سویس یو بې طرفه هېواد ؤچې په افغانستان کې ځانګړې ګټې او خاصه اجنډا یې نه درلوده. بالاخره د ډاکتر نجیب الله او پیر سید احمد ګیلاني ترمنځ په سویس کې خبرې وشوې. پیر صاحب چې ما ته د دې لیدو کیسه وکړه، ډاکتر نجیب الله هڅولی ؤ چې مجاهدین کابل ته راشي او د یوه پراخ بنسټه حکومت مشري په غاړه واخلي تر څو هېواد او پیاوړی پوځ یې له پاشل کېدو وژغورل شي. ښاغلي ګیلاني په ځواب کې ورته ویلي وو چې روم او پېښور ته ځم چې له نورو مشرانو سره مشوره وکړم، خو ډاکتر نجیب په ځواب کې ورته ویلي وو چې که روم ته له ظاهر شاه سره د مشورې لپاره ځې نو دا بې ګټې دي، ځکه هغه د ډاکتر نجیب پر بیا بیا اړیکو سربېره هېڅ له ځایه نه ؤ خوځېدلی. بیا هم ښاغلی ګیلاني روم ته لاړ او له هغه ځایه پېښور ته راغی او له جهادي مشرانو سره یې له ډاکتر نجیب سره د لیدو او د هغه د وړاندیز خبره شریکه کړه. ښاغلي ګیلاني ویل چې پاکستان د ده په دې کار سخت خپه شوی ؤ. نوموړي د مشرانو د غبرګونونو کیسه وکړه چې استاد رباني پخپله د ده دغه کار ستایلی ؤ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې برخه کې یې د هر ډول مرستې ژمنه ورسره کړې وه. انجنیر ګلبدین حکمتیار د مولوي سرفراز په واسطه پیغام ور استولی او د پیر صاحب دغه اقدام یې ستایلی ؤ او ملاتړ یې کړی ؤ. یوازیني مشر چې دغه کار یې غندلی ؤ او تر ډېره وخته یې له ښاغلي ګیلاني سره له خبرو ډډه کوله استاد عبدالرب رسول سیاف ؤ....

د «ټولنې» عادي غونډې د پیر سید احمد ګیلاني په کور کې چې په کبابیانو کې ؤ کېدلې، وړوکې غونډې د نوموړي د اسلام‌اباد په کور کې او کله د صبغت الله مجددي په کور کې کېدلې. ما د «ټولنې» په فرهنګي او سیاسي څانګه کې فعالیت کاوه.

دې «ټولنې» په پېښور کې دوې لویې غونډې جوړې کړې، یوه لویه غونډه د پېښور په نشر هال کې او تر هغې وړوکې بله غونډه د ۲۰۰۱ د اګست پر ۱۵مه د پېښور په پرل کانټیننټل هوټل کې وه. په دې غونډه کې په پېښور کې او د افغانستان دننه څخه ګڼو کسانو ګډون کړی ؤ. په دې دواړو غونډو کې ښاغلي ګیلاني د «ټولنې» د رییس او نورو غړیو او خپلواکو شخصیتونو په توګه ویناوې وکړې.

لکه چې له نامه څخه یې ښکاره وه دې «ټولنې» افغانان سولې او یووالي ته رابلل، د جګړې پایته رسېدل او د یوه پراخ بنسټه حکومت جوړېدل یې هیله او غوښتنه وه.

هغه وینا چې ښاغلي ګیلاني په پېرل کانټیننټل هوټل کې واوروله ما لیکلې وه. په دې وینا کې داسې راغلي وو: «موږ نن یوې شریکې ستونزې سره راټول کړي یو. له ۲۳ کلونو راهیسې په هېواد کې جګړه او وینې تویېدل دوام لري، د خلکو کورونه ویجاړېږي اقتصادي سرچینې مو د بربادۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال کې دي، ماشومان مو يتيمان کېږي او بشري ځواك مو د له منځه تلو په حال کې دی.

بې اعتمادي او دښمني زموږ د بدمرغيو اصلي سبب دی. موږ په دې باور يو چې د افغانستان ستونزه پوځي حل نه لري، يوازينۍ حل لاره تفاهم او سوله ده. (...) نو راځئ چې لاسونه سره ورکړو، د جهاد لاسته راوړنې او حرمت خوندي کړو او خپل مظلوم او مجاهد ولس ته دا حق ورکړو چې خپل برخليك پخپله وټاکي. (...) گوښه کړای شوی افغانستان گاونډيو، مسلمانو هېوادونو او نورې نړۍ ته خطرناك دی. دغه ټولې ستونزې د جوړ جاړي، مشترك کار، اعتماد او بالاخره د لويې جرگې په جوړولو حل لارې پيدا کولای شي. د لويې جرگې په بريا کې د طالبانو تحريك، متحدې جبهې او ټولو سوله خوښوونکيو افغانانو رول ډېر مهم دی. هيله ده دوی په دې لار کې د دې واقعيت په درك کولو سره داسې گامونه اوچت کړي چې د افغانستان په تاريخ کې د دوی د وياړ په توگه ثبت شي. (...) »

ښخوا هم د ښاغلي گيلاني دريځ همدغه ؤ. کله چې د طالبانو تحريك کندهار ونيو او د واکمنۍ ساحه يې ورځ په ورځ پراخېدله، له جهادي مشرانو څخه درې تنه، مولوي محمد نبي، مولوي محمد يونس خالص او پير سيد احمد گيلاني کندهار ته لاړل او د طالبانو د تحريك له مشر ملا محمد عمر سره يې وليدل. هغه مهال ښاغلي گيلاني ملا محمد عمر ته وړانديز کړی ؤ چې لويه جرگه دايره کړي او هڅه دې وکړي چې ټول افغانان داسې په واك کې شريك کړي چې څوك په نظام کې د محروميت احساس و نه کړي. خو متأسفانه دغه کار د طالبانو د حکومت تر پايه پورې و نه شو! ما په هغه مرکه کې چې پر ۱۹۹۹ کال کې په کابل کې د طالبانو د اطلاعاتو او کلتور له وزير امير خان متقي سره د وطن مجلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وکړه، له هغه د لويې جرګې په اړه پوښتنه وکړه. هغه په ځواب کې را ته وويل: «(...) هغه کسان اوسمهال لويه جرګه غواړي چې له ولس نه لرې شوي دي. (...)» هغه د طالبانو له حکومت نه د باندې هر ډول سياسي هڅې د ولس لپاره توطيه وبلله او وې ويل چې تر دوه زره تنو زيات عالمان په کندهار کې را ټول شول او اميرالمؤمنين يې وټاکه. هغه څه چې د تاريخ په اوږدو کې لويو جرګو ترسره کړي دي، په همدې دليل نوموړي د بلې لويې جرګې جوړول بې ضرورته او بې ځايه وبلل. د هرې ورځې په تېرېدو چې د روم او قبرس پروسو خپله ناتواني او کمزوري ښودله د افغانانو او بهرنيانو پام «ټولنې» ته زيات ور واوښت. ټولنې ته د استاد رباني پيغامونه هم ډېر هڅوونکي وو.

## کابل ته سفرونه

د طالبانو تحريك چې کله سياسي صحنې ته راغی د جګړې پر ډګر يې پام‌وړ پرمختګونه وکړل خو پر دې و نه توانېدل چې د کابل پر نيولو سربېره د استاد رباني حکومت بشپړ له منځه يوسي. ولسمشر برهان الدين رباني، صدراعظم ګلبدين حکمتيار، د دفاع وزير احمد شاه مسعود او د حکومت نور جګپوړي غړي د طالبانو له ننوتلو مخکې د ۱۹۹۶ کال د سپتمبر پر ۲۶ مه له کابل نه ووتل او د پنجشېر او شمال په لور شا ته لاړل. لوېديز هېوادونه په تېره د امريکا متحده ايالات چې په لومړيو کې د طالبانو د ملاتړ ګومان پرې کېده د کابل له نيولو وروسته د طالبانو پر توندو مخالفينو بدل شول. دغه مخالفت له استخباراتي لوبو سره جوخت د دې سبب شو چې طالبان نور هم توندلاري شي او د دوی مهم شخصيتونه يې د پاکستان غېږې ته ور وغورځول. او بيا په تېره د سپتمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ۱۱ مې وروسته پېښو وښودله چې د افغانستان په اړه د امریکا د هغه مهال سیاست د بې علاقه‌گۍ، له طالبانو سره په داسې بڼه مخالفت چې حکومت یې رسمیت او مسوولیت و نه مونډلای شي او له پاکستان سره په گډه د استخباراتي لوبو گډوله سیاست ؤ چې د منظم پروگرام له مخې عملي کېدو څو بالاخره د دې زمینه برابره شي چې امریکا زموږ په هېواد کې نېغ په نېغه پوځي مداخله وکړي، خو په دې منځ کې بنستیز زیان زموږ ولس او دولت ته واوښت. د طالبانو د حساب وړ پوځي پرمختگونو تر پایه هېڅ درد دوا نه کړ بلکې د خلکو په منځ کې یې اختلاف واچاوه، له نهیلۍ او بې وزلۍ پرته یې د هېواد خلکو ته بله پایله نه درلوده.

دا روښانه ده چې د استاد رباني تر مشرتابه لاندې حکومت چې کومه گډوډي او انارشي راوسته، هغه د مجاهدینو د کورنۍ جگړې له دوام سره د طالبانو د تحریك د راپورته کېدو سبب شوې وه.

«د سولې او ملي یووالي ټولنه» د پیر سید احمد گیلاني په مشرۍ د مجاهدینو په خپلمنځي جگړې کې ښکېل نه وه، د دې پلوي وه چې د لویې جرگې له لارې د ټولو ډلو په گډون یو حکومت جوړ شي.

البته که طالبانو له دې طرحې سره توافق کړی وای نو په طبیعي ډول به یې د واك لویه ونډه په لاس کې پاتې وه، ځکه چې دوی د شمال له څو گوټو په شمار ولایتونو پرته پر ټول افغانستان حاکمیت درلود.

یوه پراخ حکومت ته د طالبانو د رابللو او د واك د انحصار د پایته رسولو لپاره موږ هېواد ته سفرونه وکړل. هر ځل مو په دغو سفرونو کې د پلاوي مشري د پیر صاحب مشر زوی سید حامد گیلاني کوله.

لومړی سفر مو د ۲۰۰۱ کال په پسرلي کې جلال‌اباد ته ؤ. ټاکل شوې وه چې په دې سفر کې د ننگرهار له والي او د ختیځ زون له تنظیمیه رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د وزیرانو شورا له مرستیال مولوي عبدالکبیر او د ده له مرستیال مولوي صدراعظم سره وګورو.

سهار له پېښوره وخوځېدو. چې د تورخم له دروازې تېر شوو د طالبانو یو شمېر ملکي او پوځي چارواکیو زموږ هرکلی وکړ. د دوی له ډلې شېر خان چې د طالبانو د یوې قطعې مسوول او پخوا د ملي اسلامي محاذ غړی و، موږ یې له خپلو یو شمېر وسله‌والو سره د جلال‌اباد تر ارګه بدرګه کړو، د لارې په اوږدو کې له تورخم تر جلال‌اباده په غونډیو وسله‌وال کسان لیدل کېدل چې زموږ د وړوکي کاروان د امنیت د ساتنې لپاره ولاړ وو. طالبانو زموږ د اوسېدو لپاره د جلال‌اباد ماڼۍ یا ارګ غوره کړی ؤ. ما دغه ښکلې ماڼۍ او لوی بڼ یې د لومړي ځل لپاره لیدل. ښایي په ماشومتوب کې هغه مهال چې موږ په جلال‌اباد کې کور درلود او ژمی به مو هلته تېراوه د ارګ بڼ ته راغلی وم خو ماڼۍ مې دننه هېڅ نه وه لیدلې. د دې ودانۍ اصلي برخه د عبدالرحمان خان د واکمنۍ پر مهال جوړه شوې وه. وروسته یې د ظاهرشاه پر مهال نورې برخې پرې ور زیاتې کړې وې او هغه یې د ورځې په ضروري وسایلو سنبال کړې وه. د امیر عبدالرحمان د وخت اصلي تالارونو دېوالونه په نقاشۍ او میناتورۍ ښکلي شوي وو او د ارګ د باغچې کوټۍ ته ډېر ورته وو چې تر هغه وخته ما هغه هم نه وه لیدلې. د اوبو او برېښنا نشتوالی او د تشنابونو له کاره لوېدلو د طالبانو د حکومتولۍ د بې پروایۍ کیسې کولې. د ارګ بڼ د مغولي بڼونو په بڼه ؤ چې ونې او لارې یې ډېر منظمې جوړې شوې وې او په منځ کې یې د اوبو حوض ؤ چې پر سر یې چت درېدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلال‌اباد خوږبويه فضا ما ته د خپل ماشومتوب خاطرې را يادې کړې. خو د ارگ او بڼ شړېدلي حالت چې هېڅ پاملرنه ورته نه وه شوې د هېواد د عامې وضعې څېره ښودله چې د هر انسان زړه يې ماتاوه او نهيلی کاوه يې. په پام کې وه چې د شپې ډوډۍ پر مهال له مولوي عبدالکبير او مولوي صدراعظم سره ليده کاته ولرو، هغوی احوال راکړی ؤ چې ليدو ته مو راځي. وروسته احوال راغی چې د شپې له ډوډۍ وروسته راځي، ډوډۍ وخوړل شوه، له څو ساعتونو تېرېدو وروسته مولوي صدراعظم راغی او د خپل آمر مولوي عبدالکبير عذر يې وغوښت. گواکې نوموړی په څه ضروري کار بوخت ؤ او و يې نشو کړای چې جلال‌اباد ته راشي. مولوي صدراعظم يو وچوړی د ژيړې بږيرې خاوند سړی ؤ. هغه لږ خبرې کولې. په دې ليدو کې څه مهمې خبرې و نه شوې. زموږ د پلاوي مشر او غړيو دوی ته د هېواد وضعه تشريح کړه او په حکومتولۍ کې يې د ټولو افغانانو د شريکېدو خبره وکړه.

سبا ته له چايو وروسته ښار ته ووتو. د غازي امان الله خان قبر ته لاړو او دعا مو وکړه، زه لاړم چې له کلونو وروسته د ماشومتوب د يادونو لپاره خپل کور ووينم چې مرستون ته مخامخ ؤ او پخوا مو پلورلی ؤ.

حيران شوم گورم چې آن دروازه يې په هماغه پخواني شنه رنگ پاتې وه او د دومره کلونو په بهير کې چا نه ؤ ترميم کړی.

له مولوي صدراعظم سره مو ژمنه پر دې شوه چې اړيکې به سره ساتو او د زياتو خبرو لپاره بايد کابل ته لاړ شو چې د طالبانو د تحريك او حکومت له نورو مشرانو سره خبرې اترې وکړو.

د جلال‌اباد په سفر کې استاد دين محمد گران، وکيل اکبرزی، عبيدالله برهاني او يو شمېر نورو برخه درلوده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۱ کال د اگست په نیمايي کې د پېښور د پرل کانټيننټل هوټل له غونډې ورسته مو کابل ته سفر وکړ. په دې سفر کې هم مخکني ياد شوي کسان شامل وو. د قوماندان شېر خان وسله‌وال کسان او د طالبانو يو شمېر چارواکي تورخم ته زموږ هرکلي ته راغلي وو.

دې ته په پام چې لاره ډېره خرابه او کنډوکپر وه له جلال‌اباد تر کابله په څو ساعتونو کې ورسېدو. حکومت انترکانټيننټل هوټل زموږ د اوسېدو لپاره په پام کې نيولی ؤ.

انترکانټيننټل هوټل غمونکی حالت درلود، له پينځه ستوري هوټل سره يې هېڅ ورته والی نه درلود، تر ډېره د کابل د عادي مېلمستونونو په څېر ؤ.

د خوب چپرکټونه او د تشناب وسايل زاړه او وراسته شوي وو، خدمتگاران او کارکوونکي يې له اوږدو بږيرو سره په خيرنو او زړو دريشيو کې گرځېدل. شپه تېره شوه، د چايو لپاره ټول په لومړي پوړ کې رستورانت ته راټول شوو. خدمتگارانو ډېره صميمانه مېلمه پالنه کوله. خو سهار چای د حکومتي واکمنو له سليقې او د هېواد له بې وزلۍ کېسې کولې. پاکستاني جوس چې په پاکستان کې يې زياتره ماشومان څښي، د ملايي له پاکټونو، د ډوډۍ له ټوټو او چای او بورې سره يې د ميز پر سر کېښودل. په هوټل کې د اوسېدو پر مهال مو له يو دوو مېلمنو پرته څوك و نه ليدل. دوه ځله مو داسې کسان وليدل چې د طالبانو امنيتي يا ملکي چارواکي به وو او څو تنو به بدرگه کول. د طالبانو يو گروپ تل هلته اوسېدو چې د هوټل د امنيت مسووليت يې پر غاړه ؤ. د هغوی قوماندان د حوض چارې هم اداره کولې. هره ورځ يو شمېر طالبان او يا عادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك هلته راتلل او له پېرسوليو پرتوګونو سره به يې د هوټل په حوض کې لامبو وهله. په هوټل کې د هغو طالبانو له شور پرته چې کله کله به يې له يو بل سره ټوکې او خنداوې کولې نور هېڅ غږ نه اورېدل کېدو. د هوټل پخواني کارګران ډېر خپه او بې وزلي ښکارېدل. زه او استاد دين محمد ګران په يوه دوه نفره اطاق کې اوسېدو. يوه ورځ مې د هوټل په لابي کې د استخباراتو مشر قاري احمدالله او د هغه کسان وليدل، نوموړی د جګ قد او ښکلې څېرې خاوند ؤ. له سيد حامد ګيلاني سره د ليدو لپاره راغلی ؤ. په دې ليدنه کې د پلاوي بل چا ګډون نه درلود، د ملاقات د تفصيل په اړه هم موږ ته معلومات را نه کړای شو. د دغه پينځه ورځني سفر په بهير کې يو ځل د ملي امنيت رياست ته لاړو او د دغه رياست له مرستيال مولوي محمد وثيق سره مو وليدل، تر ټولو مهمه ليدنه مو د سفر پر وروستۍ ورځ وه. د اګست پر ۲۳مه پلاوی ارګ ته لاړ او د سرپرستې شورا له مرستيال ملا محمد حسن سره يې وليدل. نوموړي د ملا محمد رباني پر ځای د دولتي چارو سرپرستي کوله. دغه ليدنه په ارګ کې په هغه ودانۍ کې ترسره شوه چې د دې کرښو د ليکلو پر مهال د ملي امنيت شورا دفتر پکې دی او د ګلخانې ماڼۍ شا ته ده.

ملا محمد حسن اخوند سپينه لونګۍ پر سر کړې وه او د خپل کار د ميز شا ته يې په يو نفره کوچ کې چې يو شين رنګه جاينماز هم پرې غوړېدلی ؤ ډډه اچولې وه. د اطاق دواړو لوريو ته عادي کرسۍ ايښې وې چې مخې ته يې مېزونه پراته وو، څلور پينځه تنه د ملا صاحب همکاران هم پر کرسيو ناست وو او په بحث کې شريك وو. يوه تن يې له ډيجيټل تيلفون سره لوبې کولې، ناڅاپه يې ګوته د تيلفون پر لاوډسپيکر ولګېده، د غږ له اوچتېدو سره يې زموږ مجلس چې هسې هم چندان تود نه ؤ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شېبو لپاره ګډوډ کړ. په دې مجلس کې ما (لیکوال)، استاد دین محمد ګران او ډاکتر عبیدالله برهاني د سید حامد ګیلاني ملګرتیا کوله. د پلاوي رییس ښاغلي حامد ګیلاني ملا محمد حسن اخوند ته وویل:
«(...) له وضعې ښکاري چې امریکایان به په افغانستان کې یو څه وکړي. داسې ېښېنه نشي چې دا نن چې موږ او تاسو دلته ناست یو او له یو بل سره روغبړ کوو بیا به یو بل پیدا نه کړای شو. بندیزونو او ستونزو عام خلك ډېر په عذاب کړي، خلك ډوډۍ نه لري، ډېر بې وزله شوي دي، زه دغه خبرې د دې لپاره کوم چې زموږ (مجاهدینو) پر سر دغه تجربه تېره شوې ده، موږ غواړو له تاسو سره مرسته وکړو، متخصص کسان راولو او ستاسو له حکومت سره مرسته وکړو چې د افغانانو او نړیوالو لپاره د منلو وړ شئ او له نړۍ سره د تفاهم ژبه پیدا کړئ. اوس چې کوم وضعیت دی نړیوالو ته د منلو نه دی، موږ له تاسو سره همکار یو چې په ګډه یو وړ حکومت جوړ کړو. (...)»
د سید حامد ګیلاني له خبرو اورېدو وروسته ملا محمد حسن اخوند د زردالیو او الوګانو ډکو قابونو ته چې تازه یې راوړي او زموږ مخې ته ایښي وو چې اوبه ترې څڅېدلې اشاره وکړه وې ویل: «الحمد لله مېوه هم لرو» د اسلام د پیغمبر په زمانه کې چې د مکې مشرکینو مسلمانان شعب ابو طالب ته تبعید کړل خلکو به وچې څرمنې ټوټه کولې او خوړلې یې، موږ الحمد لله هر څه لرو. (...) موږ له امریکا نه وېرېږو چې هر څه یې په وس کې وي لاس یې خلاص» هغه زیاته کړه: ورشئ امریکا ته ووایئ: امریکا ته چیش یې؟ (امریکا ته څه شی یې؟) هر څه دې چې په توان کې وي و یې کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې لیدنې وروسته چې د ملا محمد حسن اخوند له تروش تندي سره له مخامخ کېدو پیل شوه او د ده په وروستۍ ګواښنده خبره پای ته ورسېده موږ د طالبانو د حکومت د سرپرست له دفتره راووتو، په خپلو موټرونو کې چې لاندې ولاړ وو را سپاره شوو او د ارګ له اصلي دروازې را ووتو د ځرخي پله لار مو ونیوله. شاوخوا د غرمې ۱۱بجې وې. بیا مو په څو ساعته مزله د کابل-جلال‌اباد لاره ووهله، شپه مو سرخرود ته ورسوله او د پیر صاحب په کور کې مو سوځنده او ګرمه شپه تېره کړه سبا ته د پېښور په لور وخوځېدو.

دغه سفر زما ټولې هیلې چې د «ټولنې» له فعالېدو سره راسره پیدا شوې وې له خاورو سره برابرې کړې. له ځانه سره مې ویل لکه چې افغانستان نور له لاسه وتلی دی. افغانستان د خاورو په ډېرۍ بدل شوی چې نهیلیو او بې وزلو انسانانو پکې ژوند کاوه. داسې حکومت چې خلکو ته خدمت وکړي نه و. یوازې یوې ډلې وسله‌والو چې نړۍ یې نه پېژندله پر دوی د ټوپک او متروکې په زور حکم چلاوه. بل لوري ته په دغه وچکالۍ ځپلي او له خاورو او دوړو ډکې خاورې کې یو شمېر بهرنیانو چې زیاتره یې عربان وو هم ژوند کاوه. هغوی چې د سوځنده دښتو اوسېدونکي وو له افغانستان نه یې د یوې بې قانونه مرکز په توګه په نړۍ کې د پوځي عملیاتو لپاره کار اخیست. موږ د دوی څو تنه هغه مهال چې پېښور ته تلو د لارې پر سر چې د مولوي محمد یونس خالص لیدو ته ورتلو ولیدل. مولوي یونس خالص دغه مهال ډېر زهیر او بوډا شوی و. نوموړی په خپل خام کور کې چې د مولوي خالص په فامیلیو کې او د جلال‌اباد په هډه سیمه کې و اوسېده. زموږ وړوکي د موټرو کاروان لاره ورکه کړه. دغه مهال یو (ټاون اس) ډوله موټر په وار خطایۍ راپسې راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په افغاني جامو کې خلک پکې سپاره وو. هغوی په عربي او ګوډې ماتې پښتو خبرې کولې. موږ د مولوي خالص د کور پوښتنه ترې وکړه. دوی لاره را وښودله. په لاره کې مو يو کانکريټي کور وليد چې رنګ شوی نه و. چې په هغه وچه دښته کې يې ونې له لرې ښکارېدلې. يو چا وويل دا د اسامه بن لادن کور دی. کومو کسانو چې موږ ته لاره را ښودله د همدې کور ساتونکي وو .

مولوي خالص چې ډېر په زحمت خبرې اورېدې په خپل مېلمستون کې د لرګي په چوکۍ ناست و. شاوخوا ته يې په رنګ الوتو او زړو توشکو خلک راټول وو. داسې ښکارېده چې هغه له وضعې خوښ نه و او هغه څه چې په هېواد کې تېرېدل دی يې اندېښمن کړی و .

مولوي صاحب هيله وښوده چې زموږ هڅې ښې پايلې ولري. له چای او روغبړ وروسته مو ترې رخصت واخيست او د تورخم لاره مو ونيوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سپټمبر پېښې او د بن کنفرانس

### د سپټمبر پېښې

د کابل وروستی سفر او د طالبانو د حکومت له سرپرست سره مو لیدل ډېر مایوسوونکي وو، داسې چې فکر مې کاوه ښايي بيا افغانستان ته رانشم. ورځې تېرېدې او د «تولنې» کاروانه هماغسې روان وو. د سپټمبر پر ۹ مه مهمه پېښه وشوه. خبرونه خپاره شول چې احمدشاه مسعود په تخار کې په یوه چاودنه کې سخت ټپي شوی دی. ویل کېدل چې نوموړی له دوو عربي ژورنالیستانو سره د مرکې پر مهال د فلمبردارۍ کامرې د چاودنې له امله ټپي شوی دی. په دې اړه چې هغه څه ډول ټپي شوی او روغتیايي وضعه یې څنګه ده ضد او نقیض خبرونه خپرېدل.

احمد شاه مسعود د همدې کال د اپرېل پر ۳ مه فرانسې ته سفر وکړ، نوموړي لومړی د فرانسې د بهرنیو چارو له وزیر، د ملي شورا د دواړو مجلسونو له مشرانو او د اروپا د پارلمان له مشرې «مېرمن فانتن» سره لیدلي وو. وروسته بيا بلژيک ته لاړ او د اروپايي اتحادیې د بهرنیو اړیکو له مسوول سره یې ولیدل. احمد شاه مسعود ته د یوه سیاسي مشر په توګه هرکلی وشو. کله چې د فرانسې د پارلمان ودانۍ ته لاړ د اټکل پر خلاف یې هلته وینا ونه کړه، خو د پارلمان د تالار له دوهم پوړ نه یې د پارلمان غړیو ته لاس وخوځاوه، په ځواب کې وکیلان ودرېدل او د ده په ویاړ یې لاسونه وپړکول.

احمد شاه مسعود اروپا ته د سفر پر مهال مرستې وغوښتې بیله دې چې د دې مرستو څرنګوالی معلوم کړي. خو هغه مهال یې چې د پارلمان د کمېسیونونو له یوه غړي سره وکتل، نوموړي په ګیلو خوله خلاصه کړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ویل چې څوک مرسته نه ورسره کوي تر دې چې اوس د خپلو څرخیو الوتکو د ترمیم توان هم نه لري. اروپا ته د احمد شاه مسعود سفر داسې مهال تر سره شو چې نړۍ له طالبانو نه د سترړیا احساس کاوه، سره له دې چې د امریکا متحده ایالاتو د قوماندان احمد شاه مسعود څو پلاویو ته چې هغه هېواد ته یې د واشنګټن د ملاتړ ترلاسه کولو په موخه سفرونه کړي وو هیڅ ځواب نه و ورکړی، خو له لوېدیزوالو سره د طالبانو د بدیل د موندلو خبره اوس ډېره مطرح وه. همدغسې ناخوښي مسعود او د ده نږدې کسان لکه «روان فرهادي» چې په ملګرو ملتونو کې د استاد رباني د حکومت استازی او په فرانسه کې د احمد شاه مسعود ترجمان و دې ته وهڅول چې ووایي: «د یونوکال د تېلو شرکت د طالبانو د جګړې د لګښتونو پیسې ورکوي.»

د مسعود د سفر پر مهال له روم نه یو پلاوی فرانسې ته راغی او ده ته یې د لیدو په ترڅ کې بلنه ورکړه چې له محمد ظاهر شاه سره وګوري، خو دغه وړاندیز د ده لخوا رد شو.

یو شمېر سیاسي شنونکیو هغه مهال ویل چې مسعود غالباً د اروپایي هېوادونو له استخباراتي چارواکیو سره لیدلي دي او د دوی ترمنځ یو لړ تړونونه شوي دي. داسې ښکارېدله چې اروپا د احمد شاه مسعود د پلاوي له څو قومي ترکیب نه یادونه کوله او هغه ته یې د طالبانو د بدیل په نظر کتل. احمد شاه مسعود پخپله هم یو ځل وویل چې په تېر وخت کې د دوی د مشرتابه مشروعیت کمزوری و او تر دې وروسته دی اراده لري چې سیاسي او پوځي مشري دواړه په لاس کې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تخار ولایت په خواجه بهاوالدین کې د سپټمبر د نهمې له پېښې وروسته د احمد شاه مسعود د مرګ او ژوند په اړه ضد او نقیض خبرې کېدې. د برهان الدین رباني له خولې چې ځان یې د افغانستان برحال ولسمشر باله واورېدل شول چې نوموړی په تاجکستان کې هغه روغتون ته ورغلی چې مسعود پکې بستر دی، له هغه سره یې خبرې کړې. استاد رباني هېوادوالو ته د خپل قوماندان د روغتیا په باب ډاډ ورکړ. په داسې حال کې چې وروسته «ستېو کول» امریکایي لیکوال د «CIA» د اسنادو له مخې ولیکل چې د متحدې جبهې پر دې غوښتنې سربېره چې د احمد شاه مسعود د مرګ خبره پټه وساتل شي د امریکا حکومت دغه خبر خپور کړ.
کله چې دغه خبر خپور شو ما د وطن مجلې د هماغې میاشتې د ګڼې په سرمقاله کې د «احمد شاه مسعود: هستی ایکه مانند هستی های دیگر از دست رفت» تر عنوان لاندې داسې ولیکل: «ستر جهادي قوماندان احمد شاه مسعود بالاخره له هغو ټپونو چې ور رسېدلي وو له نړۍ سترګې پټې کړې. هغه څوک چې تر دوو لسیزو زیاته موده د افغانستان د سیاسي او پوځي میدان له اصلي لوبغاړو څخه شمېرل کېدو بالاخره په یوه ځانمرګي برید کې د دوو عربو ژورنالیستانو له خوا ووژل شو. که څه هم د نیویارک او واشنګټن پېښو له تبلیغاتي اړخه پر دغه لویه پېښه سیوری وغوړاوه خو اهمیت یې په هېڅ صورت کم نه کړ. احمد شاه مسعود له هغو استعدادونو څخه و چې افغانې خاورې وخت پر وخت روزلي او نړۍ ته یې وړاندې کړي دي. افغان جهاد وښودله چې د دې خاورې په ګوټ ګوټ کې څه ډول استعدادونه وو او د دې ملت په ماغزو او مټو کې څومره ځواک پټ دی. د دې جهاد په بهیر کې مسعود او نور نومیالي قوماندانان چې تر ده هېڅ کم نه وو زموږ د بشري ارزښتناکې شتمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیثیت وموند. په داسې حال کې چې د احمد شاه مسعود پلویان دې ته هېڅ چمتو نه دي چې څوک له ده سره برابر وبولي. مخالفین یې بیا هغه د هر ډول بدیو سرچینه بولي. د افغانانو دغې ځانګړتیا له جغرافیاوي جوړښت سره لاس ورکړی او د دې سبب شوي چې افغانستان د شتمنیو، استعدادونو او اتلانو له درلودو سره تل له خپلو هستیو څخه بې برخې پاتې شي.

افغانستان د پېښو او حوادثو وطن، اتل پالونکی او د متفکرو ماغزو روزونکی دی، خو پر دې ټولو سربېره بیا هم ظاهراً یو وروسته پاتې هېواد، بې ازښته او د مهمو شخصیتونو څخه تش معرفي شوی دی. دا لومړی ځل نه دی چې افغانستان د نړۍ له سیاسي ډګره ورکېږي. استعدادونه او بشري ځواک یې د دغه او هغه بیرغ لاندې سره تیت او پرک کېږي او اتلان یې په کورنیو جګړو کې ښکېل او د ملي خاینانو او د پردیو جاسوسانو په نامه پېژندل کېږي. نن افغان پوهان په بهرنیو لابراتوارونو کې په ارزښتمنو څېړنو بوخت دي. زموږ د ځوانانو ځواک د ایران او پاکستان په ښارونو کې د کورونو او ودانیو په جوړولو لګول کېږي او د جګړې مېړونه مو په داسې حال کې پخپلو کې سره لوېدلي چې خپل سیال لوری د بهرنیانو په نوکرۍ تورنوي. که یوازې له روسانو او هندوستانیانو سره د تړاو په چوکاټ کې د احمد شاه مسعود شخصیت مطالعه کوو دا به تاریخي تېروتنه وي. هماغسې لکه چې طالبان د پاکستان لاسپوڅي او روزل شوي بلل تېروتنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانان باید د خپلو شخصیتونو په اړه د خپلو قضاوتونو په څرنګوالي کې بدلون راولي. ځکه چې نه شخصیتونه په مطلق ښه او بد وېشل کېږي او نه سیاسي جریانات یوازې تور او یا یوازې سپین دي.
هوکې احمد شاه مسعود د جهاد روزل شوی د افغانستان هستي وه، داسې هستي لکه د نورو په څېر چې د بې تفاوتۍ په دوړو او لوخړو کې هره ورځ زموږ له لاسه وځي او ضایع کېږي. هغه شتمنۍ چې یا په خاورو کې پټېږي او یا د هېواد په ورانولو کې کارول کېږي. موږ افغانان زیات امتیازات لرو، خو ولې په داسې برخلیک اوښتي یو؟ که د هر شي پړه د بهرنیانو پر اوږو ور اچوو دا به د اصلاح او سمون مخه ونیسي او په موږ کې به د بدلون همت او شیمه له منځه یوسي. آیا نور هغه مهال نه دی را رسېدلی چې موږ پخپله فکر وکړو، خپلو نیمګړتیاوو ته پام وکړو او د ځانونو د اصلاح هڅه وکړو؟»
د احمد شاه مسعود له ترور دوې ورځې وروسته د سپټمبر پر یوولسمه د امریکا متحده ایالاتو دننه پېښې وشوې چې د نوموړي ترور پېښه یې تر سیوري لاندې را وسته، په دې ورځ د امریکا د هوایي چلن مسافر وړونکیو الوتکو په واسطه په نیویارک او واشنګټن کې ځانمرګي بریدونه وشول چې تر درې نیم زره زیاتو کسانو د وژنې سبب شول.
د سپټمبر د یوولسمې په ماښام زه د کار له دفتره کور ته راستون شوم، د امریکا له پېښو هېڅ خبر نه وم. پلار مې د تلویزیون په ننداره بوخت و ویل یې:
«سي ان ان» وښودل چې یوه مسافر وړونکې الوتکه د نړیوال سوداګریز مرکز له یوه برج سره ټکر شوه. د همدې خبرو په بهیر کې بله الوتکه راغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



له برج سره ولګېده، وروسته پر پنټاګون برید وشو. په دې ډول هغه پېښې چې د نړیوال بدلون پیل شوې، پېښې شوې.
دا د چا کار و؟ د هغو مسلمانانو کار چې د اسرائیلو پر خلاف یې مبارزه کوله. د القاعده کار و، د اسرائیلي یهودانو کار و او که د امریکا د ښي لاسو توند لارو؟ واشنګټن ډېر زر د سپټمبر د یوولسمې د بریدونو پړه پر القاعده ور واچوله چې مشري یې د اسامه بن لادن پر غاړه وه. نوموړی پر ۱۹۹۶ کال د استاد رباني د حکومت پر مهال له کورنۍ سره له سوډان څخه افغانستان ته راغی او دلته اوسېده.
هماغه و چې د تلپاتې آزادۍ یا Enduring Freedom Operation عملیاتو ته لاره برابره شوه.
د طالبانو او القاعده پر خلاف د امریکا د پوځي عملیاتو له پیل سره ظاهراً هغه اټکلونه او شکونه غلط ښکاره شول چې په افغانستان او مرکزي آسیا کې د امریکا د لویو اقتصادي موخو په اړه را پیدا شوي وو.

## امریکا او د پایپ لاین ډیپلوماسي

«احمد نادر نادري» په هغه لیکنه کې چې د وطن مجلې د ۲۰۰۱ کال د اګست او سپټمبر په ګڼه کې خپره شوه، په افغانستان کې د سترو نفتي کمپنیو پر سیالیو رڼا اچولې چې هرې یوې یې غوښتل د منځنۍ آسیا د تیلو او ګازو سرچینې را وباسي او د افغانستان له لارې یې تېرې کړي. په دې لیکنه کې راغلي چې د ارجنټاین بریډاس (BRIDAS) د تېلو شرکت له ۱۹۹۱ کال راهیسې د افغانستان له لارې د آسیا جنوب او جنوب ختیځ ته د ترکمنستان د ګازو د لېږد نظریه د ترکمنستان له حکومت سره مطرح کړې وه. د هغه پایپ لاین طرحه چې د ترکمنستان غاز یې باید له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې لېږدولی وای د بریډاس رییس «بولګرني» د پاکستان د پټرولیم او طبیعي سرچینو له وزیر «انور سیف الله خان» او د ترکمنستان د تېلو او ګازو د وزارت له مرستیال «نیازوف اوزار» سره په مخامخ ناسته کې د نقشو او چارتونو په مرسته تشریح کړه او د هغو د جوړولو لپاره یې د دوه میلیارد ډالرو وړاندیز وکړ. د امریکا متحده ایالاتو د منځنۍ آسیا له تېلو او ګازو سره علاقه وموندله او د «یونوکال» کلیفورنیایي کمپنۍ یې دې لوبې ته را وړاندې کړه.

«یونوکال» د سعودي عربستان د ملاتړ ترلاسه کولو او د هغوی له لارې پر طالبانو د نفوذ لپاره د سعودي «دلتا اویل» شرکت هم ورسره شریک کړ. یونوکال سره له دې چې په افغانستان کې جګړې دوام درلود په قزاقستان، ازبکستان، ترکمنستان، پاکستان او هند کې دفترونه پرانیستل او د امریکا پخوانی د بهرنیو چارو وزیر «هنري کسینجر» په اسلام‌اباد کې د امریکا پخوانی سفیر «رابرت اوکلي»، «زلمی خلیلزاد» او د قفقاز د چارو یو متخصص د «جان مارسکا» په نوم یې وګومارل. د دې په مقابل کې «بریډاس» د کابل په کلوله پشته کې خپل دفتر پرانیست او د پاکستان د صدراعظمې «بې نظیر بوټو» ملاتړ یې خپل کړ.

په یاده لیکنه کې راغلي دي چې احمد شاه مسعود د «یونوکال» کمپنۍ د طالبانو پلوي بلله او «بریډاس» ته یې ښه نظر درلود. «یونوکال» پر ۱۹۹۷ کال یو نړیوال څواکمن کنسرسیوم جوړ کړ چې د سعودي، جاپان، ترکمنستان، کوریا، پاکستان او روسیې شرکتونه پکې شامل وو، دوی اعلان کړه چې د هغه پایپ لاین کار به چې تر هند پورې به وغځول شي پر ۱۹۹۸ کال پیل او تر ۲۰۰۱ کال پورې بشپړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې طالبانو له «بریډاس» کمپنۍ سره په کابل کې هوکړه لیک لاسلیک کړ او د هغو د وروستي کولو لپاره ارجنټاین ته روان وو، د پاکستان پوځي استخباراتو پر دوی فشار راوړ چې لومړی د امریکا متحده ایالاتو ته سفر وکړي. هماغه و چې د طالبانو یو پینځه کسیز پلاوی د «ملا محمد غوث» په مشرۍ تکزاس ته لاړ خو ناکام راستون شو. په داسې حال کې چې ترکمنستان امریکایي شرکت د قرارداد ګټونکی اعلان کړ.

یونوکال پر ۱۹۹۶ کال د طالبانو په لاس د کابل نیولو هرکلی وکړ، ځکه دغه شرکت په دې باور و چې دا کار به د پایپ لاین د غځولو لګښت را ټیټ کړي. «یونوکال» او «دلتا اویل» د پایپ لاین غځولو پروژه افغانستان ته د سولې را وستونکې بلله او د WFP سازمان له لارې یې د پایپ لاین په بهیر کې د ماین پاکۍ له پروژو سره د ونډې اخیستلو، د بشري مرستو برابرولو او د کار د پیل لپاره د زمینې برابرولو هڅې پیل کړې.

«یونوکال» پر ۱۹۹۷ کال په نبراسکا پوهنتون کې د افغانستان د مطالعاتو مرکز په چوکاټ کې د نهه سوه لکه ډالرو په لګښت پروژه پیل کړه. د دې پروژې موخه د ملکي زده کړو او روزنې پروګرام و چې څلور سوه تنو افغانانو ته د برېښنا، ترکاڼۍ او نورو څانګو روزنه ورکړي چې د پایپ لاین په جوړولو کې ورته ضروري بلل کېدل.

د یادونې ده چې د سپټمبر د یوولسمې له پېښو مخکې، د ۱۹۹۸ کال په اګست کې پر افغانستان د امریکا توغندویي بریدونو او د طالبانو پر حکومت د بندیزونو لګولو د پایپ لاین دغه پروژه له جدي ستونزو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ کړې وه. «یونوکال» په همدې کال له کنسرسیوم نه ووت او مشري یې «دلتا اویل» په لاس کې واخیستله.

د ۲۰۰۱ کال د فبروري په میاشت کې یانې جورج بوش ته د امریکا حکومتي ادارې له سپارل کېدو ۱۵ ورځې وروسته د «لیلا هلمز» افغان توکمې اوس د CIA د پخواني مشر «ریچارد هلمز» مېرمن په هڅو «رحمت الله هاشمي» د «ملا محمد عمر مجاهد» ځانګړی استازی واشنګټن ته لاړ چې د امریکا له نوي حکومت سره د خبرو لړۍ پیل کړي.

د امریکا نوې حکومتي اداره د «بل کلنتن» تر ادارې زیاته د تېلو د نړۍ له کړیو سره نږدې وه. پخپله «جورج ډبلیو بوش» چې پخوا د تکزاس والي و او د ده کورنۍ له دې کړیو سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې. زیاتره د شاوخوا کسانو یې دغه اړیکې درلودې. د ساري په توګه د ده مرستیال «ډېک چیني» د ملي امنیت نوې سلاکاره «کنډولیزا رایس»، «دونا ایوانس»، «سپانسر ابراهام»، «کارتین کوهر» او «زلمی خلیلزاد» له هغو کسانو څخه وو چې د ګازو او تېلو په ساحه کې یې فعالیت کاوه. د ساري په توګه «ډېک چیني» اوږده موده د «هالیبرتون» شرکت مشر و، «کنډولیزا رایس» پوره نهه کاله له «شیورون» شرکت سره کار کړی و او «زلمي خلیلزاد» له ۱۹۹۵ کال څخه تر ۱۹۹۸ پورې د «یونوکال» شرکت سلاکار و او د پایپ لاین د جوړولو په تړاو یې له طالبانو سره څو ځله خبرې کړې وې.

«ژان شارل بریزارد» او «ګیوم داسکبي» د «بن لادن ممنوعه حقیقت» کتاب لیکوالانو لیکلي وو چې د «جورج بوش» ادارې د سپټمبر د یوولسمې له پېښو مخکې د «اف بي آی» د ترهګرۍ ضد فعالیتونو مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولې وه، ځکه چې حکومت یې له طالبانو سره د یوې لویې معاملې پر سر خبرې کولې. دغه خبرې اترې زیاتره د تېلو د لویو شرکتونو تر فشار لاندې تر سره کېدلې. خو له ۱۹۹۸ کاله امریکایان پر دې باوري شوي وو چې د طالبانو بشپړه بریا ناشونې ده، ځکه خو واشنګټن په خبرو اترو کې پر دوو ټکیو ټینګار کاوه:

یو د اسامه بن لادن سپارل، دوهم د یوه پراخ بنسټه حکومت جوړول. خو د امریکایانو په اند به په دې حکومت کې طالبانو د «زمري ونډه» درلوداي. په دې لړ کې وروستۍ اړیکه د ۲۰۰۱ کال د اګست پر دوهمه د بهرنیو چارو د نوې مرستیالې «کریستینا روکا» چې د CIA پخوانۍ ماموره وه او په اسلام‌اباد کې د طالبانو د سفیر «ملا عبدالسلام ضعیف» ترمنځ وشوه. چې یو ځل بیا د اسامه بن لادن د سپارلو، د لویې جرګې د جوړولو او د ظاهر شاه د ونډې په اړه خبرې پکې مطرح شوې.

بل لوري ته ملګرو ملتونو سازمان د خپل استازي «فرانسس ویندرل» له لوري په دې برخه کې فعال و. نوموړي پر دې سربېره دا هڅې کولې چې د روم او قبرس پروسې هم سره نږدې کړي. د همدې لپاره د ۲۰۰۱ کال د جولای له ۱۷ مې تر ۲۰مې په برلین کې یوه غونډه جوړه شوه، امریکایانو په دې غونډه کې ژمنه وکړه چې د یوه پراخ بنسټه حکومت له جوړېدو سره به افغانستان ته زیاتې نړیوالې مرستې پیل او د پایپ لاین غځولو کار به شروع کړي. خو «نیاز نایک» چې په دې غونډه کې د پاکستان استازیتوب کاوه د امریکا استازي سفیر «تام سیمون» له قوله وویل چې که داسې ونشي نو امریکا چمتو ده چې پوځي ځواک وکاروي. دا په دې مانا ده چې واشنګټن د سپټمبر د یوولسمې له پېښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا هم د دې امکان لیدو چې په افغانستان کې مداخله وکړي او د طالبانو پر خلاف له ځواکه کار واخلي.
په هر صورت د سپټمبر پېښې دا هر څه ګډوډ کړل او ظاهراً یې د منځنۍ آسیا د انرژۍ له سرچینو سره د امریکا په ډېره لېوالتیا پرده واچوله. د سپټمبر د یوولسمې له پېښو وروسته په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو پوځي شتون ظاهراً له منځنۍ آسیا سره هېڅ تړاو نه درلود. ځکه دوی د القاعده د ترهګرو مرکزونو او د هغوی د ملاتړو د طالبانو حکومت له منځه وړلو لپاره دلته راغلي وو. د سپټمبر د یوولسمې پېښو چې کومه عاطفي څپه رامنځته کړه د دې سبب شوه چې آن د امریکا مخالف هېوادونه هم له دې هېواد سره ملګرتیا ته چمتو شي.
په دې ډول یې له ټولې نړۍ سره په توافق د یوه «مشروع» هدف ترلاسه کولو لپاره خپل پوځونه افغانستان ته را وستل.

## اسامه داسې زوی چې له نورو سره یې توپیر درلود

اسامه بن محمد بن عواد بن لادن پر ۱۹۵۵ کال وزیږېد. نوموړی د سعودي عربستان د یوې شتمنې کورنۍ د ۲۰ تنو زامنو تر ټولو ځوان زوی و. د بن لادن پلار د یمن و چې سعودي عربستان ته لاړ او هلته مېشت شو. نوموړي د یوه ودانیز شرکت د جوړولو له لارې زیاته شتمني وګټله.
د اسامه پلار پر ۱۹٦۸ کال د یوې هلیکوپترې د لوېدو په پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.
اسامه خپلې زده کړې د ملک عبدالعزیز په پوهنتون کې پر ۱۹۷۹ کال بشپړې کړې. په همدې کال دریو مهمو پېښو اسامه ته جټکې ورکړې. یو د مصر او اسرائیلو ترمنځ د سولې تړون، دوهم د شوروي پوځونو لخوا پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان یرغل او د هغو خلاف د افغان ولس جهاد، درېیم د ایران د اسلامي انقلاب بریا او د پاچا را نسکورېدل.
اسامه له «القدس العربي» ورځپاڼې سره په یوه مرکه کې ویلي وو چې د سرو پوځونو لخوا د افغانستان نیولو دی دومره په غوسه او خپه کړ چې تصمیم یې ونیو دغه هېواد ته لاړ شي او د شوروي پوځونو پر خلاف جهاد وکړي. اسامه پر ۱۹۸۴ کال په پېښور کې ځای پر ځای شو. نوموړي د «سعودي» په نامه شهرت وموند. انجنیر اسامه بلدوزرونه او نور درانه وسایل له بهر نه راوړل او د ډېورنډ کرښې په اوږدو کې یې د افغانستان په اسمانڅکو غرونو کې پخې سمڅې، مورچلونه او د وسلو زیرمتونونه جوړ کړل. ما د پکتیا ولایت د ځاځیو په غرونو کې یو د وسلو زیرمتون او یو روغتون ولیدل چې د ځوانو عربانو لخوا جوړ شوي وو. لویې لارۍ هغو ته ورننوتلای شوای. د غره په زړه کې جوړ شوی روغتون ښه په وسایلو سنبال و او کوټې یې ټولې په کاشیو فرش وې.
«ماري ان ویور» په نیویارکر ورځپاڼه کې ولیکل: «اسامه په منظم ډول د سوډان د اسلامپالي حکومت متفکر مغز حسن ترابي لیدو ته ورتلو او وخت پر وخت یې د پاکستان له پوځي واکمن جنرال ضیا الحق سره د شپې ډوډۍ خوړله.» (...) اسامه د مجاهدینو له مشرانو او «شیخ عمر عبدالرحمن مصري» سره هم اړیکې درلودې (...) هغه ځوان عربان چې د جهاد په مینه پېښور ته راغلي وو هره میاشت یې له ۲۰ تر ۲۵ میلیون ډالرو پورې مرستې مجاهدینو ته راټولولې (...)
اسامه پر ۱۹۸۹ کال یانې هغه مهال چې شوروي پوځونه له افغانستانه ووتل جدې ته راغی او د خپلې کورنۍ په کاروباري ټولواکۍ کې ببرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوخت شو (...) نوموړی د عربستان د دوو مذهبي څېرو «شېخ سفر حوالي» او «شېخ سلمان عوده» تر اغېز لاندې و چې انقلابي نظريات يې درلودل او د همدې نظرياتو په رڼا کې يې سياسي فعاليت کاوه تر دې چې د سعودي شاهي کورنۍ پر ۱۹۹۱ کال د ده د ايستلو پرېکړه وکړه.
اسامه له سعودي عربستان نه سوډان ته پناه يووړه او پينځه کاله هلته پاتې شو. نوموړي د سوډان په شمال کې درې پوځي روزونکي مرکزونه جوړ کړل او د دې لاره يې برابره کړه چې د افغانستان په جهاد کې ګډونوال پينځه سوه تنه ځوان عربان هلته بوځي. پر ۱۹۹٦ کال د عربستان په فشار سوډان له اسامه نه وغوښتل چې د دوی له هېواده ووځي. نوموړی د استاد رباني د حکومت پر مهال له خپلو څلورو مېرمنو او اولادونو او شاوخوا سل تنو پلويانو سره په دوو الوتکو کې افغانستان ته راغی. (...)»
د سپټمبر يوولسمې له پېښې وروسته «ملا محمد عمر مجاهد» پرېکړه وکړه چې که يې د تاج او تخت د نسکورېدو په بيه تمام شي هم اسامه بن لادن به وساتي، هماغه و چې افغانستان د امريکايي ځواکونو تر يرغل لاندې راغی.
د طالبانو حکومت د توغنديو او بمونو تر باران لاندې وروستۍ ساه اخيستله او د طالبانو پر خلاف نوې پيل شوې جګړې په زرګونو ځوانان د مرګ کومي ته وغورځول، اسامه بن لادن د سپټمبر له يوولسمې وروسته خپله لومړنۍ وينا خپره کړه. دغه وينا چې په نړيوالو رسنيو کې خپره شوه د يوې غرنۍ سيمې په پټنځای کې ثبت شوې وه. د لوېديزو رسنيو په تبصرو کې يې دغه ځای په قوي احتمال د «تورې بوړې» غرونه ښودلي وو. اسامه په دې وينا کې له سره تر پايه د الهي کسات خبره وکړه او د امريکا او اسرائيلو ظلمونه يې ياد کړل. نوموړي د فلسطين قربانۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزې څو ځله يادې کړې، خو د افغانستان په باره کې او د افغان ولس د قربانيو په باب يې يوه خبره هم ونه کړه. هغه ولس چې اوس يې عملاً په خپلو سرونو او مالونو د ده د ساتنې درنه بيه ادا کوله.

## د بن کنفرانس

د سپټمبر له ۱۱ مې وروسته پېښې په حيرانوونکې بڼه ګړندۍ شوې، ډېر په چټکۍ استخباراتي، سياسي، پوځي او رسنيز فعاليتونه پر افغانستان متمرکز شول. په رسنيزه برخه کې دومره بېروبار و تا به ويل چې پر پېښور او اسلام‌اباد د لوېديزو خبريالانو باران اورېدلی دی. په استخباراتي برخه کې «ستيو کول» امريکايي ليکوال په خپل اثر «اس رياست» کې ليکي چې د «CIA» لومړنی د اړيکو ټيم د «ګيري شيروين» په مديريت د سپټمبر پر ۲۶ مه د څرخي الوتکې په واسطه د پنجشېر درې ته ورسېد او هلته ځای پر ځای شو. سهار ورځپاڼې، يوازينۍ افغاني ورځپاڼه چې په پېښور کې چاپېدله د سپټمبر پر ۲۳ مې او ۲۴ مې ګڼې کې د هېواد په شمال ولايتونو کې د سلګونو طالبانو د وژل کېدو خبرونه خپاره کړل. دغه وژنې زياتره د جنرال عبدالرشيد دوستم د وسله‌والو لخوا ترسره کېدلې. نوموړی هم د امريکا او «CIA» له ښه ملاتړ او مرستو څخه برخمن و. په دې ډول د هېواد په شمال ولايتونو کې د طالبانو تصفيه ډېره چټکه پيل شوه.

په سياسي ډګر کې د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه پيروان، استاد رباني او متحده جبهه، ايران ته نږدې د قبرس پروسه او د پير سيد احمد ګيلاني په مشرۍ د سولې او ملي يووالي ټولنه، امريکا او انګلستان ته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونو لکه «حامد کرزی» او «قوماندان عبدالحق» ټول لاس په کار شول او هر یوه له فرصت څخه د ګټې پورته کولو هڅه پیل کړه.
پاکستان د تورن له دریځه په ستونزمنه وضعه کې و. یادېږي مې چې د بن په کنفرانس کې چې د نومبر د میاشتې په وروستیو کې جوړ شو د دې هېواد استازی له سپکاوي سره مخ او ګوښه شوی و. تر دې پورې چې د ډوډۍ په میز به څوک یو ځای ورسره نه کېناستل.
د امریکایانو ملاتړ د استاد رباني په پرتله له جنرال عبدالرشید دوستم، نظار شورا او د شمال د متحدې جبهې له نورو قوماندانو سره ډېر و. په شمال کې د طالبانو عامې وژنې په وحشیانه ډول دوام درلود او د هغوی د واک لمنه ډېره چټکه له هغه لوري را ټوله شوه. د شمال جبهې په لاس د کابل بیا لوېدل د یوه وېروونکي خوب په څېر خلک ځورول. دغې جبهې په خلکو کې ښې خاطرې نه وې پرېښې. د دې وېره وه چې امریکایان د طالبانو حکومت را نسکور کړي، خپل دښمنان وځپي او یا یې ونیسي او بېرته له افغانستان نه خپل هېواد ته ستانه شي او دلته انارشي او ملوک الطوایفي پرېږدي. افغانانو غوښتل چې د طالبانو له را نسکورېدو سره یو نوی پړاو پیل شي او هېواد یې بالاخره د قانون او نظام خاوند شي.
کابل ته د استاد رباني د ادارې بېل بېل لوري یو څه وځنډېدل. بېل بېل اسناد ښيي چې په دې بهیر کې امریکایانو له مختلفو لارو له طالبانو سره اړیکې درلودې. د پاکستان رول په دې ډګر کې ډېر روښانه و. پاکستان ګواکې هڅه کوله چې د امریکا او طالبانو ترمنځ یو ډول تفاهم راشي تر څو دغه ډله بشپړه له صحنې څخه و نه وځي، خو له دې سره هممهال یې هڅه کوله چې وضعه داسې اداره کړي چې «خطر» په یوه «فرصت» بدل کړي او له یوې نوې لارې ځان خپلو ستراتېژکو موخو ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاکستان نه پلاوي کندهار ته لاړل چې ملا محمد عمر له امریکا سره معاملې ته قانع کړي. لومړنی پلاوی د «ISI» د مشر «جنرال محمود احمد» په مشرتابه کندهار ته لاړ او د طالبانو له مشر سره يې خبرې وکړې. «عبدالحی مطمئن» د ملا محمد عمر وياند په خپل اثر «ملا محمد عمر، طالبان او افغانستان» کې لیکي... دغه مهال د ISI رییس جنرال محمود احمد کندهار ته راغی. د امارت د دفتر په نوې ودانۍ کې يې له ملا محمد عمر سره وکتل. په دې ناسته کې د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو رییس عبدالغفور افغاني د ژباړن دنده درلوده.... جنرال محمود د خپلو خبرو په لړ کې وویل: امریکا یو ډېر لوی اقتصادي او نظامي ځواک دی. دې سیمې ته د راتلو لپاره پلمې لټوي، له هرې لارې چې کېدای شي باید دغه پلمه په لاس ور نکړای شي. (...)
په دې ملاقات کې ملا محمد عمر پاکستاني جنرال ته ویلي وو چې امریکا له ډېرې مودې راهیسې له واکه د طالبانو د رانسکورولو هڅه کوي اوس د زور او ځواک کارولو خبرې کوي، ځکه خو طالبان له دې پرته بله چاره نه لري چې تر خپله وسه له ځانه دفاع وکړي.
د پاکستانیانو دوهم پلاوی د دیني علماؤ او پوهانو ګډ پلاوی و. عبدالحی مطمئن په هماغه اثر کې لیکي: «... په دې پلاوي کې د پاکستان د وفاق المدارس مسوول مولانا سلیم الله خان، شیخ الحدیث مولانا حسن جان، مولانا محمد تقي عثماني او مولانا شېر علي شاه شامل وو...» په دې ناسته کې هم ملا محمد عمر پر پخواني دریځ ولاړ و، د هغه دلیلونه د دې سبب شول چې مولانا سلیم الله خان اوښکې تویې کړې او ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد عمر ته یې وویل: « الله ستا ټېر همدې ته پرانیستی، خدای دې په لوري شه او خدای دې موږ ته هم د شهادت مرگ را په برخه کړي».

هغه معلومات چې وروسته افشا شول ښيي چې پاکستان دغه مهال له امریکا سره په یوه لویه معامله بوخت و. په داسې حال کې چې د باندې داسې ښکارېدله چې گواکې امریکا د منځلارو طالبانو په لټه کې ده چې د جگړې د پېښېدو مخه ونیسي خو اسناد ښيي چې واشنگټن او اسلاماباد په گډه کار کاوه چې افغانستان په څو او یا لږ تر لږه په دوو شمال او جنوب برخو ووېشي.

«سټیو کول» په خپل اثر «اس ریاست» کې لیکي: «... جاوید عالم دوه ستوري جنرال د ISI د تحلیل څانگې مشر و... جنرال عالم او شنونکیو یې دیف سمیت ته د امریکا لخوا د افغانستان د نیولو په صورت کې د اټکل وړ دوو سناریو گانو په اړه ویلي:

په داسې حال کې چې امریکا د طالبانو حکومت را نسکور کړي او ډېر زر له افغانستانه ووځي دا به د ۱۹۹۵ کال په څېر د گډوډیو او کړکېچ سبب شي. د بدیل وړاندیز دا و چې د بوش اداره پر شمال او جنوب د افغانستان د وېشلو زمینه برابره کړي (...).

پر ۲۰۱۲ کال چې د طالبانو یوه مهم چارواکي ما ته کوم معلومات راکړل، ما وروسته نوموړی د وخت ولسمشر حامد کرزي ته هم بوتلو چې دغه کیسه ورته وکړي، د هغو له مخې هم څرگنده وه چې امریکا او پاکستان په گډه پر دې کار کوي چې د افغانستان خاوره عملاً په څو واکمنیو ووېشل شي.

د طالبانو دغه جگپوړي غړي ما ته وویل: «زموږ د حکومت وروستۍ ورځې وې، موږ تر ډېرو فشارو لاندې وو، په شمال کې پر طالبانو بریدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان وو او هغه سیمې مو له لاسه ورکړې وې. دغه مهال د ISI مشر جنرال محمود ما ته احوال راکړ چې د یوه مهم ملاقات لپاره کوټې ته د ده لیدو ته ورشم. زما کاري ساحه داسې نه وه چې له هغه سره دې سر و کار ولرم. په هر صورت د ملا محمد عمر مجاهد له اجازې وروسته هلته ورغلم. له جنرال محمود سره د لیدو پر مهال نوموړي د افغانستان یوه لویه نقشه پر میز وغوړوله او درې قلمونه یې چې بېل بېل رنګونه یې درلودل را واخیستل د نقشې پر مخ یې درې دایرې وکښلې. وې ویل چې موږ له امریکایانو سره هوکړې ته رسېدلي یو نور ستاسې حکومت ختم دی، خو تاسو کولای شئ چې په کندهار او شاوخوا سیمو کې پاتې شئ او حکومت وکړئ. نورې سیمې به د نورو کسانو په لاس کې وي. ما و نه منله ورته و مې ویل چې له ملا محمد عمر نه هدایت اخلم. کله مې چې په کندهار کې نوموړي (ملا عمر) ته دغه کیسه وکړه هغه دا معامله رد کړه، کلونه تېر شول او ما یوه دوره زندان هم تېر کړی و. یوه ورځ په یوه بهرني هېواد کې په یوه غونډه کې یو بهرنی ما ته را نږدې شو وې ویل چې زه یو امریکایي یم، زه تا پېژنم خو ته مې نه پېژنې، هغه ورځ دې چې په کوټه کې له جنرال محمود سره لیدنه وه او نوموړي یو وړاندیز درته درلود چې تا و نه مانه. په هغه ورځ زما او ستا ترمنځ یوازې یو دېوال درېدلی و، که تا وړاندیز منلی وای زه د څنګ له اطاق نه راتلم او هغه هوکړې ته مې رسمیت ورکاوه».

همدغه شپې ورځې وې چې یوه ورځ له اسلاماباده زنګ راغی راته وې ویل چې سهار ته پیر صاحب غوښتی یې. سهار وختي د پیر صاحب له وراره سید سلمان ګیلاني سره د اسلاماباد په لور وخوځېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې څو ورځې مخکې ښاغلي ګيلاني ما ته ويلي وو چې نړيواله ټولنه په پام کې لري چې په کوم لوېديز هېواد کې يوه لويه غونډه جوړه کړي، موږ پر دې ټينګار کوو چې رهبران پکې ګډون وکړي، دوی بيا غواړي چې د مشرانو با صلاحيته استازي دې غونډې ته واستول شي.
کله چې د اسلام‌اباد په اشرافي سيمه کې د ښاغلي ګيلاني کور ته ورسېدو خدمتګارانو مېلمستون ته بوتلو. پير صاحب او زامنو يې له الاخضر ابراهيمي سره ناسته درلوده. له نوموړي سره يو بل تن هم ملګری و. ابراهيمي چې هغه مهال د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی و په نږدې راتلونکې کې يې د لويې غونډې په باب چې په بن کې جوړېده معلومات راکړل او د ښاغلي ګيلاني او «ټولنې» مشورې او نظرونه يې وغوښتل. نوموړي دا يادونه هم وکړه چې همکار يې دا دنده لري چې د نوې ادارې له جوړېدو سره د نړۍ په هر ګوټ کې کدرونه وپېژني او را وې بولي چې د ځانګړيو امتيازاتو به بدل کې افغانستان ته راشي او د خپل ويجاړ شوي هېواد په ودانولو کې ونډه واخلي. د ابراهيمي همکار چې د وړوکي قد خاوند او په انګرېزۍ يې خبرې کولې، خو د خدای پامانۍ پر مهال يې له ټولو سره پښتو خبرې پيل کړې. چې کله مېلمانه رخصت شول د پير صاحب له زوی نه مې وپوښتل چې دغه سړی خو افغان ښکارېده، دا څوک و؟ هغه په ځواب کې را ته وويل چې دا د اخضر الابراهيمي همکار «ډاکتر اشرف غني احمدزی» و، ما د اشرف غني مرکې اورېدلې وې خو تر دې مهاله مې له نږدې نه و ليدلی. وروسته مې نوموړی په بن کې وليد او څو ځلې مې خبرې ورسره وکړې، ماښام زه او سيد سلمان ګيلاني بېرته پېښور ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بن کنفرانس

سره له دې چې په شمال کې د طالبانو ننبه کول ډېر چټک پیل شول او د دوی پخوانیو دښمنانو د امریکا په مرسته پر هغوی وژونکي ګوزارونه وکړل خو په کابل کې لا د «اسلامي امارت» حاکمیت و. له یوه پلوه پاکستان په ټول توان هڅه کوله چې له طالبانو سره کومه معامله جوړه شي بل لور ته د امریکایانو په منځ کې د کابل نسکورېدو د بنې او وخت په اړه یو نظر نه و.

ویل کېدل چې امریکایان د منځلارو طالبانو په لټه کې وو چې له هغو سره جوړ شي او اسامه ورته وسپاري. خو لکه چې مخکې مې ورته اشاره وکړه معاملې هم روانې وې چې طالبان دې ته راضي کړی چې د افغانستان په یوه برخه په حکومت قانع شي او د افغانستان نورې برخې نورو لوریو ته وسپارل شي، ښايي چې کابل به یوه کمزوري حکومت ته سپارل کېده په داسې حال کې چې نورو ځواکونو به هر یوه د هېواد پر یوه برخه حاکمیت درلود. امریکا او پاکستان په ګډه دغه پروګرام پر مخ بېوه خو نه طالبان دې معاملې ته راضي شول او نه «محمد قسیم فهیم» چې هغه مهال د احمد شاه مسعود ځایناستی غوره شوی و. چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په قول د روسانو او تاجکستان له لوري دغه پیغام ورته رسېدلی و.

په افغانستان کې د ملوک الطوایفي په راوستلو کې چې د امریکا او پاکستان هڅې ناکامې شوې، د بن غونډې د جوړېدو کار چټک شو. موږ د نومبر پر ۲۵ مه د اسلام‌اباد له هوایي ډګره د المان په لور روان شوو، د هوایي ډګر په وي آی پي تالار کې نور کسان هم د الوتنې په انتظار وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې باید د بن کنفرانس ته تللي وای چې د هغوی له جملې مې «سید اسحق ګیلاني»، «احمد نادر نادري» او «توماس روتیک» یادېږي.

له اسلام‌اباده دوبۍ ته لاړو او شپه مو هلته د هوایي ډګر په یوه هوټل کې تېره کړه چې د ملګرو ملتونو له لوري موږ ته کرایه شوې وه. سبا ته مو د بن په لور الوتکه والوته او له غرمې وروسته هلته ورسېدو. د پلاویو مشران یې د هلیکوپترو په واسطه د «پیترسبورګ ماڼۍ» ته لېږدول چې کنفرانس پکې جوړېدو او نور غړي یې په موټرو کې هلته رسول. «د سولې او ملي یووالي ټولنه» چې وروسته په بن کې د «پېښور ګروپ» په نامه یادېده د سید حامد ګیلاني په مشرۍ یې په کنفرانس کې ګډون وکړ. د پلاوي په ترکیب کې یې «حاجي عطا خان»، «موسی غازي»، «فاطمه ګیلاني»، «حفیظ الله محسني» او زه «عبدالکریم خُرم» شامل وو. د کنفرانس درې نور ګډونوال ګروپونه د روم ګروپ، د قبرس ګروپ او د متحدې جبهې ګروپ چې د استاد رباني د حکومت استازیتوب یې کاوه، وو. دې ځلورو ګروپونو سیاسي خبرې کولې او په پام کې وه چې دوی د افغانستان لپاره نوی حکومت جوړ کړي. د خبرو د سیاسي او اصلي لوري تر څنګ د ملګرو ملتونو سازمان د نړۍ له ګوټ ګوټ نه د یوه بل ګروپ غړي هم رابللي وو او شمېر یې د اویا تنو په شاوخوا کې و او د مدني ټولنې د استازیو په نامه یادېدل. یو شمېر نور کسان چې نه د سیاسي ګروپونو کسان او نه د مدني ټولنې فعالان وو هلته راوستل شوي وو. سیاسي ګروپونو هر یوه د پیترسبورګ په ماڼۍ کې مجهز اطاقونه درلودل چې په هغو کې کمپیوټرونه، د فوتوکاپۍ ماشینونه، تیلفون، فکس او نور وسایل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مدني ټولنې استازي په یوه بل ځای کې په یوه هوټل کې ځای پر ځای شوي وو، خو هغه کسان چې له دې یوه ګروپ سره یې هم تړاو نه درلود، د پیترسبورګ ماڼۍ په دهلېزونو کې سرګردانه ښکته پورته کېدل. دغه کسان د توماس روتیك له خوا په پټه پیترسبورګ ماڼۍ ته راوستل شوي وو او د نوموړي لخوا ورته ویل شوي وو چې که چا پوښتنه ترې وکړه دوی دې ځانونه د کوم سیاسي ګروپ غړي معرفي کړي. معلومه وه چې له دې ګروپ سره توماس روتیك له پخوا ښه پېژندګلوي درلوده او پخوا یې ورسره ګډ پروګرامونه پلي کړي وو. له دې ډلې څخه مې چې د ځینو کسانو نومونه یادېږي دا دي: جاوید کوهستاني، ښاغلی وزیري چې وروسته یې ځانته آریایي ویل، ښاغلی دهاتي او ښاغلی احمد نادر نادري. دا چې نادري د وطن مجلې قلمي همکار و او ما له پخوا ورسره پېژندل د پلاوي له نورو غړو سره تر سلا وروسته مې هغه خپل دفتر ته راوست چې له اسانتیاو یې ګټه واخیستلای شي. د پیترسبورګ ماڼۍ چې د بن مشهور کنفرانس پکې جوړ و د المان یوه لرغونې ښکلې ماڼۍ ده چې د بن ښار پر څنډه د یوې غونډۍ پر سر جوړه ده.

کنفرانس د ۲۰۰۱ز د نومبر پر ۲۷مه پیل شو. تر دې وړاندې چې غونډه پیل شي موږ د پېښور ګروپ یو شمېر کسان د قبرس ګروپ ته ورغلو چې په نظریاتو او دریځونو کې یو له بل سره سلا وکړو. موږ لا د قبرس ګروپ په دفتر کې وو چې د دې ګروپ مشر «همایون جریر» ساه نیولی له یوه بل مجلس نه راغی. ګومان کوم چې د ایران له پلاوي سره یې لیدلي وو. نوموړی چې اطاق ته راننوت موږ ټولو ته یې په خطاب کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«موږ هسې کنفرانس ته درومو، هر څه مخکې له مخکې ټاکل شوي او پرېکړه شوې ده.»

ترې و مې پوښتل څه ډول؟ ویل یې: «دا پرېکړه شوې چې حامد کرزی به د نوې ادارې د رییس په توګه ټاکل کېږي.

» دغه مهال فاطمې ګیلاني چیغه کړه: «نه! دا ناشونې ده، کرزی ډېر عادي سړی دی، هغه د هېواد د دغه خطرناك او پېچلي وضعیت د ادارې توان نه لري.»

له لنډو خبرو او بحث وروسته موږ یوه تالار ته ننوتلو چې یو دایروي لوی میز یې په منځ کې ایښی و چې له هر ګروپ نه به رییسان او دوه یا څو تنه د هغه شاوخوا ته کېناستل. تالار له خبریالانو او لویو او وړوکیو کامرو ډك و. موږ د غونډې نور برخوال په شاتني کتار کې کېناستلو.

کنفرانس له غرمې مخکې په لس بجو او پنځلس دقیقو پیل شو. رسمي نوم یې «د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خبرې اترې» اېښودل شوی و. دا د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته د افغانستان د لانجې د اوږدمهالي حل لپاره د نړیوالې ټولنې لومړنی ګام و.

افغانان له کلونو راهیسې د بېلابېلو جګړو او انارشۍ په اور کې سوځېدل خو چا دوی ته پاملرنه نه کوله. آن چې لویو هېوادونو او ملګرو ملتونو سازمان بیا بیا دا ویل چې د افغانستان د لانجې د حل لپاره هېڅ طرحه نه لري. مانا دا چې د افغانانو ځورېدل او دردونه د دې سبب نه شول چې نړیوال را وخوځېږي او د دوی د ژغورنې لپاره په عملي اقدام لاس پورې کړي.

د بن کنفرانس په ترکیب کې د متحدې جبهې پلاوي غړي تر نورو پلاویو ډېر وو. د کنفرانس له رسمي پیل نه یوه ورځ مخکې، ماښام زه د مانۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالار دروازې ته مخامخ ناست وم چې ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او یوه ډله خلك خوشاله د کړس کړس خنداګانو په بدرګه راننوتل. ما د هغوی په منځ کې په فرانسه کې د لوړو زده کړو پر مهال خپل استاد «ډاکتر زلمی حقاني» ولید، سمدستي هغه ته ورغلم او احترام مې یې پر ځای کړ ورته و مې ویل: استاده ته دلته څه کوې؟ وې ویل «زه د دوی حقوقي سلاکار یم او دا نور کسان چې وینې ټول د دې ګروپ سلاکاران او همکاران دي.» حیران شوم، نورو ګروپونو نه یوازې دا چې سلاکاران یې نه درلودل بلکې د غړیو شمېر یې هم لږ و. د شمېر او امتیاز له مخې د روم ګروپ دویمه درجه و او ورپسې په ترتیب سره زموږ ګروپ «د سولې او ملي یووالي ټولنې» او قبرس ګروپونه وو. که به د متحدې جبهې د ګروپ د غړیو په شمېر او امتیازاتو چا اعتراض کاوه نو د ملګرو ملتونو ځواب به دا و چې هغوی هر یو د یوې ډلې، ګوند او سیاسي ګروپ استازیتوب کوي. که موږ دغه امتیاز ورته و نه منو پخپلو کې په جنجال اوړي او کنفرانس له ستونزو سره مخ کوي.

لومړی د المان د بهرنیو چارو وزیر «یوشکا فیشر» د کوربه په توګه وینا وکړه او کنفرانس یې پیل کړ. ورپسې اخضر ابراهیمي د ملګرو ملتونو د سرمنشي «کوفي عنان» پیغام ولوست او تر هغو وروسته د څلورو ګروپونو رییسانو هر یوه په خپل وار لنډې خبرې وکړې. د کنفرانس دغه برخه په یوه ساعت کې بشپړه شوه او له پایته رسېدو سره له بهرنیو دیپلوماتانو او خبریالانو وغوښتل شول چې له تالاره ووځي، افغاني پلاوي او د ملګرو ملتونو مامورین دې یوازې پرېږدي چې خپل کار پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کنفرانس په دې برخه کې له هر گروپ څخه وغوښتل شول چې نظریات، طرحې او وړاندیزونه دې بیان کړي، په دې لړ کې د روم د بهیر مشر عبدالستار سیرت او د سولې او ملي یووالي ټولنې مشر سید حامد گیلاني خپل نظریات په مشخصو چوکاټونو کې وړاندې کړل. محمد یونس قانوني او همایون جریر د متحدې جبهې او قبرس پلاویو مشرانو بیا پر کلي خبرو او سولې ته پر لېوالتیا اکتفا وکړه. عبدالستار سیرت د «ملي یووالي عالي شورا» پر جوړېدو ټینگار وکړ.

څه موده وړاندې د روم بهیر او متحدې جبهې تر همدې عنوان لاندې د یوې شورا پر جوړولو توافق کړی و. سید حامد گیلاني د «ټولنې» طرحه چې ما ترتیب کړې وه تکرار کړه. د دې طرحې وړاندیز د یوې مشرتابه شورا او متخصصې ادارې جوړول وو، چې بالاخره به یې د لویې جرگې جوړولو ته زمینه برابروله. د غونډې په همدې برخه کې اخضر ابراهیمي اعلان وکړ: «حامد کرزی چې په پام کې وه په دې غونډه کې گډون وکړي، خو اوسمهال هغه د افغانستان دننه په ارزگان کې دی او د تیلفون پر کرښه دی موږ یې خبرو ته غوږ نیسو.» حامد کرزي په خپله لنډه وینا کې چې لومړی په پښتو او وروسته په دري وه د لنډمهالي حکومت او لویې جرگې پر اړتیا ټینگار وکړ. د نوموړي تیلفوني وینا په غونډه کې دغه انگېرنې پیاوړې کړې چې ملگرو ملتونو نوموړی د لنډ مهالې ادارې د مشرۍ لپاره غوره کړی دی. وروسته د همایون جریر دغه وړاندیز اخضر ابراهیمي ومانه چې څلور واړه گروپونه دې پخپلو کې سره کښېنې او نظرونه دې سره شریک کړي، وروسته دې ترلاسه شوې پایلې له ملگرو ملتونو سره شریکې کړي، تر څو بیا پرېکړې ته زمینه برابره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې دوستۍ پر خلاف چې د سپټمبر د يوولسمې له پېښې مخکې د روم بهير او متحدې جبهې ترمنځ پيل شوې وه، د بن په کنفرانس کې دغه گروپونه ډېر سره نږدې او همغږي نه وو. متحده جبهه په دې باور وه چې نور وضعه بدله شوې ده. کابل د دوی په لاس کې دی او کومې موافقې چې شوې وې هغه د پخوانيو وختونو دي. د روم د گروپ پلاوی چې زياتره غړي يې عمر خوړلي بوډاگان وو يوازې له متحدې جبهې سره يې د خبرو اترو لېوالتيا درلوده او بس.
د روم په گروپ کې خوځښت او نوښت نه ښکارېدو او زياترو غړيو يې يوازې لوکسو درېشيو اغوستلو او يو بل ته د لويو القابو کارولو ته پام کاوه. هغوی به د ډوډۍ پر خوړلو ساعتونه لگول او د شاهي دوران کيسې به يې يو بل ته کولې. د دې گروپ تر ټولو ځوان غړی «مصطفیٰ ظاهر» د اعليحضرت محمد ظاهر شاه لمسی و. نوموړي په پيل کې د ټولو پام ځانته ور اړولی و. په ځانگړې توگه د هغو کسانو پام ډېر ور اوښتی و چې فکر يې کاوه نوموړی به يې د خپل بابا وليعهد او ځايناستی شي چې ښايي هغه يو ځل بيا پر تخت کښېني. خو د هرې ورځې په تېرېدو چې د پخواني پاچا رول پيکه کېدو د «لمسي» د بخت ستوری هم ورسره په لوېدو و. تر دې چې د ده د خپل گروپ کسانو به د ده په غياب کې بدې ردې ورپسې ويلې.
ښاغلی سيرت په ټينگار د ملي يووالي شورا پر جوړېدو ولاړ و او موخه يې دا وه چې له متحدې جبهې سره مساوي واک ووېشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متحدې جبهې د پلاوي رییس فعال سړی و، خو د لنډمهالي حکومت د جوړېدو په اړه د استاد رباني په راضي کولو کې له جدي ستونزو سره مخ و.

استاد رباني په دې باور و چې د بن کنفرانس دې یوازې د لنډ مهالې ادارې مشر وټاکي او پاتې کارونه دې ټول په کابل کې تر سره شي. کله چې د حکومت د غړیو پر لېست کار روان و، استاد رباني پر یونس قانوني فشار راوړ چې د لس ورځو لپاره مهلت وغواړي او کابل ته د لا زیاتو مشورو لپاره راشي. نورو پلاویو له دې وړاندیز سره سخت مخالفت وکړ. استاد رباني همدغه مهال دوبۍ ته لاړ او له روسانو، پاکستانیانو او ایرانیانو سره یې ولیدل. همدارنګه نوموړي طالبانو ته وړاندیز وکړ چې کابل ته راشي او د ده حکومت تر بیرغ لاندې سوله ییز ژوند پیل کړي. امریکایانو په دې اړه توند غبرګون وښود وې ویل چې د افغاني بانکنوټونو چاپ به ودروي او په نړۍ کې به د افغانستان د سفارتونو دروازې وتړي، په بن کې د متحدې جبهې غړي هم له استاد رباني سره همنظره نه و.

د بن کنفرانس تر اتکل شوي وخت زیات اوږد شو، تر دې چې د پیترسبورګ ماڼۍ اشپزان او کارکوونکي یې هم ستومانه کړل. کنفرانس د روژې په میاشت کې و، د المان حکومت دې ته په پام چې افغانان روژه نیسي او لمنځونه کوي، ډېره هڅه یې کړې وه چې هر ډول اسانتیاوې برابرې کړي. د ساري په توګه یو لوی اطاق یې د لمانځه لپاره ځانګړی کړی و او د جاینمازونو پر ځای یې سپینې روجایي ګانې غوړلې وې، خو د لمانځه پر مهال د ګوتو په شمېر کسان دې اطاق ته ورتلل. له دې ډلې څخه مې عبدالستار سیرت او پاچا خان ځدراڼ ډېر هلته لیدل. لنډه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لمونځ کوونکي ډېر لږ وو. بل لوري ته الماني کوربنو هره ورځ د روژه ماتي، شپې ډوډۍ او پېشلمي لپاره بشپړ تیاری نیولو او مکلف خواړه به یې تیارول. د ماڼۍ اداري د کنفرانس د ګډونوالو او د ملګرو ملتونو کارکوونکیو ته او هغوی ته چې مسلمانان نه وو د سهار چای او د غرمې ډوډۍ هم تیاروله. خو د ځلورو واړو پلاویو په زیاترو غړیو سربېره د توماس روتیك سرګردانه مېلمنو په دې پلمه چې دوی مسافر دي او د روژې پر نیولو مکلف نه دي هم د سهار چای نوش جان کاوه او هم به روژه ماتي، شپې ډوډۍ او پېشلمي ته حاضر وو. پایله دا شوه چې پخوونکیو ۲۴ ساعته خواړه پخول او خدمتګارانو به شپه او ورځ هغه د خوراك پر مېزونو منظمول.

د ځلور ګونو پلاویو د خبرو اترو په بهیر کې لږ تر لږه یو ځل د مدني ټولنې استازي پترسبورګ ماڼۍ ته راغلل او له سیاسي پلاویو سره یې خپل نظریات او وړاندیزونه شریك کړل. زما مشره خور ملالۍ سلیمي د دې پلاوي غړې وه او د دوی د یوې استازې په توګه یې وینا وکړه.

د پرانیستې غونډې له پایته رسېدو وروسته د ملګرو ملتونو سازمان ځلورګونو پلاویو ته یوه اجنډا وسپارله چې درې ټکي یې درلودل: ۱- لنډمهاله دوره چې لنډمهاله اداره او لنډمهاله شورا پکې شامله وه. ۲- امنیتي مسایل. ۳- نور مسایل. عبوري دوره په لنډمهاله او انتقالي دورو وېشل شوې وه. په دې ځانګړې برخه کې یو څه توضیحات ورکړل شوي وو او د بېړنۍ لویې جرګې یادونه شوې وه چې باید منځمهاله حکومت به ټاکي. د لنډ مهالې شورا او یا عالي شورا نظریه په پای کې له پامه وغورځول شوه او د دې سبب د روم د ګروپ دا ټینګار و چې له متحدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبهې سره واك مساوي وويشي. له همدې سببه د دوو نورو گروپونو يانې د پېښور گروپ او قبرس گروپ له مخالفت سره مخ شول. د پېښور گروپ د رهبرۍ شورا پر جوړېدو ټينگار کاوه. دغه نظريه نورو گروپونو ومنله خو د روم گروپ رد کړه. د مشرتابه شورا د نه منل کېدو زيان دا و چې لنډمهاله حکومت سياسي شو. ځکه چې د بېلابېلو سياسي او نظامي ځواکونو او شخصيتونو د قانع کولو لپاره هغوی ته د شورا د غړيتوب پر ځای په اداره کې غړيتوب يانې وزارتونه په پام کې ونيول شول. دې کار آن د لږ سواد خاوندان هم وزارتونو ته راوستل.

بالاخره د ۲۰۰۱ ز د دسمبر پر ٥مه د چارشنبې په ورځ له غرمې مخکې په ۱۱ بجو «د افغانستان تر دايمي بنسټونو جوړېدو پورې د لنډمهاله اقداماتو او احکامو پرېکړه ليك» په نامه پرېکړه ليك د ځلورگونو پلاويو له لوري لاسليك شو.

د لنډ مهالې ادارې د مشرتابه لپاره د افغانستان د پخواني پاچا موافقه چې په روم کې اوسېدو وغوښتل شوه. نوموړي د روم پلاوي ته واك ورکړ چې په خپل منځ کې يو تن دې مسووليت ته غوره کړي. مسأله رايو ته لاړه. په پای کې عبدالستار سيرت ۱۱ رايې حامد کرزي ۲ رايې او هدايت امين ارسلا يوه رايه واخيستله. نور گروپونه د ښاغلي سيرت په منلو کې زړه نا زړه وو. ښاغلي قانوني ټينگار کاوه چې د حکومت مشر بايد پښتون وي له دې پرته د افغانستان ستونزه حل لاره نه لري.

د کابينې لېست د شپې تر نيمايي پورې بشپړ شو، حامد کرزی د حکومت د رييس په توگه غوره شو. کله مې چې لېست وليد جټکه مې وخوړه او وپوهېدم چې افغانستان له دومره انقلابونو، جگړو، دردونو او رنځونو نه وروسته چې د يوه نوي پيل کوم چانس ترلاسه کړی و هغه يې له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړی. د بن کنفرانس کېدای شوای د افغانانو ترمنځ د یوه نوي تړون لاره پرانیزي. داسې تړون چې دوی پخپلو کې دا ژمنه وکړي چې نور به تېرې ترخې تجربې نه تکراروي.

د کابینې په لېست کې دوو شیانو پام ور اړاوه او د راتلونکي په باب د مایوسۍ او نهیلۍ سبب کېدو. یو «د زمري ونډه» چې متحدې جبهې ته ورکړل شوې وه او بل یې د دولتي مقامونو وېشل پر قومي بنیاد.

د شپې ناوخته وه، نور هر څه ختم شوي وو، تقریباً ټولو خپل اسناد او کاغذونه راټولول او دې ته یې ځانونه چمتو کول چې لاړ شي او ویده شي، تر څو سبا ته د ډله ییز عکس اخیستلو ته را پاڅېدلی شي.

په پیترسبورګ ماڼۍ کې د څلور ګونو ګروپونو د دفترونو تر څنګ ملګرو ملتونو هم دفترونه درلودل. هغوی په المان او انګلستان کې هستوګن ځوان افغانان د ژباړنو او همکارانو په توګه ګومارلي وو چې له هغوی نه یې یو شمېر وروسته د افغانستان په حکومت کې مهمو کرسیو ته ورسېدل.

لکه «جاوید لودین» چې د ولسمشر ویاند، د دفتر رییس او د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي معین تر مقامه ورسېد. دغه کسان هم د خپلو کاغذونو پر راټولولو بوخت وو. زه نېغ د اشرف غني احمدزي دفتر ته ورغلم چې د اخضر ابراهیمي سلاکار و. د افغانانو په منځ کې ډاکتر زلمی خلیلزاد او اشرف غني احمدزی داسې کسان وو چې اغېز او نفوذ یې له لرې ښکارېدو. هغوی د اغېزناکو بهرنیانو یانې امریکا او ملګرو ملتونو په رازونو کې شریک وو. دوی د پروژې له جوړوونکیو سره همکار وو. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ښاغلي احمدزي دفتر ته ورننوتم نوموړی د خپلو اسنادو په راټولولو بوخت و. ورته و مې ویل:

«ډاکتر صاحب دا خو ډېره بده پرېکړه وشوه، د حکومت لپاره ډېر بد ترکیب رامنځته شو، ګواکې د جګړې یوه لوري حکومت جوړ کړی وي. وېره مې دا ده چې له بدمرغیو به ونه ژغورل شو.»

اشرف غني احمدزي په بړوسه څېره او غوسه ناك غږ ځواب راکړ:

«ډېره ښه پرېکړه وشوه، تر دې غوره حکومت نشو کېدای، ته غواړې چې د ګیلاني حکومت جوړ شي؟»

و مې ویل: «نه! دا مې موخه نه ده خو له دغه ډول حکومت نه ښې پایلې نشي ترلاسه کېدای.» زه نهیلی د هغه له دفتره راووتم. په دهلېز کې ځوك خوښ او ځوك خپه ښکته او پورته کېدل او د پیترسبورګ دهلېزونه ورو ورو چوپېدل. جنرال عبدالرحیم وردګ ډېر خپه و، نوموړی یې د ترانسپورت وزیر ټاکلی و. دا نوموړي د ځان لپاره سپکاوی باله. د پېشلمي لپاره د خوراك خونې ته لاړم. تقریباً تش و، د یوه میز شا ته «مصطفی کاظمي» او «سید حسین انوري» ناست وو، زه یې هم تر څنګ کېناستم. که څه هم له دوی سره مې ډېره پېژندګلوي نه وه. سید حسین انوري ډېر خپه او نا آرامه و ویل یې چې زه یو پوځي سړی یم د کرنې په وزارت څه وکړم. غوښتل یې د اعتراض په دود جنجال جوړ کړي، مصطفی کاظمي چې ډېر خوښ او په موډ کې ښکارېدو هغه ته یې وویل: «وه وروره پروا نه لري، پر دې هم شکر باسه، که تر څو نورو ورځو پر امریکا برید نه وای شوی خدای خبر دی چې موږ به په افغانستان کې پاتې شوي وو او که به ترې تښتېدو.» نوموړي غوښتل انډیوال یې قانع کړي. جنرال وردګ د ترانسپورت وزارت و نه مانه. د قبرس ګروپ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه وزير د معرفي کولو حق ترلاسه کړی و د اعتراض په دود يې د وزير له معرفي کولو ډډه وکړه. د پېښور ګروپ «حاجي منګل حسين» د اوبو لګولو او «ډاکتره سهيلا صديق» دعامې روغتيا د وزيرې په توګه معرفي کړل. البته په دې کې د پلاوي نظرونه و نه پوښتل شول. لويه ونډه بيا متحدې جبهې ته ورکړل شوه او په دوهمه درجه کې د روم ګروپ و.

ځو کاله وروسته چې زه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسوول وم او په يوه رسمي سفر بهر ته روان وم. په الوتکه کې له ډاکتر اشرف غني احمدزي سره مخامخ شوم. نوموړي دغه مهال په لنډمهاله اداره کې د ولسمشر د سلاکار، د ماليې وزير او د پوهنتون د رييس له دندو وروسته اوس کوم دولتي مقام نه درلود او د حکومت له توندو منتقدينو څخه و، ور ته و مې ويل: «ډاکتر صاحب! په ياد دې دي چې هغه شپه چې لنډ مهاله اداره اعلان شوه زه دې دفتر ته درغلم درته و مې ويل چې بده پرېکړه شوې او خراب حکومت جوړ شو؟»

نوموړي په غوسه او مايوسۍ ځواب راکړ: «نه که سم کار شوی وای، ښه پايله به يې درلودای!» د ده موخه د وخت د ولسمشر حامد کرزي کړه وړه وو، چې د ده په اند نه و توانېدلی هغسې چې لازمه وه کار وکړي او دا ټولې ناخوالې له همدې سببه وې.

په دې ډول د بن کنفرانس د ۲۰۰۱ ز د دسمبر پر ۵مه د «افغانستان د دايمي دولتي تشکيلاتو تر جوړېدو پورې لنډ مهاله ترتيبات» په نامه پرېکړه د المان د صدراعظم په حضور کې د څلور ګونيو ګروپو له لوري له لاسليك سره پای ته ورسېد. د لنډمهالې کابينې لېست د دې پرېکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیك د درېیمې ضمیمې په توګه د کار په پای کې له څو ځله بیاکتنې وروسته راووت.

ما فرصت غنیمت وباله او غوښتل مې خپل فرانسوي او افغان انډیوالان وګورم او بیا پېښور ته ستون شم. له خپل انډیوال «قاسم همت» سره مې په المان کې له نورو هېوادوالو سره ولیدل او بیا دواړه فرانسې ته لاړو او له دوستانو سره تر لیدو وروسته بېرته المان ته ستون شوم او له هغه ځایه پېښور ته روان شوم.

## لنډمهالې ادارې ته د واك لېږدول

له استاد رباني نه حامد کرزي ته د واك د لېږد مراسم د ۲۰۰۱ ز کال د دسمبر پر ۲۲مه چې د ۱۳۸۰ کال د مرغومي له لومړۍ سره سمون خوري په کابل کې ترسره شول.

د بن په کنفرانس کې ګډون کوونکي پلاوي او سیاسي شخصیتونه دغه مراسمو ته رابلل شوي وو. موږ یوه شپه وړاندې کابل ته را رسېدلي وو. دولت زموږ د استوګنې او د پلاوي د مشر پیر سید احمد ګیلاني لپاره په وزیر اکبر خان مېنه کې یوه حویلي او دوه کرولا موټر په واك کې راکړي وو. هوا سړه وه او د برېښنا او تودولو وسایلو په نشت شمار وو.

دا چې زموږ د بلنې په کارتونو کې ستونزې وې زه او «مولوي محمد قاسم» د ملي اسلامي محاذ د اجرائیې غړی او د «ټولنې» غړی چې د استاد رباني د حکومت رسمي لوی څارنوال و، وګومارل شوو چې کورنیو چارو وزارت ته لاړ شو او دغه ستونزه حل کړو. څرنګه چې په کابل کې برېښنا نه وه پر شاوخوا بشپړه تیاره راخپره وه. کله چې وزارت ته ورسېدو د محمد یونس قانوني پوښتنه مو وکړه. نوموړی د کورنیو چارو د وزیر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه د واك د لېږد د مراسمو په تنظيم کې بوخت و. بالاخره مو هغه د کورنيو چارو وزارت په تالار کې وموند. يو زيات شمېر کارکوونکي او خدمتګاران د ستيج او کرسيو په ترتيب بوخت وو. د ستيج شا ته د احمد شاه مسعود لوی تصوير راځړېدلی و چې بايد د يوې بخملي پنډې پردې شا ته پټ کړای شوی وای. د استاد رباني د حکومت ټولو غړيو او لنډمهالې ادارې او سياسي او جهادي مشرانو ته د همدې ستيج پر سر کرسۍ ايښودل شوې وې. ما يو ځل بيا په پوره باور ليدل چې موږ يوه نوي پيل ته نه يو روان بلکې هغه څه چې پيښېدل د تېرو وختونو دوام و او بس. مانا دا چې طالبانو ماته خوړلې وه او بل لوری يې بريالی شوی و. په پيل کې مې ګومان کاوه چې امريکايانو په ناپوهۍ کې افغانستان ته دغه نسخه غوره کړې وه خو د وخت په تېرېدو وپوهېدم چې له سياسي صحنې د طالبانو او حزب اسلامي لرې کول، تقريباً ټول واك د طالبانو وسله‌والو مخالفينو ته سپارل او پر قومونو د واك وېش د امريکايانو قصدي کار و او دا هر څه د يوه پروګرام له مخې ترسره شوي وو. په هر صورت موږ له ښاغلي قانوني سره خپله ستونزه حل کړه او خپل استوګنځای ته راستانه شوو او د سبا لپاره مو تياری ونيو.

د مرغومي لومړی يوه روښانه ورځ وه. موږ د سهار شاوخوا نهه نيمې بجې ارګ ته ورسېدو. د لومړي لمبر مانۍ په دوهم پوړ کې چې د ولسمشر د استوګنې ځای و يو شمېر مخور او سياسي څېرې له استاد رباني سره راټول شوي وو.

د دوی په ډله کې حضرت صبغت الله مجددي، پير سيد احمد ګيلاني، شيخ محمد اصف محسني، محمد کريم خليلي، استاد اکبري، جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرشید دوستم، عطامحمد نور، قاضي محمد امین وقاد، سید حامد ګیلاني، آمر لطیف... وو. په پام کې وه چې موږ له استاد رباني سره په ګډه کورنیو چارو وزارت ته لاړ شو او په مراسمو کې ګډون وکړو.

استاد رباني د طالبانو له رانسکورېدو وروسته ځان د هېواد قانوني ولسمشر ګاڼه. چې طالبانو کابل پرېښود نوموړی بیا ارګ ته راستون شوی و. دغه غوښتل چې خبرې اترې د بن پر ځای په کابل کې ترسره شي. وروسته یې هڅه وکړه چې پایلې تر وروستۍ کچې راټیټې کړي، خو د امریکا متحده ایالاتو او ملګرو ملتونو فشار نوموړی شاتګ ته اړ کړی و. هغه د لنډ مهالې کابینې له ترکیب سره هم موافق نه و خو مجبور و چې ویې مني. کله چې محمد یونس قانوني له بن نه د تیلفون پر کرښه د کابینې د غړو د نومونو غوښتنه ترې وکړه ده د وزیر په توګه یوازې د «محمد قسیم فهیم» نوم ورکړ. خو د محمد یونس قانوني د ډېر ټینګار په سبب مجبور شو چې د ده او ډاکتر عبدالله نومونه هم په هغه لېست کې شامل کړي.

«سید محمد علي جاوید» چې د واك د لېږد د کمېسیون مشر ټاکل شوی و د هغو کسانو د نومونو پر لېست بوخت و چې له استاد رباني سره یو ځای په څو ځانګړیو موټرونو کې کورنیو چارو وزارت ته لاړ شي. نور کسان به په ډله ییز ډول په «کاسټر» موټرو کې له ارګه کورنیو چارو وزارت ته روان شي.

بالاخره ټول د کورنیو چارو وزارت ته لاړو او تالار ته ننوتو. د ستیج پر سر یوه لور ته د استاد رباني د پخوانۍ کابینې د غړیو لپاره او بل لور ته یې د نوې کابینې لپاره یانې د لنډ مهالې کابینې د غړیو لپاره کرسۍ اېښې وې. په لومړي کتار کې مشرانو ته ځای ټاکل شوی و چې په منځ کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر یوه تشه کرسۍ د احمد شاه مسعود تصویر اېښودل شوی و. هغوی چې د ستیج پر سر په خپلو کرسیو ناست وو نه پوهېدل چې د استاد رباني د وخت د ملي سرود د غږولو پر مهال به د احمد شاه مسعود له لوی تصویر نه چې تالار ته راګوري پنډه پرده لرې کېږي. خامخا به د استاد رباني په شمول ټول که پر دې خبر وای چې داسې به تر شعاع لاندې راځي سخت ناآرامه شوي وو. په تالار کې هم ځای ځای داسې کسان ځای پر ځای شوي و چې د احمد شاه مسعود د نامه له اورېدو سره به یې په لوړ غږ د تکبیر نارې اوچتولې او نورو به په ډېر زور ورسره بدرګه کولې.

حامد کرزی چې د بُن په کنفرانس کې د لنډ مهالې ادارې د مشر په توګه غوره شوی و له برګې چپنې او قره قلي سره په لومړي کتار کې د خپلې وینا په انتظار د خپلې کابینې په سر کې ناست و. په پام کې وه چې «عبدالرب رسول سیاف» هم په دې مراسمو کې ۱۵ دقیقې وینا وکړي، خو وروسته دا آوازه خپره شوه چې نوموړی د ورپېښې ناروغۍ په سبب په دې مراسمو کې ګډون نشي کولای. داسې ښکارېدله چې د «استادانو» دوران مخ په تېرېدو و. دوی له وضعې چندان خوښ نه ښکارېدل خو مجبور وو چې هر څه ومني.

د ۱۳۵۷ لمریز د غويي د اوومې له کودتا وروسته چې افغانستان کرار کرار له نړیوالې ټولنې څخه منزوي شوی و، دا لومړی ځل و چې د هېواد په پلازمېنه کې دومره زیات شمېر بهرني مېلمانه او دیپلوماتان را ټول شوي وو. اخضر ابراهیمي لومړنی کس و چې وینا یې وکړه.

هغه په دري ژبه په لنډه مقدمه خبرې پیل کړې، وروسته یې د ملګرو ملتونو د سرمنشي کوفي عنان پیغام ولوست. د ایران د بهرنیو چارو وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



«کمال خرازي» او د بلژیک د بهرنیو چارو وزیر «لویي مېشل» هر یوه د اسلامي هېوادونو کنفرانس او اروپايي اتحادیې په استازیتوب خپلې وېناوې واورولې. که څه هم د کمال خرازي د وینا زیاته برخه د خپل هېواد د بهرني سیاست پر محور را څرخېده نه د (او آی سي).

امریکایي ملکي او پوځي مېلمنو وېناوې و نه کړې، خو له تالار نه د باندې د دوی د تورو اوږدو موټرونو او پوځیانو شمېر ښودله چې کنټرول د دوی په لاس کې دی. افغانانو چې دا لیدل چې په هېواد کې یې واک په سوله ییز ډول لېږدول کېږي، خوښ وو او دغه خوښي د کابل ښاریانو په څېرو له لرې ښکارېدله. د حامد کرزي د خبرو پر مهال چې د استاد رباني د لاسو په ښکلو پیل شوه، څو ځلې د تالار له وروستیو کتارونو څخه کمزوري غږونه چې «ژوندی دې وي افغانستان» او «تل دې وي افغانستان» او کله به یې «ناره تکبیر» ویل را اوچت شول، خو په تالار کې لږ بدرگه کېدل. حامد کرزي د افغانستان د شهیدانو له ډلې څخه یوازې د احمد شاه مسعود نوم یاد کړ، هغه د خپلو خبرو په بهیر کې څو ځله له «مجاهد کاکا» یانې استاد رباني نه مننه وکړه.

د لوړې مراسم د پخواني عدلیه وزیر او لوی څارنوال مولوي محمد قاسم لخوا تر سره شول. یونس قانوني د نوې کابینې په استازیتوب خبرې وکړې او ایت الله محسني د وروستۍ وینا په دود مفصلې خبرې وکړې. هم یونس قانوني او هم ایت الله محسني نوې ادارې ته کرښې کش کړې چې د حامد کرزي له لوري د وړاندې شوې تګلارې نه کمې نه وې. دغه مراسم له غرمې وروسته پایته ورسېدل او مېلمانه د ډوډۍ خوړلو لپاره چې لګښت یې ملګرو ملتونو ورکړی و ارګ ته لاړل. له ډوډۍ وروسته حامد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزی خپل نوي استوګنځي ته چې د ارګ حرمسرای و لاړ. تر څو د سبا لپاره چې د کابینې د ریاست لومړۍ ورځ یې وه ځان چمتو کړي.

## کابل ته راستنېدل او په هېواد کې د کار پیل

حامد کرزي ته د واك د لېږد په سبا، موږ د پیر سید احمد ګیلاني په مشرۍ یو پلاوی هغه ته د مبارکۍ لپاره ارګ ته لاړو. زموږ د لیدو وخت د ماسخوتن شاوخوا تاکل شوی و. ارګ هم د کابل په څېر په تیارو کې ډوب و. زموږ ملاقات د حرمسرای په مانۍ کې ترسره شو. پاکستاني عادي کوچونو او تر څو کمزورو زیړو ګروپونو لاندې غوړېدلیو افغاني غالیو د ارګ د وضعیت او د هېواد د بې وزلۍ کیسه کوله. د لنډ مهالې ادارې د مشر پر شاوخوا د ده تره عزیز خان کرزی، عاطف مل، شهزاده مسعود او څو د ګوتو شمېر نور کسان را ټول وو. د حامد کرزي ساتونکي هغه ځوانان وو چې پخوا یې د احمد شاه مسعود د ساتنې دنده درلوده. مجلس په زړه پورې فضا کې دوام وموند. حامد کرزي د کابینې د اونیزې غونډې د ورځې د ټاکلو په اړه زموږ نظر وغوښت.
هر چا خپل نظر ووایه. وروسته تیت او پرك خبرې پیل شوې. له روسیې سره له اړیکو د نوې کابینې تر اداري چارو پورې.
پیر صاحب د خپلو ټولو راغلو ملګریو په باب خبرې وکړې، زما یادونه یې په مهربانۍ وکړه او زما د لوړو زده کړو او شخصیت ډېره ستاینه یې وکړه. حامد کرزی چې له زیاترو سره آشنا و په ډېره لېوالتیا یې یو شمېر کسانو ته د بېلا بېلو دندو وړاندیز وکړ. د پیر صاحب مشر زوی سید حامد ګیلاني ته یې په متحده ایالاتو کې د افغانستان د سفارت وړاندیز وکړ چې د ښاغلي ګیلاني لخوا رد شو. ما ته یې په ارګ کې د ولسمشر تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګ د کار کولو وړاندیز وکړ. د خدای پامانۍ پر مهال یې یو ځل بیا په ټینګار یادونه وکړه چې د ده تر ښنګ کار وکړم. څرنګه چې سبا شپې ته یې د ډوډۍ لپاره مېلمانه وو په ځواب کې مې ورته وویل: «ښه ده سبا ته به پرې خبرې وکړو.»

حامد کرزی د حرمسرای تر بېروني دروازې پورې راسره راغی او موږ بیا خپلې حویلۍ ته راستانه شوو. سبا ته د ډوډۍ خوړلو پر مهال زیاتې خبرې وشوې. د لنډې مهالې ادارې مشر دا ځل زما په باب وویل چې زما د زده کړو ځانګې ته په پام به دا غوره وي چې په بهرنیو چارو وزارت کې کار وکړم. د یوې شپې په موده کې د نظر په دغه بدلون و نه پوهېدم. خو زه په هېڅ صورت هم په بهرنیو چار وزارت کې کار ته لېوال نه وم، ځکه پوهېدم چې هغه وزارت یوه جنګي اړخ ته ورکړ شوی چې دا یې خپل شخصي حق باله. خلکو له ټولو جګړه مارو لوریو درد او عذاب لیدلی و او هغوی یې د خپل هېواد د بدمرغیو سببونه بلل.

زه بالاخره په حکومت کې د ځان د ګومارنې له مسألې تېر شوم.

په دې بهیر کې په کابل کې په دوو نورو کارونو هم بوخت شوم: یو رسنیز کار د «آینې په مطبوعاتي مرکز» کې له فرانسوي ژورنالیستانو سره د لنډې مودې لپاره کار و چې د «اخبار کابل» په نامه د یوې مجلې کار یې هم پیل کړی و. دغه مجله د فرانسوي فیلسوف «برنارد هانري لیوي» les Nouvelles de Kaboulپه مالي ملاتړ خپرېده. په دې مجله کې کاري فضا په زړه پورې نه وه، سره له دې چې ما له فرانسې څخه له راغلې ټیم سره ډېره مرسته وکړه، پر دې سربېره چې هغوی پر ما ډېر ټینګار وکړ چې له دوی سره کار ته دوام ورکړم. ما خپله همکاري له هغوی سره غوښه کړه. د آینې مرکز چې د ملك اصغر د ځلور لارې په سیمه کې و د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېديزالو له لوري جوړ شوی و. د دې مرکز موخه دا وه چې د اوږدو کلونو له زړه خوړېنې استبدادي فضا څخه وروسته چې د غوبيي له کودتا پيل شوې وه، په افغانستان کې آزادۍ رسنۍ پيل او وهڅوي.

بل کار ته چې زه پرې بوخت وم د يوه حقوقي دفتر جوړول وو. دغه دفتر له اړمنو کسانو سره حقوقي مرستې کولې. دغه دفتر مې له يوې فرانسوي-امريکايۍ «ناتالي ری» سره په ګډه جوړ کړ. دغه مېرمن هغه مهال چې ما په پېښور کې په افغان پوهنتون کې درس ورکاوه دوه ځله هلته راغله او هر ځل يې له پوهنتون په ځانګړې توګه له حقوقو پوهنځي سره په ګډه سيمينارونه جوړ کړل. په دې دليل چې نوموړې په فرانسوۍ خبرې کولې او پروګرامونه يې په آسانۍ له ما سره تنظيمولای شوای، پر دې سربېره يې زما کاري چلن اغېزمن ګڼلی و را نه وې غوښتل چې له حقوقو پوهنځي سره به يې اړيکه زما په واسطه ټينګه وي. استاد قاضي د پوهنځي رييس هم د دې له وړانديز سره توافق وکړ. په داسې حال کې چې موږ په پېښور کې د نورو سيمينارونو تياری نيولی و په امريکا کې د سپتمبر يوولسمې پېښه وشوه. دغې مېرمنې چې د نيويارك له اوسېدونکيو څخه وه تر دې پېښې وروسته له ما سره سلا وکړه وې ويل چې په داسې صورت کې چې په افغانستان کې نظام بدل شي او مهاجر افغانان خپل هېواد ته ستانه شي دې ته لېوالتيا لري چې له ما سره په ګډه په کابل کې د حقوقي مرستو دفتر جوړ کړي. موږ بالاخره په کابل کې دغه دفتر پرانيست او نوم مو پرې «حقوقي مرستې-افغانستان» کېښود چې په نيويارک کې له «ILF» (نړيوال حقوقي بنسټ) سره يې په ګډه کار کاوه. د دغه دفتر له پرانيستلو مخکې مې پلار چې زما د زړه يوازېنی تکيه و له لاسه ورکړ. نوموړی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اضطراري لويې جرګې غړی ټاکل شوی و ونه توانېد چې پکې ګډون وکړي. په داسې حال کې چې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې يې د وطن حالات څارل، خپل ټاټوبي ته يې د راتلو ارمان په زړه پاتې شو. خو د کورنۍ تودې او له مينې ډکې فضا چې هر غړي يې پالنه او خدمت کاوه د دغه هجرت ستونزې او غمونه يې ورته سپک کړي وو.

هغه هم د سرطان نامردې ناروغۍ له موږ نه واخيست.

ما د دغه بنسټ په جوړولو کې چې په دې بڼه په افغانستان کې لومړنی دفتر ګڼل کېده ډېر زيار ويوست او په لږ موده کې مو وکولای شوای چې باتجربه حقوقپوهان د «استاد دين محمد ګران» په څېر او ځوان او فعال او با استعداده حقوقپوهان ورته را ټول او په کار وګومارو. دې دفتر وکولای شول چې په لږ موده کې لومړی په کندز او وروسته په کندهار کې ولايتي څانګې پرانيزي. دفتر د لومړي ځل لپاره په جزايي پېښو کې هغو تورنو ته چې د مدافع وکيلانو د حق الزحمې د ورکړې توان يې نه درلود حقوقي خدمتونه وکړل، دا يو انقلاب و. تر دې وړاندې يوازې د عدليې وزارت او سترې محکمې په چوکاټ کې يو شمېر مدافع وکيلان ګومارل شوي وو چې وړيا دغه خدمت وکړي، خو د دولتيتوب روحيې د هغوی د اغېز او فعاليت مخه نيوله. زموږ دفتر د يوې غير دولتي او غير انتفاعي موسسې په څېر ډېر خدمتونه ترسره کړل او ډېر ژر مشهور شو.

موږ تل يو امريکايي او څو افغان مدافع وکيلان درلودل چې په کابل او مخکې يادو شويو ولاياتو کې په کار بوخت وو.

مېرمن «رې» د دې دفتر د کار له برکته او د هغه تحقيقي کار له برکته شهرت وموند چې ما په افغانستان کې د عرفي معاملو په اړه ترسره کړی و او تر اوسه د «ILF» په سايټ کې زما په نامه ثبت دی. نوموړې له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



برکته د روم کنفرانس ته چې پر ۲۰۰۳ ز کې په ایټالیا کې د افغانستان د عدلي او قضایي څانګې د بیا رغاونې په اړه جوړ شوی رسماً وبلل شوه. د دغه دفتر د کار په پایله کې د هېواد د عدلي او قضایي سیسټم یوه مهمه برخه چې له تورن څخه حقوقي دفاع ده ورغول شوه. وروسته نورې موسسې او دفترونه هم جوړ شول چې دې ته ورته کارونه یې کول او بالاخره په افغانستان کې د مدافع وکیلانو ټولنه جوړه شوه چې ریاست یې له پیله د دې کرښو تر لیکلو پورې زموږ د دفتر د یوه مدافع وکیل په اوږه دی چې د زندان پر مهال زما سره په دوسیه کې شریك و او ما بیا له څارنوالۍ نه مدافع وکالت ته راوست.

په دې شخصي کار کې له بوختیا سره هممهاله چې ورځ په ورځ غوړېدو د لنډې مودې لپاره په دوو دولتي دندو کې هم بوخت شوم: یو په هغه مشاوریت وزارت کې چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د افغان مسلکي او لوړو زده کړو خاوندانود کدرونو د جذب لپاره جوړ شوی و او اداره یې د حاجي منګل حسین پر اوږو وه د اروپا او مرکزي آسیا د څانګې د رییس په توګه او دوهم د اساسي قانون د تسوید د کمېسیون په دارلانشا کې یو ورځنی کار، خو د ژوند چارو مې له دې دواړو دندو خبره په کابل کې د فرانسې تر سفارته ورسوله.

کله چې وپوهېدم چې په مشاوریت وزارت کې مې کار اغېزمن نه دی او له دې نه مې هېواد او پخپله ځانته د هېڅ ګټې تصور نه کېږي په هغه ازموینه کې مې ګډون وکړ چې د اساسي قانون د تسوید کمېسیون له لوري اخیستل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بریا وروسته مې په لومړنۍ غونډه کې چې د دارلانشا د رییس ډاکتر غلام فاروق وردګ په مشرۍ جوړه شوه ګډون وکړ. په همدې مازدیګر د خپل ټولګیوال او نږدې انډیوال «سیلوان فوریر» لیدو ته د فرانسې سفارت ته ورغلم، نوموړی دغه مهال د سفیر مرستیال و او له ډېرو هڅو وروسته پر دې توانېدلی و چې ما په کابل کې پیدا کړي. نوموړي زه له سفیر «ژان پییر ګینهوت» سره معرفي کړم. له اوږده روغبړ وروسته چې په هغو کې په هر څه او هر اړخ خبرې وشوې سفیر په ټینګار را نه وغوښتل چې په سفارت کې کار ورسره وکړم. ښاغلی ګینهوت پوه او نرم سړی و، په دري، انګلیسي او عربي ژبو یې هم خبرې کولې، آن چې ځینو فرانسویانو ګومان کاوه چې ښایي مسلمان شوی وي، سفیر را ته وویل: «هغه زده کړې دې چې په فرانسه کې کړې که د اساسي قانون د کمېسیون غړی وای نو څه به مې نه ویل، خو د دارلانشأ یو کارکوونکی درته مناسب نه بولم.»

بالاخره له ښاغلي ګیلاني او خپلې کورنۍ سره تر مشورې وروسته مې په سفارت کې کار پیل کړ. ما هلته د رسنیو د تحلیل او ارزونې او ژباړې دنده درلوده. له دې دندې سره مې یو ځل بیا له دولتي چارواکیو او ولسمشر سره سرو کار شو. د یادونې وړ یې بولم چې هر ځل به د سفارت کوم مسوول له ولسمشر سره لیدل او زه به ارګ ته ورسره تلم د نوموړي له ځانګړې لورېنې څخه به برخمن وم. په وروستي ځل چې په دې دنده کې ارګ ته لاړم د خدای پامانۍ پر مهال ولسمشر زما له راتلونکیو پروګرامونو پوښتنه وکړه. په ځواب کې مې ورته وویل چې غواړم پارلماني انتخاباتو ته ودرېږم، وې ویل: «پارلمان پرېږده راشه دلته له ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره کار وکړه» خو په لنډو مې خپل دلایل د ده خدمت ته وړاندې کړل او پر خپل تصمیم مې ټینګار وکړ.

له شاهي دورې وروسته لومړني پارلماني انتخابات پر ۲۰۰۵ کال کې ترسره شول. ما له وردګو ولایت نه ځان پارلمان ته نوماند کړ. د بهرنیانو لاسوهنې چې د ګډ کمېسیون او یوناما په چوکاټ کې په انتخاباتو کې کېدې ما د سر په سترګو ولیدې. په وردګو ولایت کې یوه ایټالوي مېرمن د انتخاباتو د ګډ دفتر مسووله وه. نوموړې د نوماندانو په بریا او ناکامۍ کې د خپلې شخصي سلیقې او لزومدید له مخې چې له جزئیاتو یې خبر نه یم مهم رول درلود. له هغو انتخاباتو څخه په زړه پورې خاطرې لرم. د وردګو ولایت هر ګوټ او کونج ته له هېڅ امنیتي خطر او اندېښنې پرته سفر، د خلکو مېلمه پالنه او مهرباني داسې څه دي چې نه یې شم هېرولای. یوه ورځ زما د انتخاباتي کمپاین په یوه غونډه کې چې د چك ولسوالۍ په یوه لرې پرته سیمه کې وه او د هزاره جات له مرکزي سیمو سره یې ډېر واټن نه درلود، د نړیوالو څارونکیو له ډلې یوې اروپایې ښځې ګډون درلود، له هغې سره یوازې دوه تنه پولیس وو، نوموړې په خام سړك څو ساعته مزل کړی و او ځان یې هلته را رسولی و، بېله دې چې کوم خطر ورته پېښ شوی وي.

له انتخاباتو یوه میاشت وروسته یې پایلې اعلان شوې. ما و نه کولای شوای چې بریالی شم. په دې موده کې زموږ د حقوقي دفتر کار چې ورځ تر بلې غوړېده، نه یوازې د هېواد دننه بلکې په بهر کې هم پام ور واړاوه. ما په همدې تړاو له مېرمن «ری» سره په ګډه یو سفر هنګري او بل سویس ته درلود. خو دې بریاوو د مېرمن «ری» اشتها د دفتر د بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنټرول لپاره را وپاروله او د ګډ کار لپاره یې فضا تیاره کړه. له امریکایي ټیم سره ګډ کار ما ته په ستر سبق بدل شو. ځکه د سر په سترګو مې لیدل چې پر هغې ټولنې د شخصي او مادي ګټې حاکم فرهنګ یو شمېر کسان د فرصت پالنې داسې حد ته رسولي چې له هېڅ ډول خیانت او پر ژمنه او تعهد له پښې اېښودلو ډډه نه کوي. تر کومه چې خبره د دفتر د جوړېدو او د هغو پر پښو درولو پورې مطرح وه او زما شتون دې موخو ته د رسېدو ضمانت کاوه زه هم په کابل او هم په واشنګټن کې «قهرمان» وم او د دې کار د بنسټګر په توګه یادېدم، خو چې کله دغه اهداف ترسره شول، آن زما له شریك بللو هم انکار وشو.

پارلمان ته زما نوماندي زما د امریکایي شریکانو لخوا ډېره بدرګه شوه. هغوی آن په پارلمان کې زما غړیتوب د عدلي او قضایي سکتور د پیاوړتیا فکتور باله. داسې نظام چې هېڅ تورن او شکمن کس د دولت په وړاندې بې دفاع پرېنږدي او د هېڅ مظلوم حق هلته تر پښو لاندې نشي. خو د انتخاباتي سیالیو په بهیر کې، چې زه د وردګو په یوه لرې سیمه کې په کمپاین بوخت وم همدغه امریکایي قانونپوهان چې دلته د دې لپاره راغلي وو چې موږ ته د قانونیت درس راکړي د دفتر ټول منقول وسایل یې ورسره یووړل او نور یې له نامه او امتیاز سره ما ته پرېښودل. زما افغان همکاران له دې کار څخه ډېر خپه او زړه توري شول. استاد دین محمد ګران د نورو په استازیتوب ما ته وویل چې که ډېرې میاشتې بې معاشه پاتې شو هم له تا سره پاتې کېږو. ما له دوی ټولو څخه مننه وکړه. هغه ورځ مې د غرور او آرامۍ احساس کاوه. غرور پر دې چې لیدل مې افغانان د پیسو ټولوونکیو او مال پالونکیو غلامان نه دي، عزت نفس او لوی خصلتونه یې لرل او آرامي پر دې چې و مې لیدل زما کار او صادقانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلن بېځایه نه شو، داسې کسان وو چې هغو ته یې درناوی درلود. خو ما له خپلو همکارانو وغوښتل چې زما انتظار و نه کړي او هر چېرته چې مناسب کار پیدا کړي هلته دې لاړ شي. آن مېرمن «ری» ته چې د دوی همکارۍ ته یې سخته اړتیا درلوده کولای شي لاړ شي.

د انتخاباتو له بهیره چې وزګار شوم هڅه مې وکړه د لویې څارنوالۍ له لارې د امریکایي ټیم لخوا زما د دفتر لوټ شوي سامانونه او مالونه بېرته ترلاسه کړم چې دا مې د څو کلونو زحمتونو مادي او معنوي ثمره وه. له همدې امله د نوموړې ادارې مرستیال «محمد اسحق الکو» ته ورغلم او عرض مې ورته وړاندې کړ. نوموړي ته مې وویل چې غواړم په دې برخه کې قانوني اقدام وکړم.

ښاغلي الکو په تروشه څېره او غوسه ناك غږ ما ته نصیحت کاوه چې له دې کاره تېر شم او «بهرنیان چې زموږ مرستې ته راغلي دي آزار نه کړم.» ورته و مې ویل خپل حق مې غواړم او حق په جانب یم. وې ویل څوك پر دې باور نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د واک له انتقال وروسته د هېواد اداري او سياسي وضعيت

حامد کرزي د ۲۰۰۱ ميلادي کال په وروستۍ اونۍ کې د جوړې شوې او مخکې چمتو شوې ادارې واك په لاس کې واخيست. دغه اداره متحده ايالاتو او ملګرو ملتونو جوړه کړه چې په بڼه او ځانګړتياو کې يې د څلور ګونو ګروپونو چنو وهلو هم رول درلود. دغه مهال افغانستان ډېر کمزوری شوی و. د جهاد د وخت جګړو، د مجاهدينو او طالبانو د حکومت کورنيو جګړو په تدريج د افغانستان اداره او پوځ شړولي وو. افغانستان عملاً په يوه بې حکومته او بې حاکميته خاوره بدل شوی و چې په رښتينې مانا دولت ورته نشو ويل کېدای.

په همدې سبب د بن پرېکړو ته د «د دولت تر دايمي ادارو جوړېدو پورې په افغانستان کې لنډمهاله ترتيبات» نوم ورکړای شو.

لنډ مهاله اداره چې په هغو کې حامد کرزی د رييس په توګه غوره شوی و، د څلورو مياشتو لپاره وه. په دې مانا چې بايد د ۲۰۰۲ ز کال د مارچ په مياشت کې بېړنۍ لويه جرګه جوړه شوې وای. دغه لويه جرګه بالاخره د ۲۰۰۲ ز د جون له يوولسمې تر ۱۹مې پورې جوړه شوه. د همدې کال د جون په مياشت کې يو کمېسيون جوړ شو چې رياست يې د «محمد اسماعيل قاسميار» پر اوږو و. د دې لويې جرګې د جوړولو ترتيبات يې ونيول. پخواني پاچا هم په دې لويه جرګه کې برخه واخيسته. بېړنۍ لويې جرګې يو ځل بيا حامد کرزی د افغانستان د ادارې رييس وټاکه چې د بن د پرېکړو له مخې «انتقالي اداره» يادېده. د استاد سياف په وړانديز انتقالي ادارې ته د «انتقالي اسلامي دولت» نوم ورکړل شو. د بن په پرېکړو کې دوه کمېسيونونه ډېر مهم بلل کېدل چې بايد له ډېرو واکونو سره يې خپل کار پيل کړی وای: يو د اداري اصلاحاتو کمېسيون او بل د بشري حقونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمېسيون. هدايت امين ارسلا چې د ولسمشر مرستيال هم و د اداري اصلاحاتو د پروسې رياست يې هم پر اوږه شو. د افغانستان لپاره د دې کمېسيون کار ډېر حياتي ارزښت درلود. د هېواد اداري سيستم د غويي له کودتا سره ګډوډ شو. ګومارنې او د مهمو دولتي مقامونو تر لاسه کول د ګوندي اړيکو پر بنسټ شول او استقلاليت او وړتيا د ګوندي او د ګوند دننه خپلمنځي سياليو قرباني شول. د مجاهدينو حکومت وضعه نوره هم خرابه کړه او د طالبانو امارت اداره بشپړه له منځه يووړه.

د دې لپاره چې افغانان په يوه نوې ژمنه له غمونکې ماضي نه عبرت واخلي او د خپل هېواد د بيارغاونې لاره غوره کړي، د وړتيا پر اساس د يوې مسلکي ادارې جوړېدل ډېر اړين وو. تر دې وروسته بايد د هېواد اداره د يوه ګوند او ډلې شخصي ملکيت نه ګڼل کېدای. د نوي افغانستان د جوړېدو لپاره دا د بنسټ لومړۍ ډبره ګڼل کېده. له بده بخته دغه تاداو هم کوږ کېښودل شو او هم ډېر خام او لړزېدونکی. لومړی په دې دليل چې کابل طالبانو پرېښود، مخالفينو يې بيا کابل ونيو او استاد برهان الدين رباني په بېړه داسې فرمان صادر کړ چې د هغو له مخې ټولې پخوانۍ ادارې له پخوانيو مسوولينو او مامورينو سره له سره فعالې شوې. په دې ډول ټول هغه کسان چې د طالبانو لاس ته د کابل له لوېدو وروسته تښتېدلي وو، له هر لوري بېرته راغلل او خپلې کرسۍ يې ونيوې.

نوې کمزورې ادارې دا توان نه درلود چې «د کابل فاتحين» له هغو مقامونو چې بيا يې نيولي وو لرې کړي. په دې برخه کې د ناکامۍ دوهم دليل د کمېسيون د رييس ناتواني وه. ښاغلی ارسلا آرام، دروند خو لټ سړی و چې د دغه سختې او خطرناکې دندې د ترسره کولو تحرك او جرئت يې نه درلود. بالاخره لوېديزو هېوادونو د امريکا او انګلستان په مشرۍ د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادارې د اصلاح لپاره ډېرې ناکامې نسخې وړاندې کړې چې خپلو ځانونو ته له لويو ډالري معاشونو او امتيازاتو پرته يې بله پايله نه درلوده. د کمېسيون زياترو بهرنيو سلاکارانو د ساعت په حساب حق الزحمه اخيسته، د کمېسيون غړيو او مامورينو هم لوړ معاشونه درلودل.

په پايله کې په اداره او معاشونو کې ځو ډوله سيستم رامنځته شو. دا په داسې حال کې وه چې بېلابېلو ډلو په ډېر حرص او تلوسه هڅه کوله چې خپل خلك په اداره او نظام کې وګوماري چې فرصت له لاسه ورنکړي. لنډه دا چې د دولتي مقامونو نيول په يوه بڼه جنګي غنيمت وګڼل شو چې له متحدې جبهې سره اړوندو کسانو او له لوېديز نه راغليو او په هغوی پورې تړليو افغانانو په دې کې اصلي ونډې ترلاسه کولې.

په بن کې د لنډ مهالې ادارې جوړښت هم د دې وضعې په رامنځته کېدو کې مرسته کوله. حکومت د ډلو او قومونو ترمنځ وېشل شوی و چې د «زمري برخه» په هغو کې متحدې جبهې او په جبهه کې نظار شورا تر لاسه کړه. په ياد مې دي چې حامد کرزي ته د واك له سپارل کېدو څو ورځې وروسته، په يوه لمرينه ورځ استاد برهان الدين رباني د پير سيد احمد ګيلاني د ليدو لپاره د ده کور ته راغی. ښاغلي رباني د لنډمهالې ادارې له ترکيب نه د شکايت په ترڅ کې کيسه وکړه چې د بن کنفرانس په بهير کې دی څومره د ډاکتر عبدالله او محمد يونس قانوني تر فشارونو لاندې و. نوموړي وويل: «هغه مهال چې په بن کې کنفرانس روان و او د حکومت پر ترکيب بحثونه کېدل، يونس قانوني به پرلپسې زنګونه راته وهل او ټينګار يې کاوه چې په نوي حکومت کې له دې سره توافق وکړم چې د کورنيو چارو، دفاع او بهرنيو چارو وزارتونه ده، ډاکتر عبدالله او جنرال فهيم ته ورکړای شي. ما انکار کاوه خو د قانوني ټينګار زياتېدو. له ځانه سره مې وويل چې دغه ځوانان ولې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانه خپه کړم، ښه دا ده چې د هغوی وړاندیز ومنم، نړیواله ټولنه به یې و نه مني. دا چې بهرنیانو یو عمر د پراخ بنسټه حکومت نارې وهلې، ځکه خو دا ناشونې ده چې د یوې درې کسانو ته د دریو کلیدي وزارتونو له ورکولو سره توافق وکړي. ما هغوی د دوی د خوښې وزارتونو لپاره وړاندې کړل، خو په حیرانی مې ولیدل چې ملګرو ملتونو او لوېدیزوالو له نه او نو پرته ومنل.»

د استاد رباني دغه کیسه چې زما په مخ کې یې وکړه په ښکاره ښیي چې امریکا او د دوی په پیروي ملګرو ملتونو او نورو لوېدیزو هېوادونو په افغانستان کې غوښتل دغسې اداره جوړه شي.

انتقالي ادارې باید دوه کارونه تر سره کړي وای: یو د اساسي قانون تدوین او بل د ولسمشرۍ انتخابات.

د اساسي قانون لویه جرګه د ۲۰۰۳ د ډسمبر پر ۱۴ مه (د ۱۳۸۲ لمریز د لیندۍ پر ۲۳مه) د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او حامد کرزي په حضور کې د لویې جرګې په هغه خیمه کې چې د المان د حکومت لخوا مرسته شوې وه جوړه شوه. دغه مهال زه د فرانسې په سفارت کې هم په کار بوخت وم. ځکه په کومو ورځو کې چې د لویې جرګې په کمیټو کې ګروپي کار هم دوام درلود، زه به د بهرنیو دیپلوماتانو هغه ځانګړې ځای ته ورتلم.

اساسي قانون له ډېرو بحثونو او ناندریو او یو ځل د جنرال عبدالرشید دوستم لخوا له تحریم وروسته بالاخره له ۲۲ ورځو وروسته د ۲۰۰۴ ز د جنوري پر ۴مه تصویب شو.

د اساسي قانون تصویب د ولسمشرۍ او پارلماني انتخاباتو لپاره لار پرانیستله. په دې ډول افغانستان د لومړي ځل لپاره د داوود خان له کودتا او یا لږ تر لږه د غویي د اوومې له کودتا وروسته د دیموکراسۍ پر اصولو ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه عادي هېواد د بدلېدو په لور گام واخیست. خو اوږدو جگړو د افغانانو د ژوند په هر اړخ کې ډېرې بدې اغېزې پرېښې وې. هجرتونو او د افغانانو په سیاسي چارو کې د بهرنیانو لاسونو ننوتلو ډېر لوی زیانونه اړولي وو، افغان ماشومان په پردیو چاپېریالونو کې ځوانان شوي وو، یو شمېر یې په همغه چاپېریالونو کې زېږېدلي وو. مذهبي او قومي مسایل چې د بېلا بېلو بهرنیو لوریو لخوا ورته لمن وهل کېده. یو شمېر افغان سیاستوال چې له هېڅ نه رهبرۍ ته رسېدلي وو قومي سیاست او شعارونه یې د خپلې سیاسي سوداگرۍ متاع گرځولې وه او له همدې لارې یې ځانونو ته پیروان او د پښې ځای موندلی و.

ماته خوړلي طالبان ځینو د پښتنو استازي بلل چې له همدې زاویې په عام ډول پښتانه په پلازمېنه کې شکمن وگڼل شول او له ستونزو سره مخ شول. دا مې په یاد دي چې د جنوبي ولایاتو زیاتره اوسېدونکي به کابل ته راغلل د پیر صاحب کور به یې ځانته خوندي ځای گاڼه او هڅه به یې کوله چې هلته و اوسېدلای شي.

د ښاغلي گیلاني د کور کوڅه د حکومت د یو شمېر امنیتي مسوولینو لخوا د «طالبانو کوڅې» په نامه شهرت موندلی و.

د ولسمشرۍ انتخابات د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۴ ز د اکتوبر پر ۹مه ترسره شول. د هغه څه پر خلاف چې په هند او پاکستان کې معمول وو، خلك آرام، درانه او بشپړ منظم په کتارونو کې ولاړ وو او خپل د خوښې نوماند ته یې رایه اچوله. په دې انتخاباتو کې ۱۸ تنو ځانونه ولسمشرۍ ته نومولي وو. مهم نوماندان د قومي تړاوونو پر بنسټ ډگر ته راوتلي وو. محمد یونس قانوني، جنرال عبدالرشید دوستم او محمد محقق له پېژندل شویو نوماندانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه وو، خو خلکو قومي تړاو ته له پام پرته حامد کرزي ته رایه ورکړه او نوموړی یې بریالی کړ.

د ولسمشرۍ لومړی ځل انتخابات افغانانو او د یوناما په چوکاټ کې بهرنیانو په ګډه ترسره کړل. وروستۍ پایلې د همدې کال د نومبر پر ۳مه اعلان شوې او حامد کرزی د افغانستان لومړنی انتخابي ولسمشر شو. د بن له کنفرانس وروسته ځینو فکر کاوه چې د افغانستان په سیاسي صحنه کې به د اساسي بدلونو شاهدان وي. د لوېدیزو هېوادونو زیاتې موسسې په بېلابېلو اړخونو لکه سیاست، مدني فعالیتونه، رسنۍ او نورو اړخونو کې فعالې شوې.

چې لومړنۍ یې د جمهوریت غوښتونکیو او دوهمې یې د متحده ایالاتو د دیموکراتانو د سیاسي ځانګې د NDIاو IRI اړوندې وې، دوی هڅه کوله چې په افغانستان کې نوي سیاسي ګوندونه وهڅوي.

له لنډمهالي اداري جوړېدو وروسته یوه ورځ په پېښور کې جاوید کوهستاني زموږ کور ته راغی. هغه په ډېر ډاډ را ته وویل: «نړیوال دا تصمیم لري چې د جهادي مشرانو پر ځای ځوانې څېرې راولي او نوي ګوندونه وهڅوي او مرستې ورسره وکړي چې د اوسنیو ګوندونو ځای ونیسي.» ښاغلی کوهستاني د نوي سیاسي حزب د جوړولو په حال کې و.

د هېواد را وروسته بهیر وښودله چې هېڅ کوم نوی سیاسي ګوند او نوې څېرې پر دې ونه توانېدل چې د زړو سیاستوالو ځای ونیسي.

د ولسمشرۍ له انتخاباتو څو میاشتې وروسته یانې د ۲۰۰۵ ز کال په دوبي کې د ولسي جرګې انتخابات ترسره شول. په دې انتخاباتو کې د افغانستان په هر ګوټ کې ډېرو کسانو ځانونه ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ته نوملي وو. زه چې په وردګو ولایت کې ولسي جرګې ته سیالیو ته ولاړ وم و نه توانېدم چې د بریا رایې واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ارګ کې د کار پیل

د پارلماني انتخاباتو د پایلو له اعلان نه څه موده وروسته یوه ورځ د ولسمشر فرهنګي سلاکار زلمي هېوادمل را ته زنګ وواهه او وې ویل: «رییس صاحب په یوه نړیوال کنفرانس کې د ګډون لپاره بهر ته ځي. په پام کې ده چې هلته مهمه وینا وکړي، غواړي چې تاسو او دانش بختیاري د وینا په لیکلو کې ونډه واخلئ او له دفتر سره مرسته وکړئ» پر دې مو ژمنه شوه چې سبا ته زه ارګ ته ورشم او له «کاوون کاکړ» سره چې د ولسمشر د پروګرامونو د تنظیم مسوولیت یې پر غاړه و دغه موضوع تعقیب کړم. هماغسې مې وکړل او سهار ته د نوموړي دفتر ته ورغلم، له ښاغلي بختیاري سره مې همدلته وپېژندل.

دغه مهال د دفتر د ریاست د سلاکارانو او د بېلابېلو څانګو د مسوولینو دفترونه په هغه ودانۍ کې وو چې په «ژېړه ودانۍ» مشهور و. د فرهنګي چارو د سلاکار زلمي هېوادمل، د حقوقي سلاکار عبدالسلام عظیمي او د نړیوالو چارو سلاکار رنګین دادفر سپنتا دفترونه هم په دې ودانۍ کې وو. دغه وداني وروسته ړنګه کړای شوه او پر ځای یې نوې ودانۍ د بېړنیو حالاتو لپاره د لازمو امکاناتو او وسایلو سره جوړه شوه چې د وسله‌والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان د قوماندې مرکز و. دغه وداني د ملي یووالي حکومت پر مهال د «توحید» مرکز په نامه یاده شوه.

د وینا د بشپړولو لپاره مو له ولسمشر سره څو ځلي ولیدل چې په هغو کې به ښاغلو عبدالسلام عظیمي، هېوادمل، سپنتا، د دفتر رییس لودین، کاوون کاکړ او دانش بختیاري هم وو.

ولسمشر را ته وویل چې یوه ناسته یوازې هم درسره لرم. وعده مو پر دې شوه چې د جمعې په ورځ د غرمې په یوولس نیمو بجو سره ووینو. ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه چې تر دې مهاله ترسره کړي وو ولسمشر ته تشریح کړل او دا لېوالتیا مې وښوده چې په حکومت کې کار وکړم چې د نوموړي لخوا په خوښۍ ومنل شوه. څه موده وروسته زه د «سیاسي مسایلو د تحلیلګر» په توګه د دفتر د ریاست په اړونده برخه کې وګومارل شوم. ولسمشر د دفتر رییس جاوید لودین ته هدایت ورکړ چې زما د ګومارنې دفتري چارې زر تر زره بشپړې کړي.

نوموړي په ځانګړې توګه ښاغلي لودین ته وویل: «پام کوه، هغه ډالري معاش دې چې ځانته غوره کړی ده ته هم پیدا کړه.» هغه مهال یو شمېر دولتي کارکوونکیو ته له هغو څخه د USAID د ارګ د کارکوونکیو معاشونه د ملګرو ملتونو او نړیوال بانك لخوا د بېلا بېلو پروژو په چوکاټ کې ورکول کېدل. د ولسمشر موخه همدغه معاشونه وو.

ما جاوید لودین لومړی ځل د بن په کنفرانس کې ولید، هلته نور ځوانان هم چې له بېلا بېلو هېوادونو څخه راغلي وو له ملګرو ملتونو سره یې په قراردادي ډول د کنفرانس د دفتري چارو او د اسنادو د ژباړې په برخه کې همکاري کوله. دوهم ځل مې له نوموړي سره د حامد کرزي د انتخاباتي مبارزو د کمپاین په دفتر کې چې د پیر صاحب په کور کې و ولیدل. هغه مهال نوموړی د انتقالي ادارې د مشر ویاند و. په دې ډول مې د تحلیلګر په توګه د دفتر د رییس په دفتر کې کار پیل کړ.

سره له دې چې اوس ارګ د برېښنا، جنراتور او دفتري وسایلو لکه کمپیوټر او نورو خاوند شوی و خو تر اوسه یې زیاته برخه ویجاړه وه. له همدې امله یې یو شمېر دفترونه په لویو کانتینرونو کې ځای پر ځای شوي وو. ولسمشر به چې په کومو ورځو کې ځانګړی پروګرام نه درلود. ډوډۍ به یې د «ارشیف» په نامه په یوه ودانۍ کې له مامورینو او بېلابېلو مېلمنو سره خوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سر کې یو لوی مېز ایښی و چې ولسمشر، خاص مېلمانه، سلاکاران او جګپوړي مامورین به یې شاوخوا ته کېناستل، تر هغه ښکته څو نور مېزونه اېښودل شوي وو چې نور مامورین به د هغو شاوخوا ته کېناستل او ډوډۍ به یې نوش جان کوله. ولسمشر ما ته څو ځله احوال راکړ چې «آرشیف» ته ورشم او ډوډۍ له دوی سره یو ځای وخورم. یو ځل هلته ورغلم، خو دوهم ځل چې ورتلم را ویې ګرځولم را ته وې ویل: «نوم دې په هغه لیست کې نشته چې له ولسمشر سره یو ځای ډوډۍ خوري» ما هم ومنله او بیا «آرشیف» ته نه تلم. له دوه درې ورځو وروسته یې له سکرتریت نه بیا احوال راکړ چې رییس صاحب وایي : «راځه» ورغلم ولسمشر را نه وپوښتل چې دا څو ورځې ولې رانغلې، د لېست د ستونزې کیسه مې ورته وکړه، ولسمشر ډېر خپه شو وې ویل: «هېڅ لېست نشته، نه غواړي چې ته دلته راشې.» د دفتر رییس او د تشریفاتو رییس یې ورټیل او ما ته یې وویل هره ورځ به غرمه دلته وې.

له یوې مودې وروسته ښاغلي کاوون کاکړ د هغه ستونزې په سبب چې په یوه بهرني سفر کې پېښه شوې وه دنده پرېښوده او پر ځای یې «داود مرادیان» چې نوی له انګلستان نه راغلی و زموږ د دفتر آمر وټاکل شو. ښاغلی مرادیان چې د نړیوالو چارو د سلاکار له دوستانو څخه و د کار د پیل په ورځو کې زما دفتر ته راغی او د خپل کار او پروګرام له څرنګوالي یې خبر کړم. هغه پر دې ټینګار کاوه چې «... ټکټ مه اوپنه» یانې ټکټ مې پرانیستی دی او رییس صاحب ته مې هم ویلي چې که مې پروګرامونه هغسې چې زه یې غواړم، عملي نشي او کار زما په زړه پر مخ لاړ نشي زه به بېرته انګلستان ته ستون شم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرادیان له راتلو سره ما له دې پرته چې خپل دفتر مې له لاسه ورکړم نور څه بدلون ونه لید. نوموړي هغه اطاق چې زما او «خلیل رومان» دفترونه پکې وو د ځان لپاره خوښ کړ او هماغه یې د ځان لپاره لازم بللی و. ښاغلي رومان دغه مهال دنده پرېښې وه.

د کار په بهیر کې به کله کله د ادارې له لوري له ستونزو سره مخ کېدم او هر ځل به ولسمشر مداخله وکړه او هغه به یې حل کړې. دغه بهیر به د دفتر پر رییس ښه نه لگېد. بالاخره یوه ورځ لودین ما ته وویل: «رییس صاحب مهربانه سړی دی، موږ ټول پرې گران یو، خو ته ډېر پرې گران یې ورته ووایه چې بله دنده درکړي چې زموږ له ستونزو بېغمه شې.»

نوموړي دغه خبره له ولسمشر سره هم کړې وه. ولسمشر دغه مهال ما ته دا دنده سپارلې وه چې د بلوچستان او چین او پاکستان د اړیکو په باب معلومات زما له خپل تحلیل سره ورته چمتو کړم، یوه ورځ یې له ما نه پوښتنه وکړه چې څه ډول دنده غواړې. ورته و مې ویل: «ما مطبوعاتي کار کړی خو له سیاست سره په تړاو کې. که د ولسمشرۍ د مطبوعاتي سلاکار په توگه کار وي ښایي اغېزمن ثابت شم.» نوموړي قلم را واخیست او وې ویل چې «همدا اوس دا کار کوم.» خو بیا یې له لږ چوپتیا وروسته وویل: «په هېواد کې دننه او یا د باندې به یو اجرایي کار غوره وي، زه غواړم چې اجرایي صلاحیت ولرې.» خو ما پر سلاکارۍ ټینگار وکړ، هماغه و چې د ۱۳۸۴ کال د کب پر ۱۶مه (د ۲۰۰٦ کال په لومړیو کې) د حکم له صادرولو سره رسماً د ولسمشر د مطبوعاتي سلاکار په توگه وټاکل شوم.

په نوې دنده کې بیا هم په ارگ کې پاتې شوم. چې کله ښاغلی سپنتا د بهرنیو چارو د وزیر په توگه هغه وزارت ته لاړ ښاغلی مرادیان هم هلته ورغی، ښاغلی عظیمي د سترې محکمې د رییس په توگه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر به معمولاً د ډوډۍ له خوړلو او لمانځه وروسته لنډ استراحت کاوه. یوه ورځ یې پر همدې مهال زه دفتر ته ور وغوښتم وې ویل چې غواړي ما د اطلاعات او کلتور د وزیر په توګه معرفي کړي. دا هغه مهال و چې «سید مخدوم رهین» د نوي جوړ شوي پارلمان لخوا له ستونزو سره مخ شو او د استیضاح په پایله کې سلب صلاحیت شوی و. د پارلمان په اند نوموړی نه و توانېدلی چې د رسنیو غیر اخلاقي بې جلبه خپرونو مخه ونیسي او ده پخپله د روژې په میاشت کې یوې تاجیکۍ سندرغاړې ته بلنه ورکړه او په کنسرت کې یې ګډون کړی و.

ولسمشر پخوا هم زه څو ځلې د ده په دفتر کې داسې غونډو ته ور وبللم چې د اطلاعات او کلتور وزیر او د ملي راډیو تلویزیون مسوولینو به پکې ګډون درلود. نوموړی د رادیو- تلویزیون له خپرونو خوشاله نه و. په دې غونډو کې به ښاغلي سپنتا هم ګډون کاوه، ځکه چې د رادیو تلویزیون نوی رییس د ده په معرفي ټاکل شوی و. کله چې ولسمشر ما ته د وزارت د کرسۍ وړاندیز وکړ د سلاکار په توګه مې د دندې له شپږو میاشتو لږه موده تېره شوې وه. ورته و مې ویل چې دا به غوره وي چې کومه ښځه دې مقام ته ونوموې، خو هغه مې خبره بابیزه وغورځوله پر دې یې ټینګار وکړ چې په دې باره کې چا ته څه مه وایه. زه خپل دفتر ته راستون شوم او کار ته مې دوام ورکړ.

پارلمان نوی جوړ شوی او د هغو د رییس انتخاب او د تائید د رایې لپاره د کابینې ور معرفي کول داسې کارونه وو چې هغه مهال یې ولسمشر حامد کرزی سخت بوخت کړی و. زما او ولسمشر ترمنځ له ځانګړې ناستې څخه به شل ورځې تېرې شوې وې، د خپل کار په دفتر کې وم د غرمې د لسو یا یوولسو بجو شاوخوا د ولسمشر سکرتر «ناظر حسین رحیمي» زنګ وواهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وې ويل چې په بيړه ځان رييس صاحب ته را ورسوه، چې کله دفتر ته ور ننوتم، لومړی مرستيال احمد ضيا مسعود او دوهم مرستيال محمد کريم خليلي، د چارو د ادارې رييس ډاکتر غلام فاروق وردګ او جاويد لودين ودرېدل او له ولسمشر سره د مخه ښې په حال کې وو. ولسمشر زه خپلو مرستيالانو ته ور معرفي کړم وې ويل: «دا دی هغه ځوك چې ما يې په اړه درسره خبره کړې وه.» له ستړې مشي وروسته د ولسمشر په هدايت بېرته خپل دفتر ته ستون شوم. لږ ځنډ وروسته د چارو د ادارې رييس راته زنګ وواهه د هغو اسنادو لېست يې را نه وغوښت چې له پارلمان نه د رايو د اخيستلو لپاره ضروري وو. زه کور ته لاړم، تحصيلي او نور اسناد مې چمتو کړل. ډېره موده وروسته ښاغلي وردګ راته کيسه وکړه چې ښاغلي احمد ضياء مسعود په پيل کې اطلاعات او کلتور وزارت ته زما له نوماند کېدو سره توافق کړی و د خپل کار دفتر ته له رسېدو سره يې نوموړي ته زنګ وهلی چې د ده د معرفي کار وځنډوه، ځکه چې څه پوښتنې يې په باب ورسره پيدا شوې دي، خو د چارو ادارې د ولسمشر په حکم له ځنډ پرته وزارت ته زما له نوماندۍ سره د ترانسپورت، اقتصاد، سوداګرۍ او ښځو چارو وزارتونو نوماندان رسنيو ته ور معرفي کړي وو او نور په هغو کې بدلون نشو راوستل کېدای. وروسته را ته معلومه شوه چې يو شمېر کسانو چې يا يې د لومړي مرستيال په دفتر کې کار کاوه او يا يې هلته راشه درشه درلوده نوموړي ته ويلي وو چې ګواکې ما پخوا په پېښور کې په ليکنو کې د احمد شاه مسعود په باب څه شيان ليکلي وو.

د لوړو زده کړو په وزارت کې زما د لوړو زده کړو د اسنادو په ارزونه کې هم ځنډ راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګومارل شوي پلاوي سره له دې چې د هغه تعلیمي ادارو انټرنېټي سایټونو ته مراجعه کړې وه چې ما درس پکې ویلی و او هېڅ شك په هغو کې پاتې نه و، زما یا هم د دیپلومونو له تائید نه ډډه کوله. هغوی د فرانسې د سفارت تصدیق هم وغوښت، دغه کار هم وشو، د فرانسوي ژبې د دیپارټمنټ استاد یې له پوهنتون نه را وغوښت، نوموړي هم زما ټول اسناد تائید کړل. بالاخره د وزارت د معینې مېرمن «پیکان» په مرسته مې په وزارت کې اسناد تائید شول.

څو ورځې وروسته موږ پینځه تنه نوي معرفي شوي نوماند وزیران ولسي جرګې ته تلو، آن پارلمان ته تر تګ مخکې طلوع تلویزیون زما پر خلاف د منفي پروپاګند څپه را پورته کړه. کله به یې زه توندلاری اسلامپال، کله د حزب اسلامي جګپوړی غړی، کله متعصب پښتون معرفي کولم او په دې تړاو به یې د داسې کسانو منفي نظرونه خپرول چې زه به یې نه پېژندلم او لومړی ځل به یې زما نوم اورېدلی و. دغو منظمو تبلیغاتو زه حیران کړم، خو دا چې ټول دروغ وو هېڅ اندېښنه مې نه درلوده.

بالاخره زه له ځلورو نورو نوماندانو سره پارلمان ته لاړم او ټولو د تائید رایې واخیستې. په دې ډول میر محمد امین فرهنګ د سوداګرۍ وزیر، ډاکټر جلیل شمس د اقتصاد وزیر، احسان الله جاوید د ترانسپورت وزیر، ډاکټره حسن بانو غضنفر د ښځو د چارو وزیره او زه د کلتور او ځوانانو وزیر شوم. هغه مهال اطلاعات او کلتور وزارت رسمي نوم د کلتور او ځوانانو وزارت و، په لوحه یې د «کلتور، ځوانانو او توریزم وزارت» لیکل شوي وو.

په ګلخانې ماڼۍ کې د لوړې تر مراسمو وروسته له نویو وزیرانو سره د خدای پامانۍ پر مهال ولسمشر ما ته وویل: «وزیر صاحب پام کوه چې ستا وزارت ډېر جنجالي دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پام کې وه چې نوي وزيران به د ولسمشرۍ له مرستيالانو څخه کوم يو معرفي کوي، زه لومړي مرستيال احمد ضيا مسعود معرفي کولم، په ټاکل شوي ساعت يې په صدارت ماڼۍ کې دفتر ته ورغلم او له هغه ځايه يو ځای وزارت ته لاړو.

د معرفي مراسم د مطبوعاتو په نړيوال تالار کې ترسره شول، د وزارت د بېلابېلو څانګو زيات شمېر مامورين راغلي وو، تالار تياره او هوا يې بويناکه او نمجنه وه، د لومړي مرستيال له وينا وروسته ښاغلي رهين وينا وکړه. نوموړي په خپله وينا کې وويل: «ښاغلی خُرم خوشاله نشې، ډېرې ستونزې دي، ته يوه دوپه وزارت ته راغلی يې.» بيا يې د آزادۍ مطبعې د مالي ستونزو څو مثالونه راوړل. زه تر هغه مهاله د دوپه په دقيقه مانا نه پوهېدم. تر هغه وروسته چې زه يې پخپل دفتر کې د کار پر کرسۍ کښېنوم او مېلمانه رخصت شول له يو چا نه مې د دوپه د مانا پوښتنه وکړه، ځواب يې راکړ چې «دوپه هغه پوروړی چې خپل پور نشي ادا کولای» دا ښه خبر نه و او زه يې فکر کولو ته اړ کړم. وپوهېدم چې د دې وزارت پر مسلکي چارو سربېره چې په څلورو پراخو ساحو کې وې زه بايد مالي او اداري چارو ته هم ځانګړې پاملرنه وکړم. هماغه و چې د خپلو لومړنيو اقداماتو په لړ کې مې د مالي او اداري اداره د معينيت کچې ته لوړه کړه او د توريزم نوی معين مې د توريزم او مالي او اداري معين په توګه ولسمشر ته وړانديز وکړ. که څه هم دغه عنوان يو څه عجيب ښکارېدو خو زه مجبور وم چې دا کار وکړم.

يوه ورځ په مجلس کې امرالله صالح د ملي امنيت عمومي رييس چې زما تر څنګ ناست و را ته وويل: «د وزير په توګه به ستا بريا په لومړي ګام کې دا وي چې وزارت دې په خبرونو کې راشي، تر اوسه چې اصلاً خلك د هغو نوم نه اوري، ځکه چې فعاليت نه لري.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یادونې ده چې د چارو ادارې او د وزیرانو شورا دارلانشأ زما په وړاندیز د وزرات نوم پر «اطلاعات او کلتور» وزارت بدل کړ چې د کابینې له تصویب وروسته رسمي شو.

## په اطلاعات او کلتور وزارت کې کار

د وزارت او د ښار په بېلابېلو برخو کې د هغو د نورو ځانګو په دفترونو کې پر ظاهري چټلي او بې نظمۍ سربېره چې کله زه د ستونزو تل ته ور ننوتم وپوهېدم چې د ظرفیتونو او وړتیاو کچه ډېره ټیټه ده، پر کار د پوهو ځوانو او فعالو کدرونو نشتوالی، زما په لار کې تر ټولو ستر خنډ و.
د ساري په توګه د پلان ریاست داسې کس اداره کاوه چې پر انګلیسي او یا بله کومه بهرنۍ با اعتباره ژبه یې خبرې نشوای کولای په داسې حال کې چې دغه ریاست له بهرنیو هېوادونو، ملاتړ کوونکیو ادارو او مالیې وزارت سره د اړیکو دنده درلوده. د مالیې وزارت له دې اړخه ډېر شکایت درلود او زموږ وزارت ته یې په سپك نظر کتل. تیاتر، فلم جوړول، موسیقي، کتاب چاپول او نور بشپړ په ټپه ولاړ وو.
د ودانۍ پاکولو ډېرې ورځې واخیستې. د کار په لومړیو ورځو کې د اروپایي هېوادونو له شپږو سفیرانو سره «فرانسس ویندرل» زما دفتر ته راغی. ویندرل هغه مهال د اروپایي اتحادیې سفیر و. هغوی د ملي رادیو تلویزیون د برخلیك لپاره زما دفتر ته راغلي وو. د هالنډ سفیر غوښتل چې تشناب ته لاړ شي. ما تر دغه مهاله د وزارت د ودانۍ د بیارغاونې کار نه و پیل کړی. تر ټولو غوره تشناب د وزیر و چې د غولي کاشي یې مات شوي وو، په یوه کونج کې یې یوه خیرنه پلاستیکي پرده راځړېده چې شا ته یې پر یوه لرګینه کرسۍ د اوسپنې آبدان ایښی و. د تشناب هواکش فعال نه و، په داسې حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې کړکۍ يې هم نه درلوده. خدای پوهېږي چې په هغه ورځ د يوه افغان په توګه څومره وشرمېدم.
وزارت ته نږدې په ملي آرشيف کې د تاريخي اسنادو په واسطه چې زموږ ملي شتمني ده، مامورينو برقي منقلونه روښانول او پر هغو يې خواړه پخول، چې د هغو غوړيو شاوخوا غوړه او چټله کړې وه.
د وزارت او راډيو تلويزيون په ټولو ځانګو کې په دفترونو کې د ديګ پخولو کلتور دود شوی و.
د وزارت په ودانۍ کې د وزير خانه سامان «محمد طاهر» چې په «باشي صاحب» مشهور و، يو بوډا او شريف انسان و. د وزير اړوند لوښي يې په يوه وړوکې احاطه کې د يوه دهليز په کونج کې په دوو پلاستيکي خيرنو تشتونو کې مينځل. له فرهنګي معين نه مې وپوښتل: «دا خو عمومي وضعه ده، تاسو او وزير صاحب ډوډۍ چېرته خوړله؟» نوموړي په ځواب کې را ته وويل: «ما او وزير صاحب خپله ډوډۍ له جميل هوټل نه راغوښتله».
جميل هوټل وزارت ته مخامخ پروت مېلمستون و. زياتره کسان به چې له ولاياتو نه راتلل په دې مېلمستون کې به اوسېدل. وروسته خبر شوم چې وزارت د دغه هوټل هم پوروړی دی.
د مطبوعاتو د نړيوال تالار هوا بنده وه چې په لومړي پوړ کې و او د تشنابونو له امله يې هوا ډېره بد بويه وه. د دې تالار تر څنګ وړکتون و. هغو مېرمنو چې په وزرات کې دنده درلوده او وړوکي ماشومان يې درلودل له دې وړکتون يې ګټه اخيستلای شوای. خو د هغو هم هوا بنده وه او د لوبو د وسايلو هم هېڅ درك نه و.
کله مې چې پرېکړه وکړه چې د مطبوعاتو نړيوال تالار ورغوم زيات وخت يې په پاکولو ولګېد، د پردو له شا نه يې بوتل او هډوکي را وايستل، په تالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د هېواد د تاریخي شخصیتونو تصویرونه لګېدلي وو چې غیر هنري رسامي شوي وو. د ساري په توګه یو لاس اوږد او بل یې لنډ. د یوه پزه کږه او د بل سترګه. ما دغه تصویرونه د هغو شخصیتونو سپکاوی وباله او د لرې کولو هدایت مې ورکړ.

د ملي ګالري ودانۍ چې نوې د «نګارستان ملي» په نامه نومول شوې وه او دغه نومول د وزارت لاسته راوړنه شمېرل کېده، په ډېره بده وضعه کې وه، د بامونو څڅوبی او له کړکیو نه د ګردونو ننوتلو د هېواد د نومیالیو انځورګرانو هنري تابلوګانې چې یوازینۍ بېلګې وې له ګواښ سره مخ کړې وې.

په وزارت کې مې د ګوتو په شمېر ورځې تېرې شوې وې، یو مازیګر مې له ولسمشر سره د لیدو وعده درلوده. د ګلخانې په لوی صالون کې انتظار وم چې ښاغلی رهین راغی. نوموړی په هند کې د افغانستان د سفیر په توګه ټاکل شوی و. غوښتل یې چې امریکا ته د خپلې کورنۍ لیدو ته لاړ شي، له حامد کرزي نه د اجازې او مخه ښې لپاره راغلی و. په داسې حال کې چې دواړه له ولسمشر سره د ملاقات لپاره انتظار وو ده راته وویل چې د کار لومړیتوبونه مې څه شی دي، ما د خپلو کارونو د لومړیتوبونو په اړه لنډ معلومات ورکړل. له هغو جملې نه مې د کتابونو د چاپ یادونه هم وکړه، هغه په ځواب کې را ته وویل: «دا ښه مفکوره نه ده، د کتاب چاپ د خصوصي سکتور کار دی، نه د وزارت.»

وروسته خبر شوم چې وزارت تر اوسه پورې تر ځلور ټوکونو لږ کتابونه چاپ کړي وو، خو زما نظر د اطلاعات او کلتور وزارت د دندو په باب بشپړ توپیر درلود. په هغه موده کې چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دنده زما پر اوږو وه ټولټال ۳۳ عنوانه کتابونه د وزارت په تېره د بیهقي کتاب خپرولو موسسې له لوري چاپ شول، افغانستان د کتاب د نړیوال ستندرد د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومره یا (ISBN) ترلاسه کړه. په داسې حال کې چې تر دې مخکې افغان خپروونکي اړ وو چې خپل کتابونه د یوه ګاونډي هېواد تر کود لاندې خپاره کړي. د وزارت نوي سلاکار «نجیب الله منلي» په دې کې ډېر زحمت وګاله. کله چې ما وزرات پرېښود ۱۴ عنوانه کتابونه او د مقالو ټولګې چاپ ته چمتو وو، په دې موده کې مې هڅه وکړه چې په بېلابېلو مناسبتونو د کتابونو نندارتونونه پرانیزم، د ساري په توګه د نوروز په مناسبت، د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت، د خپلواکۍ د ورځې او داسې نور. په دغسې یوه نندارتون کې چې په کابل پوهنتون کې جوړ شوی و خپرندویانو د ۵،۱ میلیون افغانیو په ارزښت کتابونه وپلورل.

پر ۱۳۸۷ لمریز کال مې د بیهقي ریاست په چوکاټ کې د قرآن ټولنه جوړه کړه چې د قرآنکریم د خطي نسخې د خطاطۍ، لیکنې، تذهیب او اعرابو کار یې په کې زما د کار تر پایه تر ۱۶۹یم مخ پورې یانې د ۹ مې پارې تر پیله رسېدلی و.

د بېلارې کوونکیو او غلطو تبلیغاتو لړۍ چې دې وزارت ته زما له نوماندۍ پیل شوې وه، زما د کار له پیل وروسته هم روانه وه. طلوع ټلویزیون هره ورځ زما پر خلاف د وزارت د کارونو په تړاو راپوررونه خپرول.

د آیینې مرکز چې له آزادو رسنیو سره مرستې کولې او د فرانسویانو لخوا جوړ شوی لومړنی ځای و چې د وزارت د دندې له پیلولو وروسته یې زه لیدو ته ورغلم. «رضا دقتي» ایراني نسبه فرانسوی چې د نړۍ له مشهورو عکاسانو څخه یو دی د دې مرکز مسوولیت یې پر اوږه و. نوموړی چې د مبارکۍ لپاره دفتر ته راغی، زما یو چوکاټ شوی تصویر یې چې همده اخیستی و ډالۍ راوړ. د خپل مرکز د لیدو بلنه یې راکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته د آینې مرکز ته ورغلم، د دوی له مسوولینو سره مې د دوی د فعالیتونو مستند فلم وکوت او یو شمېر دفتري ځانګې مې یې ولیدې. د مرکز ټولو کارکوونکیو زما تود هرکلی وکړ.

یوه یا دوې ورځې وروسته یو خبریال زما سکرتریت ته راغی او غوښتل یې چې د آینې په دفتر کې زما لخوا د ښځو عکاسانو د سپکاوي په تړاو زما نظر واخلي. ما له نظر ورکولو ډډه وکړه، ځکه دغه تور ما ته تر دې ډېر له ملنډو ډک ښکارېدو چې زه دې نظرپرې ورکړم. خو په حیرانۍ مې ولیدل چې دغه خبر خپور شو او ډېر تود غبرګون یې درلود، آن له هېواده بهر ته یې غځ ورسېد او د خبریالانو د دفاع د یو شمېر بنسټونو غبرګونونه یې هم را وپارول. تور داسې و چې ګواکې ما د آینې مرکز د لیدو پر مهال چې کله یو شمېر ښځینه عکاسانو غوښتل زما تصویر واخلي ما په غوسه دوی ته وویل چې ښځې حق نه لري چې زما تصویر واخلي. ما په پیل کې په دوو دلایلو د دې تور پروا و نه کړه:

یو دا چې زه به ولې د یوې ښځینه عکاسې د تصویر اخیستلو مانع ګرځېدم او دغه خبره نه رښتیا وه او نه معقوله. دوهم په دې دلیل چې ما په اروپا کې لیدلي وو پخوا تر دې چې رسنۍ پر چا داسې تور پورې کړي سل ځله فکر کوي، ځکه د دروغو تور او تهمت قانوني تعقیب لري. خو په ډېره حیرانۍ دلته مسأله بل ډول وه او هغو کسانو او ادارو چې ما یې تصور هم نشو کولای پر دې باور وکړ او غبرګون به یې ښود.

په همدې خاصه برخه او نورو برخو کې د نړیوالو اړوندو سازمانونو چلن زه پر دې وپوهولم چې لوېدیز هېوادونه په عام ډول د دیموکراسۍ اصول یوازې د ځانونو لپاره غواړي، خو زموږ په څېر خلکو او هېوادونو ته نور متفاوت معیارونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما باید په وزارت کې ډېر کارونه ترسره کړي وای. ستونزه به هغه مهال زیاته شوه چې په ځینو اړخونو کې به له پخوا څخه د کړو اېښودل شویو بنسټونو سره مخ کېدم. د هغو سمول ډېر له ستونزو ډك او آن کله کله ناشوني و.

له هغو څخه یو د بې جلبه او خپلسریو رسنیو رامنځته کېدل وو چې د قانون له منلو او پلي کېدا سره عادت نه وې، چې دې کار ته به اړ کېدلې سانسور به یې باله. لکه چې مخکې مې یې د مسلکي مسوولیت نه منلو مثالونو ته اشاره وکړه.

له یوې بې قانونه او بې جلبه دورې وروسته د نړۍ د منل شویو مسلکي اصولو چوکاټ ته د رسنیو ور ننه ایستل چې په هغو کې د ژورنالیزم هغه لومړني اصول رعایت شي، پر رسنیو د فشار په مانا و. پر همدې دلیل په افغانستان کې اکثریت بې وسلې شوی ولس چې غږ یې هم نه درلود د هغو لوریو تر پرلپسې یرغل لاندې و چې په یو ډول یې کومه ټلویزیوني یا راډیویي فریکونسي تر لاسه کوله او یا یې د چاپي رسنۍ جواز لاسته راوړ. دې ډلې چې له هر چا سره غوښتل نابرابره جګړه کوله او د یوه هېوادوال شخصیت یې داغدار کاوه. په دې ډول فضا کې که د کومې رسنۍ خاوند یو خاص سیاسي لوری او موخه درلوده، له په خپل لاس کې رسنۍ څخه یې تر وروستي حده د هغو په ترلاسه کولو کې کار اخیستلای شو.

زموږ ټولنه د دیني، ټولنیزو او اخلاقي ارزښتونو خلاف خپرونو نه تر پزې راغلې وه. دوی په خپل کورني حریم د رسنیو له تېري نه په عذاب وو. ما په دې برخه کې څو ځله د رسنیو خاوندانو ته دا وویل چې:

«فریکونسي د ولس حق او شتمني ده، تاسو دغه حق په خپل لاس کې اخیستی. باید د ولس د ارزښتونو او ګټو درناوی وکړئ.» خو بیا بیا یې زما په تړاو وویل او ولیکل چې: «ملي ګټې یانې څه؟ موږ د ملي ګټو تعریف نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو.» د تلويزيونو په اصطلاح طنزيه پروګرامونو په وار وار په ډېره بې هنرۍ د خلکو د سپکاوي او شخصيت توهين کاوه. په داسې حال کې چې د قرباني شويو کسانو له حقونو څخه دفاع سانسور ګڼل کېدو. دغه ډول بې مسووليتي او له هغو څخه د لوېديزو سازمانونو او افرادو دفاع د ټولنې د معنوي او دفاعي ارزښتونو له ماتېدو پرته بله پايله نه درلوده چې دا کار شعوري ترسره کېدو. ځکه هر ملت چې خپلو ارزښتونو ته درناوی ولري، هېڅکله د چا غلام کېږي نه.

## د ملي راډيو ټلويزيون د برخليک مسأله

کله چې وزات ته راغلم يوه توده او جنجالي مسأله چې زما په مخ کې وه چې بايد حل کړې مې وای هغه د افغانستان د ملي راډيو-ټلويزيون برخليك و. دغه رسنۍ سره له دې چې په زړه پورې پروګرامونه يې نه لرل او په خپرونو کې يې نوښت ډېر لږ ليدل کېدو، خو د دولت د رسمي ژبې په توګه يې زيات ارزښت او اعتبار درلود. د ډله ييزو رسنيو قانون وزارت ته زما له راتلو مخکې له يو لړ تعديلاتو سره د کابينې له تصويب وروسته پارلمان ته استول شوی و. په دې قانون کې مهم بحث ملي راډيو- ټلويزيون خپلواك کېدل وو.

د لوېديزوالو او د ملي راډيو –ټلويزيون د برحال رييس هڅه دا وه چې دغه اداره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بدنه بېله کړای شي، د ساري په توګه لکه د «بي. بي. سي» د يوه خپلواك بورډ لخوا اداره شي. دغه بورډ هم د «محمد موسی معروفي» په مشرۍ جوړ شوی و، چې د راډيو- ټلويزيون عمومي رييس د هغو پروا نه درلوده. د هېواد وضعې ته په پام ما د ملي راډيو- ټلويزيون غير دولتي کېدل په ګټه نه بلل. په دې تړاو مې له ولسمشر سره خبرې وکړې هغه هم همدغسې فکر کاوه. موږ دواړه په دې نظر وو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان دولت کمزوری دی، بهرنیان دلته پوځي، سیاسي او استخباراتي حضور لري. بل لور ته همدغه بهرنیان له لازمي څارنې او کنټرول پرته د بېلابېلو رسنیو په جوړولو او پیاوړي کولو بوخت دي.
دې وضعیت ته په پام دا نشو کېدای چې د یو شمېر لوېدیزو هېوادونو په تقلید د دولت له لاسه یوازینۍ غږیزه او تصویري رسنۍ و ایستل شي. خو لوېدیزو په تېره اروپايي هېوادونو او وروسته امریکا متحده ایالاتو په ډېره لېوالتیا دغه مسأله تعقیبوله او له بېلابېلو لارو یې هڅه کوله چې ما پر دې قانع کړي چې ملي راډیو-ټلویزیون خپلواك او یا په اصطلاح عامه خدماتو ته وسپارل شي.
په وزارت کې زما د کار په لومړیو ورځو کې د اروپايي اتحادیې استازی فرانسس ویندرل د دې اتحادیې له څو سفیرانو سره زما دفتر ته راغلل، د ملي راډیو- ټلویزیون د غیردولتي کېدو د ګټو په باب یې اوږدې خبرې راسره وکړې. هغه ژمنه وکړه چې زه د دوی له دې غوښتنې سره توافق وکړم، نو له وزارت سره به مالي مرسته وکړي او د ملي راډیو- ټلویزیون د پیاوړتیا لپاره به تر ۶۰ میلیون یورو زیاتې پیسې ځانګړې کړي.
د رسنیو قانون د ولسي جرګې په اړوند کمېسیون کې تر مطالعې او ارزونې لاندې و. حاجي محمد محقق د دې کمېسیون رییس و. د یاد قانون په حقوقي اړخ کې ستونزې وې. په ځانګړې توګه د راډیو- ټلویزیون د غیردولتي کېدو په تړاو. د ولسي جرګې دیني- فرهنګي او تعلیمي کمېسیون له وزارت نه وغوښتل چې د قانون په تړاو خپل نظر ولسي جرګې ته واستوي او د هر اړخیزې ارزونې لپاره خپل استازي کمېسیون ته ور معرفي کړي. ما د وزارت له حقوقي مشاورینو هر یوه «سید یوسف حلیم» چې هغه مهال د عدلیې وزارت د تقنین رییس و او د دې کرښو د لیکلو پر مهال د سترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمې رییس او د هېواد قاضي القضات دی. استاد نصرالله ستانکزي او استاد ګل رحمان قاضي سره تر پرلپسې مشورو وروسته د وزارت نظر د ولسي جرګې اړوند کمېسیون ته واستاوه او استازي مې هم پر قانون د ګډ کار لپاره ور معرفي کړل.

پر دې سربېره دوه ځله پخپله د استاد محقق کور ته کارته سه ته ورغلم او د قانون ټولې نیمګړتیاوې او د ملي راډیو- ټلویزیون د غیر دولتي کېدو زیانونه مې ورته په تفصیل وویل.

ما له دې لیدنو څخه داسې انګېرله چې نوموړی راسره موافق و. خو وروسته جریاناتو وښودله چې ښاغلي محقق د لوېدیزوالو د غوښتنو له مخې عمل کاوه. د لوېدیزو هېوادونو سفیرانو په منظم او سیستماټیك ډول پارلمان ته تګ راتګ درلود او د ملي راډیو- ټلویزیون د غیر دولتي کېدو په اړه یې له خپل نفوذ څخه کار اخیست. د ژورنالیستانو یو شمېر اتحادیو او بنسټونو هم چې د لوېدیزوالو له لوري ورسره مرستې کېدې، په دې مسأله کې له هغوی سره مرسته کوله.

## د ملي راډیو- ټلویزیون دننه ستونزې

لکه چې پخوا مې یادونه وکړه ولسمشر له پیله د ملي راډیو- ټلویزیون له خپرونو خوښ نه و. پخوا تر دې چې زه د مطبوعاتي چارو سلاکار شم هغه بیا بیا د اطلاعاتو او فرهنګ له وزیر څخه وغوښتل چې په دې برخه کې د اصلاحاتو او سمون اقدام وکړي. ظاهراً دې کار نتیجه نه وه ورکړې. وروسته بیا په دغه مسأله کې دوه ځانګړي مجلسونه جوړ شول چې زه هم پکې وم. په دې دواړو مجلسونو کې ولسمشر ټېله دې چې کومه مثبته پایله ترلاسه کړي، وزیر او د راډیو- ټلویزیون دوو درې تنو ته چې په مجلس کې حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو په غوسه او توندو الفاظو غونډې ختمې کړې. وزیر ته یې وویل: «ته د دې کار له ترسره کولو ناتوانه یې یوازې له مړیو سره دې سروکار دی.»

ولسمشر د دې رسنۍ په خپرونو کې د اصلاحاتو او سمون لپاره پر ۲۰۰۵ کال کې «نجیب الله روښن» د هغو عمومي رییس ټاکلی و. ما ښاغلی روښن هېڅکله نه و لیدلی او نه مې پېژاند. نوموړی د ښاغلي سپنتا ملگری او ایډیولوژیك انډیوال و چې له ده سره یې گډه سیاسي سابقه درلوده. کوم بدلونونه چې ښاغلي روښن د ملي راډیو- ټلویزیون په خپرونو کې را وستلي وو ظاهراً د ولسمشر د قناعت وړ نه وو. نوموړي یو شمېر ځوانان دې ادارې ته راوستلي وو او لوړ ډالري معاشونه یې هغو ته ورکول، دا چې د ده مالي سرچینې کومې وې معلومه نه وه.

دغه شمېر چې ښایي اویا تنو ته رسېدل په اداره کې یوه لوړه او بشپړه بېله طبقه رامنځته کړې وه. هغوی له پخوانیو کارکوونکیو سره نه یوازې دا چې هېڅ اړیکې نه درلودې بلکې له هغوی سره یې له سپکاوي ډك چلن کاوه. پخوانیو مامورینو ځانونه گوښه شوي بلل او فکر یې کاوه چې حق یې تر پښو لاندې کېږي. هغوی په ډېرو سختو شرایطو کې هم دغه اداره نه وه پرېښې او د آرشیف په شمول یې د ادارې ټول هست او بود خوندي ساتلي وو. اوس یې هم په ډېره لږه حکومتي تنخوا کار کاوه.

پر دې ټولو سربېره په یوه مجلس کې چې د ولسمشر په دفتر کې مو درلود او په هغو کې ښاغلی رهین او د ملي راډیو ټلویزیون مرستیال «ښاغلی نادر احمدي» هم وو ځکه چې ښاغلی روښن له هېواده د باندې و، ما ولیدل چې ولسمشر د ښاغلي احمدي په ځواب کې د روښن او د هغه له ځوانانو کلکه ننگه وکړه او وې ویل: «تاسو خو نشئ کولای، پرېږدئ چې ځوانان کار وکړي.» ولسمشر د راډیو- ټلویزیون له رییس نه د وزیر شکایتونو ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوږ نه نيو. په دې ډول راډيو- ټلويزيون له وزارت نه عملاً خپلواك فعاليت کاوه او ټول واك يې د عمومي رييس او هماغه غير دولتي تشکيل په لاس کې و چې عمومي رييس ورته جوړ کړی و.
زه په دغسې وضعيت کې د وزارت په دنده وگومارل شوم. ښاغلي روشن په پيل کې هڅه کوله چې ما راضي وساتي او پخپله خپلسرۍ ته دوام ورکړي.
د ساري په توگه زما د کار د پيل په لومړيو اونيو کې کې د بهرنيو خبرونو ځانگه د المان د «دويچ ويله» په مرسته په نوې بڼه پرانيستل شوه. د پرانيستې په مراسمو کې د افغانستان او المان د بهرنيو چارو وزيرانو د راډيو- ټلويزيون عمومي رييس بدرگه کاوه، زه هم هلته حاضر وم خو د يوه نابللي مېلمه په څېر. د پټې له پرېکولو وروسته ښاغلي روشن را ته وويل: «وزير صاحب تاسو ته مو په هغه سټوډيو کې يوه مرکه چمتو کړې او موږ د جرمني د بهرنيو چارو له وزير سره يوې بلې سټوډيو ته ځو چې هلته يو ټلويزيوني بحث لرو.»
زه د خپلې مرکې لپاره لاړم او دوی درې واړو په الماني ژبه خپل پروگرام مخې ته بوت.
ښاغلی روشن پوهېدو چې د ولسمشر له ماشومانو سره مينه ده، د جمعې يوه ورځ يې هغه ته بلنه ورکړه او په سټوډيو کې يې د ماشومانو پروگرام ورته جوړ کړ. خو ولسمشر چې څه هيلې درلودې په تېره د يوې ملي رسنۍ په توگه يې چې د ملي ارزښتونو او سياستونو په دفاع او د هېواد د فرهنگي شتمنۍ د غبرگون په اړه د ملي راډيو- ټلويزيون فعالېدل غوښتل هغه هيلې يې پوره نه شوې.
په ملي ټلويزيون کې په ډېر دقت د يوې ذايقې او يوه ځانگړي فکر لپاره کار کېدو او يوه ځانگړي گروپ پر هغو واکمني درلوده. دې گروپ يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر دولتي مامورين په تمه کړي او له ځان سره يې ملګري کړي وو. دغه ګروپ د رياستونو او مديريتونو د ترلاسه کولو لپاره، د سکتوري دندو په ځېر د اداري پړاوونو له بشپړولو پرته خپل کار ته دوام ورکاوه. ښاغلي روشن د ملي راډيو- ټلويزيون په غير دولتي کېدو هم زړه تړلی و. ده فکر کاوه چې له دې کار سره به له اطلاعات او کلتور وزارت نه بېغمه شي.
په پايله کې يوه لويه جبهه جوړه شوې وه او د وزرات له تشکيلاتو نه يې د راډيو- ټلويزيون د ايستلو لپاره ډېر توند کار کاوه. په دې جبهه کې بهرنيان او له دوی سره تړلي کورني کسان وو چې هر لوري په دې مبارزه کې خپلې خپلې ګټې لټولې. بهرنيانو غوښتل چې له حکومت نه غبږ واخلي چې د اړتيا پر مهال حکومت او ولسمشر خپل غبږ ولس ته و نه رسولای شي. د بهرنيو لوريو لخوا جوړ شوي بنسټونه او اتحاديې د خپل «فنډ» په غم کې وو. د يو شمېر رسنيو مسوولين او د پارلمان غړي چې زه يې ښه نه ايسېدم او فکر يې کاوه چې زه يو توندلاری مسلمان او متعصب پښتون يم، زما د کمزوري کولو په نيت او بالاخره زموږ د بهرنيو چارو وزارت په پراخ ملاتړ ښاغلي روشن پر دغه ملي اداره د خپلو فکري او سياسي ملګرو د حاکميت ټينګولو په خاطر له بهرنيانو سره په ګډه يو بل ته لاسونه سره ور کړل، له اطلاعات او کلتور وزارت نه د ملي راډيو- ټلويزيون د خپلواک کولو او د عامه خدماتو رسنۍ پر بدلولو شعارونه يې تاوده کړل او زما پر خلاف ډګر ته را ووتل.
پر «۲۰۰٦»ز کال «سيف ساحل» د ملي راډيو رييس تقاعد شو، ما ته راډيو ډېر ارزښت درلود، ځکه چې د افغانستان په هر کلي او بانډه کې اورېدل کېده. که موږ ښې خپرونې درلودای د نا امنيو ځينې ستونزې هم چې نوې را پيدا شوې وې حل کېدای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی روشن له معمول سره سم په المان کې و، د هغه له مرستیال نادر احمدي سره مې چې د عمومي ریاست سرپرست هم و د وړ شخص په باب مشوره وکړه، د ده په مشوره مې «عبدالغني مدقق» چې له پخوانیو کارکوونکیو او د ټلویزیون له نطاقانو څخه و دې کار ته غوره کړ. ښاغلی مدقق فعال ځوان و، تر دې وروسته چې د نوموړي د ټاکل کېدو چارې بشپړې شوې او د ولسمشر منظوري راغله د اصولو له مخې هغه ادارې ته چې تر دې وروسته یې مسوولیت ور په غاړه و باید رسماً ور معرفي شوی وای. د وزارت اداري معین د نوموړي د معرفي کولو لپاره ورغلی و، خو ښاغلي روشن چې اوس هېواد ته راستون شوی و، په ډېر سپك چلن د ملي راډیو د نوي رییس له معرفي کولو انکار وکړ، پر دې سربېره یې په ګواښنه لهجه ویلي وو: «زه نه غواړم چې ښاغلی مدقق د ملي راډیو رییس شي زما کاندید بل څوك دی.»

په هر صورت ښاغلی مدقق رسماً معرفي شو او هغه سره له دې چې عمومي رییس یې د کار په مخکې ستونزې جوړولې عملي کار یې هم پیل کړ، که څه هم په کار کې یې ځنډ او ستونزې راغلې.

دا لومړی ځل و چې د ملي راډیو- ټلویزیون رییس عملاً زما په مخ کې ودرېد او د اداري اصولو په تر پښو لاندې کولو یې آن د ولسمشر له لاسلیك منلو څخه هم ډډه وکړه، خو لویه ستونزه دلته وه چې په ملي راډیو- ټلویزیون کې د داسې یوه ګروپ ځای پر ځای کولو چې هېڅ رسمیت یې نه درلود او مسوولیت ته یې غاړه نه اېښودله، بیا هم په خپرونو کې د ښاغلي روشن لخوا ډېر لږ ظاهري بدلون راغی او بس. د هرې ورځې په تېرېدو د ملي راډیو- ټلویزیون پخوانیو مامورینو او کارکوونکیو لا زیات ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوښه شوي او بې واکه احساسول. په ځانګړې توګه دا چې د دوی دولتي معاشونه د عمومي رییس د ګروپ په پرتله ډېر لږ او په هېڅ شمار وو.

زه په ستونزمن حالت کې وم. له یوه پلوه ولسمشر د خپرونو سمون غوښت او زه د مسوول په توګه ورته ځواب ویونکی وم. بل لور ته ښاغلي روښن چې په ملي راډیو- ټلویزیون کې د مطلق حاکمیت کومه فضا جوړه کړې وه د بهرنیو چارو د وزیر په فعاله همکارۍ یې په بهرنیو کړیو او سفارتونو کې زما د منفي تصویر خپرولو هڅه کوله. هغوی زه د بیان د آزادۍ او د ښځو د حقونو او نورو د مخالف په نامه معرفي کولم. له همدې لارې یې د ملي راډیو- ټلویزیون د غیردولتي کېدو او د عامه خدماتو په رسنۍ د بدلېدو لپاره ډېره استفاده کوله.

وخت تېرېدو خو د خپرونو او خبري سرویس د غوره والي ځرک نه تر سترګو کېدو. په خبري برخه کې د ښه والي د راتلو لپاره باید د هغو مدیریت یانې په ملي راډیو- ټلویزیون کې د «اطلاعاتو مدیریت» کې اصلاحات راغلي وای او ښه فعال شوی وای. د همدې لپاره مې تصمیم ونیو چې د مدیر پر ځای یې د تلویزیون یو پخوانی خبریال «جمال کوټوال» راولم. زما دغه تصمیم د تلویزیون د غیر رسمي تشکیل پر مزاج ښه و نه لګېد، ماسپښین مهال یې احوال راکړ چې دغه ګروپ له ښاغلي روښن نه چې بیا هم په بهر کې و دا هدایت اخیستی دی چې د شپې د اتو بجو خبرونو د خپرېدو اجازه دې نه ورکوي.

وې ویل چې د اطلاعاتو د ادارې کارکوونکیو اعتصاب کړی دی او د دې ادارې په مشرۍ کې چې کوم بدلون راغلی، دوی ورسره مخالف دي. د ملي راډیو- ټلویزیون له عمومي مرستیال او سرپرست ښاغلي نادر احمدي سره مې تماس ونیو او د وضعیت پوښتنه مې ترې وکړه. نوموړي را ته وویل: «په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې ټاکنه څوك اعتراض نه لري، يوازې هماغه يو گروپ دی چې نور يې هم د اطلاعاتو په اطاق کې د عمومي رييس په هدايت راټول کړي او اعتصاب ته يې هڅوي. حقيقت دا دی چې نور کارکوونکي له دې گروپ نه ډېره کرکه لري، خو ورته ويل کېږي چې دا د عمومي رييس صاحب امر دی.»

ښاغلي نادري ته مې وويل چې د دې کار مخه ونيسي او پرېنږدي چې ملي راډيو- ټلويزيون د گوتو په شمېر کسانو چې رسميت هم نه لري د عقدو او ځان غوښتنو ښکار شي، خو و مې ليدل چې زما له نېغې مداخلې پرته به دغه موضوع حل نشي او د دغه مطلقې اداري پر وړاندې چې پرې تپل شوې وه د ډېرو کسانو جرئت ترې اخيستل شوی و.

ځکه خو مې تصميم ونيو چې پخپله راډيو ټلويزيون ته ورشم، د اطلاعاتو په مديريت کې ستونزه حل کړم. کله چې د اطلاعاتو لوی اطاق ته ور ننوتم زيات شمېر کارکوونکي او نطاقان ناست او له کاره يې لاس اخيستی و. ښايي شمېر به يې د ۴۰ تنو په شاوخوا کې و. ورته و مې ويل:

«څوک اعتراض لري او اعتراض يې پر څه دی؟» د دوی له منځه يوازې يو ځوان د « سنجر سهيل » په نامه جگ شو او وې ويل: «تر څو زموږ پخوانی مدير بېرته رانشي، موږ کار نه کوو او نن شپه د ټلويزيون خبرونه هم نه خپرېږي.» ما ښاغلی سهيل د پېښور له وخته پېژانده. نوموړي زموږ کور ته په نږدې مارکيټ کې کار کاوه. د ليک لوست سره يې مينه وه. ما به د وطن مجلې نوې گڼه چې هر کله به را وته ده ته ورکوله. نوموړی يې له لوستونکيو او مينه والو څخه و، کله به يې کوم شعر هم د خپرولو لپاره را کاوه چې له لږ سمون وروسته به په مجله کې خپرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوموړي دلایل د قناعت وړ نه وو، په ځانګړې توګه دا چې نوموړی له هغو کسانو څخه و چې د رسمیت د نه درلودو په دلیل یې اصولاً په دغه اداره کې باید دنده نه درلودای، هغه هم په داسې یوه مهمه برخه کې.
وروسته د ده د خبرو په تأیید د راډیو- ټلویزیون یوه پخواني خبریال خبرې وکړې. پوښتنه مې وکړه چې بل څوک د ویلو لپاره څه لري؟ چا ځواب را نه کړ، ما په اداره کې د بدلون راوستلو دلایل ورته وویل او زیاته مې کړه چې په اداره کې د بدلون راوستل د وزیر له واکونو څخه دي چې څه ډول لازمه ویني، عملي کېږي. بیا مې ورته وویل چې څوك د وزرات پر تصمیم اعتراض لري پر خپل ځای دې ودرېږي. درې تنه ودرېدل، نور پخپلو ځایونو ناست وو. و مې ویل: «تاسو چې اعتراض لرئ او شمېر مو هم درې تنه دی، رسمیت هم نه لرئ، مهرباني وکړئ له اطاقه ووځئ، نور دې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.»
دغه درې تنه چې یوه نجلۍ او دوه ځوانان وو له اطاقه ووتل، نور له خپلو ځایونو راپورته شول او کار یې پیل کړ. ما ورته وویل: « له نطاقانو نه نن څوک نوکري دي» ځواب یې راکړ: «ماري مطمئن» ورته و مې ویل چې ټول خپل کار ته د پخوا په څېر دوام ورکړي.
په هغه شپه د شپې د اتو بجو تر خبرونو خپرېدو پورې د اطلاعاتو په مدیریت کې پاتې شوم. چې خبرونه پای ته ورسېدل کور ته ستون شوم.
له دې پېښې وروسته د ښاغلي روشن د غیر رسمي او غیر قانوني ګروپ تر بشپړ ایستلو پورې پر ما ډېر فشارونه راغلل. ښاغلي روشن به هر وخت د ولسمشر له دفتر سره اړیکه نیوله او ګواښ به یې کاوه چې استعفا به ورکړي. ښاغلي سپنتا پر ولسمشر فشار راوړ او ویل به یې: «رییس صاحب زما له

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازیني ملګري نه دفاع نه کوې، یو متعصب او مستبد ګروپ یې د کار ختنه کېږي، که نوموړی استعفا ته اړ شي، زه هم استعفا ورکوم.»

په کورنیو او بهرنیو رسنیو کې توند تبلیغات کېدل او داسې ویل کېدل چې ګواکې ما د خپلو ساتونکیو په زور د راډیو- ټلویزیون زیات شمېر برحال کارکوونکي له دې ادارې څخه شړلي دي. په همدې لانجو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی یا د یوناما مشر چې یو الماني و زما دفتر ته راغی. نوموړي د ملي راډیو- ټلویزیون له عمومي رییس نه دفاع کوله او هڅه یې کوله چې ما ته دا را وښیي چې د نوموړي او یا د هغه د همکارانو په برطرفولو به د ولسواکۍ او بیان آزادۍ پر خلاف لوی جرم وکړم. ورته و مې ویل: «که په المان کې تصمیم ونیول شي چې د پلاني ټلویزیون رییس دې له دندې لرې شي، آیا زموږ سفیر به چارواکیو ته ورشي او پر هغه به اعتراض وکړي؟» ورته و مې ویل: «دا زموږ هېواد دی او موږ دلته د قوانینو په رڼا کې له خپلو ګټو سره سم عمل کوو.» زموږ مجلس په ډېره بده فضا کې پایته ورسېد او ما هغه آن د دفتر تر دروازې بدرګه نه کړ.

ښاغلي روشن له څو رسنیو سره چې زما د کار له پیله زما پر خلاف په تبلیغاتو بوختې وې، تر مرکو وروسته چې د ده د بهرنیو ملاتړ کوونکیو فریادونه هم اوچت شول ده له دندې استعفا وکړه او له خپل مرستیال ښاغلي احمدي څخه یې هیله وکړه چې د مخه ښې پر مهال یو شمېر مامورین ورته حاضر کړي او له هغه شېبو څخه فلم هم واخلي.

## د پالیسي او عمل ګروپ یا Policy Action Group (PAG)

له ۲۰۰۵ څخه د ناامنیو نښې د منظمو او سازماني شویو پېښو په بڼه را ښکاره شوې. د هېواد جنوبي ولایتونه د داسې پېښو شاهد شول چې تر شا یې منظم پروګرامونه ښکارېدل. تر دې وړاندې هم په افغانستان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پېښې کېدې خو هغه نامنظمې او تیت او پرك وې. زه پر ۲۰۰۳ کال له یوه جګپوړي پلاوي سره د ترجمان په توګه ارګ ته تللی وم. په هغه مجلس کې حامد کرزي فرانسوي وزیر ته وویل چې دوی راپور لري چې پاکستان د هغه طالبانو په تنظیم او وسله‌وال کولو لاس پورې کړې چې غواړي په افغانستان کې نا امني راولي. نوموړي له فرانسویانو وغوښتل چې د اروپایي اتحادیې په کچه له دې کار څخه د پاکستان د ایسارولو په اړه مرسته وکړي. د وخت په تېرېدو سره دغه فعالیتونه لا منظم کېدل. د ارزګان او زابل ولایتونه له هغو جملې څخه وو چې دغه ډول فعالیتونه پکې پیل شول. وروسته بیا د هلمند او کندهار نوبت راغی.
ناامنیو او د ترهګرۍ پېښو حکومت او ولسمشر په اندېښنه کې واچول. زه پخپله د اطلاعات او کلتور د وزیر په توګه په اونۍ کې یو ځل له خپلې کورنۍ سره په وردګو ولایت کې خپل کلي ته تلم او ماښام به له هغه ځایه کابل ته را خوځېدم. زیاتره وختونه به مو د ماښام لمونځ د سالارو په بازار کې ادا کاوه چې وروسته دغه ځای د ولایت تر ټولو په خطرناك ځای بدل شو. له یوې مودې وروسته مې خپلوانو په تیاره کې له سفره منع کړم او څو اونۍ وروسته یې را نه هیله وکړه چې د احتمالي خطرونو له امله باید کلي ته له تلو ډډه وکړم.
ولسمشر تر دې ډېر پخوا د هېواد په ځینو برخو کې د نا امنیو پېښو ته پام و. هغه مهال چې ما په ارګ کې د تحلیلګر او وروسته د مطبوعاتي سلاکار په توګه دنده درلوده، ولسمشر د چارو ادارې ته دنده سپارلې وه چې د هېواد د بېلابېلو ولایتونو سپین ږیري او د خلکو استازي را دعوت کړي. نوموړي له ما وغوښتل چې په دې ټولو ناستو کې ورسره حاضر وم. ولسمشر په هر ځل د درې- څلورو ولایتونو له قومي مشرانو سره د چار چنارونو تر سیوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې ليدل، د هغوی خبرې به يې اورېدلې، د نا امنۍ د مخ په زياتېدو دلايل يې ترې پوښتل او له هغو سره د مقابلې او حل لارې به يې ترې غوښتلې. له دې سره يې هممهاله پر همدغه مسأله نړيوالې ټولنې او د هغوی له قوماندانانو سره په سياسي او پوځي کچه په منظم ډول بحثونه کول.
په دې لړ کې په يوه غونډه کې چې د امريکا، د دوی د متحدينو، ملګرو ملتونو او ايساف له سياسي او پوځي استازيو سره په ارګ کې ماسخوتن مهال جوړه شوه ولسمشر په دې تړاو خپله اندېښنه وښوده او د دې چارې لپاره يې د يوه منظم ميکانيزم غوښتنه وکړه. ما لومړی ځل په دغه مجلس کې ګډون کړی و چې ښايي په دې مسأله کې دا دوهمه غونډه وه. له افغان لوري زياتو وزيرانو په دې کې ګډون کړی و. د غونډې پايله دا وه چې په ځينو ولايتونو کې د نا امنيو د ډېرېدو سببونه د بيارغاونې او په اقتصادي برخه کې د کار پڅوالی، د بېلا بېلو دولتي ادارو ترمنځ نه همغږي په تېره په امنيتي سکتور کې دغه ستونزه او خلکو ته د حکومت له لوري په مثبت پيغام رسولو کې ناتواني ده. د دې ستونزو د لرې کولو او د ولس او حکومت ترمنځ د واټن د راکمولو لپاره پرېکړه وشوه چې يو شريک ميکانيزم د «پاليسي او عمل ګروپ» په نامه جوړ شي، په دې ميکانيزم کې هم بهرنيانو او هم افغانانو په ګډه کار کاوه. د عمل او پاليسي ګروپ (پاليسي اکشن ګروپ) درې ستنې درلودې: يوه امنيتي ستنه، دوهمه د بيارغاونې او دربيمه يې د تبليغاتو او اړيکو.
د پاليسي او عمل ګروپ عمومي رييس پخپله ولسمشر و چې په مياشت کې يو ځل او يا له اړتيا سره سم د ده تر مشرۍ لاندې غونډه جوړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېکړه وشوه چې د ملي امنیت شورا په دفتر کې دغه ګروپ خپلې اونیزې غونډې منظمې جوړې کړي چې مشري به یې د امنیتي ستنې د ملي امنیت د سلاکار پر غاړه وي.

د بیارغاونې د ستنې مشري د پوهنې وزیر «محمد حنیف اتمر» او د اړیکو د ستنې مشري زما «د اطلاعاتو او کلتور وزیر عبدالکریم خُرم» پر غاړه وه.

په دې ډول موږ هره اونۍ د امنیت شورا په دفتر کې په ارګ کې د «ډاکتر زلمي رسول» په ریاست د امریکا متحده ایالاتو، برېتانیا، استرالیا، هالنډ له سفیرانو او د اروپایي اتحادیې له سفیر چې هغه مهال فرانسس ویندرل و، د یوناما له رییس، د ایساف او امریکایي او بریتانوي ځواکونو له قوماندانانو سره د یوه مېز په شاوخوا راټولېدو. د ترسره شویو کارونو راپورونه مو وړاندې کول او د نویو چارو د ترسره کولو لپاره مو دندې اخیستې.

د دفاع او کورنیو چارو وزیران او د ملي امنیت رییس د دې غونډو له دایمي غړیو څخه وو. د کلیو د پراختیا او رغاونې وزیر په منظم ډول په دې غونډو کې برخه اخیسته او نور وزیران د اړتیا له مخې غونډې ته رابلل کېدل.

د اونۍ په اوږدو کې د هرې ستنې رییسانو د خپلو وزارتونو د ورځنیو کارونو تر څنګ د خپل ګروپ دندې هم مخ ته وړې.

ښاغلی اتمر په دې دلیل چې ګواکې د کلیو پراختیا او رغاونې په وزارت کې ښه ځلېدلی و او بریالی وزیر پېژندل کېدو د پالیسي او عمل د بیارغاونې د ستنې د مشرتابه په توګه راغی.

بهرنیانو د ګروپ په غونډو کې زیات یادښتونه اخیستل، کتابچې به یې ډکې کړې، خبرې به یې هم ډېرې کولې، خو تر پایه مې د دوی لخوا داسې د حساب وړ کار چې ترسره کړی یې وي و نه لید.

د ولسمشر تر مشرۍ لاندې عمومي غونډې ډېرې لږ کېدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې ستنې پخپل نوبت اونيزې غونډې درلودې. د تبليغاتو او اړيکو د ستنې غونډې چې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې تر سره کېدې د امريکا او بريتانيا د سفارتونو استازيو، د يوناما، امريکايي پوځ، د ايساف د تبليغاتو د څانگې استازيو پکې گډون کاوه. د امريکا د نړيوال انکشاف ادارې (USAID) استازي، له افغاني اړخه د حج او اوقافو وزارت، ملي راډيو- ټلويزيون، د اړتيا پر مهال د وزارت د نورو څانگو استازيو او د ملي امنيت شورا د دفتر استازي گډون کاوه. زموږ دنده دا وه چې د دولت مثبت پيغامونه خلکو ته ورسوو. له هغوی سره اړيکې ټينگې کړو او د بيارغاونې چارې خلکو ته منعکسې کړو. موږ بايد خلکو ته حقايق رسولي وای چې د مخالفينو د تبليغاتو تر اغېز لاندې نه وای راغلي او پر دې باوري شوي وای چې حکومت د ولس د خير او سوکالۍ لپاره مهم کارونه تر سره کړي او نور مهم کارونه به ترسره کړي.

په دغسې يوه غونډه کې ما وړانديز وکړ چې هر وزارت او مرکزي او محلي اداره بايد ويندوی ولري، څکه چې اطلاعات او کلتور وزارت او د ولسمشر ويندوی نشي کولای د بېلابېلو وزارتونو د تخنيکي مسايلو په باب په ښه ډول توضيحات ورکړي. له دغه وړانديز نه بهرنيانو ډېر تود هرکلی وکړ. هماغه و چې زموږ په حکومت کې د ويندوی او د ويندوی د مرستيال بازار ډېر تود شو. د دې ويندويانو يو شمېر يې په هغه مرکز کې چې وروسته موږ جوړ کړ ورروزل شول. بهرنيانو له دې سره ډېره مينه وښوده چې د دوی له نظره د ځينو مهمو وزارتونو د ويندويانو دفترونه په ښو وسايلو سنبال کړي او له ويندويانو سره يې نږدې اړيکې ولري. دغه لړۍ بالاخره تر دې پورې ورسېده چې د ځينو وزارتونو د ويندويانو په ټاکلو کې بهرنيانو نېغ نظرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول او وزیر به یې په یوه ښه دې ته اړ کاوه چې د دوی د نظر وړ سړی خپل ویندوی وټاکي.

د بهرنیانو نظر او چلن به کله کله په دې برخه کې د ملنډو ښه غوره کړه او زه به یې اړ کړم چې مخالفت ورسره وکړم. په دې لړ کې د امریکا د نړیوال انکشاف ادارې (USAID) استازې «مېرمن رابین جانسن» نظر ډېر حیرانوونکی و. د نوموړې د هوایي او غیر عملي وړاندیزونو او آمرانه مداخلو په سبب زه مجبور شوم چې تونډ مخالفت ورسره وکړم.

د یادې مېرمنې له وړاندیزونو یو دا و چې له جګړې نه د مخالفو جنګیالیو د راګرځولو او په جنوبي ولایتونو کې د خلکو د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره لاره دا ده چې روان تختونه چې په ښه ډول ښکلي شوي وي او پر سر یې د موسیقي او سندرو ډلې وي، خلکو ته سندرې ووایي او دې ولایاتو ته واستول شي. تر څو د خلکو عام ملاتړ را خپل کړي او هغوی له جګړې او جګړه مارو نه لرې کړي. د دې مېرمنې دې ته ورته نورو وړاندیزونو او دریځونو چې ورځ تر بلې زیاتېدل، اړ کړم چې پر خلاف یې ودرېږم، دې هم له هرې وسیلې کار اخیست چې زما د پروګرامونو د عملي کېدو مخنیوی وکړي. د نوموړې مخالفت پر دې مهم و چې د پیسو زیاته برخه د دې په لاس کې وه او زموږ د پروګرامونو د عملي کېدلو لپاره پیسو ته اړتیا وه. یوه ورځ د امریکا د پوځ یوه منصبدار چې زما نا آرامي ولیده د غونډې په پای کې یې د اطاق په کونج کې په آرامه را ته وویل: «ښاغلی وزیر، اندېښنه مه کوه، ته حق په جانب یې هغه (مېرمن رابن جانسن) یو وړوکی سپی دی چې په پښو کې دې ترپکې وهي او خوله اچوي. خو موږ چاره کوو او پیسې لاسته راوړو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اړیکو د همغږۍ ملي مرکز (NCCC) جوړېدل

پر ۲۰۰٦ کال مو تصمیم ونیو چې د اړیکو او تبلیغاتو د ښې همغږۍ لپاره د (National Communication Coordination Center) (NCCC) په نامه یو مرکز جوړ کړو.

پرېکړه وشوه چې د جنوب په ځلورو نا امنه ولایتونو کې هم دفترونه پرانیزو چې فرهنګي او تبلیغاتي کار وکړي او هغه کمزوري چې د هغو ولایتونو د اطلاعات او کلتور په ریاستونو کې دي دوی یې لرې کړي. ما د هر ولایت لپاره د دفتر مسوول وټاکه او د اطلاعات او کلتور ریاستونو ته مې هدایت وکړ چې په خپلو ودانیو کې یو یا دوه اطاقونه د دغه نویو دفترونو په واك کې ورکړي. د هر دفتر لپاره مې موټر، کمپیوټر، کامرې او نور لازم وسایل چمتو کړل او هر یوه ته مو د یوې خپرونې د چاپ بودجه ځانګړې کړه. په دې ډول په کندهار، ارزګان، زابل او هلمند ولایتونو کې موږ د نویو دفترونو خاوندان شوو چې لږ په خلاص لاس یې فعالیت کولای شوای. هڅه مې وکړه چې په رسنیو او فرهنګي چارو کې فعال او بوخت کسان په دې دفترونو کې وګومارم.

افسوس چې له دې ځوانانو څخه ځینو چې د ملي یووالي په حکومت کې مهمو مقامونو ته هم ورسېدل د پروژې له پایته رسېدو وروسته هغه وسایل چې ورسپارل شوي وو باید اطلاعات او کلتور ریاستونو ته یې سپارلي وای د هغو له سپارلو یې ډډه وکړه او په ورسپارل شویو چارو کې هم چې ما کومه تمه ترې درلوده هغسې فعال نه وو.

د (NCCC) زموږ د ستنې د کاري فعالیتونو د ولایتي دفترونو او نورو فعالیتونو لپاره پیسو ته اړتیا وه، ډېره هڅه مې وکړه چې بهرنیان قانع کړم چې زموږ د (PAG) چارو لپاره هم پیسې ځانګړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پالیسي او عمل د جګړې او بیارغاونې ګروپ له دوو سرچینو پیسې ترلاسه کولې چې سلګونو میلیونو ډالرو ته رسېدل: یوه د افغان دولت بودجه او دوهم د بهرنیانو مرستې. ښاغلي اتمر د پیسو په ترلاسه کولو کې فوق العاده مهارت درلود او د بیارغاونې پروژو لپاره یې ډېرې پیسې لاسته راوړې. ما سره له دې چې ډېرې پیسې مې نه غوښتې خو چندان بریالی نه وم. په یاد مې دي په یوه غونډه کې چې د ولسمشر په مشرتابه د ګلخانې په ماڼۍ کې جوړه وه ما هڅه کوله چې مرستندویانو او زموږ د مالیې وزارت ته قناعت ورکړم چې زموږ د ستنې د چارو لپاره پینځه لکه ډالره مرسته وکړي، د ملي امنیت عمومي رییس امرالله صالح مې تر څنګ ناست و د یوې ټوکې له ویلو وروسته یې را ته په غوږ کې وویل : «په دې غوښتنه دې د غونډې حواس مه خرابوه، موږ ډېرې پیسې غواړو، دغه پینځه لکه ډالر زه له خپلې بودجې درکوم.» بالاخره د ښاغلي اتمر په مرسته پر دې بریالی شوم چې د خپلې پروژې لپاره پینځه سوه زره ډالري مرسته لاسته راوړم. دغه مرکز وروسته د «حکومت د رسنیو او اطلاعاتو د مرکز» په نامه ونومول شو او د بهرنیانو او د ولسمشر د ویندوی همایون حمیدزاده په ګډ اقدام کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت له چوکاټه و ایستل شو او د ولسمشر د ویندوی له دفتر سره وتړل شو. امریکایانو او بریتانویانو له دې مرکز سره ډېره علاقه درلوده، هغوی دې دفتر ته زیات امکانات او پیسې ورکړل او دایمي سلاکاران یې ورته وټاکل. له دې لارې یې د «حکومت» پیغامونه تنظیمول چې مخاطب یې «ولس» و. هغه خبرونه چې دوی له ولایاتو څخه ترلاسه کول په خپله خوښه یې خپرول. هغوی یو خبري بولټن چې د دوی تر څارنه لاندې به برابرېده هر سهار د ولسمشر پر مېز اېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زه د ولسمشر د دفتر د رييس په توګه وټاکل شوم دغه مرکز بيا زما تر اداره لاندې راغی. البته په دې دوره کې ښاغلی رهين چې د اطلاعاتو او کلتور وزير و د بهرنيانو په اشاره په وار وار ولسمشر ته ورغی او له هغه يې وغوښتل چې د حکومت د رسنيو مرکز بېرته له وزارت سره وتړل شي، خو د ولسمشر لخوا هر ځل رد شو.

زموږ ستنې نور مهم کارونه هم سر ته ورسول، د ساري په توګه پر ۲۰۰۶ کال مو د کندهار په ښار کې د ځوانانو يوه ستره غونډه جوړه کړه. په دې غونډه کې د ځينو وزارتونو او نړيوالو ادارو استازيو هم ګډون کړی و. د غونډې اصلي تنظيم د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ځوانانو معينيت په نوښت و. د کنفرانس په پای کې يو شمېر ځوانانو د ملي اردو په ليکو کې نومونه وليکل او يو شمېر نورو ژمنه وکړه چې د هېواد له امنيتي ارګانونو سره به يو ځای شي. موږ دوې سترې مشاعرې هم جوړې کړې. په لومړۍ مشاعره کې د ډېورنډ له دواړو لوريو نه ۱۵۰ تنو شاعرانو برخه درلوده، چې د سولې په اړه يې له جګړې نه د کرکې په باب شعرونه ووېل. په دې مشاعره کې د ويل شويو شعرونو ټولګه مو وروسته خپره کړه چې يوه لويه ادبي ډالۍ ترې جوړه شوه. د نوبل ګټونکې د سواتې پېغلې «ملالې يوسفزۍ» پلار ضياالدين يوسفزي په دې مشاعره کې ګډون درلود ملاله يوسفزۍ هغه مهال ماشومه وه او شهرت ته نه وه رسېدلې.

د نا امنو ولايتونو د قومي مخورو او مشرانو لپاره مو امن ولاياتو ته د سفر پروګرام جوړ کړ چې متأسفانه دغه پروګرام عملي نه شو. د ويندويانو او د ډېرو وزارتونو د اطلاعاتو د څانګې مامورينو ته مو د مسلکي روزنې زمينه برابره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځومره مو چې کارونه پر مخ تلل او ښې پايلې يې درلودې له بهرنيانو سره زما د نظر اختلاف هم زياتېدو. هغوی هڅه کوله چې داسې نسخې پر موږ تحميل کړي چې د پلي کېدو وړ نه وي. دوی له موږ څخه غوښتل د خپلې خوښې پيغامونه زموږ له لارې ولس ته وړاندې کړي. په همدې خاطر يې هڅه کوله چې برلاسي شي. يوه ورځ د امنيت شورا په دفتر کې د (NCCC) په غونډه کې د امريکا سفير «ويليام ووډ» پر ما سخته نيوکه وکړه چې ولې مې په ملي راډيو ټلويزيون او دولتي ورځپاڼو کې د ولسمشر خبرې چې د امريکا د يوې بمبارۍ له امله د ملکي مرګ ژوبلې په غندنه کې يې په يوه خبري ناسته کې کړې وې داسې بشپړې او تفصيلي خپرې کړې.
موږ په ټلويزيون او ملي راديو کې پر خبري پوښښ سربېره پر دې مسأله ګردې مېزونه او بحثونه جوړ کړي وو. ما يې په ځواب کې وويل: «ډېر ملکي کسان قرباني شوي دي، څنګه کېدای شي چې پر هغو څه و نه وايو، بيا دا چې زما آمر زما ولسمشر دی نه بل څوک». خو سفير په لوړ او له غوسې په ډک غږ وويل: «تاسې پر دې کار اصلاً خپل دښمن ته خدمت کوئ». زه چې د سفير له چلن څخه نا آرامه شوم له غونډې ووتم. د ولسمشر دفتر ته لاړم له سفير سره د خبرو کيسه مې ورته وکړه، کله چې په وزارت کې خپل دفتر ته ورسېدم د امريکا له سفارته تيلفون راغی، يو چا له هغه لوري را ته وويل: «ښاغلی سفير غواړي درسره خبرې وکړي» سفير ووډ و، بښنه يې وغوښته وې ويل: «هيله ده خپه شوی نه وې زه احساساتي شوم، بښنه غواړم.» ما په ادب ورته وويل چې د کار په بهير کې داسې مسايل راځي او زه په دې تړاو هېڅ خپګان نه لرم.
د ۲۰۰۷ کال د مې په مياشت کې مو په کندهار کې د څلورو ولايتونو کندهار، ارزګان، هلمند او زابل د فرهنګي څېرو د يوې غونډې پروګرام جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. پرېکړه وشوه چې زه هغه ولایت ته لاړ شم. او په دې غونډه کې ګډون وکړم. د تبلیغاتو د ستنې له بهرنیو غړیو مو هیله وکړه چې د سفر (الوتکې) اسانتیاوې را ته چمتو کړي. هغوی ژمنه وکړه چې په یوه الوتنه کې مو کندهار ته بوځي. د الوتنې ورځ وټاکل شوه، هماغه ورځ را ورسېده. په هغه ورځ یې احوال را کړ چې سفر یوه اونۍ وځنډېد. موږ هم ومنله. بیا هم ټاکلې نېټه را ورسېده. موږ ټول کسان چې له کابل نه کندهار ته تلو د هوایي ډګر پوځي برخې ته د ورتلو هدایت را ته وشو او بالاخره مو د کندهار په لور پرواز وکړ.

په الوتکه کې د ایساف د اړیکو او تبلیغاتو د ځانګې مسوول چې دوبۍ ته روان و راسره ملګری شو. نوموړی چې د بریتانیا تبعه و ډېره مېلمه پالنه یې وکړه، ځکه الوتکه د انګلستان د پوځي ځواکونو اړونده وه او هغه په یو ډول ځان کوربه باله. له څو دقیقو وروسته هغه د پیلوټ کابین ته ورغی او چې بېرته راستون شو له ما نه یې وغوښتل چې کابین ته ورشم تر څو ډېر آرام وم. د ده په ډېر ټینګار کابین ته لاړم. پیلوټانو هم ډېره مېلمه پالنه وکړه. چاې، قهوه او د مېوې اوبه یې راته وړاندې کړې. بالاخره د کندهار په هوایي ډګر کې راکوز شوو. ما پخوا د کندهار والي «اسدالله خالد» او د اطلاعاتو او کلتور رییس «مجید بابی» خبر کړي وو او سفر مې له دوی سره په همغږۍ و.

کله چې له الوتکې را ښکته شوو بهرنیو پوځیانو په څو موټرو کې لږ وړاندې لویو خېمو ته یووړو. د خیمې دننه د چایو او قهوې ماشینونه اېښودل شوي وو، هغوی موږ ته چای راوړ، انتظار مو اوږد شو. د مازیګر لمونځونه مو هم هلته ادا کړل. ما پر تیلفون له ښاغلي بابي سره اړیکه ونیوه، هغه هم را ته وویل چې څو ساعته کېږي چې په هوایي ډګر کې زموږ انتظار کوي. زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار نور هم اوږد شو. له بهرنیو پوځي منصبدارانو څخه چې امریکایان وو موږ بیا بیا وپوښتل چې «موږ د څه لپاره انتظار یو؟ ولې نشو کولای چې له خپلو همکارانو سره چې زموږ هرکلي ته راغلي یو ځای شو؟» هغوی همدا ځواب راکاوه: «دا د هوایي ډګر پوځي برخه ده، ستاسو ملګري د هوایي ډګر په بله برخه کې دي او موږ یې پیدا کولای نشو، هڅه کوو چې تاسو هغوی ته ورسوو.»

نږدې ماښام و چې موږ یې پخپلو موټرو کې یو ځای ته یووړو چې هلته زموږ د اطلاعاتو او کلتور او ولایت نه راغلي همکاران زموږ په انتظار وو. «مجید بابي» زه د تورو هېندارو دریو موټرو لور ته ور وستم او وې ویل «والي صاحب خپل موټرونه درته را استولي دي» د منځ په موټر کې زه سپور شوم. ښاغلی بابی مې تر څنګ کښېناست. «حاجي محمد همایون» زما یاور د چلوونکي تر څنګ زموږ په مخکې کېناست او زموږ کاروان د ښار په لور وخوځېد.

موټرونه یې ډېر ګړندي زغلول او د لارې په اوږدو کې یې خپل ځایونه هم بدلول. په دې موده کې موټر چلوونکي ته څو ځله زنګ راغی او چا پوښتنه ترې کوله چې کوم ځای ته را رسېدلي یاست. نوموړي به زموږ د موقعیت په باب هغه ته ځواب ورکاوه.

د ښار ساحې ته ننوتلو، ټول په خبرو بوخت وو، ناڅاپه زموږ ښي اړخ ته هغه لوري ته چې زه ناست وم یو غږ اوچت شو او شاوخوا د اور لمبو ونیوله. موټر چلوونکي چیغه کړه «وې وهلو» موږ د اور په لمبو کې راګیر وو. په دې انتظار وم چې د څنګ هېنداره به څه وخت ماته شي او لمبې به دننه راشي، موږ څو متره نور هم وړاندې تېر شوو، وړوکې نورې چاودنې هم وشوې، ښایي د موټرو د ټایرونو چاودنې به وې، له چلوونکي نه موټر بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکه شو او بیا په کوم اړخ چې زه وم را واوښت. زه نور و نه پوهېدم چې څه پېښ شول، ښايي څو دقيقې به بې سده وم، کله چې را په سد شوم و مې ليدل چې په موټر کې يوازې يم او نور هېڅوک هم نشته، د موټر دننه را ته تک تور ښکارېدو. د موټر جلب پاس و او مخامخ مې يو لوی سوری وليد، نه پوهېدم چې دا د څه شي سوری دی، په کيڼ لاس مې جلب ونيو، ځان مې پورته را کش کړ چې له هغه سوري نه چې د موټر د مخې هېنداري له الوتلو سره را پيدا شوی و ځان را وباسم. په زحمت مې دا کار وکړ، کله مې چې نيمايي بدن له موټره د باندې را ويوست و مې ليدل چې هر لوري ته لمبې بلې دي او ډېر بد بوی چې تر اوسه مې نه و تجربه کړی هر لوري ته خپور و. هڅه مې وکړه چې زر تر زره د لمبو له منځه ځان وباسم. څو متره وړاندې يو ټکسي موټر ټوټه ټوټه شوی د سوځېدو په حال و. همدغه موټر موږ نښه کړي وو. چې د لمبو له منځه را ووتم ويندوی او سکرتر «حميد ناصري» مې وليد چې لرې ولاړ و او په لاس يې اشاره را ته کوله چې ورشم. د دوی موټر زموږ په منځ کې و.

هغه شېبه مې فکر وکړ چې بيا را ژوندی شوم. کيڼ لوري ته مو دوکانونه وو، ټول تش شوي وو، په څنګ کې يې د يوه سرای دروازه وه. څو تنه ماشومانو چې ښايي د دې دوکانونو شاګردان به وو پټ پټوني يې کول او په وېره وېره يې صحنه څارله. هغوی په رډو رډو سترګو ما ته کتل چې له سوځېدلي او ويجاړ شوي موټره را وتلی وم. د ښاغلي ناصري لور ته وړاندې ورغلم، حاجي همايون را پيدا شو، ږيره او مخ يې سوځېدلي وو. زما پام يې خپلو سوځېدليو لاسونو او مخ ته را واړاوه.

موږ په بيړه د مخې په موټر کې کېناستلو، چلوونکی يې يو ماهر ځوان و، ګړندي د ښار په لور وخوځېدو وې ويل: «دلته يو شخصي روغتون دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



همالته ورځو.» د دغه موټر د شا هېندار هم د چاودنې له زوره غورځېدلې وه.
روغتون ته ورسېدو، په مخ او لاسو کې مې شېبه په شېبه د زیات سوي احساس کاوه، لکه پر سر مې چې اور بل وي. د لاس او گوتو پوستکي مې ځړېدلي وو او وینې ترې څڅېدې. دوهم پوړ ته لاړو. روغتون په یوه سرای ته ورته ځای کې و، ډېر بېروبار و. په ډېر زحمت مو د هغو ناروغانو په منځ کې چې اتنظار و لاره وایستله او ډاکتر ته مو ځانونه ورسول.
ډاکتر په بې پروایۍ موږ ته وکتل وې ویل: «زه مو علاج نشم کولای د چینایانو روغتون ته لاړ شئ.» دا د میرویس روغتون عام نوم و. له موټر چلوونکي سره په منډه منډه موټر ته راغلو او د میرویس روغتون په لور روان شوو. هلته یې لومړی موږ یوه عمومي اطاق ته بوتلو. څو دقیقې وروسته «ډاکتر محمد عثمان عثماني» راغی. نوموړي زه وپېژندلم او په بېړه یې دوهم پوړ ته یوه ځانگړي اطاق ته ولېږدولم. «ډاکتر عثماني وروسته د غزني والي شو.» زموږ لومړنۍ درملنه پیل شوه. له څو دقیقو وروسته «احمد ولي کرزی» را ورسېد. د روغتون کارکوونکیو ته یې لارښوونې وکړې چې هغه ناروغان چې زموږ په باب یې ډېرې پوښتنې کولې زموږ له اطاق نه لرې کړي او څوک پرېنږدي چې زموږ اطاق ته راشي. وروسته د کندهار والي ښاغلی خالد را ورسېد. زموږ شاوخوا ته یې امنیتي تدابیر زیات کړل. په دې موده کې ولسمشر پخپله څو ځله زنگ وواهه او غوښتل یې چې زه خبرې ورسره وکړم چې له روغتیا مې ډاډه شي. «نورالله خان» د جگپوړیو چارواکیو د ساتنې رییس پخپله راسره خبرې وکړې، د همکارانو، دوستانو او د کورنۍ د تیلفونونو باران پیل شو، خو ما له هغوی سره د خبرو توان نه درلود. کله مې چې د سفر انډیوالان د خپل کټ تر څنگ ولیدل ډاډه شوم چې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغ رمټ دي. والي او احمد ولي کرزي تصميم ونيو چې مور د شپې ناوخته د منډېګک دولتي مېلمستون ته بوځي. په امبولانس کې هلته لاړو. ښاغلي خالد له امريکايانو سره اړيکه ونيوه چې په لومړني الوت کې مور کابل ته ورسوي. تر نيمې شپې اوښتې وه چې اسدالله خالد پخپله موټر چلاوه، زه او حاجي همايون يې په يوه زاړه زغروال موټر کې د نورو امنيتي موټرو په بدرګه د کندهار هوايي ډګر ته ورسولو.

د کندهار والي په هوايي ډګر کې مور امريکايانو ته وسپارلو. امريکايانو په ډېره بې پروايۍ راسره چلن کاوه. د لاس او مخ سوی مې هره شېبه زياتېدو. بالاخره د الوتکې د پورته کېدو وخت را ورسېد.

مور کندهار ته تللی ټول پلاوی له دوو تنو «جيلاني ځواک» او «نجيب الله منلي» پرته چې د نورو ولايتونو نه د راغليو فرهنګي ځوانانو سره د ليدو لپاره پاتې شول، نور کسان ټول په يوه بس کې د امريکايي الوتکې په لور روان شوو. په الوتکه کې ټپي شوی موټر چلوونکی او د اطلاعاتو او کلتور رييس چې هغه هم ټپي شوی و راسره يو ځای شول او ټول کابل ته روان شوو.

چې کابل ته ورسېدو سهار شوی و. امبولانسونه را ته انتظار وو او مور يې ځلور سوه بستريز روغتون «سردار محمد داود خان روغتون» ته يووړو. د لاسونو او مخ سوځېدل مې تر هغو ډېر ژور وو چې ما يې فکر کاوه، درې اونۍ په روغتون کې پاتې شوم. زه او مجيد بابی او حاجي همايون تر پايه په روغتون کې پاتې شوو. خو د کندهار والي خپل موټر چلوونکی د درملنې لپاره هندوستان ته واستاوه. د روغتون له ټولو مسوولينو او کارکوونکيو نه ډېرې ښې خاطرې لرم. په ځانګړې توګه له خپل معالج ډاکتر څخه چې زما سوځېدلي ټپونه يې د يوه رښتيني طبيب په څېر ډېر په دقت تداوي کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د کورنۍ غړيو، دوستانو او همکارانو مې په دې موده کې ډېره مينه راسره وکړه. له دوو وزيرانو پرته نور ټول زما پوښتنې ته روغتون راغلل.

نه مې هېرېږي چې يوه ورځ حضرت صاحب مجددي په داسې حال کې چې ساه يې سوځېدلې وه زما پوښتنې ته راغی. د تقدير کار و په هغه ساعت کې برېښنا نه وه چې په لفټ کې راختلی وای، نوموړی تر شپږم پوړه په زينو کې راختلی و.

څرنګه چې د روغتون قوماندانۍ د ډېرو کسانو د ننوتلو مخه نيوله، يوه کتابچه يې د روغتون په بهرنۍ دروازه کې اېښې وه چې چا به زما اطاق ته د راتلو فرصت و نه موند په هغو کې خپل يادښت وليکي. دغه ارزښتمنه کتابچه مې راسره ساتلې ده.

د کندهار له پېښې يو کال وروسته د اطلاعات او کلتور وزارت ودانۍ د يوه ځانمرګي بريدګر تر بريد لاندې راغله. دا لومړی ځل و چې يو وزارت تر بريد لاندې راتلو، ځانمرګي بريدګر سهار هغه مهال چې ټول مامورين خپلو کارونو ته حاضر شوي وو لومړی د کلاشينکوف پر ډزو د وزارت د دروازې ساتونکی پوليس شهيد کړ، وروسته بيا ودانۍ ته ننوت او احمدشاه يې چې په لومړي دهلېز کې به يې وزارت ته د راتلونکيو کسانو نومونه ليکل په ډزو شهيد کړ، نوموړی بيا د مطبوعاتو نړيوال مرکز ته ورغی او هلته يې ځلورو لوريو ته له ډزو وروسته خپل ځان والوزاوه.

د دې عملياتو جريان وروسته طالبانو په يوه ويډيو کې خپور کړ چې وزارت ته مخامخ د مېلمستون له يوه اطاق څخه فلمبرداري شوې و. په ويډيو کې په يوه غرنۍ سيمه کې د ځانمرګي بريدګر د چمتو کولو پړاوونه او د هغه خدای پاماني هم ښودل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لومړي پوړ کې وړکتون او د مطبوعاتو د مرکز دفترونه وو. له نېکه مرغه وړکتون ته هېڅ زیان نه و رسېدلی خو د مطبوعاتو د مرکز څو تنه کارکوونکي د هغو د رییس ښاغلي تنویر په شمول ټپیان شول.

چاودنه دومره زوروره وه چې تالار بشپړ ویجاړ شوی و او د پارکینګ لوري ته دېوال ونړېد.

په دې ورځ په پام کې وه چې زه په یوه کلتوري پروګرام کې د ګډون لپاره د ملي راډیو-تلویزیون تالار ته لاړ شم. دا چې پر خپله وینا مې کار بشپړ نشو، موټر چلوونکي او خپلو ساتونکیو ته مې احوال ورکړ چې لږ ناوخته راشي او ما له کوره د کلتوري پروګرام تر ځایه ورسوي.

داسې ښکارېدله چې بریدګر ته ویل شوي وو چې د هېنداریې له توریې دروازې ننوځي او بیا ځان والوزوي. زما دفتر د یوې توریې ښیښه‌یي دروازې شا ته و چې په دهلېز کې ولاړه وه.

د مطبوعاتو د نړیوال تالار دروازه هم له توریې ښیښې جوړه وه، بریدګر چې دننه ننوت له یوه تیاره تالار سره مخامخ شو، ځکه خو وارخطا شو لومړی یې ډزې کړې وې او بیا یې ځان والوزاوه. له نېکه مرغه په هغه ورځ په تالار کې چا کنفرانس نه درلود.

## د پوهنتون او دانشګاه مسأله

د وزارت د دندې له پیل سره مې له لومړنیو مرکو څخه په یوه کې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: «هڅه به وکړم چې د هغو کړنو مخه ونیسم چې غواړي پښتو کلیمې له دري او دري له پښتو څخه وباسي.» زه پر دې پوهېږم او باور پرې لرم چې دغه دواړه ژبې له شریکې ریښې سره زموږ د هېواد فرهنګي شتمني او ښکلا جوړوي. په همدې دلیل مې له ولسمشر سره تر مشورې وروسته د هغو په هڅونه د ملي ټلویزیون د اوو او اتو بجو خبرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه خبري سرویس کې یو ځای کړل. په دې ډول په وخت کې هم صرفه وشوه او د هېواد د دغو دوو سترو ژبو د لا زیات نږدیوالي لپاره هم یو گام اوچت شو.

پخوا تر دې چې د «دانشگاه» موضوع په یوه ستونزه بدله شي د یوه مکتوب له لارې مې د راډیو او ټلویزیون د اطلاعاتو مدیریت ته هدایت وکړ چې نامأنوس او په خپل سر جوړ شوي اصطلاحات په خبرونو کې و نه کاروي. دغه کار په پښتو خبرونو کې له څه جنجال پرته تر سره کېدو، تر دې چې دا اجازه یې نه درلوده چې د «صدراعظم» پر ځای «لومړی وزیر» وکاروي.

په هغو راپورونو کې چې له ولایاتو څخه راتلل کله کله مو په مزارشریف کې له خپل خبریال سره ستونزه درلوده. څو ځله په دې تړاو هغه ته توصیه وشوه. بالاخره مې له څووم ځل وروسته کسر معاش کړ. سبا ته مې په «بي بي سي» راډیو کې واورېدل چې «اطلاعات او کلتور وزارت یو خبریال د پوهنتون پر ځای د دانشگاه د لغت په کارولو برطرف کړی دی.» زه حیران شوم ځکه هېڅوک برطرف شوي نه وو.

په همدې ورځ د ایران ملي جشن د دغه هېواد په سفارت کې نمانځل کېدو، د بهرنیو چارو وزارت زه د دې لپاره غوره کړی وم چې د ځانګړي مېلمه په توګه هلته وینا وکړم.

له ارګه نوی خپل دفتر ته ور ستون شوم چې د ولسمشر د لومړي مرستیال احمد ضیا مسعود تلیفون راغی، نوموړي له غوسې په ډکه لهجه را ته وویل: «ښاغلی خُرم تا ته چا دا حق در کړی چې څوک په دې گناه برطرف کړې چې ګواکي په راپور کې یې د دانشگاه کلمه کارولې ده؟»

ورته و مې ویل: «معاون صاحب، لومړی دا چې ما څوک برطرف کړي نه دي، دوهم دا چې ما هدایت ورکړی چې په پښتو او دري دواړو خبرونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ملي مصطلحات رعايت شي او دا د اساسي قانون سره سم کار دی».
خو لومړی مرستيال صاحب تر دې ډېر په غوسه و چې زما خبره دې واوري، گواښ يې وکړ چې نور يې زغم ختم شوی دی او دغه مسأله به پرېښږدي.
زما او ښاغلي مسعود اړيکې هغه مهال تياره شوې چې د ده په غوښتنه مې د هېواد ورځپاڼې مسوول مدير «توريالی ځاځی» برطرف نه کړ.
په وزارت کې مې د کار لومړنۍ ورځې وې. يوه ورځ د ولسمشر د لومړي مرستيال له دفتره زنگ راغی چې زه بايد ورشم. دفتر ته يې ورغلم. ښاغلي مسعود زه د ده په دفتر کې يوه وړوکي اطاق ته بوتلم. داسې ښکارېدله لکه دغه اطاق يې چې د ډېرو خصوصي مجلسونو لپاره وي. نوموړي خبرې داسې پيل کړې:
«موږ او تاسې مجاهدين يو. کله کله دلته راځه. د وزارت کارونه به دې په مشوره مخکې وړو. زه ښه او تکړه فرهنگيان در ته معرفي کوم، دلته به په گډه ډوډۍ سره خورو. دوی درسره همکار کړه او کار ترې واخله.»
ښاغلي مسعود له دې مقدمې وروسته يو اخبار له مېز نه را واخيست وې پوښتل: «د توريالي ځاځي په نامه يو تن ستا په وزارت کې څه کاره دی؟»
ورته و مې ويل: «د هېواد ورځپاڼې رييس دی.» وې ويل «دې سړي دلته د شهيد آمر صاحب پر خلاف څه شيان ليکلي دي، غواړم چې له دندې يې لرې کړې.» ما ليکنه ولوستله، ډېره تونده نه وه. زموږ په ټولنه کې چې جگړو او دښمنيو ډېر کسان يو د بل پر خلاف درولي دي، دغسې ليکنه د يوه حکومتي مامور د برطرفۍ دليل نشي کېدای. ورته و مې ويل: «دا خو په حکومتي رسنۍ کې نه ده خپره شوې او سپکاوی هم پکې نه ښکاري، بيا به هم له هغه نه وغواړم چې پر دې ليکنه له تاسو نه بښنه وغواړي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته مې ښاغلی ځاځی چې له پخوانیو کلونو مې پېژانده او په یوه دفتر کې مو ګډ کار کړی و خپل دفتر ته را وغوښت، له هغه مې وغوښتل چې ښاغلي مسعود ته ورشي او معذرت ترې وغواړي، هغه و نه منله او ما ځانته دا حق ور نه کړ چې په دې کار یې مجبور کړم، ځکه چې د بل هر چا په څېر یې یوازې خپل نظر په هغه لیکنه کې بیان کړی و.

په دې ډول توریالي ځاځي بښنه و نه غوښته او پخپله دنده پاتې شو. له همدې ورځې د ولسمشرۍ د لومړي مرستیال نظر زما په اړه برالا واوښت او تر هغو وروسته به یې تل زما پر کار نیوکې کولې. کله به یې ویل: «ته تل یوازې یوه سندره په تلویزیون کې خپروې چې په هغو کې یوازې د یوه قوم اتلان یاد شوي دي.» کله به یې ویل «یو سړی دې پیدا کړی چې په هېڅ خبر نه دی خو په ملي تلویزیون کې د کارپوه په توګه پر هر شي نظر ورکوي.» په داسې حال کې چې وروسته هماغه سړی ده پخپله په لوی معاش د مشاور په توګه ورسره وګوماره.

راځم لومړۍ خبرې ته، په هغه ورځ دومره خپه او غوسه وم چې د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو ریاست ته مې زنګ وواهه او د ایران سفارت ته له تلو مې بښنه وغوښته.

د همدې ورځې په ماښام طلوع تلویزیون په ډېره بېړه یو ګردی مېز جوړ کړ او د دانشګاه مسأله یې چې ګواکي هغه ظلم چې ما کاوه تر بحث لاندې وه. د بحث ټولو ګډونوالو او چلوونکي چې څومره توان درلود ما ته یې بد رد وویل او د دانشګاه ریښه یې تر فردوسي پورې ورسوله.

ما په هېواد کې د ایراني اصطلاحاتو دوه ډوله کاروونکي وپېژندل:

یو هغوی چې په ایران کې ستر شوي وو او درسونه یې ویلي وو او یا همالته زېږېدلي وو. دغه ډله د نورو افغانانو په څېر چې د نړۍ هر ګوټ ته مهاجر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو د وخت جبر دوی د کوربه هېواد د ژبې او فرهنګ تر اغېز لاندې را وستلي وو. هغوی صادق خلک وو هغه څه يې چې زده کړي وو په خوله يې راتلل. خو دوهمه ډله هغه کسان وو چې قصداً يې ايراني کليمې کارولې او دا کار يې زموږ د افغاني کلتور او ملي هويت او تشخص د کمزوري کولو لپاره کاوه.

زه نه ژبپوه يم او نه د ادبياتو مُورخ، خو يوه ساده منطق زه د ملي مصطلحاتو په رعايت مکلف کولم او هغه دا چې موږ د دولت-ملت په زمانه کې ژوند کوو او دغه واقعيت موږ ځينو شيانو ته مجبوروي.

درېغه چې د ځمکې پر مخ ټولو خلکو له ټولو توپيرونو سره چې لري يې د خويندو او ورونو په څېر ژوند کولای او هېڅ سرحد دوی يو له بله نشوای بېلولای. بېلابېل دولتونه له ټاکل شويو سرحدونو سره لوېديزوالو بشريت ته راوړل او نن ورځ د نړۍ خلک په همدې وېشونو کې ژوند کوي. هر دولت خپلې ځانګړې ګټې، سرحدات، کلتور او نظام لري. دا سمه ده چې موږ او ايرانيان په يوه ژبه خبرې کوو، خو زموږ ژبه د افغانستان د دولت ځانګړي مصطلحات او ځانګړتياوې لري چې زموږ هويت او تشخص جوړوي. په ځانګړې توګه زموږ دولتي مصطلحات چې د هېواد له هرې ژبې څخه يې پکې لرو او په يوه بڼه زموږ د دولتي حاکميت استازيتوب کوي. او آيا د عتيق رحيمي ناول چې په «دري» ليکل شوی و ايرانيانو په فارسي و نه ژباړه؟ دا سمه ده چې دانشګاه به په دري ادبياتو کې لرغونې ريښه لري، په يوه شعر او ادبي متن کې يې کارول زما په اند هېڅ ستونزه نه لري. خو د افغانستان په نامه د يوه هېواد په رسمي او حکومتي خبرونو کې يوې رسمي موسسې ته هماغه اصطلاح بايد وکارول شي چې په ټولو رسمياتو کې دود وي. تر هغو چې حکومت پخپله د يوې پرېکړې له مخې په هغو کې بدلون راولي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې املې ما دا کار له دري سره د مخالفت په سبب نه، بلکې د یوه دولت د ژبني او کلتوري هویت د خوندیتابه لپاره وکړ چې نوم یې افغانستان دی. هماغسې چې په تاجکستان کې خپله ژبه تاجیکي بولي او د ایراني اصطلاحاتو کارول یې منع کړي دي.
بل لور ته ما تر هر چا زیات د هغو کسانو د منطق کمزوري پېژندله چې ایراني اصطلاحات او لهجه یې د فارسي-دري په نامه یا په ناپوهۍ او یا ټګۍ خلکو ته تبلیغول. ځکه زه له فرانسوي ژبې سره آشنا وم او ایرانیان د ژباړې پر مهال فرانسوي تلفظ او اصطلاحات کاروي، آن تر دې چې ځینې فرانسوي لغات او اصطلاحات یې د خپلې ژبې برخه ګرځېدلي د «مرسي» په څېر چې دوی یې د «تشکر» پر ځای کاروي.
ډېر ځله مې پام شوی چې د ایرانیانو لخوا کارول شوې فرانسوي کلیمې او اصطلاحات یې د «فارسي اصیلو کلیمو» په نامه کارولي دي او پرې ویاړي، د «اورژانس» په څېر چې د «عاجل» پر ځای، «تیتر» د «عنوان»، «کامیون» د «لارۍ» پر ځای چې انګلیسي ده خو زموږ په ژبه کې دود شوې او یا مثلاً «یک سری» د «سلسله» پر ځای ځکه چې سری په فرانسوي کې د سلسلې په مانا ده.
ځینې وختونه یوازې د ایرانۍ فارسي په تقلید د داسې لغتونو پر ځای چې ریښه یې دري ده او موږ یې په ورځني ژوند کې له پخوا څخه کاروو ایراني دود اصطلاحګانې کارول کېږي. د ساري په توګه د «شاګرد» پر ځای «دانش آموز» کاروي، یا په افغانستان کې دود عربي ترکیب پرېږدي او په ایران کې دود عربي ترکیب کاروي، د ساري په توګه د «منشی عمومی» پر ځای «دبیر کل» کاروي. یا داسې هم شته چې زموږ په ژبه کې د فرانسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغت سمه دود شوې ښه پرېږدي يوازې د ايرانيانو په تقليد يې ناسمه شوې ښه کاروي يانې د «بورس» پر ځای «بورسيه» کاروي.

د مصطلحاتو موضوع ته ډېره لمن ووهل شوه، په کابينه کې د ولسمشرۍ د لومړي مرستيال لخوا مطرح شوه او پر دې موضوع د وزارت د لوحې بدلون مسأله هم ور زياته شوه. د کابينې په مجلس کې ښاغلي سپنتا مېز په سوک وواهه او ولسمشر ته يې وويل: «څوک حق نه لري ما پر خپلې مورنۍ ژبې له خبرو منع کړي، زه به هېڅکله بازرگان ته تاجر و نه وايم.» په هر صورت ولسمشر په زغم او تدبير له ما څخه دفاع وکړه او زه يې د مخالفت هغه څپې ته چې له کابينې څخه تر يو شمېر فرهنگي او رسنيزو کړيو پورې رامنځته شوې وه يوازې پرېښودم. سره له دې چې ما ته يې وويل چې د ملي گالري لوحه په نگارستان ملي بدله کړم.

دغو ستونزو بالاخره زما پښه تر پارلمان پورې ورکش کړه او د ښاغلي حاجي محمد محقق په مشرۍ د ولسي جرگې د فرهنگي کمېسيون استجوابيه غونډې ته مې بايد ځواب ويلی وای. زه نور اوس د «پوهنتون» د پلوي او «دانشگاه» د مخالف په سمبول بدل شوی وم. د ديني، فرهنگي، معارف او لوړو زده کړو د چارو کمېسيون غونډه د ۲۰۰۷ کال په ژمي کې د پارلمان په ودانۍ کې جوړه شوه. د اړوند کمېسيون پر غړيو سربېره يو زيات شمېر وکيلان هم چې د نورو کمېسيونونو غړيتوب يې درلود غونډې ته راغلي وو. اطاق په کامرو ډک و او زيات شمېر ژورناليستانو هم ځانونه را رسولي وو. کمېسيون نهه مواد په اجنډا کې شامل کړي وو چې د هر يوه په باب مې بايد ځواب ويلی وای. له هغو جملې څخه: له دري ژبې څخه د وزارت د لوحې په پښتو او او انگليسي ژبه بدلول. د نگارستان ملي لوحه په گالري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملي بدلول، په تلويزيون کې پښتو او دري خبرونو يو کول، د بلخ د راديو-تلويزيون د آمر او دوو خبريالانو کسر معاش او ترټل...
د دې مواردو له لوستلو او لومړنيو خبرو وروسته ښاغلي محقق له رسنيو وغوښتل چې له تالاره ووځي چې موږ خپل مجلس ته دوام ورکړو. ما له خپلو دوستانو او همکارانو سره په مشوره تصميم درلود چې غونډه د رسنيو په مخکې دوام وکړي، ځکه چې موږ داسې څه نه درلودل چې له رسنيو يې پټ کړو. نو بايد غونډه له پيله تر پايه رسنيو ثبت کړې واى او خلکو حقايق له لاس وهنې پرته بشپړ ليدلي او اورېدلي واى. وروسته د دې غونډې جريان له ملي تلويزيون نه هم بشپړ خپور شو.
د وزارت د لوحې په باب مې وويل چې د لوحې نوم له وزارت سره يو شان نه و او ما چټله او ماته پلاستيکي لوحه لرې او د وزارت نوم مې په کاشي کارۍ په پښتو ژبه په ښکلې خطاطۍ پکې وليکه.
په پښتو ژبه کې يوازې يو «د» او «او» اضافه شوى دى چې هر لوستونکى يې په مفهوم پوهېږي. د وزارت وياند ښاغلي ناصري د ډېرو وزارتونو د لوحو تصويرونه راته چمتو کړي وو چې دا يې ښودله چې له ۱۶ وزارتونو څخه د ۱۳ وزارتونو لوحې يوازې په دري ژبه ليکل شوې وې. و مې ويل چې په داسې حال چې دومره شمېر لوحې په يوه ژبه پوښتنې نه راپورته کوي ولې زموږ د وزارت لوحې چې په پښتو ليکل شوې دومره پوښتنې را پورته کړې چې زه يې د استجواب لپاره را وغوښتم؟ چا د دې ځواب نه درلود. په نورو برخو کې مې هم ځوابونه وويل، ښاغلى محقق، هغه وکيلان چې د فرهنګي کمېسيون غړي وو او نور وکيلان چې د کمېسيون غړي نه وو خو په مجلس کې حاضر وو او زما پر خلاف دغه غونډې ته راغلي وو ټول بې ځوابه شول. بايد دلته د هغوى وکيلانو په تېره خويندو وکيلانو څخه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه کې وې او په کلکه يې په منطقي ډول زما ملاتړ وکړ د زړه له کومي مننه وکړم.

د استجوابيه غونډې په بهير کې يو شمېر فرهنګيانو او ځوانانو د پارلمان له ودانۍ څخه د باندې مظاهره کړې وه. زما د مخالفينو پر خلاف يې شعارونه ورکول او هغوی يې د پرديو د کلتور په دودولو تورن کړل. ما د دغه مظاهرو په تنظيم کې هېڅ لاس او رول نه درلود.

په هر صورت غونډه بريالۍ پايته ورسېده. اراده مې وه چې يو دوه ساعته کور ته لاړ شم. کله چې کور ته ورسېدم له ارګه زنګ راغی، را ته وې ويل چې رييس صاحب عاجل غوښتی يې.

چې ګلخانې ماڼۍ ته ننوتلم د انتظار په لوی تالار کې مې «محمد اسمعيل يون» وليد چې انتظار و. ورته و مې ويل چې څه خبره ده؟ ځواب يې راکړ: «د ولسمشر په دفتر کې استاد کريم خليلي او محقق دي او له ما نه يې شکايت کړی دی.» ترې و مې پوښتل ولې؟ خپله ليکنه يې چې په همدې ورځ په يوه ورځپانه کې خپره شوې وه را وښودله، ښاغلي يون په هغو کې استاد محقق او د ده همنظره وکيلان چې د «دانشګاه» د اصطلاح پلويان وو له ايران سره تړلي کسان بللي وو. زه له دې ليکنې مخکې خبر نه وم. څو دقيقې وروسته دننه ورېلل شوو، ولسمشر ډېر غوسه و. زه او ښاغلی يون يې د ليکنې په تړاو دواړه ملامت کړو.

د ولسي جرګې له استجوابيه غونډې څخه به دوې يا درې ورځې تېرې وې چې د مشرانو جرګې د شکاياتو د اورېدو کمېسيون چې «ډاکتر زلمی زابلی» يې مشر و غونډې ته ور وغوښتم. موضوع د «جميلې مجاهد» اړوند د پيام زن راديو په اړه وه، هغې له خپلو کارکوونکيو سره څه ستونزې درلودې. دغه موضوع د رسنيو د شکاياتو او سرغړونو په کمېسيون کې د جميلې مجاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوښتنه ځېړل شوې وه. هغوی چې د کمېسیون پر پرېکړه اعتراض درلود سنا ته یې عرض کړی و. ما او همکارانو مې اړوند اسناد ټول وړاندې کړل او د ښاغلي زابلي پوښتنو ته پر ځوابونو بوخت وو چې ناڅاپه یو ځوان د فلمبرداری له کامرې سره اطاق ته راغی او په فلم اخیستلو بوخت شو. پوښتنه مې وکړه: «دا کامره د چا ده؟» کامره مین وویل: «د طلوع تلویزیون ده» و مې ویل: «پرېکړه داسې نه وه چې رسنۍ دې دلته وي، بیا که تصمیم دا و چې رسنۍ وي باید نورې هم وای، ځکه خو فلمبرداري مه کوه.» ښاغلي زابلي په غوسه او سپکه لهجه وویل: «دلته ستا وزارت نه دی، دلته ته تصمیم نه نیسې.» کامره مین ته یې وویل چې کار ته دوام ورکړي. دغه غیرمسوولانه چلن او زموږ همکارانو ته بیا بیا سپکاوی د داسې تلویزیون د کامرې په مخ کې چې کار یې یوازې د وزارت د چارو تخریب او زما شخصیت ته زیان رسول و د دې سبب شول چې له ځایه جگ شوم او ښاغلي زابلي ته مې وویل چې د یوه نخود ارزښت را ته نه لري او بیا له خپلو همکارانو سره له اطاقه را ووتم. د ولسي جرگې د فرهنگي کمېسیون له بریالۍ غونډې نه وروسته دغه صحنه قصدي جوړه شوې وه چې هغه بریا مې په شرمېدلو واړوي.

له هغه ورځې وروسته د مشرانو جرگې د شکایاتو کمېسیون هېڅ غونډې ته ور نه غلم.

د دانشگاه او پوهنتون پر سر د لانجو په اوج کې، یوه ورځ استاد برهان الدین رباني را ته زنگ وواهه او وې ویل: «خبر شوم چې هلکانو ډېر جنجال درسره کړی دی، ښه کار نه دی شوی، اساساً دغه باید د اختلاف موضوع نه وي، زه په بهر کې وم که نه نه مې پرېښودل چې تر دې حده ستونزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړې شي، زه هغوی ته توصیه کوم» زه به د استاد رباني دغه خبرې او ملي دریځ تل په یاد لرم.

سره له دې چې د «پوهنتون» او «پوهنځي» موضوع پخوا د عدلیې وزارت او سترې محکمې د بېلابېلو مکتوبونو چې لومړی پر ۱۳۸۴ او دوهم ۱۳۸۷ لمریز کلونو کې صادر شوي وو حل شوې وه او دا د ملي مصطلحاتو برخه بلل شوي وو خو بېلابېلو دلایلو یو بل ته لاس ورکړ تر څو له هغو څخه ما ته یوه د سرخوږي موضوع جوړه شي.

زما ډېره تلوسه دا وه چې د دریو دولتي ادارو اطلاعات او کلتور وزارت، علومو اکاډمۍ او کابل پوهنتون د علماو او پوهانو یو ګډ ګروپ پر دولتي او علمي ټولو اصطلاحاتو کار وکړي او د ژبپوهنې د تاریخي او علمي معیارونو له مخې پرېکړې وکړي. د دې کار اړتیا ډېره احساسېدله، ځکه ټولنیز ژوند او علمي پرمختګونه نوې مفکورې او پدیدې رامنځته کوي چې باید هغو ته مو په خپلو ژبو کې نومونه لټولي وای. خو په هغه تیاره فضا کې زما دغه وړاندیز له پامه وغورځېد، په خاص ډول مخالفینو زما دغه وړاندیز هم یو ډول توطیه ګڼله.

د سپېڅلیو ځایونو، واټونو د نوم ایښودنې او د لوحو د تنظیم په باب مې د وزیرانو شورا ته وړاندیز وکړ چې د اړوندو ادارو له استازو لکه ښاروالۍ، د حج او اوقافو وزارت، د ښاري پراختیا وزارت، مخابراتو، علومو اکاډمۍ د کارتوګرافي او جیوډیزي ریاست او د کسبګرو اتحادیې ګډ کمېسیون د اطلاعاتو او کلتور وزیر په مشرۍ جوړ شي. دې کمېسیون د څو ناحیو د واټونو نوم ایښودل بشپړ کړل او د ودوونو تالارونو، هوټلونو او رستورانتونو د لوحو په سمون کې یې د حساب وړ کارونه تر سره کړل. ډېر انګلیسي نومونه مو په خپلو ژبو واړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سريالونو جنجال

له طالبانو وروسته دولتي ادارې په غيرعادي شرايطو کې جوړې شوې.
د اطلاعات او فرهنګ وزارت هم چې په شاهي او د سردار محمد داوود خان په جمهوري دور کې د اطلاعات او کلتور وزارت بلل کېدو او يو حيثيت يې درلود پر هېواد د حاکم ترينګلي وضعيت له زيان څخه خوندي پاتې نه شو. له يوه پلوه افغاني ټولنه نور هماغه يو لاس او همغږې پاتې نه وه. بل لوري ته خصوصي فرهنګي او رسنيز فعاليتونه هم د حکومت او نړيوالې ټولنې لخوا هڅول کېدل او خصوصي رسنۍ د پيلېدو په حالت کې وې، بالاخره د وزارت اداره د لنډ مهالې ادارې له پيل سره کمزوريو لاسو ته ولوېده. دې ټولو د دې وزارت چارې له بې نظمۍ او بې قانونۍ سره مخ کړې. له دې جملې څخه د خصوصي تلويزيونونو جوړېدل وو چې د ډېرو وړوکيو اصولو تابع هم نه وو. ما تل داسې ګڼله چې فريکونسي د ولس حق دی، څوک يې چې ترلاسه کوي بايد دغه امانت په صداقت او مسوولانه ډول وکاروي. خو متأسفانه داسې و نه شول. يو شمېر کسانو له هېڅ ډول ملي تعهد پرته يوازې د پيسو را ټولولو لپاره وکارولې، ځينو هغه د يوه ګوند په خدمت کې وګومارلې او تر ټولو بده دا چې ځينو د پرديو په خدمت کې استعمال کړې.
په زياترو هغو هېوادونو کې چې په رسنيو او رسنيو اړوندې ټکنالوژۍ کې مخکښ دي د ټلويزيونونو مالکان د ژورنالېزم پر مسلکي اصولو سربېره د نورو مهمو اصولو پر رعايت مکلف دي، يانې لوړو ملي ګټو ته بايد درناوی ولري. د هېواد سلامتيا، اخلاقي اصول او د خلکو عقايد مهم وبولي او داسې نور. پر دې سربېره رسنۍ په خپلو خبرونو کې يوه ټاکل شوې سلنه پخپله توليد کړي او يا له هېوادنيو توليداتو ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کار په افغانستان کې تر سره نه شو. پایله دا شوه چې خلک د خپلو کورونو په گوټونو کې د بې رحمه یرغلگر ځپو ته کېناستل چې هر څه یې زړه غوښتل خلکو ته یې وړاندې کړل خو هغوی د دغه بې رحمانه یرغل په وړاندې بې وسیلې او بشپړ بې دفاع وو او فریاد یې د هېچا غوږونو ته نه رسېده.

یوه شپه مې په یاد ده یو چا را ته زنگ وواهه او وې ژړل، وې ویل چې له خیرخانې نه مې زنگ وهلی، له تلویزیوني سریالونو یې شکایت کاوه چې د کورنۍ او ماشومانو ژوند یې ورته گډوډ کړی دی.

پارلمان همدغه شکایت درلود، عالمان د سریالونو مخالف وو او میندې او پلرونه ترې په عذاب وو. دغه شکایتونه ولسمشر ته هم ورسېدل او نوموړي په دې تړاو اندېښنې درلودې. ما د خصوصي تلویزیونونو مالکان او مسوولین خپل دفتر ته را وغوښتل او دغه شکایتونه مې ورسره شریک کړل. یو شمېر یې راسره موافق وو او دا یې منله چې په کارونو کې یې ستونزې شته. خو ځینو نورو یې چې زما له دفتره ووتل سمدستي هغه اتحادیې او غیردولتي سازمانونه چې له بهرنیانو نه یې پیسې ترلاسه کولې زما پر خلاف را وپارول او دا غوغا یې اوچته کړه چې گواکې زه د بیان د آزادۍ مخالف یم. هغه مهال هندي سریالونو بازار نیولی و. له دغو سریالونو سره چې زموږ له اخلاقي اصولو، دود او دستور او عقایدو سره مخالف وو او ځوانان یې اخلاقي فساد ته هڅول یو شمېر کسانو زما مخالفت داسې تعبیراوه چې گواکې زه له پاکستان سره تړاو لرم او له هندوستان سره مخالف یم. دې مسألې ته ډېره لمن ووهله شوه تر دې چې ما د هند سفیر خپل دفتر ته را وباله هغه ته مې وویل چې زما مخالفت له سریالونو سره پر دې نه دی چې دا هندي سریالونه دي، بلکې له محتوا سره یې دی. له هغه نه مې هیله وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر ځومره تاریخي او روزنیز فلمونه او سریالونه لرې را یې وړه موږ به یې د ملي او خصوصي تلویزیونو له لارې خپاره کړو. د هند سفیر هوښیار او پوه سړی و او د مسألې ژورتوب یې درک کاوه. خو په ځانګړو کړیو کې پخپله زموږ د هېوادوالو په منځ کې په منظم ډول دغه ناوړه تبلیغ ته لمن وهل کېده. په همدې موده کې یوه ورځ د طلوع تلویزیون مالک «سعد محسني» او «عتیق رحیمي» چې یو وخت موږ هم سره ګاونډیان وو او هم مو په یوه ښوونځي کې درس وایه ما ته راغلل. ښاغلي محسني ښکاره او په ډانګ پیلې را ته وویل چې د هندي سریالونو په پرتله بل هېڅ پروګرام او خپرونه ورته زیاتې پیسې نه ګټي. هغه وویل چې دغه سریالونه یې په زیاتو پیسو پېرلي دي که یې خپاره نه کړي نو ډېر «تاوان» کوي. ورته و مې ویل: «تر دې به لوی ظلم څه وي چې د پیسو ګټلو او په بهر کې د خپلو بچیانو لپاره د آرام او سوکاله ژوندانه برابرولو لپاره دلته په هېواد کې دننه ماشومان او تنکي ځوانان په سطحي، بې محتوا او بېلارې کوونکیو خپرونو مسموم کوې؟» له ښاغلي محسني مې وپوښتل چې آیا دا خوښوې چې ماشومان دې هره ورځ د «تولسي» په نامه مشهور سریال وګوري؟ په ځواب کې یې را ته وویل: «زما ماشومان هېڅکله هم هندي سریالونه نه ګوري» د نوموړي په یوه لیکنه کې چې په نیویارک ټایمز کې خپره شوه د غربیانو د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره ولیکل: «د افغانانو لویې او اساسي ستونزې، وژنې، د ماشومانو تښتول، د نشه‌یي توکو قاچاق او نور دي او د دوی تلویزیون په دې مصیبتونو کې د ښکېل افغانانو د آرامۍ او سکون لپاره د سندرو او سریالونو په خپرولو د هغوی غوږونه او سترګې نازوي.» ښاغلي محسني ما ته وړاندیز وکړ چې سټوډیوګانې یې ووینم او دا ژمنه یې وکړه چې له دوو مشهورو پروګرامونو «ګفتمان او ګزارش شش و نیم» څخه یې یو زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت په خدمت وګوماري، ما منه ترې وکړه او وړانديز مې يې و نه مانه. دې تلويزيون يو ځل د کولمبيايي سندرغاړې «شکېرا» کنسرت خپور کړی و چې د کورنيو او علماو له ډېر توند غبرګون سره مخ شول او وزارت هم د يوې مطبوعاتي اعلامېې په ترڅ کې دغه کار وغانده. تلويزيون ته يې توصيه وکړه چې نور له داسې پروګرامونو خپرولو ډډه وکړي.

دغه ډول خپرونو د افغانستان په زياته برخه کې يانې په ولايتونو او کليو کې د دولت مخالفينو ته د تبليغاتو زمينه برابروله. آن تر دې چې طالبانو د کابل د تلويزيونو د دغه ډول خپرونو ننداره خلکو ته ښودلې او ويل به يې چې د کابل حکومت د کافرانو په لاس کې دی او د هغوی پر خلاف جهاد فرض دی! په دې ډول د دولت وسله‌والو مخالفينو ته د جنګياليو جذب آسانېدو. دا له امکان لرې نه ده چې دا کار د همدې هدف لپاره هڅول کېدو تر څو د هېواد د اطرافو خلک د مرکز پر خلاف وپاروي. هغه مهال منظمې هڅې رواني وې چې د دولت د وسله‌والو مخالفانو ليکې پياوړې شي. خصوصي امنيتي کمپنيو د اکمالاتي کاروانونو د امنيت په نامه د طالبانو د پياوړي کولو لپاره هغوی ته باج ورکاوه، هغه تېل چې بهرنيو ځواکونو ته لېږدول کېدل لومړی به پلورل کېدل او وروسته به له طالبانو سره په ګډه ټانکرونه سوځول کېدل، امريکايانو او د دوی سره تړليو افغانانو بېګناه افغانان زندانونو ته اچول او سخت يې ځورول. له لوېديزوالو سره په ځانګړې توګه له امريکا سره تړليو رسنيو يوه لوري ته بربنډتوب او بې پتې ته لمن وهله او بل لوري ته يې اطرافونه له خپل حکومت څخه زړه توري کول. له بګرام څخه را خوشي شويو بنديانو څخه يوه حامد کرزي ته کيسه کړې وه چې دی به په يوه داسې اطاق کې د امريکايانو لخوا ربړول کېدو چې پر دېوال يې د «ولسمشر» تصوير راځړېدلی و. په دې ډول د وسله‌والو مخالفينو د پياوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو لپاره په ځو جبهو کې کار کېدو او د هغوی ځواک او توان زیات ښودل کېدو.

د سریالونو موضوع چې د باران په څېر زموږ پر کورنیو اورېدو ورځ تر بلې ستونزمنه کېده. هغو کسانو قوي منطق نه درلود چې په بېلابېلو غرضونو یې له هغو څخه دفاع کوله.

بالاخره د علماو شورا د «ارواښاد مولوي فضل الهادي شینواري» په مشرۍ او د شیعه علماو شورا او مشرانو جرگه له ما سره ملگري شول. مولوي صاحب شینواری یو باتقوا او د کلکې ارادې خاوند انسان و. هغه له دې وضعې ځورېده. پرېکړه پر دې شوه چې د وضعې د سمون لپاره موږ خپل فعالیتونه سره همغږي کړو. نوموړي ښاغلی «فضل احمد معنوي» او «محمد قاسم حلیمي» چې دواړو د علماو د سرتاسري شورا عضویت درلود د خپلو استازیو په توگه را معرفي کړل. طلوع تلویزیون دننه او په بهر کې له هرې وسیلې کار واخیست تر څو زموږ په کار کې خنډونه جوړ کړي. بېلاري کوونکي دروغ او تبلیغات، په تمه کول او د بهرنیانو لخوا سیاسي فشارونه، له هر څه نه کار واخیستل شو خو ځای یې و نه نیو. داسې آوازې خپرې شوې چې د طلوع تلویزیون چارواکي له خپلو هڅو څخه نهیلي شوي او پرېکړه یې کړې چې د ارشیف یوه برخه یې دوبۍ ته ولېږدوي. په ځینو تلویزیونو کې د سریالونو بندېدو د طلوع دریځ کمزوری کړ. ټاکل شوې وه چې د یادو سریالونو پر خلاف د وروستي او پرېکنده گام په توگه او د علماو سرتاسري شورا رییس د شیعه علماو له استازي سره یو ځای په یوه خبري کنفرانس کې خپلې وروستۍ خبرې وکړي. سهار و زه په وزیر محمد اکبر خان مېنه کې د مولوي صاحب شینواري په کور کې وم او له ده او همکارانو سره مې د خبري کنفرانس د ترتیب په جزئیاتو خبرې کولې. ناڅاپه له ارگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنګ راغی، سکرتر را ته وویل: «رییس صاحب خبرې کوي» ولسمشر را نه وپوښتل چېرته يې؟ ورته و مې ويل: «له مولوي صاحب شينواري سره يم او د ګډ خبري کنفرانس په اړه مشوره کوو.» ډېر په غوسه شو را ته وې ويل چې مجلس پرېږده او په بيړه زما دفتر ته راشه. مجبور شوم چې له مولوي صاحب څخه رخصت شم، ژمنه مې وکړه چې د ارګ له مجلس وروسته به بيا راشم. کله چې د ولسمشر دفتر ته ننوتم، هغه غېږ را ته پرانيسته او په خندا يې راسره ستړي مشي وکړل وې ويل: «در په در به دې کړي له کنفرانس منفرانس نه تېر شه.» ټينګار مې وکړ، بيا بيا مې ورته وويل چې هر څه سم لور ته روان دي، زموږ کار ښه پايله لري او خلک له دې سريالونو او نورو بېلارې کوونکو خپرونو ژغورل کېږي. خو ولسمشر حاضر نه و چې خبرې مې واوري، له مولوي صاحب سره يې تليفوني اړيکه ونيوه وې ويل چې د مبتذلو خپرونو د مخنيوي لپاره به له نورو لارو چارو کار واخلي. ډېر نهيلی شوم او د عامو خلکو په تېره د ماشومانو د ميندو او پلرونو او هغو ښوونکيو په مخکې مې د خجالت احساس کاوه چې له بېلابېلو لارو به يې را سره اړيکه نيوله او له ما نه به يې د سريالونو او نورو مبتذلو خپرونو بندولو غوښتنه کوله. د ولسمشر له دفتره را ووتم او د تليفون له لارې مې مولوي صاحب شينواري ته کيسه وکړه. هغه هم ډېر خپه و.

متأسفانه زما د وزارت له دورې وروسته وضعيت نور هم ډېر بد شو. زه تر اوسه نه پوهېږم چې ولسمشر ته چا خبر ورکړی و چې زه له مولوي صاحب شينواري سره وم او ولې يې دومره په جدي ډول موږ له خپل کار تر سره کولو منعه کړو. ښېله دې چې زما او مولوي شينواري چې سخت احترام يې ورته درلود خبره واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول د سريالونو دوسيه وتړل شوه، تلويزيونو د احتياطي تدابيرو په توګه وړوکي اقدامات وکړل څو اطلاعات او کلتور وزارت راضي کړي. لکه پر «بګوان» او د ښځو پر لوڅو غړيو د پردې اچول، خو د سريالونو خپرېدل روان وو.

## عمومي فرهنګي وضعيت او په دې برخه کې د وزارت هڅې

«ژان بتيست دوروسل» نوماند فرانسوی مورخ په «له ۱۹۱۹ څخه تر ننه ديپلوماتيک تاريخ» نومي خپل اثر کې ليکي: «کله چې جګړه پای ته رسيږي خلک اوږده آرامه ساه اخلي، خو له دې خيال سره چې ټول فکر کوي هر څه به خپل پخواني عادي حالت ته ور وګرځي. دوی له دې غافل دي چې تاريخ نه تکرارېږي او جګړې ژور او پام وړ بدلونونه راوستي دي. بدلون په اقتصاد کې، په سياسي ژوند کې، په ټولېزه ارواپوهنه کې او بالاخره په نړيوالو اړيکو کې.» «دوروسل» دغه خبره د دوهمې نړيوالې جګړې په تړاو کړې وه، هغه جګړه چې تر شپږ کاله لږ يې دوام وکړ، په داسې حال کې چې د طالبانو د دورې تر پايه د افغانستان جګړه ۲۴ کلنه شوې وه.

د دې اوږدې او ويجاړوونکې جګړې په بهير کې ډېرو کسانو له افغانستان نه نورو هېوادونو ته پناه يووړه، ډېرې عقدې او دښمنۍ رامنځته شوې او د پرديو غرضي لاسونه زموږ د ټولنې تر ريښو ورسېدل. په دې موده کې افغاني وياړمنو خصلتونو زيان وليد. موږ پر نورو د تکيې کولو عادت خپل کړ او نور پر دې روږدي شول چې پر موږ حاکميت ولري، دې وضعيت د وَينه په څېر زموږ کلتور وخوړ. په دغسې شرايطو کې زما په نظر يوازينۍ لاره خپلې وياړمنې ماضي ته بېرته ور ګرځېدل وو، البته د هغو غلطيو له په ګوتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو سره چې زموږ ویاړونه یې را نه اخیستي وو. د بېخودۍ په دغسې فضا کې دې ته اړتیا وه چې په یوه ښه فرهنګي نشنلیزم پیاوړی شي.

په هغه موده کې زه د اطلاعات او کلتور وزارت د چارو مسوول وم چې زما ټولې هڅې د همدې لپاره وې. سیمینارونه، نندارتونونه، د کتابونو چاپ، تیاتر، موسیقي او د ځوانانو تنظیم مو ټول په همدې موخه وو.

په کابل او په پاریس کې د یونسکو په مرکز کې مو د مولانا جلال الدین محمد بلخي سیمینار دایر کړ چې افغاني هنرمندانو هم په هغو کې په افغاني جامو کې خپل هنر وښود او موسیقي یې وږغوله، په نظر کې وه چې د یونسکو په انګړ کې د دریو هېوادونو افغانستان، ایران او ترکیې هنرمندان د مولانا  شعرونه د موسیقۍ په قالب کې وړاندې کړي ما د دې لپاره له خالد آرمان، وحید قاسمي او رحیم غفاري وغوښتل چې خپل هنر هلته ننداریې ته وړاندې کړي، خالد ارمان ډېرې پیسې وغوښتې او وحید قاسمي د الوتکې له ټکټ د هوټل تر اطاق او نورو پورې ډېر سخت شرطونه کېښودل په داسې حال کې چې رحیم غفاري په خپل فقیرانه چلن ومنله او راغی، نوموړي ډېر ښکلی صوفیانه کنسرت ورکړ چې د حاضرو کسانو له تاوده هرکلي سره مخ شو. وزارت همدارنګه د علامه احمد علي کهزاد سیمینار، د پوهاند عبدالاحمد جاوید سیمینار، د روښاني غورځنګ سیمینار، د مولانا عبدالرحمان جامي سیمینار، د محمد موسی شفیق سیمینار، د پوهاند صدیق الله رښتین سیمینار او ... یو شمېر سیمینارونه مو د سیمې او ګاونډیو هېوادونو د علماو او پوهانو په ګډون جوړ کړل.

د تیاتر په څانګه کې د پنځوسو په شاوخوا کې نندارې وښودل شوې چې زیاتره یې وروسته د ملي تلویزیون له لارې هم خپرې شوې هغه ټولې د یوه پیغام درلودونکې وې: د ملي غرور یادونه او د ملي یووالي پیاوړتیا. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو تیاتر هم فعال کړای شو. د موسیقي په برخه کې د موسیقي د ودې د ملي شورا جوړولو کار پیل شو. د موسیقي د زده کړو کورسونه له سره فعال شول. د هېواد د نومیالیو هنرمندانو لکه استاد سرآهنگ، استاد محمد هاشم، استاد اولمیر، استاد رحیم بخش، استاد محمد عمر او احمد ظاهر په یاد درانه محفلونه جوړ شول او زیات شمېر هنرمندان په نړیوالو فستیوالونو کې د ګډون لپاره بهر ته واستول شول. په دې موده کې تر سلو زیات کنسرتونه ترسره شول، پر دې سربېره تر سلو زیاتې نوې سندرې ثبت او ملي راډیو-تلویزیون ته وسپارل شوې.

له هر فرصت څخه ګټه پورته کړای شوه چې د خطاطۍ او رسامۍ نندارتونونو جوړولو لپاره پلمه شي. د ملي راډیو – تلویزیون خپرونې د ۲۰۰۸ کال په پیل کې نړیوالې شوې تر څو زموږ د بهر مېشتو هېوادونو بچیان له خپل هېواد او کلتور سره بېرته وصل شي. په هند کې د افغانانو د تاریخ او ویاړونو یوه لړۍ مستند فلمونه چمتو شول چې هره اونۍ د ملي تلویزیون لخوا د «لرغونې مېنه» تر سرلیک لاندې خپرېدل.

د ځوانانو معینیت د لرې پرتو ولایتونو د ځوانانو لپاره د معلوماتو او اړیکو د مرکزونو د جوړولو له لارې د ملي روحیې په پیاوړې کولو کې عملاً کار پیل کړ. او د هغو ځوانانو لپاره چې په کانکور کې یې ښې پایلې نه وې ترلاسه کړې له خصوصي پوهنتونونو سره د زده کړو د بورسونو پروګرام پیل شو.

متأسفانه د فلم په برخه کې و نه توانېدم چې کوم مهم کار وکړای شم. په دې برخه کې مهم کار یوازې دا و چې د افغان فلم د آرشیف د له منځه تلو مخنیوی وشو. یوه برخه یې ډیجیټلي کړای شوه او د هغو د تیارولو سیستم ترمیم کړای شو. همدغه کار مو د ملي آرشیف په برخه کې هم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړیوالو سازمانونو په همکارۍ په زرگونو ټوټې لرغوني آثار بېرته ملي موزیم ته راستانه کړای شول او یو شمېر آثار د ترمیم لپاره بهر ته واستول شول.

د کابل او ولایاتو په یو شمېر ناحیو کې، آن په یو شمېر ولسوالیو کې د عامه کتابتون ځانگې یا نوې پرانیستل شوې او یا د کتابونو په پېرلو پیاوړې کړای شوې.

د «کاپي رایټ» قانون د لومړي ځل لپاره د وزارت لخوا تسوید شو او د پړاوونو له طی کولو وروسته د اجرا وړ شو. زما هدف دا و چې له حقوقي اړخه هنرمندان او د قلم خاوندان خوندي شي او اقتصادي وضعیت یې ښه شي.

زما په مخه کې تر ټولو لوی خنډونه یو د هر څه خصوصي کولو په تړاو د امریکایي برلاسۍ ذهنیت و چې پر حکومت مسلط و، بل دا چې لوېدیزو هېوادونو هسې په دروغو زموږ د فرهنگ له ځینو اړخونو سره لېوالتیا ښودله او نور یې په منظم ډول غوښتل چې کمزوري کړي. او بالاخره بل خنډ د هغو یو شمېر افغانانو کړه وړه وو چې په شعوري یا لا شعوري ډول د خپل کلتور د ریښو غوځولو لپاره د پردیو تبر ته لاستي شوي وو. ډېره ځوروونکې وه چې کله به مې د «فرهنگي یرغل» او یا «ملي گټو» غږ اوچت کړ د یو شمېر هغه کسانو لخوا چې د روښانفکرۍ دعوه دار و ځواب راکول کېدو چې: «د نړیوال کېدو په زمانه کې ملي گټې مانا نه لري.» یا «زموږ ملي گټې تعریف شوې نه دي.» دا په داسې حال کې چې لوېدیز هېوادونه او زموږ گاونډیان تر حد زیات په خپلو ملي گټو پسې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کافي بودجې نشتوالی او د مالي سرچینو کمبود زموږ ستونزې ډېرې زیاتې کړې وې او ورځ تر بلې د جګړې توندوالي، کلتور د دولت له بودجوي لومړیتوب نه غورځولی و.
اطلاعات او کلتور وزارت ته ۰,۲ سلنه بودجه ځانګړې شوې وه. سره د دې چې په پلان ریاست کې مې په کار پوه کسان وګومارل او مالي برخې ته په زیاتې پاملرنې وتوانېدم چې د ښې بودجې په تر لاسه کولو بریالی شم. خو د امریکا پرستۍ او خصوصي کولو روحیه هغه خنډونه وو چې مقابله ورسره آسانه نه وه.
یوه ورځ مې د کابینې په غونډه کې له «انوارالحق احدي» څخه چې زما تر څنګ به کېناست وغوښتل چې د کتابونو چاپ او د فلم لپاره د پیسو په ځانګړې کولو کې زیاته پاملرنه وکړي، نوموړي په ځواب کې را ته وویل: «په امریکا کې اصلاً د کلتور وزارت نشته.» په دې مانا چې له یو شمېر کسانو سره اصلاً د اطلاعاتو او کلتور په نامه وزارت اضافي او بې مانا شی وو. ورته و مې ویل: «امریکا نورې اړتیاوې او شرایط لري، خو تاسو په افغان فلم کې کارکوونکو ته معاشونه، موټر د تېلو او نور لګښتونه ورکوئ خو د فلم د جوړولو لپاره پیسې نه ورکوئ، دا خو د توجیه وړ نه ده.»
یو وخت مې د امریکایانو لمنې ته لاس واچاوه، په هغو ورځو کې مې اړیکې ورسره ښې وې، پرلپسې یې زه په خپل سفارت کې خپلو اپارتمانونو ته دعوت کولم. هغوی په سفارت کې خپل فرهنګي مرکز زما په لاس پرانیست. په دغسې فضا کې مې له هغوی وغوښتل چې له وزارت سره د فلم په جوړولو، تیاتر او کتابونو چاپولو کې مرسته وکړي. هغوی ته مې تشریح کړه چې موږ د ایراني فلمونو او کتابونو او هندي سریالونو تر باران لاندې یو، د دولت بودجه په دې برخه کې د لویو پروګرامونو د پلي کولو توان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. خو هغوی نه یوازې دا چې هېڅ ونه کړل بلکې وروسته د یوه خصوصي تلویزیون د یوه پخواني کارکوونکي له خولې خبر شوم چې د هغه تلویزیوني شبکې مالک د همدغه خبریال په حضور کې د امریکا له سفیر سره په یوه مجلس کې توافق کړی و چې ایراني اصطلاحات او لهجې په خپلو خپرونو کې وکاروي. (نوموړی خبریال د دې کړښو د لیکلو پر مهال په یوې نړیوالې رسنۍ کې ویاند دی.)

امریکایانو زموږ د تاریخي آبداتو د ساتنې او بیارغاونې له ریاست سره هم مرسته ونه کړه او زموږ له بیا بیا غوښتنو سره یې مثبت ځواب را نکړ. برخلاف د آغاخان فرهنګي بنسټ ته یې د ډېرو پیسو په ورکولو دې ته زمینه برابره کړه چې زموږ کدرونه هغه غیردولتي بنسټ ته لاړ شي.

ما د یو شمېر تاریخي آبداتو د ساري په توګه د هرات د ارګ یا اختیارالدین کلا د بیارغاونې چارې له مجبورۍ د آغاخان فرهنګي بنسټ ته وسپارلې ځکه چې امریکایانو د هغو پیسې دغه بنسټ ته ورکړې وې. په زړه پورې دا ده چې زیاتره انجنیران چې د دغه ډول پروژو چارې ور سپارل کېدې پخوا یې د وزارت په اړوند ریاست کې کار کاوه. په همدې دلیل مجبور شوم چې د ښېر دروازې د دېوال وضعیت او د کابل د بالاحصار د سروې کار د آغاخان بنسټ ته وسپارم تر څو وروسته وتوانېږم چې د هغو د بیارغاونې پیسې له امریکایانو ترلاسه کړای شم.

لنډه دا چې امریکایان په منظم ډول د دولت د کمزوري کولو په هڅو کې وو. د رسنیو په برخه کې هغوی غوښتل په لومړي ګام کې د حکومت خوله ور بنده کړي، تر څو وروسته دوی پخپله نورې خولې پرانیزي. او له هغو نه داسې خبرې را وباسي چې دوی یې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نورو فرهنګي ځانګو کې دوی هڅې کولې چې د دولت په زور د دولتي سیاستونو مخه ونیسي. برعکس دوی غوښتل چې هر څه پروژه‌یي او په بهرنیو پیسو او ماهرینو پورې غوټه شي. موږ مجبور وو هغه لرغونې آبدې چې بهرنیانو یې د بیارغاونې لېوالتیا نه درلوده پخپله ورغوو. البته په لږو پیسو، لومړنیو وسایلو او ډېر زحمت.

تر هغه وروسته چې په طرابلس کې د ایسسکو د کلتور وزیرانو په غونډه کې پر دې هوکړې وتوانېدم چې پر ۲۰۱۳ کال کې غزنی د اسلامي کلتور د مرکز په توګه اعلان شي. تصمیم مو ونیو د هغې ورځې لپاره د تیاریو په لړ کې د دغه ولایت تاریخي ودانۍ بیاورغوو.

د مالي او تخنیکي مرستو ترلاسه کولو لپاره مې د عربي او لوېدیزو هېوادونو له زیات شمېر استازیو سره غونډې وکړې، بالاخره مو په سرینا هوټل کې یو کنفرانس جوړ کړ او دوی ته مو بلنه ورکړه چې ګډون پکې وکړي. په دې غونډه کې موږ خپلې پروژې تشریح کړې او له هغوی نه مو مرستې وغوښتې. متأسفانه هغوی مرستې ونه کړې او موږ مجبور شوو چې د غزني د تاریخي ودانیو د رغاونې چارې پخپله پیل کړو.

د یادونې وړ ده چې پر ۲۰۰۹ کال د «ایسسکو» د وزیرانو بله غونډه د آذربایجان د باکو په ښار کې جوړه شوه. ما د خپلو بوختیاو او انتخاباتو د جنجالونو په سبب غوره وګڼله چې پخپله لاړ نه شم او یو پلاوی مې واستاوه. افغان پلاوي یو ځل بیا وکولای شول چې د آسیایي ښارونو له ډلې څخه کابل د ۲۰۲۴ ز کال لپاره د اسلامي کلتور د مرکز په توګه اعلان کړي.

همدارنګه مو د ملي رادیو-تلویزیون له بودجې نه د دوو سریالونو کار پیل کړو. له هغو څخه یو کومېډي «عشق پیري» سریال و چې ډېر مینه وال یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وموندل. زموږ هنرمندانو په شپه او ورځ کار او په ډېرو لږو امکاناتو دغه سریالونه بشپړ کړل.

ډېره لېوالتیا مې درلوده چې د کاشي کارۍ او کاشي جوړولو هنر په هرات او بلخ کې بیا را ژوندی کړم چې اوس د ختمېدو په حال کې و. د هرات د جامع جومات د ساتنې او څارنې تر څنګ مې چې د ولسمشر د پاملرنې له امله مې د حساب وړ بودجه ورته پیدا کړې وه د دې هنر د بیا غوړېدا کار پیل کړ. همدارنګه مې په مزارشریف کې په دې اړه د ځوانانو د معینیت د یوې پروژې په چوکاټ کې د ناروې هېواد ژمنې ترلاسه کړې. خو متأسفانه له ما نه وروسته دغه پروژې تعقیب نه شوې. په ځانګړې توګه د ځوانانو معینیت چې نوې ساه اخیستې وه او د یوې نمونه ادارې په څېر یې کار کاوه، په مشرتابه کې یې له بدلون وروسته په یوه فاسده او خنثی اداره بدله شوه.

هرات تر نورو ولایتونو زیات تر فرهنګي یرغل لاندې راغلی و. ډېرینې تختې چې قلمکاري شوې وې او زیاتره یې د تیموریانو د دورې وې په مرموز او منظم ډول یا تخریب او یا غلا کېدلې. یو ځل یو شمېر تاریخي آثار د دغه ولایت له موزیم نه غلا شول، امنیتي ځواکونو وکولای شول چې غل ونیسي. خو نوموړی څو ورځې وروسته په مرموز ډول په زندان کې ووژل شو. د «سلطاني موزیم» په نامه چې تر ما مخکې په ملي ګالري کې په غیر معیاري او غیرمسلکي ډول جوړ شوی و، زما د وزارت پر مهال یې وغوښتل چې یوه څانګه یې د هرات په موزیم کې پرانیزي. ما ورسره مخالفت وکړ ځکه چې له پیله د دې موزیم کار زما په اند شفاف او مسلکي نه و. «سید حسین انوري» د هرات والي په دې خاصه برخه کې په مرکو کې آن زما پر خلاف له سپکاوي ډکو کلمو تر کارولو پورې ودرېد. نوموړی د هرات د تلویزیون د آمر تر برطرفۍ پورې ورسېد خو ګټه یې ورته ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي سلطاني چې په انگلستان کې ژوند کاوه یو وخت یې وغوښتل چې ما تطمیع کړي او یوه وړوکې د سرو زرو سکه یې چې تاریخي ارزښت یې درلود ما ته ډالۍ کړه. ما هغه ډالۍ د ده په مخکې ملي موزیم ته وسپارله.
افغان پلاوي د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سلاکار ښاغلي منلي په مشرۍ د ایکو سازمان د امنا فرهنگي پلاوي په درېیمه غونډه کې وړاندیز وکړ چې افغانستان چمتو دی چې د امنا پلاوي څلورمې غونډې کوربه شي. ما پرېکړه وکړه چې د امنا پلاوي غونډه د نوروز د جشن پر مهال چې وزارت غوښتل په نړیواله کچه یې ونمانځي دایره شي. په دې ډول د ایکو د فرهنگي موسسې څلورمه غونډه د ۱۳۸۸ د وري په لومړۍ چې د ۲۰۰۹ کال د مارچ له ۲۱مې سره برابره وه په مزار شریف کې د نوروز د نمانځنې پر مهال ترسره شوه.
د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي سپنتا پخپله تصمیم نیولی و چې د نوروز جشن په هرات ښار کې د ایکو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو په گډون ونمانځي. ما په درې دلایلو له دې پرېکړو سره مخالفت وکړ: لومړۍ دا چې نوی کال او د نوروز نمانځل د اطلاعاتو او کلتور وزارت له دندو څخه وو چې تل یې د هغو مسوولیت په غاړه و نه د بهرنیو چارو وزارت. دوهم دا چې د ۲۰۰۷ کال په وروستیو کې د ښاغلي سپنتا په وړاندیز د ایکو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه په هرات کې جوړه شوې وه چې په هغو کې د ایران او تاجکستان د بهرنیو چارو وزیرانو هم گډون کړی و. زما موخه دا وه چې بهرنیان وپوهېږي چې افغانستان له هرات پرته نور ښکلي ښارونه هم لري او کوم ولایت ته د کوم وزیر منسوبېدل باید د نورو ولایتونو په حق کې د جفا سبب نشي. درېیم دا چې بلخ ولایت او مزارشریف ښار له پخوا وختونو څخه په دودیز ډول د نوي کال، نوروز مېلې او گل سرخ مېلې کوربه توب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. په همدې دلیل مې دغه خبره له ولسمشر سره مطرح کړه او د هغه موافقه مې ترلاسه کړه چې د نوروز د نمانځنې نړیوال مراسم باید د هرات پر ځای په مزارشریف کې ترسره شي. وروسته مې د بلخ له والي «عطامحمد نور» سره تیلفوني خبرې وکړې ترې و مې غوښتل چې د نوروز د شاندارو مراسمو لپاره تیاری ونیسي. نوموړي د منني په ترڅ کې ژمنه وکړه چې په دې تړاو به ګړندۍ او جدي هڅې وکړي. همداسې وشول، د بلخ والي په لږ موده کې په سړه هوا کې آن د مېلمنو د هستوګنې او ځينو غونډو لپاره نوې ودانۍ جوړه کړه او هغه يې د دې وړ کړه چې کار ترې واخیستل شي .
د نورو د جشن د تیاریو لپاره مې دوه ځله پخپله هلته سفر وکړ. دوهم سفر مې بلخ ته داسې مهال و چې د زیاتو واورو د اورېدو او توپان په سبب له سالنګ نه د موټرو تګ راتګ ناشونی شوی و .
بالاخره د ۱۳۸۸ لمریز نوروز جشن را ورسېد، د تشریفاتو د قطعې له معاینې او د جنډې د اوچتولو له مراسمو وروسته د آمنا پلاوي غونډه جوړه شوه. ما له کابل نه د هنرمندانو بېلابېل ګروپونه مزارشریف ته استولي وو چې د جشن د درې ورځو په بهیر کې يې په بېلابېلو برخو کې خپل هنر او کمال وښود. همدرانګه مو د انځورګرۍ، خطاطۍ او کتابونو نندارتون هم پرانیست. عطامحمد نور پر دې چې ما د نوروز نړیوال جشن د نمانځنې مراسم له هرات نه بلخ ته را بدل کړي وو ممنون و. د رسمي مراسمو د پیلېدو لپاره روضې ته د تګ پر مهال يې خپل موټر ما ته راکړ او وې ویل: «چلوونکی يې زما د کورنۍ غړی دی.» خو ځينو دغه کار بل ډول تعبیر کړ. له دې ډلې څخه «بهاوالدین بها» د سترې محکمې غړی چې زما د پلار له نژدې دوستانو څخه و یوه ورځ يې په ارګ کې وویل: «وزیر صاحب تا له هراتیانو سره څه دښمني درلوده چې د نوروز د جشن مراسم دې له هراته مزارشریف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یووړل؟» خو زما اساسي موخه همدغه وه چې بهرنیان زموږ ټول ښکلي او تاریخي ښارونه وویني او له شتمنیو یې خبر شي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په بلخ کې د مهمو تاریخي ودانیو لکه د نُه ګنبد جومات او ابونصر پارسا مزار د بیارغاونې او ترمیم چارې بشپړې کړې او د مولانا جلال الدین محمد بلخي د پلار خانقا د بیارغاونې پروژه یې چمتو کړه. په همدې موده کې د شولګرې ولسوالۍ په اړونده سیمه کې یوه تاریخي سیمه کشف شوه چې یو لوی دېوال او یو اورتون یې ښودلو او احتمالاً د یما پاچا لومړنی تخت هم په هغو کې و .

د ۲۰۰۸ کال په دوبي کې مې د هېواد د لرغونو اثارو او باختر خزانې د ندارتون د پرانیستنې لپاره چې د واشنګټن په ملي ګالري کې ښودل کېدله د امریکا متحده ایالاتو ته د سفر پرېکړه وکړه .

دغه آثار چې د کورنیو جګړو پر مهال د ملي موزیم د کارکوونکیو په همت په ارګ کې ځای پر ځای شوي وو چې د کورنیو جګړو له ورانوونکیو ګوزارونو نه خوندي پاتې شي د لنډمهالې ادارې په لومړیو ورځو کې له پټ ځایه را وایستل شول. له هماغه لومړۍ ورځې لوېدیزو هېوادونو له هغو سره لېوالتیا وښودله او هیله یې وکړه چې هغه په خپلو موزیمونو کې نندارې ته وړاندې کړي. حکومت په دې تړاو پخوا تر دې چې زه د اطلاعات او کلتور وزیر شم له فرانسې سره توافق کړی و .

سره له دې چې ولسمشر ډېر ټینګار وکړ خو ما په هغو کې ګډون ونکړای شو. تر دې وروسته څو اروپایي هېوادونو د دې خزانې کوربه توب وکړ، متحده ایالاتو پر ۲۰۰۸ کال د واشنګټن په ملي ګالري کې هغه ننداري ته وړاندې کړل. ما باید دغه ندارتون پرانیستی وای، د خپلو همکارانو په مشوره مې پرېکړه وکړه چې د دې ندارتون پر پرانیستې سربېره یو څو نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه هم ترسره کړم او له یو شمېر مهمو کسانو سره وګورم، له خپل دغه تصمیم څخه مې د امریکا بهرنیو چارو وزارت او په واشنګټن کې خپل سفارت ته خبر ورکړ.

تر سفر مخکې خبر شوم چې زموږ د دیپلوماسۍ په اداره کې داسې کسان شته چې امریکا ته زما له سفر سره مخالف دي او هڅه کوي چې له هرې لارې وي د دې سفر مخه ونیسي. زما سفر تر سره شو. ننداړتون په شاندارو مراسمو پرانیستل شو. له هغه فرصت نه په استفادې چې په واشنګټن کې وم و مې غوښتل چې د ملي راډیو ټلویزیون د ریاست او د «بي بي جي» د ادارې ترمنځ چې د امریکا غږ آشنا تلویزیون اداره یې په لاس کې وه د شوي قرارداد پر بیا نظر د دغه ادارې له مسوولینو سره خبرې وکړم.

ښاغلي روشن له نوموړې ادارې سره یو قرارداد لاسلیک کړی و. د هغو پر بنسټ په ملي تلویزیون کې د امریکا غږ آشنا تلویزیون د یو ساعته خپرونو په بدل کې په کال کې ۲۴ زره ډالر ورکول کېدل. زما په اند دغه قرارداد غیرعادلانه و او د افغاني لوري ګټې بشپړې پکې تر پښو لاندې شوې وې.

په اوږدو خبرو کې چې په دې اداره کې مو له چارواکیو سره درلودې د نوموړې ادارې بوډا او تجربه کار کارکوونکي پر موږ را چاپېر وو او د مېلمه پالنې او شیرنیو د وړاندې کولو په ترڅ کې یې کله کله له ګواښونو هم کار اخیست. هغوی ویل چې که د ملي رادیو تلویزیون اداره د قرارداد بیه ډېره لوړه کړي او پر دوی فشار راوړو نو دوی به اړ شي چې د ملي راډیو تلویزیون پر ځای له کوم خصوصي تلویزیوني چینل سره قرارداد وکړي. ما دوی ته وویل چې هېڅ خصوصي تلویزیوني چینل د ملي تلویزیون په کچه د پوښښ او اعتبار خاوند نه دی. پر دې سربېره مې دوی وپوهول چې زما له موافقې پرته له خصوصي تلویزیونونو سره قرارداد ورته ناشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دوی ته د کال یو میلیون ډالرو وړاندیز وکړ. هغوی له مجبورۍ ومانه له چنو وهلو وروسته او په رښتیني مانا د دوی تر زاریو وروسته مې یوازې د یوه کال لپاره په پینځه لکه ډالرو ورسره موافقه وکړه چې ملي تلویزیون ته به یې ورکوي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې مې د کانګرس له غړیو سره ولیدل چې په ډېر صمیمیت یې زما تود هرکلی وکړ. همدارنګه د جنوبي او مرکزي آسیا په چارو کې د بهرنیو چارو وزارت له معین «ریچارد باوچر» سره مې وکتل. د ښاغلي باوچر له خولې مې لومړۍ خبره دا واورېده چې «ښاغلی وزیر ته ولې په تلویزیونونو کې د بهرنیو سریالونو د بندولو هڅې کوې، دا زموږ د اندېښنې سبب ده.» ما د افغانستان په مسایلو کې له داسې چلن څخه جټکه وخوړه. ځکه چې تر دې مخکې مې داسې فکر کاوه چې سطحي درېځونه په کابل کې د امریکایي کارکوونکیو کار دی. خو هلته وپوهېدم چې امریکایان یا نه غواړي چې موږ وپېژني ځکه د هغو اړتیا نهویني او موږ د حساب وړ څوک نه ورته ښکارو او یا دا چې موخه یې زموږ په ټولنه کې د ستونزو جوړول او زموږ د کلتوري شتمنیو کمزوري کول دي. ما په اوږدو خبرو کې د غازي امان الله خان له وخته د غوایي تر کودتا پورې او بالاخره زموږ تر حکومت پورې زموږ د ټولنې حساسیتونه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معین ته تشریح کړل، چې څه ډول زموږ د ولس د کلتور او عقایدو پر خلاف غلطو پرېکړو غمیزې پېښې کړې خو داسې مې احساس کړه چې نوموړي زما خبرې لکه چې لازمه وه درک نه کړې او د سریالونو مسأله زموږ افغانانو تر تاریخ او برخلیک ورته مهمه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې وروسته مې چې ځينې نورې لېدنې درلودې هغه لغوه شوې. يوه شپه زموږ د ولسمشر زنګ راغی را ته وې ويل: نور دې سفر لنډوه او هېواد ته راستون شه!

ما خپل يوه اونۍ نور وخت چې امريکايانو زما د تفريح او سيل لپاره برابر کړی و لغوه کړ او هېواد ته راستون شوم. وروسته په واشنګټن کې زموږ د سفارت يوه جګپوړي کارکوونکي را ته وويل چې د ستونزو په جوړولو او له مخکې څخه زما د يو شمېر ټاکل شويو ملاقاتونو په لغوه کولو کې زموږ سفير رول درلود. زما د يو لړ ليدنو د لغوه کېدو د موضوع په باب سفير ولسمشر ته کيسه کړې وه، زما د سفر د لنډولو پيغام هم د ولسمشر له قوله هغه ما ته ورساوه، خو ښايي زما د سفر د لنډولو پرېکړه وروسته امريکايانو ته د يوه غير دوستانه عمل په توګه ښودل شوې وه، ځکه هغوی له دې پرېکړې څخه خپه وو.

په هغه موده کې چې زه د اطلاعاتو او کلتور وزير وم څو ځله له امريکايانو او يو ځل له کاناډايانو سره چنو وهلو ته مجبور شوم .

د امريکا دولت غوښتل چې په کابل کې د خپل سفارت د پراخولو لپاره د ملي راديو تلويزيون وداني وپېري او له خپل سفارت سره يې ونښلوي. ما له دې کار سره جدي مخالفت وکړ، پر دې سربېره مې د ملي تلويزيون د شا لوري سرک چې امريکايانو غصب کړی و او د خپلو موټرونو پارکينګ يې ترې جوړ کړی و له څو مياشتنيو ناندريو وروسته د دوی له منګولو را ويوست او د وزارت او تلويزيون د موټرو لپاره مې پرانيست. امريکايانو د افغان فلم او د هغو تر څنګ په خالي ځمکه هم سترګې ګنډلې وې، زه د دوی له لوري د هغو د نيولو مانع شوم. د مزارشريف هوټل چې د اطلاعات او کلتور وزارت د هوټلونو د تصدي اړوند و د امريکا حکومت د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قونسلګرۍ لپاره غوره کړ. زه په پيل کې د دې مخالف وم چې ياد هوټل دوی ته په اجاره ورکړو، دې ته په پام چې د هوټل وضعه ډېره خرابه وه، هوټل مېلمانه او مسافرين نه درلودل او اداره يې ډېره کمزورې وه، زه دې ته چمتو شوم چې په لوړه بيه دغه هوټل دوی ته د اوږدې مودې لپاره په اجاره ورکړای شي .

امريکايان له هغه نرخ څخه چې ما يې وړانديز کړی و ناخوښه وو. جالبه داوه چې د سوداګرۍ وزير «وحيدالله شهراني» چې په کابينه کې يې کرسۍ ما ته مخامخ وه، يوه ورځ يې د کابينې د رسمي غونډې تر پيلېدو مخکې په غوسه را ته وويل: «د اطلاعات او کلتور وزير صاحب! ولې د مزارشريف هوټل امريکايانو ته نه ورکوې، هغو سرګردانه او خپه کوې. زه په مزار کې تر هغو غوره ځای لرم. که ته موافقه ونه کړې هغه به مفت ورکړم». ما په ځواب کې ورته وويل چې هغه کار زما مربوط دی او زه به يې په اړه پرېکړه کوم. بالاخره د ولسمشر په منځګړيتوب زما تر وړانديز شوې بيې په ټيټه بيه هوټل پر امريکايانو وپلورل شو او سند يې له امريکايانو سره زموږ د بهرنيو چارو وزارت لاسليک کړ .

په يوه بله مسأله کې کاناډايان د خپل سفارت لپاره د ځمکې په لټه کې وو. د ملي راديو تلويزيون له نابشپړ شويو بلاکونو سره په څنګ کې ځمکې لپاره موږ ته راغلل. هغه بلاکونه چې بشپړ شوي نه وو د کمونيستي نظام د وخت وو. د راديو تلويزيون د پخوانيو کارکوونکيو د معلوماتو له مخې د شوروي اتحاد جمهوريتونو په پام کې وه چې د افغانستان د حکومت په همکارۍ دلته لوی تبليغاتي او خپرنيز مرکز جوړ کړي چې په آنتنونو او سپوږمکيو به سنبال وي او د جنوبي آسيا او منځني ختيځ ټول هېوادونه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښښ لاندې راولي. د کاناډا سفارت هغه مهال په وزیر اکبر خان کې څو کورونه په کرایه نیولي وو او فعالیت یې کاوه .
ما د ملي رادیو تلویزیون د ځمکې له پلورلو انکار وکړ. کله چې د هغه هېواد سفیر له څو څو ځله راتلو وروسته نهیلی شو او زموږ د بهرنیو چارو وزارت هم څه ونکړای شول. دواړه ولسمشر ته ورغلل. ولسمشر زه تر فشار لاندې راوستم او وې ویل: «ته بېکاره پرته ځمکه څه کوې؟ رادیو تلویزیون شته. چندان فعالیت هم نه لري چې ته یې پر ځمکه نښتی یې، کاناډا زموږ دوست هېواد دی، د دې لپاره چې شتون یې په افغانستان کې اوږدمهاله شي او د خپل سفارت لپاره ځمکه پیدا کړي زه حاضر یم چې دغه ځمکه مفته ورکړم.» زه په ستونزمن دریځ کې وم، ځکه ځینو کسانو په تېره د بهرنیو چارو وزارت کسانو زموږ ولسمشر ته ویل چې د اطلاعات او کلتور وزیر زموږ اړیکې له لوېدیزو هېوادونو او د کاناډا له هېواد سره خرابوي. په پای کې مې د ډېرو فشارونو او گواښونو تر زغملو وروسته هم د هغه ځمکې چې دوی غوښته مساحت کم کړ او هم مې یې بیه زیاته کړه. کاناډایانو هغه ساحه غوښته چې نابشپړ بلاکونه پکې ولاړ وو. ما یوازې د ۱۱ جریبه ځمکې له پلورلو سره موافقه وکړه او د یو لک ډالرو پر ځای چې زموږ د بهرنیو چارو وزارت پرې قانع ؤ پر هغوی د یوولس میلیون ډالرو په ورکولو بریالی شوم. هغه هم د دې پر ځای چې د دولت په حساب ورکړای شي باید په یوه ځانگړي حساب چې د رادیو-تلویزیون په نوم به پرانیستل کېدو ادا کېدل. چې له هغو څخه د تلویزیون د خپرونو په پراختیا او ښه والي کې کار اخیستل کېدو. دغه مهال یوه عجیبه پېښه وشوه. له موافقې وروسته پخوا تر دې چې ځمکه کاناډایانو ته وسپارل شي باید د هغو حدود ټاکل شوي وای. زموږ انجنیرانو د کاناډایي انجنیرانو او مهندسینو سره په گډه دغه کار مخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وورې، کاناډايانو خپل وسايل راوړي وو، کار پيل شو، د کار په بهير کې زموږ همکارانو اعتراض وکړ چې هغوی زياتی کړی او زموږ د ځمکې يوه برخه يې غصب کړې او په ازغن تار يې بېله کړې ده .
کاناډايانو په غرور او ملنډو زموږ همکاران په ډېر سپکتوب تورن کړي وو چې گواکې دوی مسلکي پوهه نه لري. ما موضوع جدي ونيوله او د هېواد له اړوندو ادارو په تېره د ښاري پراختيا له وزارت نه مې انجنيران او وسايل راوغوښتل. د دوی د کار په پايله کې معلومه شوه چې کاناډايانو په رښتيا زموږ ځمکه غصب کړې وه. هغوی وشرمېدل او کانکريټي دېوالونه او اغزن تارونه يې شا ته کړل. غصب شوې ساحه به ښايي يو جريب ځمکه وه.

## د رسنيو قانون او په ولسي جرگه کې زما د استيضاح مسأله

ولسي جرگې د ۱۳۸۸ لمريز د وري پر ۲۱مه ياني د ۲۰۰۹ کال په پسرلي کې ور وغوښتم چې د ټوليزو رسنيو د قانون د نه عملي کولو په تړاو پوښتنو ته ځواب ووايم. ځينو وکيلانو لاسليکونه راټول کړي وو او په دې تړاو يې زما د استيضاح غوښتنه کوله. هغوی د بهرنيانو او له بهرنيانو سره د تړليو يو شمېر غيردولتي موسسو له ملاتړه برخمن وو او زه يې د ملي راديو تلويزيون د غيردولتي کېدو په مخه کې خنډ بللم .
په دې لړ کې هغه وکيلان هم له دوی سره ملگري شوي وو چې د بېلابېلو دلايلو او خاصو تړاوونو په دليل يې غوښتل چې زه له وزارت نه لرې کړای شم. د ساري په توگه د هرات يو وکيل چې ديني عالم هم دی زما د سلب صلاحيت کېدو لپاره يې کارت اوچت کړ او هره شېبه به يې له ځايه لږ را پورته شو، خو اونۍ وروسته يې په يوه غونډه کې وليدم وې ويل: «وزير صاحب زموږ په ولسوالۍ کې د تيلفون آنتن سم کار نه کوي مهرباني وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې برخه کې يو څه وکړه.» ما په درناوي ورته وويل: «وکيل صاحب زه د مخابراتو وزير نه يم. د تيلفون آنتنونه د مخابراتو وزارت اړوند دي.» ياني يو شمېر وکيلان چې د رسينو د قانون د عملي کېدو په تړاو زما د سلب صلاحيت کېدو غوښتونکي وو، د اطلاعات او کلتور وزارت د دندو په باب يې هم کافي معلومات نه درلودل .

د مثال په ډول يو بل وکيل مې په يوه سفر کې له شراب څښلو منعه کړی و. نوموړی وکيل د افغانستان د لرغونو آثارو د نندارتون د پرانيستي لپاره له موږ سره هالنډ ته تللی و. په راستنېدو کې د هالنډ هېواد دوبی ته زموږ د لېږد لپاره د دغه هېواد د ملکې ځانګړې الوتکه په واک کې راکړه. کله مې چې دې ته پام شو چې زموږ د پلاوي دوو تنو الکولي مشروبات غوښتل د يوه مسلمان هېواد د پلاوي د رييس په توګه مې خپله دنده وبلله چې هغوی منعه کړم. دا چې له هغو څخه يو د پارلمان غړی و نو لوموړی مې د ولسي جرګې له مرستيال څخه چې هغه هم زموږ د پلاوي غړی و، وغوښتل چې د هغه مخه ونيسي. دا چې هغه زړه نازړه و فرهنګي معين «عمر سلطان» ته مې دنده وسپارله چې د الوتکې خدمې ته ووايي چې د هغو دوو تنو له مخې نه د شرابو ګيلاسونه پورته کړي. چې بيا همداسې وشول.

په کومه ورځ چې زه بايد پارلمان ته ورغلی وای ولسمشر د ګلخانې ماڼۍ ته د سهار د چايو لپاره ور وغوښتم. نوموړي هلته را ته وويل چې ښه پوهېږي چې د استيضاح د تحريک مسأله د بهرنيانو له خوا را پورته شوې ځکه چې هغوی غواړي چې ملي راديو تلويزيون د دولت له لاسه را وباسي .

ما ته يې د پرېکنده او بشپړ ملاتړ ډاډ راکړ. له ارګه پارلمان ته لاړم. غونډه د ولسي جرګې د مرستيال «ميرويس ياسيني» لخوا پيل شوه. «محمد يونس

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني» چې د پارلمان رييس و قصداً نه و راغلی. نوموړی زما له مخالفينو سره ملګری او نږدې و، په همدې دليل يې نه غوښتل چې حضور يې له دوی سره د ملګرتوب په سبب تر شک لاندې راشي. «استاد عبدالرب رسول سياف» چې د سريالونو په اړه، تر دې وړاندې له ما سره مخامخ مجلس کړی او زما له دريغ ځخه يې ملاتړ کړی و هغه هم په دې غونډه کې نه و .

وکيلانو بېلابېلې او ډېرې پوښتنې مطرح کړې. يوه ښځينه وکيله ودرېده او يو کسټ يې نورو ته ور وښود چې ګواکي د ملي تلويزيون يو کارکوونکی د نېشې په حالت کې ښکاري. يو بل وکيل چې زما له پلويانو څخه و جګ شو وې ويل چې داسې ويډيو ورسره شته چې همدغه وکيله په سرينا هوټل کې له يوه برحال وکيل سره د ناروا اړيکو په حالت کې ښيي. د وزارت د ځينو قراردادونو او معاشونو په باب هم پوښتنې وشوې. زياتو مخالفينو زما پر يوه مرکه استناد کاوه او دا اعتراض يې درلود چې ولې مې ويلي وو چې پارلمان د بهرنيانو د فشارونو په سبب د رسنيو قانون تصويب کړی دی. دوی ويل چې زما دغه ځرګندونې خلکو يانې د دوی مؤکلينو ته سپکاوی دی .

د رسنيو تعديل شوی قانون چې وزارت ته زما تر راتلو وړاندې پارلمان ته استول شوی و له تصويب وروسته د توشيح لپاره ولسمشر ته واستول شو، وزارت د هغو په اړه خپل نظر ځرګند کړ او ولسمشر ته يې هغه ټکي چې له اساسي قانون سره په ټکر کې وو، په مفصل ډول وليکل. ولسمشر د سترې محکمې له رايې اخيستلو وروسته هغه بيا رد کړ او له لاسليک څخه يې ډډه وکړه. دغه قانون ډېره موده په پارلمان کې پاتې شوی و. ښاغلي قانوني په يوه عمومي غونډه کې څو نور قوانين د يوې بستې «ټولګې» په بڼه رايو ته وړاندې کړل. د رسنيو قانون يې هم پر هغو ور زيات کړ. په دې ډول د رسنيو قانون چې د ولسمشر له لوري له رد کېدو وروسته بايد ډېر بحث او ارزونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې شوې وای، د نورو قوانینو په ډله کې په اصطلاح په قاچاقي ډول ظاهراً په دوه ثلثه رایو تصویب شو .
د هغو معلوماتو پر بنسټ چې ما د ولسي جرګې له منځه درلودل په نوموړې غونډه کې د وکیلانو دوه ثلثه هغو قوانینو ته مثبته رایه نه وه ورکړې. په همدې دلیل ما اعتراض وکړ او غوښتنه مې وکړه چې د هغه صحنې ویډیو دې ستره محکمې ته وسپارل شي چې وکیلانو سره او شنه کارتونه پورته کړي دي، تر څو معلومه شي چې آیا په رښتیا دوه ثلثه د هغه قانون د تصویب پلویان وو که نه. خو پارلمان زما دې غوښتنې ته هېڅ پام ونه کړ .
ما استیضاحیه غونډه یو ښه فرصت وګاڼه چې هغه ستونزې چې زه ورسره مخامخ وم او د هېواد برخلیک ور پورې تړلی تشریح کړم.
له وکیلانو مې وغوښتل چې زما خبرې په غور ښې واوري. خبرې مې له دې پیل کړې چې اوسمهال معلومات او رسنۍ ډېر زیات ارزښت لري، په همدې سبب استعمار هڅه کوي چې د محکومو ولسونو د محکوم ساتلو لپاره یې دغه وسایل پخپل واک کې وي او له هغو نه د خپلو ناروا موخو ترلاسه کولو لپاره کار واخلي. ما یې د سریالونو مثال راوړ چې دوسیه یې هغه مهال د دوهمې ناحیې په محکمه کې له میاشتو میاشتو راهیسې پرته وه او د لوی څارنوال د وینا پر بنسټ چې ما ته یې د بیا بیا تلیفوني اړیکو په ځواب کې وویل بهرنیانو په هغو کې لاس درلود، هم یې محکمې او هم څارنوالۍ ته ویلي وو چې د دې دوسیې د حل هڅه مه کوئ. ما وکیلانو ته وویل چې «انټرنیوز موسسه» چې ظاهراً یې د خصوصي رسنیو په ځانګړې توګه د راډیوګانو لپاره مرسته کوله څه ډول یې د دوو ورته شکایتونو په باب چې یو یې د کابل د قره باغ ولسوالۍ د خلکو او بل یې د خوست د مرکز و دوه مختلف دریځونه ولرم. په دې برخه کې مې د انټرنیوز د بهرنیو مسوولینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مخکې د قره باغ خلکو ته ویلي وو: «تاسو له بهرنیانو د خیر تمه مه لرئ، د بیان آزادي او دیموکراسي دوی ته یوه وسیله او یوه مفته خبره ده، دوی په دوو ورته مواردو کې له ما نه د دوو بېلابېلو دریځونو غوښتنه کوي». د یادونې وړ ده. چې د انټرنیوز له مسوولینو او د قره باغ له خلکو سره زما د غونډې په جریان کې یوه تن فلمبرداري کوله، وروسته دغه ویډیو طلوع تلویزیون ته وسپارل شوه او هغوی زما د خبرو وړاندې او وروسته برخې ترې لرې کړې یوازې دا یې ترې را وایستله چې ګواکې ما ویلي: «د بیان آزادي هسې مفته کیسه ده.» له هغو نه یې زما پر خلاف یوه پروپاګندې غوغا جوړه کړه. ما د ولس استازیو ته وویل چې په هماغو ورځو کې امریکایانو یوه تلویزیوني چینل ته دوه میلیون ډالر ورکړي وو، همدې شبکې ته یې ژمنه کړې وه چې که دغه جنجالي سریالونه په پښتو وژباړي او د ډېورنډ په اوږدو کې په پرتو ولایتونو کې یې خپاره کړي لس میلیون ډالره نور به هم ورکړي. ما له وکیلانو پوښتنه وکړه چې آیا دا پر اور د تېلو پاشل نه دي؟ همدارنګه مې د بهرنیانو او د دوی تر ملاتړ لاندې شبکو د مالي سرچینو په تړاو د هغوی د ځواب نه ویلو خبره هم وکیلانو ته وکړه. زما د هیلې پر خلاف وکیلان په پېغورونو او یو پر بل په چیغو وهلو بوخت وو، نه مخالفو او نه زما موافقو وکیلانو زما خبرو ته غوږ ونیو چې له محتوا یې خبر شي. مخالفین په دې هڅو کې وو چې څه ډول ما له وزارته لرې کړي او موافقینو غوښتل چې ما پر خپل مقام وساتي. خو ما ته تر ټولو دا مهمه وه چې خلک او استازي یې د بیان د آزادۍ له شعار څخه د بهرنیانو په بد نیت خبر شي او وپوهېږي چې څه ډول استعمار رسنۍ د ولسونو د غلام کولو او غافل ساتلو لپاره د نوې وسیلې په توګه کاروي. هغه څه چې علي شریعتي یې «استحمار» بولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې څو ساعته غونډې په پای کې د مجلس رييس له وکيلانو وغوښتل چې په دې اړه چې زما ځوابونه د دوی د قناعت وړ وو که نه او دا چې زما د سلب صلاحيت کېدو لپاره رايې واچول شي که نه خپل سره او شنه کارتونه اوچت کړي .

يو شمېر وکيلان د اعتراض په دود زما په پلوی له تالاره ووتل. کارتونه اوچت شول او پرېکړه پر دې شوه چې راتلونکې اونۍ به پر دې رايه ورکوي چې زه خپل کار ته دوام ورکړم که نه .

د امريکا سفارت چې ما ور ته په اشارې د استعمار کلمه کارولې وه او دا يو بېساري کار و ډېر ناراضه و. د هغوی شکايت تر ارگه ورسېد خو ولسمشر پام ورته ونه کړ .

راتلونکې اونۍ چې رايې واچول شوې زه د موافقو رايو په اکثريت هماغسې د اطلاعات او کلتور وزير په دنده پاتې شوم.

## د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ انتخابات

د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې حامد کرزی د يو بل ځل لپاره هم نوماند و. دا ځل يې مهم سيال ډاکتر عبدالله و چې له يوې مودې راهيسې يې د اپوزيسيون د رهبرۍ اکتېونه کول. د نوماندانو لېست اوږد و. داسې کسانو هم د ولسمشرۍ د مقام لپاره ځانونه نوماند کړي وو چې خلکو نه پېژندل. يو شمېر يې په وروستيو ورځو کې د حامد کرزي په گټه تېر شول، خو له بېلابېلو لارو يې هڅه کوله چې له ده سره د څه واخله څه راکړه پر بنسټ معامله وکړي.

له هغو ډلې څخه يو «سيد جلال کريم» و چې په نابغه سيد جلال مشهور دی، مرستيال يې له ما سره د ليدو هيله وکړه. زموږ ليدل د استاد قاضي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځګړیتوب په انټرکانټیننټال هوټل کې وشول. د دې نوماند غوښتنې مې حامد کرزي ته ورسولې خو هغه چندان علاقه ورسره و نه ښوده.
په رای‌پاڼو کې د نوماندانو تصویرونه د هغو شمېرو په ترتیب چې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له لوري ورکړای شوې وې چاپ شوي وو. ظاهراً د دوو قره قلي لرونکیو نوماندانو تصویرونه د حامد کرزي تر څنګ راغلي وو، ځکه چې د دوی په اند د شمېرو په حساب دلته راغلي وو. د انتخاباتو وروستي بهیر وښودله چې دا هر څه تصادفي نه وو، موخه یې د هغو رایه ورکوونکیو دوکه کول ښکارېدل چې غوښتل یې حامد کرزي ته رایه ورکړي، خو هغوی له سواده بې برخې وو یوازې د تصویر په لیدو یې مقابل لوری نښه کاوه.
څرنګه چې زه د اطلاعاتو او کلتور وزیر وم له انتخاباتي مسایلو سره مې کمپاینې لېوالتیا نه درلوده. خو د خوښې نوماند مې حامد کرزی و او همغه ته مې رایه ورکړه. ملي تلویزیون چې زما تر اداره لاندې و، نوماندانو ته یې منظم پروګرامونه چمتو کړي وو چې ټولو ته د مساوي فرصت له مخې هم دوی خپل پروګرامونه ولس ته تشریح کړي او هم د یوه بل پروګرام له لارې پوښتنو ته ځوابونه ووایي.
همدارنګه ملي تلویزیون د آزادۍ راډیو په همکارۍ د نوماندانو ترمنځ یوه مناظره جوړه کړه چې په څرنګوالي یې بېسارې وه. په دې مناظره کې چې د ملي راډیو-ټلویزیون په تالار کې جوړه شوه د ولسمشرۍ درې تنو نوماندانو، ډاکتر اشرف غني، ډاکتر رمضان بشردوست او حامد کرزي ګډون وکړ. ډاکتر عبدالله په هغو کې له ګډون ډډه وکړه. ما د دې لپاره چې د وزارت او ملي راډیو- ټلویزیون بې طرفي تر شک لاندې رانشي آن د مناظرې په تالار کې له کېناستلو ډډه وکړه او په یوه ځانګه کې مې د ژوندۍ خپرونې له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مناظرې جریان ولید. پر دې سربېره «کای آیده» د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي او د یوناما د هغه مهال مشر په خپل کتاب «په افغانستان کې د واک پر سر شخړه» کې ولیکل چې ګواکي ما ملي راډیو- ټلویزیون د حامد کرزي د کمپاین په ګټه کاراوه. دا په داسې حال کې وه چې د حامد کرزي یو شمېر شاوخوا کسانو په ځانګړې توګه ورور یې «محمود کرزي» هغه ته منظم شکایت کاوه چې زه د ملي راډیو-ټلویزیون څخه د ډاکتر عبدالله په ګټه کار اخلم. یوه ورځ حامد کرزي د همدې ډلې د خبرو په نقل قول را نه وغوښتل چې بې طرفانه کار وکړم. ما دغه تورونه رد کړل او و مې ویل چې هېڅکله به هم له دولتي وسایلو څخه په استفادې د کوم نوماند په ګټه کار ونه کړم.

د انتخاباتو پروسه چې اوږده شوه ما ورځ تر بلې زیات له حامد کرزي څخه ملاتړ وکړ. خو دغه ملاتړ د خصوصي او غیردولتي رسنیو تر بریده و، چې په هغو کې ما او دوستانو مې د امریکا له تنې د فریب او دوکې نه ډکې دروغجنې ولسواکۍ جامې وایستلې او ربښتینې څېره مو یې رسوا کړه. موږ په دې کې په بریا کار وکړ.

په دې اخ و ډب کې یوه ورځ «نېل پینټو» د انتخاباتو کمېسیون د رسنیو د برخې مسوول چې د ملګرو ملتونو لخوا ګومارل شوی و په ملي راډیو- ټلویزیون کې زما د کار دفتر ته راغی او په آمرانه لهجه یې وغوښتل چې ما ته دا را وښیي چې څه ډول عمل وکړم. ما هغه وپوهاوه چې له ما سره په داسې لهجه د خبرو اجازه نه لرې او دا چې موږ تر بهرنیانو ښه پوهېږو چې خپل کارونه څه ډول پر مخ بوځو.

انتخابات د ۲۰۰۹ کال د اګست پر ۲۰مه د ۱۳۸۸ کال د اسد، پر نهمه ترسره شول. سبا ته یې ولسمشر له غرمې وروسته د خپل کار دفتر ته ور وغوښتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ډېر په غوسه و او کیسه یې وکړه چې په همدې سهار د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د ولسمشر اوباما خاص استازی «ریچارد هالبروک» د هغه هېواد له سفیر «کارل ایکنبیري» سره یو ځای د ده د کار دفتر ته ورغلي او ورته ویلي یې وو چې انتخابات به دوهم پړاو ته لاړ شي. د حامد کرزي د غوسې سبب دا و چې امریکایان څه ډول د رایو تر شمېرلو مخکې پر دې وپوهېدل چې انتخابات دوهم پړاو ته درومي؟ نوموړي په دې خبرو کې د واشنګټن له مخکې څخه طرحه شوې توطیه لیدله. «باب ووډ وارد» د «اوباما جګړې» کتاب لیکوال په دې خاصه برخه کې لیکلي دي چې ګواکې لومړی ولسمشر حامد کرزي ځانګړي استازي هالبروک او سفیر ایکنبیري ته د خپلې بریا په باب ویلي وو، وروسته بیا هغوی ویلي وو: «ښاغلی ولسمشره تر اوسه د رایو شمېرلو پایله معلومه نه ده، ښایي انتخابات دوهم پړاو ته لاړ شي.»

زه په هغه غونډه کې نه وم خو وروستیو جریاناتو وښودله چې امریکایان په رښتیا د انتخاباتو په مهندسۍ کې ښکېل وو او د همدې لپاره د دوی ځانګړی استازی ریچارد هالبروک د انتخاباتو په بهیر کې د معمول خلاف څو اونۍ په کابل کې پاتې شو. کای ایده هم په خپل کتاب کې له هالبروک سره د خپلو ناندریو یادونه کړې چې د ده په هستوګنځي کې ورسره شوې وې. هلته د یوناما مشر د امریکا ځانګړي استازي ته ویلي چې دا څنګه کېدای شي چې د رایو له شمېرلو مخکې له کرزي نه وغوښتل شي چې دوهم پړاو ته لاړ شي.

«رابرت ګېټس» د امریکا د هغه مهال د دفاع وزیر هم د «ماموریت» (Duty)په نامه په خپل کتاب کې لیکلي: «هالبروک د حامد کرزي د ماتولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره کار کاوه.» هغه په همدې کتاب کې زیاتوي چې ایکنبیري او هالبروک د نورو نوماندانو سره مرسته کوله.

د انتخاباتو مسأله وروسته ډېره جنجالي شوه. ډېرې پېښې پکې رامنځته شوې او د امریکا د سنا د بهرنیو اړیکو د رییس «سناتور جان کیري» ښه ورته را وغځېده. کای ایده په خپل کتاب کې د خپل امریکایي مرستیال «پیتر ګالبریت» له برالا لاسوهنو یادونه کوي او هغه له هالبروک سره تړلی بولي. نوموړی لیکي: «ګالبریت» د جون په میاشت کې یانې له ټاکل کېدو دوې نیمې میاشتې وروسته کابل ته راغی. د دې لپاره چې ښه کاري چاپېریال مې ورته برابر کړی وي او تر هغو چې د هغه د هستوګنې لپاره مناسب ځای پیدا کړم، پرېکړه مې وکړه چې له ما سره په اووم لمبر ماڼۍ کې و اوسي. خو ډېر زر مې پام شو او د هالبروک اوږده لاسونه مې په خپله ماڼۍ کې ولیدل».

د هالبروک د امریکایي ټیم ترڅنګ د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون رییس کاناډایي «ګرنت کپن» د اروپایي اتحادیې د څارونکیو رییس فرانسوي جنرال «فلپ موریان» هم خپلې هڅې د انتخاباتو د دوهم پړاو ته لېږدولو او بې نظمیو په زیاتولو متمرکزې کړې وې.

ډاکتر عبدالله چې د جمعیت اسلامي ملاتړ یې تر شا و د ۲۰۱۴ کال په څېر یې د درغلیو غږ اوچت کړ او د بهرنیانو لپاره یې د لاسوهنې زمینه برابره کړه. د هالبروك ګروپ له داسې کسانو جوړ و چې نږدې ټولو یې په بالکان کې د کار تجربه درلوده او د پخوانۍ یوګوسلاویا په ټوټه کولو کې یې په یو ډول رول لوبولی و. فرانسوي جنرال د هغه ځای مسلمانانو د خپلو عامو وژنو پړ باله. داسې ښکارېدله چې هغوی د پخوانۍ یوګوسلاویا سناریو د افغانستان لپاره طرحه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۴ کال پر خلاف دا ځل انتخابات ډېر جنجالي شول. امریکایانو او ډاکټر عبدالله د درغلیو غږ اوچت کړ. د پیټرګالبریت د لاسوهنو رسوایۍ تر دې بریده ورسېده چې کای ایده د ده د ګوښه کولو غوښتونکی شو. تر هغه وروسته د امریکایي تبلیغاتو تېغ د یوناما د رییس په لور هم شو.
د انتخاباتو د لانجو په اوج کې او د دې لانجو له دوام سره چې د پایلې نه معلومېدل ورسره وو، یوه ورځ د ملي راډیو-ټلویزیون نه خبر راکړل شو چې د مشرانو جرګې له لوري یو مکتوب چې ګواکي د سنا د مجلس مصوبه وه. د تلویزیون د اطلاعاتو اداري ته لېږل شوی و او پخپله د سنا رییس «حضرت صبغت الله مجددي» هدایت ورکړی چې د شپې د اتو بجو په خبرونو کې خپور شي. ما ته یې وویل چې په دې سند کې مهمې موضوعګانې لیکل شوې دي او دا ایجابوي چې زه یې وګورم او د خپرېدو په باب یې پرېکړه وکړم. سند یې را ته راوړ. د لیکنې منځپانګه داسې وه: څرنګه چې د انتخاباتو پایله معلومه نه شوه، هېواد په سردرګم حالت کې دی، په داسې حال کې چې د حامد کرزي د ولسمشرۍ دوره پایته رسېدلې، نو د اساسي قانون له مخې باید د چارو واګې د سنا رییس په لاس کې واخلي. دغه عمل په یو ډول کودتا او د هېواد د بې ثباته کولو هڅه وه، نو هدایت مې ورکړ چې دغه لیکنه خپره نه شي. څو ورځې وړاندې یو شمېر وزیرانو په همدې رابطه پټه غونډه کړې وه چې کوربه یې د عامې روغتیا وزیر ښاغلی فاطمي و. دغه پېښې دا هم ښودله چې ولې بهرنیانو د ملي رادیو تلویزیون له برخلیك سره تر هغه بریده لېوالتیا درلوده.
د ۲۰۰۹ کال په انتخاباتو کې ملي رادیو-تلویزیون د انتخاباتو او د هېواد د نورو حیاتي مسایلو په باب د یوازینۍ باوري مرجع حیثیت درلود. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کې ملي تلویزیون دومره کمزوری شوی و چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایانو له لوري د ملاتړ شویو تلویزیوني چینلونو په منځ کې یې غږ نه اورېدل کېدو او اعتبار یې ډېر کم شوی و. پر ۲۰۱۴ کال ټولې مناظرې او انتخاباتي بحثونه د خصوصي شبکو له لوري چمتو کېدل او امریکایانو چې څرنګه غوښتل عمومي افکارو ته یې هماغسې بڼه ورکوله.

ولسمشر باوري و چې انتخابات یې ګټلي دي. د انتخاباتو کمېسیون رییس «ډاکټر عزیزالله لودین» او د هغه د دارلانشا رییس هم په همدې باور وو. په دې دوره کې چې له ترینګلتیا ډکه وه، ولسمشر په منظم ډول خپل دفتر ته د یو په یو لیدنو لپاره ور بللم او چې څه تېرېدل له جزئیاتو یې خبرولم. دغه لیدنو په حکومت کې زما له کاري ساحې سره تړاو نه درلود، بلکې له ده سره د همنظره کس په توګه یې لازمه بلله چې یو له بل سره نظرونه او سلاوې شریکې کړو. دې اړیکې له ما او زما له هغو دوستانو سره چې یو شمېر خصوصي رسنۍ یې اداره کولې مرسته کوله چې روښانه دریځ ولرو. په همدې رسنیو کې موږ د امریکایانو لاسوهنې او توطیې ډېرې برخه افشا کړې. هغه مهال دغه ډول دریځ سابقه نه درلوده. ځکه چې تر دې مهاله ډېری افغانانو په خپل هېواد کې د امریکا حضور او کړنو ته د شک په نظر نه کتل. له حکومت نه د باندې زما رسنیزو همکارانو بهرني توطیه جوړونکي له پښنو وغورځول. د انتخاباتي هنګامو له پایته رسېدو وروسته یوه ورځ ولسمشر د هغوی دغه لاسته راوړنې ډېرې وستایلې.

معترض نوماند ډاکټر عبدالله د اکتوبر میاشتې په وروستیو کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د انتخاباتو پر پروسه او د انتخاباتو پر کمېسیون بې باوري وښوده او خپله پرېکړه یې اعلان کړه چې دوهم پړاو ته نه درومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوهم پړاو څخه د ډاکټر عبدالله له منصرف کېدو څخه مخکې او هم وروسته نړیوالې ټولنې د امریکا متحده ایالاتو په لمسون هڅه کوله چې حامد کرزی پر دې قانع کړي چې له معترض نوماند سره ګډ حکومت جوړ کړي. حامد کرزی پر دې پوره باوري و چې په دوهم پړاو کې به د ده بریا تر لومړي پړاو هم روښانه وي، بل لوري ته هغه له خپل انتخاباتي سیال سره د شریک حکومت جوړول د یوه کمزوري او نامشروع حکومت هڅه ګڼله چې له طالبانو وروسته به د دولت جوړونې پروسې ته مرګونی ګوزار ورکړي. امریکایانو له د باندې او دننه څخه په دې برخه کې پر ولسمشر کرزي ډېر فشارونه راوړل، نوموړي ویل چې ده ته د درناوي وړ کسانو لکه الاخضر ابراهیمي بیا بیا ورته زنګونه وهل او ترې یې وغوښتل چې له ډاکټر عبدالله سره د شریک حکومت طرحه ومني، هغوی د ده د دې استدلال په ځواب کې چې ګواکې دغسې حکومت د افغانستان د اساسي قانون پر خلاف دی، ورته ویلي وو چې افغانستان یو بې وزله او غریب هېواد دی او دې ته اړتیا نشته چې دومره په خپل اساسي قانون پورې ونښلي. په دې منځ کې یوازې د سعودي عربستان پاچا ملک عبدالله، حامد کرزی د «دوه سره حکومت» له منلو څخه منعه کړی و.

امریکایانو غوښتل چې د «اجرائیه ریاست» په نامه نوی پست جوړ شي، د مشرۍ لپاره یې له دې درې تنو څخه وړاندیز کاوه چې یو تن یې راشي: ډاکټر زلمی خلیلزاد، ډاکټر اشرف غني احمدزی او ډاکټر عبدالله. د وخت په تېرېدو د هغوی یوازینی نوماند دې مقام ته ډاکټر عبدالله پاتې شو. حامد کرزي په پوره جرئت له دې طرحې سره مخالفت وکړ او د هغو پر خلاف ودرېد. تر دې وړاندې هم نوموړي د یوناما د رییس په توګه له ډېرو واکونو سره د «پلډي اشډاون انګرېزي» له راتلو سره مخالفت کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د ادارې کمزوري کول د ځانګړو موخو لپاره وو. دغه پروګرام بیا په ۲۰۱۴ کې عملي شو چې بدې پایلې مو یې پخپلو سترګو ولیدې. افغانستان ته د امریکایانو له راتګه څه موده وروسته هغوی د سیاسي ثبات، د افغانستان د ولسواکۍ او ځواکمنې ادارې پر تخریبوونکیو بدل شول. د دوی سیمه ییزو موخو دا ایجابوله چې افغانستان یو پر خپل کورني وضعیت مسلط او ځواکمن هېواد نه وي. زما او د ولسمشر تحلیل همدغه و. متأسفانه راتلونکیو پېښو پر هغو د اثبات مهر ولګاوه.

ډاکتر عبدالله د انتخاباتو له دوهم پړاو څخه په دې خاطر انکار وکړ چې په دوهم پړاو کې د حامد کرزي له روښانه بریا سره یو ځواکمن او بشپړ مشروع حکومت جوړېدو، خو امریکایانو غوښتل چې په هره بیه وي د هغو مخه ونیسي.

د درغلیو له دومره غوغاو وروسته د دوهم پړاو انتخابات نه ترسره کېدل، د دې سبب شول چې حامد کرزی ولسمشر پاتې شي، خو شکونه او اعتراضونه به یې د مشروعیت په باب همداسې پاتې وي. خو د نوموړي د حکومتولۍ طریقې او د امریکا د سیاستونو پر خلاف دریځونو نه یوازې دا چې د حکومت د مشروعیت په باب پوښتنې پرې نښودې بلکې نوموړی یې پر یوه ملي ثابت قدمه شخصیت بدل کړ.

د حامد کرزي د دوهمې دورې د ولسمشرۍ د اعلان بڼه هم د بهرنیانو لخوا داسې طراحي شوې وه چې د دې سبب کېدو چې نوموړی د بهرنیانو لاسپوڅی وپېژندل شي چې ګواکې دغه مقام د دوی د منځګړیتوب له برکته ده لاسته راوړ. په دې کې چې حامد کرزی دوهم پړاو ټاکنو ته لاړ شي د سفیرانو په منځ کې ودرېږي او د خپلې ولسمشرۍ اعلان وکړي زه ورسره مخالف وم. داسې پېښې چې زه ښایي ترې خبر نه وم نوموړی دې ته اړ کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دا کار وکړي. پروګرام د ارګ د سنګي ماڼۍ په لوی تالار کې نيول شوی و. پر جان کيري سربېره د امريکا متحده ايالاتو، بريتانيا او فرانسې سفيران د کرزي تر څنګ د کامرو او د رسنيو د استازيو په وړاندې ودرېدل او ويناوې يې وکړې. دغه پروګرام لنډ و. ولسمشر د ارګ پر داخلي همکارانو سربېره د ګوتو په شمېر کسان او زه هم په دې کې ګډون ته ور بللي وو. نوموړي تر دې مراسمو مخکې چې آيا په داسې غونډه کې ګډون وکړي که نه زما نظر وغوښت. ما منفي نظر ورکړ. دغه مهال ښاغلی داودزی د دفتر رييس يې اطاق ته رانږوت او ټينګار يې وکړ چې ولسمشر دې په دې پروګرام کې ګډون وکړي چې بيا هماغسې وشول.

په دې ډول حامد کرزی د دوهم ځل لپاره ولسمشر شو. خو لکه چې هغه پخپله هم څو ځله وويل چې هم دی او هم انتخابات «ځب ځب او ټپي» شول. د لوړې مراسم د بهرنيو پلاويو او د بهرنيو هېوادونو د جګپوړيو مقامونو په ګډون د سلامخانې په ماڼۍ کې تر سره شول.

دوهم مرستيال استاد خليلي پر ځای پاتې و. خو دا ځل ولسمشر د احمد ضيا مسعود پر ځای خپل پخوانی مرستيال «مارشال محمد قسيم فهيم» خپل لومړی مرستيال غوره کړی و. د لوړې له مراسمو وروسته پر کابينه کار پيل شو. په همدې بهير کې مې يوه شپه ماسخوتن د ولسمشر سکرتريت ته زنګ وواهه او د سمدستي ملاقات غوښتنه مې وکړه. په څو دقيقو کې په ملي راډيو-ټلويزيون کې له خپل دفتره ارګ ته ورسېدم. په يوازې ملاقات کې مې چې د ګلخانې په ماڼۍ کې د ولسمشر د کار په دفتر کې و له هغه وغوښتل چې بيا مې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته و نه نوموي. دليل يې وپوښت. ورته و مې ويل نه غواړم چې بيا د پارلمان سره په مخالفت کې ودرېږم او هغه څه چې په استيضاحيه غونډه کې مې وويل او چا غوږ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



و نه نيو، بيا يې تکرار کړم، ما په هغه غونډه کې ډېر مهم او حياتي مسايل د کلتور او خپرونو په اړه وکيلانو ته وويل خو دوی نه غوښتل چې پام ورته وکړي. دوهم دليل مې پخپله پر ده د فشار کمول ورته وويل. ولسمشر له ما سره د مخالفو بهرنيانو او کورنيو لوريو څخه تر فشار لاندې و، خو څرنګه چې موږ همفکره وو او نوموړي زما پر خلاف په کمپاين کې د بهرنيانو لاس ليدو په قاطعيت يې را نه دفاع کوله.

ولسمشر ما ته وويل: «ته به زما په راتلونکې کابينه کې هم زما د اطلاعات او کلتور وزير وې او ما پر دې له خپلو مرستيالانو سره هم پرېکړه کړې ده.»

خو ما پر خپل دريځ ټينګار وکړ، سبا ته مو د نوموړي په دفتر کې بيا پر دې بحث وکړ، ولسمشر ما ته نور وزارتونه لکه حج او اوقاف او پوهنې وزارتونو وړانديز وکړ. زما ځواب دا و چې نه غواړم بل ځل د تائيد د رايو لپاره د وکيلانو په مخ کې ودرېږم او له معمول سره سم دروغ او رښتيا پروګرامونه او ژمنې ورته بيان کړم، ځکه دا زما له طبيعت سره برابر نه دي. ولسمشر وويل: «پروا نه لري، بهرنيانو چې غوښتل يو اجرائيه رياست جوړ کړي. زه به د چارو د ادارې کاري واکونه پراخه کړم او تا به يې مشرۍ ته راولم چې هغوی يې پخپله مزه ووينې.»

ترې و مې وپوښتل: څه وخت به دغه کار ترسره شي، ځواب يې راکړ د نوې کابينې له جوړېدو او له پارلمان نه يې د تائيد له رايې اخيستلو شاوخوا يوه اونۍ وروسته. ولسمشر د اطلاعات او کلتور وزارت د مقام لپاره د احتمالي نوماندانو په باب له ما نه پوښتنه وکړه، څو نومونه يې ياد کړل، د هغوی په منځ کې د ښاغلي رهين نوم هم و، ما په دې برخه کې پوښتنې درلودې.

په راتلونکې ناسته کې مې وليدل چې د ښاغلي رهين په تړاو د ولسمشر لېوالتيا زياته شوې ده، په دې ډول ښاغلی رهين بيا د اطلاعات او کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت مقام ته ونومول شو. جهادي مشر حضرت مجددي، د ولسمشر لومړي مرستیال او د ولسمشر د فرهنګي چارو سلاکار ښاغلي هېوادمل په دې کې رول درلود.

ولسمشر کرزي دا ځل خپله کابینه داسې مهال ټاکله او معرفي کوله چې له امریکایانو سره مخالفت اوج ته رسېدلی و. لوېدیزوالو په تېره امریکایانو غوښتل یو شمېر وزیران چې انګرېزي ژبې وو او له هغوی سره یې نږدې اړیکې درلودې په هره بیه چې وي په کابینه کې ووینې. کوم معلومات چې ما له خپل دوست «عبدالستار سعادت» څخه د پارلمان له دننه څخه د امریکایانو د تحرکاتو په اړه ترلاسه کړي وو، ښکارېدله چې وزیرانو ته د تائید د رایې په اخیستلو کې د ولسمشر ناکامي به پر هغه بل ګوزار شي. د دې معلوماتو پر بنسټ پرېکړه داسې وه چې د ولسمشر له ځلورو څخه درې برخې وزیران رد کړي. ما دغه حال د ولسمشر تر غوږو ورساوه، خو هغه ډاډه و او په اشاره یې زما خبره رد کړه. کله چې کابینه ولسي جرګې ته ور وپېژندل شوه او صندقونه د رایو لپاره کېښودل شول، پر هغه څه چې زه خبر شوی وم رښتیا را ووتل. له ۲۵ کسیزې کابینې څخه یوازې ۶ تنو د تائید رایې واخیستلې او نور رد شول. هغه ماښام چې پایلې اعلان شوې ولسمشر را ته زنګ وواهه او په رامنځته شوي وضعیت یې تأسف وښود، هغه په ضمن کې را ته وویل چې د کابینې له بشپړېدو پرته زما ټاکل کېدل هېڅ مانا نه لري. دغه مهال د هغه وزیرانو معینان چې بیا نه وو معرفي شوي د اړوندو وزارتونو سرپرستان وو، ما هم چې د وزارت دنده مې پای ته رسېدلې وه پېښې له کوره څارلې. ولسمشر له هغه وزیرانو سره چې له پارلمان نه بریالي راستانه شوي وو توند چلن کړی و او دوی یې مکلف کړي وو چې د نورو په بریالي کولو کې هڅې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې له ډېر زيار او د حساب وړ وخت له تېرېدو وروسته کابينه بشپړه شوه. دغه ځنډ او اړوند جنجالونه د دې سبب شول چې زما د دندې په باب چې ما او ولسمشر پر کوم څه توافق کړی و عملي نه شي.

په دې ډول په اصطلاح د ولسمشر کرزي اجرائيه رياست جوړ نه شو او زه بې دندې پاتې شوم. دغه دوره نږدې يو نيم کال اوږده شوه. په دې موده کې ما په منظم ډول له ولسمشر سره ليده کاته کول، ښايي د کابينې تر ځينو برحال وزيرانو هم ډېر. موږ د مهمو سياسي مسايلو په باب بحثونه او مشورې کولې. ولسمشر ټولو ځانګو ته امر کړی و چې تشريفات او نور امتيازات مې د وزارت د دورې په څېر آن تر هغو غوره په پام کې ونيسي. کومه ورځ چې ولسمشر د انتخاباتو کمېسيون دفتر لاړ او هلته يې تاريخي وينا وکړه او د انتخاباتو په پروسه کې يې د بهرنيانو له لاسوهنو او د هغوی له ارادو پرده پورته کړه، زه يې په ځانګړې توګه ارګ ته ور وبللم چې هلته ورسره لاړ شم. خو د کمېسيون د دفتر په لور د الوت پر مهال د يوې غلط فهمۍ په سبب زه د انتظار په خونه کې پاتې شوم او يو ځای ورسره لاړ نه شوم.

په هغه موده کې چې ما دولتي دنده نه درلوده، د يو شمېر همفکره دوستانو په مرسته مو د يوه فکري څېړنيز مشورتي مرکز په جوړولو لاس پورې کړ. دې مرکز پام وړ کارونه ترسره کړل او څلور ګڼې ارزښتناکې مهالنۍ يې خپرې کړې. دې مرکز په بېلابېلو پړاوونو کې په ليکلې بڼه ولسمشر ته مشورې وړاندې کړې. د دې مرکز په مهالنيو کې مسألې په ژوره توګه څېړل شوې وې چې هغه مهال ډېرو ته آن خبرې کول پر هغو سختې تمامېدې. په يوه مهالنۍ کې په افغانستان کې د امريکا د پوځي اډو پر مسأله څېړنيز بحثونه شوي وو. تر هغه وروسته چې امريکايانو په افغانستان کې د پوځي اډو په اړه لومړی ځل ليوالتيا ښودلې وه، ولسمشر له ما سره دغه مسأله شريکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه. موږ دغه مسأله رسنیزه کړه. په پیل کې چا دا جدي و نه ګڼله، تر دې چې څو له کاله تېرېدو وروسته د امنیتي قرارداد مسأله رسماً مطرح شوه. موږ په ۲۰۱۰ کال په رسنیو کې ولیکل چې امریکا په افغانستان کې پوځي اډې غواړي. ولسمشر او ما چې په افغانستان کې د امریکا د حضور په باب کومه همنظري او سره ورته تحلیلونه درلودل د وخت په تېرېدو هغه نور هم زیات او پیاوړي کېدل او موږ په ګډه کار کاوه چې په افغانستان کې د امریکا د شتون زیانونه راکم کړای شو. په کومه موده کې چې ما دولتي دنده نه درلوده. د مشورې ورکولو او د آزادو رسنیو له لارې مې دغه مسوولیت ترسره کاوه.

ولسمشر یو ځل د لویې څارنوالۍ او یو ځل د اداري فساد پر خلاف د مبارزې د ادارې د غړیتوب وړاندیز را ته وکړ چې په بېلابېلو دلایلو مې د هغه له منلو عذر وغوښت.

د ۲۰۱۰ کال د ژمي په وروستیو کې یوه ورځ ښاغلي داودزي را ته زنګ وواهه او وې ویل: «ولسمشر هدایت را کړی چې ته د یوه جګپوړي پلاوي په مشرۍ پاکستان ته لاړ شې او د (اجمل خټک) د فاتحې په مراسمو کې د ده په استازولۍ ګډون وکړې.» ولسمشر دغه مهال په یوه رسمي سفر بهر ته تللی و. په هغه پلاوي کې چې زما په مشرۍ ټاکل شوی و یو شمېر برحالو وزیرانو، د ولسمشرۍ سلاکارانو او فرهنګي شخصیتونو ګډون درلود. سره له دې چې یوه وړوکې الوتکه موږ ته چارتر شوې وه، خو د هوا د خرابۍ له امله مو د فاتحې په اصلي مراسمو کې ګډون ونکړای شو. زموږ الوتکه له ډېر ځنډ وروسته والوته په هماغه مازیګر د پېښور پر ځای په اسلام‌اباد کې راښکته شوه، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت زموږ د پلاوي ډېر تود هرکلی وکړ او موږ یې له هوایي ډګره نوښار ته د اجمل خټک کلي ته چې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې موږ ته سترګې په لار وه ورسولو. ولسمشر تر دې وړاندې څو ځله ما ته یادونه کړې وه چې غواړي له پاکستان سره اړیکې ورغوي، په لومړیو کې کله چې په هېواد کې نا امنۍ بیا پیل شوې څو څو ځله یې د پاکستان له خرابوونکي رول څخه امریکایانو او د هغوی لوېدیزو متحدینو ته شکایتونه وکړل او اسناد یې ور وښودل. خو د وخت په تېرېدو یې پام شو چې هغوی په دې برخه کې عارفانه تجاهل کوي، بل لور ته پر دې هم وپوهېدو چې امریکا د افغانستان او پاکستان د اړیکو ښه کېدو مخه نیسي او نه غواړي چې دغه دوه هېوادونه سره نږدې شي. له همدې امله یې پرېکړه کړې وه چې پخپله له پاکستان سره ستونزه حل کړي. په یوه لیدنه کې «جنرال اشفاق کیاني» د پاکستان لوی درستیز ورته ویلي وو چې غواړي د افغانستان او پاکستان غلط فهمۍ حل شي او دواړه هېوادونه یو د بل ستراتېژیک دوستان شي، حامد کرزي له جنرال کیاني نه داسې اشارې لیدلې وې چې ګواکې امریکا د دې کار خنډ ده او د دواړو هېوادو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو پروسه باید په خپلواک ډول د دواړو دولتونو لخوا پر مخ لاړه شي. ولسمشر کرزي دا نظر درلود چې د دې پروسې مسوولیت ما ته وسپاري، په یوه رسمي سفر کې زما استول په داسې حال چې ما رسمي دنده هم نه درلوده اصلاً پاکستانیانو ته په یو ډول زما ور معرفي کول وو او د دې دلیل دا کېدای شوای چې د اطلاعات او کلتور د پخواني وزیر په توګه مې د یوه مبارز شاعر په فاتحه کې ګډون کاوه.

ولسمشر یوه ورځ د غرمې د ډوډۍ لپاره د ګلخانې ماڼۍ ته ور وغوښتم. په دغه یوازې لیدو کې یې د خپلې ارادې را ته وویل چې غواړي ما پاکستان ته د ځانګړي استازي په توګه واستوي. نوموړي د جنرال کیاني کیسه وکړه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په باب یې ورته خبره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه. په عین وخت کې یې په تکرار او ټینګار را ته وویل چې د دې دندې پر مهال به د امریکایانو تر ذره بین لاندې وې او دا ډېره خطرناکه دنده ده. ځکه امریکا به له هرې وسیلې کار واخلي چې د اړیکو د ښه کېدو مخه ونیسي. ما د دندو د لایحې او د دې په اړه چې ځانګړی استازی به زموږ د بهرنیو چارو وزارت او سفارت سره څه ډول اړیکي لري پوښتنې وکړې. خو په اصولو کې مې له دې ماموریت سره خپل توافق وښود.

یوه موده تېره شوه، یوه بله ورځ ولسمشر یو ځل بیا د غرمې ډوډۍ ته ور وبللم. دا ځل ولسمشر را نه وپوښتل چې د ولسمشرۍ د دفتر ریاست او د پاکستان لپاره د ځانګړي استازي په منځ کې کومه دنده خوښوم، ما له دواړو سره خپل توافق وښود او واک مې دوی ته وسپاره چې هر څه را ته مناسب بولي هماغسې دې وکړي، څرنګه چې پاکستان ته د استازیتوب لپاره مې له مخکې ذهني تیاری نیولی و لېوالتیا مې ډېره هماغه لور ته وه. بالاخره په همدغسې لیدو کې چې درېیم ځل ترسره شو نوموړي هدایت ورکړ چې داودزي ته غږ وکړئ، نوموړی راغی، له هغه نه یې پوښتنه وکړه چې د ځایناستي لپاره دې څوک مناسب دی، ښاغلي داودزي وویل: «خُرم صاحب تر ټولو مناسب کس دی» بیا یې خپل دلایل وشمېرل. داسې ښکارېدله چې د دوی دواړو ترمنځ په دې باره کې اوږدې خبرې شوې وې. ښاغلي داودزي وویل چې ډېر ستومانه شوی او غواړي چې څه موده استراحت وکړي. وروسته بیا ولسمشر د دفتر د رییس په توګه زما د دندې په باب له خپلو مرستیالانو سره هم خبره مطرح کړې وه. له شاوخوا کسانو څخه، د ملي امنیت له سلاکار، خپل سکرتر او نورو یې پوښتنې وکړې. یوه جهادي مشر ډېر ټینګار کړی و چې ما د خپل دفتر د رییس په توګه و نه ټاکي او ښاغلی داودزی دې پخپله پخوانۍ دنده پاتې شي. خو ولسمشر نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله پرېکړه کړې وه. بالاخره د ۱۳۹۰ کال په پيل کې زه رسماً د يوه فرمان له صادرېدو سره د ولسمشرۍ د دفتر رييس په توګه وټاکل شوم. د فرمان متن چې د د چارو د ادارې د رييس «ډاکتر صادق مدبر» لخوا د متحدالمال په بڼه د نورو فرمانونو په څېر ولسمشر ته د لاسليک لپاره راوړل شو د حامد کرزي له لوري رد شو او وې ويل: «يو فوق العاده فرمان وليکه او وليکه چې عبدالکريم خُرم د هېواد فرهنګي او وطندوست شخصيت دی.» او ښاغلي مدبر همداسې وکړل.

زما له ټاکل کېدو وروسته د ښاغلي داودزي د ټاکل کېدو خبره تر بحث لاندې راغله. ولسمشر ټينګار کاوه چې نوموړی په امريکا متحده ايالاتو کې سفير شي. دليل يې دا و چې امريکا د افغانستان لپاره مهم هېواد دی. خو ښاغلي داودزي هڅه کوله چې ولسمشر قانع کړي چې په يوه نږدې ګاونډي هېواد کې يې سفير وټاکي. ښاغلي داودزي استدلال کاوه چې غواړي افغانستان ته نږدې وي چې تل کابل ته راتلای شي، ځکه چې د راتلونکې لپاره څه پروګرامونه لري. بالاخره ولسمشر ومنله او محمد عمر داودزی چې دوې دورې د ولسمشر د دفتر رييس او يوه دوره په ايران کې د افغانستان سفير و، په اسلام‌اباد کې د افغانستان د لوی سفير په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارګ ته بیا راستنېدل

د ۱۳۹۰ لمریز کال له پیله مې د ولسمشر د دفتر د رییس په توګه په ارګ کې بیا کار پیل کړ. دا زما په سیاسي ژوند او اداره کې یوه نوې تجربه وه. په دې پړاو کې د حکومتولۍ او سیاست زړه ته لاړم. لکه چې مخکې مې یادونه وکړه ولسمشر د یوې دقیقې محاسبې له مخې زه په دې مقام وګومارلم، هغه پوهېده چې برخلیک ټاکونکي ورځې او شپې یې په مخکې دي او غوښتل یې چې پر دې ډاډه وي، چې د دفتر رییس یې همفکره او ورسره ملګری یو څوک وي.

کله مې چې په کار پیل وکړ د ولسمشر د کار پر مېز څو مهمې دوسیې پرتې وې، د ۲۰۱۰ زېږدیز کال د پارلماني انتخاباتو او ځانګړې محکمې دوسیه، د کابلبانک دوسیه، د سولې د پروسې دوسیه، له پاکستان سره د اړیکو دوسیه، چې د سولې له بهیر سره یې تړاو درلود. د انتقال د بهیر دوسیه، د بګرام زندان د انتقال دوسیه او له امریکا متحده ایالاتو سره د اړیکو او له دې هېواد سره د ستراتیژیکو همکاریو د سند په اړه د خبرو اترو دوسیه. د یادونې وړ ده، چې د سولې پروسه هم له امریکا سره د اړیکو په دایره کې پر مخ وړل کېده. په دې بهیر کې نورې پېښې هم راغلې چې یادونه به یې وکړم.

په دې پړاو کې زموږ د کار زیاته برخه له امریکا متحده ایالاتو سره د اړیکو په باب وه، نورې ټولې مسالې لکه: د سولې پروسه، د قطر د دفتر پرانیستل افغان حکومت ته د بګرام زندان لېږدول او نورو مستقیم له امریکا سره تړاو درلود.

د ولسمشرۍ د دفتر د ریاست کار د فوق العاده امتیازاتو سرچینه کېدای شوای. په ځانګړې توګه زموږ په نظام کې چې ریاستي نظام دی. خو زه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره موده د دې مسوولیت خاوند وم ډېرې ستونزې او دردونه مې وزغمل او په کومه ورځ مې چې خپل دفتر د نوي ولسمشر اشرف غني د دفتر رییس ته سپارلو د بې سارې ارامۍ احساس مې کاوه. په حقیقت کې زما د مسوولیت دایره ډېره پراخه وه. ما به تل ویل چې د ارګ دننه د مرچ او مالګې له مسالې له سپینې ماڼۍ سره تر خبرو اترو په ټولو مسایلو کې ما مسوولیت درلود.

کوم وخت چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر وم ولسمشر ملي راډیو تلویزیون د دولت د پیغام رسولو مسوول غوره کړی و او د ولسمشر د دفتر هره مطبوعاتي غلطي هم باید موږ اصلاح کړې وای. دغه اړیکه په ارګ کې زما د کار په تړاو برعکس شوې وه. خو هغه څه چې ډېر سخت تمامېدل او زه یې ځورولم هغه په ارګ کې د امریکایانو د شعوري او لا شعوري ګومارلیو له ناوړه تبلیغاتو او منظمو تخریبونو او ناغېړیو سره مقابله وه.

ډېر ځله د ولسمشر د دفتر دننه فضا یو ډول وه، خو له هغه ځایه له وتلو سره ان په سکرتریت کې به یې بله بڼه غوره کړه. جګپوړیو دولتي مامورینو چې له ولسمشر سره نېغې اړیکې درلودې د نوموړي له تصمیم سره د مخالفت جرئت یې نشو کولای، خو کله به یې چې له دفتر څخه راووتل له ما سره به په ټکر کې شول. په زیاتره وختونو کې هغوی له امریکایانو سره کاري او غیر کاري ځانګړې اړیکې درلودې او د ولسمشر د هغو تصمیمونو عملي کول، چې د امریکایانو د سیاستونو پر خلاف و دوی ته ډېر سخت و.

هغه کسان چې د ریاست د دفتر په چوکاټ کې زما همکاران وو، له ځو کسانو پرته نورو په ډېر اخلاص او د وطنپالنې په روحیه دنده ترسره کوله، له ټولو څخه د مننې او قدردانۍ په ترڅ کې ضروري بولم، چې د ولسمشر د ویندوی او د ولسمشرۍ د مطبوعاتو د رییس ایمل فیضي، د دفتر د ریاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیال محمد ظاهر غوث، حمید ناصري او جاوید کوتوال ځانګړې یادونه وکړم.

د څو ورځو په بهیر کې چې ما له ښاغلي داودزي سره له هغه اداري سره د آشنا کېدو په موخه ګډ کار وکړ. نوموړي څو مشورې راکړې، چې وروسته د کار په بهیر کې هغه را ته سمې ثابتې شوې. همدارنګه وپوهېدم، چې نوموړي کوم کسان هلته ګومارلي وو زیاتره یې ښه او وړ کسان وو. په کومه ورځ چې ښاغلي داودزي خدای پاماني وکړه او ما عملاً کارونو ته اوږه ورکړه د ده پخواني سکرتران جاوید فیضي او احمد فواد وزیري ما ته راغلل او وې ویل چې که نوي کسان د دوی پر ځای ګومارم نو ښه به وي، چې مخکې له مخکې دوی خبر کړم، چې ځانونو ته نوې دندې پیدا کړي. هغوی ته مې وویل چې په آرام ذهن خپلو دندو ته دوام ورکړي، ځکه چې د هېواد په اداره کې ټول مساوي حق لرو. یواځې واکونه او مسوولیتونه مو له یو بل سره توپیر لري. له دوی مې وغوښتل چې له هغو اصولو سره چې زه یې لرم ځانونه برابر او هغو ته درناوی وکړي. هغوی همداسې وکړل او تر وروستۍ ورځې پورې سره همکار پاتې شوو.

د ارګ د مامورینو اداره کول ګران کار و. مامورینو او اجیرو کارکوونکیو چې په آسانه ولسمشر ته لاسرسی درلود له هر وخت نه یې ګټه اخیستله چې امتیازات ترلاسه کړي او د اداري نظم او دسپلین فشارونه پر ځانونو کم کړي. هغوی په بېلابېلو پلمو مالي مرستې غوښتې او ولسمشر په بشپړه توګه د سخاوتمندۍ امر ورکاوه. په دې منځ کې ځینو کسانو د نوموړي له مهربانۍ او سخاوتمندۍ څخه ناوړه ګټه پورته کوله. په ځینو ریاستونو کې ولسمشر په خپله ځینې کسان ګومارلي وو، چې سیاسي دلایل یې درلودل. د سارې په ډول د تشریفاتو په ریاست کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري نظم او دسپلين ته د دغسې کسانو راوستل اسانه کار نه و. د کار په بهير کې يو ځل له داسې څه سره مخ شوم، چې زما د اداري اصولو سره بشپړ مخالف و.

ولسمشر د ځينو خاصو دلايلو له مخې د مطبوعاتو رياست د يوه جگپوړي مامور د انضباطي جزا د عملي کېدو مخه ونيوله. په ترکمنستان کې افغان سفير د نوموړي کارکوونکي او د ټيم دوو تنو نورو په باب چې هغه هېواد ته د ولسمشر د سفر د تياريو لپاره استول شوي وو د رسمي مکتوب له لارې شکايت کړی و او غوښتنه يې کړې وه، چې بايد له هغوی پوښتنه وشي. دغو درې تنو له يوه لوري سپارل شوی کار نه و ترسره کړی او له بل لوري يې داسې کارونو ته لاس اچولی و چې د هېواد حيثيت ته يې زيان رساوه. ما د دې مسالې د پلټنې لپاره يو پلاوی وټاکه. پلاوي هر يوه ته انضباطي جزا وټاکله، خو ولسمشر د مطبوعاتو د رياست کارکوونکی له هغو څخه ويوست. دې کار زه د استعفا تر بريده ورسولم، خو وروسته بيا نورې ستړې پېښې وشوې، چې پرې يې نښودم چې دنده خوشې کړم.

امريکايانو په ارگ کې زما د گومارنې حساسيت ښه درک کړی و. نيويارک ټايمز ورځپاڼې ارگ ته زما راتلل د امريکايانو پر مخ د ارگ د دروازو د تړلو په مانا وبلل. هغوی په پيل کې هڅې وکړې، چې زما سره ښې اړيکې وساتي. د کار په لومړيو ورځو کې جنرال ديويد پتريوس د امريکايي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان د خپل کار په ځای کې د شپې ډوډۍ ته وروبللم. له هغه سره يې لوړپوړي جنرالان ملگري وو. د دوی په منځ کې جنرال مک ماستر هم و. نوموړی د امريکا متحده ايالاتو له لوري له فساد سره د مبارزې په دنده گومارل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتریوس زما د تودې مېلمه پالنې په ترڅ کې جنرال مک ماستر راته معرفي کړ وې ویل: پوهېږو چې ته یو پاک او له فساده خوندي یو ځوک یې موږ له فساد سره مبارزې ته ډېر پام اړولی د دې برخې مسوولیت د جنرال مک ماستر په اوږو دی. دی به په دې برخه کې ستا نږدې همکار وي هیله ده، چې ستاسو ګډ کار مثبته نتیجه ولري. جنرال مک ماستر وروسته د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ملي امنیت سلاکار شو.

د امریکا سفیر جنرال کارل ایکن بیري په منظم ډول زما دفتر ته راتلو نوموړي دوه ځله زه خپل کورته ور وبللم، ما د کارونو د زیاتوالي په دلیل ونکړای شو، چې ورشم. بل لور ته له دې هم وېرېدم چې که له دوی سره مې راشه درشه زیاته شي په یو ډول به مې د دوی په وړاندې د اصولي دریځ مخه ونیسي، سره له دې چې ولسمشر د دې پلوی و، چې زه له امریکایانو سره ډېرې اړیکې ولرم.

له امریکایانو سره مې اړیکې د کار په بهیر کې د یو شمېر پېښو په سبب ډېر ژر خرابې شوې. البته دوی له نورو لارو له ما سره د اړیکو او د ځینو پیغامونو د رارسولو لارې چارې وکارولې، چې په خپل ځای به ورته اشاره وکړم.

ارګ د څو پخوانیو او نویو ودانیو ټولګه ده، چې بنسټ یې د عبدالرحمان خان پر مهال اېښودل شوی دی. دغې کمپلکس ته د مجاهدینو خپلمنځي جګړو او طالبانو پر مهال زیات زیانونه واوښتل. تر دې پورې چې د لنډمهالې ادارې د رییس په توګه د حامد کرزي د کار په پیل کې یو شمېر دفترونه په کانتینرونو کې ځای پر ځای شوي وو. کله چې زه د دفتر رییس شوم د بیا رغونې چارې ډېرې ګړندۍ روانې وې. برجونه، د دلکشا ماڼۍ او کوټې باغچه ترکار لاندې وو. د مهمو دولتي اسنادو د آرشیف لپاره چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو ادارې په دفتر کې را ټولېدل نوې ودانۍ د جوړېدو په حال کې وه او د چارچنار ماڼۍ او د دوهم لمبر ماڼۍ الحاقیه ماڼۍ بشپړې شوې وې.
کوم وخت چې زه د ریاست د دفتر مسوول وم د یادو شویو ماڼیو د بیارغونې چارې بشپړې شوې، پر دې سربېره د اعلی سر قوماندانۍ د قوماندې د مرکز نوې وداني جوړه شوه او د ځانګړي پخلنځي کار پیل شو. د ګلخانې، کوټيباغچې، سلام خانې، دلکشا او حرمسرای ماڼۍ هره یوه په زړه کې زموږ د هېواد د تاریخي پېښو ډېرې کیسې لري. نور محمد تره‌کي د کمونیستي نظام لومړنی رییس په کوټي باغچه کې ووژل شو او سردار محمد داود خان د خپلې کورنۍ له غړیو او د حکومت له یو شمېر غړیو سره د ګلخانې ماڼۍ په لوړ پوړ کې د کودتاچیانو په لاس شهیدان شول.
د ارګ یو شمېر کارکوونکي او خدمتګاران داسې کسان وو چې نیکونو او باباګانو یې دلته خدمتونه ترسره کړي وو آن د امیر عبدالرحمن خان له مهاله راهیسې تر ننه پورې، هغوی نسل په نسل دلته خدمت کړی و. توندو او بې رحمه انقلابونو هم هغوی له دغه ځایه ونه ایستلای شوای. هغوی د پخوانیو واکمنو او پېښو په باب ډېرې لږې خبرې کولې. دا د دوی د کاري ژمنې او د راز ساتنې د اخلاقو برخه ده.
ولسمشر کرزي او ما په ټینګار د دولتي کارکوونکیو د قوانینو د غوښتنې په اساس د ارګ د بوډاګانو کارکوونکیو له تقاعد نه ډډه کوله. په زړه پورې ده چې حرمسرای او د ظاهر شاه د خوب خونه په بېلابېلو دورو کې له لاسوهنې خوندي په خپل حال پاتې وه. ډېره لږ به کوم واکمن کارولې وي. کوم مهال چې زه د ولسمشر د دفتر رییس وم، اعلیحضرت محمد ظاهرشاه او د هغه زوم سردار عبدالولي خان دواړه وفات شوي وو. خو د هغوی کورنۍ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتره وختونه له هېواده د باندې اوسېدل چې کله به هېواد ته راستانه شول په دې مانۍ کې به اوسېدل.

## له حامد کرزي سره کار کول

د افغانستان جهاد په افغانانو کې بې ساری د غرور او ځواک احساس پيدا کړ. د حقارت هغه احساس چې د هېواد وروسته پاتې والي او بې وزلي په سبب افغانانو درلود د دغه تاريخي مبارزې په سبب له منځه ولاړ. لوېديزو رسنيو افغانان د آزادۍ اتلان بلل. او د دوی کارنامې يې ډېرې ستايلې هغه مهال چې زه فرانسې ته لاړم، سره له دې چې د مجاهدينو د ګوندونو ترمنځ اختلافونو علني بڼه غوره کړې وه خو د خلکو هيلې بشپړې پر اوبو نه وې لاهو شوې. د فاکولتې د لومړي کال په درسونو کې يې د نړۍ سياسي تاريخ راته تدريساوه. د حوالو او مأخذونو د کتابونو په لړ کې مو چې بايد لوستي وای يو هم له ۱۹۱۹ څخه تر ننه د نړۍ ديپلوماتيک تاريخ و. نوموړی کتاب مې وپېره او خپل اطاق ته راغلم په ډېره مينه مې د کمونيزم د نسکورېدو د برخې په لوستلو پيل وکړ. په ډېرې حيرانۍ مې وليدل چې په هغه پنډ ۹۵۰ مخونه کتاب کې يواځې دوه مخه يې د اتحاد شوروي لخوا د افغانستان د نيولو او د افغانانو د جهاد په باب ځانګړي شوي وو. د سرې امپراتورۍ په نسکورېدلو کې د دغې سترې مبارزې رول د شوروي اتحاد د اقتصادي ستونزو، د پولېنډ د پېښو او د دوهم ژان پاپ پل د فعاليتونو ترڅنګ په ضمني او بې ارزښته بڼه ياد شوي وو.

د جهاد د کلونو په اوږدو کې تقريباً هر افغان د کلي له بزګره د پوهنتون تر استاده سهار او ماښام د بي بي سي او امريکا غږ راډيو ګانو د اورېدو په ګناه زندانونو ته لوېدل او وځورول شول. موږ فکر کاوه چې د لوېديزو هېوادونو خلک يواځې د افغانانو په باب خبرې کوي. په داسې حال کې چې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وه. افغانستان په هغو خپرونو کې چې د افغانستان لپاره خپرېدې اصلي موضوع وه. د درسونو په بهیر کې ما د بې وزله هېوادونو او درېیمې نړۍ هېوادونو مقام په نړیوال نظام کې وموند. دغه موضوعات مې د مبارزې په بهیر کې په ایډیولوژیکو آثارو کې هم لوستي وو. خو د لته یې په علمي بڼه موږ ته را زده کول، چې نړۍ څه ډول اداره کېږي. د حقوقو په درسونو کې د ملګرو ملتونو د بېلابېلو موسسو د مرستو په ریښه وپوهېدم، چې د تجملي ژوند او لوکسو جامو خاوندان د بې وزله هېوادونو واکمن له کومو شیانو تغذیه کېږي او څومره د لوېدیزو هېوادونو د اوسېدونکیو پر وړاندې حقیر ښکارېږي. هغه څه مې چې د خپلې مبارزې په کلونو کې په کابل، وردګو او پېښور کې د سید جمال الدین افغان، سید قطب، مولانا مودودي، علي شریعتي، جلال ال احمد او نورو له افکارو زده کړي وو دلته مې د سر په سترګو لیدل او د حقوقو او اقتصاد د درسي کتابونو په پاڼو او د لوېدیز په رسنیو کې مې لیدل. په دې ډول پر دې ډېر باوري کېدم، چې موږ باید پخپله موږ شو او د نورو د تقلید لارې او پر نورو تکیه پرېږدو. په ځانګړې توګه د درېیمې نړۍ د هېوادونو د واکمنو د فکر او لارو چارو پوچتوب چې د سوالګرو حکومتونو مشران وو. او د خپلو بې وزلو ملتونو د فقر او بې وزلۍ په بیه یې ډېرې شتمنۍ ټولولې ما ته نور هم ډېر روښانه شو.

په یاد مې دي هغه مهال چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارې زما په اوږو وې، یوه ورځ د آزادۍ راډیو په یو پروګرام کې یوه اورېدونکي را نه وپوښتل چې ولې دریشي نه اغوندم. ما په ځواب کې ورته وویل: دا غوره ګڼم چې د ګاندي په څېر لنګ واغوندم خو چې ملت مې ارام او په ګېډه موړ وي.

کله مې چې په لومړیو کې په ارګ کې کار پیل کړ او له حامد کرزي سره مې کاري اړیکې وموندې یو لړ ځانګړتیاوې مې په هغه کې ولیدې چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



له فکري تګلارې سره یې اړخ لګاوه. ما هغه وخت د ولسمشر په اداره کې د تحلیلګر په توګه کار کاوه. یوه ورځ مې ولسمشر ته وویل: هغه تصویر چې د باندې له تاسو څخه خلک لري له هغه سره توپیر کوي، چې زه یې په واقعیت کې وینم. موخه مې د دغه خپلواک طبیعت، طبیعي ژوند او له تجملي ژوند نه لرې والی و، چې د باندې لږ خلک پرې پوهېدل، ځواب یې دا و چې: ته دا کار وکړه او خلک پرې خبر کړه.

یوه ورځ مې ورته وویل: ولې خپلو وزیرانو ته توصیه نه کوې، چې ستا په شان ژوند غوره کړي او ستا په څېر جامې واغوندي؟ ځواب یې دا و چې: پر نورو د ځانګړي ژوند دود تحمیلول دیکتاتوري ده. پرېږده چې هر څوک په خپله خوښه ژوند وکړي. دغه دوه ځوابونه د حامد کرزي شخصیت ډېر په ښه بڼه ښودلای شي. په دې مانا چې هغه طبیعي او له دروغو او تجمل پالنې پاک شخصیت لري. د هېواد خلکو ته نږدې دی هغه څه چې له اوږدو زمانو زموږ واکمن او نخبه ګان له هغو بې برخې وو. خو له دې سره جوخت دا توان او اراده نه لري، چې خپل دغه چلن او فکري تګلاره په یوه مکتب بدل کړي او خپل تر لاس لاندې کسان او همکاران په هغو کې وروزي، ځکه چې دا نوموړی یو ډول دیکتاتوري ګڼي.

ولسمشر او زه دواړه د هغه نسل اړوند وو، چې سوکاله او ارامه افغانستان یې لیدلی و. هم یې د هجرت او جهاد تجربه کړې وه او هم یې له هېواده بهر د لوړو زده کړو فرصت موندلی و. له دې ورته والي سره مې لومړی ورسره د سلاکار په توګه کار وکړ وروسته د وزیر او بالاخره د دفتر رییس یې شوم.

د اوږدو کلونو په بهیر کې چې له حامد کرزي سره همکار وم د تفریح او رخصتۍ په نامه یو شی مې د ده په ژوند کې ونه لیدل. کله مې چې د نوموړي د دفتر د رییس په توګه په کار پیل وکړ زیاتره ورځې به مو د سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چای په ګلخانې ماڼۍ کې د ډوډۍ په خونه کې د کاري ملاقاتونو په ترڅ کې خوړل او د غرمې ډوډۍ هم له کاري مجلسونو سره يو ځای او يا له ډېرو خلکو سره چې له ولايتونو به راتلل په ګلخانې ماڼۍ او يا سنګي ماڼۍ کې خوړل کېدله. د شپې ډوډۍ ولسمشر په خپل کور کې او په وړوکيو خاصو مجلسونو کې خوړه، چې هغو به يې هم له کار سره تړاو درلود.

د نوموړي له ځانګړتياوو څخه يو هم دا وه چې تر پايه يې له عامو خلکو سره اړيکې غوڅې نه کړې. پر هغو منظمو ليدنو سربېره چې د بېلابېلو ولايتونو له خلکو سره يې درلودې. کله به چې کومه طبيعي پېښه وشوه او يا د جګړې کومه پېښه وه مثلاً ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښته، پر تيليفوني اړيکو سربېره به يې د ولايتي مسوولينو په واسطه د هېواد په لرې ګوټونو کې زيانمن کسان را پيدا کول او پخپله به يې له هغو سره خبرې کولې. دغه چلن د دې سبب شو، چې د حکومتي چارواکيو راپوررونو چې زياتره به د واقعيت خلاف وو نشو کولای چې حقايق ترې پټ کړي او دا د دولتي مسوولينو د کنترول په برخه کې د نوموړي له مثبتو ټکو څخه شمېرل کېده. حامد کرزي د جمعې په ورځو کې کار کاوه. نوموړی به معمولاً د ورځې په ۱۱ بجو له کوره دفتر ته راتلو له څو ليدنو وروسته به يې د ارګ په جومات کې د جمعې لمونځ ادا کاوه او له مېلمنو سره په ګډه يې د غرمې له ډوډۍ وروسته په درې يا څلورو بجو بېرته کور ته تلو. له ما سره يې توافق کړی و، چې د جمعې ورځ به رخصت وم او په کور به پاتې شوم. زما زياتره همکارانو دا زما يو فوق العاده امتياز باله چې ولسمشر راکړی و.

د کار پر مهال د سهار چای ورو ورو د ولسمشر له کاري مهالوېش لرې کړای شو. موږ به ورځ د ولسمشر د کار په دفتر کې چې د ګلخانې ماڼۍ په دوهم پوړ کې هغه ځای چې پخوانيو ولسمشرانو هم له هغه نه د کار د دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار اخيستی و پيلوله. د دفتر رييس ، د چارو د ادارې رييس، ويندوی او د ملي امنيت سلاکار له هغو کسانو څخه و، چې هر سهار به يې ځانونه د ولسمشر دفتر ته رسول. د چارو د ادارې او د وزيرانو د شورا د دارالانشا رييس کار زياتره اداري بڼه درلوده او د بېلابېلو فرمانونو او اسنادو له لاسليک سره به پيلېده په داسې حال کې چې د نورو کارونو زياتره سياسي اړخ درلود.

ولسمشر هره يکشنبې امنيتي غونډه رابلله. په لومړيو وختونو کې امنيتي غونډې دوې برخې درلودې: يو يې د افغانانو ترمنځ غونډه چې په هغو کې د امنيتي او دفاعي برخو ټولو مسوولينو برخه درلوده. پر دې سربېره به هغه وزيران چې ولسمشر به د اجنډا سره سم د هغوی شتون اړين باله ورته رابلل کېدل او دوهمه برخه به د امريکايانو او ناټو پوځي او امنيتي مسوولين پکې حاضر وو. په دې برخه کې د امريکايي ځواکونو قوماندانان او په افغانستان کې د CIA مسوول خامخا حاضر وو. له يوې مودې وروسته له امنيتي غونډو څخه دوهمه برخه لرې کړای شوه.

د کابينې غونډه به د دوشنبې په ورځ جوړېده، د کابينې د غونډې خونه د ګلخانې ماڼۍ په دوهم پوړ کې د ولسمشر دفتر ته مخامخ وه. ولسمشر هره چهارشنبې له خپلو مرستيالانو سره خاصه غونډه درلوده. دغه غونډه به هم د نورو په څېر تر غرمې مخکې په لسو بجو پيلېده. په دې غونډه کې د ملي امنيت سلاکار، د چارو د ادارې رييس او د دفتر رييس هم ګډون درلود، خو که ولسمشر او يا به يې مرستيالانو وغوښتل چې ځانګړې غونډه لري بيا به يواځې هغوی و.

دا چې ولسمشر به ماسپښين مهال د خپل دفتر په شاتنۍ خونه کې استراحت کاوه. له دې فرصت نه په استفادې به ما خپلې کاري ليدنې له سفيرانو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیلانو نورو هغو کسانو سره چې د ملاقات غوښتنه به یې کوله ترسره کولې.
مازیګر مهال به بیا د ولسمشر په دفتر کې د ویندوی او د ملي امنیت له سلاکار سره حاضر وو. دغه مهال به یې زیاتره وختونه د بهرنیو چارو وزیر او یا معین او یا امنیتي او دفاعي مسوولین د چارو د پرمخ بېولو لپاره دفتر ته راغوښتل. له سفیرانو، بهرنیو پلاویو او نورو دولتي مسوولینو سره متفرقه غونډې او لیدنې د دې ټولو مجلسونو په منځ کې ترسره کېدې.
ولسمشر د بهرنیو سفرونو په ترسره کولو کې هېڅکله لټي نه کوله. له یوه پلوه د یوه ساعت وخت له ضایع کېدو پرته سمدستي هېواد ته راستنېدو بل لور ته به یې په داسې حال کې چې کوم هېواد ته سفر مهم باله د یو ساعت ملاقات لپاره د نړۍ لرې ګوټ ته هم سفر ته چمتو و. ساری یې له پاکستانیانو سره درې اړخیزې ناستې وې چې په برېتانیا او امریکا کې به ترسره کېدې. ولسمشر د سولې په لټه کې سفر کاوه او ځان به یې هلته رساوه.
ولسمشر کرزي له مکلفو خوراکونو سره مینه نه درلوده. غوښه یې لږ خوړله. تر دې چې ډاکټرانو ورته د ناروغۍ سبب د غوښې لږ خوراک وباله. هغه له پلي ګرځېدو سره ډېره مینه درلوده. د دفتر دننه د کار له مهاله تر کوره به یې تل قدم واهه. د کار د دفتر دننه به یې حاضرینو ته ویل: تاسو کښېنئ زه درته قدم وهم. کله به یې کومې مهمې خبرې اترې او پروګرام په مخکې وو ذهن یې بیا نورې خبرې نه منلې.
حامد کرزی ورو ورو امریکا ته له خوشبین کس څخه لومړی په انتقاد کوونکي او وروسته ان د امریکا په مخالف بدل شو. په بېلابېلو خبرو اترو کې یې له امریکایانو سره په مقابل کې له ډېرې توندۍ کار واخیست تردې چې هغوی د دومره توندۍ هیله نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حکومتولۍ کې په کرار کرار حامد کرزی په داسې چا بدل شو چې پر خپل حکومت یې بشپړ کنټرول درلود او که تر لسو یا پنځلسو نورو کلونو پورې په واک کې پاتې وای ښایي افغانستان د معیاري ملکي خدمتونو نظام خاوند شوی وای. په داسې بڼه چې سیاستوالو به په هغو کې د نفوذ فرصت نه درلود. په دې برخه کې به د سیاسي مشرانو بې پایه سپارښتنې او غوښتنې ډېرې ور ته ځوروونکې تمامېدې.

## د ۲۰۱۰ ز کال د پارلماني انتخاباتو لانجې

کوم وخت چې ما په ارګ کې د ولسمشرۍ په دفتر کې کار پیل کړ، د ولسمشر د میز پر سر په پرتو دوسیو کې چې هغه کار پرې کاوه یوه د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو دوسیه وه. په دې انتخاباتو کې له تصور نه لرې د غزني ولایت د یوه لوی قوم چې د دې ولایت اکثریت اوسېدونکي دي یوه استازي هم ولسي جرګې ته لاره ونه موندله. په نورو ولایتونو کې هم درغلۍ او سر غړونې په پراخه کچه ترسره شوې وې چې د اعتراضونو او نا خوښۍ تونده څپه یې رامنځ ته کړې وه.
دا چې امریکایان ونه توانېدل چې په ۲۰۰۹ کال کې حامد کرزی له صحنې وباسي او یا نوموړی له ډاکټر عبدالله سره د واک وېش ته اړ کړي، په ډېر عقده یي ډول یې د انتخاباتو د کمېسیون نوي کولو ته مټې رابډوهلې. ولسمشر کرزي د انتخاباتو کمېسیون مشر له اداري فساد سره د مبارزې د کمېسیون مشر وټاکه او د دارلانشا رییس یې د ترانسپورټ وزیر وټاکه. له همدې امله د ۲۰۱۰ کال پارلماني ټاکنې د کمېسیون د نوي رییس فضل احمد معنوي تر مشرتابه لاندې ترسره شوې.
لکه چې وویل شول انتخابات له منظمو درغلیو سره ترسره شوي وو، خو ښاغلي فضل احمد معنوي چې له جمعیت اسلامي سره یې تړاو درلود د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو اعتراضونو او د ولسمشر اندېښنو ته هېڅ پام ونه کړ او پر خپل دریځ یې ټینګار کاوه. پر ۲۰۱۰ کال کې یوه محکمه جوړه شوه چې دغه اعتراضونه او جنجالونه وڅېړي. دا محکمه چې د دفتر ریاست ته زما تر راتګ مخکې جوړه شوې وه «د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د انتخاباتو حقوقي ځانګړې محکمه» نوم پرې اېښودل شوی و.

ولسمشر دغه محکمه له سیاستوالو او مشرانو سره تر ډېرو ناستو او مشورو وروسته جوړه کړه او ریاست یې یوه پیاوړي قاضي مولوي صدیق الله حقیق ته وسپاره. نوې جوړې شوې ولسي جرګې او لوېدیزو هېوادونو د ځانګړې محکمې د جوړېدو په تړاو د ولسمشر له تصمیم سره ډېر حساسیت وښود.

د هرې ورځې په تېرېدو دې مسالې نوي اړخونه پیدا کول او پر یوه بحران د بدلیدو په لور روانه وه. په یاد مې دي چې یوه ورځ د کاناډا شارژدافیر زما دفتر ته راغی او د آزادو او عادلانه ټاکنو (فیفا) د رییس د بندي کېدو او د کمېسیون د رییس د احتمالي زنداني کېدو او په ډله ییزه توګه یې له ولسي جرګې نه د وکیلانو وتل د نړیوالې ټولنې له لوري اخطار ته ورته (سره کرښه) وبلله.

په یادو ټاکنو کې د بهرنیانو لاسونه له لرې ښکارېدل په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۱ کال د جون پر ۲۱ مه په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه او په هغو کې سیاسي او جهادي مشران، قاضي القضات عبدالسلام عظیمي، لوی څارنوال محمد اسحاق الکو او مولوي حقیق حضور درلود، عبدالسلام عظیمي د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له نه همکارۍ نه د شکایت په ترڅ کې وویل چې دغه کمېسیون اسنادو ته د لاس رسي په برخه کې د ځانګړې محکمې پر وړاندې خنډونه رامنځ ته کوي هغه وویل: کمېسیون د خپل ډېټابیس په برخه کې همکاري نه کوي کله وایي چې پاس ورډ (شفر) یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له موږ سره نشته له ملګرو ملتونو سره دی او کله وايي، چې په سنګاپور کې دی.

په هغه ليدنه کې چې د جولای په ۲۷ مه د برېټانيا ځانګړي استازي مارک سدويل او د هغه هېواد سفير له ولسمشر کرزي سره درلوده سفير اعتراف وکړ، چې پرلپسې له وکيلانو سره ګوري خو هغوی ته وايي چې ټاکنې د کمېسيون کار دی. په هغه ليدنه کې د سفير له خبرو وروسته ځانګړي استازي د فدراليزم خبره مطرح کړه وې ويل: «د افغانستان په شمال کې د فدرالي نظام مساله مطرح شوې ده ځکه د شمال ولايتونو اوسېدونکي له طالبانو سره د سولې له خبرو اترو وېره لري.» دا همغه څه وو چې ولسمشر په رښتيا ترې وېره درلوده او لوېديزو هېوادونو له هغو نه پر نوموړي د فشار د وسيلې کار اخيست. ولسمشر له سياسي او جهادي مشرانو سره د ټاکنو د بحران په اړه ډېرې ناستې جوړې کړې. په دغسې زياترو غونډو کې د سترې محکمې رييس، لوی څارنوال، د عدليې وزير، د اساسي قانون پر تطبيق د څار کمېسيون رييس او د ولسمشر حقوقي سلاکار ګډون کاوه. په دغه ډول يوه غونډه کې چې د ۲۰۱۱ کال د اګسټ پر شپږمه په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه مارشال محمد قسيم فهيم چې د فضل احمد معنوي له ملاتړو څخه يو ګڼل کېده وويل: ايکنبيري د امريکا سفير د شپې په نهو بجو د معنوي کور ته ورغلی او ورته يې ويلي دي، چې بايد زور ته تسليم نه شي. پر ځای دې ټينګ شه او پام کوه پرې يې نه ږدې. پر دې سربېره مارشال د محمکې له پرېکړې دفاع وکړه او پر اجرائيه قوې د ډاډ د څرګندولو په ترڅ کې يې زياته کړه " که د محکمې د حکم په تطبيق کې اقدام ونه کړو او تسليم شو نو د حسني مبارک په څېر به وو، چې بالاخره په بستره کې په قفس کې محکمې ته راوستل شو."

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړې محکمې د يوې پرېکړې د صادرولو په ترڅ کې د خپل کار پايلې د ۱۳۹۰ لمريز د چنګاښ پر دوهمه ياني د ۲۰۱۱ کال په دوبي کې اعلان کړې. د محکمې د پرېکړې پر بنسټ د ولسي جرګې ۶۲ تنه غړي ناکام وپېژندل شول چې بايد له دې جرګې ايستل شوي وای او د هغو پر ځای ۶۲ تنه نور چې ګټونکي اعلان شوی و بايد جرګې ته تللي وای.

د ولسي جرګې او د هغوی د اداري پلاوي له لوري مقاومت ډېر توند و. په يوه غونډه کې چې اداري پلاوي له ولسمشر سره درلوده احمد بهزاد په ښکاره وويل: چې د انتخاباتو په پايلو کې لاس وهنه به بحران جوړ کړي. سياسي مشران صبغت الله مجددي، پير سيد احمد ګيلاني، استاز برهان الدين رباني... د محکمې د حکم د تطبيق غوښتونکي وو ولسمشر يې له جوړ جاړي راګرځاوه.

ولسمشر د هېواد د وضعې په درک کولو سره په ځانګړې توګه په داسې مهال چې د بن د کنفرانس لپاره کار دوام درلود د يوې سياسي حل لارې د موندلو په لټه کې و. داسې ښکارېدل چې هغه د ځانګړې محکمې د جوړېدو په اړه په خپل تصميم خوشاله نه دی او بيا بيا به يې ښاغلي عظيمي ته ويل: ″ اوس يوه حل لاره را پيدا کړی چې له بحرانه راووځو″.

ولسي جرګې په پام کې درلوده چې د سترې محکمې ټول غړي استيضاح او له واکه لرې کړي. ولسمشر د درې ګونو قوو ټکر ته پام درلود. د يوې حل لارې د موندلو په تمه پرېکړه پر دې شوه چې يو استينافي پړاو په پام کې ونيول شي د اختصاصي محکمې د استيناف محکمه د ۲۰۱۱ کال د منې په موسم کې ( ۱۳۹۰ کال د لړم په مياشت کې) د قضاوتپوه شمس الرحمن شمس په رياست جوړه شوه. خو له ۶۲ تنو د ولسي جرګې له غړيو څخه چې د لومړنۍ محکمې په پرېکړه بايد له جرګې ايستل شوي وای يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مرافعه طلب نه شول. دا کار د دې سبب شو چې د استيناف محکمې د لومړنۍ محکمې حکم تائيد کړ. په دې پرېکړه کې د دواړو کمېسيونونو د عدلي تعقيب حکم هم شامل شو. هغه څه چې بهرنيانو يې په اړه ډېر حساسيت ښودلو د ښاغلي معنوي عدلي تعقيب يې خپله سر کرښه بلله.

ولسمشر ټولو ته وويل، چې هوښيار اوسي، ځکه چې د ده په نظر د دې امکان شته چې بهرنيان افغانان ټوټه ټوټه بن ته بوځي او له هغه ځايه د خپلې خوښې يوه طرحه افغانستان ته وکاږي او له صفر نه بيا پيل وکړي. ولسمشر د سترې محکمې د رييس له دې دريځ نه چې ويل يې (موږ خپله پرېکړه اعلان کړه نور د اجراييه قوې کار دی چې هغه پلي کړي) ډېر نهيلی و. له يوه پلوه يې ځانته حق نه ورکاوه چې د محکمې په چارو کې لاس وهنه وکړي ان تر دې چې کله به يې له مولوي حقيق نه معلومات غوښتل هڅه يې کوله چې سنجول شوې جملې وکاروي چې له هغو نه د قضايي قوې په چارو کې د لاسوهنې بوی تر سپږمو نشي. بل لور ته ښاغلي عظيمي بيا بيا ويل چې قضا خپل کار ترسره کړی اوس نو د اجراييې قوې نوبت دی چې د محکمې حکم پلی کړي يا دا چې ولسمشر هغه ٦٢ تنه چې ګټونکي اعلان شوي دي راوغواړي او هغوی پر دې قانع کړي چې له خپلې دعوا لاس واخلي. په داسې حال کې چې د ولسمشر اندېښنه د محکمې د حکم د پلي کېدو لپاره د زمينې نشتوالی و.

مارشال محمد قسيم فهيم په دې نظر و چې د احمد ضيا مسعود، حاجي محقق، جنرال دوستم او امرالله صالح ائتلاف له اوسنۍ وضعې څخه د ګټې اخيستلو په هڅه کې وو او حاجي ظاهر قدير ته خبرې په خوله ورکوي او پارلمان د دغه ائتلاف په وينډوی بدل شوی دی. نوموړي د هغه غونډې د بهير خبرې وکړې چې حاجي ظاهر قدير په نيمه شپه کې د ده کور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلی و او ترې غوښتي يې وو چې کمېسيون دې د محکمې د حکم پر بنسټ د انتخاباتو په پايلو کې بدلون نه اعلانوي. بالاخره له ډېرو هڅو وروسته ولسمشر وتوانېد يوه منځنۍ حل لاره ومومي او د انتخاباتو له کمېسيون سره د يوه جوړ جاړي په پايله کې د محکمې د حکم پر بنسټ نهه تنه نوي بريالي شوي نوماندان بريالي اعلان کړي. په دې ډول ولسي جرگې ته د نهه تنو نويو وکيلانو د ورتلو او د پخوانيو نهو تنو په وتلو سره دغه لانجه پای ته ورسېده.

## د کابلبانک مساله

د کابلبانک مساله هم د جنجالي او پېچليو ستونزو څخه يوه وه، چې هغه مهال د ولسمشر په مخکې پرته وه. حامد کرزي بايد د امريکا په مقابل کې د درېدو او د اجراييه رياست د جوړېدو او له ډاکتر عبدالله سره د واک د وېش په تړاو د امريکا د پروگرام د ناکامولو بيه ادا کړې وای. د کابلبانک موضوع تر دې بريده له تناقضاتو ډکه وه چې له هغو په اصطلاح سر ايستل آسانه نه وو. دغه پېچلتيا به کله کله د دې ستونزې د غير واقعي توب فکر را پيدا کړ. ډېر راپورونه مو چې د تصفيې د پلاوي او د افغانستان بانک د رييس قدير فطرت او اړوندې محکمې نه بيا بيا اورېدل يوې يې هم د دې پېچلې قضيې غوټه خلاصه نکړه. يو وخت سټيفن ډېمستورا د يوناما مشر او يو شمېر امريکايي ديپلوماتانو له ولسمشر سره په ځانگړيو ملاقاتونو کې (اقتصادي کودتا) ته اشارې کړې وې. ايا دا همغه اقتصادي کودتا وه چې د حامد کرزي په خلاف وشوه؟

يوه غونډه مې په ياد ده چې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۳۰ مه د گلخانې په ماڼۍ کې د کابل بانک په اړه د ولسمشر د دوهم مرستيال محمد کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خليلي په غوښتنه جوړه شوه. لومړی د افغانستان بانک نوي رييس نورالله دلاوري خپل راپور وړاندې کړ وې ويل: تر اوسه پورې ۱۳۸ میلیونه ډالره نغد ترلاسه شوي دي پوروړيو په ۲۱۸ میلیونو باندې قناعت او ۵۴۱ میلیونو باندې اعتراف کړی دی. مصطفی مستور د مالیې وزارت معین وویل: د پورونو حل او فصل لانجې لري، د تصفیې چارې ډېرې سوکه روانې دي او د حکومت جدي اقدام ته اړتیا ده. ولسمشر چې ولیدل له څو میاشتو تېرېدو وروسته د محکمې په کار کې پرمختګ نه دی شوی او حقایق د تکراري جملو په منځ کې ګونګ او نا معلوم (اعتراف شوي) او (قناعت شوی) هماغسې پېچلې او پټ پاتې دي په غوسه شو وې ویل: زما له دوه ډوله غونډو ډېر بد راځي یو د کابلبانک په تړاو غونډه او بل له امریکایانو سره غونډې. زما نظر بیل دی زما په نظر د کابلبانک لانجه یوه دسیسه ده چې بهرنیانو د افغانانو په مرسته ترسره کړې ده. امریکا نه غواړي دغه ستونزه حل شي بلکې غواړي چې نوره یې هم اوږده کړي. ولسمشر قاضیانو ته په خطاب کې وویل: "... نو فشار درباندې راځي که وپوهېږئ او که ونه پوهېږئ. له مالیې وزارت نه پوښتنه کوم تاسو په دې برخه کې څه وکړل؟ فطرت په دې کې لاس درلود او د امریکایانو په همکارۍ یې موږ ته غلط راپورونه راکړل. ځکه خو دا زموږ ملي او هېوادنۍ دنده ده. که په کار کې وګواښل شوی او یا په تمه کړای شوی دغه کار به پایله ونه لري. زه د تصفیې له چارو راضي نه یم ...".

په دې غونډه کې اوږده بحثونه وشول چې د کابلبانک اړوند ملکیتونه په دوبۍ کې څه ډول وپلورل شي. له ورایه ښکارېدله چې په دې برخه کې هم د نظر اختلاف شته یانې دا چې یاد ملکیتونه د املاکي دفتر له لارې وپلورل شي او که په تدریجي ډول تر ټولو په لوړه وړاندیز شوې بیه. خو هغه پلاوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پرله پسې دوبۍ ته تلل چې ياد شوي ملکيتونه وپلوري هېڅ بيره يې نه درلوده او غوښتل يې چې دغه سفرونه يې دوام پيدا کړي. ښاغلي خليلي د محکمې له قاضي شمس الرحمن شمس نه پوښتنه وکړه چې اصلي تورن «شيرخان فرنود» او «خليل الله فروزي» تر اوسه پورې ولې بنديان شوي نه دي.

له بل لوري څخه د بهرنيانو او په تېره د امريکايانو فشارونه پر حکومت ورځ تر بلې زياتېدل. هغوی د کابلبانک له لانجې څخه د حامد کرزي خوږ گوته جوړه کړې وه. راين کراکر د امريکا متحده ايالاتو سفير د جون مياشتې په ۱۱ مه نېټه له ولسمشر سره په ملاقات کې وويل: "د وجهي صندوق يا IMF " ضرب الاجل سبا پوره کېږي او راپور يې بايد توکيو ته واستول شي.

د ده موخه دا وه چې د دې ستونزې بدې اغېزې به د توکيو پر کنفرانس سيوری وکړي. په دې مجلس کې ولسمشر يو ځل بيا امريکا ته د افغانستان بانک د رييس تېښته ياده کړه او د هغه د بېرته راستنېدو غوښتنه يې وکړه. نوموړي سفير کراکر ته وويل چې تاسو هغه ته ويلي و چې له ده نه اتل جوړوئ. په هغه ويډيو کنفرانس کې چې د ۲۰۱۲ کال د اگست پر ۱۲مه له بارک اوباما سره ترسره شو. اوباما حامدکرزي ته په خطاب کې وويل چې د کابلبانک او عزيزي بانک قضيې مهمې دي او انکشافي مرستې له هغو سره تړلې دي. امريکا پرلپسې د قدير فطرت له بېرته را ستنېدو څخه انکار کاوه. د دې هېواد ديپلوماتانو ويل چې قدير فطرت په قانوني بڼه په امريکا کې اوسېږي او د هغه د مجرم پېژندلو سند نشته چې دوی مجبور کړي چې نوموړی افغانستان ته وسپاري. هغوی دا هم ويل چې امريکا او افغانستان يو بل ته د مجرمينو د سپارلو تړون هم نه دی لاسليک کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابلبانک ورشکست کېدل د ۲۰۱۰ په سپټمبر کې اعلان شو. د دې لپاره چې هغه کسان چې دې بانک ته یې پیسې سپارلې وې ډاډه شي مرکزي بانک د ولسمشر په امر سمدستي د کابلبانک متولي اعلان شو. د کابلبانک د ورشکست کېدو تر اعلان یوه میاشت وړاندې د هغه یو کلن فعالیت د افغانستان بانک لخوا تر ارځونې لاندې راغلی و. په پایله کې یې کابلبانک په څلورمه درجه کې راوستی و. یانې په داسې درجه کې چې ګواکې بانک جدي ستونزې نه لري. په داسې حال کې چې د بانک ونډه والو په منظم ډول د خلکو ورسپارل شوې پیسې له هېواده ایستلې وې او په هغو یې په بهر کې په ځانګړي توګه په دوبۍ کې جایدادونه پېرلي وو او په خپلو شخصي شتمنیو کې یې هم له هغو ګټه اخیستې وه.

بل تفتیش چې د کابلبانک وضعیت یې ارځولی و د "پریس واتر هاوس کوپر Price water house cooper نومي شرکت لخوا ترسره شوی وه. د دې پلټنې پایلې هم چې د افغانستان بانک د رییس لخوا ولسمشر ته سپارل شوې وه ښودله چې کابلبانک په ښه وضعه کې دی. وروسته معلومه شوه چې د یاد شرکت چارې په افغانستان کې د څو تنو پاکستانیانو لخوا په مخ وړل کېږي. دفتر یې په اسلام‌اباد کې و او له اصلي شرکت سره یې رسمیت نه درلود. دغه ډلې هم د فعالیت اجازه له قدیر فطرت نه ترلاسه کړې وه.

د نوي کابلبانک رییس مسعود موسی غازي په هغه راپور کې چې د ۲۰۱۱ ز د اپریل په میاشت کې یې ولسمشر ته وړاندې کړ وویل: "بهرنیانو له درې کلونو راهیسې د کابلبانک د سقوط طرحه تر لاس لاندې درلوده. هغه معلومات چې ترلاسه موکړل د کابلبانک د ادارې مسوولین په منظم ډول د امریکا سفارت ته ورغوښتل کېدل، هغوی ان د هغه ادارې عادي مامورین هم پېژندل..." .یو نیم کال مخکې یو سلاکار راغلی و کله چې له څو میاشتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته بېرته بهر ته لاړ د کابلبانک په تړاو د خبرونو لړۍ پيل شوه. امريکايان خوشاله نه دي چې د افغانستان زېرمه شوې پيسې زياتې شي دغه کنده يې د همدې لپاره رامنځته کړه".

په دقيق ډول همداسې وه دافغانستان دولت مجبور شو چې د کابل بانک ورشکسته کېدل په يوه ستر بحران د بدليدو مخه ونيسي د ۲۰۱۰د نومبر پر شلمه يې د افغانستان بانک له زېرمه شوې شتمنۍ نه کابل بانک ته پيسې ورکړې، د کابلبانک د ورشکست کېدو مساله هغه وخت جدي کېده چې ډېری ملکي مامورينو، پوځي منصبدارانو او سرتيرو خپل معاشونه د همدی بانک له لارې ترلاسه کول دا چې ولې د يادو معاشونو ورکول نوموړي بانک ته سپارل شوي وو پخپله ډېرې پوښتنې را منځته کوي.

په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۱د اپريل په لسمه د ارگ په گلخانې ماڼۍ کې جوړه شوه پرېکړه وشوه چې کابل بانک په دوو برخو ښه او بد ووېشل شي، ښه بانک هغه بانک وي چې د خلکو ورسپارل شوې پيسې ولري. په پيل کې پرېکړه وشوه چې دغه برخه بايد د يوه دولتي بانک اړوند شي خو وروسته پرېکړه پردې وشوه چې خپلواک پاتې شي او د «نوی کابل بانک» په نوم فعاليت وکړي. بل بانک بايد پورونه او غلا شوې پيسې بېرته تر لاسه کړې وای .

د نوموتو سوداگرو نومونه د پوروړيو او ونډه والو په ډله کې و د هغو له جملې څخه د محمود کرزي د ولسمشر ورور او د لومړي مرستيال د ورور حسين فهيم نومونه هم و. د دې دوو تنو د نومونو شتون د دې سبب شوی و چې حکومت تر فشار لاندې او خجل شي . سره له دې چې د ولسمشر مرستيال پرله پسی د دې پېښې له تورنو کسانو سره نرم چلند کاوه خو پخپله ولسمشر تل له نه او نو پرته د قانون پر پلي کېدو ټينگار کاوه او له هر ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



رعایت او نرم چلند څخه یې ډډه کوله. په کابل بانک کې فساد په پراخه کچه موجود و د ساري په توګه مسعود موسی غازي د نوي کابل بانک رییس د ۲۰۱۱کال د دسمبر په اتلسمه په خپل راپور کې یوه ته داسې اشاره وکړه (د خراسان امنیتي شرکت چې د کابل بانک امنیتي مسوولیت یې پر اوږو دی د خلیل الله فروزي د ورور محمود فروزي دی هغوی ۱۰۵۰تنه ګومارلي وو چې میاشتنی معاش یې دری سوه پنځوس زره ډالر کېده خو ومو لیده چې دغه شمېر ډېر زیات دی اوس یې موږ شمېر شپږ سووتنو ته را ټیټ کړی دی. موږ هڅه کوو چې له کورنیو چارو وزارت سره قرارداد وکړو او له خراسان شرکت سره کار پای ته ورسوو خو مصطفی مستور د مالیې وزارت مرستیال پر موږ فشار راوړي چې بېرته له خراسان شرکت سره قرارداد وکړو . دا یوه له هغو بېلګو څخه وه چې د کابل بانک مسوولینو او ونډه لرونکیو څه ډول له هر فرصت نه ګټه اوچتوله چې د خلکو ورسپارل شوې پیسې جیب ته کړي او د پیسه دار کېدو لپاره له هغو څخه په غیر مسلکي ډول ناوړه استفاده وکړي.

د ۲۰۱۱کال د جون په میاشت کې ګلبهار حبیبي چې نوم یې د کابل بانک د پوروړو په نوملړ کې و زما دفتر ته راغی او په شکایت یې خوله پرانیستله، نوموړي کیسه وکړه چې قدیر فطرت له ده نه غوښتنه کړې وه چې په پل محمودخان کې په ودانیزه پروژه کې ده ته ونډه ورکړای شي. ښاغلي حبیبي دا شکایت کاوه چې د ده له انکار وروسته د ده د پور اندازه هره ورځ بدلون مومي.

قدیر فطرت یوه ورځ د ولسمشر د کار په دفتر کې له نوموړي اجازه وغوښته چې د کورنۍ د لیدو لپاره څو ورځې امریکا ته لاړ شي ولسمشر ومنله خو نېټه یې معلومه نشوه. په ۲۰۱۱کال د جون په میاشت کې په یوه غونډه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه ټول د قدير فطرت د راتلو په انتظار کې وو ځکه چې پرېکړه داسې وه چې د افغانستان بانک رييس په هغو کې حاضر وي او د خپل کار د پرمختګ را پور ورکړي، خبر راغی چې ښاغلی فطرت بهر ته تللی او له ځانه سره يې يوه اندازه پيسې او خپل د څو مياشتو پيشکي معاش هم وړی و .

محکمې د کابل بانک په پېښه کې ښاغلی فطرت «مجرم» وباله خو د ولسمشر له ډېر ټينګار سره چې له امريکايي چارواکو سره يې په ليدنو کې د فطرت د بېرته را ستنېدلو په تړاو کاوه هر ځل د هغوی له منفي ځواب سره مخ کېده. په مالي سکتور کې د افغانستان ستونزې يوازې د کابل بانک تر ستونزو محدودې نه وې. يوه مالي استخباراتي اداره د «فنتراکا» (FINTRACA) په نوم د افغانستان د بانکي سيستم دننه فعاله وه د دې ادارې مسوول د «مصطفی مسعودي» په نامه يو ځوان و نوموړي په منظم ډول د بانکي سکتور معلومات د امريکايانو په واک کې ورکول او د هغه هېواد له سفارت سره يې نېغې اړيکې درلودې . چې د ۲۰۱۲کال د اکتوبر پر څلورويشتمه په سنګي ماڼۍ کې ولسمشر له يو شمېر سوداګرو سره درلوده په هېواد کې د پانګونې ترمخ پرتې ستونزې د سوداګرو امنيت او د تښتونې مسالې مطرح شوې. سوداګرو او صنعتکارانو شکايت کاوه چې دولت په منظم ډول د دوی بانکي حسابونه پلټي هغوی دا هم زياته کړه چې د کورنۍ غړي يې تښتول کېږي او تښتوونکو ته د پيسو د نه ورکولو په صورت کې هغوی په دقيق ډول د دوی د بانکي حسابونو جزيات ورته يادوي. ولسمشر د ماليې له وزير نه چې په غونډه کې حاضر و د دې سبب و پوښت او زياته يې کړه چې د قانون له مخې هېڅوک حق نلري چې د محکمې له حکم پرته د چا بانکي حساب ته لاسرسی ولري، وزير په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وويل چې دغه کار د (فنتراکا) دفتر او ملي امنيت ترسره کوي هغه ووېل فنتراکا يوازې امريکايانو ته ځواب ويونکې ده او بس. ولسمشر څوځله د افغانستان بانک له رييس نه و غوښتل چې نوموړې اداره د افغانستان د دولت تر کنترول لاندې راولي او رييس يې له دندې لرې کړي خو ښاغلي دلاوري بيا بيا د دې کار له ترسره کولو ځان ناتوانه وښود. د ملي امنيت شورا پښه چې دې قضيې ته ورداخله شوه ولسمشر وتوانېده چې ښاغلی مسعودي په داسې حال کې چې د کابل بانک په قضيه کې د محکمې له خوا مجرم وپېژندل شو او د جريمې په ورکولو محکوم شوی و له دندې لرې کړي.
مصطفی مسعودي يو ځل بيا د ډاکتر اشرف غني په حکومت کې د (فنتراکا) د مشر په توگه وټاکل شو خو له څه مودې وروسته په دې جرم چې گواکې د خپل دفتر کرايه يې له دوو ځايونو يانې هم له مرکزي بانک او هم له امريکايانو اخيستله له دندې لرې کړای شو .
امريکايانو غوښتل چې عزيزي بانک هم فورنزک (forensic) وپلټل شي، دوی دې ته لېوال و چې دغه بانک هم د کابل بانک په برخليک اخته کړي او د خلکو باور د هېواد پر بانکي سيستم بشپړ له منځه لاړ شي. هم ولسمشر او هم ما په ډېر جديت د دغې توطيې مخه ونيوله .
اختصاصي محکمې بالاخره د کابل بانک مالک او رييس شيرخان فرنود په پنځه کاله زندان او د دوه سوه اته اويا ميليونه ډالرو په بېرته ورکولو او خليل الله فروزي په پنځه کاله زندان او د پنځه سوه دېرش ميليونه ډالرو په بېرته ورکولو محکوم کړل .
ډاکتر اشرف غني له واک تر لاسه کولو څو ورځې وروسته د کابل بانک د قضيې د بيا څېړنې حکم لاسليک کړ خو پايلې يې څرگندې نشوې برخلاف خليل الله فروزي له زندانه خوشی شو او د ښې حکومتولۍ په برخه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړي استازي احمد ضیا مسعود ترځنګ د هوشمند ښارګوټي د پرانیستې په مراسمو کې را څرګند شو، نوموړي ادعا وکړه چې په یاد ښارګوټي کې د پانګونې له لارې به خپل پورونه ادا کړي . تر دې وروسته چې په دې تړاو ډېر اعتراضونه وشول فروزي بېرته زنداني شو او د یاد شوي ښارګوټي برخلیک هم ګونګ پاتې شو. شیرخان فرنود چې ګواکې په بګرام زندان کې بندي و. د دې کرښو د لیکلو پر مهال د ورپېښې ناروغۍ له امله مړ او په بلخ کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بگرام، هغه زندان چې امریکایان یې تړلو ته حاضر نه وو

د بگرام زندان برخلیک د امریکا د دولت او ولسمشر حامد کرزي ترمنځ له ډېرې جنجالي موضوع څخه وه. زما او امریکایانو ترمنځ هم پر همدې موضوع اړیکې تر وروستي حده خرابې شوې تر دې چې په غیر مستقیم ډول د دوی لخوا وگواښل شوم. د بگرام زندان پر سر د جنجالونو په بهیر کې څو ځله جنرال الن پیر سید احمد گیلاني ته ورغی ترې ویې غوښتل چې ما ته نصیحت وکړي او په دې مسالې کې له سرتمبگۍ لاس واخلم او ولسمشر د دوی پر خلاف ونه پاروم. امریکا له پیر صاحب سره زما له اړیکو خبر و. یوه ورځ ښاغلي گیلاني خپل کورته وروبللم او په دې مقدمه یې خبرې پیل کړې چې گواکې زه د ده د زوی او د کورنۍ د غړي حیثیت لرم او نه غواړي چې ما ته څه زیان ورسېږي. نوموړي زیاته کړه: "امریکایان د بگرام زندان په اړه ډېر په غوسه دي او فکر کوي، چې ته ولسمشر لمسوې او مشوره ورکوې چې د بگرام پر سر له هغوی سره توند لاړ شي. ما هغوی ته وویل چې خُرم داسې څوک نه دی بلکې ولسمشر پخپله دغه ډول دریځ ستاسې پر خلاف غوره کړی دی. ښاغلي گیلاني غوښتل چې په اوږدو خبرو ما په دې مساله کې نرم دریځ ته وهڅوي. څه موده وروسته یې بیا ور وغوښتم او د خپل مشر زوی په مخکې یې راته وویل چې جنرال الن په قهرجنه لهجه ورته ویلي چې « د خُرم ځای د ریاست دفتر نه بلکې هغه ځای دی چې نارنجي جامې یې اغوستې وي.» دا ځل هم ښاغلي گیلاني او زوی یې سید حامد گیلاني ما ته نصیحت وکړ چې له امریکایانو سره له مقابلې لاس واخلم او « خپله راتلونکې خرابه نه کړم».

هغه وویل چې د امریکایي جنرال په مخکې یې له مانه دفاع کړې ده او زما پر خلاف یې د ټولو تورونو له ردولو سره ورته ویلي وو چې زه یو منځلارۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوړو زده کړو خاوند او په تېرو وختونو کې د دوی له فعاله سلاکارانو څخه وم. پر دې ګواښونو سربېره مې د ولسمشر د شا او خوا کسانو او جګپوړيو دولتي کارکوونکيو له لوري ډېر توهينونه په دې لار کې وزغمل. په داسې حال کې چې پخپله ولسمشر په دې تړاو په مرګ وګواښل شو.

امريکايانو د افغانستان په خاوره له پښې اېښودو سره له ترهګرو سره د مبارزې په نامه د افغانانو په وژلو او زنداني کولو لاس پورې کړی و. د ساري په توګه «ستيوکول» په خپل «اس رياست» اثر کې د عبدالولي په نامه د يوه ځوان کيسه کوي، چې په څه ډول يې د CIA د مامورينو د شکنجې لاندې ساه ورکړه.

دغه کيسه په افغانستان کې د امريکايانو د شتون له لومړيو کلونو سره تړاو لري. عبدالولي خبر شوی و چې چا امريکايانو ته خبر ورکړی دی چې ګواکې په اسعد اباد کې د هغوی پر پوځي مرکز د توغنديو په ويشتلو کې لاس لري. دا چې هغه بې ګناه و، والي ته ورغی، والي هغه له خپل زوی سره چې په امريکا کې لوی شوی و امريکايانو ته واستاوه، چې دغه غلط فهمي لرې شي، خو د CIA مامورينو عبدالولي ونيو او لاسونه يې ور ولچک کړل. بالاخره له څو ورځو تحقيقاتو او شکنجو وروسته عبدالولي ساه ورکړه او جنازه يې شرمېدلي والي چې د ده د ژوند ضمانت يې ورکړی و کورنۍ ته وسپارله. امريکايانو د نوموړي له جنازې سره دوه زره ډالر هم د هغه کورنۍ ته ور استولي وو.

امريکايانو ان د کابل په ښار کې ځانګړي زندانونه جوړ کړي وو. ځينو جګپوړيو دولتي مسوولينو چې له طالبانو سره د دښمنۍ مخينه درلوده له هغوی سره په دې کار کې همکاري درلوده. د ډېرو نيونو د پېښو تر شا شخصي انګيزې او فردي دښمنۍ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ساری یې «جانتن اډیما» دی چې پر ۲۰۰۴ کال د شخصي زندان درلودو په تور ونیول شو، نوموړي په پروان مېنه کې یو زندان جوړ کړی و، ما چې هغه مهال د حقوقي مرستو مرکز دفتر درلود، د تورنو د غوښتنې له مخې د دوی مدافع وکالت خپل یوه همکار ته وسپاره. نوموړي ادعا درلوده چې له "ډونالډ رمزفیلډ" سره اړیکې لري او افغانان ملکي او پوځي چارواکي د ده له کارونو خبر دي. خو په څرگندونو کې یوازې د محمد یونس قانوني نوم اخیستل کېدو. اډیما مجرم ثابت شو او په زندان کې له ۲۲ میاشتو تېرولو نه وروسته د امریکا د سفارت لخوا دوبۍ ته ولېږدول شو. د پلټنو پر مهال د ده په زندان کې اته تنه بندیان وو چې له هغوی څخه یو مولوي صدیق الله مسلم و چې د دې کرښو د لیکلو پر مهال نوموړی د سترې محکمې د دارالانشا رییس دی.

له ډېرې مودې راهیسې ولسمشر حامد کرزي د بگرام زندان په هکله راپورونه ترلاسه کول. د یو شمېر هغو کسانو کیسې چې د بگرام له وېرووونکي زندان نه یې د خلاصون طالع درلودې د ولسمشر غوږونو ته رسېدلې. د شپې چاپې، ملکي مرگ ژوبلې او د افغانانو زنداني کول او ځورول هغه څه وو چې حامدکرزي هغه د دولت د حاکمیت تر پښو لاندې کول او د افغانستان د خلکو سپکاوی گاڼه. د افغانانو د حکومتي ادارو له بشپړېدو او فعالېدو سره د بهرنیانو دغه ډول کړه وړه نور د توجیه وړ نه وو.

ولسمشر د دفتر ریاست ته زما له راتلو مخکې حکم کړی و چې د بهرنیانو لخوا د افغانانو د نیولو او د بگرام زندان مساله وڅېړل شي. نوموړي غوښتل چې د بگرام زندان اداره بشپړه د افغان دولت په لاس کې وي. او هلته د افغانستان د قوانینو تر پښو لاندې کول پای ته ورسېږي. خو تر دې مهاله دغه مساله د ده د کارونو په لومړیتوب کې نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګپوړيو دولتي چارواکيو چې په يو ډول يې له دې مسالې سره کاري تړاو درلود له دې ويرې چې امريکايان خپه نشي، د دې پلويان نه و چې په دې برخه کې غږ اوچت شي. برخلاف ګلرحمان قاضي چې دغه مهال د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون رييس و ما ته څو ځلې راغی او را نه يې وغوښتل چې له ولسمشر نه اجازه ورته واخلم چې د بګرام زندان ته لاړ شي او وضعيت يې وڅېړي. په لومړيو وختونو کې ولسمشر نه منله او ويل يې «دا د استاد قاضي کار نه دی». بالاخره راضي شو. خو هغه مهال يې د هغو خطرناکو اړخونو ته پام شو چې بګرام ته د استول شوي پلاوي کلنی راپور يې د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون د ۱۳۹۰ په «کالنۍ» کې ولوست. تر هغه وروسته د افغانستان د دولت حاکميت ته د بګرام زندان لېږد مساله، د ملکي مرګ ژوبلې او شپنيو عملياتو په څېر د حامد کرزي په کاري لومړيتوب کې راغله.

د همدې راپور په تړاو د ۲۰۱۲ کال د جنوري په لومړيو کې د ولسمشر په مشرۍ يوه غونډه جوړه شوه چې په هغو کې قاضي القضات عبدالسلام عظيمي، د کورنيو چارو وزير، د دفاع وزير، د عدليې وزير، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون رييس، لوی څارنوال، د ولسمشر حقوقي سلاکار نصرالله ستانکزی، د ملي امنيت سلاکار، د چارو د ادارې رييس ډاکټر مدبر، د دفاع وزارت درې جنرالانو او ما (عبدالکريم خُرم) د ګلخانې په ماڼۍ کې پکې ګډون درلود.

په پيل کې استاد قاضي د خپل راپور په جزياتو معلومات ورکړل، تر هغه وروسته د سترې محکمې رييس پر دې څرګندونو چې ستره محکمه او څارنوالي په دې وضعيت کې بې ګناه دي. په بګرام زندان کې د افغانستان د قوانينو تر پښو لاندې کولو ته اشارې وکړې. ولسمشر وويل: «نور چاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هډوکي ته رسېدلې ده» هغه زياته کړه چې تر کومې ورځې پورې چې د افغانستان ملي حاکميت او قانون همدغسې تر پښو لاندې وي له امريکا سره به د ستراتيژکو همکاريو تړون لاسليک نه کړي. هغه په همدې مجلس کې وويل « بگرام د طالب جوړونې فابريکه ده» نوموړي د بگرام زندان شتون د افغانستان د قوانينو خلاف عمل وباله او ټولو ته يې دنده ورکړه چې له بهرنيانو نه د زندان د ادارې د اخيستلو په لارو چارو کې د خپلو مسووليتونو په حدودو کې کار وکړي او څوک چې له دې نه انکار وکړي بايد له دندې استعفا وکړي. ولسمشر د دې کار لپاره يوه مياشت وخت وټاکه.

د ۲۰۱۰، ۲۰۱۱. ۲۰۱۲ کلونو په بهير کې د ناټو په تېره د امريکايي عسکرو لخوا شپني عمليات، د ملکي وګړو مرګ ژوبله او د افغانانو زنداني کول ډېر په زور کې روان وو. همدغه مهال امريکا په افغانستان کې د اډو غوښتنه برالا کړه او د هغو په باب يې له ولسمشر سره خبرې کړې وې. تر دې وخته دا غوښتنه نه وه علني شوې او عام خلک ترې خبر نه وو. ما د ولسمشر په مشوره په آزادو رسنيو کې د امريکايانو د اډو مسله مطرح کړه او وخت په وخت په رسنيو کې پر دې مساله په رسنيو کې بحثونه کېدل.

د دولت کمزوري کول، په شمال کې يو لړ تحرکات او د امريکا د پارلمان د غړي «دانا رورا باکر» لخوا سياسي څېرو ته بلنه او د فدرالي نظام خبره مطرح کول هغه سياسي فشارونه وو چې امريکايانو پرلپسې پر حامدکرزي راوړل. د بگرام زندان موضوع له اوباما او نورو امريکايي چارواکو سره په ليدنو کې تل يادېدله. په هغو ويډيو کنفرانسونو کې چې ولسمشر له اوباما سره درلودل د بگرام زندان موضوع د خبرو د موضوعاتو څخه يوه وه. د بگرام زندان افغاني کولو او د بې گناه بنديانو خوشي کولو جنجال ډېر اوږد شو او نږدې دوه کاله يې د افغانستان او امريکا پر اړيکو سيوری غورځولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. امریکایانو د بګرام زندان په تړاو ډېر حساسیت ښودلو. یوه ورځ ولسمشر له مانه په یواځې مجلس کې وپوښتل: «خُرم صاحب! امریکایان د بګرام زندان په باب ولې دومره حساس دي؟ مورږ ته دا د حاکمیت مساله ده خو دوی ولې غواړي چې په هره بیه وي هغه وساتي؟» ما په ځواب کې ورته وویل: ښایي د دې لپاره چې د جګړې اور بل وساتي او هغو ته د سربازګیرۍ د انګیزې د ایجاد لپاره، البته هم په بګرام کې او هم په ګوانتانامو کې امریکایانو ځانته ایجینټان هم روزل.

امریکایانو په ځانګړي توګه د ناټو قوماندان جنرال جان الن پر ګواښ سربېره له ماسره د سوله ییزې اړیکې لاره هم موندلې وه او هغه په افغانستان کې د ناټو ځواکونو درېیم مقام فرانسوي جنرال "اولیویه دوباوینشوف" و چې د ده د دفتر د رییس په توګه یې کار کاوه. جنرال دوباوینشوف د نیک چلن خاوند یو څوک و. هغوی نوموړی د دې لپاره غوره کړی و، چې زه له فرانسوي ژبې سره بلد وم. مورږ دوستانه اړیکې پیدا کړې او ما په طنز او ټوکو کې خپل دریځ له هغه سره مطرح کاوه. تر هغه مخکې د ناټو د قوماندان مرستیال انګلیسي جنرال «بک نیل» پرلپسې له ما سره لیدو ته راتلو او هڅه یې کوله چې راسره انډیوال شي. زه پوهېدم چې دغه جنرالان په کوم دلیل د دوستۍ له لارې راسره چلند کوي.

امریکایانو یو ځل تصمیم ونیو چې جګپوړي حکومتي چارواکي په ترتیب سره بګرام زندان ته بوځي چې ګواکې هغوی ته د زندان د ژوند او هستوګنې ښه شرایط ور وښیي. هغوی څو ځلي ما ته بلنه راکړه چې هلته لاړ شم خو ما معذرت وغوښت. زیاتره بګرام ته وربلل شوي جګپوړي د بندیانو لخوا په توندو او بدو الفاظو لکه "مزدور"، "وطنپلور" او نورو استقبالېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر په یوه غونډه کې جنرال الن ته وویل چې له دې پروګرام نه لاس واخلي، ځکه چې دوی ته د ګټې په ځای زیان کوي.
د بګرام زندان د هېواد په داخلي سیاست کې هم مهم ځای نیولی و. ټول هغه کسان چې په شعوري او یا لا شعوري ډول د امریکا په خوشخدمتۍ بوخت وو په دې برخه کې بوخت شول. له امریکا سره تړلیو رسنیو شپه او ورځ تبلیغ کاوه چې ګواکې حامد کرزی غواړي ترهګر خوشي کړي او دا چې افغانان د زندانیانو د ساتلو وړتیا نه لري. دغه لانجه ډېره توده وه چې د کندهار زندان مات کړای شو. د هغه تونل له لارې چې ایستل شوی و په زیات شمېر زندانیان په تیښته بریالي شول. د امریکا خدمتګارانو له ټولو وسایلو څخه کار اخیست چې د افغانستان حاکمیت ته د بګرام زندان د لېږدولو پروسه له ستونزو سره مخ کړي. له امریکا سره پر اړوندو کړیو د هغوی فشار پر دوی لاره ورکه کړې وه، تر دې چې له زاریو تر ګواښ او توطیو یې پر هیڅ صرفه نه کوله، چې د هغو کسانو اراده زیانمنه کړي چې د امریکایانو د ظلم پر خلاف درېدلي وو.
د ولسمشر پرلپسې اعلامیو چې زیاتره یې ایمل فیضي او ما لیکلې پر امریکایانو اور بلاوه. ډاکټر سپنتا څو ځله ایمل فیضي ته ویلي وو"ډېره او بریت ترې کم کړه" یانې توندې اعلامیې مه خپروه. ډاکټر سپنتا به ما ته ویل چې ګواکې د دې اعلامیو قالب ما جوړ کړی دی او فیضي هر ځل په هماغه قالب کې نوې اعلامیې ورغورځوي او ترې راوباسي یې.
د دې ترینګلتیا په اوج کې تصمیم و، چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ پر اتمه د امریکا او افغانستان د ولسمشرانو ترمنځ ویډیویي کنفرانس جوړ شي. د ویډیویي کنفرانسونو لپاره د ګلخانې ماڼۍ په یوه ځانګړي اطاق کې ځای ځانګړی شوی و، چې وسایل یې امریکایانو هلته نصب کړي وو. ویډیویي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې به چې وخت پر وخت د حامدکرزي او بارک اوباما ترمنځ کېدلې معمولاً به د ماښام او یا ماسخوتن پر مهال چې د واشنګټن له سهار سره برابر وو ترسره کېدې. په پام کې وه چې مو ږ د شپې ډوډۍ د امریکا متحده ایالاتو له سفیر راین کراکر او د دوی قوماندان جان الن سره یو ځای وخورو.

ډوډۍ مو د ډوډۍ په خونه کې د قندیلونو تر ژېړې رڼا لاندې وخوړله. د ډوډۍ خوړلو پر مهال تیت او پرک روغبړ کېدو. د افغانانو له لوري پر ولسمشر سربېره حمیرا لودین اعتمادي د دفتر د رییس مرستیاله، د ولسمشر ویندوی ایمل فیضي، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین جاوید لودین او د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو رییس حمید صدیق حاضر وو. د ډوډۍ له خوړلو وروسته ولسمشر د تور چای ګیلاس ورسره واخیست او له ځایه جګ شو او وې ویل چې دی یې پاس خپل دفتر ته درومي او تر ۱۰ او ۱۵ دقیقو پورې چې له سپینې ماڼۍ سره د اړیکو لپاره وخت شته خپل پاتې نور کارونه کوي. کله چې د ډوډۍ له اطاقه ووت جنرال الن جاوید لودین ته مخ ور واړاوه او وې ویل: " موږ غواړو چې د بګرام زندان پر سر خپګان کم کړو خو ستاسو یو شمېر مسوولین د خپلو غیر مسوولو څرګندونو په سبب بحران او ستونزه زیاتوي". داسې ښکارېدله چې د دوی دواړو ترمنځ پر دې مساله خبرې شوې وې. ښاغلي لودین د امریکایي جنرال په ځواب کې وویل: " زه تاسو درک کوم هغه کس د حکومت د رسنیو د مرکز کارکوونکی دی. اوس پرېکړه شوې ده چې تر دې وروسته به په دې موضوع خبرې نه کوي".

یوه ورځ وړاندې صفت الله صافي د حکومت د رسنیو د مرکز مرستیال د بګرام زندان په اړه په دوو رسنیو( په یوه تلویزیون او یوه راډیو کې) په بحثونو کې د ولسمشر له دریځ څخه دفاع کړې وه. په هغو بحثونو کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي صافي څخه داسې پوښتنې شوې وې: ” ولې د بګرام زندان مسووليت افغانانو ته وسپارل شي په داسې حال کې چې د کندهار له زندان نه په ډله ييزه توګه بنديان په تيښته برياللي شول او تر ټولو مهمه دا چې د افغانستان په زندانونو کې بنديان په پراخه کچه ځورول کيږي؟ نو آيا دا غوره نه ده چې د بګرام زندان همغسې له امريکايانو سره پاتې شي؟ ښاغلي صافي د دې استدلال په رد کې ځواب ورکړی و چې: « په داسې حال کې چې بګرام زندان د امريکايانو په لاس کې و پنځه تنه القاعده غړي ترې وتښتېدل او د بګرام او عراق د ابوغريب له زندانونو چې کوم انځورونه خپاره شوي دي دا ښيي چې د امريکا لخوا چې کومې شکنجې او ځورونې ترسره شوې تر نورو ځورونو ډېر وحشيانه او بوږنوونکي دي.» د صافي ځوابونو او استدلال جنرال الن ډېر په غوسه کړی و او ښاغلي لودين هغه ته ډاډ ورکاوه چې دغه ډول کسان به تر دې وروسته له خبرو کولو منع وي. د دې ډيالوګ په اورېدو حيران شوم، ځکه چې يو خو چا داسې پرېکړه نه وه کړې او بل دا چې د خپلو هېوادوالو له حقوقو سترګې پټول راته ناوړه ښکاره شول.

د ډېر ډاډ لپاره مې ښاغلي لودين ته مخ ور واړوه او ومې پوښتل: د دې سړي منظور صفت الله صافی دی؟ وې ويل: هوکې! ومې ويل صافی يو ژورناليست دی او د حکومت د رسنيو د مرکز مسووليت يې پر اوږو دی او تر ټولو مهمه دا چې هغه د خپل ولسمشر له دريځ څخه ننګه کړې ده. ښاغلی لودين ډېر خوږين شو او لاس يې په زوره په مېز وواهه او په سپکو او له ادب نه لرې الفاظو يې ښاغلي صافي ته بد رد وويل، ما هم د خپل همکار د دفاع او هم د هېواد د حاکميت او د خلکو له حقوقو د دفاع لپاره او هم د امريکايانو د وحشت او د دوی د نوکر پالنې پر خلاف د افغاني غوسې او کرکې د ښودلو لپاره مېز په سوک وواهه او ومې ويل:« صافي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دولت له حاکمیت او خپل ولس نه دفاع کړې ده.... زموږ دواړو غږونه اوچت شول هغه ما ته په ښکنځلو سره وویل: ارګ ته مې د راتلو مخه نه شې نیولی..." ورته مې وویل: " ته خاین او وطنپلور د خپلو بادارانو په مخکې داسې خبرې کوې او دوی ته په خوشخدمتي د افغانانو حقونه تر پښو لاندې کوې"، هغه په ځواب کې ما ته د پاکستان نوکر وویل چې ګواکې هغوی ته کار کوم. په داسې حال کې چې افغانستان د امریکا او پاکستان د دواړو د توطیو قرباني و. امریکایانو داسې وضعیت منځته راوړی و، چې د هغو پر اساس هر ملي غږ پر پاکستاني او ایراني ټاپو خپ کېدلو. د امریکایانو اردلیانو ما غوندې کسان چې د «لوی افغانستان» د داعیې «پلوي» او د ډیورنډ کرښې «مخالف» دي هم له پاکستان سره په تړاو تورنول. په داسې حال کې چې امریکا او برېټانیا ته په خدمت کولو سره عملاً د پاکستان په خدمت بوخت وو.

د غږونو له لوړېدو سره سفیر راین کراکر او جنرال الن دواړه په بیړه جګ شول او له اطاقه ووتل. د ولسمشر یو شمېر ساتونکي چې په دهلېز کې وو اطاق ته راغلل تر څو وپوهېږي چې دا شور ماشور پر څه دی.

ما دغه جریان د ډاکټر اشرف غني د حکومت په دوران کې په یوه لیکنه کې په ویسا ورځپاڼه کې خپور کړ. سبب یې دا و چې د پولنډ ولسمشر په خپل هېواد کې د CIA د زندانونو له شتون نه پرده پورته کړې وه او ویلې یې وو چې یاد سازمان بندیان هلته شکنجه کول. همدارنګه د متحده ایالاتو د سنا مجلس د CIA د زندانونو او په هغو کې د شکنجو او ځورونو په اړه پلټنې پیل کړې وې.

تر دې جریان وروسته ډېرو کسانو جرئت وکړ او د امریکایي زندانونو او ځورونو په باب یې نیوکې وکړې. زما وجدان ته د بې ګناه هېوادوالو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنداني کولو او د هغوی د ځورولو په باب چوپتیا وطن ته خیانت او د هېوادوالو د بشري حقونو تر پښولاندې کولو کې د شریکېدو په مانا ده. که امریکایان پرې خپه کېدل او که پرې خوښېدل او که د امریکا سنا دا ویل که يې نه ویل.

له لس ـ پنځلس دقیقو وروسته له واشنګټن سره اړیکه ټینګه شوه. ولسمشر له خپل دفتر نه راکوز شو او د ویډیو کنفرانس دفتر ته ننوت. پر خپل ځانګړي ځای کیناست، نور کسان هم حاضر وو، هغه څه چې څو شېبې مخکې تیر شول زه يې سخت وځورولم. د ولس په حال مې افسوس کاوه چې نخبه ګان يې څومره ارزانه پلوري. د دهلېز په یوه ګوښه کې کیناستم او اراده مې وکړه چې د کنفرانس اطاق ته لاړ نه شم. د ولسمشر چې کله زما غیابت ته پام شوی و، نو کنفرانس يې ځنډولی و او څوک يې را استولی و چې ما پیدا کړي. اطاق ته زما تر راتلو پورې ولسمشر اوباما او ملګري يې انتظار وو او ولسمشر کرزي خپلې خبرې نه وې پیل کړې.

په داسې حال کې چې د بګرام زندان پر سر لانجې ډېرې تونديږ روانې وې امریکایانو د شپې مهال بریدونه او د هېواد په کلیو کې د خلکو نیول ډېر زیات کړل.

د ۲۰۱۱ کال د اپریل میاشتې یوه ورځ د ځانګړې قطعې یو تن ما ته راغی او د زړه خواله يې وکړه. نوموړي وویل: چې ځانګړې قطعې په تېره یوه اونۍ کې د هېواد په بېلابېلو برخو کې ۵۴ ځله عملیات ترسره کړي دي. نوموړي ویل چې د ده دنده د مازیګر له څلورو بجو نه د سهار تر څلورو بجو پورې وي او تل له امریکایي ځانګړیو ځواکونو سره عملیات ترسره کوي. هغه وویل چې په دې دلیل چې د دې ځانګړیو عملیاتو په بهیر کې څه تېرېږي زغم يې هر افغان ته ډېر ګران دی. تر دې مهاله ۱۸۰ تنو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړیو ځواکونو له قطعي نه تیښته کړې او ښایي د مخالفینو له لیکو سره یو ځای شوي وي. نوموړي د "بلو ټیم" په نامه د یوه ګروپ یادونه وکړه چې غړیو یې اوږدې ږیرې او بریتونه پرېښې دي او د سختو دندو مسوولیت یې پر اوږو دی. نوموړي وویل: په کومه ورځ چې د دې ګروپ کسانو څوک نه وي وژلي ډېر نا آرامه وي او آن له ډوډۍ خوړلو ډډه کوي.

په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۱ کال د مې پر ۳۰مه د کابینې په خونه کې په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه او په هغو کې د انتقال د پروسې مسوول اشرف غني احمدزي خپل راپور وړاندې کاوه د بهرنیو ځواکونو د عملیاتو په تړاو یې وویل چې د دغو عملیاتو په پایله کې د میاشتې په منځنۍ کچه دوه سوه تنه نیول کېږي او د بګرام زندان ته لېږدول کېږي. د همدې کال په اګست کې د هېواد د ملي امنیت رییس رحمت الله نبیل د ډېرو کسانو د نیولو او د بندیانو د بې برخلیکه پاتې کېدو په سبب د " د کورني او بهرني امنیت د جرمونو پر خلاف د ځانګړې محکمې" غوښتنه وکړه. ولسمشر د دې نظر له ردولو سره وویل چې د انقلابي محکمو یادونه بیا مه راژوندي کوه. د هغه اشاره د کمونیستانو د وخت انقلابي ځانګړیو څارنوالیو او محکمو ته وه.

د ۲۰۱۲ کال د فبروري پر ۱۹ مه نېټه دوو پېژندل شویو سناتورانو جان مک کین او لیندزي ګراهام د ګلخانې په ماڼۍ کې له حامد کرزي سره ملاقات درلود. دغو دوو محافظه کارو سناتورانو پرلپسې افغانستان ته سفرونه کول. هغوی د جمهوري‌پالو له توند لارو کسانو څخه شمېرل کېدل. ما له روانې اړخه هغوی ناروغان ولیدل په ځانګړي توګه لیندزي ګراهام چې له ښځینه څېرې سره به تل په پوځي جامو کې له جګو موزو سره د ولسمشر لیدو ته راتلو. په دې غونډه کې ښاغلي ګراهام حامد کرزي ته وویل: موږ د شپې لخوا د عملیاتو له زیاتولو سره هره میاشت تر سلو تنو زیات کسان نیسو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



زندان ته یې سپارو. موږ. سل میلیونه ډالره د هغوی د ساتنې لپاره لګوو، ځکه چې ستاسو قضایي سیستم د دې ظرفیت نه لري چې رښتیني مجرمین له جنایتکارانو نه بېل کړي". زموږ ولسمشر هغوی ته وویل: چې شپني عملیات او د خلکو زنداني کول زما او امریکا ترمنځ حساسې او جنجالي مسالې دي او یو ځل بیا یې له هغوی وغوښتل چې خپل پام د ترهګرو اصلي روزنځایونو ته ورواړوي. نوموړي زیاته کړه چې دغه ډول کړنې په افغانانو کې داسې احساس رامنځته کوي چې ګواکې خپلواکي یې سلب شوې، په داسې حال کې چې افغانان غواړي د امریکا دوستان وي، خو خپلواک او آزاد، غلام او ورپورې تړلي نه.

د ولسمشر له لوري پرلپسې فشارونو او د شپنیو عملیاتو او په هغو کې د خلکو بندیانولو پر خلاف د خلکو غبرګونونه او بالاخره هغه رسنیزه مبارزه چې ما او همکارانو مې د ولسمشرۍ د رسنیو له ریاست تر آزادو رسنیو پورې پیل کړې وه امریکایان یې شا تګ ته اړ کړل. په داسې بڼه چې په دوو تفاهم‌لیکونو بحثونه مطرح شول یو د شپنیو عملیاتو په تړاو او بل د بهرنیانو د زندانونو په تېره د بګرام زندان په اړه پیل شول. په بګرام زندان کې د قرانکریم پاڼو ته د اور اچولو پېښې د امریکایانو پر خلاف د خلکو غوسه څو چنده زیاته کړه.

په عدلي او قضایي غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ پر ۳مه په ارګ کې جوړه شوې وه د عدلیې وزیر حبیب الله غالب په صراحت وویل چې افغانستان د حکومت او عدلي موسسو او ادارو خاوند دی، ځکه خو بهرنیان دې تر دې وروسته په خپل سر د خلکو له زنداني کولو لاس واخلي. ډاکټر سپنتا وویل، چې ملګرو ملتونو د منشور د اووم فصل ۵۲ مادې بهرنیانو ته دا حق ورکړی، ځکه د جګړې یو لوری نړیواله ټولنه ده. د ولسمشر حقوقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلاکار نصرالله ستانکزي وویل چې د افغانستان جګړه باید تعریف کړو. د دې څرګندونو په وړاندې چې ولسمشر په غوسه شوی و وویل: "ما د افغانستان جګړه تعریف کړې ده، که څه هم زما د ملي امنیت سلاکار اسلام‌اباد ته زما تر سفر وړاندې مرکه کړې او زما د نظر خلاف یې طالبان دښمن بللي دي، خو زه هغوی ته ورونه وایم. تاسې د افغانستان ګټو ته پام نه کوئ دغه جګړه زموږ په کلیو او کورونو کې نه ده".

د ولسمشر غوسه د امریکایانو له غوښتنو راپارېدلې وه چې هغوی تر نورو شپږو میاشتو پورې د بګرام زندان د کنترول غوښتنه کړې وه او دا چې زموږ خپلو جګپوړیو چارواکیو له نوموړو سره همغږي نه درلوده. ډاکټر سپنتا د ولسمشر د توندو خبرو په وړاندې غبرګون وښود وې ویل: "طالب زموږ دښمن دی، موږ وژني، زموږ ماشومان وژني... زه د شپنیو عملیاتو پلوی یم زه د دفاع وزیر نه یم چې د کرسۍ لپاره سپکې خبرې وزغمم. ما برطرف کړه، هر څه چې کوې". د ولسمشر ځواب دا و چې شپني عملیات باید پای ته ورسېږي او د دولت حاکمیت باید تثبیت شي. هغه زیاته کړه چې د افغانانو بې پایه وژل او زنداني کول ورته د منلو نه دي.

## په افغانستان کې د امریکایي زندانو په تړاو د تفاهم‌لیک لاسلیک

افغان حکومت ته د افغانستان دننه د امریکایي زندانونو د لېږدولو په باب تفاهم‌لیک په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال جان الن او د افغانستان د ملي دفاع د وزیر جنرال عبدالرحیم وردګ لخوا د ۱۳۹۰ کال د کب په میاشت کې چې د ۲۰۱۲ د مارچ له میاشتې سره سمون خوري لاسلیک شو. حامد کرزي دا یو برى باله. مثلاً کله به چې ما د یوې مادې په اړه او یا د تفاهم‌لیک د مشخصو کلمو په باب نظر څرګنداوه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب کې به یې راته ویل: دا مهمه نه ده، دلته راغلي چې د افغانستان له قوانینو سره سم او دا چې نور امریکا په افغانستان کې د زندانونو درلودلو حق نه لري همدغه کافي ده". د ولسمشر په اند دا لومړی ګام و او د هغو پر بنسټ د نورو اقداماتو لپاره زمینه برابرېده.
د دې تفاهم‌لیک د دوهم فصل په درېیمه ماده کې راغلي وو چې: " د امریکا متحده ایالات تصدیق کوي، چې تر دې وروسته د افغانستان په خاوره کې هېڅ زندان نه لري او دا چې د همدې تفاهم‌لیک پر بنسټ به ټول زندانونه چې د افغانستان په خاوره کې یې لري افغانانو ته سپاري" خو د دې تفاهم‌لیک په پنځمه ماده کې د زندانونو د ساتنې او اداري توقیف په تړاو د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د کنوانسیون او د هغو د دوهم نمبر الحاقي پروتوکول پر اساس خبره شوې وه. د تفاهم‌لیک په نورو برخو کې بیا بیا د نړیوالو بشر دوستانه قوانینو او د بندیانو د حقوقو رعایت یادونه شوې وه. دغه یادونې ځکه ډېرې د خندا وړ وې چې امریکایانو د بګرام زندان په یوه ګوښه کې یو بل زندان د تور زندان په نوم هم درلود چې هلته تر ټولو بدې شکنجې او ځورونې ترسره کېدلې. د دې برخې بندیان چې یو یو ساتل کېدل په میاشتو میاشتو په شپه او ورځ نه خبرېدل. د استاد قاضي په وینا داسې هم وو چې تر ۱۶ تنو پورې یې په یوه کاسه کې ډوډۍ خوړه. وروسته د دوسیو له څېړنې معلومه شوه، چې هلته داسې کسان هم وو چې هېڅ دوسیه یې نه درلوده او په لیکلي بڼه یې پوښتنې نه وې ترې کړې یا کلونه بې برخلیکه هلته پراته وو. د سارې په توګه د برخلیک ټاکلو او د بګرام د زندانیانو د دوسیو د تسریع کمېټې په خپل یوه راپور کې چې د ۱۳۹۲ کال د وري پر ۲۴ مه یې زما دفتر ته رااستولی و لیکلي وو: "... ګلالي نومي ۲۰۱۰۹ نومره توقیف شوی شپږ کاله او ملا زربت ۳۵۷۶ نمبر توقیفي پنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله موده د بګرام په زندان کې بې برخليکه تېر کړي دي ..." د تور د دلايلو نشتوالي په دليل د جزا قانون د ۴ مې مادې او د اساسي قانون د ۲۵مې مادې مطابق بري الذمه او د خوشي کولو حکم يې صادر شو ..." يادې کمېټې له امريکايانو نه د شکايت په ترڅ کې په دې راپور کې ليکلي وو چې هغوی ياد شوي کسان خوشي نه کړل او همداسې زنداني پاتې شول.

ښاغلي عبدالشکور دادرس چې د دې کمېټې غړی و يو ځل د يوه ځوان په باب چې د ارزګان و او د بهرنيانو لخوا په هماغه ولايت کې نيول شوی و کيسه وکړه. نوموړي ځوان ځلور کاله بې برخليکه په زندان کې تېر کړل. د دادرس د راپور پر بنسټ د دې ځوان په دوسيه کې له يو شمېر طالب قوماندانانو سره د هغه د اړيکو په تړاو پوښتنې وې، خو په ځواب کې يواځې يوه پوښتنه تکرار شوې وه: "مېرمن مې چېرته ده؟" کمېټې له څېړنو وروسته ځوان بې ګناه وباله او د خوشي کولو حکم يې وکړ. ولسمشر وروسته له هغه سره په تيلفون خبرې وکړې، له مقدمې پرته يې د مېرمنې پوښتنه ترې وکړه او دا چې څه پرې تېر شوي وو. ارزګاني ځوان چې اوس له خپلې کورنۍ سره و کيسه وکړه، چې له واده وروسته يې چې کله وپوهېد چې مېرمن يې اولاد لري اراده يې وکړه چې هغه زيارت ته بوځي، دواړه پر موټرسايکل زيارت ته لاړل، د بېرته راستنېدو پر مهال په يوه دښته کې د دوی دواړو لوريو ته دوې هليکوپترې کيناستلې، بهرني عسکر ترې راکوز شول او دوی يې را ايسار کړل. عسکرو د ځوان لاسونه تر شا وتړل او په هليکوپتر کې يې يو نامعلوم ځای ته او له هغه ځايه بګرام ته راوړی و. هغه له هماغې ورځې راهيسې له خپلې کورنۍ نه نا خبره و او نه پوهېده چې په ځوانه مېرمن يې څه تير شوي دي. ځکه يې د څارنوال د هرې پوښتنې په ځواب کې ويلي وو چې مېرمن مې چېرته ده؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزګاني ځوان له خوشي کېدو وروسته چې کور ته ستون شو مېرمن يې روغه په کور کې موندلې وه، ځکه بهرنيانو عسکرو هغه پر هماغه ځای پرېښې وه، چې له څو ساعته تېرېدو وروسته د مساپرو ډک موټر پرې ورغلی و او هغوی ځوانه او وېرول شوې مېرمن خپل کور ته استولې وه. پر دې سربېره د بنديانو په منځ کې ډېر ماشومان او بوډاګان هم وو.

د لعل ګل لعل په مشرۍ د افغانستان د بشري حقونو سازمان او د نيولو شويو کسانو کاري ګروپ د پنځمې مادې په باب اندېښنه ښودله، ځکه چې په اداري توقيف کې نيول شوي کسان له تور څخه د خبرېدو حق، د محاکمې حق او مدافع وکيل ته د لاسرسي حق نه لري. دوهم لمبر الحاقي پروتوکول او اداري توقيف وروسته په ډېرو لانجمنو مسايلو بدل شول. په داسې بڼه چې د افغانستان حکومت ته يې د بګرام زندان سپارل ډېره موده وځنډول او د ولسمشر کرزي او د امريکايانو اړيکې يې تر وروستي بريده تياره کړې.

کله چې د تفاهم‌ليک مسوده چمتو شوه ولسمشر کرزي په دقت هغه ولوسته، څو ځله يې په هغو کې اصلاحات راوستل. په هغه غونډه کې چې په همدې تړاو يې له سفير راين کراکر او جنرال جان الن سره درلوده د شپږ مياشتني مهلت په باب چې امريکايانو غوښتی و چې بايد د بګرام زندان د دوی په واک کې وي اوږده بحثونه وشول. نوموړي د امريکا سفير او قوماندان ته وويل چې امريکا پوهېږي چې ملاعمر په پاکستان کې دی خو دوی بيا هم اسلام‌اباد ته پيسې ورکوي. ولسمشر د جنرال الن په ځواب کې وويل: چې له امريکا سره د ستراتيژيکو همکاريو د سند له لاسليک سره سم به امريکايانو ته د شپنيو عملياتو او د افغانانو د بنديانولو حق ور نه کړم.

په هغو ورځو کې د امريکا او د افغانستان ترمنځ د اوږدمهاله ستراتيژکو همکاريو د يوه تړون پر سر خبرې اترې روانې وې. ولسمشر کرزي يادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو امریکایي چارواکیو ته وویل: ” هغه مهال رارسېدلی چې عزت او خوندیتوب د افغانانو کورونو ته راستون شي. په کوم ډول چې ستاسو ولسمشر د امریکایانو د کورونو او ژوند ساتنه کوي په همغه ډول دنده لرم چې د افغانانو کورونه خوندي کړم، که هر څومره بې وزلي دي خو کورونه دي“.

د تفاهم‌لیک له لاسلیک وروسته ولسمشر د دفاع وزیر ته دنده وسپارله چې یو وطندوست او پاک نفسه جنرال پیدا کړي چې د نظامي پولیسو د قوماندانۍ او د بگرام زندان دنده پر غاړه واخلي. جنرال عبدالرحیم وردگ خپل یو شاگرد چې د برید جنرالۍ رتبه یې درلوده، ولسمشر ته معرفي کړ او وې ویل چې زه پر دې سړي بشپړ اعتماد لرم. د دغه جنرال نوم غلام فاروق بارکزی و. د هرات اوسېدونکی و او اوږده ږیره یې درلوده. نوموړي وروسته ثابته کړه چې په ریښتیا وطندوست انسان دی. نوموړي خپله دنده په ډېر صداقت سره تر سره کړه. نه تمو ورکولو ته تسلیم شو او نه گواښونو او زور ته. د تفاهم‌لیک په شپږمه ماده کې ویل شوي وو چې د ملي اردو یو ډگر جنرال باید د بگرام زندان عمومي قوماندان شي. جنرال بارکزي ته یې سمدستي ترفیع ورکړه او تورنجنرال شو، خو چې کله بسم الله خان د ملي دفاع وزیر شو، د ښاغلي بارکزي په غوښتنو او زما د سپارښتنو او د ولسمشر په شفاهي هدایت سربېره یې هغه ته د ډگرجنرالۍ رتبې له ورکولو ډډه وکړه او بېلابېلې پلمې به یې کولې.

په لومړنۍ غونډه کې چې جنرال فاروق بارکزي له ولسمشر کرزي سره د راپور وړاندې کولو په اړه درلوده نوموړي داسې وویل: ”د دې بلاکونو یانې لومړی، درېیم او شو بلاک بهرنیان موږ ته هېڅ نه راښایي (...) په بگرام کې کانالیزاسیون نشته او فاضله مواد هره ورځ تشېږي، سره له دې چې ښاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریښنا شته خو له جنراتورونو نه کار اخیستل کېږي او تېل یې ډېر گران لوېږي، په بگرام کې د اوبو ځانگړې ذخیرې نشته او هره ورځ اوبه په ټانکرونو کې راوړې ... ". ولسمشر وروسته د چارو ادارې او سترې محکمې ته دنده وسپارله چې هر یو د خپلو کاري څانگو په لړ کې د بگرام زندان اداري ستونزې حل کړي.

جنرال فاروق بارکزي د ۲۰۱۲ کال د اپریل پر ۲۰ مه عدلي او قضایي مجلس او د بگرام زندان د لېږد د طرزالعمل او مدیریت د تطبیق ځانگړي کمېسیون ته ور وپېژندل شو. ښاغلي بارکزي په دې غونډه کې وویل: تخصصي کمېټې خپل تیاری ښودلی دی چې په یوه اونۍ کې به ۱۵۰ دوسیې ولولي، خو بهرنیان وایي چې دوی حاضر دي چې په اونۍ کې یواځې ۴۵ دوسیې د نوموړي کمېټې په واک کې ورکړي. نوموړي یو ځل بیا د امریکایانو له چلند څخه د شکایت په ترځ کې وویل: " په بگرام کې ډېرې ودانۍ لرو خو د هغو کیلي گانې له موږ سره نشته" دغه مهال ډاکټر سپنتا د امریکایانو پیغام په دې ډول غونډې ته ولېږداوه: " امریکایان وایي چې د افغانانو کار په بگرام کې په سستۍ روان دی" د هغو معلوماتو له مخې چې نصرالله ستانکزي غونډې ته وړاندې کړ، امریکایانو درې زره دوسیې په لاس کې درلودې چې په انگلیسي لیکل شوې او ټولو ژباړلو ته اړتیا درلوده.

د بگرام زندان عمومي قوماندان بارکزي د جون پر ۱۹ مه عدلي او قضایي غونډې ته چې د گلخانې په ماڼۍ کې جوړه وه د اداري توقیف موضوع مطرح کړه وې ویل چې امریکایان پر دې ټینگار کوي چې د موافقو پر اساس باید اداري توقیف اجرأتو ته وړاندې شي. استاد قاضي یې په ځواب کې وویل: " زموږ په قانون کې اداري توقیف جواز نه لري او یاده موضوع په تفاهم‌لیک کې په داسې بڼه راغلې چې بندیان کوم وخت د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت ته سپارل کېږي باید د دوهم لمبر الحاقي پروتوکول د موادو له مخې وساتل شي نه د اداري توقیف پر اساس". جنرال الن د اګست پر ۲۹ مه له جنرال فاروق بارکزي نه ولسمشر ته شکایت وکړ وې ویل چې نوموړی ویلي چې د افغانستان حکومت ته د زندان د بشپړ لېږدولو نه وروسته دوهم لمبر پروتوکول د تطبیق وړ نه دی. هغه له دې اړخه اندېښنه وښوده. دا هغه مهال و چې موږ د زندان سپارلو نېټې ته چې باید د سپتمبر په لومړی لسیزه کې ترسره شوی وای نږدې کېدو.

څو ورځې وروسته جنرال بارکزی ولسمشر ته راغی او خبر یې ورکړ چې امریکایانو د تفاهم‌لیک له لاسلیک وروسته د نورو کسانو په نیولو لاس پورې کړی دی، نوموړي زیاته کړه چې د تفاهم‌لیک له لاسلیک وروسته یې تر اوسه ٦۳۰ تنه نوي نیولي او زندان ته یې راوړي. په داسې حال کې چې د انتقال پروسه یې هم ځنډولې ده. نوموړي وویل چې تېره شپه یواځې دوه تنه د امریکایانو لخوا افغاني لوري ته وسپارل شول. ډاکټر سپنتا وویل چې امریکایانو سرغړونه کړې، چې نور کسان یې نیولي او موږ دا سرغړونه کړې چې دوهم لمبر پروتوکول نه منو او بندیان خوشي کوو. ولسمشر په ټینګار وویل چې د سپتمبر پر ۹ مه نېټه باید زندان په بشپړ ډول افغانانو ته وسپارل شي او نور پر دې د بحث لپاره ځای نشته.

په داسې حال کې چې د ګلخانې ماڼۍ د کابینې په اطاق کې د سپتمبر پر ۴ مه د بګرام زندان د انتقال په تړاو د تیارۍ غونډه جوړه شوې وه. ولسمشر هدایت ورکړ چې دغه انتقال باید د فوق العاده او عالي مراسمو په ترڅ کې ترسره شي. د دفاع وزارت مرستیال ښاغلي نظري وویل:« بګرام پوځي ځای دی، قطعه باید وړاندې شي او د افغانستان بیرغ اوچت شي». ډاکټر مدبر د چارو اداري رییس د دغه بریا چې له ډېر زحمت وروسته لاسته راغلې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو او ولسمشر ته مبارکي ورکړه. په دې ډول نورو هم خوښي وښودله او د دې بریا مبارکي یې وویله. ولسمشر چې د بګرام زندان د انتقال لپاره یې سخته مبارزه وکړه او په هغه کې یې ډېر لږ ملګري درلوده وې ویل: « په انګریزي کې یو متل دی، چې ناکامي یتیمه ده او بریا څو پلرونه لري». د نوموړي اشاره هغو کسانو ته وه چې په دغه سخته مبارزه کې یې د امریکایانو لوری نیولی و او په سختو ورځو کې یې له خپلو هېوادوالو نه د دفاع همت ونکړای شو. د ټاکل شوې ورځې نه یوه ورځ مخکې یانې د سپټمبر پر ۸ مه جنرال الن او سفیر کراکر د ولسمشر دفتر ته راغلل. د انتقال د پروسې په اړه له لنډو خبرو وروسته جنرال الن خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ: « ... زه د بګرام زندان په اړه، د دوهم لمبر پروتوکول په اړه او بالاخره د هغو بندیانو په اړه چې نوي نیول شوي دي سخته اندېښنه لرم. ستاسو شپږو ادارو له موږ سره یو تفاهم‌لیک لاسلیک کړی دی، خو جنرال فاروق له همغې لومړۍ ورځې ویل چې دوهم لمبر پروتوکول نه منم. هغه په خپله احکام صادروي. د بشري حقونو د دفاع سازمانونه اندېښنه لري».
ولسمشر یو ځل بیا دانتقال د ورځې د مراسمو د غوره ترسره کولو ټینګاروکړ او نه یې غوښتل چې د جنرال الن د اندېښنې ځواب ورکړي اوپه دی تړاو نوی بحث پرانیزي.جنرال الن چې د هرې شېبې په تېرېدو په غوسه کېدو وویل ښایي د انتقال په مراسمو کې ګډون ونه کړای شي هغه زیاته کړه چې هغه تفاهم‌لیک چې ده لاسلیک کړی اجرا شوی نه دی ولسمشر یې په ځواب کې وویل چې د دوهم لمبر پروتوکول موضوع به افغان لوري ته د زندان له بشپړ انتقال وروسته په عدلي او قضایي کمېسیون کې تر غور لاندې ونیول شي. خود جنرال الن غږ اوچت شو او په غوسه یې وویل پر هغو مخکې توافق شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزي ووېل: «بل دا چې ډېر بې ګناه خلک هلته بندیان دي»
جنرال الن: « ټول مو لېږدولي دي څه شی پاتې نه دي.»
ولسمشر کرزی: «د زندان لېږدول یوه پایته رسېدلې مساله ده.»
جنرال الن:( "خپل غبږ نور هم اوچت کړ او په خپل لاس کې دوسیه یې تونده او په غوسه وتړله) «تاسو ناکام پاتې یاست.»
ولسمشر کرزی: «بهرنیان نور د بندیانو نیولو حق نه لري.»
جنرال الن، راین کراکر ته مخ واړوه «ښاغلی سفیر دغه خبرې بې پایلې دي.»
ولسمشر کرزی: «افغانستان باید له اشغال نه وژغورل شي.»
جنرال الن: (په داسې حال کې چې اوچتېده) «له وخت نه مو مننه!»
سفیر راین کراکر: «زندان به انتقال نه شي.»
ولسمشر کرزی: «که انتقال نه شي نو ډېرې ستونزې به جوړې شي.»
جنرال الن: «بالاخره تاسو توافق لیک منئ که نه؟»
ولسمشر کرزی: «انتقال به د دوشنبې په ورځ خامخا ترسره کېږي.»
په دې ډول هغه غونډه چې په لانجمنه فضا کې د جنرال الن له سپکاوي په ډکو حرکتونو او لوړ غږ دوام درلود، د ولسمشر په لنډو ځوابونو او غوسه ناکه لهجه پای وموند. موږ نه پوهېدو چې امریکایان به څه تصمیم ونیسي. خو هغه څه چې روښانه وو دا وو چې ولسمشر دا تصمیم نیولی چې دغې مبارزې ته به تر وروستي بریده دوام ورکوي.
په همدې ورځ ماسپېښین مهال زه په خپل دفتر کې وم چې د ولسمشر له سکرتریت نه زنګ راغی او زه یې په بیړه ګلخانې ته ور وبللم. ولسمشر په خپل دفتر کې یواځې و. چې څنګه ورننوتم یوه پاڼه یې په لاس کې وه ما ته یې راکړه او وې ویل: «ولوله چې څه وایي». په کاغذ کې د یوه پیغام متن وه چې د ایمیل په واسطه د داسې چا لخوا چې ګواکې د ایساف له افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړنو څخه یو څوک و په نیویارک کې د افغانستان نماینده ګۍ ته استول شوی و. په متن کې لیکل شوي و چې ګواکې جنرال الن غواړي ولسمشر د خپل یوه ساتونکي په لاس ووژني. ولسمشر زما نظر وغوښت، ورته مې وویل: دا د مرګ ګواښ دی چې د سهارنۍ غونډې په پایله کې شوی دی. ومې ویل چې ښایي موخه یې وېرول وي. ولسمشر وروسته ډاکټر سپنتا او بیا (د ولسمشر ساتونکیو" پي پي اس رییس جمیل بهرامي او اسدالله خالد د ملي امنیت رییس هم د مشورې او لازمو تدابیرو د نیولو لپاره خپل دفتر ته راوغوښتل. په هغه ورځ ولسمشر کرزی تر ماښام مخکې یانې تر معمول وخت وړاندې له خپل دفتر نه کور ته ستون شو. ارګ په هغه ورځ ډېر آرام و، نه د کومې مېلمستیا شور و او نه غونډه په کومې ودانۍ کې جوړه وه. موږ ټول د یوې پېښې په انتظار وو، نه پوهېدو چې څه د چا لخوا پېښېږي، ایمل فیضي او ما دغه جریانات رسنیز کړل.

په سبا یې فرانسوي جنرال دوبانیشوف زما دفتر ته راغی او د پرون ورځې پر جریان یې خپګان وښود. په تېره پر دې چې جزیات یې رسنیو ته راوتلي وو. د ده په وینا چې امریکایان ډېر په غوسه شوي وو، ځکه چې جنرال الن ویلي وو چې پرېکړه داسې نه وه چې دغه جریان رسنیو ته ویل شوی وای. فرانسوي جنرال ګیله وکړه او وې ویل چې ولسمشر پرون امریکایان څو ځله اشغالګر بللي وو. هغه وویل: جان مکین به د یوې اونۍ په اوږدو کې افغانستان ته راشي. هغه یو د نفوذ خاوند یو شخص دی او همدا اوس یې د امریکا د دفاع وزارت په نوم یو لیک استولی دی چې که افغانان دوهم لمبر پروتوکول نه مني نو باید د ستراتیژیکو همکاریو په تړون له سره غور وکړي. جنرال زیاته کړه: "... موږ بندیان ولېږدول، یواځې پنځوس تنه بهرني بندیان او یو شمېر هغه بندیان چې ډېر خطرناک وو پاتې دي. لکه د حقاني ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به هم ولېږدوو خو امریکا باید وکولای شي چې بشپړه څارنه وکړي.
جنرال په پای کې ما ته په خطاب کې وویل: ... که ولسمشر غواړي موږ ځوک بندیان نه کړو، دا ناشونې ده، ځکه چې موږ عملیات کوو، چې خلک وژغورو... ته داسې ځوک یې چې وضعه ښه کولای شې. لطفاً دغه کار وکړه او ډاډه اوسه چې سبا په انتقال کې ستونزه نشته او ترسره به شي".
د بگرام زندان د انتقال مراسم که څه هم لږ وځنډېدل خو د ولسمشر په وینا بالاخره "په ناخوښۍ او بده بڼه" ترسره شول. په هغه غونډه کې چې د دې مراسمو په سبا په گلخانې ماڼۍ کې جوړه شوه او په هغو کې ښاغلی بها د سترې محکمې سرپرست، د عدلیې وزیر حبیب الله غالب، لوی څارنوال محمد اسحاق الکو، د ولسمشر حقوقي سلاکار نصرالله ستانکزی، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون رییس استاد قاضي، د عدلیې وزارت معین سید یوسف حلیم، د کورنیو چارو معین جنرال عبدالرحمان رحمان، د بگرام زندان قوماندان جنرال بارکزی، د ملي امنیت سلاکار ډاکټر سپنتا، د چارو د اداري رییس ډاکټرصادق مدبر، د ولسمشر ویندوی ایمل فیضي او زه (عبدالکریم خُرم) حاضر وو. ولسمشر ټولو ته په خطاب کې وویل چې ډېر مو خپلو چارو ته پام وکړئ، ځکه چې امریکایان به د دې بریا د ناکامولو لپاره له هرې وسیلې نه کار اخلي، نوموړي له زندانیانو سره د بشري حقونو پر رعایت ډېر ټینگار وکړ. د همدغې ورځې په ماښام چې د سپټمبر ۱۱ مه وه د ولسمشر د کار په دفتر کې راټول شوي وو چې په دې تړاو پر هغه اعلامیه بحث وکړو، چې په دې برخه کې خپرېدله. ډاکټر سپنتا ټینگار کاوه چې د اعلامیې لهجه باید نرمه وي او په هغو کې د امریکایانو د قربانیو ستاینه وشي. نوموړي دوام ورکړ: " بده او تونده لهجه باید په اعلامیه کې ونه کارول شي، تاسې انتخابي ولسمشر یاست، بده لهجه ښه نه ده". ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دولت له جګپوړيو چارواکيو په تېره د ملي امنيت سلاکار نه د بګرام زندان د واک ترلاسه کولو او د امريکايانو د ځپلسريو عملياتو د مخنيوي په مبارزه کې د نه همکارۍ په دليل خپه او غوسه و، په ځواب کې وويل: "زه ولسمشر نه، بلکې د دې مزدور حکومت رييس يم. زه ولسمشر نه بلکې د مزدورانو باشي يم". نوموړي دغه جملې څو ځله تکرار کړې.

د هغې ورځې په سبا مو د ولسمشر د کار په دفتر کې له جنرال جان الن او "جيمز کننګهم" سره چې نوی له مرستيال سفير څخه سفير شوی و ليدنه درلوده. ولسمشر جنرال الن ته وويل، راپور ورته رسېدلی دی چې تراوسه ټول شيان افغان لوري ته نه دي سپارل شوي. هغه زياته کړه چې امريکا نور د افغان د زنداني کولو حق نه لري.

جنرال يې په ځواب کې وويل چې موخه يې د افغان بنديانو ساتل نه دي خو هوکړه ليك دوی ته دا اجازه ورکوي چې تر څه وخته هغوی له ځانه سره وساتي. ولسمشر ترې وپوښتل چې آيا امريکايان د دې جګړې د پای ته رسېدو نېټه لري او کنه؟ جنرال الن په ځواب کې وويل: هوکې! د ۲۰۱۴ ز کال پای. ډاکټر سپنتا مداخله وکړه وې ويل چې دا د هغه ماموريت موده ده چې ملګرو ملتونو امريکا يانو ته ورکړې ده . تر هغو وروسته په ډېره ترينګلې فضا کې د ولسمشر او جنرال الن ترمنځ دغه سوال او ځواب دوام وموند.

ولسمشر کرزی:« بالاخره ستاسو دښمن څوک دی؟»

جنرال الن: «طالبان او القاعده!»

ولسمشر کرزی: «آيا دغه په زرګونو افغانان مو چې د دغو اوږدو کلونو په موده کې بنديان کړي دي هغوی ټول دښمنان وو؟ پټنځايونه خو په پاکستان کې دي. لنډه دا چې د تفاهم‌ليک له لاسليک وروسته موږ ته دا مهمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسو به تر دې وروسته افغان بندي نه لرئ. چې ډېر وي تر ۷۲ ساعتونو پورې باید نیول شوی کس د افغانستان دولت ته وسپارئ له میاشتو میاشتو ساتلو وروسته نه. »

جنرال الن :« تفاهم‌لیک موږ ته اجازه را کوي، ۷۲ ساعته یاد شوي وو خو منل شوي نه وو»

ولسمشر کرزی:«خو افغانستان اجازه نه شي ورکولای چې خلک یې د امریکایانو له لوري ونیول شي او زندان ته یې واچوي. دغه مساله باید حل کړای شي. که تاسو غواړئ چې موږ یو ځل بیا دغه باب پرانیزو چې د بندیانو په نیولو بحث وکړو، دا به وکړو خو ستاسو په ګټه به نه وي، ستاسو دغه کارونه د اشغال په مانا دي.»

جنرال الن: «موږ د دغه «اشغال» لفظ په کارولو کې ډېر پام کوو»

ولسمشر کرزی: «د زندان درلودل په همدې مانا دی. همدغه اشغال دی او دا امنیتي حالت خرابوي د ستراتیژیکو همکاریو تړون له لاسلیک وروسته عملاً امنیت خراب شوی دی.»

جنرال الن: «تفاهم‌لیک نه وایي چې موږ نور کسان نیولی نشو.»

ولسمشر کرزی: «نو که دغه موضوع څرګنده نه ده بیا باید سره کښېنو او پر بل تفاهم‌لیک خبرې وکړو. لوېدیزې رسنۍ همدا اوس په منظم ډول د افغانستان حکومت او ملي اردو یې او د دوی یووالی تخریبوي.»

جنرال الن:«آیا تاسو دا زموږ حکومتي کمپاین ګڼئ؟»

ولسمشر کرزی: « نه پوهېږم خو عملاً زموږ د حاکمیت او یووالي تخریب روان دی. دغه وضعیت به نه امنیتي تړون ته ګټه وکړي او نه ستراتیژیک تړون ته او تاسو ته باید ووایم چې مهرباني وکړئ نور ګواښ مه کوئ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال الن: «موږ په جګړو کې بندیان نیسو او د دوهم لمبر پروتوکول پر بنسټ هغه راسره ساتو، موږ ګوانې نه کوو»
ولسمشر کرزی: «موږ دوستي غواړو، د پیسو په غم کې نه یو، د پیسو خبرې یا له پاکستاني جنرالانو سره کوئ او یا له عربي شیخانو سره. لنډه دا چې هیڅ افغان د هیڅ کوم امریکایي په لاس باید زنداني نه شي»
جنرال الن: « له حاکمیت سره مسوولیت هم وي»
ولسمشر کرزی: « نور د هیڅ زنداني د ساتنې حق نه لرئ او کوم کسان چې نیول کېږي په هیڅ صورت یې هم تر ۷۲ ساعته زیات ساتلی نه شئ. د خپل خیر لپاره هم نور باید د افغانانو له نیولو لاس واخلئ. زه به نن شپه په دې باره کې له اوباما سره خبرې وکړم. زه د امریکایانو په لاس د یو افغان زنداني کېدل هم نه شم منلئ. زه دا اجازه نه شم درکولی چې کوم افغان دې دلته د بهرنیانو له لاسه زنداني وي نه ستاسو ګواښونه او د مشرانو وژل په کوم ډول چې (پیټریوس) کول هیڅ یو یې ګټه نه لري.»
سفیر کننګهم: « تاسو ګواښ څه ته وایاست؟»
ولسمشر کرزی: «کوم څه چې ستاسو پوځیان یې په منظم ډول ترسره کوي.»
سفیر کننګهم:« موږ ګواښ نه کوو، موږ ستاسو دوستان یو.»
ولسمشر کرزی: « تاسو زموږ دوستان نه یاست»
سفیر ګننګهم: «دغه ګواښ نه دی، دا ناسته ده او د ستونزو حل کول دي، ترڅو زموږ او ستاسو خلک خوندي وي.»
ولسمشر کرزی:« خو افغانان خوندي نه دي، په ځانګړې توګه د ستراتیژیک تړون له لاسلیک وروسته. همدا نن بندیان بشپړ موږ ته وسپارئ. دا زموږ د حاکمیت مساله ده، که نه اعلانوم یې، له ځنډ پرته همدا نن. مننه!»
ولسمشر له ځایه جګ شو او غونډه پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه موده کې چې د بګرام زندان پر سر جنجال ډېر توند روان و. له شمالي ولايتونو نه موږ ته راپوررونه راتلل چې يو شمېر امريکايي مامورين هلته سفرونه کوي او د مجاهدينو له پخوانيو قوماندانانو او د هغو ولايتونو له يو شمېر ځواکمنو کسانو سره ګوري. هغوی په دې ليدنو کې له فدرالي نظام نه خبرې کوي. همدارنګه د امريکا يو شمېر تقاعد شوي او برحال چارواکي په دوو يا څو برخو د افغانستان د وېشلو بېلابېلې نظريې وړاندې کوي. (ډانا روراباکر) د امريکا د کانګرس غړي په خپل نوبت يو لړ تحرکات پيل کړي وو او د افغانستان د سياستوالو د هغوی له جملې له احمد ضيا مسعود، حاجي محمد محقق او جنرال عبدالرشيد دوستم سره يې يو لړ ناستې جوړې کړې. هلته هم د افغانستان لپاره د فدرالي نظام خبره مطرح شوې وه. د کانګرس د دغه غړي لاس وهنې تر دې بريده ورسېدې، چې ولسمشر کرزي نوموړی په داسې حال کې چې دوبۍ ته راغلی و او غوښتل يې افغانستان ته راشي ممنوع الدخول وګرځاوه.

بل لوري ته د همدې لانجو په بهير کې طالبانو د بګرام هوايي ډګر په توغنديو وويشت او په هلمند کې يې د انګليسانو په ستره اډه چې امريکايان هم پکې وو يانې د شوراب د (باستين) پر اډه دروند بريد وکړ. بهرنيو ځواکونو په دې بريد کې لس الوتکې، څلور هنګرونه او دوې د تېلو زېرمې له لاسه ورکړې. د ناټو د چارواکيو پر قول د له منځه وړل شويو الوتکو له جملې څخه دوه وزره جيټ الوتکې هم وې، چې د څرخيو په څېر ځای پر ځای هوا ته پورته کېدې. همدغه مهال کله چې په امريکا کې د اسلام سپېڅلي پيغمبر ته له سپکاوي ډک فيلم وښودل شو، په هلمند او زابل کې پر بريټانوي پوځيانو بريدونو هغوی ته مرګ ژوبله واړوله او اته تنه يې ووژل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه بحراني وضعیت کې سفیر، (مارک گروسمن) د افغانستان لپاره د امریکا ځانگړی استازی او «جنرال لوت» د امریکا د ملي امنیت د سلاکار مرستیال کابل ته راغلل او د سپټمبر په شپاړسمه یې له ولسمشر سره د ده د کار په دفتر کې وکتل. د بحث موضوعگانې له طالبانو سره سوله، له هند سره درې اړخیزې خبرې، امنیتي تړون او د بگرام زندان وې. ولسمشر د امریکا د رسنیو تبلیغاتو او د امریکایي سیاستوالو لخوا د مرکزي حکومت د کمزوري کولو او په افغانستان کې د فدرالي نظام د راوستلو له هڅو نه شکایت وکړ. هغه یو ځل بیا وویل چې بهرنیان حق نه لري، چې افغانان بندیان کړي او له ځانه سره یې وساتي او که بیا کوم افغان د دوی له خوا ونیول شي، نو باید په ۷۲ ساعتونو کې هغه افغان چارواکو ته وسپاري.

ولسمشر، گروسمن او جنرال لوت ته په خطاب کې وویل چې یواځې یوه وړوکي لړه کې په افغانستان کې د امریکا له شتون نه گټه اخیستې ده او اکثریت خلک له هغوی نه په عذاب دي. سفیر جیمز کننگهم وویل چې د ۶۰۰ بندیانو په شا او خوا کې چې تر اوسه له امریکا سره دي، ډېر ژر به د افغانستان حکومت ته وسپارل شي، جنرال الن زیاته کړه هغه وخت یې افغان لوري ته د بندیانو سپارل ودرول چې وایې وریدل چې افغانان دوهم نمبر پروتوکول نه مني. ولسمشر وویل چې د یاد پروتوکول موضوع به د افغانستان حقوق پوهان ولولي، خو دا یې وویل چې امریکایانو په دغه ډول چلند افغانان عملاً برمته کړي دي. نوموړي وویل: امریکایان په زور کوم څه پر افغانانو نه شي تپلی او زیاته یې کړه " دا زموږ ترمنځ یو فرهنگي توپیر دی(...) ستراتیژیک تړون د دوو خپلواکو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوی و. سمه ده چې موږ ټانگ، الوتکې او مرمۍ نه لرو، موږ بې وزلي او تاسو شتمن یاست، خو موږ دواړه خپلواک هېوادونه یو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته په عدلي او قضايي غونډه کې چې په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه او په هغو کې د عدلي او قضايي ادارو چارواکي او د دولتي ادارو حقوق پوهان حاضر وو. استاد ګل رحمان قاضي په ۱۹۴۹ کال د ژنيو د کنوانسيون د دوهم نمبر الحاقي پروتوکول په باب معلومات ورکړل او د هغو متن يې ولوست. نوموړي وويل چې په ناحقه هره ورځ دغه پروتوکول زموږ مخې ته راپورته کوي. دوهم نمبر پروتوکول وايي چې څوک په اداري توقيف کې و، څه ډول چلند بايد ورسره وشي. ښاغلي حليم هم همدغه خبره تاييد کړه. ډاکټرسپنتا چې په همدې مساله کې په يوه غونډه کې زما په حقوقي پوهه شک ښودلی و او له سپکاوي ډکې کلمې يې کارولې وې، د دې نظرياتو له وړاندې کېدو او د پروتوکول د محتوا له بربنډېدو سره وارخطا شو او غوښتل يې چې خپلې پخوانۍ خبرې او دريځونه يې توجيه کړي.

په هغه ويډيويي کنفرانس کې چې د سپتمبر په ۱۹ مه د امريکا او افغانستان د ولسمشرانو ترمنځ ترسره شو، په نورو مسالو سربېره د بګرام زندان موضوع هم مطرح شوه. ولسمشر کرزي په امريکايي عسکرو د افغان سرتيرو بريدونو ته په اشارې وويل چې دا ټول د ملکي مرګ ژوبلې او د امريکايي پوځيانو د ناسمو کړنو پايله ده. نوموړي د هېواد وضعيت د شوروي اتحاد له يرغل سره يو شان وباله او وې ويل: «زه به دا ومنم چې د يو فاسد حکومت مشر وبلل شم، خو دا به ونه منم چې د يوه ظالم حکومت مشر وم، نو بايد د زندان او د خلکو د ځورولو او ازارولو مساله پای ومومي...» د افغانستان قوانين د اداري توقيف اجازه نه ورکوي دوهم لمبر پروتوکول هم له زندانيانو سره د چلند په باب خبرې کوي نه د اداري توقيف، ځکه خو زموږ خلک خوشي کړئ. که تاسو دلته زندانونه ولرئ موږ ته به څوک خپلواک ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویلی شي. ستاسو ساتنه موږ ته مهمه ده، خو زموږ دغه ۶۰۰ تنه د دې لپاره مه زنداني کوئ".

اوباما د بګرام زندان په باب دوې میاشتې نور مهلت وغوښت، ترڅو امریکایان پر هغو نور کار وکړي او په پوځي او دیپلوماتیکو برخو کې هغو ته حل لارې ومومي. اوباما زیاته کړه: "دا راته سخته ده چې د امریکا خلکو ته ووایم: داسې کسان خوشي کوو چې تاسو وژني".

ولسمشر کرزي په غیر مستقیم ډول د اوباما د دوه میاشتني مهلت غوښتنه رد کړه او وې ویل: «راځئ د زندانیانو په باب سمدستي لاس په کار شو او دوې میاشتې وروسته به د مهمو ستراتیژیکو مسایلو په باب خبرې وکړو.

ولسمشر وروسته له عدلي او قضایي مسوولینو سره د دوه میاشتني مهلت په باب مشوره وکړه. پرېکړه پر دې شوه چې دغه مهلت امریکا ته ورکړای شي، ځکه چې حامد کرزي ویل زموږ ستونزه له واشنګټن سره سیاسي ماهیت لري او زموږ له ملي حاکمیت سره تړاو لري، بل لوري ته چې کله امریکایي جنرالان د خپلو ناغېړیو په سبب د افغاني چارواکو له خوا تر پوښتنې لاندې راتلل، نو ویل به یې چې دغه مساله باید دواړه ولسمشران په خپلو کې حل کړي. په دې موده کې ان هغه بندیان چې برائت یې اخیست هم نه خوشي کېدل. د هغو معلوماتو له مخې چې لوی څارنوال ښاغلي الکو د نومبر په ۱۸ نېټه په ګلخانه ماڼۍ کې غونډې ته وړاندې کړ، د دوی ادارې د څلور سوو تنو بندیانو د خوشي کېدو حکم امریکایي چارواکو ته سپارلی و، خو هغوی یو تن هم نه و خوشی کړی.

هغوی چې په بېلابېلو دلایلو د امریکا ملاتړ کاوه او نه یې غوښتل چې امریکایي جنرالان خپه شي په بېلابېلو طریقو د ولسمشر کرزي پر اعصابو کار کاوه، ځینو به ویل د کنوانسیونونو پر بنسټ موږ د دوهم لمبر پروتوکول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر منلو اړ یو. د توتیانو په څېر به یې د امریکایانو خبرې داسې تکرارولې چې ګواکې د دغه پروتوکول منل په اتومات ډول د اداري توقیف د منلو په مانا دی. یو شمېر نورو د دفاع وزیر بسم الله خان محمدي په څېر ولسمشر ته ویل: "رییس صاحب حوصله وکړه، خدای دې څوک نه محتاجوي، څه وکړو محتاج یو او دغه حالت لرو ....". وروسته چې د اشرف غني پښه دې مسالې ته ورداخله شوه، نوموړي د یوې ورځې په ماښام د ولسمشر د کار په دفتر کې غوښتل چې نوموړی ووېروي. ډاکټر اشرف غني احمدزي وویل: "زه ویرېږم او معلومات مې دا وایي چې که له امریکایانو سره د بګرام مساله سخته ونیسې، کېدای شي پر خلاف دې کودتا وشي او دغه کودتا به جنرالان نه بلکې هغه منصبداران وکړي، چې د ډګروالۍ او ډګرمنۍ او تر هغو ټیټې رتبې لري".

په هغه ویډیو کنفرانس کې چې ولسمشر کرزي له اوباما سره د نومبر په ۲۸ مه نېټه درلود، د امریکا ولسمشر وویل چې جنرال الن او سفیر به د بګرام زندان په قضیه کې د پرمختګ په لور له نویو خبرو سره درشي. سبا ته جنرال الن او سفیر جیمز کننګهم د ولسمشر دفتر ته راغلل. هغوی یوه ورځ مخکې یو کاغذ ارګ ته را استولی و. جنرال الن وویل چې د بندیانو شمېر ۸۰۰ تنو ته رسېدلی دی چمتو یو چې ۳۹۰ تنه یې افغان لوري ته وسپارو او یو شمېر نور یې د اداري توقیف لپاره افغانانو ته وسپارو. نوموړي وویل چې تر اوسه له هغوی نه ٦۰ تنه افغان لوري ته سپارل شوي دي او دا یو ښه پرمختګ دی، خو ولسمشر کرزي یې په ځواب کې وویل چې دا هغه څه نه دي چې دی یې غواړي. نوموړي زیاته کړه چې زه د امریکایانو له خوا د افغانانو د بندي کولو بشپړ درېدل غواړم او د دې وضعې دوام به د امنیتي تړون پر سر د خبرو د پرمختګ مخه ونیسي. ډاکټر سپنتا له امریکایانو سره موافقه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه چې د ۳۵ تنو په شمېر د خطرناکو کسانو په نوم له هغوی سره پاتې شي. سره له دې هم سفیر کننگهم په ټینگار وویل چې زندان اوس د افغانانو په لاس کې دی. ولسمشر هغوی دواړو ته وویل چې د افغانستان ولس به په دغسې شرایطو کې اجازه ور نه کړي چې امنیتي تړون لاسلیک کړي. د امریکا یې لوري ادعا دا وه چې دوی د هغو کسانو پر خلاف عملیات کوي، چې افغانانو او امریکایانو ته خطرناک دي او د افغانستان حقوقي نظام د خطرناکو کسانو د ساتنې ضمانت نه شي ورکولای.
هغوی په همدې دلیل د اداري توقیف اجرایي کېدو غوښتونکي وو. یانې له اسنادو او محاکمې پرته د کسانو توقیف چې د دوی په اند خطرناک گڼل کېدل او د دې غوښتونکي وو چې هغه له دوی سره وي. ولسمشر چې د امریکایانو له ناغېړۍ او ځان غړونو نه ستومانه او نارامه و د همغې ورځې په مازیگر یې له مولوي وکیل احمد متوکل او انجینر حلیم سره په ناسته کې وویل: « دا ټول ستاسو طالبانو له لاسه دي، دلته موږ له امریکایانو سره په جنجال کې او هلته تاسو د پاکستان په زندان کې ملا برادر یې درته بندي کړ، ملا عبیدالله یې وواژه، ملا ترابي مو بندي دی(..). »
له یوه پلوه هغه اعلامیې چې د ارگ د رسنیو له ریاست نه خپرېدې او خلکو ته یې په منظم ډول حقایق رسول بل لور ته او د امنیتي تړون په تړاو کوم گواښونه چې ولسمشر کول امریکایان یې دې ته اړ کړل چې د بگرام زندان د ستونزې په حل کې یو لړ گامونه واخلي. په یوه امنیتي غونډه کې چې د دسمبر په لومړیو کې وه، لوی څارنوال په کار کې د پرمختگ خبر ورکړ او وې ویل چې د ولسمشرۍ اعلامیو کار ورکړ او د بگرام زندان د بندیانو د خوشي کولو لړۍ پیل شوې ده. په دې ډول که هر څومره په نه زړه وه د ولسمشر غوښتنو ته یې غاړه ایښې وه. ولسمشر د انگلیسانو د زندانونو درک

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ولګاوه. اسدالله خالد د ملي امینت رییس د انګریزانو اړوند زندانونه تصدیق کړل. مارشال فهیم زیاته کړه چې انګریزان ان په کابل کې په قصبه سیمه کې زندان لري او هر څوک چې وغواړي بندي کوي یې، بې له دې چې د دوی دغه کړه وړه له ناټو سره اړیکه ولري. د افغانستان حکومت د هغه تفاهم‌لیک پر بنسټ چې له امریکایانو سره یې لاسلیک کړی و، د بګرام د بندیانو د دوسیو د څېړلو لپاره یوه کمېټه د (بګرام زندان د بندیانو د برخلیک ټاکلو او د دوسیو د چټکې څېړنې کمېټه) په نامه جوړه کړه. دغه کمېټه باید د یو متقاعد قاضي او دوو څارنوالانو په غړیتوب جوړه شوې وای. قاضي عبدالکریم قانت، څارنوال عبدالشکور دادرس او څارنوال محمود دقیق د دې کار لپاره وګومارل شول. څارنوال دقیق د دې دندې له منلو ډډه وکړه او کمېټې په همدې دوو تنو خپل کار پیل کړ. دغو دوو کسانو د وطندوستۍ په روحیه او جدیت خپل کار ته دوام ورکړ. که هر څومره امریکایانو د دوی په لاره کې خنډونه ایجاد کړل، خو دوی هېڅ کله هم فشارونو ته تسلیم نه شول.

د دې کمېټې د کار په پایله کې د بې ګناه بندیانو او هغوی چې د محکمې له لوري به یې برائت ترلاسه کاوه، خو بیا هم د امریکایانو په زندان کې پاتې وو او هغوی چې د بند موده یې پوره شوې وه او بالاخره هغه کسان چې د تور په باب یې وړوکی سند هم نه و د ټولو د خوشي کېدو لړۍ پیل شوه. ولسمشر پر دې ټینګار کاوه چې د کم عمره هلکانو او بوډاګانو د دوسیو په څېړلو کې بیړه وشي.

د افغانستان حکومت ته د بګرام زندان د راګرځولو مبارزه سره له دې چې په ښه نیت وه او موخه یې د هېوادوالو د بشري حقونو د تر پښو لاندې کولو او ظلم مخنیوی او د افغانانو د ملي حاکمیت ساتنه وه، خو له کورنیو خنډونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هم مخ کېدله. هغوی چې لوېدیز پال و او د بهرنیانو له هر عمل نه که به هر ډومره ناولی او بد بویه و، د دوی سپړمو ته ترې د اومانیزم او دیموکراسۍ بوی رسېده او د سطحي نظر له مخې هر هغه څوک چې له طالب سره یې ورته والی درلود دوی ته د وژلو حقدار ښکارېده.

ولسمشر په یوه امنیتي غونډه کې له دې پریشانۍ نه چې خبره تر دې رسېدلې، چې ځوانه نجلۍ ځانمرګی برید کوي وویل: "باید د دې لاملونه پیدا کړو، چې ولې د دې هېواد یوه ځوانه نجلۍ پر داسې کار لاس پورې کوي او د دې پېښو تر شا څوک دي؟" د نوموړي اشاره پېچلې استخباراتي لوبې ته وه، چې زموږ هېواد یې په کې رانغښتی و او خلک یې یو د بل په خلاف درولي وو. ډاکټر سپنتا یې په ځواب کې وویل: "ښه شوه چې ووژل شوه، ترهګره وه، د پاکستان نوکره(....").

په یوه بله امنیتي غونډه کې چې د ۲۰۱۳ کال په پیل کې د ګلخانې په ماڼۍ کې جوړه وه، مارشال محمد قسیم فهیم د ولسمشر لومړي مرستیال د بګرام زندان د بندیانو د خوشي کېدو په غبرګون کې داسې وویل: "زه د بګرام زندان په باره کې یو عرض لرم، زندان چې موږ ته وسپارل شو، اوس له هغو دغه ډول د خلکو خوشي کول پر ما هم بد لګېږي او پر امریکا هم. زما خبره دا ده چې دغه دولت دې خپل عزت او ابرو وساتي. توند تبلیغات ورپسې کېږي، دغه خلک چې خوشي کېږي له وېښتانو، ږیرو او سپینو خولیو سره او هر کلي ته یې تر هغو قوارو لوی خلک راځي. غیر پښتانه په تشویش کې کېږي، چې دومره کسان نور هم پاتې دي او خلک وایي چې کرزی پښتون دی او پښتانه خوشي کوي. باید په دې پروسه کې فکر وشي".

د لومړي مرستیال اشاره د بندیانو د خوشي کېدو تصویرونو ته وه، چې د دولت د لاسته راوړنو په نامه له ملي تلویزیون نه خپرېدل. له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر، ایمل فیضي او ما چې په دې برخه کې په ارګ کې بوخت وو او هغه کسانو چې تر ارګ د باندې په دې لاره کې صادقانه زحمتونه ګالل. لکه: قاضي عبدالکریم قانت، عبدالشکور دادرس، استاد ګل رحمان قاضي او جنرال غلام فاروق بارکزي، کار اسانه نه و. امریکایانو هم د قومي احساساتو په پیاوړي کېدو او د هغو په لوري ورکولو کې ډېر فعالیت کاوه. د همدې لانجو په بهیر کې یوناما یو راپور خپور کړ چې د افغان زندانونو دننه یې د ځورونو، شکنجو او غیر قانوني کړنو کیسې کولې. ولسمشر له یوه پلوه د خپل مزاج له مخې چې د خلکو له ځورولو او ازارولو سره یې سخت حساسیت درلود او له بله پلوه د دغه راپور د خپرېدو تر شا د موضوع په درک سره په ډېره بیړه یو پلاوی د اساسي قانون په تطبیق د څار کمېسیون د مرستیال عبدالقادر عدالت خواه په مشرۍ وګوماره، چې د زندانونو وضعیت وڅاري. دغه پلاوي د ۲۰۱۳ په فبروري کې خپل راپور ولسمشر ته وړاندې کړ. په پایله کې ولیدل شول چې په زیاتره وختونو کې قانون د تورنو کسانو د نیولو پر مهال مات شوی و او زموږ د هغو امنیتي ادارو لخوا مات شوی و چې د بهرنیو له لوریو تر څارنې لاندې فعالې وې.

## د ځایي خلکو پاڅون او د وردګو له نرخ نه د امریکایي ځانګړیو ځواکونو وتل

د ۲۰۱۲ کال د نومبر میاشت وه، تراوسه لا د بګرام زندان ستونزه بشپړه نه وه حل شوې، چې د وردګو د سیدآباد، چک او نرخ ولسوالیو خلکو د اعتراض غږ اوچت کړ. هغوی په دې ولایت کې د امریکا د ځانګړیو ځواکونو له ظلم او سرې وژنې نه تر پزې راغلي وو. خلک تر هغه وروسته چې امریکایي ځواکونو د میدان ښار یو دوکاندار د لالي په نامه په ډزو وواژه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله ایزه توګه د ولایتي شورا او والي دفترونو ته ورغلل او شکایت یې وکړ. بهرنیو پوځیانو د جومات امام او یو بل تن ورسره بېولي وو. اعتراض کوونکو ویل چې بهرني پوځیان له مخالفینو سره د جګړې توان نه لري، کله چې دوی نښه وګرځي بدل یې له عامو وګړو اخلي.
کله چې د ولس د خلکو اعتراض ډېر اوچت شو، ولسمشر یو پلاوی وټاکه چې موضوع وڅېړي، څو ورځې وروسته د امریکا هوایي ځواکونو د وردګو په تنګي دره کې بمباري وکړه او ۱۴ تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړل. د فبروري میاشتې په نیمایي کې د امریکا ځانګړو ځواکونو په نیمه شپه کې یو محصل د نصرت الله په نامه لومړی له کوره راوویست او تر وژلو وروسته یې مړی د نرخ ولسوالۍ اړوند په ډبرینه غونډۍ وغورځاوه. دغه ځوان د ننګرهار پوهنتون د وترنرۍ د څانګې محصل و تر دې پېښې وروسته خلک سرکونو ته راووتل او د کندهار کابل لویه لاره یې وتړله.
په هغه غونډه کې چې د ګلخانې په ماڼۍ کې د فبروري په ۲۴ مه جوړه شوه. په هغو کې پر ګومارل شوي پلاوي سربېره د وردګو والي عبدالمجید خوګیاڼي او د ولایتي شورا یو شمېر غړو هم حضور درلود. والي د نوموړي محصل د شهادت په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه: ”د نیول کېدو پر مهال د دغه ځوان کورنۍ ته ویل شوي و چې زوی دې سبا ته د ولسوالۍ له دفتره ورسره بوځې، خو د هغه مړی درې ورځې وروسته په داسې حالت وموندل شو، چې ګوتې او مری یې غوڅ کړي وه.“ د ښاغلي خوګیاڼي د معلوماتو پر بنسټ تر دغه وخته له هغې سیمې ۹ کسان ورک وو.
استول شوي پلاوي د هغه ځای د مؤظفو امریکایانو له قوله وویل چې دغه کړنې د ذکریا کندهاري په نامه یوه تن ترسره کړي دي. دا په داسې حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده چې تر دغه وخته بهرنيانو له ټولو پېښو انکار کاوه. د دوی په وينا ذکريا کندهاری نيول شوی و، خو کله چې حکومت له دوی نه د نوموړي د ورسپارلو غوښتنه وکړه، نو وې ويل چې له زندانه تښتيدلی دی.

ولسمشر هدايت ورکړ، چې امريکايانو ته وويل شي، چې خپل ځانګړي ځواکونه له وردګو ولايت په ځانګړې توګه له نرخ ولسوالۍ نه راوباسي او والي او امنيتي مسوولينو ته يې وويل، چې تر دې وروسته که بهرني عسکر د خلکو پر کورونو تيری وکړي، نو خلک دې له ځانه دفاع وکړي او افغان پوځيان دې د هغوی پر خلاف ودرېږي او اقدام دې وکړي. د ميدان ښار اوسېدنکي او د شا او خوا ولسوالۍ يې په ځينو پېښو کې د هغو ظلمونو په سبب چې امريکايي ځواکونو او د هغو وسله‌والو کسانو له لاسه چې هغوی د افغانستان د ملي اردو جامې درلودې دې ته اړ شول چې د ځينو کليو نه وکوچيږي. خپل کلي او کور پرېږدي. هغوی ويل چې د طالبانو له ظلم هم تر پزې راغلي وو.

د ولسمشر دغه حکم چې امريکايي ځواکونه دې په دوو اونيو کې دننه له سيمې راووځي د امريکايي جنرال ډنفورډ له مخالفت سره مخ شو او د هغو پر خلاف په کورنۍ او بهرنۍ کچه پراخ تبليغات پيل شول. په يوه غونډه کې چې په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د امريکا عمومي قوماندان په واضح ټکو ولسمشر ته وويل چې پوځيان به يې له نرخ ولسوالۍ را ونه وځي. داخلي رسنيو زه هم ښه ګرځولی وم او دا تبليغ يې کاوه چې ګواکې هغه تړاو چې له حزب اسلامي سره يې لرم، له ميدان وردګو نه مې د بهرنيانو د ايستلو نقشه جوړه کړې ده، ترڅو د دوی له وتلو وروسته حزب اسلامي دغه سيمې ونيسي. د ناټو وياند پرلپسې د خلکو په وژلو او ځورولو کې د امريکايي پوځيانو لاس درلودل ردول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا د ځانګړیو ځواکونو د وتلو په باب د ملي امنیت شورا د پرېکړې له اعلان وروسته د وردګو ولایت د مرکز او ولسوالیو اوسېدونکیو د یوې لویې غونډې په ترڅ کې د دې پرېکړې هرکلی وکړ. د پارلمان مخې ته د خلکو دغه غونډې او لاریون او د ولسمشر لخوا د وتلو حکم امریکایان له سخت حالت سره مخ کړل. بالاخره د امریکا د ځانګړیو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال توماس میدان ښار ته لاړ او خلکو ته یې د وژنو او ځورونو په اړه د پلټنو ژمنه ورکړه.

د دې لانجو په بهیر کې د وردګو ولایت د امنیي قوماندان او د ملي اردو یو شمېر قوماندانانو چې په دې ولایت کې میشت وو د یو لیک په ترڅ کې د ملکي وګړو د وژلو او ځورولو په باب پر امریکایي ځواکونو لګیدلي تورونه بې بنسټه وبلل او له ولسمشر نه یې وغوښتل چې له نرخ او نورو ولسوالیو نه د امریکایي ځواکونو د وتلو حکم بېرته واخلي. هغوی د هغو سیمو په امنیت کې د امریکایي ځواکونو شتون اساسي شرط بللی و. پخوا تر دې چې دغه لیک د ولسمشرۍ دفتر ته ورسېږي طلوع تلویزیون هغه خپور کړ او له دې سره جوخت تودې تبصرې پرې وشوې، چې ګواکې له یوه پلوه ولسمشر کرزی له بګرامه بندیان طالبان خوشي کوي او بل لور ته امریکایي پوځیان د خپلو جبهو خوشي کولو ته اړ کوي. د دوو اونیو ضرب الاجل پای ته ورسېد، خو امریکایان له میدانه را ونه وتل، بالاخره د میدان وردګو خلکو د مارچ په شپاړسمه د پارلمان په مخه کې په پراخو لاریونونو لاس پورې کړ او له خپلو سیمو یې د امریکایي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه.

د امنیت شورا په غونډه کې چې د مارچ په ۱۷ مه په ارګ کې جوړه شوې وه، د غونډې زیاتره ګډونوالو پر ولسمشر تونډې نیوکې وکړې او هر یوه په خپله طریقه له هغه وغوښتل چې په خپله پرېکړه له سره غور وکړي. مارشال

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهیم خبرې پیل کړې او وې ویل "احساسات ډېر توند دي، لاریونونه او د ملایانو ویناوې وضعیت خرابوي اوس د وزیراکبرخان وخت نه دی، چې په یوه چاقو څوک ووژنې اوس د تکنالوژۍ وخت دی".

بسم الله محمدي هغه پېښه چې یوه ورځ وړاندې په تګاب کې شوې وه یاده کړه. وې ویل چې په دې ترینګلي حالت کې درې تنه سرتیري چې د امریکایي عسکرو په لور ورتلل د هغوی د درېش د امر پروا یې ونکړه، بالاخره د بهرنیو ځواکونو لخوا ښه شول او ووژل شول. نوموړي ولسمشر ته وویل : "په وردګو کې غلام محمد سم سړی نه دی، د هغه په باب له استاد سیاف نه پوښتنه وکړئ او هلته د حزب اسلامي کسان هم دي، چې خپل کار کوي".

ډاکټر سپنتا وویل: " د امنیت له سرپرست نه پوښتنه وکړئ، چې هلته څه روان دي؟".

ډاکټر اشرف غني احمدزي وویل چې داسې اطلاع لري، چې طالبانو خلکو ته ویلي دي چې رشوت یې په کار نه دی، خو ولاړ شی امریکایان له میدانه وباسئ.

د مالیې وزیر حضرت عمر زاخېلوال ولسمشر ته په خطاب کې وویل: " ستاسو خبرو ډېرې بدې اغېزې کړې دي، ما تېره شپه ملي تلویزیون لیده د خبرونو لومړی لس دقیقې د جهاد خبرونه وو. بیا مې راډیو اورېده ټولو ځانمرګي بریدونه توجیه کول".

ولسمشر په ځواب کې وویل: " زه ستاسو په امنیتي راپورونو باور نه لرم، که امریکایان د انتقال په پروسه کې له وردګو نه ووځي بیا به څه کوئ؟ نو پرېږدئ چې نن راووځي. راځئ ټول د وردګو خلکو ته ورشو یا خلک له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان سره ملګري کړئ او یا به جګړه بایلئ. تاسو لومړی زموږ څو اونۍ مخکې پرېکړه عملي کړئ...".

بالاخره د مارچ په ۲۰ مه جنرال ډنفورډ او سفیر کننګهم د ولسمشر د کار دفتر ته راغلل. جنرال ډنفورډ وویل: "حاضر دي چې خپل پوځیان له میدان وردګو نه راوباسي. نوموړي وویل چې د بګرام زندان په تړاو هم پرمختګ شوی دی او دوی د افغانستان دریځ ته ډېر نږدې شوي دي".

د وردګو د خلکو د حق غوښتلو په مبارزه کې د پارلمان یو شمېر غړیو او ژورنالیستانو روښانه رول درلود. د هغوی له جملې څخه د پژواک اژانس خبریال عبدالحکیم بشارت. ښاغلي بشارت، ایمل فیضي او ما زموږ د دوستانو د یو شمېر خصوصي رسنیو په همکارۍ وکولای شول د بهرنیو او کورنیو رسنیو پوځ، چې له ډېرو امکاناتو څخه برخمن هم و له پېښو وغورځوو.

د امریکا د ځانګړیو ځواکونو عسکر بالاخره د مارچ په ۳۰ مه د وردګو له نرخ ولسوالۍ نه ووتل. هغوی ژمنه وکړه چې د مهالوېش له مخې به د دې ولایت له نورو برخو څخه هم راووځي. له هغو نهو تنو څخه چې ورک شوي وو. د یوه تن مړی د امریکایي ځواکونو د پرېښي مرکز ترڅنګ وموندل شو. دغه مړی داسې ځای وموندل شو، چې هلته به امریکایي عسکرو له طالبانو نه ترلاسه کړي چاودېدونکي مواد چول او له منځه به یې وړل.

## د بهرنیانو د پټو زندانو کشفېدل

پر ۲۰۱۳ کال د ملي امنیت یو تن ډګروال چې د پولیسو په ځانګړیو قطعو کې یې دنده درلوده او یو وخت په پروان مېنه کې زموږ ګاونډی و له ډېرو هڅو وروسته وکولای شول چې زما دفتر ته راشي. نوموړي د هغه څه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب چې په شپنيو او نورو عملياتو کې پېښېدل او د هغه ظلم په باب چې د ولاياتو په اطرافو کې پر خلکو دوام درلود کيسې راته وکړې. نوموړي وويل چې په ظاهره دغه عمليات د افغانانو لخوا ترسره کېږي، خو په واقعيت کې ټول واکونه د بهرنيانو په لاس کې وي. نوموړي ډګروال د هغو پټو زندانونو په باب هم چې امريکايانو او انګليسانو درلودل خبرې درلودې. د موضوع د ښې روښانتيا لپاره يې په بل ځل يو د ملي امنيت اړوند څارنوال ورسره راوست، نوموړي څارنوال کيسه وکړه چې په کندهار کې يې د امريکايانو په يوه زندان کې دنده درلوده. بهرنيانو په دې هر زندان کې يو يا دوه تنه د افغانستان د عدلي ادارو څخه ورسره ګومارل، زياتره يې هغوی ته د لوړو ډالري معاشونو وړانديزونه هم کول او د هغوی په لاسليک يې د خلکو غير قانوني نيولو او زنداني کولو ته قانوني بڼه ورکوله. موږ د دغسې زندانونو له شتون نه بشپړ بې خبره وو او په هغو خبرو او جنجالونو کې چې موږ د بګرام زندان پر سر له هغوی سره درلودل هغوی هېڅکله هم د دغو زندانونو د شتون په باب کومه خبره نه وه کړې. تر هغې وروسته چې ما د بهرنيانو د شپنيو عملياتو د وحشتونو او د پټو زندانونو د شتون په باب ځان ډاډه کړ. موضوع مې له ولسمشر سره شريکه کړه. ولسمشر يوه ورځ نوموړی ډګروال او څارنوال د ليدو لپاره خپل دفتر ته راوغوښتل او دغه جريان يې د هغوی له خولې واورېد.

بله ورځ يې هغوی دواړه د لوی څارنوال الکو او د ملي امنيت د لوی رييس رحمت الله نبيل سره يو ځای دفتر ته راوبلل او دغه موضوع يې له دې دوو مقاماتو سره مطرح کړه. په زړه پورې دا ده چې هم لوی څارنوال او هم د ملي امنيت رييس چې د ولسمشر په مخکې بې ځوابه وو کله چې له دفتره راووتل دواړو خپل تر لاس لاندې کسان رټل او وروسته يې په دې جرم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکې لومړی يې موضوع له خپلو امرينو سره نه ده شريکه کړې له هغوی پوښتنې او تحقيقات وکړل.

ولسمشر د موضوع د لا روښانتيا لپاره د ملي اردو د پوليسو عمومي قوماندان جنرال غلام فاروق بارکزی، چې د بګرام زندان قوماندان هم و، په مشرۍ يو پلاوی وټاکه او کندهار او هلمند ته يې واستاوه. کله چې پلاوی کندهار ته ورسېد او غوښتل يې چې هغه ځای چې د معلوماتو له مخې پټ زندان پکې و ووينې د امريکايانو له مخالفت سره مخ شول. ښاغلي دادرس چې د دې پلاوي غړيتوب درلود له کندهاره ما ته زنګ وواهه او وې ويل: سره له دې چې پلاوی د ولسمشر حکم په لاس کې لري، خو امريکايي منصبداران دوی ته اجازه نه ورکوي، چې زندان ته ننوځي او وايي، چې بايد د دوی خپل قوماندان ورته امر وکړي. ما سمدستي مساله له لوی درستيز "شيرمحمد کريمي" سره شريکه کړه او له هغه نه مې وغوښتل، چې د کندهار په هوايي ډګر کې امريکايي مسوولين وپوهوي، چې نوموړی پلاوی د ولسمشر په حکم هلته تللی، نو هغوی پرېږدي چې خپل کار سر ته ورسوي. ښاغلی کريمي چې ډېر ناارامه شوی و په نه زړه يې ځواب راکړ "ياد پوځيان د امريکا د ځانګړو ځواکونو د قوماندان تر حکم لاندې دي او ځوک دا زور نه لري، چې د ځانګړو ځواکونو په قوماندان څه ومني".

ښاغلي دادرس چې ځووم ځل اړيکه ونيوه او وې ويل چې که تاسو موافق ياست زه به سبا ته د ولسمشر حکم په يو خبري کنفرانس کې رسنيو ته وروښايم او دا به ووايم چې امريکايي قوماندان د دوی د کار خنډ کېږي. زه يې له وړانديز سره موافق وم او پرېکړه پر دې شوه چې د قول اردو د قوماندان په لاس امريکايان له دې تصميم نه خبر کړو، چې څنګه امريکايي مسوولين د افغاني پلاوي له تصميم نه خبر شول په څو دقيقو کې دننه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر وړ زندان د دروازې پرانیستلو او د تحقیق په پروسه کې همکارۍ ته چمتووالی وښود.

پلاوي په خپل راپور کې چې ولسمشر ته یې وړاندې کړ، داسې ولیکل: (... پلاوي د ۱۳۹۳ کال د غوايي په لومړۍ نېټه د کندهار په نړیوال هوايي ډګر کې درې زندانونه چې د بهرنیو پوځیانو لخوا جوړ شوي اداره او کنټرولېدل، تر پلټنې لاندې ونیول...) لومړي زندان ۱٦ یو کسیزې کوټۍ درلودې او د پلټنې پر مهال شپږ تنه بندیان پکې وو. دغه زندان د انګریزي عسکرو لخوا ساتل کېده.

په دوهم زندان کې چې راپور هغه په (تکس فورد) نوم یادوي د امریکایي پوځیانو لخوا اداره کېده. درېیم زندان چې په راپور کې د KFDS په نوم یاد شوی و په ۳۱ اطاقونو کې یې د ۷۸ بندیانو ظرفیت درلود او د پلټنې پر مهال تش وه. دا په داسې حال کې وه چې امریکایانو په پیل کې د هر ډول پټ زندان له درلودو انکار کړی و.

یاد پلاوی تر هغه وروسته هلمند ولایت ته لاړ او د شوراب په پوځي کمپ کې یې خپلې پلټنې پیل کړې. د پلاوي د راپور له مخې هلته هم درې زندانونه وو. یو زندان چې په راپور کې د (بستشن۱ زندان کمپ) چې دوولس اطاقه او د ۸۸ کسانو د اوسېدو ظرفیت درلود او د بریټانیاوي پوځیانو لخوا اداره کېده. بل یې (بسټشن ۳ زندان) و چې ۴۸ اطاقه یې درلودل چې په هر اطاق کې یواځې یو کس ساتل کېدای شو. په لومړي زندان کې پلاوي یواځې ۱۷ تنه بندیان لیدلي وو او په دویم زندان کې چې د راپور له مخې فعال ښکاریده خو د پلټنې پر مهال یې بندیان نه درلودل. دغه زندان هم د بریټانیاوي پوځیانو لخوا اداره کېده. په راپور کې درېیم زندان (لیدرینګ) یاد شوی و، چې د ٦۰ بندیانو د ساتنې ظرفیت یې درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د امریکایانو لخوا اداره کېده. په راپور کې دا نه وه یاده شوې چې آیا په دې زندان کې څوک وو او کنه؟
پلاوي له امریکایي او بریتانیاوي اړوندو مسوولینو نه لیکلي اسناد واخیستل، چې په هغو کې دغو منصبدارانو لیکلي وو چې نور زندانونه نه لري او دغه اسناد یې د خپل راپور ضمیمه کړل.

## د زندانونو مساله کرار کرار حل شوه!

د ۲۰۱۳ په جنوري کې مو واشنګټن ته مهم سفر درلود، هم تر هغو مخکې او هم وروسته حامد کرزي پر امریکایانو فشارونه ډېر زیات کړل، چې د افغانستان د دولت حاکمیت ته درناوی ولري. امریکایان او نور بهرنیان دې نور په افغانستان کې بندي نه نیسي او نور دې زموږ په خاوره کې زندان نه لري. شپني عملیات او نور عملیات چې د ملکي مرګ ژوبلې سبب کېږي بشپړ باید ودرول شي. افغان دولت ته د بګرام زندان اداري د سپارلو پر سر د موافقه لیک له لاسلیک وروسته دوهم تفاهملیک د شپنیو عملیاتو په تړاو هم د افغانستان د دفاع وزیر او د امریکایي ځواکونو د عمومي قوماندان ترمنځ لاسلیک شو.
حامد کرزي له امریکا سره د امنیتي تړون د منلو او لاسلیک مساله ډېره سخته نیولې وه او نړدې په هره غونډه کې یې په تکرار ویل چې که امریکا متحده ایالات خپل چلن بدل نه کړي خلک به ده ته د تړون د لاسلیک اجازه ورنکړي.
د ۲۰۱۳ کال د مارچ په لسمه د امریکا د دفاع وزیر (چک هیګل) افغانستان ته راغی او له ولسمشر سره یې په ارګ کې وکتل. په دې کتنه کې ولسمشر (دوه پوړه ودانۍ) اصطلاح وکاروله، چې وروسته یې بیا په یو شمېر نورو لیدنو کې امریکایانو ته تکرار کړه. نوموړي د امریکا دفاع وزیر ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"(...) د امنيتي او دفاعي تړون بي اس اې د لاسليک لپاره تر ټولو مهم ضمانت دا دی چې د افغانستان خلک د خونديتوب احساس وکړي، سوله او ثبات راشي او له پاکستان سره ستاسو په اړيکو کې وضاحت راشي. تاسو د جهاد پر مهال زموږ په برخليک له پاکستان سره معامله کړې ده...". افغانان په غوسه دي، راځئ د زندان مساله حل کړو له کليو نه راووځئ بيا به افغانان تاسو ته اډې درکړي. ما ېخوا هم ويلي و چې افغانستان ته د يو دوه پوړه کور فکر وکړئ، موږ دوهم پوړ تاسو ته په کرايه درکوو. په لومړي پوړ کې موږ يو تاسو زموږ په ژوند کې مداخله مه کوئ. دوهم پوړ ته به ستاسو لاره بيله وي، موږ ستاسو په لويو اهدافو کار نه لرو...").

همدغه مهال په رسنيو کې داسې خبرونه خپاره شول، چې امريکايان د بگرام زندان د ستونزې د حل لپاره د دوو تنو لمنې ته لاس اچولی دی، چې گواکې ولسمشر د هغوی خبره اوري. يو استاد سياف او بل ډاکټر اشرف غني.

د دوهم لمبر پروتوکول موضوع هم همغسې ناحل شوې پاتې وه. ډاکټر اشرف غني به کله د احتمالي کودتا خبرونه راوړل او هڅه به يې کوله چې ولسمشر ووېروي او کله به يې د نوموړي د دريځ په تاييد هڅه کوله د اصطلاحاتو او الفاظو په بدلون حل لاره پيدا کړي. هڅه دا وه چې د امريکايانو موخې ترسره شي، خو له دې سره هم مهاله ولسمشر کرزی ترې خپه نشي. په هېواد کې عامه افکار هره ورځ د امريکايانو پر ضد اوښتل او اعتراضونه کېدل، لکه د ميدان وردگو د خلکو اعتراضونه.

د ۲۰۱۲ کال په وروستيو کې موږ د يوې بلې مسالې له جزياتو هم خبر شوو. که څه هم د هغو کليات کله کله د امريکايانو له خولو راوتلي وو. هغه مساله په بگرام زندان کې د نورو ميليتونو د بنديانو شتون و. په دې مانا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایانو زموږ خاوره د داسې کسانو د بندي کولو او عذابولو ځای ګرځولی وه، چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې نیولي وو.

د همدې کال د سپټمبر په میاشت کې "د عدالت نړیواله شبکه international justice network " په نوم موسسې یو دوه کسیز پلاوی د افغانستان د بشري حقونو سازمان د مشر لعل ګل لعل په لارښونه زما دفتر ته راغی او زه یې د دې زندانیانو پر شتون خبر کړم. هغوی وویل چې د امریکا پوځي او امنیتي کسانو په منځني ختیځ، لرې ختیځ لکه تایلیند او د نړۍ په نورو برخو کې د عملیاتو په ترڅ کې یو شمېر کسان نیولي دي او د هغو یو شمېر یې په افغانستان کې د بګرام زندان په یوه ګوښه کې یې د ډېرو وړوکیو بشري حقونو له معیارونو پرته ساتلي دي.

دغې موسسې هڅه کړې وه چې د دغو نیول شویو کسانو وړیا وکالت وکړي او قضیې یې حل کړي. په هر ځل چې امریکایانو ته ورغلي وو د رد ځواب یې ورکړی و. دوی ته ویل شوي وو چې ګواکې بګرام زندان د افغانستان اړوند دی او د افغانستان حکومت اجازه نه ورکوي، چې څوک په دې کار کې لاسوهنه وکړي. د دې خبرو په اورېدو حیران شوم او تعجب مې وکړ، ځکه لومړی دا چې هغه بندیان موږ نه پېژندل، موږ هغه نه وو بندیان کړي، موږ له هغوی سره ښه او یا بده سابقه نه درلوده او دوهم دا چې موږ عملاً د بګرام زندان د لاس ته راوړو په مبارزه بوخت وو. ځکه چې بګرام زموږ د خاورې برخه وه په داسې حال کې چې امریکایان چمتو نه وو هغه موږ ته وسپاري.

ما د ولسمشر له خبرولو او له نوموړي سره تر مشوې وروسته یادې مؤسسې ته یو مکتوب واستاوه. په هغه کې مې وویل چې موږ د نړیوالو رسنیو له قوله خبر وو، چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ له پېښې وروسته امریکا د ترهګرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف په اعلان شوې جګړه کې يو شمېر کسان خپل ملي امنيت ته د خطر په نوم نښه کړي او نيولي دي، خو د افغانستان حکومت له دې نه خبر نه دی، چې هغوی افغانستان ته را لېږدول شوي دي. ما په ياد مکتوب کې وليکل: "موږ په خپله خاوره کې د هغو د ساتلو هېڅ لېوالتيا نه لرو، پر دې سربېره د افغانستان حکومت غواړي چې دغه کسان عادلانه محکمې ته لاس رسی ولري او په ذيصلاح محکمو کې يې قضيې وڅېړل شي(....".
يادې موسسې په ځوابي مکتوب کې د حکومت له دغه دريځ څخه د مننې په ترڅ کې دا دريځ د دولت د حاکميت د تثبيت او د دې روښانوونکی وباله چې پر پياوړي شکل د قانون د حاکميت ترڅنګ ولاړ دي.
تر دې وروسته يوه ورځ ولسمشر په بګرام زندان کې د بهرنيو بنديانو د شتون په باب له جنرال ډنفورډ نه معلومات وغوښتل او دا يې يوه ستونزه وبلله. امريکايي جنرال او د دوی سفير د بهرنيو بنديانو شتون ومانه.
د بګرام زندانيانو د برخليک د ټاکلو او د دوسيو د چټک حل لپاره د کمېټې د جوړېدو سره کار په چټکۍ پيل شو. امريکايانو کله د خطرناکو بنديانو په نوم کله د داسې بنديانو چې پرې جنجال دی، د کمېټې په کار کې خنډونه اچول، چې وروستی ځل ۸۸ تنه بنديان د دې کمېټې او د امريکا د پوځي مسوولينو ترمنځ د لانجو سبب شول. ايمل فيضي دې ته زمينه برابره کړه، چې بي بي سي نړيوال تلويزيون، بګرام ته لاړ شي او د وضعې له واقعيتونو راپورونه برابر کړي. امريکايانو له پرلپسې خنډونو جوړولو وروسته بالاخره په نه زړه هلته د بي بي سي کامره او ژورناليستان ومنل.
بالاخره ولسمشر د ۱۳۹۲ لمريز کال د کب په مياشت کې د يوه فرمان له مخې د بګرام زندان د افغانستان د دولت له عادي زندانونو څخه يو وباله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو مسوولیت او اداره یې د نورو زندانو په څېر د کورنیو چارو وزارت ته وسپارله.

## له امریکا سره د اوږد مهاله ستراتیژیکې ملګرتیا د تړون پر سر خبرې

د ۲۰۰۹م کال په رانیژدې کېدو د امریکا متحده ایالاتو په یو لړ داسې اقداماتو لاس پورې کړ چې دا یې ښودله چې په افغانستان کې د دوی شتون بل پړاو ته درومي. واشنګټن په لومړي ګام کې هڅه وکړه چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي ماموریت یا یوناما د مشر په توګه «پډي اشډاون» راولي. جورج بوش پخپله ولسمشر کرزي ته ویلي وو چې که څه هم «اشډاون» نه پېژني خو د دې ماموریت لپاره یې مناسب او غوره بولي. وروسته د نوموړي لپاره د دندو وړاندیز شوې لایحې ښودله چې لوېدیزوالو د افغانستان لپاره د وایسرا د ټاکلو خیالونه په خپلو ماغزو کې پالل. په همدې دلیل د ولسمشر بوش هغې خبرې او د دندو دغې لایحې د حامد کرزي په شکاک ذهن کې د خطر زنګونه وکړنګول. پډي اشډاون په بالکان کې د کار سابقه درلوده، هلته چې کورنۍ جګړې پېښې او یوګوسلاویا پکې ټوټه شوه، ولسمشر ډېر په کلکه د پډي اشډاون له ټاکلو سره مخالفت وکړ. دې مخالفت یې له امریکا او د هغو له متحدینو سره د ده اړیکو ته زیان ورساوه، بالاخره نړیواله ټولنه له خپل دریځ نه په شا شوه او «کای ایډه» یې د ملګرو ملتونو د ځانګړي ماموریت د مشر په توګه کابل ته راواستاوه.

د پډي اشډاون د ټاکل کېدو له جنجال وروسته د ۲۰۰۹م کال د انتخاباتو نوبت راورسېد. لکه چې پخوا مې یادونه کړې د ۲۰۰۹م کال په انتخاباتو کې یو ځل بیا د «پخوانۍ یوګوسلاویا» ټیم په کار وګومارل شو. ریچارډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هالبروک، پیټر ګالبریټ، جنرال فلپ موریان او نورو د یوه ځانګړي پلان له مخې هڅه وکړه چې ولسمشر کرزی ناکام او له ارګه وباسي. چې دا کار تر سره نه شو هڅه یې وکړه چې د یوې معاملې په ترځ کې د اجراییه ریاست پست رامنځته او هغه له هرې لارې کمزوری کړي چې دا پلان هم د ولسمشر له مقاومت سره مخ شو. نو وروسته امریکایانو د خپل شتون نوی پړاو له انتخاباتو نه له بریالي راوتلي حامد کرزي سره پیل کړ، سره له دې چې د نوموړي په وینا له انتخاباتو «ځب ځب او ټپي» راوتلی ؤ. په افغانستان کې د امریکا د شتون نوی پړاو خپلو اډو ته رسمیت ورکول وو. امریکایانو د ټېرو کلونو په اوږدو کې پینځه اډې جوړې کړې وې. له طالبانو سره جګړه چې د ورځې په تېرېدو توندېدله د دوی د پوځیانو د زیاتولو، د درنو او پرمختللو وسلو د زیاتولو او د افغانستان هر ګوټ ته د رسولو لپاره ډېره ښه پلمه وه. دا چې دې ته وار رارسېدلی ؤ چې پخوا جوړې شوې اډې رسمیت ومومي او د امریکا پوځي شتون د یوه تړون له مخې مشروعیت پیدا کړي. په خصوصي مجلسونو کې د امریکایانو له لوري د اډو او مرکزونو د درلودلو اشارې ډېرې پخوا شوې وې، خو په دې تړاو رسمي خبرې اترې په ۲۰۱۰م کال وشوې.

کله چې زه د ولسمشرۍ د دفتر ریاست ته راغلم له امریکا سره د اوږد مهاله ستراتیژیکو اړیکو د یوه تړون پر سر خبرې پیل شوې وې. که څه هم په لومړیو پړاوونو کې وې او ډېرې سوکه پر مخ تلې. د دغې دورې سیاسي فضا هم له جنجالونو ډکه وه چې ولسمشر یې تر ډېر فشار لاندې راوستلی ؤ. د کابل بانک ستونزه، د ۲۰۱۰م کال د پارلماني انتخاباتو جنجالونه، د بن کنفرانس ته د چمتووالي موضوع چې کله کله به یې خطرناکه بڼه خپله کړه، د رورا باکر هڅې چې وخت پر وخت به یې ځینې د اپوزیسیون مشران

(c) ketabton.com: The Digital Library



راټولول او په ګډه به يې د فدراليزم غږ اوچت کړ، او بالاخره په همدې تړاو د هېواد په شمالي ولايتونو کې د امريکايانو او انګليسانو تحرکات چې موږ يې راپورونه تر لاسه کول.

د ۲۰۱۱م کال د اپريل په مياشت کې په واشنګټن کې زموږ سفير «اکليل حکيمي» ولسمشر ته د خپل راپور د وړاندې کولو په ترڅ کې وويل چې امريکايان غواړي د ستراتيژيکې دوستۍ تړون د ۲۰۱۱م کال تر پايه لاسليک شي، ځکه چې د اوباما په پام کې ده چې دا د خپلو لاسته راوړنو په لړ کې وښيي. د نوموړي په وينا هغوی له لويې جرګې وېره درلوده چې غړي به يې له تړون سره مخالفت وکړي. نوموړي زياته کړه چې په واشنګټن کې دغه انديښنه هم شته چې افغانان به د تړون په بدل کې له امريکا څه وغواړي، يوه معلومه اندازه پيسې لکه مصر او پاکستان ته او که بل څه؟ په سند کې د ځانګړو قيوداتو ځايول چې د افغانستان له خاورې به د دريېم هېواد پر خلاف ګټه نه اخيستل کېږي بله هغه ستونزه وه چې واشنګټن يې په انديښنه کې اچولی ؤ. ښاغلي حکيمي د «رابرټ ګېټس» له قوله وويل چې نوموړي په ټينګار ويل «موږ له تاسو اډې نه بلکې مرکزونه غواړو.» امريکايانو غوښتل چې پر دې هم وپوهېږي چې د افغانستان ګاونډيان به په دې تړاو څه غبرګون وښيي.

ولسمشر اوباما داسې پرېکړه کړې وه چې په ۲۰۱۱م کال کې به د خپلو پوځيانو شمېر کموي. امريکايانو ويل چې تر ۲۰۱۴م پورې به له افغانستان نه د خپلو پوځونو ايستل بشپړوي او تر هغو وروسته به يوازې د افغان پوځيانو د روزنې او د ترهګرۍ ضد عملياتو لپاره په دې هېواد کې پاتې وي. د همدې لپاره د ډاکټر اشرف غني په مشرۍ د انتقال پروسه پيل شوې وه. متحده ايالاتو د اوږد مهاله ستراتيژيکو اړيکو سند افغان لوري ته وسپاره. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۱م کال د اپریل پر ۱۰مه د ارګ په ګلخانې ماڼۍ کې امنيتي غونډه جوړه شوه چې په هغو کې پر ولسمشر سربېره دواړو د ولسمشرۍ مرستیالانو، د دفاع او کورنیو چارو وزیرانو، لوی درستیز، د ملي امنیت سلاکار، د بهرنیو چارو وزیر او د هغه سیاسي معین، په امریکا کې افغان سفیر، اشرف غني احمدزي او ما (عبدالکریم خُرم) ګډون درلود، د ستراتیژیک تړون موضوع تر بحث لاندې راغله، ډاکټر سپنتا چې په دې برخه کې د خبرو اترو د پر مخ وړلو دنده پر غاړه درلوده وویل چې د امریکایانو سند د مارچ په وروستیو کې افغان حکومت ته رسېدلی دی او تر دې مهاله دوې غونډې پرې جوړې شوي وې. ډېر مهم مسایل تر اوسه پورې نامعلوم وو او د امریکایانو سند د هغو په باب وضاحت نه درلود، د ساري په توګه دا چې آیا امریکایان اډې غواړي که نه؟ د پیسو سرچینې څه ډول برابرېږي؟ ترهګري به څه ډول تعریف کړي؟ آیا هغه سند چې لاسلیکېږي د اعلامیې په بڼه به وي او که د تړون؟ ځکه امریکایانو هغې ته د اعلامیې عنوان ورکړی ؤ او داسې نور...

په سند کې له افغانستان نه د اډې او یا مرکز غوښتنه شوې وه خو دغه غوښتنه په داسې کلیمو کې شوې وه چې ګواکې غوښتنه د افغانانو لخوا کېږي. په بله وینا افغانانو له امریکایانو غوښتل چې دلته پاتې شي او مرکزونه ولري. په دې غونډه کې ډاکټر اشرف غني احمدزي ډېرې پوښتنې مطرح کړې او یادونه یې وکړه چې تر دې مهاله د امریکایانو مرستې او پوځي شتون اغېزناک نه دی او باید بدلونونه پکې راشي. نوموړي زیاته کړه چې په دې سند کې تروریزم او د هغو پر خلاف د قوي کارول څرنګه چې لازم دي تعریف شوي نه دي، او د اقتصادي مرستو موضوع هم ګونګه ده او زیات وضاحت ته اړتیا لري.

سره له دې چې امریکایانو هڅه کوله چې خبرې اترې د جولای تر میاشتې پورې بشپړې شي خو ولسمشر حامد کرزي د لويې جرګې د شرط په اېښودو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د واشنگټن پښو ته لویه ډېره غورځولې وه. ولسمشر کرزی له پیله په خبرو اترو کې د وضاحت غوښتونکی ؤ. د ده په اند امریکایانو له کلیمو سره لوبې کولې. نوموړي غوښتل چې امریکایان دې ښکاره ووایي چې څو اډې غواړي او د هغو په بدل کې څومره پیسې ورکوي. هغه لېوالتیا درلوده چې د اډو په بدل کې د هغو د کرایې پیسې امریکایان ورکړي، د ساري په توگه په دغه غونډه کې نوموړي دفاع وزیر ته وویل چې له امریکایانو پوښتنه وکړي چې مثلاً د بگرام لپاره څومره پیسې ورکوي. د ولسمشر حامد کرزي په نظر نه یوازې دا چې زموږ هغه خاورې چې امریکایانو ترې د اډې گټه پورته کوله بیه درلوده بلکې د هوا ککړتیا، دود او کیمیاوي موادو یې چې زموږ د استوگنې چاپېریال ته زیانونه رسول،«ټولو بیه درلوده چې باید امریکایانو هغه ادا کړې وای.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ایبټ آباد کې د اسامه وژل کېدل

د مې په دوهم سهار چې کله افغانان له خوبه راویښ شول د اسامه بن لادن د وژل کېدو خبر یې له راډیوګانو او تلویزیونو واورېد. د امریکا ځانګړو ځواکونو هغه ځای چې اسامه بن لادن له خپلې کورنۍ سره پکې پټ ژوند کاوه معلوم کړ او په نیمه شپه کې له دوو هلیکوپټرو سره ورپسې ورغلي وو. هغوی د ایبټ آباد په ښار کې اسامه په خپل کور کې موندلی ؤ. ایبټ آباد سمسوره او د ښې اوبو او هوا لرونکې سیمه ده. له اسلام‌اباد نه ډېر واټن نه لري او اسلام‌اباد ته نږدې پروت ښار دی. د کاکل په نامه د دې هېواد یوه پوځي اکاډمي هم په دې ښار کې ده. امریکایي پوځیانو اسامه په خپل کور کې وواژه او مړی یې له ټولو هغو اسنادو سره چې دوی لازم بلل ورسره یوړ. د هغو معلوماتو له مخې چې امریکایانو ورکړي، هغو څرخیو چې په عملیاتو کې وکارول شوې د جلال‌اباد له هوایي ډګره چې دوی د پوځي اډې ګټه ترې اخیسته الوتې وې. امریکایانو اعلان وکړ چې د بن لادن مړی یې د سمندر په یوه نامعلوم ځای کې اوبو ته وغورځاوه. دا چې امریکایي هلیکوپټرې د پاکستان د خاورې حریم ته ننوتلې وې او په یوه مهم پوځي ښار کې یې عملیات تر سره کړي وو له دې پرته چې د هغه هېواد رادار یې وویني او د هغو پر خلاف غبرګون وښیي، یوه لویه پوښتنه ده چې تر اوسه پورې بې ځوابه پاتې ده. آیا پاکستاني پوځیان پر دې عملیاتو خبر وو؟ آیا په دې عملیاتو کې ورسره همکار وو؟ که ورسره ملګري نه وو د هغه هېواد پوځ دومره ناتوانه دی چې د دوی په خاوره کې د یوه پردي هېواد د عملیاتو او د هلیکوپټرو له ننوتلو څخه نه خبرېږي او مخه یې نه نیسي؟

د امریکایانو او پاکستانیانو رسمي ځواب دې پوښتنو ته دا ؤ چې پاکستاني پوځیان له دې پېښې ناخبره وو، خو سیمور هرش «Seymour Hersh» یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څېړنیز ژورنالیست وروسته ولیکل چې دغه عملیات د پاکستاني پوځیانو په همغږۍ تر سره شوي وو. نوموړی لیکي چې امریکایانو د اسامه د اوسېدو او ژوند د ځای په اړه پاکستانیانو ته معلومات ورکړل او هغوی یې خبر کړل چې د اسامه د وژلو اراده لري. سیمور هرش چې د بېلابېلو جایزو له هغو جملې څخه د «پولیتزر» د معتبرې جایزې گټونکی دی د هغو څېړنو له مخې چې تر سره کړې یې دي او په هغو کې یې د امریکا او پاکستان له مهمو سرچینو څخه گټه اخیستې وایي چې د اسامه د ښکار کولو په عملیاتو کې د بریا لپاره امریکا د پاکستاني پوځیانو همکارۍ ته اړتیا درلوده. هغوی دغه مسأله له لوی درستیز «پرویز کیاني» او د ISI له رییس «احمد شجاع پاشا» سره شریکه کړه او همکاري یې ترې وغوښته.

د پاکستانیانو ځواب د اسامه بن لادن د ساتنې په باب دا ؤ چې گواکې نوموړی یې د القاعده او طالبانو د غړیو د کنټرول لپاره د برمته په څېر ساتلی ؤ.

د عملیاتو لپاره د بن لادن کور ته نږدې یو گډ استخباراتي گروپ ځای پر ځای کړای شو. پاکستانیانو امریکایانو ته د خپلې همکارۍ په بدل کې هم امتیازونه وغوښتل. احمد شجاع پاشا د ISI مشر د ۲۰۱۱م د اپریل په میاشت کې د همدې لپاره واشنگټن ته سفر وکړ او د CIA له مشر «لیون پنیټا» سره یې ولیدل. هلته پر دې توافق وشو چې د اسامه د ښکار کولو عملیاتو په لړ کې د مرستې په بدل کې به د پوځي مرستو ډېرې پیسې چې امریکا ځنډولې وې بېرته اسلام‌اباد ته پیلېږي، امریکا به تر دې وروسته د ترهگرۍ خلاف مبارزې په تړاو د پاکستان په نه همکارۍ نیوکه نه کوي، ایبټ آباد ته دې ډېر وړوکی عملیاتي ټیم واستول شي، پاکستان ته په افغانستان کې خلاص لاس ورکړای شي او بالاخره چې اسامه کله ووژل شو نو امریکا دې اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي چې نوموړی يې د بې پيلوټه الوتکې په برید کې د افغانستان په غرونو کې وواژه. د دې توافق وروستۍ برخه ځکه عملي نه شوه چې په عملیاتو کې له شریکو دوو هلیکوپټرو څخه یوه را نسکوره شوه او همالته پر ځای پاتې شوه، چې امریکايي خاصو ځواکونو د عملیاتو له بشپړولو وروسته په باروتو والوزوله.

د اسامه بن لادن د دوژل کېدو د خبر له خپرېدو سره ولسمشر کرزي په بېړه خپل مرستیالان ارگ ته راوغوښتل له هغوی سره تر مشورې وروسته يې د دوهم نمبر ماڼۍ په انگړ کې د کامرې مخې ته خبرې وکړې، ولسمشر په خپلو خبرو کې د خپل همېشني دریځ پر ریښتینوالي د ټینگار په ترځ کې وویل: «د افغانستان ادعا له لومړيو ورځو همدغه وه چې د ترهگرو مرکزونه او مشران په پاکستان کې دي.» نوموړي هیله درلوده چې له دې پېښې وروسته به امریکایان په خپل چلن کې بدلون راولي هغه جگړه به چې تر اوسه يې د افغانستان په کلیو کې کوله د ترهگرو مرکزونو ته ورولېږدوي، خو پاکستانیان نه یوازې دا چې د امریکا د قهر او غضب نښه نه شول بلکې نوي امتیازات يې هم په نصیب شول.

د بن لادن له وژل کېدو وروسته سناتور جان کیري د می پر پینځمه یانې له دې پېښې یوازې درې ورځې وروسته د سنا په استماعیې غونډې کې د دې تر څنگ چې د القاعده د مشر شتون يې په ایبټ آباد کې چې له اسلام‌اباد سره د الوتکې له لارې یواځې ۳۵ میله واټن درلود د پوښتنې وړ وباله، او دا چې آیا پاکستاني پوځیان د ده له شتون نه ناخبره وو، دا يې وویل چې «(...) موږ په دې سیمه کې د ملي امنیت لپاره حیاتي گټې لرو او له پاکستان سره مو چې همکاري رامنځته کړې ده موږ ته دا اجازه راکوي چې گواښونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشترکې ګټې مو وپالو.» هغه زياته کړه چې «لوی تصوير» او «له پاکستان سره د اړيکو بشپړ طبيعت» بايد په پام کې ولرو.

نوموړي د «القاعده ترهګرو» او «د ترهګرو پر خلاف د بې پيلوټه الوتکو د بريدونو اجازه» د اسلام‌اباد د همکارۍ د دغه لوی تصوير مهمه برخه وبلله.

د می پر ۱۰مه جان کيري په استماعيه دربيمه غونډه کې په افغانستان کې د خپل هېواد د پوځيانو د کمولو خبره وکړه وې ويل: «د مياشتې لس ملیارده ډالره په داسې جګړه کې لګول چې پای يې معلوم نه دی د دوام وړ نه دی.»

په همدې استدلال نوموړي په افغانستان کې د سولې د هڅو په ګړندي کولو ټينګار وکړ. خو په هماغه ډول چې سناتور جان کيري د می په دربيمه يانې د بن لادن له وژل کېدو يوه ورځ وروسته په دربيمه استماعيه غونډه کې ويلي وو په سوله کې هم بايد «د پاکستان اندېښنې» په پام کې نيول شوې وای.

په دې ډول افغانستان چې د القاعده د مشر د وژل کېدو له پېښې کومې هيلې درلودې تر سره نه شوې بلکې د اسلام‌اباد رول د افغانستان په پېښو کې زيات شو.

د افغانستان او امريکا ولسمشران د اسامه بن لادن له وژل کېدو وروسته د لومړي ځل لپاره د جون پر اتمه د ويډيو کنفرانس له لارې يو له بل سره وغږېدل. اوباما د سولې پر پروسې د دې پېښې د اغېزو په باب وپوښتل، خو هم مهاله يې د پاکستان پر رول او شتون زور راوړ. ولسمشر کرزي خپل همېشنی دريځ تکرار کړ او وې ويل چې په پاکستان کې د القاعده د مشر وژل کېدل د دې ادعا تر ټولو غوره ثبوت دی چې د ترهګرو پټنځايونه په هغه هېواد کې دي. نوموړي يو ځل بيا د امريکا له ولسمشر نه وغوښتل چې د افغانستان په کليو کې جګړه ختمه کړي ځکه دا هغه ځای نه دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهګر پکې ولټول شي. نوموړي د ملکي وګړو په تېره د ښځو او ماشومانو مرګ ژوبلې ته په اشارې وویل چې نور د افغانانو زغم پای ته رسېدلی دی. خو ولسمشر اوباما له نوموړي وغوښتل چې په ملکي مرګ ژوبله چوپ شي، ځکه چې د افغانستان د ولسمشر توندې انتقادي خبرې په امریکا کې له جګړې پر ستومانه خلکو بدې اغېزې کوي.

د ځینو شنونکیو له نظره اسامه بن لادن داسې مهال ووژل شو چې بارک اوباما د ولسمشرۍ د دوهمې دورې لپاره چمتووالی نیوه، که څه هم امریکایي چارواکیو بیا بیا دا ویل چې د القاعدې د مشر وژل کېدل د ترهګرۍ خلاف جګړې د پای ته رسېدو په مانا نه دی، خو د امریکا د لومړي نمبر دښمن وژل کېدل د هغه هېواد د ځواکونو لخوا لویه لاسته راوړنه او برۍ ګڼل کېدو، له دې سره هم مهاله دوو نورو شعارونو چې د امریکایانو ډېر خوښېدل یو په افغانستان کې د خپلو پوځونو کمول او بل د افغانستان د ستونزې د سیاسي حل چټکول د امریکایي چارواکیو په سیاسي ادبیاتو کې ځانګړی ځای خپل کړ.

بښکه چې دې تولو د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې د اوباما په بیا انتخابېدو کې مرسته کوله. بارک اوباما د جون په میاشت کې اعلان کړه چې په ۲۰۱۱م کې به لس زره او په ۲۰۱۲م کې به ۲۳ زره پوځیان له افغانستان نه وباسي.

## د ستراتیژیک تړون پر سر د خبرو دوام

د اوږدمهاله ستراتیژیک تړون پر سر خبرې اترې هماغسې روانې وې، امریکایانو چې هر ځل د افغان لوري د مطالعې لپاره سند سپارلو د هغو په عنوان کې یې «اعلامیه» یا Declaration لیکلو. افغان لوری له دې عنوان سره آرام نه ؤ ځکه چې د امریکایانو د ژمنو کچه یې ډېره راټیټوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د دې انتظار درلود چې د دې تړون له لاسليک سره به د (تخنيکي پوځي تړون) MTA په څېر ټول تړونونه چې پخوا لاسليک شوي وو فسخه شي.

ياد تړون د امريکايي ځواکونو د حضور په پيل کې د کورنيو چارو وزير محمد يونس قانوني او د استاد رباني د حکومت د بهرنيو چارو وزير ډاکټر عبدالله لخوا له هغوی سره لاسليک شوی ؤ. وروسته د لنډمهاله حکومت له جوړېدو سره د همدې دوو مقامونو له لوري تمديد شوی ؤ. د MTA تړون په ټولو اړخونو کې د امريکايانو لاس پرانيستی پرېښی ؤ او هېڅ ډول مسووليت يې پر هغوی نه ؤ ايښی.

ما د دغه تړون متن ډېر په گرانه وموند او دوستانو مې په آزادو رسنيو کې هغه خپور کړ، د هغو استعماري بنې چې تر هغه مهاله له خلکو نه پټ ساتل شوی ؤ په ټولنه کې توند غبرگونونه راوپارول او په پارلمان کې پر هغو توند بحثونه وشول چې بالاخره وکيلان د هغو د لغوه کولو غوښتونکي شول. د MTA په باب هم د امريکايانو ټينگار دا ؤ چې پر خپل ځای پاتې شي.

افغان لوري هڅه کوله چې د ستراتيژيک تړون له لاسليک سره د امريکايي ځواکونو شتون په يوه قانوني چوکاټ کې راشي.

د افغانستان خاوره د دريېم هېواد پر خلاف نه کارول، افغانستان له ناټو پرته د غوره متحد په توگه گڼل، افغان حکومت ته د ټولو زندانونو لېږدول، د ځانگړو عملياتو او د شپنيو بريدونو پای ته رسول، د بهرني تېري په مقابل کې د افغانستان دفاع او ملاتړ. ځانگړې مشخصې مالي ژمنې... هغه ټکې وو چې افغانستان يې د لاسته راوړلو اراده درلوده.

په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۱م کال د اکتوبر پر ۲۶مه د ارگ په گلخانې ماڼۍ کې جوړه وه او ولسمشر هغو ته سياسي او جهادي مشران رابللي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو د خبرو اترو له پرمختګ څخه خبر شي او په دې تړاو خپل وړاندیزونه ووايي. ډاکټر سپنتا خپل راپور وړاندې کړ او داسې یې وویل: «(...) د زندانونو د انتقال په برخه کې تر یوه بریده توافق شوی دی، د تلاشۍ او ځانګړو عملیاتو په اړه امریکایانو منلې ده چې نور به دوی یخپله د خلکو کوروته نه پلټي خو پر دې ټینګار کوي چې ځانګړي عملیات د جګړې په بریا کې ډېر ضروري دي او دا یې منلې چې د اړتیا په صورت کې به یې له افغان ځواکونو سره په ګډه تر سره کوي، د اډو د شمېر او څرنګوالي په باب نه غواړي چې اوس څه ووایي، او د مشروع دفاع موضوع یې هم تر اوسه روښانه نه ده او همداسې اختلافي ده.»

ولسمشر یو ځل بیا له ځانګړو عملیاتو سره خپل مخالفت وښود. استاد عبدالرب رسول سیاف وویل: «دا یوه مهمه موضوع ده باید احساساتي بحث پرې ونه کړو، غریب او بې وزلي یو، دښمن مو د سپي خصلت لري. موږ له عراق سره توپیر لرو، عراق د ګاونډیو له لوري نه ګواښل کېږي. زموږ پولیس او پوځیان د کلال د بار په څېر دي په یوه ډکه ټول شړېږي، څه شی مجهول مه پرېږدئ هر څه روښانه کړئ.»

حضرت صبغت الله مجددي د استاد سیاف د خبرو د تائید په ترخ کې وویل: «موږ باید خپلې سرچینې په کار واچوو او د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون دې دغه متن په دقت وګوري او هڅه وکړو چې هم لعل په لاس راشي او هم یار خپه نه شي.»

حاجي محمد محقق د خپلو خبرو په یوه برخه کې په دې کې پوښتنه را پورته کړه چې د مشروع دفاع په صورت کې به څوک د تفسیر حق لري او دا به په ګوته کوي چې آیا امریکایان په کوم ډول پېښو کې دغه جواز ترلاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مشرانو جرګې رييس فضل الهادي مسلميار وويل: «بدبختانه چې د چا اقتصاد کمزوری وي آزادي يې تر پوښتنې لاندې راځي، ځانګړي عمليات په ځينو وختونو کې ضروري نه دي، د مشروع دفاع په برخه کې پوښتنه دا ده چې په داسې صورت کې چې پر افغانستان يرغل وشي څه به پېښ شي؟»

ولسمشر کرزي په خپلو خبرو کې وويل: «موږ د جهاد له وخته دا تجربه تر لاسه کړې، موږ شوروي ته ماته ورکړه، نړۍ له هغو ګټه واخيسته خو موږ تر پښو لاندې شوو. اوس هم امريکا لس کاله په موږ بمبارۍ وکړې په داسې حال کې چې پوهېدل ترهګر په پاکستان کې مرکزونه لري خو هېڅ يې ونه کړل، نو پر افغانستان بريد به هغوی څه وبولي؟»

مولوي قيام الدين کشاف وويل: «حمله دوه ډوله ده، يوه له دننه څخه او بله له بهر څخه. په داسې صورت کې چې پر هغوی له بهر څخه بريد وشي نو بايد د «امريکايانو» لاسونه و نه تړو.»

ولسمشر کرزي يو ځل بيا خپلو خبرو ته دوام ورکړ وې ويل: «ياني دغه معامله بايد مفته ترسره نه کړو، امريکايان دلته په طالبانو او ترهګرو پسې نه دي راغلي، مه پرېږدئ چې د جهاد د مهال په څېر شي چې خپل کار يې وکړ او موږ يې پرېښودو لاړل.»

د غونډې په دوهمه برخه کې چې په هغو کې بهرنيانو هم ګډون درلود ولسمشر له سفير راين کراکر او جان الن نه وپوښتل د شپنيو ځانګړو عملياتو په کوم ځای کې ستونزه پاتې ده؟

امريکايي جنرال وويل:«افغانستان تر اوسه پورې په خپلواک ډول د دغسې عملياتو توان نه لري، په پوځي ځواکونو کې د دغه ډول ځواکمنۍ جوړول له يوه تر دوو کلونو پورې وخت نيسي.» خو هغه دا ډاډ ورکړ چې داسې عمليات به تر سره نه کړي چې افغانانو ته ستونزې جوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال عبدالرحیم وردګ د ملي دفاع وزیر د شپنیو عملیاتو پر ګټورتوب ټینګار وکړ وې ویل:«په نورو عملیاتو کې به د ملکي مرګ ژوبلې کچه ډېره لوړه شي.» جنرال الن وویل چې له شپنیو عملیاتو پرته په جګړه کې بریا ناشونې ده. د ملي امنیت رییس رحمت الله نبیل هم د شپنیو عملیاتو پر ګټورتوب ټینګار وکړ خو دا غوښتنه یې وکړه چې افغان چارواکي باید پر هغو خبر وي. د کورنیو چارو وزارت معین جنرال عبدالرحمن هم شپني عملیات ډېر ضروري او مهم وبلل او وړاندیز یې وکړ چې د افغان پوځیانو ونډه په دې کې زیاته شي.
ولسمشر بهرنیانو ته په خطاب کې پر خپل دریځ د ټینګار په ترڅ کې اوسنۍ وضعه د شوروي اتحاد د پوځي یرغل له وخت سره پرتله کړه وې ویل:«د اطرافو او کلیو خلک موږ د امریکایانو لاسپوځي بولي او سبب یې همدغه عملیات او په هغو کې مرګ ژوبله او د خصوصي شرکتونو شتون دی. هغه مهال هم کلي بمباري کېدل او موږ مجاهدین یې اشرار بللو او وژلو یې، اوس هم که تاسو پاکستانیانو ته اجازه ورکړئ د طالبانو دفترونه به د مجاهدینو د دفترونو په څېر رسمي او علني کړي. (...) غواړم له خپلو وزیرانو وپوښتم چې که تاسو (امریکایان) دلته نه یاست دوی به دلته دفاع او ژوند وکړي؟ په باور سره چې نه! که تاسو چې له لسو کلونو راهیسې د خلکو پر کورونو بریدونه کوئ دا د یاغیانو پر خلاف کوئ، که داسې وي تاسو داسې خلک وژنۍ چې د حکومت مخالف دي ځکه خو دا زموږ کورنۍ مسأله ده، که تاسو پر ترهګرو بریدونه کوئ بیا نو ولې د هغوی پټنځایونو ته نه ورځئ؟ زه د افغانانو استازی یم، زه به همدلته خپل ژوند پای ته رسوم. آیا زه دوی ته د شپنیو عملیاتو زیری ورکړم؟ دې ته بریا نشو ویلای دا زموږ د اساسي قانون تر پښو لاندې کول دي. افغانان ستراتیژیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرون لاسلیکوي خو خپل حاکمیت غواړي، ستاسو زندانونه نه غواړي، د پټنځایونو په له منځه وړو کې دې ته چمتو دي چې هر ډول قرباني ورکړي، له ترهګرۍ سره په جګړه کې له تاسو سره مرسته کوي. موږ دلته په دې دفترونو کې له افغانانو استازیتوب نشو کولای، که تاسو غواړئ چې دغه هېواد په داسې حالت کې پرېږدئ چې خلک یې له تاسو نه مننذوی وي نو دغه کارونه بند کړئ (...) د ولسمشر اشاره هغو شپنیو عملیاتو ته وه چې پر نورو سربېره دوې پېغلې نجونې پکې وژل شوې وې.
راین کراکر چې هڅه یې کوله د ولسمشر غوسه را کمه کړي وې ویل چې د عملیاتو د همغږۍ مرکز یا (OCG) به زر فعال شي او عملیات به بالاخره افغاني شي.
جنرال الن په خبرو کې ورولوېد وې ویل چې د شپنیو عملیاتو له تر سره کولو پرته په جګړه کې بریا ناشونې ده. نوموړي د ولسمشر کرزي په ځواب کې چې شپني عملیات یې په جګړه کې د ماتې سبب بلل وویل: «د ماتې اساسي لامل پاکستان دی» ولسمشر له هغه نه وپوښتل:«نو بیا ولې د پاکستان غم نه خورئ؟» جنرال ځواب ورکړ: «دا زما له توانه لوړه ده. دا زموږ ولسمشر ته ووایه.»
ولسمشر د نوامبر پر ۸مه نېټه یو شمېر مشران ارګ ته راوبلل تر څو یو ځل بیا د اوږدمهاله ستراتیژیک ټرون د متن او په دې تړاو د لویې جرګې پر جوړولو ورسره مشوره وکړي. یو شمېر څېرو لکه استاد سیاف، سید منصور نادري، پوهاند عبدالسلام عظیمي، نعمت الله شهراني، استاد ګل رحمان قاضي، حاجي دین محمد، مولوي ارسلا رحماني، عبدالهادي ارغندیوال، صلاح الدین رباني، عبدالروف ابراهیمي په دې غونډه کې ګډون درلود، د ولسمشر له نژدې همکارانو څخه ډاکټر سپنتا، ډاکټر صادق مدبر، ایمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیضي... هم حاضر وو ډاکټر مدبر چې د لویې جرګې د دایرولو او تنظیم مسوولیت ورسپارل شوی ؤ د جرګې کاري کړنلاره یې ولوسته، ولسمشر حضرت مجددي د لویې جرګې د ریاست لپاره وړاندې کړ.

ډاکټر سپنتا وویل چې د اختلافي ټکیو پر سر له امریکایانو سره ښکاره پرمختګ نه دی شوی، نوموړي زیاته کړه چې له غرمې وروسته پر دوو نیمو بجو له هغوی سره بیا خبرې کوي، د ده په وینا امریکایانو غوښتل چې د اډو شمېر یو کال وروسته روښانه کړي. ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «نو راځئ دغه تړون دوه برخې کړو، دا یو د دوی د عملیاتو د منع کولو او د دوی د زندانونو په باب، دوهم به د اډو په باب وي چې راتلونکې ته یې پرېږدو.» سره له دې چې د استاد سیاف وړاندیز دا ؤ چې «اډې دې همدا اوس په اصولو کې ومنل شي.» خو دغه وړاندیز په ترتیب سره د ارغندیوال، استاد قاضي او بالاخره د ولسمشر لخوا رد شو. ولسمشر تکرار کړه چې باید د امریکایانو په وړاندې سخت دریځ غوره کړو.

امریکایانو هم ځو ورځې وړاندې د جاوید لودین په واسطه دې ته لېوالتیا ښودلې وه چې تړون په دوو برخو ووېشل شي. هغوی په ځینو سببونو بیړه درلوده او غوښتل یې چې لږ تر لږه یو عمومي تړون هر څومره ژر لاسلیک کړي. په داسې حال کې چې د اډو په باب د حامد کرزي سخت دریځ دغه کار ځنډاوه.

د نومبر پر ۱۴مه د ولسمشر د کار په دفتر کې یوه غونډه جوړه شوه چې حضرت مجددي، محمد کریم خلیلی، استاد شهراني، ډاکټر فاروق وردګ، ایمل فیضي او ما (خُرم) پکې ګډون درلود. د بحث موضوع د لویې جرګې جوړېدل او په هغو کې د ولسمشر وینا وه، له ما او فیضي پرته نورو ټولو ټینګار کاوه چې د ولسمشر وینا باید ډېره «نرمه» وي، او د امریکایانو لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپنیو عملیاتو او د کورونو د تلاشۍ پر خلاف نوموړی باید احساساتي او توندې خبرې ونه کړي. سپنتا چې پارلمان ته تللی ؤ چې په همدې تړاو وکیلانو ته معلومات ورکړي د خبرو په جریان کې غونډې ته راغی، هغه هم د نورو په څېر د «نرمۍ» وینا پلوی ؤ. د هغې ورځې په ماښام د ملي امنیت رییس رحمت الله نبیل د هغه ځوان تصویرونه راوړل چې غوښتل یې د لویې جرگې ځای ته ننوزي او ځانمرگی برید وکړي، د ملي امنیت د رییس په قول نوموړی ځوان هدف ته تر رسېدو مخکې وپېژندل شو او د امنیتي ځواکونو لخوا له پښو وغورځول شو. ولسمشر چې د سولې په تړاو د مشورتي لویې جرگې تجربه هم لیدلې وه، ډېر په غوسه شو د دفاع وزیر یې ډېر زر خپل دفتر ته را وغوښت، نوموړي او د ملي امنیت سلاکار ته یې دنده وسپارله چې جنرال الن ته د لویې جرگې د تخریب په اړه اخطار ورکړي. همدارنگه یې رحمت الله نبیل وگوماره چې همدغه پیغام په افغانستان کې د CIA مسوول ته ورسوي.

امریکایان تل له لویو جرگو نه په وېره کې وو، هغوی له دې وېره درلوده چې افغانان په دغه لویه غونډه کې د دوی د شتون په باب نه اتکل کېدونکې پرېکړې ونه کړي. که داسې شوي وای او افغانانو په لویه جرگه کې د امریکایانو د شتون پر خلاف رایه ورکړې وای، په افغانستان کې د دوی پاتې کېدو د اشغال بڼه غوره کوله او دې مسألې بیا د امریکایانو کار ډېر ستونزمن کاوه چې د سیمې لپاره یې لوی پلانونه درلودل. یوه ورځ وروسته ولسمشر یو ځل بیا پر خپلو مرستیالانو او اړوندو وزیرانو سربېره حضرت مجددي، پیر سید احمد گیلاني، پوهاند عظیمي، عبدالروف ابراهیمي، د مشرانو جرگې مرستیال محمد علم ایزدیار، استاد قاضي، مولوي قیام الدین کشاف،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدایت امین ارسلا او صلاح الدین رباني د ګلخانې ماڼۍ ته را وغوښتل تر څو پر هغه سند چې لویې جرګې ته وړاندې شي بحث او مشوره وکړي.
امریکایان په خپل ځای د ولسمشر له وینا نه په اندېښنه کې وو. راین کراکر د هغه هېواد سفیر په هغه لیدنه کې چې د ولسمشر په دفتر کې وه په ښکاره د هغو په باب خپله نا خوښي ولسمشر ته وښودله. ولسمشر د خپلې وینا پر محتوا امریکایان خبر کړي وو.
د حامد کرزي لپاره د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو د تړون لاسلیک د عطف ټکی ؤ چې تر هغو وروسته باید د عملیاتو بڼه بدله شوې وای، دواړو هېوادونو به د خپلواکو او د حاکمیت لرونکیو شریکانو په توګه دوستانه ستراتیژیکې د متقابل درناوي پر بنسټ ولاړې اړیکې لرلې. په هغه غونډه کې راین کراکر په ټینګار وویل چې د ملکي مرګ ژوبلې، د امریکا لخوا د کورونو پلټل او شپني عملیاتو ته باید په وینا کې ځای ورنکړای شي. برخلاف په وینا کې باید په «عمومي موضوعاتو» رڼا واچوي، خو ولسمشر پر خپل دریځ ټینګ پاتې شو زیاته یې کړه چې جرګې ته به ووایي چې تر دې مهاله دواړه هېوادونه وروستۍ پایلې ته نه دي رسېدلي او ټول موضوعات نه دي حل شوي.
د امریکا سفیر هغه ځانمرګي برید ته چې ښایي د لویې جرګې د جوړېدو په ځای کې د یوه ځوان لخوا تر سره شوی وای د اشارې په ترڅ کې وویل چې:«د همدې شپنیو عملیاتو له برکته امنیتي وضعیت ښه شوی دی که نه دغه ډول بریدونه به ډېر کېدل او د لویې جرګې د جوړېدو مخه به یې نیوله.»
نوموړي زیاته کړه چې امریکایي ځواکونو له څو شپو راهیسې د حقاني شبکې مرکزونه تر بریدونو لاندې راوستي دي. هغه زمنه وکړه چې د عملیاتو لمن د پاکستان د بلوچستان ایالت ته هم وغځوي. راین کراکر د ایشیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فونډېشن وروستۍ نظر پوښتنې ته اشاره وکړه وې ويل چې د دې نظر پوښتنې له مخې د افغانستان خلک د هېواد له وضعې څخه خوښ دي. خو ولسمشر د نوموړي دلايل رد کړل، لومړی يې دوو پېغلو نجونو ته چې د وردګو په ولايت کې په خپل کور کې وژل شوې وې اشاره وکړه او بيا يې وويل: «زه بايد خلکو ته آرامي راولم او دا اجازه ورنه کړم چې د طالبانو په نامه ووژل شي په داسې حال کې چې تاسو طالبانو ته په قطر کې دفتر پرانيزئ او خبرې ورسره کوئ.»

امريکايان د لويې جرګې له رابللو سره له سره مخالف وو، آن تر دې چې د هغو ورځو په بهير کې چې د خلکو استازي د افغانستان له ګوټ ګوټ نه کابل ته راغلل او د پولي تخنيک په ليليه کې ځای پر ځای شوي وو، جګپوړيو او ټيټ پوړيو مامورينو چې ولسمشر ته لاسرسی درلود هر يوه په خپله ځانګړې طريقه نوموړی دې ته هڅاوه چې د لويې جرګې له جوړولو تېر شي، دا چې د تړون سند بشپړ شوی نه ؤ د امريکايانو انديښنه يې څو چنده لوړوله. دغو هڅو ډېرې ورځې دوام درلود خو کار يې ورنکړ.

لويه جرګه بالاخره د المان د بهرنيو چارو وزارت د مرستيال په شتون کې چې د بن کنفرانس په تړاو کابل ته راغلی ؤ دايره شوه.

جرګه د حضرت صبغت الله مجددي په مشرۍ جوړه شوه، د کار په وروستۍ ورځ يې يو ۲۶ ماده يي پرېکړه‌ليک صادر کړ چې زياتره يې له امريکا سره د تړون په تړاو وې.

جرګې په خپل پرېکړه‌ليک کې د افغانستان حکومت او د امريکا متحده ايالاتو مخې ته ډېر شرطونه کېښودل. د اسلامي او افغاني ارزښتونو پر اهميت ټينګار، د افغانستان د خلکو حاکميت او خپلواکۍ ته درناوی... او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالاخره د بهرنيانو لخوا د شپنيو عملياتو او کورونو پلټل بندول د دې شرطونو له جملې څخه وو.
ولسمشر د جرګې په وروستۍ غونډه کې د جرګې د غړيو وړانديزونه او شرطونه تائيد کړل او له هغو يې ملاتړ وکړ.
د نومبر پر ۲۰مه د لويې جرګې يو شمېر غړي په ارګ کې مېلمانه شول او د خپلو محلي ستونزو او جنجالونو په باب يې له ولسمشر سره خبرې وکړې.
له لويې جرګې وروسته د سند د لاسليک لپاره د امريکايانو فشارونه زيات شول. امريکايانو غوښتل چې ستراتيژيک تړون د شيکاګو له کنفرانس نه مخکې لاسليک شي، په داسې حال کې چې د سند متن تر دې مهاله وروستی شوی نه ؤ او لکه چې يادونه وشوه لويې جرګې د هغو په تړاو ډېر شرطونه او وړانديزونه ولسمشر ته سپارلي وو. د يادونې وړ ده چې د بګرام زندان او ملکي مرګ ژوبلې پر سر جنجالونه د امريکايانو او د هغوی د متحدينو له لوري پرلپسې د افغانانو بنديانول، د «تيري جونز» امريکايي پادري لخوا د قرانکريم سوځول، په بګرام کې د امريکايي عسکرو لخوا د قرانکريم د ټوکونو سوځول، د افغان دولت د حاکميت د کمزوري کولو او د ملي يووالي زيانمنولو لپاره د امريکايي سياستوالو پرلپسې هڅې، هغه لاملونه وو چې په هېواد کې يې فضا متشنجه کړې وه او عامه اذهان يې د امريکا متحده ايالاتو پر خلاف پارولي وو. دغه لاملونو پر خپل ځای د ولسمشر په تونړ درېځ کې اغېز درلود، په دغسې شرايطو کې د امريکا د بهرنيو چارو وزيره هيلري کلنټن کابل ته راغله، نوموړې په خپلو خبرو کې د افغانستان د قومونو او آن د سمتونو يادونه وکړه چې په کابل کې د غوسې او يو لړ پوښتنو د راپيدا کېدو سبب شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو له تړون نه د اډو تړون چې د امنیتي او دفاعي تړون په نامه یادېده له بېلېدو سره آرامه ساه واخیستله، ځکه چې دې کار موږ ته ډېر فرصت په لاس راکاوه، که له یوه پلوه امریکایان د هغه برخې لپاره چې د دوی اصلي هدف ؤ اوس لاس په کار شول. بل لوري ته موږ دوی دې ته اړ کړل چې د عملیاتو د افغاني کېدو تفاهم‌لیک لاسلیک کړي، هڅه مو وکړه چې د شپنیو عملیاتو، د افغانانو د نیولو او د زندانو د کنټرول مخه یې ونیسو.

د ۲۰۱۲م کال د اپریل په اتمه یو تفاهم‌لیک د افغانستان په خاوره کې د ځانګړو عملیاتو د افغاني کېدو په برخه کې د «د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د امریکا متحده ایالاتو تر منځ د تفاهم یادښت» ترعنوان لاندې په درې فصلونو او ۱۵ مادو کې د افغانستان د دفاع وزیر جنرال عبدالرحیم وردګ او د امریکا د پوځي ځواکونو د قوماندان جنرال الن لخوا لاسلیک شو. دغه سند تلاشی بشپړې افغاني کولې، او ځانګړي او د شپې لخوا عملیات یې هم د افغانانو تر قوماندې لاندې راوستل، مګر دا چې افغانانو له بهرنیو ځواکونو څخه د ملاتړ غوښتنه کړې وای. دغه مهال امریکایانو ومنله چې د سند عنوان له اعلامیې نه په تړون بدل شي.

امریکایانو زیاته هڅه کوله چې د ستراتیژیکو اوږدمهاله همکاریو په سند کې داسې مسایل ځای کړي چې افغان لوري هغه په خپلو کورنیو چارو کې لاسوهنه ګڼله، د ساري په توګه د بشري حقونو اړوند مسالې، انتخابات، د ښځو د حقونو، قومونو، مدني ټولنې، د عقایدو د ازادۍ او نور.

کله به چې دوی ته وویل شول چې دغه ټول حقونه زموږ په اساسي قانون کې تسجیل شوي دي، ځواب به یې راکاوه چې: « د امریکا خلکو ستاسو اساسي قانون نه دی لوستی، هغوی باید وپوهېږي چې له یوه دیموکراتیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد سره يې تړون لاسليک کړی دی.» خو د قرارداد په متن کې د دغه ډول الفاظو راوړل په ښکاره د افغانستان په کورنيو چارو کې لاسوهنه وه او زموږ ملي حاکميت ته يې زيان رساوه، امريکايانو د معلومې اندازې پيسو له يادونې څخه هم ځانونه غړول چې افغانستان ته يې ورکولې. هغوی نه غوښتل چې د هغو دوو تفاهم‌ليکونو چې د بگرام زندان او ځانگړيو عملياتو په باب يې له افغانستان سره لاسليک کړي وو په تړون کې يادونه وشي. په دې وروستۍ برخه کې يې دليل دا ؤ چې دغه تفاهم‌ليکونه الزامي نه دي، د ولسمشر ځواب داسې ؤ: «په داسې صورت کې چې الزامي نه دي نو بيا مو ولې لاسليک کړل او گټه به يې څه وي؟» هغوی مالي مرستې له حکومتولۍ او نورو مسايلو سره د افغانستان په کړنو پورې مشروطې کړې وې. د انتخاباتو په اړه ولسمشر کرزي ټينگار کاوه چې د تړون په متن کې دې زيات شي چې: «بهرنيان بايد په هغو کې لاسوهنه ونه کړي» د امريکايانو استدلال دا و چې که داسې وليکل شي نو د انتخاباتو په برخه کې د تخنيکي او مالي مرستو مخه به يې ونيول شي. بالاخره پر دې توافق وشو چې په متن کې داسې راشي چې «په انتخاباتو کې نه کورنۍ لاسوهنه وشي او نه د بهرنيانو.» د اپريل په دوهمه نيمايي کې د تړون پر متن کاري غونډو تقريباً ورځنۍ بڼه غوره کړه. د دې غونډو يوه برخه د دولت د حقوقي، پوځي او اقتصادي مسوولينو سره، ځينې يې له سياسي مشرانو او ځينې بيا د امريکا له ملکي او پوځي استازيو سره تر سره کېدلې.

په هغه غونډه کې چې د اپريل پر ۱۹مه په گلخانې ماڼۍ کې جوړه شوه ولسمشر يو ځل بيا د تړون اصلاح شوی متن د غونډې برخوالو ته وړاندې کړ او له دوی نه يې پرې نظر وغوښت. په دې غونډه کې قاضي القضات، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون رييس، د عدليې وزير، د چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ادارې رييس، د ملي امنيت سلاکار، د بهرنيو چارو وزير، د ولسمشر وياند او ما (خُرم) ګډون درلود. د ولسمشر اساسي پوښتنه دا وه چې آيا دغه نهايي شوی متن په بشپړ ډول د افغانستان له قوانينو سره مطابق دی که نه؟ قاضي القضات ښاغلي عظيمي وويل چې د افغانستان له قوانينو سره په ټکر کې کوم شی پکې نهويني. د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسيون رييس پر متن پرلپسې کار ته په اشارې د ښاغلي عظيمي نظر تائيد کړ خو دا يې زياته کړه چې د ځينو کليمو شتون يې لکه «مکلفيت لري» چې د افغانستان دولت ته راجع شوې له اساسي قانون سره په ټکر کې دي. او د دې غوښتنه يې وکړه چې نوموړی متن يو ځل بيا له سره په دقت ولوستل شي. قاضي القضات او د عدليې وزير د استاد قاضي خبرې تائيد کړې.

ولسمشر په هر ځل په متن کې نوي اصلاحات راوستل او کله کله به يې وړوکې کليمې بدلولې يا به يې حذفولې او يا به يې اضافه کولې. دې کار د امريکا د سفير او سپنتا حوصله تر مورګو کوله چې د خبرو د پر مخ وړلو مسووليت يې پر غاړه ؤ. يوه ورځ ډاکټر سپنتا د ولسمشر لخوا د بدلونو د راوستلو په غبرګون کې وويل: «مهرباني وکړئ دغه متن زر وروستی کړئ چې يو جدي هېواد ښکاره شو. دومره د کار ځنډول ښه کار نه دی، زه مجبور يم دغه بدلونونه امريکايانو ته ورکړم او هغوی مجبور دي چې واشنګټن ته يې واستوي (...) ولسمشر يې په ځواب کې وويل: «جدي دولت هغه دی چې تر پايه بحث وکړي او بدلونونه راولي.» د هغې ورځې په سبا يانې د اپريل په ۲۱مه مازيګر مهال ټاکل شوی ؤ چې د امريکا سفير کراکر له خپل مرستيال کننګهم سره د ولسمشر دفتر ته راشي او د سند او کار د پرمختګ په باب خبرې ورسره وکړي. ولسمشر په يو ځای کې «هغوی» (They) په «افغانستان» بدل کړی ؤ. د امريکا سفير ډېر خوړين شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې ويل چې وروستی ځل کوم بدلونونه راوستل شوي وو هغه مې واشنګټن ته واستول او مرکز ته مې وويل چې همدغه وروستی شوی متن دی، هغه بيا زياته کړه: «يا ټول متن ومنئ او يا ټول رد کړئ.» خو ولسمشر يې په ځواب کې وويل چې ياده کلمه کېدای شي بل ډول تعبير شي او وروسته ښايي بدې پايلې ولري. سفير بالاخره په دې شرط ومنله چې همدا وروستی متن شي.

د اپريل پر ۲۲مه د ملي امنيت شورا په غونډه کې وروستی شوی سند تر بحث لاندې ونيول شو. د غونډې ټولو برخوالو ته د متن کاپيانې ورکړل شوې چې هغه ولولي. په غونډه کې د ولسمشر مرستيالان، ډاکټر اشرف غني احمدزی، د ملي وزارت مرستيال او سرپرست عنايت الله نظري، د کورنيو چارو وزير، د سولې عالي شورا د دارالانشا رييس او د ولسمشر سلاکار معصوم ستانکزی، لوی درستيز جنرال کريمي، د محلي ارګانونو رييس عبدالخالق فراهي، له مخدره موادو سره د مبارزې وزير ضرار احمد مقبل، د ولسمشر ويندوی ايمل فيضي، د دفتر د رياست مرستياله حميرا اعتمادي، د ملي امنيت شورا سلاکار ډاکټر سپنتا، د ملي امنيت شورا مرستيال انجينير ابراهيم سپين زاده، د ملي امنيت شورا مرستيال شيدا محمد ابدالي، د ملي امنيت عمومي رييس رحمت الله نبيل، د چارو د ادارې رييس ډاکټر صادق مدبر او ما (خُرم) ګډون درلود. د غونډې ټولو ګډون کوونکيو د سند له مطالعې وروسته هغه تائيد کړ، ډاکټر مدبر يو شمېر املايي او ټايپي غلطيو ته اشاره وکړه. ما په ځينو ټکيو چې اعتراض درلود مجلس ته مې وړاندې کړل او د هغه نسخې پر سر مې چې په لاس کې مې وه وليکل: «سند د ژباړې ستونزه لري، زموږ حقوقي اصطلاحات په ځينو برخو کې نه دي کارول شوي، او د دوهمې برخې د درېيمې او ځلورمې مادې له محتوا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف یم.» ولسمشر له ما نه توضیحات وغوښتل په ځواب کې مې ورته وویل چې په یادو شویو موادو کې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده او د افغانستان د دولت د حاکمیت نقض دی. په هغو مادو کې په داسې چارو کې چې د یوه خپلواک هېواد له عام او تام واکونو څخه دي، افغانستان ته یې د امر او نهې او د مسوولیت ټاکل درلودل.
سند یو ځل بیا د اپریل پر ۲۴مه د قاضي القضات ښاغلي عظیمي، استاد قاضي، د عدلیې وزیر ښاغلي غالب، په پارلماني چارو کې د دولت وزیر ښاغلي همایون عزیزي، د ملي امنیت شورا د دفتر او زموږ د دفتر لخوا د ولسمشر په حضور کې ولوستل شو. د ټرون متن په ټوله کې تائید شو خو د هغو پښتو ژباړه چې د بهرنیو چارو وزارت د جګپوړو مامورینو جانان موسی زي او لطیف بهاند لخوا تر سره شوې وه نیمګړې وبلل شوه. د اپریل پر ۲۵مه د ارګ په ګلخانه کې لویه غونډه راوبلل شوه، تر څو وروستی شوی متن ګډونوالو ته واورول شي توافق او یا نه توافق یې ترلاسه شي. په دې غونډه کې د ولسمشرۍ مرستیالان محمد قسیم فهیم او استاد خلیلي، پیر سید احمد ګیلاني، حضرت صبغت الله مجددي، استاد عبدالرب رسول سیاف، سید منصور نادري، حاجي محمد محقق، سلیمان یاري، مولوي ارسلا رحماني، عبدالروف ابراهیمي، فضل الهادي مسلمیار، حاجي دین محمد، نعمت الله شهراني، مولوي قیام الدین کشاف، ذبیح الله مجددي، ډاکټر سپنتا، ډاکټر مدبر، ایمل فیضي، شیدا محمد ابدالي، زلمی رسول او ما (خُرم) ګډون درلود، په پیل کې د ملي امنیت سلاکار متن ولوست ورپسې د غونډې هر غړي خپل نظریات وړاندې کړل، حاجي محمد محقق د مشروع دفاع او دا چې افغانستان به د دریم هېواد پر خلاف د تیري د پیل ټکی نه وي پر موضوع تمرکز وکړ او خپل نظریات یې بیان کړل. نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو متن تائید کړ. ښاغلي ابراهیمي د وکیلانو پوښتنې د هغوی په استازیتوب ولوستې، ښاغلي مسلمیار وړاندیز وکړ چې سند په کابل کې لاسلیک شي، حاجي دین محمد د امریکایانو د بې ویزې راتللو ستونزه مطرح کړه، مولوي کشاف وویل چې «د لویې جرګې د پرېکړه‌لیک له مخې زموږ اسلامي ارزښتونه مهم دي، باید پیل یې په اسلام او بسم الله شي.»
ډاکټر سپنتا په ځواب کې ورته وویل: « مولوي صاحب زه کافرانو ته نشم ویلای چې په بسم الله یې پیل کړي او په پای کې لاسلیک وکړي.»
استاد شهراني د حدیبیې سوله یاده کړه وې ویل: «دغه مسایل ستونزې نه جوړوي، ځکه هلته مشرکانو وویل چې د رسول الله پر ځای دې یوازې محمد بن عبدالله ولیکل شي او پیغمبر ومنله.» خو ولسمشر د کشاف خبره تائید کړه ویې ویل «هر هېواد خپل ځانګړی تشخص لري» ذبیح الله مجددي هم همدغه خبره تائید کړه. د هغې ورځې په مازیګر یو ځل بیا سفیر راین کراکر او جنرال الن د ولسمشر دفتر ته راغلل چې د تړون د متن په باب د ده توافق واخلي. سفیر کراکر وویل چې یوه ورځ وړاندې یې پیر صاحب او حضرت صاحب ته زنګ وواهه او هغوی یې هڅولي وو چې د نن ورځې غونډې ته راشي، د ده په وینا هغوی ډېر خوشاله وو چې بالاخره د سند کار بشپړ شو. ولسمشر وویل: «دریغه درنه غوښتي مې وای چې ښاغلي عبدالله او قانوني ته هم زنګ ووهه، ځکه چې هغوی مو رابللي وو خو را نه غلل» وروسته ولسمشر تر غرمې مخکې غونډې او په هغو کې ځینو وړاندیزونو ته اشاره وکړه چې باید د لویې جرګې د پرېکړه‌لیک له مخې د افغانستان د خلکو ارزښتونو او عقایدو ته د سند په پیل کې درناوی یاد شي.
سفیر ډېر نا آرامه شو وې ویل: «موږ خو وروستی شوی سند په نبنه کړی هم ؤ، نور کار ختم شوی دی، په دې کې بدلون راوستل به ګران وي.» خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر ټینګار وکړ. سفیر وویل «موږ یو سیکولر هېواد یو. زموږ په هېواد کې د عقایدو او مذهب آزادي شته.» ډاکټر سپنتا وویل «کېدای شي د لاسلیک پر مهال اوباما ووایي چې زه د افغانانو عقایدو ته درناوی لرم» ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «څه کېږي چې په سند کې ولیکل شي، که سبا ته مولوي کشاف اعتراض وکړي او ووایي ...؟» ډاکټر سپنتا په ځواب کې وویل: «بیا به یې معاش وربند کړو. دوولس زره ډالره معاش اخلي، د مرمۍ ضد موټر لري» ولسمشر په غوسه له ملنډو په ډکه لهجه وویل: «دا به نور هم بدتر شي، هر څه خو په پیسو نه دي، د افغانستان خلک دي...» بیا یې سفیر ته مخ راواړاوه ویې ویل: «د ځای موضوع څنګه شوه، باید په کابل کې لاسلیک شي، نن د غونډې برخوالو په نورو مادو کې لکه دا چې افغانستان د جګړې د پیل ټکی نه وي نظریات درلودل» سفیر کراکر په وارخطایۍ وویل: «مهرباني وکړه نور په دې کې بدلون مه راولئ!» بالاخره د سند په پیل کې د نومبر د میاشتې لویې جرګې اشاره ځای پر ځای شوه.

د اپریل پر ۲۸مه سناتور جان کیري کابل ته راغی او په ارګ کې یې له ولسمشر سره ولیدل. نوموړي د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو د سند د بشپړېدو مبارکي ولسمشر ته ورکړه وې ویل چې د دې لاسلیک به د طالبانو او مخالفینو د روحیې کمزورۍ کېدو سبب شي. جان کیري زیاته کړه: «د ټرون تر لاسلیک وروسته د انتخاباتو او ستاسو د ځایناستي مساله ډېر ارزښت پیدا کوي. باید انتخابات ښه او راتنه تر سره شي چې ستاسو ولسواکي تر پوښتنې لاندې رانشي.» ولسمشر کرزي یې په ځواب کې وویل: «سمه ده، خو چې امریکا د تېرو انتخاباتو په څېر هڅه ونه کړي چې یو نوماند بریالی او بل ناکام شي او په دې کې له لاسوهنې ډډه وکړي.» جان کیري وویل: «هغه لاسوهنې د اشخاصو کار ؤ، موږ او تاسو د هغو په باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې خبرې کړې دي، اوس ژمنه درکوم چې په تخنیکي برخه کې مرسته کوو خو لاسوهنه نه کوو.» په دې ناسته کې د امریکا د ترهګرۍ خلاف غلطه مبارزه چې اصلي ځالو ته یې پام نه کېږي یو ځل بیا مطرح شوه، سناتور کیري د ملي اردو قومي ترکیب هم یاد کړ چې د دفاع وزیر د هغو په باب توضیحات ورکړل.

د سند له بشپړېدو سره بله جنجالي مساله چې پاتې وه هغه یې د لاسلیک ځای ؤ. امریکایانو ډېر ټینګار کاوه چې هغه په واشنګټن کې لاسلیک شي، د دوی د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن ولسمشر کرزي ته زنګ وهلی ؤ چې امریکا ته یې تلو ته وهڅوي، نوموړې ویلي وو چې د سپینې ماڼۍ په «روز ګارډن» کې به د لاسلیک لپاره شاندار مراسم جوړ کړي او په هغو کې به ډېر شمېر جګپوړي شخصیتونه راوبولي. په ارګ کې ولسمشر کرزی، ایمل فیضي او زه په امریکا کې د تړون له لاسلیک سره کلک مخالف وو. په وروستۍ غونډه کې مو چې ماښام د ولسمشر په دفتر کې درلوده او په هغو کې د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر زلمی رسول، د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکټر سپنتا، او ایمل فیضي هم وو پر دې موضوع اوږد بحث وشو. غونډې تر ناوخته دوام درلود، په پای کې ولسمشر د ملي امنیت سلاکار ته دنده ورکړه چې سفیر کراکر یې دفتر ته وغواړي او د بهرنیو چارو له وزیر سره د افغانستان د دولت وروستۍ پرېکړه ورته ابلاغ کړي چې سند باید په هر صورت په کابل کې لاسلیک شي.

چې څنګه ډاکټر زلمی رسول او ډاکټر سپنتا د ولسمشر له دفتره ووتل نوموړي ما ته وویل چې له هغوی سره ملګری شم چې هېڅ ډول سستي ونه کړي او د ده د پیغام په رسولو کې کوم ابهام پاتې نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي د شپې نهه يا لس بجې به وې، له څو دقيقو وروسته سفير کراکر په داسې وارخطا حالت چې کاوبای پتلون يې اغوستی ؤ او وېښتان يې ګډوډ وو د سپنتا دفتر ته راغی، دا چې نا منظم لباس يې ؤ معذرت يې وغوښت. هغه پر دې په اندېښنه کې ؤ چې د شپې په ناوخته کې ارګ ته وربلل شوی ؤ. ډاکټر رسول ډېر په نرمه حاشيوي خبرې پيل کړې، زه يې بيا بيا خبرو ته ورلوېدم او ويل مې: «وزير صاحب! رييس صاحب ويلي چې سپين ورته ووايئ چې موږ نه درځو دوی دې کابل ته راشي!» زما غير ديپلوماتيکو او پرلپسې مداخلو د بهرنيو چارو وزير خپه کاوه او دا يې د نزاکت نه رعايت ګانه خو بيا يې هم زغم له لاسه ورنکړ. لنډه دا چې د امريکا سفير زموږ پيغام واخيست او د سفارت په لور روان شو چې هغه سپينې ماڼۍ ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغانستان ته د اوباما راتګ

د مې په لومړۍ ورځ سهار له معمول سره سم خپل دفتر ته لاړم. په پيل کې مې د دفتر يو لړ کارونه وکړل او د ولسمشر د راتلو په انتظار وم چې هره ورځ به پلی له خپل کور نه د ګلخانې ماڼۍ ته راتلو. انتظار مې اوږد شو. سره له دې چې ارګ راته بدل غوندې ښکارېدو خو تر هغه مهاله مې خاص څه نه وو ليدلي. ولسمشر تېره ورځ دفتر ته نه ؤ راغلی.

د ولسمشر پروګرام يې هره ورځ زما د مېز پر سر راته اېښود، په هغه ورځ يوازې د مازيګر په پنځو بجو له امريکايي سناتورانو سره د ولسمشر د ليدو پروګرام پکې ليکل شوی ؤ. لس نيمې بجې زما سکرتر جاويد فيضي احوال راوړ چې د ولسمشر د ساتونکيو رياست (PPS) غواړي يو لړ تمرينونه تر سره کړي ځکه خو له ډاکټر سپنتا، انجينر ابراهيم، شيدا محمد ابدالي، ايمل فيضي او ما (خُرم) پرته نور ټول له دفترونو او ارګه بايد ووزي، ځکه چې دوولس نيمو بجو وروسته د ارګ ټولې لارې تړل کېږي. په حيرانۍ مې وپوښتل چې دا څه ډول تمرينونه دي؟ جاويد فيضي وويل «پخوا هم کله کله د پي پي ايس لخوا داسې تمرينونه تر سره کېدل او داودزي صاحب به د ولسمشر رول ادا کاوه او قره قلي به يې پر سر کوله»

ارګ ورو ورو تش شو. هر لوري ته چوپه چوپتيا شوه. باغبانان، پخوونکي، د جګپوړيو شخصيتونو د ساتنې مسوول د لسم رياست زياتره غړي، د جمهوري ګارد عسکر، دامنيت شورا د دفتر او د ولسمشر د دفتر مامورين، زياتره خدمتګاران، برقيان، نلدوانان او .... ټول له ارګه ووتل.

څو تنه د ولسمشرۍ د تشريفاتو د رياست غړي او زما مرستيالان په ارګ کې پاتې شول، د دوهم نمبر ماڼۍ له الحاقيه ودانۍ نه چې د ولسمشر د کور تر څنګ واقع ده زنګ راغی چې ۱۲ نيمې بجې هلته ولسمشر ته ورشم. چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله الحاقیه ودانۍ ته ورسېدم ولسمشر، مارشال فهیم، استاد خلیلي، ډاکټر سپنتا یې له مرستیالانو سره او ایمل فیضي هلته د دوهم پوړ په صالون کې ناست وو، ولسمشر ډېر په غوسه ؤ، چې خبرې مې یې واورېدلې وپوهېدم چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما په لاره دی او افغانستان ته راځي. داسې ښکارېدله چې امریکایانو د شپې په بهیر کې زموږ د امنیت شورا له دفتر سره خپل ټول پروګرام همغږی کړی ؤ، ولسمشر وویل: «دغه په غلا راتګ ډېر سپکاوی دی» ما یې خبرې تایید کړې ومې ویل: «خلکو ته بد پیغام ورکوي».

ولسمشر ته یې احوال ورکړی ؤ چې د امنیتي دلایلو له مخې به هغه ټول مشران چې د ستراتیژیکو اوږد مهاله همکاریو د تړون د لاسلیک په مراسمو کې د ګډون لپاره ارګ ته راځي تلاشي کېږي، آن د مارشال فهیم پکول، د استاد خلیلي او حضرت صبغت الله مجددي لونګۍ به هم تلاشي کېږي. ولسمشر، ما او مېرمن اعتمادي د شاندارو مراسمو د ترتیب لپاره د ډېرو سیاسي او جهادي مشرانو پر رابللو خبرې کړې وې او په پام کې وه چې د امریکا ولسمشر ته ښه مېلمستیا ورکړو. اوس نو زموږ ټول پروګرامونه ګډوډ شوي وو، ولسمشر د امنیت شورا د دفتر مامورینو ته دنده وسپارله چې پوښتنه وکړي اوباما چېرته دی؟ احوال یې راوړ چې په لاره دی بیا یې پوښتنه وکړه چې کېدای شي په الوتکه کې ورسره اړیکه ونیول شي، او پیغام ورکړای شي؟ احوال یې راوړ چې «هو کې!» ولسمشر خپلو مرستیالانو ته مخ واړاوه وې ویل:

« هغوی غواړي چې تاسو هم تلاشي کړي، زه دغه سپکاوی نه منم، زه دغه پروګرام فسخه کوم او پخپله اوباما ته وایم چې په هر ځای کې یې ببرته ستون شه او زموږ هېواد ته مه راځه!» مرستیالانو ټینګار وکړ وې ویل: «زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډون د لاسلیک په مراسمو کې مهم او ضروري نه دی که څه هم هغوی ښه کار نه کوي خو باید پر دې موضوع د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې نه شي. مارشال فهیم له غونډې د وتلو پر مهال څو سپورې کنځلې امریکا او اوباما ته ورحواله کړې.

د لاسلیک او ملاقات لپاره د حرمسرای ماڼۍ ټاکل شوې وه، ولسمشر اوباما د سند له لاسلیک وروسته سمدستي بګرام ته ستنېدو چې له خپلو پوځیانو سره وګوري او هغوی ته وینا وکړي. د امریکایي ملکي او پوځي کسانو شمېر د هرې شېبې له تېرېدو سره زیاتېدو، ما د پي پي ایس له لړو کسانو سره وسلې لیدلې او شمېر یې هم په ارګ ډېر لږ شوی ؤ. ولسمشر ما ته وویل چې د خدماتو رییس ته ووایم چې هغه میز او چوکۍ چې د تړون د لاسلیک لپاره کارول کېدل په ښه ډول تنظیم کړي. په ځواب کې مې ورته وویل «په ارګ کې څوک نه دي پاتې شوي، نږدې ټول کارکوونکي له ارګه وتلي او خپلو کورونو ته استول شوي دي»، ولسمشر په غوسه او حیرانۍ وپوښتل: « دا کار چا کړی؟» ځواب مې ورکړ «د امنیت شورا دفتر او پي پي ایس» ولسمشر انجینر ابراهیم سپین زاده ته مخ واړاوه او په غوسه یې له هغه نه د سبب پوښتنه وکړه، ښاغلي سپین زاده چې د معمول پر خلاف په غوسه شوی ؤ له دې پرته چې ځواب ورکړي وې ویل: «د امریکا پیسې خورو خو بیا یې هم مخالفت کوو» په پوره باور د ښاغلي سپین زاده مخاطب زه وم او د پیسو نه یې هدف زما معاش و. ولسمشر ډاکتر سپنتا ته مخ ور واړاوه په طنز یې وویل: « ته په ناحقه دومره په بړه بړه د امریکایانو دفاع کوې ، اصلي سړی خو یې ابراهیم جان دی!» امریکایانو د ژورنالیستانو د راوستلو مسوولیت پخپله غاړه اخیستی ؤ، د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو رییس چې په بشپړ صداقت د دوی په خدمت کې ؤ وویل: «رییس صاحب د ارګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میز او چوکۍ نه مني، ما دنده اخیستې چې له بهرنیو چارو وزارت نه میز او چوکۍ او سرمیزي راوړم، دوسیې هم زه چمتو کوم تاسو ډاډه اوسئ!»
د غرمې ډوډۍ پر مهال زه ولسمشر ته نږدې ناست وم، هغه ما ته مخ را واړاوه او وې ویل: «خُرم صاحب! دا زما او ستا برۍ او د امریکا ناکامي ده» ډاکټر سپنتا په ملنډو وویل: راځئ چې صداقت معلوم کړو زه د پاکستان او ایران مخالف یم، چمتو یم چې د پاکستان دال او ام او د ایران چلو کباب و نه خورم، څوک چې د امریکا مخالف دي باید نه یې له پیسو ګټه واخلي نه له موټرو «ولسمشر په داسې حال کې چې ډېر په غوسه ښکارېدو د هغه په ځواب کې وویل: «موږ باید د خپل فکر او استدلال طریقه بدله کړو، څه شیان موږ هغوی ته ورکوو او څه شیان هغوی موږ ته راکوي، هغوی زموږ له خاورې او هر څه څخه ګټه اخلي، دلته د خپلو موخو لپاره راغلي دي، هغوی افغانانو ته زیات محتاج دي، هغوی باید زموږ منندوی وي نه دا چې موږ د هغوی منندوی وو.»
د مازیګر په پنځو بجو امریکایي سناتوران په داسې حال کې ارګ ته راغلل چې په وېروونکي حالت له خلکو تش او په چوپتیا کې ډوب ؤ. پخوا تر دې چې غونډه پیل شي ډاکتر سپنتا موږ ټولو ته وویل چې له سناتورانو پرته نور کسان د بارک اوباما له راتګ خبر نه دي او باید په غونډه کې په دې باب څه و نه وایو. د نوموړي پلاوي مشري د سناتور «کارل لوین» پر غاړه وه، په مجلس کې د ملي اردو د پیاوړتیا پر مسایلو، د پوځیانو د شمېر، فشار او هغو قراردادونو چې بهرنیانو د دولتي چارواکیو خپلوانو ته ورکول بحثونه وشول. ولسمشر په ډېرو برخو کې د امریکا په دوه ګوني چلن نیوکې وکړې وې ویل: «دلته د ځواک بېلابېل مرکزونه شته، په اداره کې بېلابېل ډولونه معاشونه دود کړای شوي دي، جنرال دوستم چې له ما سره وي هغه ته جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالار وایئ خو چې کله د تاسې د کانگرس د غړیو ورته اړتیا شي هغه تر جرمني پورې بیایئ او په برلین کې یې مېلمه کوئ».

سناتور لیوین هم پر ولسمشر نیوکه وکړه وې ویل: «په ډېرو برخو کې ستا توند انتقادونه چې په عامو غونډو کې کېږي موږ ته په امریکا کې ستونزې زېږوي. د ساري په توگه په کابل کې چې وروستی برید وشو ومو ویل چې دا د غربیانو استخباراتي ناکامي ښيي.»

## ارگ ته د اوباما راتلل او په نیمه شپه کې د تړون لاسلیک

د امریکا رسنیو یو وخت د امریکا او افغانستان مشارکت د موږ.ک او فیل تر منځ بللی ؤ. له دغه ډول روحیې سره د یوه هېواد ولسمشر چې د نړۍ په بې سیاله حاکم بدل شوی ؤ داسې کار ته اړ ایستل چې نا آرامه کاوه یې او د سپکاوي احساس یې پکې را پیدا کاوه آسانه کار نه ؤ. سره له دې اوباما کابل ته راغی، خو په نه زړه او نا خوښۍ.

بارک اوباما د شپې نا وخته، د اسامه بن لادن د وژلو په لومړۍ کلیزه له هلیکوپتر څخه په ارگ کې پلی شو. تر دې مخکې ژورنالیستان، د تشریفاتو د برخې کارکوونکي او د نوموړي امنیتي مسوولین په ارگ کې ځای پر ځای شوي وو. د تړون د سند د لاسلیک لپاره د حرمسرای ودانۍ په لومړي پوړ کې د حوض پر غاړه تیاری نیول شوی ؤ او د لیدنې لپاره د دوهم پوړ لوی تالار په پام کې نیول شوی ؤ.

انجنیر ابراهیم سپین زاده، ایمل فیضي او زه د اوباما له را تگه مخکې د حرمسرای په لور لاړو. مانۍ ته د ور ننوتلو په دروازه کې په شخصي درېشیو کې امریکایي غوسه ناک امنیتي کسان ولاړ وو. انجنیر ابراهیم په طنزیه لهجه ما ته چې د امریکایانو منتقد وم او له دې مراسمو سره مې هم مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی ؤ وویل: «خوښه دې ده چې ورته ووایم همدلته دې لاس وتړي او ور سره یو دې سي؟»
ودانۍ ته ننوتو، د هغه اطاق د ارزونې لپاره چې په پام کې وه ملاقات پکې تر سره شي ورغلو. مېرمن اعتمادي هم را سره ملګرې شوه، کله چې د اطاق کړکۍ ته ور نږدې شوه، د یوې مېرمنې چې طلايي وېښتان یې درلودل او تومانچه یې تر ملا وه او د امریکایانو له خوا د دې اطاق مسووله ټاکل شوې وه په غوسه منع شوه. مېرمن اعتمادي ته یې وویل چې د اطاق له منځه یوې او بلې خواته لاړه نشي.
ولسمشر کرزي د اوباما هر کلی وکړ او د حرمسرای تر ماڼۍ یې بدرګه کړ. د شپې یوولس نیمې بجې وې خبرې پیل شوې. بارک اوباما د چای او آن د هغو اوبو له څښلو چې د ارګ خدمتګارانو راوړې وې ډډه وکړه، هغه یو ځل د خپل یوه ساتونکي په لاس کې له بوتله اوبه وڅښلې، خبرې پیل شوې ، ولسمشر کرزي له ښه راغلاست وروسته څو ټکیو ته اشاره وکړه، هغه له تړون وروسته جګړې او نا امنۍ ډېرې خطرناکې وبللې، د ایران او پاکستان په څېر هېوادونو ته یې اشاره وکړه او د هغو موازي ادارو یادونه یې وکړه چې امریکا منځته راوړې وې او د افغانستان حکومتولي یې کمزورې کوله.
بارک اوباما د ایران په باب وویل چې هېواد یې له ایران سره جګړې او تاوتریخوالی نه غواړي او د پاکستان په اړه یې د هغو فشارونو چې په دې وروستیو کې پرې راوړل شوي وو یادونه وکړه. هغه وویل چې هم مهاله طالبانو ته د جګړې او سولې پیغام ورکوي.
له ملاقات وروسته لومړي پوړ ته را ښکته شوو، کامرې هغه میز ته برابرې شوې وې چې په پام کې وه د ستراتیژیک تړون سند پرې لاسلیک شي. ژورنالیستانو شېبې شمارلې، د افغاني مېلمنو په منځ کې د ارګ پر ټیم سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېره د بهرنیو چارو وزیر، لوی درستیز، د دفاع وزیر او د ملي امنیت رییس هم حاضر وو. د امریکایانو له لوري د سفارت پر غړیو سر بېره د امریکا عمومي پوځي قوماندان، د هغوی د خبرو کولو د ټیم یو شمېر غړیو او کابل ته راغلیو سناتورانو ګډون درلود، دواړو ولسمشرانو د اوږد مهاله ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک کړ او محفل پای ته ورسېد.

د اوباما د څرخۍ له الوتو سره د چارو د ادارې په مخه کې را ټول شوي ټانکونه هم وغورېدل او یو پر بل پسې لاړل. د امریکا ستایونکي خوښ وو. ایمل فیضي هغه (نښان) چې امریکایانو ګډون کوونکیو ته ورکړی وو چې پر خپل ټټر یې ټینګ کړي له خپلې کورتۍ نه را وشکاوه او تر پښو لاندې یې کړ.

په دې ډول له تاوتریخوالي او جنجالونو ډک له امریکا سره د اړیکو یو پړاو د هغه سند له لاسلیک سره پای ته ورسېد چې څو ځله اصلاح شو او بالاخره په دوو برخو ووېشل شو.

## ملکي مرګ ژوبله او له تړون وروسته ستونزې

د تړون له لاسلیک نه لا یوه اونۍ نه وه تېره شوې چې بمبارۍ او شپني بریدونه د ملکي مرګ ژوبلې سبب شول. دا هغه څه وو چې ولسمشر کرزي ترې وېره درلوده او له هغو یې د امریکا ولسمشر او نورو چارواکیو ته ګواښ کړی ؤ.

دغه مرګ ژوبله په هلمند، بادغیس، کاپیسا او لوګر کې اوښتې وه. ولسمشر له جنرال الن نه په ځانګړې توګه د یوې مېرمنې او پنځو ماشومانو په اړه پوښتنه وکړه چې په یوه برید کې وژل شوي وو. نوموړي روښانه ځواب ور نه کړ وې ویل چې په دې برخه کې به څېړنې وکړي. دغه غونډه د ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دفتر کې وه چې په هغو کې سفیر کراکر، جنرال الن، زموږ د بهرنیو چارو وزیر زلمی رسول، د ملي دفاع وزیر جنرال وردګ، د کورنیو چارو وزیر بسم الله محمدي، د ملي امنیت شورا سلا کار ډاکټر سپنتا، ایمل فیضي او ما ګډون درلود له خپګانه په ډکه فضا کې غونډه پیل شوه.
ولسمشر وویل په داسې صورت کې چې پر کلیو بمبارۍ دوام وکړي د ستراتیژیک تړون لاسلیک به خپل مفهوم له لاسه ورکړي. د څو شېبو لپاره پر غونډه چوپتیا خپره شوه، سفیر کراکر په وار خطایي هر لوري ته سترګې اړولې، جنرال الن نېغ ولسمشر ته کتل چې سر یې ښکته اچولی ؤ او چوپ ؤ. له څو شېبو چوپتیا وروسته ولسمشر خبرې پیل کړې او وې ویل: «ما تړون د دې لپاره لاسلیک کړ چې زموږ په منځ کې او زموږ په هېواد کې د جګړې یو نوی پړاو پیل شي، خو دغه نوی فصل ډېر بد پیل شو، یوه کورنۍ بشپړه په بمبارۍ کې له منځه یووړل شوه، یوازې د کورنۍ پلار ژوندی پاتې دی هغه هم ځکه پاتې دی چې په خپله ځمکه کې په کار بوخت ؤ. آخر څوک د دغو بمباریو په باب پرېکړه کوي؟» سفیر کراکر هڅه کوله چې ځواب ورکړي، جنرال الن د لاس په اشاره هغه منع کړ او وې ویل: « ښاغلی ولسمشره زه د دې پېښو مسوولیت پر غاړه اخلم، پوښتنه یې کوم او ځواب یې تاسو ته راوړم.»
سبا ته ولسمشر د تیلفون له لارې د بادغیس ولایت د بالا مرغاب له خلکو سره خبرې وکړې، هغوی وویل چې بمباري د بازار په ورځ وشوه او هغه مهال په سیمه کې هېڅ طالب نه ؤ.
که څه هم ولسمشر له تړون او د هغو له پایلو خوښ نه ؤ بیا یې هم د می په ۲۴ مه د ولسي جرګې له رییس او یو شمېر غړیو سره غونډه جوړه کړه. غونډې ته هغه وکیلان را غوښتل شوي وو چې په پارلمان کې د تړون له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویب سره مخالف وو، مولوي شهزاده شاهد، عبدالستار خواصي، حاجي الماس زاهد، مولوي حنفي، عبدالطیف پدرام، عالمي بلخي او شیخ غفاري په دې غونډه کې حاضر وو. په ولسي جرگه کې له امریکا سره د اوږد مهاله ستراتیژیکو اړیکو تړون تصویب د یو شمېر وکیلانو د مخالفت له امله ځنډېدلی ؤ. ولسمشر یادو وکیلانو ته وویل چې دغه تړون یې پر ځان د ډېر فشار راوستلو په پایله کې لاسلیک کړی دی، نوموړي د سیمې د هېوادونو له یو شمېر مشرانو سره د لیدنو یادونه وکړه وې ویل چې د امریکایانو د کړو وړو په باب مې له هغوی سره خپلې اندېښنې یادې کړې خو لکه چې لازمه وه د سیمې د هېوادونو ملاتړ مې تر لاسه نکړای شو، ځکه یې په نه زړه له امریکا سره ستراتیژیک تړون لاسلیک کړ. هغه زیاته کړه چې نه غواړي داسې وانگېرل شي چې له یوه پلوه تړون لاسلیکوي او بل لوري ته په پارلمان کې د هغو د تصویب مخه نیسي، په یوه بڼه یې له وکیلانو وغوښتل چې د تړون له تصویب سره مخالفت ونکړي.

په هغه سفر کې چې د جون په میاشت کې مو د شانگهای د همکاریو سازمان (SCO) په غونډه کې د گډون لپاره چین ته درلود، ولسمشر د ایران له ولسمشر «احمدي نژاد» سره په لیدو کې هڅه وکړه چې نوموړی ډاډه کړي او و یې پوهوي چې له امریکا سره د تړون په لاسلیک کېدو به ایران ته د افغانستان له لوري هېڅ ډول خطر نه وي، سره له دې د ایران ولسمشر وویل: «افغانستان باید ملکي خلک امریکایي اډو ته له نږدې کېدو لرې وساتي». په بله وینا گواښ یې وکړ چې کېدای شي نوموړې اډې د ایران له لوري تر توغندویي بریدونو لاندې راشي. په هغه لیدنه کې چې د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین سره تر سره شوه ولسمشر کرزي له هغې تگلارې چې امریکا له ترهگرۍ سره د مقابلې لپاره غوره کړې وه شکایت وکړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه یې وکړه چې د دې پایله د مذهبي توند لارۍ او نژادي تفرقې سبب شوې ده. نوموړي وویل: «دغه کار به سیمې ته بدې پایلې ولري او په هېڅ صورت به د ترهګرۍ د له منځه وړلو سبب نشي». ولسمشر په پاکستان کې د ترهګرۍ مرکزونو او د امریکا له لوري هغو ته د امریکا نه پاملرنې ته هم اشاره وکړه. ولادیمیر پوتین د ولسمشر کرزي د خبرو په اړه د شک څرګندولو په ترڅ کې وویل: «د امریکا متحد ایالتونه به د ترهګرۍ خلاف جګړې کې د بریا په هڅه کې وي، دا به لېونتوب وي چې د هغو د پټنځایونو پر خلاف اقدام ونه کړي.» ولسمشر کرزي یې په ځواب کې وویل: «(...) که امریکا د بریا په تر لاسه کولو کې ده بیا راځئ چې په ګډه ورسره همکاري وکړو چې بریالی شي او پاکستان ته هم ډاډ ورکړو چې د افغانستان له لوري دې د خطر احساس نه کوي او د توند لارۍ د پیاوړي کولو هڅې دې نه کوي. روسیه او هند په دې برخه کې مهم رول تر سره کولای شي.» د پوتین ځواب دا ؤ چې روسیه له پاکستان سره د متقابل اعتماد پیاوړي کولو په هڅو کې ده او د افغانستان په تړاو له هغه هېواد سره په وضاحت پر مخ درومي او د امریکا په باب یې وویل چې: «د افغانستان په تړاو له امریکا متحده ایالاتو سره له هره اړخه بشپړ توافق لرو.»

موږ لا د چین په سفر کې وو چې د لوګر په برکي برک کې بمباري وشوه او ملکي وګړو ته یې د سر زیان واړاوه. ولسمشر د چین له ولسمشر «هوجن تاو» نه معذرت وغوښت او سفر یې لنډ کړ، په دې ډول موږ د کنفرانس له پای ته رسېدو مخکې له بیجېنګ نه د کابل په لور را روان شوو، کابل ته له رارسېدو سره د برکي برک خلک ارګ ته راوغوښتل شول چې د پېښې جریان ووایي. د هغې ورځې په مازیګر یو ځل بیا سفیر راین کراکر او جنرال الن د ولسمشر دفتر ته راوغوښتل شول. او بیا د ولسمشر د نیوکو او ګواښونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړۍ او د امريکايي جنرال د څېړنو او د داسې پېښو د نه تکرار ژمنه تکرار شول.

د جون په نيمايي کې د ايران د بهرنيو چارو وزير کابل ته راغی او په ارګ کې يې له ولسمشر سره وليدل. په دې ليدنه کې ښاغلي صالحي ته يو ځل بيا ډاډ ورکړای شو چې له امريکا سره د ستراتيژيکو اوږدمهاله همکاريو تړون په دې مانا نه دی چې د افغانستان له خاورې نه د ايران پر خلاف کار اخيستل کېږي. ولسمشر په دې برخه کې ډېر حساس ؤ، لامل يې له پاکستان سره زموږ ډېرې ستونزمنې اړيکې وې. ولسمشر نه غوښتل چې په يوه مهال له خپلو دوو ګاونډيانو سره په دښمنۍ کې وي. د ايران د بهرنيو چارو وزير ظاهراً د ولسمشر کرزي ډاډګيرنې ومنلې، خو زياته يې کړه چې: «(...) کله چې موږ خبرېږو چې امريکا په افغانستان کې پنځه يا شپږ لويې اډې جوړوي دا نو د طالبانو لپاره نه دي.(...)»

د امريکايانو پرلپسې بمباريو او د هغو په پايله کې پر ملکي تلفاتو سربېره ۲۰۱۲م کال زموږ ختيځ ولايتونه په تېره کونړ د پاکستان له لوري د توغندويي او توپخانې د بريدونو شاهد ؤ. د کونړ ولايت سپين ږيري چې د دغه ولايت له وکيلانو سره د اګست پر ۲۸مه ارګ ته ولسمشر ته راغلي وو، د پاکستان له بريدونو نه د شکايت په ترڅ کې يې يادونه وکړه چې له امريکا سره د ستراتيژيک تړون لاسليک کېدو ولس ته هېڅ ګټه نه ده کړې او د دوی د امنيت او خونديتوب سبب نه دی شوی. د دې غونډې يوه ګډونوال د سناتور روح الله حيدري په نوم ولسمشر ته وويل: «دا چې ناټو په خپلو ژمنو عمل نه کوي نو زموږ هېواد نيول شوی او اشغال شمېرل کېږي. او دا ستا (ولسمشر) مسووليت دی چې ولس له دې حالته خبر کړې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه ویډیو کنفرانس کې چې د سپتمبر پر ۲۹مه د امریکا او افغانستان د ولسمشرانو تر منځ تر سره شو ولسمشر کرزي یو ځل بیا له ستراتیژیک تړون لاسلیکولو وروسته د امنیتي وضعې له بدتر کېدو نه شکایت وکړ او دا یې د نوموړي تړون څخه د افغانانو د تمې خلاف وباله. نوموړي زیاته کړه چې افغانان نه غواړي په یوه اوږده جګړه کې راښکېل شي بلکې د هغو د پای ته رسېدو شېبې شمېري.

نوموړي له امریکا سره د یوه ژور او ستراتیژیک بحث غوښتنه وکړه. خو اوباما په داسې حال کې چې پر کرسۍ یې ډډه وهلې وه او ژاولې یې ژوولې، واشنګټن ته یې د بهرنیو چارو د وزیر زلمي رسول په سفر او پر امنیتي تړون ټینګار کاوه، هغه وویل چې د امریکا تر انتخاباتو پورې یوازې ۴۰ ورځې پاتې دي، ځکه خو پر مسایلو ژور او ستراتیژیک بحث ته تیاری نه لري.

نوموړي ژمنه وکړه چې دوې میاشتې وروسته به د مهمو مسایلو پر سر لکه د سولې پروسه، د افغانستان د پوځ پیاوړتیا او نورو مسایلو له افغان لوري سره ژورې خبرې وکړي. نوموړي زیاته کړه چې: «په افغانستان کې د کورنۍ جګړې عناصر لا پر ځای دي، وګورو چې په دې تړاو څه کولای شو.»

ولسمشر د سپتمبر په میاشت کې امریکا ته لنډ سفر درلود، تر څو هلته له پاکستان او برېتانیا هېوادونو سره په درې اړخیزه غونډه کې ګډون وکړي. د ملي امنیت شورا په غونډه کې چې د سپتمبر پر ۳۰مه په ګلخانه کې جوړه شوې وه ولسمشر د سفر د راپور د وړاندې کولو په ترڅ کې له اوباما سره د ویډیو کنفرانس یادونه وکړه چې په هغو کې یې په هېواد کې د نا امنیو د زیاتېدو، د پاکستان د تېریو او د امریکا د ژمنو نه عملي کېدو نه خپله نا خوښي ښودلې وه. ولسمشر د خبرو په دوام وویل: «په امریکا کې زلمی خلیلزاد ما ته راغی او وې ویل چې سپینې ماڼۍ ته یې وربللی وم چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو مسایلو کې مشوره ورکړم، ما له هغه نه وپوښتل چې په افغانستان کې جګړې او نا امنۍ ولې زیاتې شوې دي؟
په ځواب کې یې په زړه پورې خبرې راته وکړې، د ساري په توګه دا چې جګړې او نا امنۍ ښایي د دې لپاره زیات شوي وي چې تاسو (افغانستان) مجبور شئ چې د نا امنیو له وېرې امنیتي تړون زر لاسلیک کړئ. ما په ځواب کې ورته وویل چې دا اصلاً سرچپه ده، وې ویل که داسې وي نو باید لاړ شم او (سپینې ماښۍ) ته ووایم.»
ولسمشر د اوباما خبرو ته هم اشاره وکړه وې ویل چې نوموړي ویل نه پر پاکستان د حملې زور لري او نه غواړي چې حاکمیت ته یې زیان ورسوي.
په همدې خبرې وشوې، اسدالله خالد په خپل راپور کې وویل چې د شپږسوه کورنیو په شاوخوا کې د لالپورې پرېښودو ته اړې شوې دي.
«پولیټیکل ایجنټ» یا په مومند ایجنسۍ کې د پاکستان سیاسي استازي خلک ورغوښتي وو او هغوی ته یې ویلي وو چې دغه ځای د پاکستان مربوط دی او ځایي اوسېدونکي یې باید پرېږدي. د ښاغلي خالد د څرګندونو له مخې پاکستانیانو غوښتل چې چڅن غونډۍ لاسته راوړي.
د ملي امنیت شورا په غونډه کې چې د ملي شورا د دواړو مجلسونو د مشرانو او یو شمېر وکیلانو په ګډون د اکتوبر پر ۱۴مه په ارګ کې جوړه شوه، عبدالروف ابراهیمي له ولسمشر نه وغوښتل چې «له هغو دوستانو سره چې ستراتیژیک تړون ورسره لرو د پاکستان د ډزو او تېریو موضوع باید شریکه کړای شي، لږ تر لږه دې هغه وغندي» ولسمشر وویل: «دا کار مو کړی دی، آن چې غندلو ته حاضر نه دي،» د کورنیو چارو وزیر وویل چې په بروکسل کې یې دغه موضوع له لیون پنېټا سره یاده کړې وه، خو نوموړي په ځواب کې افغانان له جګړې منع کړي وو او په پای کې یې ویلي وو چې: «دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساله اساساً په تاسو پورې اړه نه لري.» مارشال محمد قسیم فهیم په همدې غونډه کې وویل: «نن پاکستان پرونی پاکستان نه دی، پخوا له کچه ګړی نه وړاندې نه شوای را تېرېدای اوس یې د ګوندونو له برکته سرکونه تېر کړي دي او تر صفري نقطې پورې رارسېدلي دي(...).»
داسې ښکارېدله چې د پاکستان د تېریو او ټولو نا امنیو تر شا د امریکا ملاتړ او مرسته وه، یا لږ تر لږه امریکا دغه توان نه درلود چې له بهرنیو او کورنیو خطرونو څخه د افغانستان دفاع وکړي. په دواړو صورتونو کې د امنیتي تړون د لاسلیک موضوع هر واقعیت ګرا او وطندوست افغان ته په ډېره ګرانه موضوع بدلېده، چې تر اقدام وړاندې یې باید پرې سل ځله فکر کړی وای.

## د هغې سولې لپاره هڅې چې تر پایه په لاس رانغله

د سولې لپاره هڅې په هېواد کې په ۲۰۱۰ کې د سولې د لویې جرګې او د سولې د عالي شورا له جوړېدو سره په منظم ډول پیل شوې او د حکومت په کاري اجنډا کې یې ځای ونیو. ۲۰۱۱ ، ۲۰۱۲ او د ۲۰۱۳ کال یوه برخه د سولې لپاره د توندو هڅو او هاند شاهدان وو. خو له امریکا سره د امنیتي او دفاعي تړون جنجالونو سوله د حکومت له کاري لومړیتوب نه وغورځوله تر دې چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د انتخاباتو په غوغا کې بشپړه هېره شوه.
د ولسمشرۍ د دوهمې دورې له پیل سره زما مشوره ولسمشر ته دا وه چې د سولې را وستل د دې دورې مهم کار وبولي. نوموړي د لوړې په مراسمو کې چې په سلامخانې ماڼۍ کې ترسره شول سوله د خپلې نوې دورې تر ټولو مهم کار وباله. زموږ مشورتي او څېړنیز مرکز هم د یوې شورا طرحه چې د سولې لپاره کار وکړي وړاندیز کړه او په لیکلې بڼه یې ولسمشر ته وړاندې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر تصمیم و نیو چې سولې ته د رسېدو پر لارو د بحث لپاره لویه جرګه جوړه کړي. نوموړي د هغو د جوړولو چارې ډاکټر غلام فاروق وردګ ته وسپارلې. نوموړي د ولسمشر د هدایت له مخې د لویې جرګې اړوند اسناد د لوستلو او پر هغو د نظر ورکولو لپاره زما کور ته راوړل ځکه چې په دغه کال ما حکومتي دنده نه درلوده. جرګه په ۲۰۱۰ کال، په دقیق ډول د ۱۳۸۹ لمریز کال د غبرګولي پر ۱۲ مه د لویې جرګې په مشهوره خېمه کې جوړه شوه او ریاست یې استاد برهان الدین رباني پر غاړه واخیست. امریکایانو د هرې جرګې په څېر له دې جرګې سره هم مخالف وو. ولسمشر چې د امریکایانو له دغه دایمي عادت څخه خبر ؤ په ډېر دقت یې د جرګې چارې څارلې.

په کومه ورځ چې لویې جرګې خپل کار پیل کړ، ښاغلي وردګ له یو څه انتظار وروسته چې مونږ د جرګې غړي یې په لامل نه پوهېدو اعلان وکړ چې امنیتي ادارو ده ته خبر ورکړی چې د جرګې جوړېدو ځای تر خطر لاندې دی. ځکه یې له ټولو وغوښتل چې له خیمې ووځي. ټول غړي په آرامۍ او درنښت بېله دې چې وارخطا شي له خیمې را ووتل، له نېکه مرغه کومه پېښه و نه شوه، د هغې ورځې په ماښام د کورنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر او د ملي امنیت عمومي رییس امر الله صالح د رسنیو له لارې خپلې استعفاوې اعلان کړې.

پېښه داسې وه چې د کورنیو چارو وزیر له انټرکانټیننټل هوټل څخه ښاغلي وردګ ته ټلیفون کړی و چې ګواکې یو ځانمرګی بریدګر د جرګې د غړیو په منځ کې خېمې ته ننوتلی دی او هره شېبه د دې امکان شته چې ځان د هغوی په منځ کې والوزوي، ښاغلي وردګ ولسمشر له دې پېښې خبر کړ او پرېکړه وشوه چې د جرګې غړي له خېمې را ووزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته ولیدل شول چې دغه خبر رښتیا نه ؤ او موخه یوازې د جرگې گډوډول وو. ولسمشر د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رییس هم په دې توطیه کې چې د نوموړي په اند د بهرنیانو له لوري جوړه شوې وه شریک و بلل او له هغوی یې وغوښتل چې استعفاوې ورکړي. جرگې د کار په پای کې ولسمشر ته «د سولې عالي شورا» جوړولو وړاندیز وکړ. هم د لویې جرگې او هم د سولې عالي شورا ریاست د جهادي مشرانو لکه حضرت صبغت الله مجددي، پیر سید احمد گیلاني او استاد برهان الدین رباني تر منځ په جنجالي موضوع بدل شوی ؤ. ښاغلي گیلاني هغه مهال ځان د سولې عالي شورا د بلا تنازع مشر په توگه گڼه چې ولسمشر هم سعودي عربستان ته د یو سفر پر مهال د هغه هېواد پاچا ته د داسې یوې شورا د جوړولو په باب چې مشري به یې ښاغلی گیلاني کوي یادونه کړې وه، ښاغلي مجددي چې پخوا یې هم د هغه کمېسیون د مشرۍ مسوولیت پر اوږه ؤ چې د وسله‌والو جنگیالیو د بیا ادغام لپاره یې فعالیت کاوه ځان یې د دې شورا د مشرتابه حقدار باله، خو ولسمشر فکر کاوه چې د استاد رباني مشر کېدل به د سولې د پروسې په گټه وي. ځکه چې نوموړي په تېرو وختونو کې د هغه مقاومت مشري کوله چې د طالبانو او د دوی د حکومت پر خلاف ؤ.

حضرت صاحب به تل پر دې ناخوښي ښودله چې ولسمشر نه ؤ پرېښی نوموړی د سولې د عالي شورا رییس شي، په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۱ کال د می پر ۲۶مه په گلخانې ماڼۍ کې د ولسمشر په دفتر کې وه او استاد رباني او حضرت مجددي هم په کې گډون کړی ؤ، ولسمشر وویل: «حضرت صاحب دې په هېواد کې د قومي لانجو د حل کار پر مخ بوزي» ښاغلي مجددي په ډېره ناخوښۍ ورته وویل چې د سولې د عالي شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاست یې په خوښه نه بلکې په خپګان پرېښی دی. ولسمشر د ده د رضا کولو په دود وویل چې د هغې لویې جرګې ریاست به تا ته وسپارم چې له امریکا سره د ستراتیژیک تړون په تړاو جوړېږي. پیر صاحب هم په دې برخه کې له ولسمشر نه خپه ؤ، هر ځل به چې زه د هغه لیدو ته ورتلم ناشونې وه چې په دې تړاو د ولسمشر د وعده خلافۍ یادونه ونه کړي چې په دې برخه کې یې ورسره کړې وه.

## د افغانستان سوله له امریکا او پاکستان سره برمته

د افغانستان د سولې بهیر د پاکستان او امریکا د هېوادونو له اړیکو سره تړاو درلود. ولسمشر یو وخت ویلي وو چې د افغانستان د سولې کیلي له دې دوو هېوادونو سره ده چې همداسې وه هم. په دوهم ګام کې د برېتانیا شاهي هېواد په دې برخه کې مهم رول لوباوه. د سولې عالي شورا له دار الانشا سره د همکارۍ مسوولیت او د هغو د بودجې تنظیم د دغه هېواد په واک کې و. په دې پلمه چې د طالبانو جنګیالي ادرس نه لري امریکایانو او انګلیسانو د سولې هڅو ته تر ډېره استخباراتي رنګ ورکړی ؤ. محمد معصوم ستانکزی چې د سولې د دارالانشا رییس ؤ په همدې بنه کار کاوه او د دوی د اعتماد وړ کس ؤ.

ولسمشر چې په خپل کاري پلان کې د سولې مساله مهمه اعلان کړه امریکایانو هم پر دې تمرکز زیات کړ. هغوی دوې بېلې برخې د سولې په چارو کې را منځته کړې. چې یوه یې «ملي پخلاینه» او بله یې «بیا ادغام» و بلله. دارالانشا ډېرې زیاتې پیسې په دې دوو برخو په ځانګړې توګه په بیا ادغام کې ولګولې چې ټول حساب کتاب یې د انګلیسانو په لاس کې ؤ. له پیله معلومه وه چې دغه پروګرام معقولیت نه لري، ځکه چې له دې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګواکي هغه طالبان چې په جبهو کې جنګېږي د پيسو په ورکولو سره عادي ژوندانه ته را ستنول کېږي. او بېلا بېل مهارتونه لکه د کلچو پخول، د تسبو جوړول او نور دوی ته ور زده کول کېدل. تر څو بالاخره پر خپلو پښو ودرېږي او عادي کاروبار ځان ته پيدا کړي.
ولسمشر کرزي تر ۲۰۱۰ کال مخکې هم سولې ته د رسېدو په تمه لويه جرګه د «منطقوي امن جرګه» په نوم را بللې وه. په هغه جرګه کې زياتره د پښتونخواه او بلوچستان پښتانه د ډېورند د دې لوري له افغانانو سره را ټول شوي وو. د دې جرګې مشري د بهرنيو چارو د پخواني وزير ډاکټر عبدالله پر اوږو وه. د جرګې د پای په مراسمو کې د پاکستان پوځي مشر پرويز مشرف ډېر په نه زړه ګډون وکړ. هغه وېره چې اسلام‌اباد د دې جرګې له ترکيبه درلوده د دې سبب شوه چې جرګه بې پايلې شي. څو کاله وروسته کله چې حامد کرزی له ولسمشرۍ نه تقاعد شوی ؤ د پاکستان يوه پښتانه سفير د يوې غونډې د جريان کيسه ورته وکړه چې په هغو کې جنرال پروېز مشرف خپلو سفيرانو ته په خطاب کې د امريکا له ولسمشر بوش سره د يوې ټليفوني اړيکې څخه پرده پورته کړې وه. په هغه تيلفوني اړيکه کې مشرف بوش ته ويلي وو چې: «زموږ په سيمه کې پښتانه د شر سرچينه دي، تاسو يې هغه لوري ته له منځه يوسئ، موږ به يې دې لوري ته». له دغه ډول فکري تګلارې سره دا ډېره ساده ګي وه چې له جنرال مشرف نه دا هيله وشي چې د منطقوي امن جرګې ته د بريا فرصت ورکړي.
زيات شمېر درې اړخيزې ناستې چې يو لوری به يې پاکستان ؤ، له مختلفو هېوادونو سره يوه بله هغه لاره وه چې افغانستان سولې ته د لاسرسي په تمه هغو ته لاس اچولی ؤ. د افغانستان، امريکا او پاکستان درې اړخيزې خبرې، د افغانستان، ترکيې او پاکستان درې اړخيزې ناستې، د افغانستان، برېټانيا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان تر منځ درې اړخيزې خبرې، د ايران، افغانستان او پاکستان درې اړخيزې ناستې، د افغانستان، تاجکستان او پاکستان درې اړخيزې خبرې. د چين، پاکستان او افغانستان درې اړخيزې ناستې... په دې منځ کې هغه خبرې چې د امريکا او برېټانيا په ګډون جوړې شوې خاص ارزښت يې درلود.

ولسمشر د سعودي عربستان رول ته د سولې په برخه کې ډېر ارزښت ورکاوه. نوموړي د ليکونو په استولو د پيغامونو په استولو او نېغ په نېغه اړيکو کې بيا بيا د سعودي عربستان له پاچا ملک عبدالله څخه وغوښتل چې په دې برخه کې له خپل نفوذ څخه کار واخلي. نوموړي د استخباراتي ځانګې د يوه مامور په لېږلو سره په افغانستان کې د سولې د را وستلو په باب خپل نيک نيت وښود. وروسته يې «شهزاده مقرن» په دې کار و ګوماره، خو تر پايه کومه پايله را و نه وتله، ولسمشر په دې باور ؤ چې د سعودي عربستان د سولې هڅې د امريکا متحده ايالاتو له لوري سبوتاژ کېږي.

## کابل ته د سيد يوسف رضا ګيلاني مهم سفر

د ۲۰۱۱ کال د اپرېل پر ۱۶ مه د پاکستان د صدراعظم سيد يوسف رضا ګيلاني په مشرۍ يو لوی پلاوی په درې الوتکو کې کابل ته راغی. د پاکستان د پوځ لوی درستيز او د ISI مشر هم په دې سفر کې د خپل صدراعظم ملګرتيا کوله.

له غرمې مخکې د ګلخانې ماڼۍ د کابينې په اطاق کې خبرې پيل شوې. په پيل کې ولسمشر پاکستاني پلاوي ته ښه راغلاست ووايه. وروسته بيا د پاکستان صدراعظم د کاغذ له مخې خپلې خبرې پيل کړې وې ويل:«مننه چې ما ته مو بلنه را کړه، دا افغانستان ته زما دوهم سفر دی (...) کابل يو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د نړۍ د پاملرنې په مرکز بدل شوی دی (...) موږ د سولې په برخه کې د سولې د عالي شورا او د پارلمان د میکانیزم وړاندیز منو، د دوه اړخیز کمېسیون کچه به لوړه کړو او زموږ له لوري به یې مشري زه شخصاً پر خپله غاړه واخلم. موږ له امریکا متحده ایالاتو سره ښې اړیکې غواړو خو هغوی له یوه پلوه د سولې غږ اوچتوي او له بله پلوه هغو ته شرطونه ټاکي. د هغوی دریځ روښانه نه دی، خو په سیمه کې د امریکا اوږد مهاله شتون موږ ته ستونزې جوړوي. ما د بریټانیا له صدراعظم سره ناسته درلوده هغوی د افغانستان د سولې لپاره یو سند چمتو کړی دی، د افغانستان د سولې په پروسه کې باید له نورو ګاونډیو سره هم مشوره وشي. مارک ګروسمن د مې په میاشت کې اسلام‌اباد ته راځي موږ باید د هغه په تړاو ګډ دریځ ولرو. انګلیسانو پر دې خبرې کړې چې په ترکیه کې طالبانو ته د نمایندګۍ دفتر ورکړي (...) موږ باید خپلمنځي لانجې په خپله حل کړو، موږ یو خپلواک او متحد افغانستان غواړو. لوېدیځ اقتصادي ستونزې لري ځکه خو نشي کولای چې په ریښتیني ډول له موږ سره مرسته وکړي، د ساري په توګه تر اوسه یې په سرحدي سیمو کې هېڅ ډول د بیا رغاونې کار نه دی کړی، نو راځئ خپلې اړیکې په ټولو اړخونو په ځانګړې توګه په اقتصادي برخه کې له چین سره پیاوړې کړو...»

دا لومړی ځل ؤ چې پاکستانیانو په دومره صراحت تفصیلي خبرې کولې او خپل دریځ یې د کاغذ پر مخ د تدوین شوې تګلارې په توګه افغان لوري ته ورکوله، په ځانګړې توګه چې په هغو کې نوي مهم ټکي لکه چین ته نژدې کېدل او د امریکا په ارادو د شک څرګندول ځای شوي وو.

دغه خبرې حامد کرزي ته ډېرې په زړه پورې وې او د پاکستان له صدراعظم نه یې وغوښتل چې د څو د قیقو لپاره وقفه را ولو او هر لوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپلو کې مشورې سره شریکې کړي. موږ افغاني پلاوی د ولسمشر کاري دفتر ته ولاړو او مشوره مو سره شریکه کړه. ولسمشر ډېره لېوالتیا درلوده او د ښاغلي ګیلاني څرګندونې یې د پاکستان د پوځي چارواکیو په مخکې د دې هېواد په نظر کې د اساسي بدلون نښه ګڼله.

له پینځلس دقیقو وروسته بېرته د کابینې اطاق ته راغلو او خبرو ته مو دوام ورکړ. ولسمشر د ښاغلي ګیلاني د خبرو په ځواب کې وویل چې هغه څه چې دوی یې هیله درلوده د ښاغلي ګیلاني په خبرو کې یې واورېدل او دا یې د هغه هېواد د ښه نیت نښه و بلله.

ولسمشر د پاکستان د صدراعظم د خبرو په تایید وویل د دواړو هېوادونو د پېښو او د هغو په شا وخوا کې ډېر د پوښتلو وړ ټکي شته دي چې د هغو د بدو اغېزو د مخنیوي لپاره باید لازم تدابیر و سنجول شي. ولسمشر د دواړو هېوادونو تر منځ د مشترک کمېسیون د کچې لوړول تایید کړل او دا یې اعلان کړل چې له افغان لوري به د پلاوي مشري شخصاً دی پخپله غاړه واخلي. نوموړي له امریکا سره د ملکي تلفاتو او سیمه ایزو اهدافو په باب اختلافونو ته په اشارې وویل چې د افغانستان د سولې په باب، ترکیه، سعودي عربستان او برېتانیا مهم رول لوبولای شي او زیاته یې کړه چې د سیمې په کچه هندوستان هم باید په پام کې ونیول شي.

د ISI مشر احمد شجاع پاشا په افغانستان کې سوله د پاکستان په ګټه و بلله او هغه یې د خپل هېواد د ثبات لپاره ضروري وبلله، د مالیې وزیر احدي د افغاني سوداګرو د شپږ زره کانتینرونو په باب شکایت وکړ چې د پاکستان په بندرونو کې بند دي، ښاغلي ګیلاني د هغو د حل ژمنه وکړه او د دیمرج د معافولو خبره یې وکړه. د ډاکتر اشرف غني احمدزي د دې پوښتنې په ځواب کې چې سولې ته د رسېدو لاره به څرنګه وي د پاکستان د بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزارت معین وویل چې امریکا پخپله له طالبانو سره پټې خبرې کوي. نوموړي هیله ښکاره کړه چې په ستراتیژیکو مسایلو کې د افغانستان، پاکستان او امریکا درې واړو هېوادونو تر منځ وضاحت را منځته شي. غونډه د دواړو لوریو د خوښۍ په فضا کې پای ته ورسېده. په پای کې سید یوسف رضا ګیلاني هغه کاغذ چې په پیل کې یې ولوست ولسمشر کرزي ته د خپل هېواد د رسمي سیاست د سند په توګه وسپاره. د هغه کاغذ ارزښت ته په پام او دا چې امریکایان به پرې حساسیت وښیي ولسمشر هغه ما ته وسپاره او ټینګار یې وکړ چې د دریېم کس لاس ته ور نشي. دې کار زموږ په ټیم کې ځینې کسان خپه کړل او پر همدې نسبت له پاکستان سره زما د دوستۍ په تړاو تبلیغات هم پیل شول.

په همدغه ورځ لومړی د فرانسې سفیر او وروسته بیا د امریکا د سفیر مرستیال زما دفتر ته راغلل. د امریکا د سفیر مرستیال را ته وویل چې د دوی هېواد دې ته چمتو دی چې زما له دفتر سره مرسته وکړي. نوموړي زیاته کړه چې پاکستان باید په خپله خاوره کې د ترهګرو پټنځایونه له منځه یوسي. هغه د پاکستان د صدراعظم خبرو ته په اشارې چې څو ساعته وړاندې یې په خبري کنفرانس کې کړې وې وویل چې پاکستانیان د ترهګرۍ خلاف زموږ له مبارزې، د بې پیلوټه الوتکو له بریدونو او د CIA له عملیاتو خوشاله نه دي. نوموړي زیاته کړه چې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي ښاغلي ګروسمن د ماموریت اصلي برخه د سولې راوستل او د سیمه ییزو همکاریو پیاوړي کول دي. خو داسې سوله چې رهبري یې د افغانانو په لاس کې وي. نوموړي وویل چې په المان او قطر کې د دوی او طالبانو تر منځ لیدنې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته د ملي امنیت شورا غونډه جوړه شوه، ولسمشر له پاکستانیانو سره د خبرو د جریان راپور غونډې ته واوراوه، د غونډې په دوهمه برخه کې چې د ناټو له بهرنیانو سره یې دوام و موند د امریکا سفیر د هغه هېواد د کانګرس د رییس او نورو غړیو د سفر خبر ورکړ.

کابل ته د پاکستان د صدراعظم او ورسره پلاوي له هیلې پاروونکي سفره دوې ورځې وروسته، د ملي دفاع وزارت د ودانۍ دننه په هغه دهلېز کې چې د وزیر او لوی درستیز دفترونه پکې وو د یوه ځانمرګي بریدګر لخوا لویه چاودنه وشوه. دغه چاودنه د افغان حکومت پر حیثیت لوی ګوزار ؤ. ټولو د شرم احساس کاوه ځکه چې د افغانستان د دفاعي ځواکونو زړه په نښه شوی ؤ. له پېښې څو ساعته وروسته لوی درستیز شېر محمد کریمي د ولسمشر دفتر ته راغی او له عسکري رسم تعظیم وروسته یې وویل: «خدای تعالی رحم وکړ چې زه وژغورل شوم ځکه چې چاودنه زما دفتر ته نژدې وه» دې پېښې ولسمشر ډېر نا آرامه کړی ؤ، بیا بیا یې د سمدستي پلټنو او پایلو غوښتنه کوله.

د ملي دفاع وزیر او د ملي امنیت لوی رییس د اپرېل پر ۲۴ مه د ملي امنیت شورا غونډې ته د خپلو پلټنو راپور وړاندې کړ. دوی وویل چې ځانمرګی بریدګر ځوان د پکتیکا ولایت اصلي اوسېدونکی او له لندن نه کابل ته راغلی ؤ. د راپور پر اساس، دغه ځوان د برید پر مهال کاوبای پطلون اغوستی ؤ او ږیره یې خرییلې وه. هغه اکوړه ختک ته هم تللی ؤ او له کورنۍ سره یې لږ اړیکې درلودې. دوی وویل چې نوموړی د سهار په شپږ نیمو بجو د وزارت ودانۍ ته ننوتلی ؤ، ولسمشر وویل چې دغه راپور د ده د قناعت وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته د امریکایي چارواکیو د پرلپسې سفرونو په لړ کې د پارلماني پلاوي پر سفر سربېره لوی درستیز مایک مولن او د امریکا ځانګړي استازي مارک ګروسمن هم ځانونه کابل ته را ورسول.
جنرال مولن په هغه ناسته کې چې له ولسمشر کرزي سره یې د اپریل په ۲۱ مه درلوده د انتقال د پروسې او د شپنیو عملیاتو پر سر تر بحث وروسته له جنرال کیاني سره د لیدو کیسه وکړه، نوموړي د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل: «تاسو باید و پوهېږئ چې چین ډېره مرسته نشي درسره کولای».
د امریکا ځانګړی استازی مارک ګروسمن پخوا تر دې چې اسلام‌اباد ته لاړ شي او د جاوېد لودین او سلمان بشیر سره د بهرنیو چارو وزارت د معینانو په درې اړخیزه ناسته کې ګډون وکړي. د اپرېل په (۳۰) مه یې په کابل کې له ولسمشر سره ولیدل. د خبرو اجنډا یې د سولې پروسه او د ستراتیژیکې ملګرتیا تړون ؤ. نوموړي په پیل کې ولسمشر ته د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د معین د سفر یادونه وکړه، چې ګواکې هغه له دې نه انکار کاوه چې د دوی صدراعظم افغانستان ته د سفر پر مهال چین ته د دواړو هېوادونو د مخې اړولو خبره کړې ده. نوموړي وویل چې ځو ورځې وروسته به د طالبانو له استازي طیب آغا سره وګوري. د هغه کنفرانس په اړه چې په پام کې وه په بن کې جوړ شي ښاغلي ګروسمن وویل: «دا غوره ده چې تاسو د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان د ثبات په باب په داسې حال کې توافق ته ورسېږئ چې له طالبانو سره مو هم خبرې کړې وي او بیا ټول د بن په کنفرانس کې را ټول شو». نوموړي ژمنه وکړه چې پاکستانیانو ته به ووایي چې که لازمه وي چې طالبانو ته نمایندګي په نظر کې ونیول شي نو غوره به دا وي چې د افغانستان د ولسمشر د غوښتنې سره سم یې دفتر په افغانستان کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه مهال ؤ چې له طالبانو سره د امریکایانو اړیکې علني شوې وې او د هغوی لپاره په یوه بهرني هېواد کې د دفتر د پرانیستلو خبرې مطرح شوې وې. ولسمشر چې دوې ورځې مخکې په افغانستان کې د روسیې له ځانګړي استازي ضمیر کابلوف څخه د امریکا او افغانستان تر منځ د ستراتیژیکو اړیکو د تړون د لاسلیک په باب د خپل هېواد د اندېښنې خبرې اورېدلې وې مارک ګروسمن ته یې وویل: «موږ له پاکستان سره ډېر مخالفتونه لرو، خو د دوی له همکارۍ پرته سوله ناشونې ده (...) همدارنګه له تاسو سره هم سوله او ستراتیژیکه ملګرتیا سره تړاو لري. په داسې صورت کې چې موږ له تاسو سره ستراتیژیکه ملګرتیا ولرو د نورو دښمني او مخالفت به اخلو، ځکه خو له سولې پرته، ستراتیژیک تړون له تاسو سره موږ ته ممکن نه دی». ولسمشر د پاکستان د دریځ بدلون او په افغانستان کې د سولې په را وستلو کې د هغه هېواد د همکارۍ په باب هیله مندي له ټولو اړخونو سره د هندوستان په شمول چې د هغه هېواد صدراعظم د مې په میاشت کې کابل ته سفر درلود شریکه کړه.

د پاکستان د بهرنیو چارو د وزارت معین سلمان بشیر د مې په ۲۳ مه له ولسمشر کرزي سره د لیدنې پر مهال د خپل صدراعظم پیغام هغه ته ورساوه چې له افغانستان سره د همکارۍ ځواکمنه اراده لري. ښاغلي ګیلاني ولسمشر ته بلنه ورکړې وه چې اسلام‌اباد ته سفر وکړي. همدغه مهال سلمان بشیر د خپلو خبرو په لړ کې وویل: «د پاکستان صدراعظم هغه څه چې وروسته له چین سره د خاصو اړیکو تعبیر ترې وشو نه وو ویلي، بلکې د امریکا د سیاست د وضاحت غوښتونکی ؤ».

د سلمان بشیر اشاره د ولسمشر کرزي خبرو ته وه چې بیا بیا به یې د یوسف رضا ګیلاني د وړاندیز یادونه کوله چې افغانستان او پاکستان د چین لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته مخه واړوي. پخوا تر دې چې پاکستان ته سفر وکړو هم ولسمشر اوباما او هم مارک گروسمن له ولسمشر کرزي سره د ويډيو کنفرانس له لارې خبرې وکړې. د اوباما خبرې د سولې په تړاو د ده په غوښتنه يوازې له ولسمشر کرزي سره د نورو له حضور پرته وې. مارک گروسمن پر پاکستان د فشار په راوړلو ټينگار کاوه ويل يې چې اسلام‌اباد بايد د حقاني شبکې پر خلاف عملي اقدامات وکړي. نوموړي په رسنيو کې د امريکا او طالبانو تر منځ د اړيکو د افشا د يادونې په لړ کې هيله وکړه چې تر دې وروسته محرم وساتل شي.

په هغه سفر کې چې د جون په لسمه مو اسلام‌اباد ته درلود د حکومت پر غړيو سربېره د سولې عالي شورا رييس استاد برهان الدين رباني هم ؤ. استاد رباني په هغه ليدنه کې چې له دواړو اړخونو د گوتو په شمار کسان پکې شامل وو له پاکستانيانو و غوښتل چې د سولې په را وستلو کې او له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره د زمينې په برابرولو کې بيړه وکړي. ولسمشر کرزي له معمول سره سم د طالبانو د يوه مشر ملا عبدالغني برادر پر خوشي کولو ټينگار کړی و چې له پاکستانيانو سره بندي ؤ. پاکستانيانو ژمنه کړې وه چې له افغان دولت او سولې له عالي شورا سره نېغ په نېغه د سولې د خبرو موضوع به د سولې له پلوي طالبانو او ملا برادر سره شريکه کړي. احمد شجاع پاشا د ISI مشر دا يادونه هم کړې وه چې ملا برادر د CIA د راپور پر اساس د گډو عملياتو په ترڅ کې نيول شوی دی. ملا عبدالغني برادر تر هغه وروسته په کراچۍ کې نيول شوی چې د سولې د را وستلو لپاره يې له حامد کرزي سره اړيکې ټينگې کړې وې.

د دواړو هېوادونو د پلاويو تر منځ په خبرو کې د پاکستان د کورنيو چارو وزير رحمان ملک په کونړ کې د ملا فضل الله د شتون او د افغانستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاوره کې د پاکستاني ټپي طالبانو له درملنې شکایت وکړ، ولسمشر کرزي د نوموړي ادعا رد نه کړه خو پر دې یې ټینګار وکړ چې د را منځته شوي تت وضعیت د له منځه وړو لپاره باید په ګډه کار وشي او په پای کې یې وویل: «په پښتو کې متل دی چې وایي: مه کوه په چا چې و به شي په تا» په دې ډول یې د دې وضعیت پړه پر پاکستاني لوري ور واچوله.

د دفاع وزارت د پېښې په څېر ځانمرګي بریدونه، د کونړ او ننګرهار پر یو شمېر سیمو د درنې توپخانې او توغندیو ډزې هغه مسالې وې چې د کابل په سیاسي او رسنیزو کړیو کې یې د پاکستان پر خلاف تبلیغاتو ته زمینه برابروله. امریکایي چارواکیو هم په خپل نوبت د حقاني شبکې پر خلاف د پاکستان د عملي اقداماتو پر اړتیا ټینګار کاوه او ویل یې چې پاکستان یې مشران ووژني او یا یې لږ تر لږه بندیان کړي. پر همدې اساس ولسمشر سلمان بشیر ته چې کابل ته راغلی ؤ په جدي لهجه وویل چې پر کونړ ډزې بندې کړئ او له طالبانو سره د مخامخ خبرو زمینه برابره کړئ. ولسمشر اندېښنه درلوده چې دغه را منځته شوي ټول جریانات به د افغانستان او پاکستان اړیکو ته زیان ورسوي. بل لوري ته پاکستانیانو هم په کونړ کې د ملا فضل الله او د هغه د وسله‌والو کسانو له شتون نه شکایت کاوه. سلمان بشیر په همدې لیدنه کې وویل چې له دوو کلونو را هیسې زموږ حکومت په کونړ کې امریکایانو ته د پاکستان ضد جنګیالیو یادونه کوي خو هغوی په دې برخه کې هېڅ عملي اقدام نه کوي. نوموړي یادې سیمې ته د شکمنو هلیکوپترو د تګ را تګ خبره هم وکړه.

د اګست پر ۲۱ مه سناتور «کارل لوین» له ولسمشر سره په لیدنه کې له نوموړي وپوښتل چې افغان ولس پر کونړ د پاکستاني توپخانې او توغندویي بریدونو په غبرګون کې ولې ورته ځواب نه ورکوي؟ ولسمشر یې په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وويل افغانستان پر هغو وسلو چې په لاس کې يې لري د پاکستان د پوځ مرکزونه نشي ويشتلای، په داسې حال کې چې په نژدې سيمو کې يانې ډېورند کرښې ته نژدې «زموږ خلک ژوند کوي، که تاسو له موږ سره مرسته وکړئ چې د دوی پر زړه د گوزار لاسرسی پيدا کړو له ورته عمل نه به ډډه ونه کړو».

د ولسمشر يوه همېشنۍ غوښتنه چې له پاکستان يې کوله دا وه چې د دوی صدراعظم اعلاميه ورکړي او له طالبانو وغواړي چې د افغانستان د سولې په پروسه کې ور شامل شي. هغو پېښو چې يو پر بل پسې راغلې د سولې پروسه ډېره پېچلې کړه، له دې جملې څخه پر استاد برهان الدين رباني او احمد ولي کرزي وژونکي بريدونه د ځانگړي اهميت لرونکي وو. د سولې د هڅو په بهير کې، يوه ورځ له غرمې وروسته چې زه معمولاً د خپل کار په دفتر کې وم د ولسي جرگې وکيلې مېرمن هما سلطاني په تيلفوني اړيکه را ته وويل چې غواړي په عاجله توگه له ولسمشر سره وگوري، ځکه چې مهم پيغام ورته لري. په ځواب کې مې ورته وويل چې هر پيغام وي ما ته يې ووايه، خو نوموړې له ولسمشر سره په ليدو ټينگار کاوه وې ويل چې غواړي پخپله پيغام ولسمشر ته ورسوي. له ډېر ټينگار وروسته ولسمشر وخت ورسره و ټاکه. مېرمن سلطاني له يوه بل تن سره چې «حاجي عبدالبصير» د کندز اوسېدونکی يې معرفي کړ يو ځای له ولسمشر سره ځانگړی مجلس وکړ.

له يو ساعت تېريدو وروسته ولسمشر زه او انجنير ابراهيم سپين زاده خپل دفتر ته ور وغوښتو او د هغو دوو تنو په مخ کې يې موضوع را ته وويله. هغو دوو تنو ويلي وو چې ملا عمر د طالبانو مشر کابل ته نژدې را غلی دی او غواړي د سولې له بهير سره يو ځای شي. د دوی په وينا په داسې صورت کې چې ولسمشر د يوه مطبوعاتي کنفرانس له لارې له نوموړي سره د خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اترو چمتو والی اعلان کړي او په ارگ کې د هغه هر کلی وکړي، نو د طالبانو مشر به را و وزي او د سولې له بهیر سره به ملگری شي.
ولسمشر په دې مساله کې زما او سپین زاده نظر وغوښت، موږ دواړو د دغو ځرگندونو په رښتیا والي شک وښود. د مېرمن سلطاني او حاجي بصیر اړیکې ورځ تر بلې زیاتېدې، هغوی څو ځله له ولسمشر سره نورې لیدنې هم وکړې او گواښ یې کاوه چې ولسمشر د (طالبانو د مشر) وړاندیز ته د ځواب نه ورکولو په سبب د جگړې او وینې تویونې د دوام سبب دی او تاریخي مسوولیت به یې پر اوږه وي. بالاخره موږ پرېکړه وکړه چې له هغوی وغواړو چې پر هغه کاغذ چې موږ یې ور سپارو د ملا عمر اخوند لاسلیک را وړي. هغوی ومنله، ما د ریاست دفتر ځانگړې پاڼه ور وسپارله. څو ورځې وروسته یې څو کرښې چې گواکي د طالبانو د مشر له لوري لیکل شوې دي راوړې. موږ مولوي وکیل احمد متوکل چې په پیل کې د ملا عمر د دفتر مسوول او وروسته د بهرنیو چارو وزیر ؤ ارگ ته را وغوښت. د لیکنې متن مو پټ کړ او لاسلیک مو ور وښود ترې و مو پوښتل چې آیا دغه لاسلیک د طالبانو د مشر دی؟ د نوموړي ځواب منفي ؤ. تر هغه وروسته پر دې باوري شوو چې هغه څه چې هما سلطاني او حاجي عبدالبصیر یې کیسه کوي رښتیا نه دي او له هغوی مو معذرت و غوښت. مېرمن سلطاني په دې جریان کې له بېلا بېلو لارو ما ته گواښونکي پیغامونه را واستول، داسې پیغامونه چې گواکي د طالبانو له لوري دي چې زه یې په مخ کې خنډ یم او ولسمشر ته غلطې مشورې ورکوم.
نوموړې زموږ له لوري د رد ځواب تر اورېدو وروسته مساله په رسنیو او پارلمان کې مطرح کړه، تر دې چې ادعا یې وکړه چې ملا محمد عمر مجاهد د دې په کور کې اوسېږي او د ولسمشر د ځواب انتظار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه مهال موږ ته داسې راپورنه را ورسېدل چې امریکایان د هېواد په شمال کې سخت فعال دي له بانفوذه کسانو او پخوانیو جهادي قوماندانانو سره د فدرالېزم او پارلماني نظام مسالې مطرح کوي. همدارنګه غربیانو موږ ته وړاندیز کړی ؤ چې د بن په کنفرانس کې چې باید د دسمبر په میاشت کې جوړ شوی وای د طالبانو او ډاکتر عبدالله مستقل حضور ومنو. هغوی له ځینو کسانو سره په خصوصي ناستو کې طالبانو ته د ځینو عدلي او قضایي ادارو د سپارلو خبره کړې وه چې باید د بن په کنفرانس کې پر هغو پرېکړه شوې وای.

امریکا او انګلیسانو له بېلا بېلو لارو هڅې کولې چې ولسمشر د سولې د پروسې په تېره د بیا ادغام د پروسې د بریا په باب د رسنیو په مخکې خبرې وکړي په داسې حال کې چې موږ د سر په سترګو لیدل چې په دې برخه کې عملاً هېڅ ګام نه ؤ اخیستل شوی. د جنرال الن مرستیال څو ځلې زما دفتر ته راغی له ما نه یې هیله وکړه چې ولسمشر وهڅوم تر څو کندهار ته لاړ شي او د بیا ادغام د پروسې بریا اعلان کړي. د امریکایي ځواکونو قوماندان پخپله له ولسمشر نه همدغه غوښتنه وکړه، په داسې حال کې چې ولسمشر کندهار ته لاړ، خو د بیا ادغام د پروسې د بریا د اعلان لپاره نه، بلکې خاورو ته د خپل ورور د جنازې سپارلو ته چې پړه یې طالبانو پر غاړه اخیستې وه. د سپتمبر په میاشت کې هر کال د ملګرو ملتونو عمومي غونډه د دغه سازمان په مقر کې جوړېږي. ولسمشر تیاری نیوه چې پخپله په دې غونډه کې ګډون وکړي. امریکایانو وړاندیز کړی ؤ چې دغه مهال له ولسمشر اوباما سره ځانګړې ناسته هم وشي.

امریکا ته له سفر نه یوه ورځ وړاندې د ملي امنیت د شورا د غونډې په دوهمه برخه کې یو شمېر بهرنیو مسوولینو هم ګډون درلود. جنرال الن له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر وغوښتل په هغه وینا کې چې د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې یې اوروي د سولې او بیا ادغام د پروسې پر اغېزمنتوب او بریا دې ټینګار وکړي.

د سپتمبر پر ۱۹ مه سهار چې یوه لمرینه ورځ وه د کابل د هوایي ډګر له پوځي برخې نه مو د امریکا د دولت په ( Air force ۲) (د امریکا د مرستیال ولسمشر ځانګړې الوتکه) کې د نیویارک په لور سفر پیل شو. د امریکا متحده ایالاتو سفیر هم په دې سفر کې له موږ سره ملګری ؤ. له څو ساعته سفر وروسته الوتکه د بخارست په هوایي ډګر کې د تېلو د اخیستلو لپاره کیناستله. اجازه را کړل شوه چې له الوتکې ښکته شو او په آزاده فضا کې قدم ووهو. د لارې په اوږدو کې مو په ځانګړي اطاق کې د ولسمشر پر وینا کار کړی ؤ. بله ناسته مو د ایرلنډ په باراني فضا کې وه.

نیویارک ته له رسېدو سره سم په انترکانتیننتال هوټل کې ځای پر ځای شوو. هغه کسان چې زموږ د پلاوي غړي وو او په عمومي اسامبله کې یې لومړی ځل ګډون کاوه باید د ملل متحد ودانۍ ته ور غلي وای او له نوملیکنې وروسته یې خپل ځانګړي کارتونه ترلاسه کړي وای. ځکه زه په نیویارک کې زموږ د نمایندګۍ د مامورینو او د ولسمشرۍ د تشریفاتو د څانګې د همکارانو په ملتیا هلته لاړم او خپل کارت مې ترلاسه کړ. باید په بیړه مې ځان هوټل ته رسولی وای ځکه چې ځانګړی استازی مارک ګروسمن او د امریکا سفیر د ولسمشر لیدو ته را تلل. هوټل ته نژدې زموږ یوه همکار ته د تیلفون زنګ را غی د استاد رباني د شهادت او د محمد معصوم ستانکزي د ټپي کېدو خبر یې ورکړ. ډېر جټکه ورکوونکی خبر ؤ او افغانستان یې یوې نا معلومې راتلونکې ته بیوه. استاد رباني یې ماښام مهال په خپل کور کې د ځانمرګي برید هدف ګرځولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غبرګ پیغام څو ورځې وړاندې ولسمشر ته اورول شوی ؤ چې د طالبانو یوه مشر ته منسوب ؤ او د ښاغلي ستانکزي په واسطه یې له استاد رباني سره اړیکه نیولې وه. ځانمرګي بریدګر د همدغو اړیکو په دوام د دارالانشا د رییس په واسطه د استاد رباني کور ته را وستل شوی ؤ چې له هغه سره وګوري، خو هغه د خبرو پر ځای خپل چاودېدونکي مواد چې په خولۍ کې یې ځای پر ځای کړي وو منفجر کوي او د سولې عالي شورا رییس په شهادت رسوي.

د دې خبر له رسېدو سره ولسمشر تصمیم چې خپل سفر لنډ کړي او د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې ګډون ونه کړي. د بهرنیو چارو له وزیر زلمي رسول نه یې وغوښتل چې د افغانستان په استازیتوب وینا وکړي.

ځانګړی استازی او د امریکا سفیر له وعدې سره سم د ولسمشر د اوسېدو ځای ته راغلل. په غمجنه فضا کې لیده کاته وشول. امریکایان زموږ له دې پرېکړې خبر شول چې سفر لنډوو. له ولسمشر اوباما سره ملاقات چې په پام کې وه د سپتمبر پر ۲۱ مه ترسره شي یوه ورځ یې را وړاندې کړ. د سپتمبر پر ۲۰ مه سهار پلي هغه هوټل ته چې اوباما موږ ته انتظار و، ورغلو چې له هغه سره وګورو.

ولسمشر اوباما افغاني لوري ته د رامنځته شوې پېښې په اړه تسلیت ووایه او زیاته یې کړه چې د استاد رباني په له لاسه ورکولو سره چې کومه تشه را منځته شوه ډکول یې ګران دي. ولسمشر کرزي له خپګانه په ډک غږ خپلې خبرې پیل کړې او یو ځل بیا یې له بارک اوباما نه وغوښتل چې دوی دې د پاکستان په اړه وضاحت ورکړي او په هغه هېواد کې دې د ترهګرو د پټنځایونو مساله جدي ونیسي. اوباما له معمول سره سم په دې برخه کې تودې ژمنې وکړې. نوموړي د افغانستان د جګپوړیو شخصیتونو د فزیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتنې په برخه کې د حامد کرزي د غوښتنې په ځواب کې چمتووالی وښود. سره له دې چې اوباما د انتقال د پروسې په باب پوښتنې وکړې خو د نوموړي د خوښې موضوع هماغه د ستراتیژیکې همکارۍ د تړون او د دواړو هېوادونو له لوري د هغو د لاسلیک مساله وه.

د افغانستان ولسمشر یو ځل بیا د شپنیو عملیاتو او د دوی د کورونو د تلاشۍ په بهیر کې د خلکو د حقونو له نقض نه یادونه وکړه وې ویل: «زه سیاسي لوبغاړی نه یم، زه معنوي اصول لرم (...)» ښاغلي اوباما د پاکستان له چلن د شکایت په ترځ کې د سولې په بهیر کې د هڅو د دوام خبره وکړه وې ویل چې مېرمن کلېنټن به هغه هېواد ته واستوي. هېلري کلېنټن دې ته په اشارې چې پاکستان یو خپلواک هېواد دی له ولسمشر کرزي یې وغوښتل چې په گوته کړي چې له پاکستان سره څه ډول چلن وشي او له هغو څه وغوښتل شي.

په بېرته را ستنېدو کې امریکایانو وویل چې د دوی ځانگړې الوتکه کولای شي یوازې تر المان پورې موږ ورسوي ځکه چې د پیلوټانو ستوماني یې نه ده رفع شوې، په دې ډول موږ له المان نه تر کابله د امریکا په پوځي الوتکه کې داسې سفر وکړ چې د ټولو په څېرو د ستومانۍ او پرېشانۍ سیوري پراته وو.

ماښام کابل ته را ورسېدو او له هوایي ډگره نېغ د سردار محمد داوود خان ځلور سوه بستریز روغتون ته د استاد رباني د جنازې د لیدو لپاره لاړو. سبا ته مو له بوختیاوو او اندېښنو ډکه ورځ په مخکې وه.

نیویارک ته زموږ له سفره څو ورځې وړاندې ولسمشر د سولې عالي شورا مشر خپل دفتر ته را وغوښت او د پاکستانیانو پیغام یې ور سره شریک کړ. په دې لیدنه کې ولسمشر، استاد رباني او ما حضور درلود. ولسمشر استاد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: «د پاکستان سفیر د سولې په پروسه کې د پرمختګ او ملا عبدالغني برادر سره د لیدو لپاره له موږ څخه هیله کړې چې یو څوک ور معرفي کړو ستاسو په نظر باید څوک ولاړ شي؟ استاد رباني دوه تنه معرفي کړل چې له هغو څخه یو «واحدیار» ؤ، هغه ټینګار وکړ چې واحدیار د سولې په عالي شورا کې د ده د اعتماد وړ کس دی. خو دا دی د استاد رباني د وژلو په پېښه کې هم واحدیار تر بدګومانۍ لاندې راغلی ؤ او هم یو بل تن د «حمید الله» په نوم.

په داسې فضا کې چې د سولې دښمنانو دغه پروسه د پښتنو د اتحاد او یووالي پروسه بلله او امریکایانو او انګلیسانو په منظم ډول زموږ د ملي یووالي د کمزورۍ کولو هڅې کولې د استاد رباني له لاسه ورکول هغه هم د طالبانو له لوري هېواد ته لوی خطرونه متوجه کړي وو. پېژندل شوې څېرې چې ځانونه یې اپوزېسیون بلل له دې پېښې د ګټې پورته کولو لپاره را ووتل او د استاد رباني په جنازه کې یې ګرېوانونه شلول او نارې یې وهلې. هغو کسانو چې د استاد رباني زړه ترې خوښ نه ؤ اوس یې ځانونه تر ټولو هغه ته نژدې بلل او د هغه د وینو د کسات شعارونه یې ورکول.

ولسمشر ډېر په چټکۍ په کابینې کې تصویب کړه چې د استاد رباني جنازه په وزیر اکبر خان غونډۍ کې خاورو ته وسپارل شي. خو کومه فضا چې د جنازې د ښخولو په مراسمو کې جوړه شوه هغه یې په مراسمو کې ګډون و نکړای شو.

هم د استاد رباني کورنۍ او هم د ولسمشر مرستیال مارشال محمد قسیم فهیم له هغه غبرګونونو سره موافق نه وو چې یو شمېر کسانو د غمرازۍ او ماتم په دود څرګندول. د نوموړي کورنۍ د وضعې په آرامولو کې مهم رول ولوباوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له استاد رباني وروسته د سولې برخلیک او د سولې عالي شورا وضعه

که څه هم د احمد ولي کرزي او استاد رباني د ترور پېښو د سولې پر لاره په تلو کې د حامد کرزي اراده کمزورې نه کړه او نوموړي آن د خپل ورور د قبر پر سر طالبانو ته د ورونو خطاب وکړ او سولې ته یې را وبلل خو د هېواد دننه یې د نوموړي په مخه کې ستونزې جوړې کړې.

لوی درستیز جنرال مک مولن او جیمز متیس د سپتمبر پر ۲۵ مه کابل ته راغلل او له ولسمشر سره یې په ګلخانې ماڼۍ کې وکتل. ولسمشر یو ځل بیا د پاکستان او د هغو کړو وړو په تړاو چې هغه هېواد تر سره کول د امریکا د سیاست د وضاحت او روښانتیا غوښتنه وکړه. د ولسمشر همېشنی شکایت دا ؤ چې امریکا د ترهګرۍ له ملاتړي چې پاکستان دی او د ترهګرۍ له قرباني سره چې افغانستان دی یو ډول دوستانه اړیکې غوره کړې دي. نوموړي تل د شوروي اتحاد مثال یا دا وه چې تر پایه له نه او نو پرته د کابل د حکومت ملاتړی پاتې شو او هېڅکله یې له مجاهدینو سره پټې اړیکې نه درلودې او پاکستان یې خپل مخالف هېواد باله. ولسمشر له امریکا نه د افغان شخصیتونو د امنیت د ساتنې غوښتنه وکړه او د استاد رباني له لاسه ورکول یې داسې ضایعه وبلله چې سترګې نشي پرې پټېدای، او هغو دوو بریدونو ته یې چې پر ما ترسره شوي وو اشاره وکړه.

د استاد رباني له ترور وروسته دوې پوښتنې چې باید عاجل ځواب ورته موندل شوی وای مطرح شوې؛ یوه د سولې د عالي شورا رییس په توګه د استاد رباني ځایناستی او دوهم دا چې د سولې هڅې په کوم ډول او کومه لاره دوام وکړي؟ ولسمشر پوهېده چې د سولې مخالفین چې بهرنی ملاتړ یې هم درلود دغه فرصت غنیمت بولي او د جګړې د لا توندېدو او د دښمنۍ او کرکې د لمبو د لا پراخېدو هڅه به وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپتمبر پر ۲۸ مه په ارگ کې غونډه جوړه شوه چې په هغو کې د ولسمشرۍ مرستیالانو، حضرت صبغت الله مجددي. پیر گیلاني، استاد سیاف، محمد اسماعیل خان، حاجي دین محمد، عبدالروف ابراهیمي، فضل الهادي مسلمیار، عبدالهادي ارغندیوال، مولوي قیام الدین کشاف، نعمت الله شهراني، ذبیح الله مجددي. حاجي محمد محقق، هدایت امین ارسلا او نورو هغو کسانو چې تل په دغسې غونډو کې شریک وو لکه د ملي امنیت سلا کار، د دفتر رییس، د چارو د ادارې رییس، د ولسمشرۍ د مقام ویاند گډون درلود. ولسمشر په لنډ ډول خپلې خبرې داسې پیل کړې: «غواړم له تاسو مشرانو سره سلا وکړم چې د سولې په برخه کې د استاد له شهادت وروسته څه وکړم؟ له امریکا، اروپایي اتحادیې، برېټانیا او هند سره د ستراتیژیکو تړونونو په باب هم مشوره درسره کوم (...)»

حضرت صاحب خبرې پیل کړې او د ولسمشر په ملامتولو یې وویل: «تاسو دلته پر یوه څه توافق کوئ خو (پر هغو) عمل نه کوئ». استاد سیاف د سولې په طریقه کې د بدلون راوستلو غوښتونکی ؤ او له ولسمشر یې غوښتل چې تر دې وروسته طالبانو ته ورونه مه وایه. استاد شهراني وویل چې نیمایي د سولې عالي شورا د بهرنیانو لپاره کار کوي. دغه شورا باید رنگه شي او بله نوې شورا دې جوړه شي.

ولسمشر د استاد سیاف د دې پوښتنې په ځواب کې چې ویلي یې وو «له چا سره باید سوله وکړو؟» وویل چې: «دا مهمه پوښتنه ده، آیا تر دې وروسته و نه وایو چې موږ له پاکستان سره ستونزه لرو، زه له امریکا نه نهیلی شوم او په همدې دلیل مې د جگړې د پای ته رسولو لپاره مخه پاکستان ته واړوله» نوموړي کیسه وکړه چې امریکایان اوس پر دې اعتراف کوي معتصم آغا جان چې یو وخت په دوبۍ کې دوی ورسره خبرې وکړې وروسته پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ستون شو په کراچۍ کې یې پرې ډزې وکړې، اوس یې غوښتې چې له پاکستانه یې و باسو. محمد اسماعیل خان وویل چې له لومړۍ ورځې د سولې عالي شورا له ترکیب سره مخالف ؤ ځکه چې د طالبانو شمېر په هغو کې زیات ؤ. ښاغلي ارسلا، ابراهیمي، مسلمیار، ... ټول د سولې پروسې د چلن د بدلون غوښتونکي شول.

ولسمشر د دې ترڅنګ چې له ټولو یې وغوښتل چې سره یو او متحد شي وې ویل چې له امریکا سره په مقابله کې یوازې ؤ آن چې مرستیال یې ورسره ملګرتیا ونه کړه (اشاره احمد ضیا مسعود ته)، ډاکتر عبدالله عبدالله د ملکي مرګ ژوبلې په مساله کې له خلکو څخه د دفاع پر ځای د هغوی پر خلاف دریځ نیولی دی، او دا چې خصوصي تلویزیونونه د یو لړ مسایلو په مطرح کولو سره ملي یووالی تخریبوي. د خبرو پایله یې دا وه چې د سولې پروسې ته د پخوا په څېر دوام ورکړو خو سولې ته د رسېدو په طریقه کې باید بدلون راشي.

په همدې ورځ مو چې له جنرال الن او د امریکا له سفیر راین کراکر سره د ولسمشر د کار په دفتر کې کومه غونډه درلوده، ولسمشر د سیاسي مشرانو نظریات چې تر غرمې مخکې غونډه کې یې اورېدلي وو دوی ته واورول، جنرال الن په ځواب کې وویل چې یوه ورځ مخکې یې د پاکستان له لوی درستیز سره تیلفوني خبرې کړې چې د ترهګرۍ مخه ونیسي، سفیر کراکر وویل چې له جنرال دوستم، محمد یونس قانوني، عطا محمد نور او ډاکتر عبدالله سره یې لیدلي دي او هغوی ته یې ویلي چې آرام اوسي.

په دې ډول د استاد رباني وژل کېدو هغه ټولې نیکې هیلې له منځه یوړې چې د اپرېل په میاشت کې د پاکستان د صدراعظم له سفر سره د اسلام‌اباد او کابل تر منځ د نویو اړیکو د دروازې پرانیستل کېدو په تړاو را پیدا شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې. سره له دې چې په نیویارک کې د ولسمشر په لومړني غبرګون کې په دې پېښه کې د امریکا د لاس درلودو شک ښکارېدو او زه هم پر همدې باور وم، خو څنګه کېدای شول چې پاکستان بې ګناه وګڼل شي؟
د استاد رباني د وژل کېدو له پېښې وروسته پاکستان ډېره هڅه وکړه چې دا ثابته کړي چې په دې پېښه کې لاس نه لري. د پاکستان صدراعظم وغوښتل چې د خواخوږۍ او تسلیت لپاره کابل ته راشي. د بهرنیو چارو وزارت ویاند بېله دې چې ولسمشرۍ ماڼۍ په جریان کې وي د یوې مرکې په ترڅ کې یې د افغان دولت لخوا د نوموړي د نه منل کېدو خبره وکړه. حامد کرزي چې امریکا او پاکستان دواړه په دې پېښه کې ککړ بلل په دې هڅه کې ؤ چې له اسلاماباد سره اړیکې داسې حد ته و نه رسېږي چې له هغو نه بېرته را ګرځېدل ناشوني وي. په همدې دلیل پر هغه مرکه ډېر خپه شو د ملي امنیت په غونډه کې یې چې د اکتوبر پر دوهمه وه ملي امنیت شورا او بهرنیو چارو وزارت دواړو ته په خطاب کې وویل چې څوک صلاحیت نه لري چې د دولت د پالیسۍ خلاف خبرې وکړي، نوموړي زیاته کړه چې څوک د دولت له سیاست سره موافق نه وي استعفا دې ورکړي. د ولسمشر د خبرو په غبرګون کې لومړی شیدا محمد ابدالي د امنیت شورا د دفتر مرستیال د ولسمشر پر سیاستونو نیوکې وکړې او تر هغه وروسته ډاکتر سپنتا له ځایه جګ شو، کرسۍ یې په لغته ووهله او وې ویل: «زه له دې سیاست سره مخالف یم» او په غوسه له غونډې ووت، خو ښاغلی سپنتا د پخوا په څېر له څو ګوتو په شمار ورځو وروسته ولسمشر ته د زلمي هېوادمل د پرلپسې سپارښتنو او غوښتنو نه وروسته بېرته خپل دفتر ته راغی.
په هغه کاغذ کې چې د پاکستان صدراعظم په ګلخانې ماڼۍ کې د لیدنې پر مهال ولوست ډېر مهم ټکی دا ؤ چې اسلاماباد او کابل بیجینګ ته مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړوي. دغه خبره د ولسمشر د حيرانتيا سبب شوې وه، نوموړي به له امريکايانو سره په هر ځل ليدو کې له هغو يادونه کوله او په دې ډول يې هغوی تر فشار لاندې را وستل. ولسمشر ما ته دنده وسپارله چې د چين له سفير نه وپوښتم چې آيا د پاکستان دغه وړانديز له چين سره په همغږۍ شوی دی که نه؟ د چين سفير له څو ورځو وروسته د خپل حکومت رسمي ځواب را وړ او ما ته يې ولوست. په هغو کې ويل شوي وو چې د يوسف رضا ګيلاني څرګندونې د چين له حکومت سره په مشوره او همغږۍ نه وې.

د سولې او د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړيکو په برخه کې د امريکا چلن ډېر حيرانوونکی او له تناقضاتو ډک ؤ: کله به چې موږ سولې ته ډېره لېوالتيا وښوده او په هغو کې به مو پرمختګ کاوه، بدې ترهګريزې پېښې به زياتې شوې او له دې سره جوخت به د رسنيو او طالب ضد ځېرو د اعتراض غږونه نور هم اوچت شول، خو کله به چې موږ توند چلن غوره کړ امريکايانو به په هره ناسته کې موږ سولې ته بللو. د پاکستان په باب هم همدغه چلن روان ؤ.

د سولې عالي شورا د رييس په توګه د استاد رباني د ځايناستي مساله هم يوه له جنجالي مسالو څخه وه چې بايد په تدبير حل شوې وای. يوه لور ته جهادي مشران لکه پير صاحب او حضرت صاحب د دې مقام د نيولو لېوال وو، بل لوري ته د دې امکان نه ؤ چې جمعيت اسلامي له پامه و غورځول شي ځکه چې رهبر يې له لاسه ور کړی ؤ او را پارېدلي وو. د ولسمشر په پام کې وه چې صلاح الدين رباني د استاد رباني مشر زوی د دې شورا مشر شي، خو د شورا د زياترو غړيو له نظره هغه ډېر ځوان ؤ او د دې شورا د رياست لپاره يې مناسب نه باله. نوموړي پخپله هم د وزارت مقام د سولې عالي شورا تر رياست غوره ګاڼه. يو ځل امريکايانو ولسمشر ته وړانديز وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پخپله د سولې د عالي شورا مشر شي. له بېلا بېلو غونډو وروسته چې څو ځله له جهادي مشرانو، د سولې عالي شورا له غړیو او پخپله له صلاح الدین رباني سره وشوې بالاخره ولسمشر وکولای شول د ټولو توافق په دې برخه کې ترلاسه کړي. په هغه غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د اپرېل پر ۱۴مه د ارګ په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوه او په هغو کې د سولې عالي شورا غړیو ګډون درلود د دې شورا د رییس په توګه د صلاح الدین رباني د ټاکل کېدو پرېکړه پکې وشوه. د غونډې له پیل نه مخکې د جمعیت اسلامي یو شمېر جګپوړیو غړیو له ولسمشر سره په یوه لوی تالار کې ولیدل. ولسمشر له هغوی وغوښتل چې بېرته لاړ شي، د هغوی له منځه یوازې استاد سیاف او عطا محمد نور پاتې شول او د شورا د رییس د معرفي کېدو په مراسمو کې یې ګډون وکړ. تر هغه وروسته چې د صلاح الدین رباني د ریاست پر توافق لاسونه اوچت شول مارشال محمد قسیم فهیم د «صلاح الدین جان» د بریا هیله و کړه او عطا محمد نور په هېواد کې د سولې پر اړتیا نسبتاً اوږدې خبرې وکړې وې ویل: «له درې لسیزو را هیسې په افغانستان کې جګړه ده، په سوله کې خیر دی (....)» نوموړي د شورا له غړیو نه مننه وکړه چې د داسې چا ریاست یې و مانه چې «د عمر او پوهې له اړخه» تر هغوی وړوکی دی. تر دې وروسته یې صلاح الدین رباني له بل اطاق نه د غونډې اطاق ته را وست، هغه هم د سولې پر اړتیا ټینګار وکړ.

## د قطر د دفتر د پرانیستلو پېښه

ښایي د امریکایانو اړیکې له طالبانو سره هېڅکله هم غوڅې شوې نه وي، خو د طالبانو د سیاسي دفتر د پرانیستلو او د هغو لپاره د قطر د پلازمېنې دوحې غوره کېدل احتمالاً په ۲۰۱۰ کال کې مطرح شول. د امریکایانو او طالبانو تر منځ لومړنۍ اړیکې ظاهراً د جرمني په واسطه ټینګې شوې، نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو لکه ناروې او سویډن هم په هغو کې ونډه درلوده، په پیل کې د طالبانو د کوربنو په توگه د ډېرو هېوادونو نومونه اخیستل کېدل خو بالاخره قطر انتخاب شو.

په هغه مجلس کې چې په دې تړاو مې له مولوي وکیل احمد متوکل سره درلود نوموړي د قطر د غوره کېدو دلایل داسې وشمېرل: «سعودي عربستان پر طالبانو شرطونه کېښودل چې له القاعده سره خپلې اړیکې وشلوي او دا اعلان وکړي. ترکیه د ناټو غړی دی او متحده عربي امارات په افغانستان کې پوځیان هم لري، له همدې لامله تر ټولو غوره ځای چې د طالبانو د سیاسي دفتر لپاره یې موندلای شو قطر دی». زموږ سفیر په دوحه کې چې وروسته له قطر او امریکا سره د جنجالونو په بهیر کې کابل ته را وغوښتل شو په هغه را پور کې چې زما دفتر ته یې را استولی ؤ د دې انتخاب دوه دلیلونه د نورو دلایلو ترڅنگ یو په دغه هېواد کې د العدیل په نامه د امریکایانو تر ټولو لویې پوځي اډې شتون او بل د الجزیرې تلویزیوني شبکې شتون بللی ؤ. د پوځي اډې شتون امریکایانو ته د هر ډول سیاسي مانور لپاره پراخ لاس ورکاوه او د الجزیرې تلویزیون د دوی د راتلونکیو پروگرامونو لپاره تبلیغاتي مهمه وسیله کېدای شوه.

د ۲۰۱۱ کال په وروستیو کې د قطر دفتر پرانیستل ډېر جدي شول. امریکایانو په ډېره لېوالتیا هغو ته پام اړولی ؤ. ولسمشر په دې برخه کې ډېر شکونه درلودل. د نورو جنجالي مسالو په څېر چې پخوا مو له امریکایانو سره درلودلې لکه د ستراتیژیکي ملگرتیا تړون، شپني عملیات، د بهرنیانو لخوا د کورونو تلاشي، د بگرام زندان د امریکا او برېټانیا لخوا د فدرالیزم مطرح کول او د قومي عصبیتونو لمسول، دغه مساله هم پرې ورزیاته شوه. په هغه غونډه کې چې د سپتمبر پر ۲۸ مه مو په ارگ کې درلوده او د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګپوړي ارکان او جهادي او سیاسي مشران پکې شریک وو چې د استاد رباني د ترور له پېښې وروسته د سولې په کړنلاره بحث وکړي، د قطر د دفتر په باب منفي نظرونه ورکړای شول. د امریکا ځانګړي استازي مارک ګروسمن چې د اکتوبر پر ۸ مه په ارګ کې ملاقات درلود ولسمشر ته یې له طیب آغا سره د خبرو د دوام او د طالبانو لپاره د دفتر د اړتیا په باب یادونه وکړه. نوموړي وویل له طالبانو سره د دوی د بحث له مهمو مسایلو څخه یوه د امریکایي بندي پوځي خوشي کېدل دي. ولسمشر په دې خبرو اترو کې د افغان دولت د استازي پر شتون، پر پاکستان فشار او د ملا برادر خوشي کېدل یا لږ تر لږه د افغان دولت له کوم چارواکي سره د هغه د لېدو په باب ټینګار کاوه، ګروسمن د جنرال اشفاق کیاني له قوله وویل چې په اسلام‌اباد کې د افغانستان سفیر کولای شي د ISI د یوه استازي په شتون کې له هغه سره وګوري. نوموړي د خپلو خبرو په پای کې ولسمشر ته وویل:«تاسو چې څومره له موږ سره د ستراتیژیک تړون د لاسلیک په باب بېړه وکړئ په هماغه کچه به پاکستان تر فشار لاندې راشي». دا په داسې حال کې وه چې پاکستان د افغانستان پر ختیځو سیمو ډزې پیل کړې وې او د استاد رباني د ترور په تړاو د افغانستان له لوري د پلټنو د بیا بیا غوښتنو په ځواب کې یې په دې پلمه منفي ځواب را کړ چې ګواکي د دوی اساسي قانون د داسې پلټنو اجازه نه ورکوي. د امریکا متحده ایالاتو په دې ټوله پېښه کې نه یوازې دا چې د افغانستان پلوي نه کوله بلکې د ملي امنیت په غونډه کې چې د اکتوبر پر ۱۶ مه جوړه شوې وه جنرال الن د ملي امنیت د عمومي رییس رحمت الله نبیل د دې ادعا په غبرګون کې چې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د پاکستاني پوځیانو تحرکات زیات شوي ډېر غوسه شو او په داسې حال کې چې مخ یې تک سور واوښت له سپکاوي په ډکه لهجه یې پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور پورې کړې چې ولسمشر ته غلط معلومات ورکوي. له دې سره هممهاله د بن د کنفرانس لپاره چمتووالی نیول کېدو. کله به یې هغه ته دوهم بن وایه. دغه عنوان د ۲۰۰۱ کال د بن کنفرانس په اذهانو کې را تازه کاوه، یانې د یوې لنډ مهالې اداري جوړېدل او ......

طالبانو ته د سیاسي دفتر د جوړېدو هڅې، د امریکا او جرمني د ځانګړو استازیو وړاندیزونه چې یوه یې په دې کنفرانس کې د اپوزیسیون د مشر په توګه د ډاکتر عبدالله او بل د طالبانو د پلاوي د حضور غوښتنې کولې، د امریکایي چارواکیو له هغو جملې څخه «جوبایډن» د ولسمشر اوباما د مرستیال څرګندونې چې ویلي یې وو طالبان د امریکا دښمنان نه دي. د اوباما څرګندونې چې له ډیوېډ کامرون سره یې په یوه ګډ خبري کنفرانس کې ویلي وو چې په افغانستان کې د سولې لپاره باید  د دغه هېواد قومونه خپل اختلافونه پخپلو کې حل کړي، د امریکایانو تحرکات هم له یو شمېر سیاسیونو سره د ډانا رورا باکر د غونډو په بڼه او هم د هېواد په شمال کې د کورنۍ خپلواکۍ او فدرالیزم د مطرح کولو په بڼه ... ټول د یوه منظم پلان ښکارندوی وو  چې د هغو پر بنسټ افغانستان له یوه کمزوري مرکز سره په ټوټه ټوټه شوې خاوره بدلېدو. د دې وېره وه چې د بن کنفرانس له افغانستانه داسې وطن جوړ کړي. ما له یک تلویزیون سره په مرکه کې وویل چې امریکا او پاکستان له افغانستانه یو په ټوټو وېشلی هېواد جوړوي، نوموړي تلویزیون د هغو دوو هېوادونو لخوا د افغانستان د تجزیې تعبیر ترې واخیست په داسې حال کې چې زما موخه ملوک الطوایفی ته ورته وضعیت ؤ.

د بن کنفرانس چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې جوړ شو او ما په هغو کې ګډون نه درلود د امریکا د بهرنیو چاور وزیرې مېرمن کلېنټن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو د پنځو تنو بندیانو په باره کې چې تر دې مهاله په ګوانتنامو کې وو او په نظر کې وه چې قطر ته انتقال شي او هلته نظر بند وساتل شي، د طالبانو د مشرانو د سفر خوندي لاره یې، دا بللې وه چې په دې پروسه کې پاکستان ور شامل شي. ولسمشر په دې پروسه کې د افغانستان پر مالکیت ټینګار وکړ اوله وړوکي مسوولیت منلو پرته یې پاکستان ته په دې پروسه کې له رول ورکولو سره مخالفت کړی ؤ. دغه موضوع تر دې حده جدي شوه چې د المان د صدراعظم استازی د شپې د ولسمشر لیدو ته ورځي او له هغه نه یې پوښتنه کړې وه چې که په دې مساله کې پر الماني مامورینو شک لري له هغوی سره یې دې شریک کړي.
طالبانو ته د امن سیمو یا Safe Zone په نوم د یو شمېر ولایتونو د سپارلو موضوع به هم په وخت په وخت مطرح کېدله چې د کابل له توند غبرګون سره به مخ شوه. ولسمشر په دې برخه کې څو ځله د طالبانو مشرانو ته پیغام واستاوه چې پر دې دسیسه دوکه نه شي او داسې کار ونه کړي چې د هېواد د ټوټه کېدو سبب شي. ما تر پایه پر دې پلان د طالبانو د توافق نښه و نه لیده.
د بن د کنفرانس اصلي موخه څه وه؟ آیا زموږ اندېښنې پر ځای وې او هغه وقایوي اقدامات مو چې مخکې ترسره کړل هغه غونډه یې پرېښښودله چې د یوه کمزوري او له ملوک الطوایفۍ سره لاس او ګرېوان افغانستان بنسټ کېږدي. او که د بن کنفرانس د نورو کنفرانسونو په څېر ؤ چې بهرنیانو موږ ته جوړول او په بېلابېلو برخو کې یې د بیا رغونې او مرستې ژمنې پکې کېدلې؟ د المان ولسمشر د بن له کنفرانس څخه مخکې کابل ته د سفر پر مهال وویل: «د بن کنفرانس به د افغانستان د سولې لپاره بنسټ شي». زه فکر کوم چې که د ولسمشر شکاک نظر او د نوموړي پرلسپې ګواښونه نه وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځينو کسانو د اپوزيسيون او ځينو د طالب په نوم په هغو کې د ګډون اجازه ترلاسه کړې واى، ښايي د بن کنفرانس د افغانستان لپار په يوه ناوړه غونډه بدل شوى واى.
د قطر دفتر د طالبانو لپاره يو ادرس کېداى شو چې دوى د پاکستان له منګولو وژغوري خو په هغه له ابهامه ډکه وضعه کې چې د امريکايي چارواکيو څرګندونو او کړو وړو را منځته کړې وه نه پوهېدو چې د هغو پايله به څه ډول شي. د ولسمشر دريځ دا ؤ چې افغانستان په اصولو کې د قطر دفتر د پرانيستلو مخالف نه دى خو شرطونه لري، له هغو څخه يو دا چې يا د دفتر به د سولې د خبرو د پر مخ وړو لپاره يوازې د ادرس په توګه وي او د طالبانو د سفارت بڼه به نه غوره کوي.
په هغو ليدنو کې چې ما په ځانګړې توګه او کله کله د ولسمشر په حضور کې له مولوي عبدالسلام ضعيف او مولوي وکيل احمد متوکل سر درلودې دوى دواړو د ولسمشر له دې دريځ څخه سخته ناخوښي ښکاروله. دوى ويل چې ولسمشر د دې سياست له غوره کولو سره د طالبانو د خپلواک کېدو خنډ شو او پر دې ټينګار چې د ګوانتانامو بنديان دې افغانستان ته را ستانه شي، د سولې لپاره را منځته شوى فرصت له منځه وړي. خو ولسمشر د هېواد د يووالي او د دولت د حاکميت انديښنه درلوده او نه يې غوښتل چې د واک زيات مرکزونه را منځته شي او اتباع يې بهرنيان د بنديانو په څېر له يوه هېواده بل ته يوسي. د يادونې ده چې په دې جريان کې د امريکا ځانګړي استازي څو ځله د طالبانو پيغامونه او آن ليکل شوې اعلاميې ارګ ته موږ ته راوړې چې په هغو کې د افغانستان له حکومت سره له نېغ په نېغه خبرو انکار شوى ؤ. په دې منځ کې د قطر د حکومت رول هم روښانه نه ؤ. امريکايانو ويل چې د قطر حکومت له طالبانو سره د دفتر د پرانيستلو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګوالي په تړاو تفاهم‌لیک لاسلیکوي. او بل تفاهم‌لیک به له امریکا سره لاسلیکوي.

په هغه غونډه کې چې د دسمبر پر ۱۳ مه د جګپوړیو دولتي چارواکیو او سیاسي او جهادي مشرانو په ګډون په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوه، ولسمشر د قطر د دفتر په اړه له هغوی نظر وغوښت. سره له دې چې مولوي ارسلا رحماني غوښتل چې له دې مسالې نه د «بني اسراییلو خوسی» جوړ نه شي او په نرمۍ ورسره چلن وشي، خو زیاترو نورو ګډونوالو غوښتل چې مشخص شرطونه باید پرې کېښودل شي. په دې ډول د غونډې څو تنو دنده واخیسته چې د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون په دفتر کې سره کښېني، د قطر د دفتر د پرانیستلو او کار په باب دې د افغانستان د دولت شرطونه ولیکي. نوموړي ټیم یو سند په لسو مادو کې ترتیب کړ او د دسمبر پر ۱۵ مه یې هغه غونډې ته چې دغه دنده یې ورسپارلې وه وړاندې کړ.

شرطونه په لاندې ډول وو:

۱ـ د افغانستان دولت د سولې له پروسې سره توافق لري خو د طالبانو دفتر باید یوازې د سولې د پروسې او د خبرو اترو ترسره کولو لپاره وي.

۲ـ دغه دفتر دې په یوه اسلامي هېواد کې پرانیستل شي.

۳ـ د خبرو اترو سنبالول دې د کوربه هېواد پر غاړه وي.

۴ـ د خبرو اترو له پیلېدو مخکې دې جګړه ختمه او اوربند دې ټینګ شي.

۵ـ تر خبرو وړاندې دې مخالفین له القاعده شبکې سره اړیکې وشلوي.

۶ـ د لسو کلونو لاسته راوړنې دې خوندي وي او تر پوښتنې لاندې به نه راځي.

۷ـ اساسي قانون دې و منل شي.

۸ـ ملي حاکمیت ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالی دې خوندي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹ـ د پاکستان دریځ دې په دې برخه کې روښانه شي.
۱۰ـ د طالبانو له لوري دې پېژندل شوي او د اعتبار وړ استازي د خبرو لپاره معرفي شي.
ولسمشر ټینګار کاوه چې یوازې لومړی پړاو خبرې دې په کوم بهرني هېواد کې ترسره شي، وروسته دې دا کار په افغانستان کې دننه ترسره شي او افغانان دې پخپلو کې سره خبرې اترې وکړي. مارشال فهیم ویل چې تېره شپه له ډاکتر عبدالله، صلاح الدین رباني او نورو سره یو ځای ؤ، هغوی ټولو دا شرط ایښی ؤ چې طالبان دې اعلان وکړي چې د هېواد دننه د «افغانستان اسلامي جمهوریت» سره خبرې کوي. نور نظرونه هم وړاندې شول لکه د سولې په نامه پیل شوې د نورو پروسو د دروازو تړل کېدل. له دې ځخه موخه هغه هڅې وې چې د فرانسې، ناروې، جاپان ... هېوادونو پیل کړې وې او د هېواد د یو شمېر شخصیتونو او طالبانو په ګډون یې یو شمېر غونډې جوړې کړې وې. د ساري په توګه په فرانسه کې یو شمېر سیاستوال له کابل نه لکه محمد یونس قانوني، محمد محقق او د طالبانو له ډلې قاري دین محمد حنیف د آدینه محمد په نوم پر پاسپورت، عبدالسلام ضعیف ... په ګډون غونډه جوړه شوې وه.
نژدې په دې ټولو غونډو کې محمد معصوم ستانکزي او انجنیر ابراهیم سپین زاده ګډون کاوه چې یو د سولې د عالي شورا د دارالانشا رییس ؤ او بل د ملي امنیت شورا د دفتر مرستیال ؤ.
مولوي ضعیف او مولوي متوکل چې د دسمبر په ۲۹ مه زما دفتر ته راغلل چې دا یې واورېدل، دولت د خپلو شرطونو لېست جوړ کړی، ډېر خپه شول. ښاغلي ضعیف وویل: «طالبان د هېواد د ټوټه کېدو پلویان نه دي، هغوی ته پخوا هم دې ته ورته وړاندیزونه شوي دي خو هغه یې رد کړي دي. (...)

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا غواړي خپلې ستونزې له طالبانو سره حل کړي که ولسمشر وغواړي او که یې و نه غواړي. د ابېټ آباد د پېښې ریښتینې مانا دا ده چې نور لوبه دلته پایته رسیږي او بله بڼه غوره کوي، امریکا له طالبانو سره خپله ستونزه حل کوي، دغه کار د ولسمشر له واک او ارادې نه اوچت دی (...) هغوی د خوندي سیمو یا Safe Zone په اړه یانې طالبانو ته د څو ولایتونو سپارل چې ولسمشر هغه ډېر خطرناک او د ملوک الطوایفۍ پیل یې باله، مناسب نظر درلود غوښتل یې چې په ټول هېواد کې دې په دې نامه خوندي سیمې را منځته شي چې طالبان په هغو کې ځانونه خوندي وګڼي. ښاغلي ضعیف د دې تر څنګ چې له امریکا سره مقابله یې خطرناکه بلله له موږ نه یې د حکمت له مخې د چلن غوښتنه کوله، نوموړي له امریکایانو سره آن د بګرام زندان پر سر د ولسمشر توند چلن د پوښتنې وړ باله.

د سیمې په کچه هند او ایران دې دفتر ته د شک په سترګه کتل، روسیه بې طرفه وه، د پاکستان دریځ په پیل کې د قطر د دفتر سره مخالف ؤ او چین په یو ډول د افغان دولت د دریځ ملاتړ کاوه.

د ۲۰۱۲ کال د جنوري پر ۲۱ مه مازیګر مهال مارک ګروسمن او فرانکو رو ژیرو د نوموړي مرستیال د ولسمشر لیدو ته راغلل. ګروسمن وویل د هغه مساعد نظر پر بنسټ چې د افغانستان دولت درلود ده د اکتوبر له میاشتې وروسته له طالبانو سره نه دي لیدلي. نوموړي زیاته کړه چې له طالبانو سره د دوی د خبرو موضوع د پینځو طالبانو چې په ګوانتانامو کې بندیان وو او د امریکایي نیول شوي پوځي پر سر وه. نوموړي له ولسمشر وغوښتل چې ځواب ورکړي آیا امریکایان له طالبانو سره خبرو ته دوام ورکړي که نه؟

ولسمشر په سخت حالت کې ؤ. که یې د قطر دفتر د جوړېدو او د امریکایانو او طالبانو تر منځ د خبرو اترو ممانعت کړی وای له سولې سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت تور پرې لګېده او که یې له هغو سره توافق کولای د دې وېره وه چې هېواد له ګډوډۍ او تجزیې سره مخ شي. په همدې دلیل یې له طالبانو سره د امریکایانو د اړیکو او د دفتر د جوړېدو ممانعت نه کاوه، خو دا یې افغاني پروسه نه بلکې د امریکا، قطر او پاکستان معامله ګڼله. نوموړي د ډاډمن کېدو لپاره وضعه کړي شرطونه درلودل او له واشنګټن نه یې وغوښتل چې هغه ترسره کړي.

ولسمشر له ګروسمن وپوښتل: «آیا ویلای شې چې عباس ستانکزی، مولوي دلاور، سهیل شاهین... چې په پاکستان کې وو قطر ته څه ډول وررسېدل؟»

ګروسمن ځان ناخبره و ښود. ولسمشر دوحې ته د ISI د مشر د وروستي سفر یادونه وکړه. ولسمشر وویل چې د ګوانتانامو د بندیانو په باب د افغانستان د ولسمشر په توګه د مسوولیت احساس کوم. ګروسمن خپله لهجه بدله کړه وې ویل: «زموږ هدف سوله ده، د بندیانو خوشي کېدل هم یو ستونزمن او پېچلی کار دی. زموږ قانون موږ ته د هغو د خوشي کولو اجازه نه را کوي، په داسې حال کې چې طیب آغا وایي چې طالبانو ته د هغوی خوشي کول تر هر څه مهم دي آن د دفتر تر پرانیستلو هم مهم دي. زموږ هدف د افغانانو تر منځ خبرې اترې دي، خو موږ کله کله هېروو چې یو بل لوری هم شته چې طالبان دي او هغوی نه غواړي له تاسو سره خبرې وکړي». ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «له کومو کسانو سره چې موږ خبرې کولې یا په نښه او وویشتل شول لکه معتصم آغا جان، یا بندیان شول، استاد رباني شهید کړای شو. آیا دا ټول د سولې د پروسې د تخریب په مانا نه دي؟

ګروسمن وویل: « ما څېرته ولوستل چې ویل شوي امریکا غواړي افغانستان ټوټه کړي، موږ شیطان صفته خلک نه یو».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر په ځواب کې وویل: «که د ګوانتانامو له بندیانو لیک را وړئ چې دوی غواړي قطر ته لاړ شي، زه یې منم، خو زه د قطر پروسه افغاني نه بولم».
سفیر کراکر: موږ د همدې لپاره دلته راغلي یو چې څه ډول دغه پروسه افغاني کولای شو؟
ولسمشر کرزی: «زموږ پروسه د استاد رباني پروسه وه، د معتصم آغا جان او ملا برادر پروسه وه. اوس بله پروسه نه لرو، تاسو زموږ او طالبانو تر منځ منځګړي نشئ کېدای، تاسو یوازې څو ورځې وړاندې له طالبانو سره د جګړې په نوم په ګردېز کې حامله مېرمن او په کونړ کې نور کسان ووژل. له لسو کلونو راهیسې دلته له طالبانوسره د مقابلې په نامه جګړه کوئ، اوس څه ډول د منځګړي او اسانچاري په رول کې را ښکارېږئ؟ خو موږ له طالبانو سره جګړه نه غواړو، موږ طالبانو ته وروڼه وایو.»
ګروسمن: «فکر کوم چې زموږ په منځ کې بې باوري او د پالیسۍ اختلافات شته دی.»
ولسمشر کرزی: «هوکې! دا سمه ده، تاسو زموږ په نامه له طالبانو سره خبرې نشئ کولای، تاسو په خپل نامه چې هر څه کوئ کولای شئ».
محمد معصوم ستانکزی: «باید هدف معلوم کړو او پړاوونه په پام کې و نیسو، یانې، (له قطر سره) د تفاهم‌لیک لاسلیک او د طالبانو لخوا دا اعلان چې سوله غواړي».
ګروسمن:«تاسو پخپله له قطریانو سره خبرې وکړئ او د هغوی په واسطه پر طالبانو و منئ چې دا اعلان وکړي».
ولسمشر کرزی: «موږ له قطریانو سره اړیکې نه لرو».
روګژیرو:« هغوی نه غواړي له تاسو سره خبرې وکړي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی:«هغوی یانې څوک؟ ملا رزاق له ماسره په سعودي کې وکتل، ملا برادر له ما سره خبرې کولې، معتصم آغا جان هم ... خو هر څوک چې له موږ سره خبرې کوي یا وژل کېږي یا بندي کېږي»

ګروسمن: «بالاخره موږ له طالبانو سره خبرې وکړو که نه؟»

ولسمشر کرزی: «دفتر مو پرانیزئ، خبرې وکړئ خو زه بیا هم وایم چې دا به یوه افغاني پروسه نه وي. موږ نن اعلامیه ورکوو چې موږ د قطر د دفتر سره مخالفت نه لرو خو دا یوه افغاني پروسه نه بولو».

ګروسمن: «څه وخت اعلامیه خپروئ؟»

ولسمشر کرزی: «همدا نن شپه»

ګروسمن: «خو ټاکل شوې وه چې زه او ستاسو سیاسي معین د رسنیو په مخکې خبرې وکړو»

ولسمشر کرزی: «مګر تصمیم دلته (ارګ ته اشاره ده) نیول کېږي»

ګروسمن: «(په نهیلې لهجه او د چنې وهلو په روحیه) موږ دغه چینل پرېږدو»

ولسمشر کرزی: «نه، کله چې قطر ته لاړې او هغوی (قطریانو)ته ووایئ چې له افغان دولت سره خبرې وکړي، او طالبانو ته ووایي چې په راتلونکیو خبرو کې د افغانستان د دولت استازی هم حضور ولري».

کراکر: «که تاسو کومه بله پروسه لرئ او بل چینل هم وي لکه معتصم آغا جان او یا ملا رزاق ووایئ، موږ به مرسته وکړو».

ولسمشر کرزی:«که تاسو دې پایلې ته رسېدلي واست چې اوسنی د سولې پروسه اغېزمنه نه ده، نو بله پروسه چمتو ده.»

سبا ته مارک ګروسمن بیا ارګ ته راغی او له خپل پلاوي سره یې له ولسمشر سره ولیدل وې ویل چې د ولسمشر په اجازه قطر ته درومي او طالبانو ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووايي چې دا مو درسره وروستی ملاقات دی. همدارنګه دا ژمنه یې وکړه چې ګوانتانامو ته به د انجنیز ابراهیم سپین زاده د سفر زمینه برابره کړي چې هلته له بندي طالبانو سره وګوري. نوموړي همدارنګه وویل چې طیب آغا ته به ووايي چې سعودي عربستان ته لاړ شي او د سولې په تړاو دې د هغه هېواد ملاتړ وغواړي. په مقابل کې ولسمشر له ګوانتانامو نه د طالبانو د پینځو جګپوړیو غړیو له خوشي کېدو او قطر ته د هغوی له تللو سره خپله خوښي ځرګنده کړه، په دې شرط چې هغوی هلته له خپلو کورنیو سره یو ځای شي او ګروسمن ته یې وویل چې په هغه صورت کې چې قطریان له افغانستان سره په اړیکه کې شي نوموړی به یې هرکلی وکړي او خپل سفیر به بېرته دوحې ته واستوي.

د مارچ په میاشت کې طالبانو اعلان کړه چې له امریکایانو سره یې خبرې درولې دي. طالبانو په هغه اعلامیه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱۵ مه یې خپره کړه له امریکایانو سره یې د خبرو درول (د هغوی له لوري د خبرو لپاره د نویو مسایلو وړاندیز او د امریکایانو د ثابت دریځ نه درلودل) په دلیل وبلل. په اعلامیه کې راغلي وو چې د افغانستان د مسایلو پر سر د هر اړخیزو خبرو په تړاو د امریکایانو د بې بنسټه تبلیغاتو سره هممهاله «حامد کرزي هم چې د امریکایانو له اجازې پرته د یوې سیاسي خبرې کولو واک هم نه لري، له سند پرته ادعا وکړه چې د کابل ادارې او امریکا له طالبانو سره خبرې پیل کړې دي» طالبانو په اعلامیه کې ویلي وو چې یوازې د دفتر د پرانیستلو او د خپلو بندیانو د خوشي کولو په اړه یې خبرې کړې دي او بس.

مارک ګروسمن د طالبانو له اعلامیې یوولس ورځې وروسته د خبرو د درولو سبب ولسمشر ته یو له القاعدې سره د هغوی د اړیکو د غوڅولو نه اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل د بندیانو له تدریجي خوشي کولو او له دې شرط منلو سره نه توافق چې له قطر نه به هغوی د وتلو اجازه نه لري، یاد کړل.

د ولسمشر لېوالتیا تل دې ته وه چې که نظر دا وي چې طالبانو ته له افغانستانه د باندې دفتر جوړ شي، په لومړیتوب کې د ترکیې او سعودي عربستان هېوادونه باید د دوی د کوربه توب لپاره غوره شي، نوموړي قطر بې واکه او د امریکایانو د سپارښتنو پلی کوونکی باله.

ولسمشر کرزي څو ځله په لیکلې بڼه له ملک عبدالله نه وغوښتل چې د افغانستان د سولې په برخه کې اقدام وکړي، خو سره له دې چې د هغه هېواد لخوا د افغانستان د سولې لپاره د شهزاده مقرن پر گومارلو سربېره یا و نه توانېد او یا یې نه غوښتل چې په دې برخه کې کوم کار وکړي. د ولسمشر انگېرنه داسې وه چې امریکایان د دې کار خنډ کېدل. یو وخت د سعودي عربستان سفیر ما ته ویلي وو چې امریکایان نه خوښوي چې د افغانستان او سعودي عربستان اړیکې ټینگې او تودې شي.

سره له دې چې ترکیې په دې برخه کې لېوالتیا درلوده، د ساري په توگه د دوی د بهرنیو چارو وزیر داود اوغلو د جون په میاشت کې کابل ته د سفر پر مهال د سولې په پروسه او د کابل او اسلام‌اباد تر منځ د اړیکو په ښه کولو کې د خپل هېواد د هر ډول همکارۍ اعلان وکړ، دا په داسې حال کې وه چې معتصم آغا جان هم په هغو ورځو کې په ترکیه کې تر درملنې لاندې ؤ. خو دغه هېواد هم و نه کولای شول چې د افغانستان د سولې په پروسه کې کوم مهم کار ترسره کړي. سره له دې چې د امریکا او طالبانو تر منځ ظاهراً خبرې درېدلې وې، خو سیمې او افغانستان ته د امریکا د ځانگړي استازي سفرونو دوام درلود. نور مسایل چې نوموړي پرې کار کاوه یو د بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنفرانس، د بگرام زندان او د امنيتي او دفاعي تړون پر سر خبرو اترو ته چمتووالی ؤ.

دغه مهال چې مارک گروسمن کابل ته کوم سفرونه کول زياتره به يې د اسلام‌اباد د واقعبينۍ په باب مثبت پيغامونه ورسره راوړل او داسې به يې ښودله چې پاکستاني جنرالان حاضر دي چې آن د حقاني شبکې مسوولين د خبرو مېز ته راولي. ښاغلي گروسمن دا هم ويل چې پاکستانيان د افغانستان د سولې لپاره د يوې لارې نقشې غوښتونکي دي.

د هېواد وضعې او د امريکايانو اقداماتو موږ د قطر دفتر د پرانيستلو په باب ورځ تر بلې زيات شکمن کولو. زموږ زياته انديښنه د دوی د اختلاف اچوونکيو هڅو په باب وه چې د فدراليزم په واسطه او يا د يو ډول ملوک الطوايفۍ په حاکمولو يې غوښتل افغانستان ټوټه ټوټه شي. بايد له ياده و نه باسو چې د فرانسې په شانتيي کنفرانس کې پر دغو موضوعاتو بحثونه شوي وو او له دې سره هممهاله ډانا رورا باکر هم د هېواد له يوې ډلې سياستوالو سره په ناستو ولاړو بوخت ؤ. ولسمشر المانيانو ته وويل چې افغانان له تاسو نه کوم ښه تصوير په ذهن کې لري بايد د دغسې ناستو په کوربه توب يې زيانمن نه کړئ. نوموړي په ځانگړې توگه دغه پيغام د هغه هېواد د ځانگړي استازي (پروفيسور کوخ) تر غوږه ورساوه. هغه مهمه ستونزه چې زموږ بدگوماني يې زياتوله دا وه چې نه امريکا او نه هم د قطر دولت دې ته حاضر وو چې افغانستان د دفتر د جوړېدو په موافقتنامه او د دندو د لايحې په جوړولو کې ونډه واخلي. امريکايان په دې نظر وو چې په دې تړاو دوې موافقتنامې لاسليک شي، يوه د قطر او طالبانو تر منځ، او بله د قطر او د امريکا متحده ايالاتو تر منځ. هغوی زموږ د خبرتيا لپاره د امريکا او قطر تر منځ د تفاهم‌ليک مسوده چې په ځلورو مخونو کې وه را واستوله. بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع د طالبانو لخوا د اعلامیې ورکول وو. په پام کې وه چې په هغه اعلامیه کې طالبان ووایي چې له ترهګرو او القاعده سره یې اړیکې غوڅې کړې او د سولې له عالي شورا سره خبرې کوي. د دې اعلامیې ورکولو ته انتظار ډېر اوږد شو بالاخره یې هغه صادره کړه. په اعلامیه کې راغلي وو چې«د افغانستان اسلامي امارت پر پوځي فعالیتونو سربېره سیاسي تګلاره هم لري چې تر افغانستان پورې محدوده ده».

هغه موخې چې د قطر د دفتر لپاره په اعلامیه کې یادې شوې وې داسې وې:

۱ـ د نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو ښه کول او له هغوی سره افهام او تفهیم.

۲ـ د سیاسي حل لارې ملاتړ په داسې بڼه چې اشغال په افغانستان کې پای ته ورسوي خپلواک اسلامي نظام او امنیت را منځته شي.

۳ـ له افغانانو سره لیده کاته.

۴ـ له ملګرو ملتونو سازمان او سیمه ییزو سازمانونو او غیر دولتي موسساتو سره اړیکې.

۵ـ سیاسي اعلامیې د رسینو په واک کې ورکول.

د اعلامیې په پای کې د قطر له دولت او د هغوی له امیر شېخ محمد بن خلیفه آل ثاني نه مننه شوې وه چې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر د پرانیستلو لپاره یې لازمې اسانتیاوې او زمینه برابره کړې وه.

موږ د دندو د لایحې او د قطر دفتر د جوړېدو د هوکړه لیک په باب له ډېرو مشورو وروسته دې پایلې ته ورسېدو چې له امریکایي لوري ضمانت لیک واخلو چې په دې تړاو کومې اندېښنې لرو په هغو یې رفع کړو. امریکایي لوري له ډېرو بحثونو او جنجالونو وروسته زموږ دغه غوښتنه ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اخ و ډب کې د اسلام‌اباد له لوري له لېوالتیا ډك مثبت پیغامونه زیات شول. د سولې عالي شورا پلاوي د صلاح الدین رباني په مشرۍ د ۲۰۱۲ کال د نومبر په نیمایي کې اسلام‌اباد ته سفر وکړ او د هغه هېواد له ملکي او پوځي چارواکیو سره یې ولیدل. پاکستانیانو د پلاوي تود هرکلی وکړ. هغوی د طالبانو د تحریک د څلورو تنو مشرانو هر یوه مولوي نورالدین ترابي، ملا عبدالغني برادر، جهانګیروال او انوار الحق مجاهد د خوشي کولو وړاندیز چې د سولې عالي شورا لخوا شوی ؤ و مانه، له ملا برادر پرته نور کسان یې له زندانه خوشي کړل. پاکستاني لوري د علماؤ د کنفرانس له جوړېدو سره هم توافق وښود. د هغه هېواد لوی درستیز جنرال کیاني د نومبر پر ۲۰ مه کابل ته راغی. نوموړي په ارګ کې له ولسمشر سره د لیدو په ترڅ کې ژمنه وکړه چې په افغانستان کې به د سولې د ټینګېدو په لار کې له هېڅ ډول همکارۍ دریغه ونه کړي. نوموړي د سولې د خبرو اترو پر بین الافغاني توب د ټینګار په ترڅ کې وویل چې د سولې لپاره یوه تدوین شوي پلان یا د لارې نقشې ته اړتیا ده. نوموړي وویل چې د قطر له پروسې سره موافق دی او دا یې تایید کړه چې هلته مېشت طالبان د خپل مشرتابه ښه استازیتوب کوي. ولسمشر تل په دوحه کې د شته کسانو لخوا د طالبانو په ریښتینې استازولۍ شک درلود. جنرال کیاني د ولسمشر له دې نظر سره هم موافق ؤ چې د سولې هڅې باید ګړندۍ شي چې د ۲۰۱۴ ز د ولسمشرۍ د انتخاباتو ترسره کېدو پورې یوې پایلې ته ورسېږي او ټولو افغانانو ته په انتخاباتو کې د ګډون زمینه برابره شي.

ولسمشر کرزي په دې لیدنه کې جنرال کیاني ته په خطاب کې وویل: «د سولې واقعي پروسه زموږ او ستاسو تر منځ پروسه ده، قطر یوازې سمبولیک ارزښت لري». جنرال کیاني د ولسمشر د خبرو په تایید وویل: «موږ او تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریک کلتور لرو، غربیان زموږ له سم پېژندلو ناتوانه دي. تاسو بین الافغاني خبرې اترې پیل کړئ موږ له دې پرته چې د ځان لپاره کومه اجنډا ولرو له تاسو سره به مرسته وکړو خو باید پر یو بل د متقابل اعتماد په درلودو پر مخ ولاړ شو.» اسلام‌اباد ته تر سفر وروسته د سولې عالي شورا رییس صلاح الدین رباني د دسمبر په میاشت کې واشنگټن ته سفر وکړ. د نوموړي د سفر موخه د طالبانو پر ځینو مشرانو د لگېدلیو بندیزونو لرې کول وو. د هغو لیدنو کتنو په لړ کې چې نوموړي هلته درلودې د ملي امنیت شورا دفتر یو کاغذ چې د قطر دفتر د دندو او د هغو په اړه د امریکایانو د نظر په باب ؤ، نوموړي ته وسپاره. په دې پاڼه کې لیکل شوي وو چې: «د طالبانو دفتر په دوحه کې د سولې د خبرو اترو لپاره دی، سیاسي خاصیت به لري (...) د طالبانو سیاسي دفتر گوندي نمایندگي کېدای شي لکه د جنبش اسلامي، حزب وحدت او جمعیت اسلامي دفتر (...)» د دې لیک په لیدو د ولسمشر شک نور هم زیات شو. نوموړي د طالبانو دفتر له هغو گوندونو سره له پرتله کولو چې په یوه بڼه د ځانگړیو قومونو استازي ځانونه بولي او د هغوی د استازولۍ دعوه کوي دا پایله واخیسته چې امریکایانو افغانستان د قومونو تر منځ وېشلی دی او د پښتنو «استازولي» طالبانو ته سپاري. دغه اندېښنې له هغو راپورونو سره چې طالبانو ته د یو شمېر ولایاتو د سپارلو د وړاندیزونو په باب وو برابرې راتلې.

بل لوري ته د غیر پښتنو په منځ کې د فدرالیزم مفکورې ته کار کولو د امریکا پر نیت زموږ شکونه نور هم زیاتول. ولسمشر د ملي امنیت شورا په غونډه کې د دسمبر پر ١٦ مه چې یو شمېر جهادي او سیاسي مشران هم پکې حاضر وو دغه مساله مطرح کړه. ډاکتر اشرف غني احمدزی د داسې شرایطو غوښتونکی ؤ چې د دې دفتر د فعالیتونو ساحه محدوده کړي، وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل: «باید معلومه کړو چې الجزیره تلویزیون د هغوی دفتر د امارت اسلامي د نمایندګۍ په نوم یاد نه کړي» مارشال فهیم اندېښنه ښودله چې د دوی دغه دفتر بالاخره د فلسطین د خپلواکې ادارې په څېر د ادارې په نمایندګۍ بدل نشي. په غونډه کې ټول پر دې متفق وو چې په دوحه کې د حاضرو کسانو استازولي د واقعي استازولي تضمین شي، ځکه چې ټولو له دې وېره درلوده چې د دفتر له پرانیستلو وروسته بیا هم جګړه د نورو لخوا چې ځانونه به د طالبانو رښتیني استازي بولي دوام وکړي. استاد خلیلي، ډاکتر اشرف غني، مارشال فهیم ... ټولو په بېلا بېلو غونډو لکه څه موده مخکې چې په فرانسه کې جوړه شوې وه او هغو کسانو چې ځانونه یې د حکومت اپوزیسیون بلل پکې ګډون کړی ؤ، اندېښنه وښوده. ولسمشر وویل چې باید ښاغلی قانوني، ډاکتر عبدالله او نور به «دلته را وغواړو او پر دې به یې و پوهوو چې که دوی د حکومت اپوزیسیون دي هم د دې نظام برخه ګڼل کېږي ځکه دې د نظام د کمزورۍ کولو په لار کې ګام نه اخلي.» مارشال فهیم د ازبکستان له فعالېدو او له طالبانو سره یې د اړیکو نیولو خبره وکړه. نوموړي زیاته کړه چې څه موده وړاندې ګواکې د مولوي جلال الدین حقاني لمسی د ازبکستان په منځګړتوب شبرغان ته راغلی او له جنرال دوستم سره یې خبرې کړې دي. نوموړي وویل که داسې وي نو د احمد خان سمنګاني وژل کېدل هم له دې مسالې سره اړیکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امریکا ته وروستی سفر

واشنګټن ته د ولسمشر کرزي په مشرۍ د پلاوي رسمي سفر د ۲۰۱۳ کال د جنوري پر ۹ مه پیل شو. موږ یوه ورځ مخکې هلته رسېدلي وو. په دې سفر کې نسبتاً یو لوی پلاوی له ولسمشر سره ملګری ؤ.

تر سفر وړاندې ولسمشر له اوباما او د هغه هېواد له نورو چارواکیو سره د بحث وړ موضوعګانو پر سر یو لړ مشورې پیل کړې. دغه مهمې موضوعګانې د سولې پروسه، د قطر د دفتر جوړېدل او افتتاح او امنیتي او دفاعي تړون چې امریکا یې د ترلاسه کولو غوښتنه کوله، وې. له پاکستان سره اړیکې هم له مهمو موضوعګانو څخه وه چې د سولې په بحث کې مطرح کېدله.

د ۲۰۱۲ کال د دسمبر پر ۲٦ مه چې له یاد سفر نه وړاندې د ګلخانې ماڼۍ د کابینې په خونه کې د دولت د جګپوړیو چارواکیو او سیاسي او جهادي مشرانو په ګډون کومه غونډه جوړه شوه په هغو کې ډاکتر سپنتا شپږ ټکي چې په امریکا کې به بحث پرې کېدو ولوستل. ولسمشر د امنیتي او دفاعي تړون په باب منفي نظر درلود، د ده په نظر په هغه متن کې چې موږ ته سپارل شوی ؤ له دې پرته چې ډېر وړوکی امتیاز دې په بدل کې ورکړي له افغانستان نه ډېر شیان غوښتل شوي وو.

۴،۱ میلیارده ډالر چې امریکا یې په کال کې امنیتي ځواکونو ته د ورکولو ژمنه کړې وه د افغانستان ستونزه یې نشوای حل کولای. ولسمشر تر دې غونډې یوه ورځ وړاندې جنرال الن ته ویلي وو چې د افغانستان پوځ ته د غیر فعالو الوتکو سپارل داسې ښکاري چې امریکا نه غواړي افغانستان د هوایي ځواک خاوند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر لومړی د امنیتي تړون په باب خبرې وکړې، په دې برخه کې ټولو مشرانو خپل نظرونه وویل چې پر خپل ځای به اشاره ورته وکړم. د سولې د پروسې او د قطر دفتر په باب ولسمشر وویل: «که امریکایانو ته اړې ورکوو نو د دې لپاره به وي چې موږ یې له شره خوندي شو او د سولې او ارامۍ خاوندان شو». نوموړي زیاته کړه چې د کوم متن کاغذ چې په دې وروستیو کې امریکایانو صلاح الدین رباني ته سپارلی د افغانستان ولس پر قومونو وېشي.

د غونډې زیاتره ګډونوالو په خبرو کې د سولې د عالي شورا پر رول ټینګار وکړ او د طالبانو د دفتر منل یې له دې سره مشروط وګڼل.

د امریکا متحده ایالاتو ته زموږ سفر د امریکا د مرستیال ولسمشر په ځانګړې الوتکه کې ترسره شو. د امریکا حکومت زموږ د پلاوي ځانګړی هرکلی وکړ او «بلېر هاوس» مشهور مېلمستون یې چې سپینې ماڼۍ ته نژدې دی زموږ د هستوګنې لپاره ځانګړی کړی ؤ.

د بهرنیو چارو وزیر، د دفاع وزیر، د ملي امنیت سلاکار، د انتقال د پروسې مسوول ډاکتر اشرف غني احمدزی، د سولې عالي شورا رییس صلاح الدین رباني، د مالیې وزیر، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین، د ولسمشرۍ ویندوی، د دفتر ریاست مرستیاله او ما (د دفتر رییس) په دې سفر کې له ولسمشر سره ملتیا کوله.

په لومړۍ ورځ ولسمشر د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو له وزیرې هیلري کلنټن سره وکتل. د شپې لخوا د افغانستان ولسمشر په خپل هستوګنځي کې مېلمستیا وکړه چې په هغو کې د پارلمان یو شمېر بانفوذه غړیو، تیورسنانو، یو شمېر پخوانیو دیپلوماتانو او چارواکیو لکه سناتور لېبرمن، زبیګنیو برژنسکي، جنرال ډېوېډ بارنو، سفیر کراکر، ډاکتر زلمی خلیلزاد او یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور بلل شوي وو. له افغان لوري څخه ډاکتر زلمي رسول، ډاکتر اشرف غني احمدزي، ډاکتر سپنتا، بسم الله خان محمدي، سفير اکليل حکيمي، صلاح الدين رباني، حميرا لودين اعتمادي، او ما (عبدالکريم خُرم) د ولسمشر ملگرتيا کوله.

په پيل کې ولسمشر له بريژنسکي نه د هغه د «شنه کمربند» د تيوري په باب پوښتنه وکړه چې گواکې د اسلامي ځواکونو لخوا د شوروي اتحاد د سرې امپراتورۍ د کلابندۍ لپاره طرحه شوې ؤ. بريژنسکي هغه شين کمربند نه بلکې «د بحران کړۍ» وبلله. په دې باب له مذهبي افراطيت نه د امريکا د ابزاري گټې اخيستلو په باب مفصلې خبرې وشوې. ښاغلي بريژنسکي په پای کې د خپلې نظريې په دفاع کې وويل: «د ترهگرۍ او اسلامي افراطيت د ودې خطر څو چنده تر هغه خطر لږ دی چې هغه مهال اتحاد شوروي را منځته کړی ؤ.»

امريکايي مشهور ليکوال ستيوکول په خپل کتاب «د پېريانو جگړې» کې ليکي:«د سي آی اې د هڅو په پايله کې ISI د پاکستان استخبارات هم چمتو شول چې د شوروي اتحاد د اکمالاتي لارو د تړلو لپاره بايد تخريبي او ځانمرگي عمليات ترسره شي، خو دغه ماموريت له ستونزو سره مخ شو ځکه چې ډېر توندلاري اسلامپال هم ځانمرگيو بريدونو ته چمتو نه وو، د کابل په شمال کې د سالنگ تونل د الوزولو لپاره ډگروال يوسف د موټر بم وړانديز وکړ چې کار ترې واخيستل شي، په داسې ډول چې ISI به په ټانکرو کې چاودېدونکي مواد ځای پر ځای کوي او مجاهدين به يې د ځانمرگي بريد په واسطه په تونل کې دننه الوزوي. څرنگه چې شوروي پوځيانو د دغه ستراتيژيك تونل نه له چلوونکي پرته لارۍ سمدستي لرې کولې نو ضروري وه چې يو څوك پکې ناست وای او ځان يې الوزولی وای، خو مجاهدينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځانمرګي برید ډډه کوله ځکه چې دا یې له دین سره مخالف عمل باله» په دې اساس امریکایان د سپتمبر د ۱۱ مې له پېښې نه کلونه مخکې د ترهګریزو ځانمرګیو بریدونو په هڅو کې وو او دا کار یې تشویقاوه.
د ولسمشر د دې ادعا په ځواب کې چې ګواکې د امریکا ولسمشر نور له طالبانو سره جګړه نه غواړي، سناتور لېبرمن وویل د دې برخلاف امریکایان هغوی خپل دښمنان ګڼي. ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «امریکا نه یوازې هغوی خپل دښمنان نه ګڼي، بلکې دوستان یې بولي او آن د امریکا لپاره یې پانګه ګڼي.» امریکایي سناتور د پاکستان په باب د حامد کرزي د دې نیوکې په ځواب کې چې واشنګټن له اسلام‌اباد سره مرستې کوي وویل: «امریکا پاکستان ته تر هغې زیاته اړتیا لري چې پاکستان یې امریکا ته لري». نوموړي زیاته کړه چې د امریکا هوایي او ځمکنۍ اکمالاتي لارې له پاکستان نه تېرې شوې.
بریژنسکي د افغانستان او ایران او مرکزي آسیا د اړیکو په باب وپوښتل، نوموړي غوښتل پر دې و پوهېږي چې د مرکزي آسیا د جمهوریتونو خپلواک کېدو د افغانستان پر ملي یووالي کومه اغېزه کړې ده که نه؟
ولسمشر کرزي د خپلو خبرو په یوه برخه کې وویل چې که دی د امریکا د ولسمشر پر ځای وای نو د خپل دولت لس سلنه بودجه به یې پر افغانستان لګوله، ځکه چې دغه هېواد د روسیې، چین، ایران او هند په ګاونډ کې پروت دی، هغه هېوادونه چې د امریکا متحده ایالاتو هژموني ګواښي په داسې حال کې چې امریکا توندې هڅې کولې چې د زبرځواکۍ مقام یې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بریژنسکي د چین په باب ډاډه ښکارېدو خو د روسیې له اړخه یې اندېښنه درلوده، فکر یې کاوه چې د وارو ـ آسیا د یووالي له لارې ولادي میر پوتین د اتحاد شوروي د بیا را ژوندي کولو په فکر کې دی.
دوهمه ورځ ولسمشر پنتاګون ته په ورتلو او په هغه مېلمستیا کې له ګډون سره پیل کړه چې هلته یې په ویاړ جوړه شوې وه، د شپې لخوا د مېرمن کلېنټن مېلمه ؤ. په لیدنه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې ټینګار کاوه چې افغانستان دې تر دې زیات د قطر له حکومت سره د تفاهم پر لاسلیک ټینګار نه کوي او هغه دې د قطر د دفتر د منلو لپاره د شرط په توګه نه یادوي. بل مهم ملاقات د امریکا د ملي امنیت د سلاکار دانیلون او د هغه هېواد د استخباراتو له رییس سره په بلېر هاوس کې تر سره شو چې له افغاني لوري د ملي امنیت سلاکار او د بهرنیو چارو وزیر له ولسمشر سره ملتیا کوله. دغو یادو شویو امریکایي چارواکیو ولسمشر کرزي ته ویلي وو چې امریکا غواړي د سولې پروسه پایلې ته ورسوي او له طالبانو سره جګړه پای ته ورسوي. ولسمشر داسې انګېرلې وه چې امریکایانو داسې خبرې ورسره کولې لکه چې د طالبانو استازولي کوي. په کابل کې به هم د امریکا ځانګړي استازي هر ځل د طالبانو د اعلامیې په نوم یو کاغذ له جېبه را و یوست چې په هغو کې به زیاتره له حکومت سره له خبرو نه د انکار خبرې وې.
د بلېر هاوس په دغه ملاقات کې پاکستان ته د امتیاز ورکولو مساله او پر افغانستان د هغه هېواد تېري ته تېری نه ویل او آن هغو چاودنو ته ترهګري نه ویل چې امریکایان یې ښنه نه وي، مطرح شوي وو.
د ولسمشر اوباما او ولسمشر کرزي تر منځ پر درېیمه ورځ ملاقات وشو. هغوی په یوازېتوب کې هم خبرې درلودې، دواړو ولسمشرانو د غرمې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېلمستیا وروسته په ګډ خبري کنفرانس کې ګډون وکړ او ګډه مطبوعاتي اعلامیه یې صادره کړه. په دې اعلامیه کې چې په سپینه ماڼۍ کې د څلور ساعته لیدنې نه وروسته صادره شوه د افغانستان د شرط لپاره چې د طالبانو د دفتر پرانیسته یې د کابل او دوحې تر منځ د تفاهم‌لیک له لاسلیک سره تړلې ؤ حل لاره موندل شوې وه، مشترکه اعلامیه د ۲۰۱۳ د جنوري پر ۱۱ مه صادره شوه او د قطر له دولت نه یې غوښتنه کوله چې د طالبانو د تحریک د رسمي استازیو او د سولې د عالي شورا تر منځ د خبرو اترو لپاره په دوحه کې یو دفتر پرانیزي. په دې ډول موږ خپل هدف ترلاسه کړ او د قطر دفتر پرانیستل په یو ډول د افغانستان د دولت په غوښتنه ممکن شول، یانې د افغانستان د دولت حاکمیت تر پوښتنې لاندې رانغی.

درې ورځې وروسته د قطر د بهرنیو چارو وزارت د ولسمشر کرزي او اوباما د ګډې اعلامیې په تکیه، او د سولې عالي شورا پر رول پر ټینګار سره د یوې اعلامیې په ترڅ کې د یاد دفتر پرانیستلو ته د قطر د چمتووالي اعلان وکړ. همغه ؤ چې ولسمشر کرزي په کابل کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې په یو ډول د قطر دفتر له پرانیستلو سره خپل توافق اعلان کړ. اوس نو یوازې دا کار پاتې ؤ چې طالبان اعلامیه خپره کړي او له القاعده ترهګرو سره د خپلو اړیکو د پرېکون او د سولې له عالي شورا سره د خبرو اعلان وکړي.

د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا د ځانګړي استازي مرستیال «ډیوید پیرز» د هغه هېواد له سفیر سره یو ځای د ۲۰۱۳ کال د جنوري پر ۲۱ مه ارګ ته راغلل او له ولسمشر سره یې د ده د کار په دفتر کې ولیدل. ښاغلي پیرز ولسمشر ته وویل: «اوس طالبان پوهېږي چې که د سولې عالي شورا سره د لیدنې په تړاو اعلامیه ور نکړي نو دفتر به یې وتړل شي». د هماغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې په سهار په دهمزنگ کې د ترافیکو پر ریاست او د سرحدي پولیسو پر قطعه برید ترسره شو چې مالي او ځاني زیانونه یې درلودل. ولسمشر دغه برید ته په اشارې وویل :«که دا طالبان وي نو دغه دي بریدونه یې د پخوا په څېر دوام لري». د امریکا استازي په سړو اعصابو ځواب ورکړ وې ویل چې په هر ځای کې د خبرو اترو له دوام سره دغه ډول بریدونه ترسره کېږي.
دېوېډ پیرز د ولسمشر د بلې پوښتنې په ځواب کې له سولې عالي شورا سره د خبرو اترو د اړتیا په باب وویل: «د طالبانو اعلامیه به د سولې پروسه تایید کړي». ولسمشر په نا آرامۍ ځواب ورکړ: «دا خو هغوی پخوا هم ویلي دي، دغه ډول څرگندونې گټه نه لري او دا هغه څه نه دي چې موږ یې غواړو».
ولسمشر بله اندېښنه هم درلوده او هغه دا چې باید د طالبانو ریښتیني استازولي وي او دوه گونی عمل پایته ورسېږي. نوموړي محمد معصوم ستانکزي ته په پاریس کې د مولوي شهاب الدین دلاور خبرې ته اشاره وکړه وې ویل: «آیا د هغو طالبانو په باب به چې باید په قطر کې وي داسې لیکلی سند وي چې وښیي هغوی د طالبانو ریښتیني استازي دي؟ ځکه مولوي شهاب الدین دلاور په پاریس کې ښاغلي ستانکزي ته ویلي وو چې نه دوی د زیاترو چاودنو پړه اخلي او نه استاد رباني دوی وژلی دی، نه پر اسد الله خالد برید د دوی کار ؤ. نو دغه بریدونه د چا کار دی؟ د امریکا استازي ډاډ ورکړ چې په قطر کې به د طالبانو رښتیني استازي وي.
ولسمشر بېله دې چې د دیوېډ پیرز ډاډ ورکول یې قانع کړي وویل: «ملا محمد حسن د کوېټې له شورا نه موږ ته ویلي چې طیب آغا زموږ استازولي نه کوي. او دا چې دوی له لسو کلونو راهیسې ملا محمد عمر نه دی لیدلی.»
همدارنگه ولسمشر د استاد رباني ترور ته په اشارې د دغه ډول پېښو د تکرار په باب اندېښنه وښودله. دېوېډ پیرز بیا هڅه وکړه چې ولسمشر ته ډاډ ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې ویل چې امریکا په دې تړاو له قطریانو سره یو لاسلیک شوی سند لري.
ولسمشر له هغه نه وغوښتل چې امریکایان دې دغه سند ده ته ور وښیي.
ښاغلي پیرز یو ځل بیا وویل: «تاسو نېغ په نېغه خبرې او د دفتر د غړیو د واقعي توب تصدیق غواړئ، دا به ټول درته چمتو شي» بیا د ځانګړي استازي مرستیال اسناد ولوستل چې د بېلا بېلو ازموینو ښکارندوی وو چې امریکا د طالبانو د قطر د دفتر د غړیو د رښتینولۍ لپاره ترسره کړي وو.
ولسمشر هغو اړیکو ته اشاره وکړه چې د لندن مهالې ادارې د پیل پر مهال طیب آغا د ملا محمد عمر په استازیتوب ورسره نیولې وې، خو زیاته یې کړه چې د طالبانو د مشر په لاسلیک سند ته اړتیا ده.
د ملي امنیت سلاکار او د امریکا د ملي استخباراتو رییس په بلېر هاوس کې ولسمشر کرزي ته ویلي وو چې امریکا نور له طالبانو سره په جګړه کې نه ده او د قطر دفتر په اړه یې ژمنه کړې وه چې که طالبانو د دفتر له پرانیستې وروسته په یوه میاشت کې دننه د سولې له عالي شورا سره خبرې ونه کړې نو په دوحه کې به یې دفتر وتړل شي.
د جنوري پر ۲۳ مه ولسمشر له همېشني معمول سره سم د جهادي او سیاسي مشرانو غونډه را وبلله تر څو د قطر دفتر او د هغو د منلو پر شرایطو ورسره مشوره وکړي. د هغوی یو شمېر د دفتر د پرانیستلو پلویان وو او هڅه یې کوله چې ولسمشر نرم کړي. خو ځینو یې آن له سولې سره مخالفت وښود.
عبدالحکیم مجاهد مولوي دلاور داسې څوک معرفي کړ چې پخوا هم د سولې پلوی ؤ او د یوې غونډې یادونه یې وکړه چې په کراچۍ کې د معتصم آغا جان، طیب آغا او نورو په ګډون جوړه وه او مشري یې د مولوي دلاور پر غاړه وه، په هغه غونډه کې ټولو د سولې ملاتړ کړی ؤ، له مولوي اختر محمد عثماني او لړ شمېر نورو پرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ولسمشر اندېښنې په دغو خبرو نه رفع کېدې، ځکه د زیاترو هغو بریدونو چې په پاریس کې مولوي دلاور ترې انکار کاوه د طالبانو ویندوی یې پړه منلې وه او دغه لړۍ ښایي په راتلونکې کې هم هماغسې دوام وکړي. د جګړې او تاوتریخوالي پایته رسېدل د بحث وړ بل ټکی ؤ.
د امریکا د سفر په بهیر کې، سپینې ماڼۍ ته تر تلو وړاندې د سهار د چایو پر مهال په بلېر هاوس کې را ټول شوو. زه او ولسمشر په دې نظر وو چې په ګډه اعلامیه کې باید د سولې د خبرو له پیل سره هممهاله د جګړې او تاوتریخوالي د پایته رسېدو یادونه وشي، خو د پلاوي ډېری غړیو د ډاکتر اشرف غني، صلاح الدین رباني او نورو په شمول په دې کې ستونزه نه لیدله چې وویل شي جګړې او تاوتریخوالی باید د سولې د خبرو په پایله کې پای و مومي.
د دولتي سیاسي مشرانو په غونډه کې مارشال فهیم د سولې په اړه د احتیاط، پیاوړي کار او د حکومت او اپوزیسیون تر منځ د همغږۍ د ایجاد پلوی ؤ. نعمت الله شهراني د سولې مخالف ؤ او طالبان یې د ISI او پاکستان استازي بلل. خو بل لوري ته مثلاً حاجي دین محمد هغوی چې د سولې مخالفین وو پر دې تورنول چې د خپلو شخصي امتیازاتو په فکر کې دي او نه غواړي هغه له لاسه ورکړي. په پای کې ټولو پر دې اتفاق وکړ چې د افغانستان او قطر د حکومتونو تر منځ د تفاهم‌لیک پر لاسلیکولو ټینګار دې د قطر د دفتر د پرانیستې لپاره د شرط په توګه نه یادېږي.
بله اندېښنه چې موږ یې ډېر پرېشانه کولو د طالبانو په لاس د زیاتو سیمو د نیولو امکان ؤ، چې ښایي د قطر دفتر له پرانیستلو وروسته به دا کار تر سره کېدو. که دغه کار شوی وای افغانستان یې عملاً په یو څو یو له بله بېلو سیمو وېشه او یا لږ تر لږه د ملوك الطوایفۍ د حاکمیت سبب کېدو. ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې بهیر کې څو ځله امریکایانو ته د اخطار په ډول یادونه وکړه چې دا کار به د پاکستان نېغ یرغل وګڼي او له هغه هېواد سره به د جګړې اقدام وکړي.

جان کیري د هغه سفر په ترڅ کې چې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه افغانستان ته راغلی ؤ د مارچ په ۲۵ مه ارګ ته د شپې د ډوډۍ لپاره را مېلمه شوی ؤ. نوموړي په پیل کې ولسمشر ته یو بوتل مربا سوغات ورکړ او وې ویل: «دا مې مېرمنې په خپل لاس ستا لپاره تیاره کړې ده» په دغه کاري مېلمستیا کې د بېلا بېلو مسالو په تېره د امنیتي تړون او د سولې پر پروسې خبرې وشوې. نوموړي له ولسمشر نه ګیله وکړه او وې ویل په عامو غونډو کې د امریکا او طالبانو د اړیکو په باب یې خبرو امریکا په خاص ډول ولسمشر اوباما له سخت وضعیت سره مخ کړی دی. ولسمشر کرزي ویلي وو چې د امریکایانو کړنې په افغانستان کې هغه ضرب المثل ته ورته دي چې وایي: «غله ته وایه غلا کوه او د کور خاوند ته وایه چې ویښ اوسه».

ولسمشر ښاغلي کیري ته وویل چې د امریکایانو کړه وړه او څرګندونې داسې انګېرنې را منځته کوي چې ګواکې واشنګټن پر قومي بنسټونو د افغانستان ټوټه کول غواړي او په دې ترڅ کې طالبان د پښتنو استازي ګڼي.

نوموړي د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته وویل چې د څو میاشتو په اوږدو کې د طالبانو ۱٦ تنه مهم مشران چې د سولې پلویان وو په پاکستان کې ووژل شول. ولسمشر د څووم ځل لپاره له افغانستان چې د ترهګرۍ قرباني دی او پاکستان سره چې د ترهګرۍ پلوی دی د امریکا له یو شان چلن څخه شکایت وکړ.

هغه څو ورځې وړاندې سفیر کننګهم ته هم همدغه خبره وکړه او ویلي یې وو: «له وضعیت نه داسې ښکاري چې پاکستان د امریکا په اجنډا کار کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او امریکا د پاکستان». سفیر په ځواب کې ورته ویلي وو چې هېواد یې د هر یوه ډالر په بدل کې چې په پاکستان کې یې لګوي په افغانستان کې شل ډالره لګوي. په هغو خبرو اترو کې ولسمشر سفیر ته وویل چې له طالبانو یې اورېدلي دي چې امریکا د څو ولایتونو د ورسپارلو وړاندیز ورته کړی دی. سفیر دغه ادعا رد کړه او دا یې د ایران تبلیغات و ګڼل، کټ مټ همدغه بحثونه له بهرنیو چارو وزیر ښاغلي کیري سره وشول.

جان کیري بیا بیا ولسمشر ته ډاډ ورکاوه او ویل یې چې د سولې په نامه د دوی لخوا د پیل شوې پروسې له پایلو څخه د اندېښنې هېڅ دلیل نشته، نوموړي وویل: «تاسو له داسې څه وېره لرئ چې باید ترې و یې نه لرئ. د سولې را وستل سخت کار دی، تاسو ولسمشر یاست، انتخابات او سوله به ستاسو تر ټولو ستر میراث وي، تاسو له طالبانو سره مبارزه له کندهاره پیل کړه، اوس دلته دولت او نظام را منځته شوی دی، ښځو ته یې واکونه ورکړل شوي دي، تاسو به له لویو تړونونو څخه چې له «هېوادونو» سره به یې وکړئ خپل هېواد نوي پړاو ته لېږدوئ. د سرتاسري او ربنو انتخاباتو تر سره کول به لوی کار وي او د دغه ډول انتخاباتو د ترسره کولو لاره دا ده چې طالبان دفاعي حالت غوره کړي. تاسو په دې کې چې ټول ووایي چې سوله او انتخابات غواړي هېڅ له لاسه نه ورکوئ.» ولسمشر په ځواب کې وویل: «که طالبان د سولې عالي شورا سره خبرې ونه کړي او په پایله کې د قطر دفتر و تړل شي تر هغو وروسته پاکستان کسان را واستوي او یو شمېر ولسوالۍ و نیسي او هغه مهال زه ولسمشر نه وم او وروسته تاسو ووایئ چې ځمکني واقعیتونه باید ومنو، بیا به څه کېږي؟»

جان کیري ځواب ورکړ: «د دغه سناریو پلي کېدل اصلاً امکان نه لري، جنرال کیاني ما ته وویل چې کورنۍ ستونزې د دوی تر ټولو ستر دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. هغه به هېڅکله داسې کار ته لاس وا نه چوي چې تاسو یې یادونه وکړه (....)» په هغو ورځو کې د پاکستان د پوځي چارواکیو په تېره پخپله د جنرال کیاني دغه خبرې ډېرې شوې چې طالبان د افغانستان له حکومت سره خبرو ته چمتو نه دي.

د طالبانو له پاره د قطر دفتر د پرانیستې پر سر د خبرو په بهیر کې له پاکستانیانو سره هم خبرو دوام درلود، ځکه چې په واقعیت کې د سولې کیلي د اسلام‌اباد په لاسو کې وه. په دې بهیر کې ولسمشر برېټانیا ته سفر وکړ چې هلته د افغانستان، پاکستان او برېټانیا په درې اړخیزه غونډه کې گډون وکړي. انگلیسانو له یوې مودې راهیسې په دې لانجه کې ځانونه را گډ کړي وو. هغوی به بیا بیا د پاکستانیانو دریځونه له موږ سره شریکول او د سولې لپاره د لارې د نقشې د جوړېدو او له اسلام‌اباد سره یې د دوستۍ ستراتیژیک تړون غوښتنه کوله. د ناټو دوو جگپوړیو غړیو په کابل کې چې یو یې د ناټو د عمومي قوماندان برېټانوی مرستیال او بل یې د عمومي قوماندان د دفتر رییس چې فرانسوی ؤ څو ځله له پاکستان سره د ستراتیژیکې ملگرتیا تړون او د دواړو هېوادونو تر منځ د بدگومانیو د له منځه وړو لپاره د هغو پر اړتیا له ماسره خبرې کړې وې. د برېټانیا سفیر چې د ۲۰۱۳ کال د جنوري پر ۲۹ مه د ولسمشر دفتر ته راغلی ؤ تر څو لندن ته د نوموړي د سفر په باب ورسره خبرې وکړي او مقدمات یې چمتو کړي داسې یې وویل: «باید لندن ته ستاسې له سفر څخه څرگنده پایله لاسته راشي. د افغانستان او پاکستان د پوځونو تر منځ باید خبرې او تفاهم ښه شي، تاسو د ولسمشرۍ انتخابات په مخکې لرئ، د ناټو ماموریت پای ته رسېږي، له طالبانو سره به خبرې وشي. ستاسو په سفر کې دا ټول مهم مسایل دي (...)»

ولسمشر هم هغه مهال چې ما د ناټو د جنرالانو پیغام ورته ورساوه او هم هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت چې انګلیسانو له پاکستان سره د دوستۍ د ستراتیژیک تړون په باب ورته خبرې کولې، له دې مفکورې سره د موافقې په ترڅ کې یې د دې عملي کار د سولې له پروسې سره د اسلاماباد د عملي همکارۍ، تاوتریخوالي د پایته رسولو او د ترهګرۍ د پایته رسولو سره اړوند و باله. په همدې لیدنه کې د برېټانیا سفیر د افغانستان په قلمرو کې د پاکستاني طالبانو د شتون په باب د پاکستان د اندېښنې یادونه وکړه، ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «زه دا منم، خو موږ دغه توان نه لرو چې (پاکستاني طالبان) دلته منظم کړو او دوهم دا چې پاکستانیو پخپله داسې فضا را منځته کړې چې یاد عناصر د هغو له برکته وکولای شي دلته منظم شي، کله چې پاکستان دغه فضا له منځه یوسي بیا به زه وکولای شم له امریکایانو سره د دغه ډول فعالیتونو بندولو په باب جدي خبرې وکړم».

برېټانویانو لېوالتیا درلوده چې د ستراتیژیکې ملګرتیا عملي چارې له پاکستان سره له اسانه مسایلو لکه سوداګري او ترانزیت څخه پیل شي چې بیا یې لمنه ورځ تر بلې پراخه شي. د سولې په باب هغوی غوښتل چې موږ د طالبانو د اعلامیې متن جدي و نه نیسو بلکې د دوی عمل ته باید پام وکړو. یانې که د اعلامیې په متن کې د سولې له عالي شورا سره د طالبانو د خبرو اترو یادونه نه وي شوې مهمه نه ده.

برېټانیا ته سفر د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په میاشت کې تر سره شو. درې اړخیزه غونډه د لندن په اطرافو کې په «چکرز» کې د پاکستان د پلاوي په شتون کې ترسره شوه. زه دې سفر ته نه وم تللی خو ولسمشر له هغو نه ډېر نهیلی را ستون شو. ولسمشر د لندن او واشنګټن له سفرونو نه داسې انګېرلې وه چې امریکایان، برېټانویان او پاکستانیان پخپلو کې بشپړ تفاهم لري او په یوه لوري حرکت کوي. په دواړو سفرونو کې له ولسمشر نه غوښتل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو چې خپلې اړیکې له هند سره کمې کړي، له اسلام‌اباد سره د تړون د لاسلیک او آن په پوځي برخه کې هم د اړیکو په پراخولو د پاکستان اندېښنې لرې کړي.

د چکرز په خبرو اترو کې هم د پاکستانیانو دریځ د تېرو میاشتو پر خلاف توند شوی ؤ. د ساري په توګه جنرال کیاني چې څو میاشتې وړاندې د سولې د هڅو پر ګړندي کېدو ټینګار کاوه او په دې برخه کی یې د هر ډول همکارۍ ژمنه کوله، د چکرز په لیدنه کې یې هم د علماو کنفرانس چې مخکې یې منلی ؤ بې ګټې بللی ؤ او هم یې د اوربند غوښتنه کوله او سوله یې له انتخاباتو نه وروسته پړاو ته پرېښې وه. پاکستانیانو په دې لیدنه کې یو ځل بیا له افغانستان نه غوښتي وو چې خپل پوځي افسران د لوړو زده کړو له پاره د هند پر ځای د دوی هېواد ته واستوي.

د درې یادو شویو هېوادونو ګډه همغږي، طالبانو ته د څو ولایتونو سپارل، هغه طرحه چې د قطر دفتر په باب د امریکا متحده ایالاتو صلاح الدین رباني ته سپارلې وه، له هېواده د باندې له یو شمېر سیاسیونو سره د ډانا رورا باکر غونډې، د پاریس په څنډه شانتییي کې د سولې غونډې، د هېواد شمال ته د امریکا او برېتانیا د واقعي او غیر واقعي دیپلوماتانو پرلپسې سفرونه او د هغه ځای له بانفوذه څېرو او د پخوانیو جهادي قوماندانانو سره د دوی پرلپسي ناستې ولاړې او د فدرالي نظام مطر ح کول، له حکومت سره له خبرو د طالبانو د انکار او آن د سولې له عالي شورا سره له خبرو ډډه چې وخت په وخت به د امریکایانو او پاکستانیانو لخوا موږ ته اورول کېدل موږ ډېر اندېښمن کړو، په تېره ولسمشر یې د هېواد د عمومي وضعې په ځانګړې توګه د سولې د پروسې او قطر دفتر په باب زیات حساس کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوحې ته سفر او د قطر له امير سره ليدل

له طالبانو سره د امريکا پټو ليدنو چې ګواکې له جرمني نه پيل شوې وې او د قطر دفتر د جوړېدو پر مفکورې يې پای و موند. افغانستان سره له دې چې د سولې له بهير سره لېوالتيا وه خو په کومه بڼه چې پيل شوه د شک په سترګه يې ورته کتل. د افغانستان حکومت ته د قطر د دولت نه پاملرنه د دې سبب شوه چې ولسمشر په دوحه کې زموږ سفير «خالد احمد زکريا» هېواد ته را وغوښت. د يادونې وړ ده چې د افغانستان د دولت له پرلپسې غوښتنو سره قطر تر پايه په افغانستان کې خپل دفتر نه پرانيست.

امير مېشتی قطر د خليجي هېوادونو په ډله کې وړوکی هېواد دی چې له ۱۸۵۲ کال راهيسې د دې هېواد له پينځو مهمو قبيلو څخه د «آل ثاني» د قبيلې لخوا اداره کېږي. دغه هېواد د تېلو او ګازو پرېمانه سرچينې لري.

پر ۱۹۹۵ کال شېخ حمد بن خليفه خپل پلار له واکه وغورځاوه او پخپله پر تخت کېناست. ځوان امير د خپل پلار پر خلاف لېبرال نظريات درلودل خو د کاکا زوی او نژدې دوست يې شېخ عبدالله بن خليفه آل ثاني چې د کورنيو چارو وزير او د هېواد دوهم ځواکمن کس ؤ د مذهبي محافظه کارو فکرونو پيرو ؤ. دغه سړي د افغانستان د طالبانو له تحريک سره اړيکه لرله او له غړيو سره يې دوستانه اړيکې درلودې. نوموړي د نړۍ د يو شمېر اسلامي غورځنګونو يو شمېر جګپوړي فکري او سياسي مشران په قطر کې مېشت کړل. د ساري په توګه د مصر د اخوان المسلمين يو شمېر مشران، د عراق د ولسمشر پخوانی مرستيال او د هغه هېواد د حزب اسلامي مشر طارق هاشمي، شېخ عباس مدني د الجزاير د اسلامي جبهې مشر، د فلسطين د حماس ډلې مشر خالد مشعل، د تونس د اسلامي حزب مشر راشد الغنوشي، د سعودي عربستان د حکومت يو شمېر وهابي مشران، د چيچين يو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان مشران، د لیبیا او سوریې د اسلامي غورځنګونو یو شمېر مشران او بالاخره د نړۍ د سنیانو ستر عالم او فقیه علامه یوسف قرضاوي یادولای شو.

په دې لړ کې قطر د هغو طالبانو دایمي کوربه شو چې په پیل کې د لنډې مودې لپاره د امریکا په توافق هلته تللي وو. د دې کربښو د لیکلو پر مهال د قطر امیر له واکه ګوښه شو او وې غوښتل چې درېیم زوی (شېخ تمیم بن حمد آل ثاني) خپل ځایناستي ته واک وسپاري. د قطر د کورنیو چارو محافظه کار وزیر د امریکا د متحده ایالاتو په غوښتنه د شېخ حمد آل ثاني په واسطه له دندې ګوښه شو او په کور کښېنول شو. لنډه دا چې طالبان د واکمنې کورنۍ په یوه اړخ کې ډېر پیاوړې ملاتړ کوونکي لري.

موږ د قطر د امیر په بلنه د ۲۰۱۳ کال د مارچ پر ۳۰ مه په چارتر الوتکه کې دوحې ته لاړو. د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر زلمی رسول، د ملي امنیت سلاکار ډاکتر سپنتا، د سولې عالي شورا مشر صلاح الدین رباني، د ملي امنیت شورا د دفتر مرستیال انجنیر ابراهیم سپین زاده، د ریاست دفتر مرستیاله حمیرا لودین اعتمادي، د ریاست دفتر د مطبوعاتو رییس او ویندوی ایمل فیضي، د سولې عالي شورا د دار الانشاء رییس معصوم ستانکزی، د ولسمشر سلاکار یحیی معروفي او ما (خُرم) په دې سفر کې له ولسمشر سره ملګرتیا کوله. د سفر لومړۍ ورځ مو په قطر کې له مېشتو افغانانو او قطري سوداګرو اوپانګوالو سره چې مشر یې د امیر د کاکا زوی شیخ علي بن عبدالله ؤ په لیدو تېره شوه. سبا ته له غرمې مخکې په یوولس نیمو بجو امیري دیوان یانې د قطر د امیر ماڼۍ ته ورسېدو. لیدنه او د غرمې ډوډۍ مو په پروګرام کې شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیري دېوان یوه شانداره لویه ماڼۍ وه چې د دودیزې معمارۍ په بڼه نوې جوړه شوې وه. مېلمه پالان مو له امیر تر ټیټو کسانو پورې که څه هم په خپلو دودیزو جامو کې وو خو له خوراکي توکیو د دوی د چلن تر جزئیاتو پورې هر څه په محتوا کې د لوېدیز په څېر وو. د ډوډۍ له خوړلو وروسته د طلایي وېښتانو خاوند خدمتګار چې تور پتلون او کورتۍ یې اغوستي وو او یوازې د امیر خدمت یې کاوه په یوه ځانګړې لوښي کې یو لوی سیګار را وړ او د امیر مخکې یې کېښود.
د قطر امیر د هرکلي په ترخ کې د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو له مېړانې او شهامتونو یادونه وکړه وې ویل چې ټول یرغلګر په دې هېواد کې له ماتې سره مخ شوي دي. ولسمشر هڅه کوله چې قطریان دې ته راضي کړي چې طالبانو ته له افغان دولت سره د نېغ په نېغه خبرو زمینه برابره کړي. خو د قطر د امیر ځواب دا و چې په دې برخه کې باید له امریکا سره خبرې وشي، ځکه چې د دوی هېواد یوازې د نیک نیت له مخې یوازې د طالبانو د مېلمه پالنې رول لري او بس.
قطریانو په ښکاره وویل چې د امریکایانو او طالبانو تر منځ ډېرې ژورې اړیکې دي. د قطر د بهرنیو چارو وزیر آن د ډوډۍ پر سر وویل: «امریکایانو پر موږ څو ځله فشارونه را وړل چې طالبان په رسمیت و پېژنو».
قطریانو د ولسمشر کرزي د بیا بیا غوښتنو په ځواب کې موږ ته وویل چې پر طالبانو هېڅ فشار نه شو را وړی چې دوی دې نېغ د افغانستان له دولت سره خبرې وکړي. هغوی یوازې هیله ښودله چې د قطر دفتر پرانیستل به په یوه پړاو کې د طالبانو او د سولې عالي شورا تر منځ د خبرو لاره هواره کړي. په ځانګړې ناسته کې هم د قطر امیر ولسمشر کرزي ته د ناتوانۍ له ښودلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته او دا چې قطر یوازې د طالبانو لپاره د «مېلمستون» رول ترسره کوي بل څه نه وو ویلي.

موږ د مارچ پر ۳۱ مه ورځ په داسې حال کې له دوحې نه د کابل پر لور روان شوو چې له دې سفر نه مو هېڅ لاسته راوړنه نه درلوده. په داسې حال کې چې امریکایانو تل له قطریانو سره د اړیکو ټینګولو او هغه هېواد ته د سفیر په بېرته ور استولو ټینګار کاوه.

خو یو څه چې د قطري چارواکیو په خبرو کې ښکارېدل هغه پر پاکستان د باور نشتوالی ؤ. دا بې له دې هغه وخت ؤ چې زموږ اړیکې له اسلام‌اباد سره بیا ترینګلې شوې وې او هغه هېواد د ډېورند دې لوري ته پر پرتو سیمو د خپلې توپخانې ډزې زیاتې کړې وې. په ګوشته کې نښتې آن د مرګ ژوبلې سبب شوې او د افغان سرتېرو یو تن په هغو کې شهید شو.

په هغه تیلفوني خبرو کې چې د قطر له سفر لس ورځې وروسته د ولسمشر کرزي او ولسمشر اوباما تر منځ وشوې، ولسمشر ښاغلي اوباما ته د قطر د امیر له قوله وویل چې باید د سولې عالي شورا سره د طالبانو د خبرو په باب له امریکایانو سره خبرې وشي.

د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې زیاتېدل بله ستونزه وه چې افغانستان ورسره لاس او ګرېوان ؤ. ولسمشر په دې تړاو څو ځله خپل اعتراض پخپله اوباما ته ورساوه. په یادو تیلفوني خبرو کې ولسمشر اوباما هم د ولسمشر کرزي د څرګندونو چې ګواکي د امریکایانو او طالبانو تر منځ یو ډول همکاري شته او امریکا هممهاله له پاکستان او افغانستان سره یو ډول همکار دی یادونه وکړه، هیله یې وکړه چې ښاغلی کرزی دې له دې ډول خبرو ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر په خندا ځواب ورکړ: «ما د هغه دري ضرب المثل په ویلو غوښتل ووایم چې تاسو له طالبانو سره د مبارزې په نوم زموږ په هېواد کې بمباري کوئ. او طالبان په دې پلمه چې ګواکې تاسو دلته پوځونه لرئ په چاودنو او وژنو لاس پورې کوي (...)»
ولسمشر بارک اوباما ته وویل: «کولای شو له فساده ډکو قراردادونو نه چې بهرنیان یې یو شمېر افغانانو ته ورکوي سترګې پټې کړو، خو پر ملکي مرګ ژوبلې سترګې نشو پټولای».
په دې ډول د قطر سفر هم د پېچلي او له ابهامه ډک وضعیت او د سولې د پروسې او قطر دفتر غوټه خلاصه نه کړه. په داسې حال کې چې امریکایانو په ځانګړې لېوالتیا دې پروسې ته دوام ور کاوه.

## په بروکسل کې درې اړخیزه غونډه

په داسې حال کې چې له پاکستان سره اړیکې ډېرې ترینګلې شوې وې او د کونړ او ننګرهار پر سیمو د دغه هېواد د توپونو ډزو دغه اړیکې نورې هم ترینګلې کړې وې، د چکرز ناستې نه یوازې دا چې د ستونزې په کمولو کې مرسته ونه کړه بلکې لا یې زیاتې کړې. په دغسې وضعه کې امریکایانو هیله وکړه چې په بروکسل کې د پاکستانیانو په شمول درې اړخیزه غونډه وشي. واقعیت دا دی چې افغان لوري په دغسې غونډه کې د ګډون هېڅ لېوالتیا نه درلوده. ولسمشر نه غوښتل چې هغه څه په چکرز کې پېښ شول په بروکسل کې یې بیا تجربه کړي، خو د امریکا په تېره پخپله د جان کیري ټینګار د دې سبب شو له دې ناستې سره توافق وکړي.
موږ له امریکایانو او پاکستانیانو سره په داسې حال کې د غونډې تیاری نیولو چې څه موده وړاندې د پاکستان د باندنیو چارو وزارت څخه مهم محرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسناد زموږ لاس ته راغلي وو. دغه اسناد هغه یادښتونه وو چې د «کور گروپ» یانې د پاکستان او امریکا د گډ کاري گروپ له څو غونډو څخه اخیستل شوي وو. په دې اسنادو کې د افغانستان په باب د دواړو هېوادونو د خبرو اترو جریان لیکل شوی ؤ. اسنادو ښودله چې څه ډول واشنگټن او اسلام‌اباد د دوو دوستانو په څېر په گډه د افغانستان د حیاتي مسالو په باب لکه د سولې پروسه او د ولسمشرۍ انتخابات تصمیم نیوه.

د افغانستان او پاکستان له پاره د امریکا د ځانگړي استازي مرستیال دېوېډ پیرس او د بارک اوباما سلا کار جنرال لوت د اپرېل پر ۲۲ مه ارگ ته راغلل او له ولسمشر سره یې ولیدل، ښاغلي پیرس په پیل کې له ولسمشر کرزي مننه وکړه چې بروکسل ته د تگ بلنه یې منلې وه تر څو د ده په وینا پر هغو مسالو چې توافق پرې شته دی بحثونه وشي لکه د سولې لپاره د لارې نقشه او له پاکستان سره اړیکې.

د بروکسل په غونډه کې ټاکل شوې وه چې د پاکستان له لوري جنرال کیاني او د امریکا له لوري جان کیري گډون وکړي!

جنرال لوت وویل: «دا چې د افغانستان د ولسمشرۍ د انتخاباتو لپاره زیاته موده پاتې نه ده، د واشنگټن نظر دا دی چې د سولې پروسه باید ساده کړو ډېر وخت و نه نیسي». ولسمشر وویل چې د جان کیري د ډېر ټینگار په سبب بروکسل ته درومي، سره له دې چې پاکستانیانو پر هېڅ یوه ژمنه عمل نه دی کړی او پر کونړ یې توغندویي او د توپخانې بریدونو ته دوام ورکړی دی. نوموړي د هغو اسنادو چې د اوپراتیفي کار په پایله کې د افغانستان لاسته ورغلي وو یادونه وکړه وې ویل :«امریکا د افغانستان د راتلونکیو انتخاباتو په باب پاکستان ته یو کاغذ سپارلی دی» سفیر کننگهم چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه کې حاضر ؤ وویل چې نوموړی کاغذ د امریکا کُلي او عام نظر بیانوي او کوم خاص څه پکې نشته.
ولسمشر یې په ځواب کې وویل :«څنګه کېدای شي له هغه هېواد سره چې دلته ترهګر را استوي زموږ د انتخاباتو په اړه مشوره کوی او دغه مساله له هغو سره شریکوئ؟» نوموړي د دواړو هېوادونو تر منځ د سولې د پروسې ځینو ټکیو ته هم چې بحثونه پرې شوي اشاره وکړه. ډاکټر سپنتا وویل: «کوم شی چې تاسو په دې اسنادو کې ویلي دي زموږ او ستاسو تر منځ د دوستۍ له فضا سره مطابقت نه لري، موږ له دې کاغذ نه مخکې خبر وو او دا زموږ او ستاسو د ستراتیژیکې دوستۍ سره په تناقض کې دی».
ولسمشر وویل: «مساله تر دې وړاندې ده، د دې اسنادو له مخې تاسو هغوی (پاکستان) په افغانستان کې د خپل نفوذ اعمال ته ور بللی دی. داسې ښکاري چې تاسو او پاکستان مشترك اهداف لرئ». جنرال لوت وویل: «ښاغلی ولسمشر تاسو د غونډې پر مینوټ استدلال او خبرې کوئ چې په هغو کې نورې خبرې هم شوې دي». ولسمشر یې په ځواب کې وویل:«په داسې حال کې چې چین او روسیه پاکستان ته وایي چې دریځ مو سم نه دی، عجیبه دا ده چې امریکا د سولې له عالي شورا سره د طالبانو د خبرو اترو د نه منلو په باب د پاکستان دریځ سم بللی دی». که هر څومره دغو دوو امریکایانو هڅه کوله چې د خپل هېواد «صداقت» ثابت کړي خو ولسمشر یې هر ځل د هغو اسنادو یوه برخه د دوی مخ ته ایښودله.
ولسمشر د بروکسل د غونډې بڼه د تشریفاتو له نظره سمه نه بلله، بیا یې هم وغوښتل چې د امریکایانو په مخکې له پاکستان نه د سولې په باب څرګند او په ټاکلې موده کې اقدامات وغواړي، نوموړي بیا بیا امریکایانو ته یادونه کوله چې پاکستانیان له ډیورنډ کرښې سره اړوندو مسایلو مطرح کولو منع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نوموړي د ډیوېډ پیرز د دې پوښتنې په ځواب کې چې وې پوښتل ستاسو په نظر به یاده غونډه له کومو پایلو سره یوه بریالۍ غونډه وبولو، وویل:«(...) د ساري په توګه د مې پر ۱۵ مه نېټه په کوم ځای کې د طالبانو او سولې عالي شورا ترمنځ خبرې ترسره شي، ملا برادر له زندانه راخوشی شي او ملا محمد حسن، ملا منصور او ملا قیوم ذاکر خبرو ته حاضر شي (...)».

جنرال لوت وپوښتل: « چې داسې ده نو دوحې ته ولې نه درومې؟».
ولسمشر ځواب ورکړ:«تېره ورځ ملا ذاکر موږ ته احوال راکړ چې کوم کسان په دوحه کې دي د هغوی خبره د دوی خپله خبره نه ده او ملا محمد غوث وویل چې سولې ته زمینه بشپړه چمتو ده، په دې شرط چې پاکستان او امریکا سم عمل وکړي».
جنرال لوت وویل: «که تاسو له دې کسانو سره غونډه جوړه کړای شئ لوی کار دی او په هغو کې به د امریکا جګپوړی مامور درسره ملګرتیا وکړي».
ولسمشر کرزي یې په ځواب کې وویل: «په دې شرط چې دغه خلك هم د هغو نورو شپاړس تنو په څېر چې پخوا وژل شوي دي ونه وژل شي».
وروسته یې انجنیر ابراهیم سپین زاده چې په مجلس کې نه ؤ دفتر ته راوغوښت او ترې وې پوښتل چې د «ملا مستانه» د وژلو کیسه وکړي چې په کابل کې یې خبرې وکړې، له خبرو یې امریکایان او انګلیسان خبر کړای شول، خو چې کوټې ته ستون شو هلته په ډېره بې رحمۍ ووژل شو. ولسمشر د خپلو خبرو په دوام زیاته کړه:«روسیه او چین په افغانستان کې د سولې او ثبات غوښتونکي دي، که غواړئ چې د سولې پروسه بریالۍ شي نو له هغوی سره یې شریکه کړئ». جنرال لوت په ځواب کې وویل: «روسیې او چین زموږ په څېر قرباني نه ده ورکړې، هغوی یوازې خبرې کوي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزي وویل: «که پاکستان ستاسو دوست دی نو باید هغه څه درکړي چې تاسو يې په لټه کې یاست یانې سوله دې درته راولي، موږ افغانان پېچلي خلك نه یو په دوستۍ او دښمنۍ کې موږ ساده خلك یو».
سفیر کننگهم وویل: «موږ هم ساده خلك یو، تل مو په سادګۍ تورنوي، داسې کسان شته چې نه غواړي زموږ او تاسو دوستي بریالۍ شي». ولسمشر وویل: «موږ ستاسو او پاکستانیانو ترمنځ دکور ګروپ د اسنادو پاڼې درکوو، وروسته تاسو پخپله پر خپل ځان قضاوت وکړئ».
سره له دې چې ولسمشر کرزي د لنډمهالې ادارې د رییس په توګه د کار له پیله هڅه کړې وه چې د افغانستان اړیکې له ټولو هېوادونو سره دوستانه کړي، خو د امریکا بې سیاله شتون او د دې هېواد په تړاو د ده او ډېرو افغانانو ښه نظر هغوی ته ډګر تش کړی ؤ. له کوم وخته چې د سولې مساله مطرح او جدي شوې وه ما دا تشخیص کړه چې واشنګټن په یوه لاس کې سوله او په بل کې جګړه نیولې او د خپلو لویو پروګرامونو له مخې موږ ته کله یو او کله بل را وړاندې کوي، پر همدې دلیل مې یوه ورځ له ولسمشر سره په یوازیني مجلس کې نوموړي ته وړاندیز وکړ چې د سولې په مساله کې نور هېوادونه لکه روسیه، چین او په استثنایي توګه د اروپایي اتحادیې ځیني هېوادونه لکه فرانسه هم باید پکې را شامل کړو، ولسمشر د دې هېوادونو د همکارۍ غوښتونکی ؤ خو د جدیت په باب یې ډېر ډاډمن نه ښکارېدو، بیا یې هم ما ته وویل د سولې د پروسې په اړه هر ډول پرمختیاوې او نورې د شریکېدو وړ مسالې له هغوی سره شریکې کړم. له هغو وروسته ما هغه مسالې چې په یو ډول یې بهرنی اړخ درلود له هغوی سره مې شریکې کړې کله به مې مشوره او کله همکاري ترې غوښتله، د ساري په توګه د مالي اقدام ډلې (FATF) چې په پاریس کې یې غونډه جوړه شوه او په هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې «خان افضل هډه وال» د افغانستان بانك مرستیال د افغانستان استازیتوب کاوه د چین، روسیې او هندوستان د هېوادونو په مرسته مو د امریکا او بریتانیا ګډه نقشه ور شنډه کړه چې غوښتل یې افغانستان د پیسو د راکړې ورکړې په تړاو په تور لېست کې شامل کړي. کله چې ښاغلي هډه وال د تیلفون له لارې د هغو دوو هېوادونو له پروګرام نه خبر کړم، له ولسمشر سره تر مشورې وروسته مې د دغو درې هېوادونو سفیران خپل دفتر ته را وغوښتل او له هغوی نه مې د همکارۍ غوښتنه وکړه، درې واړو هېوادونو جدي همکاري وکړه او د انګلستان او امریکا د طرحې پرخلاف یې رایه ورکړه.

## د بروکسل سفر

موږ د اپریل پر ۲۲ مه په هغه ځانګړي الوتکه کې بروکسل ته ورسېدو چې د امریکا متحده ایالاتو دولت کابل ته را استولې وه، په سبا سهار یې د شمالي انتلانتیك سازمان (ناټو) دفتر ته لاړو او د هغه سازمان له عمومي منشي سره مو ولیدل، د خبرو موضوع امنیتي تړون او له ۲۰۱۴ کال وروسته د ناټو غړیو هېوادونو (SOFA) د ځواکونو د وضعیت په تړاو وه، د همدې ورځې مازدیګر مهال مو د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر جان کیري او ورسره پلاوي سره ولیدل. ولسمشر ما ته ویلي وو چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د اسنادو کاپي باید راسره وي، ځکه چې غوښتل یې هغه په خپل لاس په مجلس کې ښاغلي کېري ته وسپارې.
یاد اسناد د امریکا او پاکستان د پوځي او استخباراتي مقاماتو او دیپلوماتانو د څو ګډو غونډو یادښتونه (مینوټونه)، د امریکا د سفیر د مرستیال یو شمېر ایمیلونه او د افغانستان د نژدې راتلونکیو ولسمشریزو انتخاباتو په باب یو کاغذ وو. دغه وروستی یاد کاغذ د امریکا حکومت چمتو کړی ؤ وروسته یې هغه پاکستانیانو ته د نظر ورکولو او نورو اجراآتو لپاره سپارلی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۱۳ کال د جنوري ۳۰مې په غونډه یانې د کور ګروپ په ځلورمه غونډه کې د غونډې په یادښتونو کې واشنګټن ته د ولسمشر کرزي د نږدې راتلونکي سفر په باب، له طالبانو سره د امریکا د اړیکو، په ځینو ولایتونو کې د طالبانو والیان، ابراهیم حقاني، د طالبانو د بندیانو، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تماس ګروپ او علماؤ د کنفرانس بحثونه لیکل شوي وو. همدارنګه پر دې ټینګار شوی ؤ چې همدغسې غونډه باید لندن (چکرز) ته د حامد کرزي تر سفر مخکې جوړه شي.

په پیل کې په اسلام‌اباد کې د امریکا د سفیر مرستیال ریچارډ هوګلند چې د امریکایي پلاوي مشري یې کوله واشنګټن ته د حامد کرزي د جنوري میاشتې د سفر په تړاو مفصل معلومات وړاندې کړي وو چې د دغو معلوماتو لیکلی کاغذ یې هم پاکستان لوري ته سپارلی ؤ. دغه معلومات د هغو بحثونو په اړه وو چې په واشنګټن کې د امریکایي او افغاني پلاویو ترمنځ پر ځینو مسایلو لکه د پوځي انتقال پروسې، د بندیانو موضوع، د ۲۰۱۴ کال انتخابات، د سولې پروسه، د اقتصادي انتقال پر پروسه، د امنیتي او دفاعي تړون او د سیمې د رول په باب ترسره شوي وو. سفیر هوګلند په دې غونډه کې پاکستانیانو ته ویلي وو: «(...) د سولې پروسې موضوع او د قطر دفتر مساله په واشنګټن کې د بحث کلیدي مسالې وې. هغه (حامد کرزي) ډېر زیات شیان (زیات امتیازات) د قطر دفتر په تړاو غوښتل خو د امریکا حکومت ورسره ونه منل (...)».

د غونډې د دې یادښتونو په یوه بل ځای کې راغلي وو:«د DGA (د ISI د مرستیال) په ځواب کې سفیر هوګلند وویل د کوټې شورا غوښتل چې له افغاني ډلو سره په داسې بڼه خبرې وکړي چې د کرزي حکومت یې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه وي (...) په خبرو کې به د کرزي د حکومت د استازيو شتون د کرزي د حکومت په رسميت پېژندلو په مانا نه وي».

د غونډې د یادښتونو په یوه بله برخه (مینوټ) کې داسې لیکل شوي وو: «صادق سفیر (په دې غونډه کې د پاکستاني پلاوي مشر او په کابل کې د هغه هېواد سفير محمد صادق) وپوښتل چې که په دوحه کې دفتر پرانیستل شي طالبان د افغانستان له حکومت سره له خبرو ډډه وکړي څه به پېښ شي؟» سفير هوګلند ځواب ورکړی ؤ چې «متحده ایالاتو له طالبانو نه هېڅ ډول غوښتنه نه ده کړې بلکې شرایط يې وضع کړي لکه د دې دفتر له لوري د پيسو نه راټولول، او يا د پروپاګند لپاره د پيسو نه کارول، خو که دا کار وکړي نو دفتر به يې وتړل شي.»

په دې غونډه کې سفير محمد صادق له امريکايانو غواړي چې د افغانستان د دولت د «پاکستان ضد ويناؤ» مخه ونيسي، هوګلند د نوموړي د ډاډ لپاره ځواب ورکوي چې دغه ټکی يې بشپړ په یادښت کې نيولی دی.

د بنديانو په تړاو په بحث کې سفير هوګلند وايي چې د دوی حکومت د هغو طالب بنديانو د خوشي کېدو پلوی دی چې د سولې په پروسه کې مرسته کولای شي خو د ملا عبدالغني برادر په باب وايي: «د ملا برادر په برخه کې موږ دې ته اړتيا لرو چې مشوره پرې وکړو. (...)».

په هغه ایمیل کې چې سفير ريچارډ- ای هوګلند د ۲۰۱۳ کال د فبروري پر ۱٦ مه د پاکستاني پلاوي مشر سفير محمد صادق ته لېږلی دی چې د غونډې اجنډا مشخصه کړي له پاکستاني لوري غواړي چې په راتلونکې غونډه کې «د افغانستان په هر ډول راتلونکې سياسي سناريو کې چې پاکستان کومې اساسي ګټې په پام کې لري» هغه دې تشريح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور گروپ په پینځمه غونډه کې چې د فبروري پر ۲۵ مه جوړه شوې ده، په پیل کې سفیر محمد صادق له امریکایي لوري یو لړ پوښتنې کوي چې له جملې څخه د مولوي فقیر محمد په باب د معلوماتو ورکول وو، مولوي فقیر محمد د مولوي فضل الله مرستیال ؤ چې د دغو خبرو اترو پر مهال نوموړی د ملي امنیت په نظارتخانه کې تر توقیف لاندې ؤ. نوموړي په ننگرهار کې د عملیاتو پر مهال له خپلو دوو تنو ملگرو سره نیول شوی ؤ. سفیر هوگلند په دې برخه کې پاکستاني لوري ته ویلي وو چې کولای شي مولوي فقیر محمد ته د پاکستانیانو غیر مستقیم لاسرسی پیدا کړي، مثلاً که دوی کومې پوښتنې لري امریکا به هغه افغانانو ته وسپاري ځواب به یې پاکستانیانو ته وسپاري.

په یاده غونډه کې په دې تړاو چې گواکي د افغانستان د حکومت د ننه داسې بحثونه کیږي چې ولې پاکستان هغه طالبان چې خوشي یې کړل د افغانستان حکومت ته ونه سپارل. سفیر هوگلند ویلي وو: «څرنگه چې مولوي فقیر محمد یو جنایتکار دی باید د پاکستان حکومت ته وسپارل شي».

د غونډو په یادښتونو کې بل ځای داسې راغلي دي: « سفیر هوگلند وویل چې د امریکا متحده ایالاتو حکومت پر واحد افغانستان د پاکستان تمرکز او له ټولو افغاني ډلو سره د اړیکو ټینگولو ستاینه کوي، د امریکا متحده ایالات د افغاني اپوزیسیون له مشرانو سره د پاکستان د صدراعظم او د بهرنیو چارو وزیر ملاقاتونه ستایي، که څه هم دغه کار کرزی تر دې حده خپه کوي چې په نامعقوله بڼه دا کار د خپل حکومت پر خلاف دسیسه گڼي. نوموړی (ولسمشر کرزی) په همدې دلیل هڅه کوي چې له امریکا متحده ایالاتو او پاکستان نه وغواړي چې له ښتنو سره د خبرو اترو کانالونه پرانیزي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې تړاو سفير محمد صادق وايي:«په پيل کې پخپله ولسمشر کرزي له پاکستان نه غوښتل چې له شمال سره اړيکې ټينګې کړي (...) پاکستان د شمال له مشرانو سره په اړيکو کې په بشپړ ډول شفاف عمل کوي». سفير هوګلند وايي:«یوازینی کار چې اوس يې بايد امريکا او پاکستان وکړي دې لارې ته دوام ورکول دي. پاکستان بايد له نورو ډلو سره خپلو اړيکو ته همدغسې دوام ورکړي». له طالبانو سره د اړيکو په باب د ISI مرستيال له سفير هوګلند څخه د هغو خبرو معلومات غواړي چې ښاغلي ستانکزي پر کومو مسايلو له طالبانو سره کړې دي، په بل ځای کې د ISI مرستيال د سولې د پروسې په تړاو وايي:«کرزی او د سولې عالي شورا څه نشي کولای(...) د کرزي حکومت ياد پروسې برخه ګرځي او يا به انزوا ته درومي(...)»

د ملا برادر د خوشي کولو په باب د ISI مرستيال سم نظر نه ورکوي، سفير هوګلند يو ځل بيا وايي چې امريکا د ملا برادر تر خوشي کولو مخکې له پاکستان سره د مشورې غوښتونکې ده.

سفير هوګلند د يوه استراليايي پروفيسور «تام ګريګ» د ملاقاتونو يادونه وکوي چې ګواکې کلونه يې په ګرديز کې د يوناما لپاره کار کړی دی او د ځايي خلکو په تېره د ځدراڼو له مشرانو سره يې نږدې اړيکې جوړې کړې دي او پر ۲۰۱۰ کال يې په مري کې له ابراهيم حقاني سره د ليدنې يادونه وکړه، نوموړي استراليايي ګواکې ويلي وو چې اوس د طالبانو په منځ کې ابراهيم حقاني په مهم سړي بدل شوی دی.

په دې اسنادو کې هغه ايميل هم شته چې د اپريل پر ۴ مه هوګلند، د پاکستان سفير صادق ته استولی او د افغانستان د ولسمشرۍ د ۲۰۱۴ کال د انتخاباتو په تړاو يې د پاکستان نظر او همکاري غوښتې وه، هوګلند دغه کاغذي ليك د افغانستان د انتخاباتو په اړه پاکستاني لوري ته استولی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دلته د هغو اسنادو یوه وړوکې او لنډه برخه یاده کړه تر څو روښانه شي چې د امریکا پر رښتینولی زموږ د بې باورۍ ریښې ډېرې ژورې او پر شواهدو او معلوماتو ولاړې وې، سره له دې هم زموږ په حکومت کې ځینو یوازې پاکستان د افغانستان په بدمرغیو کې پړ باله، هغوی په دې کار د دې لامل کېدل چې زموږ د رنځونو بله سرچینه چې امریکا ده له نظرونو پټه پاتې شي او څوك ونه پوهېږي چې دغه دوه هېوادونه یو له بل سره په ګډه کار کوي.

په دې ډول پاکستان د پلورل شویو، فاسدو او تړلیو پوځیانو په واسطه د امریکا د ستراتېژیکو پلانونو د عملي کولو رول لوباوه، د دې په ترڅ کې اسلاماباد خپلې ګټې چې د افغانستان کمزوري کول، د هېواد د ننه د ګډوډۍ خپرول او د ډیورنډ هغه لور ته د پرتو پښتنو کمزوري کول وو هم لټولې، په هره غونډه کې به چې د امریکا خدمتګارانو بدمرغۍ د اسلاماباد پر غاړه ور اچولې ما به یې په ځواب کې ویل چې پاکستان او امریکا د یوې سکې دوه مخه دي او دواړو لاسونه سره ورکړي او موږ یې له دغه حالت سره مخ کړي یو، ولسمشر، زه او ایمل فیضي تل په دې برخه کې همنظره وو.

د بروکسل په ښنډه کې له جان کېري سره د وال دوشس Vall Dushesse په وړوکې تاریخي ماڼۍ کې ملاقات تر سره شو. هغه مازدیګر د تالار نسبتاً تیاره فضا ډېره آرامه وه، ښاغلي جان کېري خپلې خبرې د ولسمشر کرزي د کړنو په ستاینه پیل کړې وې ویل: «تاسو افغانستان ته دیموکراسي راوړه، تاسو ډېر کارونه وکړل، موږ د پاکستان په باب ستا له اندېښنو ښه خبر یو، په پاکستان کې ستونزې دي، د ترهګرۍ پټنځایونه په هغه هېواد کې شته دي، دا یو ښه فرصت دی، دلته به د سولې په باب د پاکستان وضاحتونه وغواړو، باید وپوهېږو چې موږ ټول په یوه هدف پسې یو. باید مودبانه او صادقانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې اترې ولرو، او د شواهدو او ارقامو په استناد خبرې وکړو، باید وګورو چې ستاسو اندېښنې کومې کومې دي او د پاکستان ګټې کومې دي! کیاني ما ته سپین ویلي دي چې د هېواد ګټې یې د افغانستان په سوله او ثبات کې دي. ما له هغه نه پوښتنه وکړه چې د دوحې پروسه نوره مړه ده، هغه ځواب راکړ چې نه!»

ولسمشر کرزي خپلې خبرې داسې پیل کړې:«له دې مننه چې د دې غونډې (له پاکستان سره د درې اړخیزې غونډې) زمینه مو برابره کړه، موږ او پاکستانیانو ډېر فرصتونه درلودل، دا ځل به په ښه لهجه ورته ووایو چې خبرې به مو خوږې نه وي. زه به سبا ته سپینې او واضح خبرې وکړم، د سولې په پروسه کې به د طالبانو او د سولې عالي شورا ترمنځ د خبرو غوښتنه وکړم په هر ځای کې چې وي. هغوی که ضمانتونه غواړي موږ ورته چمتو یو، خو د ډیورنډ مساله زموږ د بحث موضوع نشي کېدای».

جان کېري: زه فکر کوم چې د دې اړتیا نشته چې د ډیورنډ مسالې ته ورشوو لومړی غوره دا ده چې د سولې مساله را واخلو، ډیورنډ زموږ د بحث موضوع نه ده.

ولسمشر کرزی:«زه وضاحت غواړم، موږ نه غواړو چې د افغانستان بهرنی سیاست د پاکستان په واک کې وي خو له دې سره هممهاله هېڅ بل هېواد ته اجازه نه ورکوو چې افغانستان د پاکستان پرخلاف وکاروي او له پاکستان نه هم ورته کره وړه غواړو (....)».

جان کېري: که پاکستان ووایي چې موږ ډېره هڅه وکړه خو پر طالبانو تر دې زیات فشار نشو راوړی، لنډه دا چې ووایي چې موږ ونشو کولای، نو بیا؟

ولسمشر کرزی: «که په رښتیا دا توان نه لري بله خبره ده، بیا موږ تمه نه ترې لرو او هغوی بې ګناه دي خو که وپوهېږو چې نه غواړي، دا خو بیا بېله خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، زما په نظر که هغوی وغواړي کولای شي، نو بیا باید امریکا عمل ته راوړاندې شي».
جان کېري:«څه ډول؟»
ولسمشر کرزی:«له طالبانو سره زموږ نېغې اړیکې تشویق کړئ.»
جان کېري:«تاسو نېغې اړیکې ورسره لرئ؟»
ولسمشر کرزی:«هوکې!»
جان کېري:«نو ستاسو د کوم مهال پروګرام په پام کې دی؟»
ولسمشر کرزی: «اوس هم ناوخته شوې ده، مثلاً همدا سبا ته، که انتخابات په پام کې وي نو تاوتریخوالی او جګړه باید تر هغو مخکې پای ته ورسېږي، جنرال کیاني په تېر سپټمبر کې ما ته وویل چې د لارې نقشې د وخت چوکاټ باید راوړو خو په لندن کې یې بیا نورې خبرې کولې.»
ولسمشر دغه مهال له ما نه وغوښتل چې هغه دوسیه چې یاد اسناد پکې وو ورته ورکړم، نوموړي دوسیه ور واخیسته او ځینې پاراګرافونه او جملې یې چې مخکې نښه شوي وو ولوستل، له څو شېبو وروسته جان کېري مداخله وکړه وې ویل: «آیا پوښتنه کولای شم؟ په دې متن کې چې و دې لوست (A) DG څوك دی؟ جنرال دا ګلس لوت د ولسمشر اوباما سلاکار او د ملي امنیت شورا د دفتر مرستیال مداخله وکړه او ځواب یې ورکړ: «(A) DG جنرال پتو دي د ISI مرستیال دی. او دا د پاکستان د دولت راپور دی» کله چې ولسمشر دوسیه ښاغلي کېري ته ورکړه نوموړي سرسري نظر پرې واچاوه او په نه زړه یې پاڼې واړولې. له لږ ځنډ وروسته یې په موسکا وویل:«پام مو وي هغه چا چې دا دوسیه تاسو ته سپارلې د پاکستان دولت یې ونه پېژني ځکه چې ژوند به یې په خطر کې ولوېږي».
ولسمشر وضاحت وغوښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوموړي د یوې پوښتنې په ځواب کې جان کېري وویل: «فکر کوم پاکستانیانو له شمال ټلوالې سره خبرې تنظیم کړې دي، خو دا نشي کېدای، زه به سبا ته په دې برخه کې ډېرې سپینې خبرې وکړم، زموږ په اند اصلي مرجع د سولې عالي شورا ده» تر دې وروسته د ملا برادر پر خوشي کولو خبرې وشوې او ولسمشر یو ځل بیا د هغه د خوشي کېدو غوښتنه وکړه او د پاکستانیانو په تړاو یې خپل شك وښود. جان کېري وویل:«پر دې سند له تکیې کولو ښکاري چې تاسو اندېښنه لرئ، تاسو فکر کوئ چې موږ له پاکستانیانو سره داسې خبرې کوو چې ستاسو په زیان تمامېږي، خو دغه خبرې د تماس گروپ په چوکاټ کې دي چې زموږ ترمنځ هلته (په اسلاماباد کې) جوړ شوی دی، زموږ اړیکې له تاسو سره تر دې څو چنده ژورې دي. دغه کاغذونه د پاکستاني داخلي ادارو راپورونه دي، په هېڅ صورت سند نشي گڼل کېدای، موږ له تاسو سره ډېرې مرستې کوو ستاسو د راتلونکې په تړاو تعهدونه لرو (....) جنرال کیاني شپږ میاشتې وروسته تقاعد کوي هغه دلته (بروکسل) ته راځي ځکه غواړي دغه ستونزه حل کړي او دا ځان ته یو ښه میراث وگرځوي».

## په ناټو کې د امریکا د سفیر په کور کې درې اړخیزې خبرې

درې اړخیزې خبرې د ۲۰۱۳ کال د اپریل پر ۲۴ مه د امریکا د حکومت د بیا بیا غوښتنې پر بنسټ د بلژیك د پلازمینې په څنډه کې په یوه ښکلې ماڼۍ کې ترسره شوې، نوموړې ماڼۍ په ناټو کې د امریکا د سفیر هستوگنځی ؤ، پر شاوخوا یې سمسور ځنگل راچپور ؤ چې لوی شین چمن یې پکې رانغښتی ؤ.

د خبرو اترو مېز په سپینو سرمېزیو په مربع شکل چې یوه ضلعه یې لرې شوې وي له چمن او ځنگل سره نښتي یوه تالار کې ترتیب شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له اطاق نه د باندې پر یوه ښکلې صفه مېزونه کرسۍ او چترۍ لګېدلې وې. د کور او د هغه ځانګړي چمن عظمت په ناټو سازمان کې د امریکا د واکونو او دبدبې ښکارندوی وو.

غونډه سهار پیل شوه، له خبرو پیلېدو مخکې د پلاویو د ګوتو په شمېر کسان د ځنګ اطاق ته لاړل او د رسنیو پر وړاندې را څرګندل شول عکسونه یې واخیستل.

د امریکا له لوري د خبرو ګډونوال د بهرنیو چارو وزیر جان کېري، د امریکا د ځانګړي استازي مرستیال دیوید پیرس، په افغانستان کې د امریکا او ناټو قوماندان جنرال ډنفورډ او د امریکا د ولسمشر بارك اوباما سلاکار او د امریکا د امنیت شورا د دفتر مرستیال جنرال داګلس لوت، د پاکستاني پلاوي غړي لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني، جنرال جیلاني او دوه تنه نور وو، افغان پلاوی د ولسمشر کرزي په مشرۍ د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر زلمی رسول، د ملي امنیت سلاکار ډاکټر سپنتا، د ملي دفاع وزیر جنرال بسم الله محمدي او زه د ولسمشرۍ د دفتر رییس عبدالکریم خُرم پکې شامل وو.

غونډه د جان کیري په خبرو چې زموږ کوربه ؤ پیل شوه. نوموړي یو ځل بیا د ولسمشر کرزي پر ستاینو خوله پرانیستله او د هغو ورځو یادونه یې وکړه چې نوموړي په ارزګان کې تېرې کړې وې. نوموړي وویل چې نا امنۍ د افغانستان او پاکستان د دواړو لمنه نیولې ده او د سولې راوستل به ولسمشر کرزي او جنرال کیاني ته یو نیک میراث وي. هغه د کیاني خبره چې ده ته یې ویلې وو تکرار کړه چې په افغانستان کې سوله او ثبات یې له هیلو څخه ده.

کیري په افغانستان کې د واک لېږد او د اشفاق کیاني د تقاعد یادونه وکړه او هیله یې وښودله چې دغه غونډه د سولې په لار کې مثبت ګام ثابت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزي له پاکستان سره د دوستانه اړیکو د ټینګولو لپاره د ډېرو سفرونو او هڅو یادونه وکړه وې ویل چې باید د ټولو موخه د ترهګرۍ او توندلارۍ له منځه وړل وي. نوموړي وویل چې تر ۲۰۰٦ کال پورې د پاکستان توند منتقد ؤ خو چې کله یې په پاکستان کې ترهګریز بریدونه او چاودنې ولیدې د پاکستان په باب یې خپل سیاست بدل کړ. نوموړي په هغه هېواد کې له تاوتریخوالي د ډکو ترهګریزو پېښو له زیاتوالي سره له پاکستان سره ګډ کار اړین وباله زیاته یې کړه چې افغانستان غواړي چې طالبان د سولې له عالي شورا سره نېغ په نېغه خبرې وکړي، په داسې حال کې چې پاکستان ظاهراً له بېلا بېلو ګروپونو سره د طالبانو د خبرو غوښتونکی دی. وې ویل «وګورو چې پاکستاني ورونه څه وايي؟»

جان کیري وویل چې دی وړاندیزونه لري خو تر هغو وړاندې یې جنرال کیاني ته د خبرو بلنه ورکړه. جنرال کیاني له جان کیري نه مننه وکړه چې د دې غونډې فرصت یې برابر کړی ؤ. د افغانستان سوله او ثبات یې د خپل هېواد په ګټه وباله او آن خپل امنیت یې له دې سره تړلی وباله. نوموړي د پخواني شوروي د یرغل پر مهال له افغانستان سره د خپل هېواد مرستې یادې کړې او زیاته یې کړه چې د افغانستان جهاد د پاکستان لپاره ستونزې لرلې. پاکستاني جنرال د سؤ تفاهم د له منځه وړو او دواړو ګاونډیو هېوادونو لخوا د لویو اهدافو غوره کولو هیله وکړه. د اشفاق کیاني د خبرو په پای کې جان کیري ولسمشر کرزي ته مخ ور واړاوه وې ویل: «ښاغلی ولسمشره، فکر کوم جنرال صادق دی (...) باید اعتماد را منځته کړو (...)، جنرال کیاني! تاسو وویل چې دې ته چمتو یاست چې د سولې په راوستو کې مرسته وکړئ. دقیق به په دې برخه کې څه وکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال کياني: «هر چېرته چې نفوذ لرو هغه به په کار واچوو خلک به (موخه يې طالبان دي) د خبرو مېز ته را ولو.»

ولسمشر کرزی: «وروره جنرال کياني، همدغه زموږ غوښتنه ده، خو څه ډول؟» جنرال کياني....

جان کيري: «بايد لومړيتوبونه په ګوته کړو او وضاحتونه منځته را وړو، جنرال کياني ويل چې طالبان به د خبرو مېز ته راولي، جنراله په دې برخه کې مو توان څومره دی؟

جنرال کياني: «موږ ډېر لږ فرصت لرو، انتخابات را رسېږي (د افغانستان انتخابات) بايد په لږه موده کې ډېر کار وکړو»

جان کيري: «مثلاً څومره وخت کې؟»

جنرال کياني: «مثلاً د جون مياشت، خو ناټو او امريکا د ۲۰۱۴ کال له دورې وروسته په باب خبرې کوي.

جان کيري ....

جنرال کياني: «د روان کال اکتوبر يا نومبر، خو په دې مياشتو کې به د انتخاباتو چارې پيل شوي وي. يا مثلاً د راتلونکي کال فبروري، هغه مهال به هر څه روښانه شوي وي، نوماندان به معلوم وي، او يا آن تر انتخاباتو وروسته، دا څو ضرب الاجله وو چې درته ومې ويل، دا ټول جريانات د سولې پر پروسې اغېز لري، بل لوري ته د جګړې موسم هم په پيلېدو دی».

جان کيري: «بل انتخاب؟ موږ چټکي غواړو»

جنرال کياني: سوله او ثبات موږ ته ارزښت لري، انتخابات د هغو لپاره مهم دی، داسې انتخابات چې اعتبار ولري او رڼه وي دا به د افغانستان لپاره ګټور تمام شي، دا ټول له يو بل سره تړاو لري، بايد (سر تاسري) وي او سر تاسري توب يې له بين الافغاني خبرو اترو ممکن کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: سر تاسري په دې مانا چې سوله باید ټینګه شوې وي او د طالبانو پلویان په انتخاباتو کې برخه واخلي، دا ډېر ښه دي!»
جنرال کیاني: «دا به ګرانه وي چې د انتخاباتو تر را رسېدو پورې دې د سولې پروسه پایله ولري».
جان کیري: «د انتخاباتو لپاره د اړینو عناصرو په باب جنراله تاسو ښه ټکي ته اشاره وکړه، انتخابات باید د همدغسې ځانګړتیا لرونکي وي، موږ دغه پرمختګ او پړاوونه درلودلي دي، مثلاً د طالبانو له لوري د اعلامیې خپرېدل، د دفتر پرانیسته، آیا تاسو دې هر څه ته سرعت ورکولای شئ، کوم وړاندیز په دې برخه کې لرې؟»
جنرال کیاني: «ولسمشر کرزی دې ووایي»
ولسمشر کرزی: «جنرال ډېره ښه خبره وکړه چې طالبان باید د سولې عالي شورا سره خبرو ته حاضر کړای شي، دا به زما له لوري لومړنی ګام وي او دا به زموږ د غونډې لپاره پایله ولري، څه وخت؟»
جان کیري: «مګر دی به د دې ځواب و نه ویلای شي»
ولسمشر کرزی: «یو وخت خو باید پیل شي، هر څومره زر چې پیل شي غوره به وي»
جنرال کیاني: «دلته له ما سره مرسته وکړئ، مثلاً که سبا ته په قطر کې خبرې کوو څوک به خبرې کوي او پر څه به خبرې کوي؟»
ولسمشر کرزی: «ستاسو پوښتنې مهمې دي. ستاسو له خبرو معلومېږي چې په قطر کې به خبرې کېږي. نو خبرې به د سولې له عالي شورا سره وي چې ټول یې په ترکیب کې شته دي او لویې جرګې هغه را منځته کړې ده. د خبرو موضوع به دا وي چې طالبان زموږ د ټولنې د یوې برخې په توګه وکولای شي په ټولو انتخاباتو کې برخه واخلي، قانوني حقوق به ولري. د بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواکونو د وتلو په باب چې طالبان وايي امريکايان دې ووزي هغوی ظاهراً نه وزي، که امريکايان دا مني زه يې هغوی ته (طالبانو ته) ضمانت ورکولای شم. د افغانانو اړونده برخه يې زه پر غاړه اخلم. د بهرنيانو وتل يوه نړيواله پېچلې مساله ده چې موږ او تاسو ټول بايد هغو ته حل لاره ولټوو».

جان کيري: «د طالبانو خبرې له چا سره؟»

جنرال کياني: «هغوی وايي چې له ډلو سره خبرې کوي د سولې له عالي شورا سره نه»

ولسمشر کرزی: «هغوی خو موږ ته داسې نه وايي»

جان کيري: ...

جنرال کياني: «اجنډا مهمه ده، که ووايي چې بهرنيان دې ووزي بيا نو خبرو ته څه نه پاتې کېږي».

جنرال لوت: د پيل ټکی بايد دا وي چې طالبان دې له امريکايانو سره خبرو ته کښېني او د بنديانو په باب دې خبرې وکړي، اعتماد جوړونه دې وشي وروسته دې د سولې له عالي شورا سره خبرې وکړي».

جان کيري: «دا وخت ضايع کوي، ډېره موده نيسي»

جنرال لوت: «دواړه هممهال هم کېدای شي»

ولسمشر کرزی: «زه د ښاغلي کياني خبرو ته را ګرځم چې وايي د سولې عالي شورا دې د ټولو استازيتوب وکړي او سر تاسري دې شي، همد اوس عملاً د ټولو استازي پکې شته دي نور څه وشي؟»

جنرال کياني: «دا زما خبره نه ده، دا د طالبانو خبره ده. مثلاً ډاکتر عبدالله د سولې په عالي شورا کې نشته».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «دا سمه ده، ډاکتر عبدالله هره ورځ له صلاح الدین رباني سره په اړیکه کې دی، هغوی دواړه د یوه ګوند اړوند دي. طالبان له موږ سره اړیکې لري او خبرو ته حاضر دي».

جنرال کیاني: «که داسې وي نو موضوع حل ده».

ولسمشر کرزی: «هغوی له موږ سره خبرې کوي خو واک نه لري».

جنرال کیاني: «نو واک څوک لري؟»

ولسمشر کرزی: «اصلي پوښتنه همدلته ده»

جان کیري: «د طالبانو مرکز په افغانستان کې نه دی، بلکې په کوېټه، کراچۍ او ... کې دی»

جنرال کیاني: «تاسو وایئ چې طالبان غواړي له تاسو (حامد کرزي) سره خبرې وکړي او دا چې اعلامیې یې هغوی نه بلکې نور کسان لیکي، له دې معلومېږي چې تاسو له داسې طالبانو سره اړیکې لرئ چې مهم نه دي».

ولسمشر کرزی: «له مهمو کسانو سره مو یې خبرې درلودې، د قطر له کسانو سره، هغوی وایي نور کسان د دوی په ناخبرۍ کې اعلامیې خپروي».

جیلاني: «د قطر طالبان د کوېټې شورا په استازیتوب هلته دي، ځکه خو دغه اعلامیې هغوی باید دروغ وبولي».

ولسمشر کرزی: «راځئ پر همدې ټکي تمرکز وکړو چې د سولې عالي شورا څه ډول سر تاسري کړو، آیا ډاکتر عبدالله پکې شامل کړو؟»

جیلاني: «هو کې، عبدالله، محقق. آن هغوی په رسنیو کې دغه خبره کوي»

ولسمشر کرزی: «محقق خو د سولې عالي شورا غړی دی»

جیلاني: «خو محقق بیا هم وایي چې د سولې عالي شورا سر تا سري نه ده»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «جنرال ښه وړانديز وکړ تاسو (حامد کرزي) هم هغه ومانه، د شورا سر تاسري کېدل ښه کار دی. موږ بايد ډېره هڅه وکړو چې خلک (طالبان) خبرو ته حاضر کړو».
ولسمشر کرزی: «موږ پوهېږو چې د سولې عالي شورا سر تاسري ده، محقق د لويې جرگې غړی نه ؤ خو د سولې عالي شورا غړيتوب يې و مانه. افغانستان د دولت د ورانولو له ډېرش کلنې تجربې نه تېرېږي، د سولې پروسه بايد زموږ دولت جوړونې ته زيان و نه رسوي او د سولې عالي شورا د سر تا سري کولو تر نامه لاندې افغانستان بايد ټوټه ټوټه نه کړو.»
جان کيري: «ستاسو خبره سمه ده، بايد نوې پروسه له سره پيل نه کړو»
ولسمشر کرزی: «که طالبان پر دې ټينگار کوي چې له ډلو سره خبرې کوو د افغانستان د ټوټه کېدو سبب کېږي، نو بايد ورسره و جنگېږو»
جنرال کياني: «نه، افغانستان واحد دولت دی خو طالبان وايي چې د سولې عالي شورا غړي حامد کرزي ټاکلي دي»
ولسمشر کرزی: «بالاخره يو څوک وي چې يو څوک په يوه مقام وگوماري خو د سولې عالي شورا غړي د يوه اوږده ليست څخه د لويې جرگې د غړيو له منځه غوره شوي دي»
جنرال کياني: «د څو تنو له منځه؟»
ولسمشر کرزی: «د يو زر او شپږ سوه تنو له منځه»
جان کيري: «له همدې د سولې شورا سره پر مخ درومو، ولسمشر کرزي بدلون غوښت جنرال کياني تاسو هغه بدلون ور وښود. جنراله! ايا هر څه چې دې په وس کې وي د سولې له پاره ترسره کوې؟»
جنرال کياني: «هو کې!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «په لومړي ګام کې طالبان خپله اعلاميه صادروي، بيا له امريکا او د سولې عالي شورا سره خبرې کوي، له هغې سره هممهاله .... »
ولسمشر کرزی: «ځوک تصميم نيسي چې طالبان بايد لومړی له امريکا سره خبرې وکړي امريکا که پاکستان؟ »
جنرال کياني: « موږ نه!»
جان کيري: «هغوی (طالبان) له موږ سره د بنديانو مساله لري»
ولسمشر کرزی: «طالبان خپل دفتر په قطر کې پرانيزي، د بهرنيانو شتون نه مني او موږ دلته دغه ډول اجنډا ورته جوړوو؟!»
جان کيري: «خبرې به تاسو کوئ، موږ له هغوی سره بندي لرو، زموږ بندي بايد را خوشي شي، يوازې همدومره».
ولسمشر کرزی: «(...) د سولې عالي شورا سره د خبرو وخت ټاکو که نه؟»
جان کيري: «د دې ځواب به جنرال کياني ووايي»
جنرال کياني ...
ولسمشر کرزی: «ملا برادر له تاسو سره بندي دی، ولې هغه نه خوشی کوئ چې خبرې وکړي».
جان کيري: «دا مهمه خبره ده، تاسو (پاکستانيان) نوموړی په قطر کې خبرو ته چمتو کړئ».
جنرال کياني: «دې کار ته څه اړتيا ده، د کوټې شورا طيب آغا ټاکلی دی، د ملا برادر ورتګ هلته ستونزه جوړوي».
ولسمشر کرزی: «غوره دا ده چې ملا برادر خوشی شي او د سولې د پروسې په ګټه خبرې وکړي».
جنرال کياني: «هغه خپل اعتبار بايللی دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «هغه (ملا برادر) د دې پروسې لپاره د پانګې حيثيت لري، نوموړی د طالبانو دوهم لمبر کس دی. زه يې د خوشي کېدو غوښتونکی يم».

ولسمشر کرزی: «اصلاً په کوم جرم بندي شوی دی؟»

جنرال کياني: «په دې جرم نه چې د سولې د پروسې پلوی ؤ بلکې د دې لپاره چې د جګړې له ډګره لرې وساتل شي».

جان کيري: «زه ډاډه يم چې نوموړی مهم سړی دی، راځئ د هغه د خوشي کېدو پر موخو او وخت توافق وکړو. جنرال کياني به خپلې ټولې هڅې کوي چې طالبان په دوحه کې خبرو ته حاضر کړي، هغوی به خپله اعلاميه خپره کړي، جنرال لوت به د بنديانو اړوند چارې پر مخ وړي، وروسته به د سولې عالي شورا له طالبانو سره خبرې پيلوي، موږ به د بنديانو تبادله سرته ورسوو، جنرال کياني به فضا د انتخاباتو لپاره (ښايي د پاکستان د انتخاباتو) تياره کړي»

ولسمشر کرزی: «وخت يانې څومره؟»

جان کيري: «جنرال کياني پوهېږي، ځکه دی به اړيکې ټينګوي.»

جنرال کياني: «زموږ وخت لږ دی او په واقعيت کې لومړی اعلاميه صادرېږي، بيابه دفتر پرانيستل کېږي، تر هغو وروسته به د بنديانو تبادله وي او په پای کې به خبرې اترې، خو هغه به هم تر طيب آغا له با اعتباره شخص سره!»

ولسمشر کرزی: «جنرال کياني! آيا په دې تړاو کوم نوم لري؟ ملا عباس، ملا محمد حسن؟ »

جنرال کياني: «په دې تړاو به طالبان تصميم نيسي، خو بايد داسې څوک چې اعتبار ولري. يوه مياشت به ډېره خوشبينانه وي، د اعلاميې خپرول به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت ونیسي، باید اړیکې ونیول شي. د اعلامیې صادرېدل به مثلاً دېرش ورځې وخت ونیسي»
جان کیري: «د اعلامیې خپرېدل په یوه تر دوو هفتو پورې کېدای شي، جنرال لوت آیا ته له دې سره موافق یې؟»
جنرال لوت: «موږ چې له طیب آغا سره په اړیکه کې وو، هغه به وخت پر وخت له کویټې سره اړیکې نیوې او وخت به پرې لګېدو»
جان کیري: «ښاغلی ولسمشر! جنرال کیاني صادقانه همکاري کوي»
جنرال کیاني: «ښه به دا وي چې وخت قید نه کړو، تېره شپه مې هم وویل چې بیا به طالبان داسې و انګېري چې زموږ زغم ختم شوی دی. آیا د سولې عالي شورا په خپلواک ډول تصمیم نیولای شي؟ مثلاً طالبان وایي چې اساسي قانون باید تر انتخاباتو مخکې تعدیل شي دا ممکنه ده؟»
ولسمشر کرزی: «دلته یو دولت شته دی، ټول ارکان یې فعال دي، تر انتخاباتو وړاندې د اساسي قانون تعدیل کېدای شي، خو د هغو لپاره باید یوه لویه جرګه را وبلل شي»
جنرال کیاني: «خو طالبان اساسي قانون نه مني»
جنرال لوت: «کېدای شي دا پروسه د پای لپاره شرط وبولو نه د هغو لپاره مخکنی شرط»
غونډې له وقفې وروسته هم دوام وموند، ټول ټال څلور ساعته اوږده شوه. جان کیري د افغانستان او پاکستان د ستراتیژیکو اړیکو پر ارزښت ډېر ټینګار کاوه. نوموړي ویل چې کومې مسالې ډېر وخت غواړي لکه د پښتنو مساله باید راتلونکې ته پرېښودل شي. د غونډې په پای کې ولسمشر کرزي وپوښتل چې د دې غونډې په تړاو رسنیو ته څه وویل شي که نه؟ جان کیري د دې یادونې په ترڅ کې چې باید داسې لهجه غوره نه کړو چې د دیکتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګېرنه ترې وکړي د دې پلوی ۇ چې غونډه په بېلا بېلو اړخونو کې مثبته وګڼل شي. ولسمشر کرزی له دې نظر سره موافق نه ۇ ویل یې چې «ډېر مثبت» په افغانستان کې هیلې را ټوکوي په داسې صورت کې په عملي اړخ کې کوم کار ترسره نشي له پاکستان سره اړیکې به ترې زیانمنې شي. ښاغلي کیري وویل نو (جوړوونکې خبرې) دې وبلل شي. ولسمشر وویل: «زه یوازې دومره ویلای شم چې په محتاطانه ډول خوشبین یو» جان کیري وویل: «تاسو خو تر بروکسل پورې راغلئ اوس تر «ډاډ» لږ څه ویل دا مانا لري چې غونډه بریالۍ پای ته نه ده رسېدلې» ولسمشر ژمنه وکړه چې د عملي پایلې تر انتظاره به یو څه وخت چوپ پاتې شي. نوموړي هغو ژمنو ته چې په لندن کې شوې وې او پاکستاني لوري پرې عمل ونه کړ اشاره وکړه. جان کیري وویل: «تاسو په لندن کې له جان کیري سره طرف نه وئ!». جنرال کیاني هم له ډاډ ورکولو ځان غړاوه ویل یې چې دی د طالبانو پر ځای چا ته ډاډ نشي ورکولای. ولسمشر کرزي له جان کیري وغوښتل چې یوازې دی پخپله له رسنیو سره خبرې وکړي او ودې وایي چې پاکستان څومره توان لري د سولې لپاره به یې ترسره کړي. جنرال کیاني دا و نه منله وې ویل چې غونډه درې اړخیزه وه او د یوه اړخ له لوري د ژمنې سپارل سم کار نه دی. ولسمشر کیاني ته په خطاب کې وویل چې که مثلاً بیا پر کونړ توغندي را وویشتل شي نو دی به چوپ پاتې نشي. جنرال کیاني په ځواب کې وویل چې د افغانستان له لوري هم ډزې کیږي، ولسمشر وویل چې د بې پیلوټه الوتکو عملیات په افغانستان پورې مه حسابوئ. جان کیري له هغو عملیاتو نه دفاع وکړه وې ویل چې بې پیلوټه الوتکې ترهګر په نښه کوي. غونډه په دغسې فضا کې پایته ورسېده او موږ وروسته په عمل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېڅ هم و نه لیدل. د وقفې په جریان کې جنرال کیاني، ولسمشر کرزي او جان کیري په لوی چمن کې قدم واهه او په خپلو کې یې خبرې کولې.
کله چې کابل ته راستانه شوو ولسمشر له ژمنې سره سم رسنیو ته وویل چې غونډه بې پایلې پایته ورسېده، خو په ځانګړو ناستو کې یې د پاکستان په تړاو او دا چې هغه هېواد واقعاً په افغانستان کې د سولې لپاره څه ګامونه واخلي شک او بې اعتمادي ښودله.
د خبرو اترو په بهیر کې د امریکایانو او پاکستانیانو تر منځ همغږي له ورایه ښکارېدله، ګواکي دوی هر یو د هغه رول په باب چې باید و یې لوبوي له پخوا څخه توافق ته رسېدلي وو. جنرال کیاني سوله په دوو برخو ووېشله چې لومړۍ برخه یې زموږ د ولسمشرۍ له انتخاباتو مخکې او دوهمه یې تر هغو وروسته عملي کېدله. کوم څه چې ډېر ځوروونکي وو هغه د جنرال کیاني اکټونه او خبرې وې چې په بشپړ ډول یې د طالبانو په استازیتوب، زموږ د خپلو خلکو په استازیتوب زموږ پر خلاف خبرې کولې او موږ له خپلو ورونو سره د پخلاینې لپاره د امریکایانو او پاکستانیانو لمنې ته لاسونه اچولي وو او زارۍ مو کولې. نور مو څه کولای شوای، افغانستان له کلونو را هیسې په پېچلې لوبه کې را ښکېل ؤ، د دې معلومولو چې څوک څوک دي او څوک څه کوي ډېر ګران شوي وو. هغه څه چې ښکاره او روښانه وو دا وو چې افغانانو په خپله د خپلو ورونو او خویندو په وژلو لاس پورې کړی ؤ او خپل هېواد یې پخپله ویجاړاوه.
شا وخوا یو کال مخکې د ۲۰۱۲ کال د فبروري پر ۱۶ مه موږ په اسلام‌اباد کې له پاکستانیانو سره دوه اړخیزه ورته غونډه درلوده، په هغه ورځ زموږ عمومي غونډه ډېره اوږده نه شوه او د مهمو مسایلو له مطرح کېدو سره د پاکستان صدراعظم یوسف رضا ګیلاني د غونډې د وړوکې کېدو وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، ځکه خو له دواړو لوریو څو تنه یوه بل اطاق ته چې د کتابتون بڼه او تیاره فضا یې درلوده لاړو. جنرال کیاني، جنرال پاشا، حنا رباني کهر او په کابل کې د پاکستان سفیر د ښاغلي ګیلاني ملتیا کوله. دلته یو ځل بیا ولسمشر کرزي له پاکستانیانو وغوښتل چې له طالبانو په تېره له ملا محمد عمر سره زموږ د نېغ په نېغه خبرو زمینه برابره کړي. نوموړي شخصاً له جنرال پاشا وغوښتل چې دغه فرصت برابر کړي، نوموړي وویل چې که یې دا کار کولای شوای ترسره کړی به یې ؤ. هغه وویل چې ملا محمد عمر د افغانستان او پاکستان تر منځ په تګ را تګ کې دی، برعکس زیاته یې کړه «تاسو هم د سولې په مساله کې په شفافه توګه عمل نه کوئ، مثلاً له ګلبدین حکمتیار او مولوي عبدالسلام ضعیف سره په کومو کارونو بوخت یاست؟»
جنرال کیاني او جنرال پاشا په دې غونډه کې په یوه غږ هممهاله وویل پر دې چې افغانان له کومو هېوادونو سره څه ډول اړیکي ټینګوي دوی پرې کار نه لري (موخه یې هندوستان ؤ) بلکې د دوی موخه، د پښتنو مساله ده چې «د ډیورنډ دواړو لوریو ته پراته پښتانه دې یو لوری اسلاماباد او بل کابل ته مخه واړوي» جنرال کیاني د ولسمشر د بیا بیا غوښتنې په ځواب کې ومنل چې د څو اونیو په ترڅ کې به له ملا محمد عمر او یا د هغه له مرستیال سره زموږ د لیدو زمینه برابروي. ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «که تر دوو میاشتو پورې هم زموږ د ملاقات زمینه برابره کړئ موږ به پرې راضي وو» ولسمشر پر دې باوري شوی ؤ چې طالبان د افرادو په توګه د سولې او په هېواد کې د رواني غمیزې د پایته رسولو غوښتونکي وو خو د یوه تحریک په توګه یې لاسونه او پښې د بهرنیانو لخوا تړل شوي وو.
د بروکسل له غونډې وروسته امریکایانو د قطر دفتر د پرانیستلو هڅو ته دوام ورکړ، د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت معیین «ویلیم برنس» د کانګرس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر غړیو، د امریکا نوي ټاکل شوي استازي جېمز ډوبنز او جنرال لوت کابل ته سفرونه وکړل. ولسمشر اوباما او د بهرنیو چارو وزیر پخپله د تیلفوني اړیکو په واسطه دغه مساله تعقیبوله. د افغانستان لپاره د لارې نقشې مفکوره چې انګلیسانو، امریکایانو او پاکستانیانو پر هغو ټینګار کاوه او په ډېرو غونډو له هغو څخه په درې اړخیزه غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال په دوبي کې په کابل کې په چار چنار ماڼۍ کې د برېټانیا د صدراعظم دېوېډ کامرون، د پاکستان د سرپرست صدراعظم راجه پروېز اشرف او ولسمشر کرزي په ګډون جوړه شوې وه پر هغو ټینګار وشو چې بالاخره د افغانستان له لوري ومنل شوه. په حکومت کې دوو تنو د هغو د ترتیب دنده واخیسته یو د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال جاوید لودین او بل د سولې عالي شورا د دارالانشاء رییس محمد معصوم ستانکزی دوی دواړه لوېدیز په تېره انګلستان ته ډېر نژدې کسان وو، د لارې نقشه د انګلیسانو په مشوره او همکارۍ او آن د هغوی په دیکته جوړه شوه. د هغو وروستۍ شوې او اخیرنۍ نسخه د یوې ورځې په ماښام ښاغلو لودین او ستانکزي د ولسمشر دفتر ته راوړه. سولې ته د رسېدو لپاره په هغو کې بېلا بېل پړاوونه په پام کې نیول شوي وو. هغه مو ولوسته، ولسمشر پر هغو زما نظر وغوښت ما وویل: «د لارې نقشه بالاخره د ډېورند کرښې په رسمي منلو پای ته رسېدلې ده. که څه هم په تلویحي توګه خو په عمل کې یې مانا دا ده چې موږ پاکستانیانو ته د حال په ژبه وایو چې تاسو موږ ته سوله راکړئ موږ تاسو ته ډېورند کرښه درکوو» ولسمشر زما خبرې تایید کړې. ولسمشر کرزی پر دې وړاندیز له پیله شکمن ؤ او هغه یې په ظاهري بڼه منلی ؤ. بالاخره د سولې د لارې نقشه هم په هېڅ ځای کې و نه کارول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتخاباتو کې د نواز شریف بریا په کابل کې یو لړ هیلې را پیدا کړې. موږ په هغه سفر کې چې د پاکستان د پارلماني انتخاباتو نه وړاندې مو اسلام‌اباد ته درلود، یوه شپه په «پنجاب هاوس» کې د اپوزیسیون د مشر یانې نواز شریف مېلمانه وو. نوموړي د محمود خان اڅکزي په حضور کې له لېوالتیا ډکې خبرې وکړې، نوموړي زموږ تود هرکلی وکړ. ولسمشر کرزي تل ویل چې نواز شریف پنجابی دی او د پاکستان د ګټو په باب فکر کوي ځکه خو په طبیعي توګه له افغانستان سره د اړیکو د ښه کېدو غوښتونکی دی.
امریکایانو او انګلیسانو پرلپسې موږ ته ډاډ را کاوه چې که طالبان په اعلامیه کې د سولې له عالي شورا سره د نېغ په نېغه خبرو یادونه ونه کړي بیا به هم په عمل کې له هغو سره خبرو ته حاضر شي.
د امریکایانو چلن او د امریکا او پاکستان ټینګار چې د طالبانو په استازیتوب یې ویل چې هغوی له افغاني ډلو سره خبرې کوي نه له حکومت سره، د هېواد پر ختیځو سیمو د پاکستاني توپخانې پرلپسې ډزو، طالبانو ته د یو شمېر ولایتونو د سپارلو افشا شویو وړاندیزونو د ولسمشر کرزي اندېښنې تر حده زیاتې کړې وې. نوموړي بیا بیا امریکایانو ته ویل چې د طالبانو لخوا که آن یوه ولسوالۍ هم ونیول شي، نو له پاکستان سره به د جګړې اعلان وکړو. نوموړي امریکایانو ته وویل چې که هر څومره افغانستان د دې جګړې لپاره کافي وسایل نه لري او پر عواقبو یې هم مخکې له مخکې پوهېږي، خو د وطن د ساتنې او سلامتۍ لپاره به دا کار وکړي. ولسمشر د امنیت شورا او کابینې په غونډو کې او د سیاسي او جهادي ګوندونو او د ملي شورا د غړیو په غونډو کې په تکرار دغه خبره کوله: «تر ټولو ستر امتیاز چې لرو یې دا دی چې تر اوسه مو امنیتي تړون نه دی لاسلیک کړی او امریکایانو ته مو رسماً اډې نه دي ورکړې، که نه دوی موږ ته انتظار نه کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زموږ هېواد به یې ټوټه ټوټه کړی ؤ، نو د امنیتي تړون په باب هوښیار اوسئ».

په هغه غونډه کې چې د جون پر ۱۲ مه نېټه وه او جهادي او سیاسي مشران هم پکې راغلي وو تر څو ولسمشر ته د سولې او قطر دفتر په مسایلو مشوره ورکړي، له هغوی څخه ځینو پر نوموړي انتقاد وکړ چې ولې له طالبانو سره دومره نرمي کوي او د استاد سیاف په قول «ولې جاسوسان» له منځه نه وړي. حاجي محمد محقق ګیله وکړه چې ګواکي یو وخت یې ویلي وو «طالبان وولئ او له منځه یې یوسئ» خو ولسمشر ورته په ځواب کې ویلي وو چې ملکي خلکو ته به مرګ ژوبله واوړي. نوموړي ولسمشر ته وویل: «شا وخوا ته دې سلاکاران د پاکستان کسان دي» نوموړي زیاته کړه «امریکا به هم لاړه شي او خپله کډه به بار کړي» ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «نه هغوی کډه باروي نه درومي، نن جنرال ډنفورډ وویل چې تر ۲۰۱۸ پورې جګړه کوي» ښاغلي محقق وویل: «که داسې وي ډېره ښه ده»

## بالاخره د قطر دفتر پرانیستل شو

د قطر دفتر د کار د لایحې پر سر جنجالونه او دا چې د هغو اړوند تفاهملیکونه او تضمین لیکونه څه ډول وي او د چا لخوا لاسلیک شي، خبره یې ډېره اوږده شوه. د امریکا متحده ایالتونو د هغو نسخې موږ ته را وښودې، هغه هوکړه لیك چې په پام کې وه د امریکا او قطر تر منځ لاسلیک شي ډېر جزئیات او مطالب یې درلودل خو هغه څه چې په پام کې وه امریکا یې له موږ سره لاسلیک کړي ګونګ او نیمګړي ښکارېدل. زما نظر دا ؤ چې ریښتینی تفاهملیک هغه کاغذ ؤ چې باید د امریکا او قطر تر منځ لاسلیک شي. بالاخره زموږ پرېکړه دا شوه چې د هغو دوو هېوادونو تر منځ معامله موږ ته مهمه نه ده، هغه ضمانتونه چې موږ ورپسې وو له امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحده ایالاتو نه یې ترلاسه کړو، په خاص ډول کله چې د قطر امیر زموږ ولسمشر ته وویل چې د دوی هېواد یوازې د یوه مېلمستون رول لوبوي او بس. له همدې ځایه پرېکړه دا شوه چې د امریکا دولت او پخپله ولسمشر اوباما د یوه لیک په ترځ کې داسې ضمانتونه راکړي چې زموږ د اندېښنو د لرې کېدو سبب شي.

لکه چې مخکې مې یادونه وکړه د افغانستان د یووالي ساتنه، د مرکزي ځواکمن حکومت خوندیتوب، د هېواد د ټوټه کېدو او د یو ډول ملوک الطوایفۍ مخنیوی زموږ له اصلي اندېښنو څخه وې.

افغانستان له امریکا نه وغوښتل چې په یوه ضمانت لیک کې دغه ټول مواد ځای پر ځای کړي. ولسمشر اوباما له مجبورۍ زموږ دې غوښتنې ته غاړه کېښوده. نوموړي په یوه لیک کې چې د ۲۰۱۳ کال د جون پر ۱۴ مه نېټه یې لاسلیک کړ د ولسمشر کرزي په عنوان یې داسې ولیکل: « (...) د امریکا متحده ایالات د افغانستان د حکومت له نظر سره همنظره دي چې د دفتر موخه باید د سولې عالي شورا او افغاني طالبانو تر منځ د خبرو ترسره کېدل وي، او دا چې دغه دفتر او کارکوونکي یې باید د هغو اصولو پابند وي چې په هغه دیپلوماتیک یادښت کې به یې یادونه وشي چې قطر یې د جون پر ۱۴ د امریکا متحده ایالاتو ته استوي. په هغو اصولو کې دا شامل دي چې نوموړی دفتر به د سفارت، او یا بل داسې دفتر په توگه نه پېژندل کېږي چې د افغان طالبانو د امارت یا حکومت او یا د حاکمیت استازیتوب وکړي او یا ځان داسې معرفي کړي (...)» یاد مکتوب وایي چې که طالبان یاد شوي اصول رعایت نه کړي یا د افغانانو په مشرۍ خبرې په گټور ډول له نیک نیت سره ترسره نه کړي، د امریکا متحده ایالات به د افغانستان او د قطر د حکومتونو سره په نژدې همکارۍ هغو ته عاجل ځواب ورکوي. د دفتر تړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په ممکنو ځوابونو کې يو ؤ. په وروستي پراګراف کې ولسمشر اوباما د افغانستان حاکميت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي يووالي ته د خپل دولت د ژمنتيا ډاډ ورکړی ؤ. دا په ريښتيا هغه لغتونه او مفاهيم وو چې ولسمشر کرزي له بارک اوباما نه غوښتي وو.

کله چې دغه مکتوب د يو شمېر بهرنيو هېوادونو سفيرانو ليدو په حيرانۍ به يې پوښتل: «آيا په رښتيا دا د بارک اوباما خپل لاسليک دی؟»

څو ورځې وروسته يانې د جون پر ۱۸ مه د طالبانو دفتر د سولې د خبرو لپاره د افغانستان د دولت په اجازه په قطر کې رسماً پرانيستل شو، موږ ټول د همدې شېبې انتظار وو.

په هغه ورځ زه وختي له دفتره کور ته راغلم، د مازيګر او ماښام تر منځ مهال ؤ. نوی د کور انګړ ته ننوتم چې د تيلفون زنګ راغی په دوحه کې زموږ شارژدافير (محمد قاسم همت) خبرې کولې. ورته و مې ويل «خبر شوم چې دفتر پرانيستل شو» وې ويل: «هوکې! خو جريان دې پر تلويزيون وليد که نه؟» ومې ويل «نه!» وې ويل: «دفتر د افغانستان د اسلامي امارت د سياسي دفتر په نوم پرانيستل شو او د طالبانو بيرغ پرې ورپول شو». دغه جريان له هغو توافقاتو سره بشپړ په تضاد کې ؤ چې موږ له امريکايانو سره درلودل. سمدستي مې ولسمشر ته زنګ وواهه او د پېښې کيسه مې ورته وکړه. د نوموړي لومړنی غبرګون دا ؤ چې «مهمه نه ده» ورته و مې ويل: «د اسلامي امارت په نوم...» وې ويل: «هېڅ فرق نه کوي». د شپې يې را ته بيا زنګ وواهه او خپله انديښنه يې وښودله، سبا ته له معمول سره سم د ولسمشر په دفتر کې را ټول شوو. ايمل فيضي او زه له ولسمشر سره چې ډېر خپه ؤ په دې بحث بوخت وو چې زموږ غبرګون د امريکا د ژمنې ماتولو په تړاو څه ډول وي چې په ښکاره د افغانستان لپاره د بد نيت او شومې نقشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارندوی ؤ؟ ښاغلی سپنتا اطاق ته راغی. ولسمشر له معمول سره سم لکه چې نوموړی د امریکا استازی وي هغه ته په تونده لهجه د امریکایانو او قطریانو دغه عمل وغنده او پر امریکا او د هغوی پر نوکرانو یې د بدو ردو باران پیل کړ.

هغه څه چې پېښ شوي وو موږ ټولو ته یې جټکه را کړې وه. ولسمشر پرلپسې همدغه پوښتنه تکراروله چې څه باید وکړو؟ ناڅاپه ډاکتر سپنتا وویل: «غوره لاره یې دا ده چې له امریکا سر د امنیتي او دفاعي تړون پر سر خبرې ودروو او هغه وځنډوو». دا تر ټولو غوره وړاندیز و چې انتظار مو یې کولای شوای. ولسمشر له ځنډ پرته هغه ومانه او موږ ټولو تائید کړ. ولسمشر د خبرو اترو د ځنډولو اعلامیه پخپله په ښاغلي سپنتا ولیکله، د (امارت د دفتر) تر تړلو پورې د خبرو اترو درولو اعلان د سپینې ماڼۍ پر سر لکه بم را پرېوت. امریکایانو نه د داسې غبرگون انتظار درلود او نه یې د هغو په مقابل کې د ټینگار توان.

ولسمشر په هغه ورځ د مشرانو غونډه را وبلله. غونډې ته تر تلو وړاندې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر زنگ راغی ولسمشر ته یې وویل هغه څه چې پرون په دوحه کې پېښ شول ناسم کار او غلط وه. نوموړي ژمنه وکړه چې ډېر زر په هغه اصلاح کړي، ولسمشر په چټکۍ د امارت د لوحې او د بیرغ د راکوزولو غوښتونکی شو. نوموړي جان کیري ته وویل که دا کار ترسره نشي او د نړۍ په تلویزیونونو کې و نه ښودل شي پر دې سربېره چې د امنیتي تړون پر سر ځلورم پړاو خبرې به ځنډېږي «تاسو به د افغانستان په دوه ټوټې کولو هم تورن شئ» جان کیري غوښتل چې د لوحې د لرې کولو کار وځنډوي خو ولسمشر گواښ وکړ چې د ولسمشر اوباما مکتوب به افشا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غونډه کې حضرت مجددي وويل: «دا خو د قطر کار ؤ نه د امريکا د دولت» ولسمشر وويل: «زموږ طرف امريکا ده او موږ ته ضمانت امريکا را کړی» حضرت صاحب وويل: «امريکا دغه کار د ISI له وېرې کوي» ولسمشر وويل: «اساساً ISI د امريکا په خدمت کې ده» د دغه لانجې په اوج کې ولسمشر بيا هم دا تکراروله چې له طالبانو سره د سولې لپاره د قطر دفتر منم، خو د هېواد ټوټه کېدل نه منم.

ډاکتر احدي هغه څه چې په قطر کې پېښ شول د «پروسيجر» ستونزه وبلله نه د «محتوا». ډاکتر اشرف غني هغه «د افغانستان خپلواک دولت ته سپکاوی» وباله. حاجي محمد محقق ولسمشر ملامت کړ وې ويل چې د ده چلن امريکايان دې ته اړ کړل چې طالبانو ته مخ واړوي. نوموړي د هېواد په «ډيپلوماسۍ» کې د بنسټيزو بدلونونو غوښتنه وکړه. محمد حنيف اتمر چې د حق او عدالت گوند استازيتوب يې کاوه د قطر دفتر پرانيستل يې يوازې د سولې له شورا سره د خبرو لپاره مجاز وباله خو له ولسمشر يې وغوښتل چې دغه مساله له امنيتي تړون سره اړونده نه کړي. ولسمشر وويل: «زما پوښتنه له امريکا نه دا ده چې تاسو د طالبانو په نوم بشپړې کورنۍ له منځه يووړې، اوس هغوی ته سفارت ورکوئ؟ (...) امريکا د قطر دفتر د افغانستان د فدرالي کولو لپاه وسيله گرځوي خو دا کار تر هغو پورې نشي عملي کولای چې موږ امنيتي تړون لاسليک کړی نه وي (...)»

لنډه دا چې د قطر دفتر چې په کومه بڼه پرانيستل شوی ؤ د غونډې د غړيو لخوا رد شو خو د سولې د خبرو اصل په داسې شرايطو چې د هېواد يووالی او حاکميت په هغو کې خوندي وي ومنل شو.

زه پرلپسې په دوحه کې د افغانستان له سفارت سره په اړيکه کې وم. سفارت هر ساعت ما ته راپور را کاوه چې آيا دفتر واقعاً تړل شوی که نه؟ آيا هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګ را تګ شته که نه؟ ... ځینو نړیوالو تلویزیونونو لرې کړای شوې لوحه او راښکته شوی بیرغ خپاره کړل.
زموږ سفارت د قطر له دفتر او پخپله د بهرنیو چارو وزارت له معین سره چې د دفتر د پرانیستې په مراسمو کې یې ګډون درلود په اړیکه کې شول، د قطر د بهرنیو چار وزارت معین زموږ سفارت ته ویلي وو چې دفتر باید له غرمې مخکې پرانیستل شوی وای خو دغه کار د لوحې پر ټینګولو او د بیرغ پر اوچتولو د طالبانو د ډېر ټینګار په سبب وځنډېد. ځکه د قطر د بهرنیو چارو وزارت دا کار د ژمنو خلاف لیدو. خو مازیګر مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي کیري پخپله د قطر امیر ته زنګ وهلی ؤ او ورته ویلي یې و چې د طالبانو دفتر د دوی د خوښې سره سم پرانیزئ. ګواکې جان کیري ویلي وو: «هر کار په پیل کې سخت وي خو وروسته آسانه کېږي، موږ باید بالاخره له یو ځایه پیل وکړو» ځکه خو د قطر د بهرنیو چارو وزارت معین د خپل امیر په امر راغلی ؤ او دفتر یې پرانیستی ؤ.
ښایي امریکایانو واقعاً دا فکر کاوه چې افغانستان به تر دې حده حساسیت و نه ښیي. دوی به ښایي فکر کاوه چې دغه ستونزمن کار به د وخت په تېرېدو آسانه شي او افغانان به هغه هضم کړي، خو کوم غبرګون چې کابل وښود هغوی یې ډېر ښه را ویښ کړل. په دې ډول د قطر دفتر وتړل شو او د سولې پروسه کرار کرار د امنیتي تړون او د ولسمشرۍ انتخاباتو په غوغا کې ورکه او هېره شوه.
د دې کرښو د لیکلو پر مهال د سولې پروسه یو ځل بیا پیل شوې او ډاکټر زلمی خلیلزاد د همدې پروسې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي په توګه ګومارل شوی دی. د قطر دفتر، د ملا برادر رول، بین الافغاني خبرې اترې، له حکومت سره خبرو ته د طالبانو حاضرېدل ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه کليمې او دريځونه دي چې هماغه وخت مطرح وو. خو يو څه توپيرونه هم شته دي. په دې مانا چې د ډاکټر اشرف غني د حکومت په دوره کې امريکايان د امنيتي تړون او پوځي اډو خاوندان شوي دي، د اجرائيه رياست رامنځته شوی او حکومتي واک عملاً د دوو کسانو په لاس کې دی. طالبان د امريکايانو د راپورونو له مخې د هېواد تر نيمايي پر زياتې برخې واکمن دي، حکومت د سياسيونو د اجماع په جوړولو کې ناکام پاتې دی، د داعش را څرگندېدو طالبان روسيې او ايران ته نژدې کړي دي، د سولې په مسايلو کې د سيمې د هېوادونو لکه د روسيې، چين او ايران شتون فعاله بڼه غوره کړې ده، حکومت د ولسمشر ټرمپ د جنگي ستراتيژۍ په تائيدولو د خلکو په عام ذهنيت کې ډېر منفور شوی دی او بالاخره په پخوانۍ شمال ټلوالې کې را ټولې شوې ډلې چې په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې له طالبانو سره سولې ته چمتو نه وې نه يوازې له طالبانو سره خبرو ته چمتو دي بلکې په وياړ له هغوی سره د خپلو اړيکو يادونه کوي.

له امريکا سره د امنيتي تړون د خبرو اترو له ځنډولو وروسته جېمز ډوبنز او بارنت روبين په ډېره بيړه کابل ته ځانونه را ورسول. هغوی له خپل سفير سره د جون پر ۲۴ مه له ولسمشر سره د ملاقات لپاره ارگ ته راغلل. بارنت روبين وويل: «ما څو ځله هلته (په دوحې کې د طالبانو دفتر ته) سر ور ښکاره کړ او ځان مې ډاډه کړ چې لوحه لرې کړای شوې او بيرغ را ښکته شوی و. ښاغلي ډوبنز د ملامتۍ ټوله پړه پر قطريانو واچوله.

دوې ورځې وروسته امريکايانو له بارک اوباما سره د ويډيويي کنفرانس ترتيبات ونيول، نوموړي يو نيم ساعت له ولسمشر کرزي سره خبرې وکړې د لوحې ټينگول او د بيرغ پورته کول يې غلطي وبلله د امنيتي تړون پر سر يې د خبرو د بيا پيل او د تړون پر زر تر زره لاسليک کېدو يې ټينگار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي زياته کړه چې د هغه ليک محتوا ته چې د قطر دفتر په تړاو يې موږ ته را استولې ؤ اوس هم ژمن دی.

د جون پر ۲۹ مه د انگلستان صدراعظم ډېوېډ کامرون کابل ته راغی او له ولسمشر سره يې وليدل. نوموړي هم ټينگار کاوه چې اوس بيرغ را ښکته شوی او لوحه هم لرې شوې ده؛ نو د سولې خبرې هم بايد له سره پيل شي، نوموړي دې ته ډېر هڅولو چې له پاکستان او نواز شريف سره چې نوی د هغه هېواد د صدراعظم په توگه انتخاب شوی دی اړيکې تودې شي. خو په دې يادو سفرونو او ټولو خبرو اترو کې چې امريکايانو پر کوم شي ټينگار کاوه هغه د امنيتي تړون پر سر خبرې او د هغو لاسليک ؤ.

له يوه پلوه د قطر د پروژې ناکامېدل بل لور ته په انتخاباتو کې د محمد نواز شريف بريا او د پاکستان د صدراعظمۍ مقام ته يې رسېدل د دې سبب شول چې اسلام‌اباد ته د کابل د نژدې کېدو لپاره د امريکايانو او برېټانويانو غوښتنې زياتې شي، خو لکه چې مخکې ياد شول ولسمشر کرزي پخپله هم د نواز شريف د حکومت په تړاو ډېره خوشبيني درلوده. د پاکستان نوي صدراعظم د افغانستان ولسمشر ته بلنه ورکړه چې اسلام‌اباد ته سفر وکړي. موږ د ولسمشر نژدې همکارانو ټولو له دې سفر سره مخالفت وکړ، ځکه کومې پېښې چې شوې وې او د افغانستان په ختيځو سيمو کې چې د پاکستانيانو د توغندويي بريدونو په سبب کومه ترينگلې فضا را منځته شوې وه پاکستان ته يې د سفر هېڅ دليل نه پرېښود. بالاخره پرېکړه پر دې شوه چې له اسلام‌اباد نه وغوښتل شي چې «سرتاج عزيز» چې د هغه هېواد د بهرنيو چارو وزير حيثيت يې درلود کابل ته را واستوي. نوموړی کابل ته راغی او د جولای پر ۲۱ مه نېټه يې د ارگ په الحاقيه ودانۍ کې له ولسمشر سره خبرې وکړې. سرتاج عزيز د خپل هېواد په سياستونو کې د بدلون

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستلو په باب د نواز شریف د ادارې خبره وکړه وې ویل چې نوی حکومت به له پاکستاني طالبانو سره سوله وکړي. نوموړي د نواز شریف هغې وینا ته چې د بهرنیو چارو وزارت د لیدو پر مهال یې کړې وه د اشارې په ترڅ کې وویل «موږ په افغانستان کې د لاسوهنې سیاست نور پرېږدو».
ولسمشر پاکستان ته د خپلو زیاتو بې پایلې سفرونو یادونه وکړه او د نواز شریف د بلنې په منلو یې وویل: «لکه چې تاسو وایئ پر طالبانو نفوذ لرئ، نو له نفوذ نه مو کار واخلئ له قطر نه د باندې د سولې عالي شورا له غړیو سره د هغوی د خبرو اترو زمینه برابره کړئ، ملا برادر چې د سولې پروسې لپاره ډېر گټور دی له زندان نه خوشی کړئ (...) موږ بې وزله هېواد یو خو خپلواک یو او خپلواک سیاست لرو، امریکا زموږ پر سیاستونو اغېز نه لري، له موږ سره خپلواک سیاستونه غوره کړئ».
سرتاج عزیز په عربستان او یا ترکیه کې په راتلونکیو څو اونیو کې د طالبانو او سولې عالي شورا تر منځ د خبرو د پیلیدو ډاډ را کړ او هیله یې وکړه چې ولسمشر کرزی او نواز شریف د سولې لپاره د لارې نقشې پر سر توافق ته سره و رسیږي. ولسمشر کرزي د داسې «لاسونو» یادونه وکړه چې په دواړو هېوادونو کې فعال دي او د دوی د نژدې توب په مخه کې خنډ گرځي.
اسلام‌اباد ته سفر د اگست پر ۲۶ مه ترسره شو. په پیل کې یې د افغانستان ولسمشر او د پاکستان صدراعظم اوږده یوازې ناسته درلوده، وروسته خبرو د دواړو لوریو په حضور کې دوام وموند. ولسمشر کرزي وویل: «(...) ما مخکې په افغانستان کې په چاودنو او نا امنیو کې ISI ښکېله بلله خو چې دغه لړۍ په پاکستان کې هم پیل شوه نو د پاکستان پر بلل مې پرېښودل (...) موږ پراخه نړیوالې اړیکې لرو، پاکستان حق لري چې له موږ وغواړي دغه اړیکې د دوی پر خلاف ونه کارول شي، موږ له هند سره ډېرې ښې اړیکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرو که څوک موږ ته ووايي چې له هند سره اړيکې و نه لرو داسې نشي کېدای (...) راځئ هم دلته او هم هلته د سولې لپاره کار وکړو، راځئ افراطيت ته د پای ټکی کېږدو»

نواز شريف د خبرو لړۍ ونيوه وې ويل: «(....) موږ له افراطيت سره د مبارزې قرباني يو، په کوټه او نورو ځايونو کې زموږ خلک وژل کېږي. موږ د انرژۍ له بحران سره مخ يو، دغه حالت مو اقتصاد ته ډېر زيان رسوي نو موږ له تاسو سره همکار يو، کله چې افغانستان بې ثباته وي زموږ هېواد هم بې ثباته کېږي، زه نه وايم چې د کوښتې په چاودنو او پېښو کې د افغانستان لاس دی خو هلته په ريښتيا بهرني لاسونه کار کوي (...).

وروسته د اقتصادي پروژو پر سر لکه کاسا زر، د کونړ پر سيند د بند جوړول، د چمن او سپين بولدک تر منځ د رېل کرښې جوړول او نورو خبرې وشوې. پر اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيت مسايلو تر بحث وروسته جنرال کياني د خبرو نوبت واخيست او وې ويل: «(...) له نورو هېوادونو سره اړيکې ستاسو خپل کار دی، ما په بروکسل کې هم تاسو ته وويل چې پاکستان پر طالبانو «نفوذ» لري خو «کنترول» نه، موږ به د خبرو اترو په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړو سره له دې چې ډېر وخت نه لرو، بايد بيړه وکړو او مخته لاړ شو (...)»

ولسمشر له طالبانو سره د نيغ په نېغه خبرو د زمينې برابرولو په اړه خپله پخوانۍ هيله تکرار کړه چې «که نن وي، که سبا، که بله ورځ» او د ملا برادر پر خوشې کولو يې ټينګار وکړ.

د دې غونډې په پای کې مو د غرمې په مېلمستيا کې برخه واخيسته. په پام کې وه چې په همغه ورځ هېواد ته را ستانه شو خو د ډوډۍ پر مهال نواز شريف ولسمشر کرزي ته وړانديز وکړ چې دی به له خپلو همکارانو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو خبرو او وړاندیزونو چې د خبرو اترو پر مهال مطرح شول مشورې وکړي او هيله يې وکړه چې ولسمشر دې هم له خپل افغاني لوري سره همدغه کار وکړي، په همدې خاطر يې له موږ وغوښتل چې شپه په اسلاماباد کې تېره کړو او سبا ته هم خبرو ته دوام ورکړو. نواز شريف د پښتنو او بلوڅو مشهور مشران او د هغو هېوادونو سفيران هم مېلمستيا ته را بللي وو چې له افغانستان سره يې ښې اړيکې درلودې.
په خبرو اترو کې پاکستاني جنرالانو ويل چې د طالبانو د دوهم ځلي حکومت غوښتونکي نه دي بلکې د دې پلويان دي چې طالبان په حکومت کې شامل شي. کياني بيا بيا د وخت د کمولو غوښتنه کوله او پوښتل يې چې که طالبان د اساسي قانون تعديل وغواړي او که د سولې د خبرو اترو په بهير کې د انتخاباتو وخت را ورسېږي بيا به څه کېږي؟ هغوی غوښتل چې افغانستان دې د پاکستاني طالبانو د نفوذ او د بلوچانو د تحرکاتو په مخنيوي کې له پاکستان سره مرسته وکړي. همدارنګه هغوی دا غوښتنه کوله چې افغانستان مولوي فقير محمد اسلاماباد ته وسپاري، ولسمشر نواز شريف ته بلنه ورکړه چې کابل ته راشي.
سبا ته ولسمشر او د پلاوي يو شمېر نور غړي په هليکوپتر کې مري ته لاړل تر څو د پرونۍ ورځې خبرو ته هلته دوام ورکړي. زه په دې ملاقات کې حاضر نه وم. د انتقال د پروسې رييس ډاکتر محمد اشرف غني چې زموږ د پلاوي غړی ؤ په دې سفر کې له پاکستانيانو سره ډېر بوخت ؤ، نوموړی له موږ سره يو ځای کابل ته رانه غی، په اسلاماباد کې پاتې شو او وې ويل چې سبا ته له دې ځايه دوبۍ ته درومي.
په همدې سفر کې نواز شريف له ولسمشر نه هيله کړې وه چې د حکومت او پاکستاني طالبانو تر منځ په سوله کې له ده سره همکاري وکړي. په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه ولسمشر د ملي امنيت په مشوره لطيف الله مسيد د پاکستاني طالبانو د مشر حکيم الله مسيد مرستيال کابل ته را وغوښت. لطيف الله مسيد په داسې حال کې چې د ملي امنيت د کسانو له خوا بدرگه کېدو د لارې په اوږدو کې په لوگر کې د بهرنيو ځواکونو لخوا ودرول شو او امريکايانو نوموړی ورسره بوتلو. کله چې د ملي امنيت رييس رحمت الله نبيل دغه خبر ورته راوړ ولسمشر ډېر پرې خپه شو، په هغو ورځو کې موږ امنيتي غونډه درلوده. د غونډې په پای کې ولسمشر جنرال دنفورډ او رحمت الله نبيل د گلخانې ماڼۍ د لوی تالار يوې گوښې ته بوتلل او خبرې يې ورسره وکړې، ولسمشر له جنرال ډنفورډ نه وغوښتل چې لطيف الله مسيد چې د سولې او د جگړې د پايته رسېدو په موخه کابل ته راتلو له زندانه را خوشې کړي او د افغانستان حکومت ته يې وسپاري. دغه غوښتنه څو ځله تکرار شوه، جنرال ډنفورډ هر ځل په ادب هيله ښونکی ځواب ورکاوه خو امريکايانو د حامد کرزي د حکومت تر پايه لطيف الله مسيد له زندانه خوشې نه کړ، بالاخره د اشرف غني احمدزي له واک ته رسېدو سره نوموړی کس امريکايانو د پاکستان حکومت ته وسپاره او بيا څوک د هغه له برخليک نه خبر نه شول.

د لطيف الله مسيد له نيول کېدو او د هغه د خوشي کېدو لپاره د بيا بيا غوښتنو د بې ځوابه پاتې کېدو نه وروسته ولسمشر پرېکړه وکړه چې اوباما ته ليک وليکي او په هغو کې د هغو طالبانو له وژل کېدو او بندي کېدو شکايت وکړي چې سولې ته لېوالتيا لري. ولسمشر په هغه ليک کې چې د ۱۳۹۲ لمريز د تلې پر ۱۱مه ۀ اوباما ته داسې وليکل: «(...) لکه چې څو ځله مې له تاسو جلالتماب سره په ليدو کې يادونه کړې د امريکا متحده ايالاتو جنگي تگلاره د افراطيت د زياتوالي او د جگړې د اور د لا زياتېدو سبب شوې ده. (...) موږ هڅه کړې چې د طالبانو هغه قوماندانان او مسوولين چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاوتریخوالي د پایته رسېدو غوښتونکي دي را سره همکار کړو. خو په ډېر تاسف سره چې ډېر ځله داسې شوي، هغه طالبان چې د افغانستان له دولت سره په اړیکه کې شوي دي، د امریکا متحده ایالاتو د امنیتي او استخباراتي ځواکونو لخوا نیول شوي، دغه عمل له یوه پلوه د افغانستان د حاکمیت د نقض او بل لوري ته د سولې د پروسې د پرمختګ خنډ شوی دی. (...) ځکه مې لازمه وبلله چې موضوع په لیکلې بڼه ستاسو جلالتماب تر پاملرنې ورسوم او د مسوولیت د بار د دروند والي نه مو خبر کړم. (...)»

ولسمشر په پای کې له بارک اوباما غوښتي وو چې خپلو امنیتي او استخباراتي مسوولینو ته هدایت ورکړي چې په دې برخه کې خپل چلن بدل کړي.

## له حزب اسلامي سره د سولې هڅې

پر ۲۰۱۰ کال ولسمشر د لومړي ځل لپاره د حزب اسلامي د مشر ګلبدین حکمتیار لیک چې د ده په نوم یې را استولی ؤ ما ته را وښود. په هغه ورځ موږ دواړه د پوهنې د پخواني وزیر عبدالقیوم وردګ فاتحې ته عیدګاه جومات ته ورتلو. ولسمشر په موټر کې لیک له جېبه راویوست له مانه یې وغوښتل چې و یې لولم. نوموړی لیک  د حزب اسلامی پخواني غړي مولوي جانباز سرفراز ورسره را وړی ؤ. ولسمشر هیله درلوده چې ښاغلی حکمتیار د مجاهدینو د نورو مشرانو په څېر یوه ورځ کابل ته راشي او عزتمن ژوند ولري.

وروسته هغه مهال چې زه د ولسمشر د دفتر رییس شوم د حزب اسلامي د امیر له لوري د زیاتو پلاویو او لیکونو شاهد وم چې ارګ ته یې را استول.

له دغو پلاویو څخه یو د ۲۰۱۱ کال د دسمبر پر ۲۹ مه د انجنیر قطب الدین هلال په مشرۍ ؤ چې د ولسمشر د کار په دفتر کې یې ورسره ولیدل. دا ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پلاوي د حزب اسلامي د مشر لیک ورسره راوړی ؤ. په پام کې وه چې دغه پلاوی د امریکا له سفیر او د امریکایي ځواکونو له قوماندان سره هم وګوري. موږ هڅه کوله چې په هر ځل له امریکایانو سره د حزب اسلامي د پلاوي د ملاقات زمینه برابره کړو. هغه اجنډا چې له امریکایانو سره د خبرو لپاره د حزب اسلامي پلاوي ترتیب کړې وه د ولسمشر له توند مخالفت سره مخ شوه. هغوی د جمعیت اسلامي او نظار شورا پر وړاندې د امریکایانو د همکارۍ غوښتونکي وو چې ګواکي هغوی له روسانو او ایرانیانو سره نژدې دي او ګډ کار کوي. ولسمشر د پلاوي له غړیو وغوښتل چې ملي دریځ غوره کړي او د جګړې د پایته رسېدو غوښتونکي شي. نوموړي د حزب اسلامي نفوذ ته د اشارې په ترڅ کې پلاوي ته وویل چې حزب په یوه خپلواک او دیموکراتیک نظام کې ډېره ښه راتلونکې درلودای شي. دوې ورځې وروسته ښاغلي هلال له امریکایانو سره د پلاوي د خبرو راپور ما ته را کړ. د حزب اسلامي پلاوی له امریکایانو سره له خبرو اترو نه ډېر راضي ښکارېدو.

د ۲۰۱۲ کال د اپرېل پر ۱۶ مه یو ځل بیا د حزب اسلامي یوه پلاوي د ډاکتر غیرت بهیر په مشرۍ چې استاد قریب الرحمان سعید، حاجي مالک، حسن نیاز، مولوي عطاالله لودین او عادل پکې شامل وو په ارګ کې له ولسمشر سره ولیدل. پلاوي یوه طرحه ورسره راوړې وه چې د هغو له مخې به د رهبرانو شورا او عبوري حکومت جوړېده او د بهرنیو ځواکونو وتل به عملي کېدل. ولسمشر په ځواب کې وویل چې دی هم د بهرنیو ځواکونو وتل غواړي او په دې برخه کې یې د حزب اسلامي جدي همکاري وغوښته، خو نورې برخې یې د اساسي قانون له تعدیل سره اړوندې وبللې چې هغه هم باید له قانوني لارې عملي کړای شي. دا هماغه مهال ؤ چې موږ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو تړون متن تقریباً نهایي کړی ؤ. ولسمشر د پلاوي غړیو ته وویل چې امریکایان په افغانستان کې اډې غواړي او موخه یې زموږ د هېواد له خاورې څخه ګټه اخیستل دي خو موږ باید په دې کې خپلې ګټې ولټوو. نوموړي هغو شرطونو ته چې په یاد تړون کې یې امریکایانو ته ایښي وو اشاره وکړه او وړاندیز یې وکړ چې دوی دې پخپله د تړون متن او هغه څه چې افغان لوري پکې ځای کړي دي ولولي، د همدې لپاره یې ډاکتر سپنتا دفتر ته را وغوښت چې د پلاوي غړي له ځان سره د امنیت شورا دفتر ته ورسره بوځي او د تړون متن ورته ولولي او تشریح ورکړي. ولسمشر له ما وغوښتل چې له دوی سره ملګرتیا وکړم. ډاکتر سپنتا چې له دې ماموریت نه ډېر نا ارامه شوی ؤ وارخطا غوندې ښکارېدو. نوموړي د تړون متن سر تر پایه ولوست او د افغانستان د حکومت نظرونه او شرایط یې تشریح کړل.

د هغو ټولو پابندیو او شرطونو له اورېدو وروسته چې افغانستان په تړون او خبرو اترو کې مطرح کړي او ځای کړي وو ډاکتر غیرت بهیر وویل: «ستاسو توضیحات بشپړ او هر اړخیز وو. هر افغان حق لري چې له دې جریاناتو خبر شي، عامه افکار مهم دي. دلته زموږ ناسته له دې تړون سره د توافق او یا نه توافق په مانا نه ده خو دا به انتقال کړو. یوازې یوه عامه پوښتنه مې درلوده په داسې حال کې چې تاسو پر هغوی (امریکایانو) دومره قیدونه او شرایط ایښي دي هغوی به له خپلو پوځي اډو نه څه ترلاسه کړای شي؟» د ستراتیژیکو همکاریو تړون له هماغه «قیدونو سره» لاسلیک شو خو بیا هم د حزب اسلامي د مشر غبرګون د هغو په باب ډېر منفي ؤ. په هغه ملاقات کې چې ښاغلي هلال د ۲۰۱۲ کال د جولای په ۲مه له ما سره درلود نوموړي وویل: «انجنیر صاحب حکمتیار ته یې غلط راپور ورکړی ؤ او ویلي یې وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حکومت به له امریکا سره یاد تړون هېڅکله لاسلیک نه کړي خو چې کله تړون لاسلیک شو هغه پرې حیران شو. (...)»

انجنیر گلبدین حکمتیار پر ۲۰۱۲ کال یو ځل بیا یو اوږد لیک ولسمشر ته را واستاوه. هغه لیک د ۱۳۹۱ لمریز کال د لړم پر ۲۰ مه لیکل شوی ؤ. په مقدمه کې یې د هغې ورځې حالت د اتحاد شوروي د پوځونو د حضور له وروستیو ورځو او د ډاکتر نجیب الله د حکومت له وروستیو ورځو سره ورته ښودل شوی ؤ. ښاغلي حکمتیار هغو ستونزو ته په اشارې چې د امریکا متحده ایالتونه ورسره مخ شوي ؤ د هغه هېواد د قواو وتل او د «کابل حکومت» را نسکورېدل حتمي بللي وو، له همدې لامله یې د بحران د مخنیوي د کورنۍ حل لارې په توگه د بین الافغاني تفاهم سپارښتنه کړې وه. نوموړي د امنیتي او دفاعي ځواکونو په سر کې د رهبري شورا گانو جوړولو وړاندیز کړی ؤ او په حکومت کې یې د بدلونونو غوښتنه کړې وه. د نوموړي په نظر د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې باید د ولسمشرۍ، ولسي جرگې او ولایتي شورا گانو هممهاله او د متناسبې نماینده گۍ پر بنسټ انتخابات کېدل، د نوموړي په طرحه کې د دوو یا درېیو «ځواکمنو او هېواد شموله» گوندونو جوړېدو توصیه شوې وه چې د گوندونو د زیاتېدو مخنیوی وشي.

انتخابي حکومت به لومړی ائتلافي بڼه درلوده او ټولو هغو گوندونو به په هغو کې گډون درلود چې تر لس سلنه زیاتې رایې یې گټلې وي؛ د پوځي خدمت نظام به بیا فعالېدو او غړیزې او تصویري رسنۍ، مخابراتي شبکې، خصوصي ښارگوټي، پوځي خصوصي ځواکونه، تعلیمي ادارې آن غیر دولتي ادارې به د دولت اړوند کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر دغه طرحه د ملي امنیت شورا په غونډه کې مطرح کړه، مارشال فهیم وویل: «ښه ده را دې شي دا به په نیک فال ونیسو ما تېره شپه حکمتیار په خوب هم ولید». ولسمشر هم د حکمتیار د لیک او وړاندیزونو په ځواب کې نسبتاً اوږد لیک ولیکه. نوموړي چې د حزب اسلامي د مشر په لیک کې کوم مهم ټکی تشخیص کړی ؤ هغه «بین الافغاني تفاهم» ؤ. ولسمشر کودتاوې، د افغانانو په غیاب کې د ژنیو توافقات او له افغانستان څخه د باندې یې د افغانستان لپاره د حکومتونو را منځته کول د افغانانو د بدمرغیو مهم لاملونه بلل. نوموړي ویلي وو چې د دغه ترخه واقعیت د بشپړ درک په سبب یې چې څنګه د لنډ مهالې ادارې د مشر په توګه وټاکل شو طالبانو ته یې عامه بښنه اعلان کړه او پخپله په داسې حال کې کابل ته راغی چې یو وسلهوال ساتونکی ورسره نه ؤ. نوموړي خپل هدف د سولې ټینګول ټاکلی ؤ خو دې هدف ته د نه رسېدو سبب یې د بهرنیانو ستراتیژي بلله او دې پایلې ته رسېدلی ؤ چې هر هغه څوک چې د جګړې لاره غوره کوي په حقیقت کې پردیو ته ګټه رسوي. ولسمشر ور پسې لیکلي وو چې پر دې سربېره چې ویجاړ افغانستان په میراث ور رسېدلی ؤ او سیاسیون به اختلاف کې ښکېل وو، د ځواکمنو بهرنیانو پر وړاندې یې داسې سیاست غوره کړی چې د افغانستان ملي حاکمیت یې غوښتنه کوي، سره له دې چې د داسې سیاست غوره کول نه آسانه دي او نه له قربانیو پرته کېدای شي. ولسمشر نویو تجربو ته لاس اچول مردود ګڼلي وو او د هېواد سیاسي مشران یې هوښیارۍ او همغږۍ ته را بللي وو تر څو په ګډه د ۲۰۱۴ کال له ازموینې بریالي ووزي. نوموړي په پای کې حکمتیار ته بلنه ورکړې وه چې له سیاسي بهیر سره یو ځای شي او هغه څه چې ستونزې لري اصلاح کړي. ولسمشر خپل لیک په دې جملو پایته رسولی ؤ: «نو یو ځل بیا له تاسو نه هیله کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د بین الافغاني تفاهم د تحقق لپاره چې تاسو د خپلو وړاندیز شویو ټکیو په سر کې ترې یادونه کړې ده خپل هېواته ته راستانه شئ او د خپل هېواد په سیاسي ژوندانه کې ونډه واخلئ تر څو ټول په ګډه دغه هېواد له توپانونو وژغورو او د نېکمرغۍ په لاره یې برابر کړو، که تاسو زما له نظر سره موافق یاست نو هیله ده چې پلاوی را واستوئ چې له هغوی سره په ګډه هېواد ته ستاسو د بېرته را ستنېدو لپاره زمینه برابره کړو (...)»

دغه لیک هم د زیاترو هغو لیکونو په څېر چې د ولســمشرـــ اوباما او نورو لپاره لیکل کېدل ما لیکلی و. ګلبدین حکمتیار د ۲۰۱۳ کال (د ۱۳۹۲ په لیندۍ کې) هم د ولسمشر په نامه یو لیک را لېږلی ؤ چې په هغو کې یې په توندو او سختو ټکیو له ولسمشر نه غوښتي وو: «د واک په وروستیو ورځو کې یو کار وکړه (یانې امنیتي تړون مه لاســلیکوه) چې خپله ماضي جبران کړې» ښاغلي حکمتیار یاد تړون د «وطن پلورنې وثیقه» بللی ؤ، نوموړي د دې تړون پلویان «کمونیســتان یا بې دینه، بې مذهبه، بې شرفه، بې غیرته او بې شــعوره» بللي وو. نوموړي د بهرنیو ځواکونو د وتلو په صــورت کې د ســولې په ټینګولو کې د مرســتې او د هر ډول بهرني تېري پر خلاف د مرستې ډاډ ورکړی ؤ چې ډېر شتمن هېوادونه به د افغانانو پر شرایطو برابرو مرستو اعلان وکړي. د خبرو اترو په یوه دوره کې چې له حزب اسلامي سره مو درلودې او بهیر یې په قانع کوونکي ډول پر مخ روان ؤ د کابل هوایي ډګر ته نژدې د ځانمرګي برید پېښــه وشــوه چې ځاني مرګ ژوبله یې درلوده. په هماغه ماښــام مو بیا له پلاوي سره خبرې درلودې. کله چې له لمانځه وروســته د ارګ له جوماته را ووتلو ما ولســمشرـــ ته وویل چې د ســهارنۍ پېښــې پړه یو تن د «انجنیر زرغون» په نامه منلې ده چې د حزب اسلامي غړی دی. ولسمشر له اعتراضه په ډکه لهجه مساله له غیرت بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره شریکه کړه. نوموړي ژمنه وکړه چې په دې برخه کې به څېړنه وکړي او پایله به یې را سره شریکه کړي. یوه ورځ وروسته یې ما ته وویل چې دغه چاودنه د حزب اسلامي کار نه ؤ. له هغو مې وغوښتل نو باید رد یې کړي، خو په ځواب کې یې را ته وویل چې دا کار نشي کولای. له دې پېښې څخه زموږ پایله دا وه چې له بهر څخه لاسونو نه غوښتل چې حزب اسلامي له دولت سره د خبرو اترو په پایله کې سوله ییز ژوندانه ته را وګرځي او د هېواد د سیاسي صحنې برخه شي.

د دې کرښو د لیکلو پر مهال ښاغلی حکمتیار له خپلې کورنۍ سره په کابل کې ژوند کوي او د هغې هوکړه‌لیک پر بنسټ چې له حکومت سره یې لاسلیک کړی دی له یو شمېر مالي او سیاسي امتیازاتو څخه برخمن دی. د مالي امتیازاتو یوه برخه چې حزب اسلامي یې ترلاسه کوي بهرنیان ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې د ملي یووالي حکومت د لوړې د مراسمو په سبا یانې په خپله لومړنۍ کاري ورځ له امریکا متحده ایالاتو سره امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کړ، هغه تړون چې په افغانستان کې د هغه هېواد اډو ته رسمیت ور ښيي.

د ښاغلي حکمتیار یو شمېر شاوخوا کسان دا سې فکر کوي چې ګواکې ولسمشر کرزي له حزب اسلامي سره د سولې اراده نه درلوده. هغوی همدارنګه د حزب اسلامي یوې برخې ته رسمیت ورکول په دې حزب کې اختلاف جوړول ګني، په داسې حال کې چې له حزب اسلامي سره د سولې په مخکې خنډ بهرني لاسونه وو او ولسمشر کرزي ډېر ځله زما په مخکې د حزب اسلامي بېلا بېل لوري دې ته هڅول چې پخپلو کې یووالي او د ښاغلي حکمتیار مشرۍ ته غاړه کېږدي. د یادونې وړ ده چې د حزب اسلامي د یوې برخې رسمیت د دې لامل شو چې د کورنیو او بهرنیو امنیتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادارو لخوا د حزب د غړيو د آزار، ځورولو او تعقيب مخه ونيسي ـ، او هغه مهال چې ښــاغلی حکمتيار په کابل کې نه ؤ غړيو يې هېڅکله هم د نوموړي د مشرـتابه مخالفت نه دی کړی. ياد اختلافونه کابل ته د ښــاغلي حکمتيار له راتلو سره اوج ته ورسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکا او افغانستان تر منځ امنیتي او دفاعي تړون

په پیل کې امنیتي او دفاعي تړون د ستراتیژیکو اړیکو د تړون برخه ؤ، خو د هغو د ارزښت له مخې افغانستان غوښتل چې په نهایي کېدو کې یې ډېر دقت وکړي. دا کار د دې سبب کېدو چې پروسه ډېر وخت واخلي، امریکایانو د خپل کورني سیاست او د خپلو بهرنیو لویو موخو په سبب بېړه درلوده دا یې ښه وبلله چې په لومړي گام کې د ستراتیژیکې همکارۍ تړون نهایي کړي او د راتلونکي یوه کال په موده کې د امنیتي تړون د لاسلیک چارې هم بشپړې کړي. د ستراتیژیکو همکاریو تړون د ۲۰۱۲ کال د می په پیل کې په اوو فصلونو او یوه مقدمه کې د امریکا او افغانستان د ولسمشرانو تر منځ لاسلیک شو. نوموړي قرارداد کلي او اخلاقي مسایل لکه «د مشترکو دیموکراتیکو ارزښتونو ساتنه»، «د سیمه ییز امنیت د همکاریو پیاوړتیا»، «اقتصادي او ټولنیزه پراختیا»، «د افغانستان د دولتي او حکومتدارۍ ادارو پیاوړتیا» او داسې نور پکې را نغښتل شوي وو. په دوهم فصل کې د افغانستان د دوامدار امنیت د پیاوړتیا مساله په کلي ډول مطرح شوې وه.

د دې فصل د نهمې مادې پر بنسټ، په داسې صورت کې چې پر افغانستان تېری کېدو امریکا ژمنه کړې وه چې له مشورې تر عملي، سیاسي، اقتصادي او آن نظامي اقداماتو پورې هغو ته ځواب ورکړي، هغه ژمنه چې امریکا هېڅکله هم پرې عمل ونه کړ.

خو امنیتي او دفاعي تړون له ۲۰۱۴ کال وروسته د لږ تر لږه لسو کلونو لپاره د امریکا د پوځي اډو، د حضور او عملیاتو څرنگوالی ښود. ځکه یې واشنگټن ته ارزښت ډېر زیات ؤ. امریکا هم پر نوموړي تړون د خبرو پر مهال او هم یې د لاسلیک په برخه کې د خپل ځواک او نفوذ له ټولو وسایلو څخه کار واخیست او هڅه یې وکړه چې په دې برخه کې د خنډونو له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړو هېڅ فرصت هم له لاسه ور نکړي. هغه شمېر کسان چې د حکومت، پارلمان او د هېواد په سیاسي پاړکي کې دننه په شعوري او یا لاشعوري ډول د امریکا په خدمت کې وو شپه او ورځ یې یوه کړې وه چې واشنګټن یې هدف ته ورسېږي. امریکا داسې فضا ایجاد کړه چې د افغان لوري لخوا د تړون د لاسلیک په باب د هر ډول چنو وهل او امتیاز غوښتل چې د تړونونو په تړاو معمول وي، له دیموکراسۍ سره دښمني او د هېواد له آرامۍ او سوکالۍ سره دښمني او آن د ایران او پاکستان نوکري ګڼل کېده. په داسې حال کې چې د دوی جګپوړي او ټیټ پوړي مامورین دې ته تیار نه وو چې د خپل هېواد له وړوکي امتیاز څخه سترګې پټې کړي.

ولسمشر کرزی هم چې د امنیتي تړون د لاسلیک پر تاریخي مسوولیت او ستراتیژیک ارزښت بشپړ پوهېدو د هغو پر سر پر خبرو او لاسلیک کې یې تر وروستي حده له سختګیرۍ کار واخیست. زه او اېمل فیضي چې په دې لاره کې له ولسمشر سره همنظره او همکار وو د دې مبارزې د درانه پېټي لویه برخه مو پر اوږو وه.

لنډه دا چې په کومه کچه چې د واشنګټن د زیاتو امتیازاتو د غوښتلو پر وړاندې چنې وهل او درېدل ګران کار ؤ په هماغه اندازه د امریکا له داخلي لاسپوڅیو سره مقابلې ډېرې ستونزې درلودې.

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر پر ۳ مه په واشنګټن کې د افغانستان سفیر اکلیل حکیمي او «جیمز وارلک» هر یو د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو د خبرو اترو د پلاویو د مشرانو په توګه و ټاکل شول. ولسمشر څو ورځې وروسته د یوه حکم پر اساس د بهرنیو چارو، ملي دفاع، د ملي امنیت شورا د دفتر، د مالیې او عدلیې وزارتونو څخه د افغاني پلاوي غړي وټاکل. د امنیتي تړون پر سر د رسمي خبرو لومړی پړاو د ملي امنیت شورا په دفتر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۱۰ مه پیل شو په هغو کې د امریکایي پوځیانو د شمېر، ځای او د هغوی په تړاو د قضایي واکونو حدود تر بحث لاندې راغلل. دوهم پړاو خبرې یوه میاشت وروسته ترسره شوې. د دې دواړه ځله خبرو تر منځ په واشنګټن کې مشورتي خبرې هم ترسره شوې. په دوهم پړاو خبرو اترو کې هم امریکایانو دا واضح نه کړه چې د تړون له لاسلیک وروسته به دوی په افغانستان کې څومره شمېر پوځیان پرېږدي.

واشنګټن ته زموږ د وروستي سفر په ترڅ کې امنیتي تړون د بحث له مهمو موضوعاتو څخه ؤ. د دواړو هېوادونو ولسمشرانو چې د خبرو په پای کې کومه ګډه اعلامیه خپره کړه په هغو کې هم ور ته اشاره شوې وه.

د امنیتي تړون پر سر خبرې داسې مهال ترسره کېدې چې د سولې له پروسې سره د امریکا د چلن څرنګوالی، افغان لوري ته د بګرام زندان د سپارلو پر سر، ملکي مرګ ژوبلې، شپنیو عملیاتو او بالاخره د پاکستاني توپخانې د ډزو په باب له افغانستان څخه د امریکا نه دفاع د کابل او واشنګټن تر منځ اړیکې ډېرې خړې پړې کړې وې.

ولسمشر چې د ۲۰۱۳ کال په پیل کې په کابل کې له امریکایي سناتورانو «کارل لیون» او «جک رید» سره ملاقات درلود د هغه جریان یادونه یې وکړه چې سناتور جان کیري درې کاله مخکې ورته کیسه کړې وه. سناتور جان کیري د ولسمشر کرزي په کور کې د شپې ډوډۍ د خوړلو پر مهال د جنرال کیاني له قوله ویلي وو چې ګواکې د طالبانو د تحریک مشر ملا عمر په کراچۍ کې په یوه کور کې اوسېږي. ښاغلي کیري د ولسمشر د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې امریکایان له پاکستان نه داسې څوک نه غواړي چې دوی یې دښمن بولي او پر سر یې جایزه ټاکلې ده. ویلي وو چې پاکستانیانو نوموړی د سولې خبرو اترو له پاره آزاد پرېښی دی. نو ولسمشر هم د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوه ګونې لوبې څخه اندېښمن ؤ او هم يې د امنيتي تړون په لاسليک کې د افغانستان د دولت د ملي حاکميت موضوع سره کرښه وه.
د خبرو اترو په بهير کې د امريکايانو له لوري د امنيتي تړون په تړاو څو مسودې موږ ته وسپارل شوې، هر ځل ولسمشر کرزي په هغو کې بدلونونه راوستل، اصلاح شوی متن به بيا امريکايي لوري ته سپارل کېدو او له نويو بدلونونو سره به موږ ته وسپارل شوه. د تېرې تعريف، له ۲۰۱۴ کال وروسته د عملياتو څرنګوالی، د امريکايانو په واسطه د کورونو تلاشي، د افغان امنيتي ځواکونو پياوړي کول، د افغانستان دولت ته مالي ضمانت، د ملکي مرګ ژوبلې مخه نيول، د افغانستان د دولت حاکميت ته درناوی، د امريکايي پوځيانو په تړاو د افغانستان عدلي او قضايي واکونه هغه څه چې په قضايي مصؤنيت يې شهرت وموند، هغه څه وو چې د خبرو اترو او چنو وهلو محور يې جوړاوه او پر کاغذ يې ډېر رنګونه تويې کړل. امنيتي تړون داسې د ولسمشر تر ذره بين لاندې تسويد شو چې ښايي زموږ په بهرنيو اړيکو کې يې ساری نه وي. د ساري په توګه د اډو تر څنګ د پرتو سيمو (vicinity) حدودو د وسعت پر تثبيت بحث چې امريکايانو د خپلو اډو لپاره غوښت څو ورځې وخت واخيست. همدارنګه په دې محدوده کې د امريکايي پوځيانو واکونه بله د بحث او چنې وهلو موضوع وه. افغانستان لس کاري ټيمونه جوړ کړل تر څو په بېلا بېلو برخو کې، د ساري په توګه د هوايي حريم د کنترول ترلاسه کول. د فريکونسيو تنظيم، د ګمرکونو اړوند مسايل او نورو برخو کې د افغانستان د دولت نظرونه، غوښتنې او شرايط تنظيم کړي.
ځلورم پړاو خبرې بايد د جون په مياشت کې ترسره شوې وای، د قطر دفتر د پرانيستلو په اړه د افغانستان د دولت د اعتراض په سبب چې د امريکا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژمنو پر خلاف پرانیستل شوی ؤ دغه پړاو خبرې ترسره نه شوې. ولسمشر ښاغلي حکیمي ته هدایت ورکړ چې په واشنګټن کې دې خپلو مشورو ته دوام ورکړي خو رسمي خبرې د قطر دفتر د مسالې تر حل کېدو پورې وځنډول شوې. د طالبانو د بیرغ له را کوزولو او د نوموړي دفتر له تړلو وروسته ولسمشر د ۲۰۱۳ کال د اګست په لومړۍ نېټه تصمیم ونیو چې د خبرو کوونکي پلاوي کچه لوړه کړي، ځکه یې د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر سپنتا او د انتقال د پروسې رییس ډاکتر اشرف غني احمدزی یې وګومارل چې د بهرنیو چارو وزارت په همکارۍ رسمي خبرې پر مخ بوزي. د حکومت دننه پر ولسمشر فشارونه مخ پر زیاتېدو وو، ځینو ولسمشر ته ګواښ کاوه چې که د امنیتي تړون پر سر له امریکا سره توافق ته و نه رسېږي واشنګټن به په پاکستان کې د اډو په جوړولو لاس پورې کړي او دا کار به د افغانستان د ستراتیژیکې کمزورۍ او انزوا سبب شي. نورو به د امریکا د سیاسي وضعیت یادونه کوله ویل به یې چې په افغانستان کې د امریکا د شتون د پلویانو شمېر ډېر کم شوی دی او هره شېبه د دې امکان شته چې امریکایي پوځیان له افغانستانه ووزي. ځینو به د امریکایانو د شتون مساله د ولسمشر د همکارۍ له روحیې سره اړونده بلله. د دفاعي برخې مسوولینو دفاع وزارت ته د امریکایانو د پاملرنې له کمېدو نه شکایت کاوه چې ګواکې د ولسمشر د چلن په سبب کمه شوې وه. ډاکتر اشرف غني له امریکا سره د نه همکارۍ په صورت کې د کودتا د پېښېدو ګواښ کاوه، سیاسي او جهادي مشرانو هر ځل د حدیبیې د سولې او له مشرکانو سره چې د دوی په اند ډېر بد کافران وو د پیغمبر (ص) د تړون کیسې تکرارولې. امریکایانو له ولسمشر اوباما نیولې د سنا تر غړیو، ځانګړي استازي او په کابل کې دیپلوماتانو پورې بیا بیا زموږ مخې ته د عراق مثال تکراراوه او په ښکاره یې ویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه شي نو د عراق له برخلیک او کورنۍ خونړۍ جګړې سره به مخ شئ. آن تر دې چې هغوی د عراق د بهرنیو چارو وزیر «هوشیار زیباري» کابل ته راوست چې موږ ته ووایي چې د دوی هېواد امریکایانو ته د اډو په نه ورکولو څومره لویه اشتباه وکړه. ولسمشر هغوی هر یوه ته قانع کوونکی ځواب ورکاوه او د ګواښونو تر بوج لاندې را نغی د دوی ارځونې او تحلیلونه یې ردول. هغوی چې د ولسمشر د استدلال او مقام سره یې د مقابلې توان له لاسه ورکاوه د پروپاګند تېره تېغ یې زما او اېمل فیضي په لور را ګرځاوه چې له ولسمشر سره همنظره وو. د ویکي‌لیکس افشا شوي اسناد، «د کرزي کورنۍ او افغان غمیزه» کتاب د «جاشو پارټلو» اثر او نور پر دې ګواه دي چې د حکومت ځینې کسان امریکایانو ته ورتلل او له ما نه به یې د خپلو شکایتونو د جوالونو خولې ورته پرانیستلې او په ما پسې به یې بدې خبرې کولې. ولسمشر به بیا بیا ویل چې په خپل حکومت کې د یاغي حیثیت لري. د نوموړي هدف دا ؤ چې په خپل حکومت کې په اقلیت کې ؤ. نوموړی له هغه څه چې ده ورته د افغان سیاستوالو «ذهني اسارت» وایه سخت ځورېده.

«باب ووډ وارډ» په خپل «د اوباما جګړې» نومي اثر کې د هغه لفظي شخړې پېښه یاده کړې چې په ارګ کې د شپې ډوډۍ پر مهال د اوباما د مرستیال «جوبایډن» او ولسمشر کرزي تر منځ شوې وه، لیکوال وایي چې کله جوبایډن او د سفارت غړي له ارګه ووتل د امریکا پر سفارت د افغان چارواکیو له لوري د تیلفونونو باران شو، هر یوه په خپل نوبت امریکایانو ته ډاډ ورکاوه چې له ولسمشر کرزي سره همنظره نه دي او په هغه مېلمستیا کې چې امریکایانو ته کوم خپګان رسېدلی ؤ دوی پرې خواشیني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا چې اوس د نړۍ په یوازېني ستر ځواک بدله شوې وه او د افغانستان ځمکه او فضا یې په واک کې وه کمزوري شخصیتونه به یې د خپل غرور تابع وگرځول. امریکایانو له گواښ او تطمیع څخه هم کار اخیست. هغوی پروژې، قراردادونه، تنخواوې، ویزې او گرین کارتونه د دولتي مقامونو د فاسدولو لپاره د وسیلې په توگه کارول. امریکایانو په هغو مسایلو کې چې دوی ته مهم وو هغه چا ته چې دوی یې همکارۍ ته اړتیا درلوده دا ژمنه ورکوله چې له دوی نه به قهرمانان جوړ کړي، لږ تر لږه یې له دوو مواردو زه خبر یم. هغوی له قدیر فطرت سره وعده کړې وه چې که په کابلبانک کې هغه څه وکړي چې دوی یې غواړي له ده نه به قهرمان جوړ کړي. په بل ځای کې یې د حکومت د رسنیو او اطلاعاتو د مرکز رییس صفت الله صافي ته ویلي چې له دوی سره د همکارۍ په صورت کې به له ده نه قهرمان جوړ کړي. خو ښاغلي صافي هغه څه وکړل چې د هېواد د گټو غوښتنه یې وه، ځکه خو د امریکا د قهرمانانو په لیست کې شامل نه شو.

امریکایانو هغه چا ته پناه ورکړه چې په فساد تورن شوي وو او تر عدلي تعقیب لاندې وو، او افغانستان ته یې د هغو له سپارلو ډډه وکړه. همدارنگه امریکا د خپلو رسنیو په واسطه له بېسوادانو څخه پوهان جوړ کړل او له سست ایمانه څخه اتلان! برعکس هغه چا چې د خپل مظلوم ولس غږ یې اوچت کړ او د خپل وطن له ناموس او عزت نه یې دفاع وکړه د دوی د تمې په لومو کې و نه لوېدل له هغو یې بدې او کرکجنې څېرې وتراشلې او په یوه او بل نوم یې تورن کړل.

زه څو ځله پر دې شاهد وم کله چې به امریکایانو د یوه فاسد سړي نه دفاع کوله استدلال یې دا ؤ چې «له ده سره کار کول اسانه دي» امریکایي سیستم په واقعیت کې فاسد پالونکی سیستم دی، په ځانگړې توگه بیا په ورپورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تړلیو او د دوی تر لاس لاندې هېوادونو کې، چې ولسواکي او مدني ټولنه هم په کې د استعماري پروژو بڼه خپلوي. امریکایانو د جهاد پر مهال هم په همدغه ډول په ګوندونو کې فساد خپور کړ او زموږ هغه سپېڅلې مبارزه یې په بربادوونکې غمیزه بدله کړه.

د دولتي جګپوړیو چارواکیو او سیاستوالو خوشخدمتۍ امریکایان او نور لوېدیځوال دومره بد اموخته کړل چې آن جوړوونکې او دوستانه نیوکې یې هم له ځانونو سره دښمني او بد چلن ګڼلو.

په کومه ورځ چې فرانسوي جنرال «اولیویه دوبانیتشوف» د خپل ماموریت له ختمېدو وروسته د مخه ښې لپاره زما دفتر ته راغی ترې و مې پوښتل چې له افغانستان نه څه ډول خاطره وړې، نوموړي وویل: «دغه خاطره چې متاسفانه کله موږ غربیانو کومه طرحه او پروژه افغانانو ته وړاندیز کوله، که به هر څومره د عملي کېدو وړ نه وه ما هېڅکله هم و نه لیدل چې یو څوک استدلال وکړي او په هغو کې د بدلونونو راوستلو وړاندیز وکړي» ولسمشر له دغه ډول نظام سره له امریکا سره د مقابلې ډګر ته وتلی ؤ. څو ځله داسې پېښې شول چې یوه، یا څو تنو دولتي مقامونو د هېواد د خپلواکۍ او ملي حاکمیت اړوند ډېرو مهمو مسایلو کې لکه د بګرام زندان، ملکي مرګ ژوبله، د خلکو پر خصوصي حریم تیری او نورو کې د امریکا په پلوۍ د ولسمشر او د ده د سیاستونو پر خلاف استدلال کاوه، ولسمشر څو ځله ما ته ویلي چې د هغو غونډو جریان او د کسانو نومونه ولیکم چې یوه ورځ یې د لیکنې له لارې د هېواد د تاریخ د یوې پاڼې په توګه د افغانستان ولس ته وړاندې کړم. ما په دې کتاب کې په بېلا بېلو ځایونو کې له هغو یادښتونو څخه ګټه اخیستې ده خو تر وسه وسه مې هڅه کړې چې نومونه یاد نه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې زموږ سیاسي ژوند لا دوام لري او هر انسان د اصلاح او بدلون ورته‌یا لري.
د شمالي اتلانتیک سازمان (ناټو) د امریکا متحده ایالاتو تر څنګ له ۲۰۱۴ وروسته د خپلو ځواکونو د څرنګوالي په تړاو د سند غوښتونکی و. د ناټو سرمنشي هم کابل ته د خپلو سفرونو پر مهال او هم په بروکسل، شیکاګو او نورو ځایونو کې چې له ولسمشر کرزي سره کومې لیدنې کړې وې د ناټو غړیو هېوادونو د پوځونو په شتون، په عملیاتو کې یې د آزادۍ او آن په قضایي برخو کې یې پر مصؤنیت ټینګار کاوه. ناټو د ۲۸ هېوادونو د پوځیانو شتون غوښت. ناټو هیله درلوده چې د یوه واحد سند د لاسلیک په واسطه د دغه سازمان د ټولو غړیو هېوادونو پوځیانو حضور و منل شي. خو ولسمشر حامد کرزي غوښتل له هر هېواد سره ځانګړې تړونونه ولري، نوموړي استدلال کاوه چې د ګرجستان او عربي متحده اماراتو غوندې هېوادونو هم د ناټو په چوکاټ کې پوځیان افغانستان ته را استولي دي او له دې پرته چې د افغانستان دولت په جریان کې وي د خپلو پوځیانو په زیاتولو او کمولو لاس پورې کوي.
د ولسمشر چلن د ناټو له ټولو سرمشرانو سره توند ؤ. نوموړي هغوی د امریکا متحده ایالاتو لاسپوڅي بلل چې زموږ په هېواد کې یې په اصطلاح د نړۍ د ځواکمنو مشرانو اکټونه کول. ولسمشر په دې باور ؤ چې ځینې هېوادونه د ناټو په چوکاټ کې زموږ هېواد ته راغلي وو زموږ له خاورې څخه یې د نظامي تمرینونو ګټه اوچتوله. نوموړي د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۴ مه د ناټو سازمان سرمنشي «اندرس فوګ راسموسن» ته په یوه ملاقات کې په افغانستان کې د بهرنیو پوځي عملیاتو پر خلاف د توند اعتراض په ترځ کې وویل چې افغانستان بې خاونده خاوره نه ده چې هر څوک راشي او دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځي تمرينات ترسره کړي. نوموړي هلمند ته له خبر پرته د گرجستان د ولسمشر له راتلو يادونه وکړه او د دغه ډول کړنو دوام يې د نه منلو وړ وباله.
هم امريکايانو او هم ناټو غوښتل چې د دوی د اوږد مهاله اډو غوښتنه د افغانستان د دولت له خوا وشي. چې دې موخې ته و نه رسېدل د خپلو پوځيانو د شمېر او دا چې افغانستان د هغو د شتون لپاره کومه کچه ورته په نظر کې نيولې په باب يې پوښتنې کولې. زموږ دې تاکتيک ته پام ؤ، تر پايه دوی پر دې بريالي نه شول چې په افغانستان کې د دوی د پاتې کېدونکيو پوځيانو د شمېر په باب له موږ نه څه واوري.
د اډو شمېر چې امريکايانو غوښتل په افغانستان کې يې ولري د افغاني لوري له ډېر ټينگار وروسته د اپريل په مياشت کې رسماً وښودل شو. واشنگټن غوښتل په افغانستان کې نهه اډې ولري.
ترهگريزو پېښو لکه د مې پر ۲۴ مه د IOM پر دفتر بريد، په ټول هېواد کې ملکي مرگ ژوبله، پر ختيځو سيمو د پاکستان توغندويي بريدونه او نور د دې سبب کېدل چې ولسمشر لا زيات د امنيتي تړون تر لاسليک مخکې د سولې پر شرط ټينگار وکړي. د يوه اساسي شرط په توگه د انتخاباتو مساله وروسته پرې ور زياته شوه چې پر خپل ځای به رڼا پرې واچوم.
د هرې ترهگريزې پېښې او يا د بهرنيانو د عملياتو نه وروسته چې ملکي مرگ ژوبله به يې درلوده ولسمشر امريکايانو ته دا تکراروله چې افغانان به د داسې پېښو له دوام سره امنيتي تړون ته زړه ښه نه کړي. د نوموړي تصور دا و چې امريکايان د عملياتو د توندولو، ترهگريزو بريدونو زياتولو او د پاکستان د درنو ډزو په واسطه افغانستان دې ته اړ کوي چې امنيتي تړون ته غاړه کېږدي او خپل خونديتوب په همدې کې ووينې. دغه انگېرنه د امريکا د سفر پر مهال د خليلزاد له خبرو چې ولسمشر ته يې کړې وې لا ځواکمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدله. نوموړي ويلي وو سپينه ماڼۍ فکر کوي چې د ترهګريزو پېښو له زياتېدو سره به افغانان امنيتي تړون ته لا زياته لېوالتيا پيدا کړي. ولسمشر غوښتل چې د امنيت او امنيتي تړون تړاو سرچپه کړي. نوموړي غوښتل امريکايانو ته دا واضح کړي چې افغانان به هغه مهال امنيتي تړون ومني چې د هغو په سيوري کې ځانونه په امن کې احساس کړي. ولسمشر او ما په دې برخه کې وضعه دقيقه څارله. دغه موضوع دومره حساسه وه چې کله به يې په دفتر کې يوازې وو ببله دې چې خبره وکړي د کاغذ پر مخ به يې را ته وليکل چې امريکايانو ته يې له وروستي ګواښ وروسته په ترهګريزو پېښو کې څومره کموالی راغلی دی.

په دې کار له ترهګريزو بريدونو سره د امريکايانو اړيکې هم برالا کېدې، ولسمشر د امنيتي تړون په تړاو د مشورتي لويې جرګې په افتتاحيه وينا کې، د لويې جرګې غړيو ته د څو اونيو امنيتي راپور ولوست وې ويل چې د راپور د ليکلو په وروستۍ ورځ د افغانستان د امنيتي ځواکونو مرګ ژوبله يوازې تر يوه تن پوليس پورې را ټيټه شوې ده.

ولسمشر د امريکا له ځانګړي استازي جېمز ډوبنز سره په يوه ملاقات کې چې د خپل کار په دفتر کې يې و يو ځل بيا د امنيتي تړون د لاسليک لپاره د سولې او امنيت پر شرط ټينګار وکړ، ښاغلي ډوبنز چې د ولسمشر له دې تکراري غوښتنې نه ډېر په تنګ شوی ؤ وويل: «ښاغلی ولسمشره په داسې حال کې چې په افغانستان کې سوله او امنيت او خير خيريت وي بهرنيو ځواکونو ته به څه اړتيا پاتې وي؟»

د څلورم پړاو خبرو نه وړاندې د امريکا د مادي ژمنو مساله هم هماغسې ناحله پاتې وه. افغانستان د ښکاره مالي تعهد او يا د هرې اډې د کرايې غوښتنه کوله، خو امريکايانو له هغو ځانونه غړول. ولسمشر اوباما په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویډیو کنفرانس کې چې د ۲۰۱۳ کال د جون پر ۲۵ مه یې له ولسمشر کرزي سره درلود په روښانه ټکیو وویل چې د امنیتي تړون په تړاو د مشخص مبلغ تعهد له افغانستان سره نشي کولای. نوموړي وویل چې دغسې تعهد ته د سنا د مجلس د دوه پر درې غړیو توافق ته اړتیا ده. امریکایانو ډېری استناد د شیکاګو دغونډې پر مالي تعهد کاوه او هغه یې افغانستان ته کافي باله. د شیکاګو په کنفرانس کې د افغانستان د امنیتي او دفاعي برخې لپاره ۵,۱ میلیارد کلنی مرستې ژمنه منل شوې وه. امریکایانو ویل چې اساسي قانون یې دا اجازه نه ورکوي چې د اډو په بدل کې مشخص رقم پیسې ادا کړي، په نوموړي ویډیو کنفرانس کې ولسمشر یو ځل بیا پر سوله او امنیت ټینګار وکړ. نوموړي ستراتیژیک تړون ته په اشارې وویل چې یاد تړون د دې سبب نه شو چې پاکستان د ډېورند دې لوري ته پر سیمو له ډزو او تېري را وګرځوي. له څو دقیقو تېریدو وروسته بارک اوباما وغوښتل چې مجلس خصوصي شي. موږ د ویډیو کنفرانس له ځانګړي اطاق نه را ووتو د ګلخانې په دهلېز کې په انتظار شوو. کله چې د دوو ولسمشرانو خبرې اترې پایته ورسېدې ولسمشر کرزي موږ ته وویل چې ښاغلي اوباما نوموړی په یو ډول ګواښلی ؤ. نوموړي ویلي وو چې که افغانستان له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه کړي د سولې پروسه به نه وي او د هېواد وضعه به نوره هم خرابه شي. نوموړي د طالبانو د پوځي ځواک او د هغوی د ولسي ملاتړ یادونه وکړه او ولسمشر کرزي ته یې دا واضح کړي وو چې «که هغه څه چې موږ یې غواړو ونه کړي طالبان به درباندې برلاسي شي». ولسمشر کرزي په ځواب کې د امریکا د دوه ګوني چلن یادونه کړې وه او بیا یې هغه مشهور انګلیسي ضرب المثل ورته تکرار کړی ؤ چې ګواکي امریکا هم له ګیدړې سره منډې وهي او هم له تازي سره ښکار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوباما یو ځل بیا د عراق مثال را وړی ؤ او ولسمشر کرزي ته یې ویلي وو چې که افغانان امریکایانو ته اډې ور نکړي او په پایله کې امریکایان له افغانستانه ووزي دا ځل به افغانان د انګلیسانو د ایستلو په څېر اتلولي تر لاسه نکړای شي، دا ځل به وضعه توپیر ولري.

د یادونې وړ ده چې د همدې ورځې په سهار د ارګ په دروازه کې یو ترهګریز برید ترسره شو. برید کوونکیو له امنیتي ځواکونو سره یو نیم ساعت جګړه وکړه، هغوی د ناټو پوځیانو په جامو او اسنادو کې ځانونه تر دې ځایه را رسولي وو. همدارنګه په همدې ورځ په کندهار کې د یوې کورنۍ له غړیو ډک موټر چې واده ته روان وو په ماین والوت او اته ښځې او ماشومان پکې شهیدان شول. په داسې حال کې چې د ولسمشر مرستیالان او نور چارواکي د امریکا په وړاندې د نرم چلن غوښتونکي وو، سفیر کننګهم او جنرال ډنفورډ د جون پر ۲۶ مه د امریکا د ولسمشر شپږ ګونې غوښتنې حامد کرزي ته راوړې: امریکا د ۲۰۱۳ د اکتوبر تر میاشتې پورې د امنیتي تړون د لاسلیک غوښتنه کړې وه. لویه جرګه باید د اګست تر ۱۵ مې پورې جوړه شوې وای. امنیتي او مالي تضمین افغانستان ته نه ورکول کېدو، د انتخاباتو اړوند قوانین باید د روژې تر میاشتې پورې نهایي شوي وای او داسې نور...

ولسمشر د امریکا سفیر ته وویل: په داسې صورت کې چې د افغانستان د امنیت تضمین په منځ کې نه وي او د تړون له لاسلیک وروسته هم پاکستانیان هماغسې ترهګر او بمونه افغانستان ته را واستوي او امریکا هماغسې چې اوباما په ویډیو کنفرانس کې ویلي وو پاکستان له افغانستان سره مساوي د امریکا دوست وګڼي، د افغانستان خلک څنګه دې ته تړون ته زړه ښه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي زیاته کړه: «زه په لویه جرګه کې خلکو ته څه ووایم چې امریکا ته امنیتي تړون د څه شي په بدل کې ورکوم؟»
نوموړي له امریکا سره د تړون د لاسلیک په بدل کې چې کومه بیه ورکوله د هغو د یادونې په ترخ کې یې وویل چې د سیمې ډېر هېوادونه به د تړون له لاسلیک سره د افغانستان پر خلاف حساس شي.
ولسمشر د جون پر ۳۰ مه جهادي او سیاسي مشران د مشورې لپاره ارګ ته ور وغوښتل. نوموړي د امنیتي تړون په باب د خبرو اترو د پرمختګ ټول جریان له هغو اندېښنو سره چې په دې اړه یې درلودې له هغوی سره شریک کړ. دا ځل یې په مشخص ډول د هغې اندېښنې په باب چې د افغانستان د فدرالي کولو په باب ورسره پیدا شوې وه خبرې وکړې. پر دې سربېره په دې برخه کې چې کوم تحرکات شته وو او ما یې مخکې یادونه کړې ده، هغه څرګندونې چې سر تاج عزیز څو ورځې وړاندې په اسلام‌اباد کې زموږ سفیر ته کړې وې دغه اندېښنې یې زیاتولې. د نواز شریف سلاکار ښاغلي داودزي ته وړاندیز کړی ؤ چې د ۲۰۱۴ تر انتخاباتو وړاندې دې په افغانستان کې یو ډول فدرالیزم حاکم شي او واک دې ووېشل شي.
ولسمشر کرزي یوه ورځ مخکې دغه موضوع د بلخ له والي عطا محمد نور سره چې ارګ ته راغلی ؤ مطرح کړه. ښاغلي نور وویل چې دی د فدرالي نظام مخالف دی خو دا یې زیاته کړه چې نوموړی څو ځله د جنرال دوستم، حاجي محمد محقق، دانا رورا باکر او چارلي سانتوس لخوا هڅول شوی چې د فدرالي نظام په ټینګېدو کې ورسره همکاري وکړي. ښاغلي نور هغوی ته ویلي وو چې «په اوسنیو شرایطو کې فدرالي نظام د هېواد د تجزیې په مانا دی، مګر دا چې یوه ورځ افغانستان د ځواکمن نظام خاوند شي (...)
نوموړي په دې ملاقات کې ولسمشر ته وویل: «ما ته مه غوسه کېږه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېورند کرښې تېر شه ځکه چې هېڅ هېواد په دې برخه کې زموږ ملاتړ نه کوي.»

د سياسي مشرانو په غونډه کې هدايت امين ارسلا د ولسمشر د سولې شرط له واقعيت نه لرې وباله وې ويل: «که موږ امريکا ته اډې ور نه کړو پايله به مو څنگه شي؟» محمد حنيف اتمر چې نوی د مشرانو غونډې ته را بلل شوی ؤ وويل چې امريکا په ستراتيژيک تړون کې ډېرې ژمنې کړې خو په ژمنو ماتولو کې يوازې نه ده افغاني لوري هم خپلې ژمنې تر پښو لاندې کړې دي. نوموړي له ولسمشر نه وغوښتل چې موضوع سياسي نه کړي او خپل شرطونه دې په رسنيو کې نه بيانوي. محمد اسماعيل خان د امريکا د نيت په باب شک وښود وې ويل: «هغوی په ميليونونو ډالره د خپلو وسلو په تخريب کې لگوي او د دې پر ځای چې هغه موږ ته پرېږدي هند او پاکستان ته يې ورکوي» هغه دا غوښتنه وکړه چې په خبرو اترو کې صراحت زيات شي.

په دې غونډه کې ښاغلي عزيز الله واصفي هم چې له بهر نه کابل ته راغلی ؤ گډون درلود. نوموړي د مير غلام محمد غبار يوې ليکنې ته په اشارې د ولسمشر کرزي حکومت «د دولت وَينَه» وباله د امريکا او پاکستان د همکاريو مخينه يې بيان کړه. نوموړي وويل چې امريکا د طالبانو حکومت په يوه مياشت کې را نسکور کړ، اوس چې د جگړې په پايته رسولو او د امنيت په ټينگولو کې ناتواني ښيي دروغ وايي.

لنډه دا چې ولسمشر د غونډې بېلا بېل وړاندې شوي نظرونه او رايې په داسې ډول را ټول کړل چې د تړون پر لاسليک او د سولې او امنيت په څېر شرطونو اېښودلو توافق وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې ورځې په تېرېدو سره د امنيتي قرارداد د نهايي کولو لپاره کورني او بهرني فشارونه زياتېدل. سناتورانو او د امريکا د کانګرس غړيو يو پر بل پسې کابل ته سفرونه کول. په ځانګړې توګه سناتور مک‌کېن او ليندزي ګراهام. هغوی د افغانستان لپاره د امنيتي تړون لاسليک د پاکستان په مقابل کې د سولې او امنيت او ځواکمن دريځ ترلاسه کولو ډېر غوره ضامن باله. د امريکا پوځيانو لکه جنرال ډيمپسي د تړون لاسليک د افغانستان د وسله‌والو ځواکونو د پياوړي کېدو او بالاخره په جګړه کې د بريالي کېدو ضامن باله. د حکومت غړيو هم د امريکا لاره تعقيبوله: د ماليې وزير د مالي او اقتصادي وضعيت له خرابوالي شکايت کاوه، د دفاع وزير د مرستو له کمېدو ژړل، د ملي امنيت سلاکار بيا له ولسمشر نه غوښتل چې له امريکا سره «مطبوعاتي جګړه» ختمه او امنيتي تړون زر لاسليک کړي. نوموړي وويل چې د امنيتي تړون د وروستي کېدو او لاسليک په سبا به د افغانستان اقتصادي وضعيت ښه شي او د افغانيو بيه به لوړه شي. خو يوه ورځ ولسمشر له هغه نه وپوښتل :«بيا به بل سبا څه کېږي؟» ځواب يې ورکړ: «نه پوهېږم» ولسمشر او زه په ارګ کې زما د کار په لومړيو ورځو کې پر دې باوري شوي وو چې د امريکا په تړاو به روښانه دريځ، خبرې کول او له پټولو يې ډډه زموږ د بريا راز وي. ځکه چې د افغانستان اړيکه له امريکا سره نابرابره اړيکه ده. ولسمشر تل دا مثال راوړ او ويل يې: «زموږ او امريکا تر منځ معامله د يوه اته کلن ماشوم او يوه پياوړي دېرش کلن ځوان تر منځ د اړيکې په څېر ده، د حق د تر پښو لاندې کېدو په صورت کې ماشوم ته د ژغورنې يوازېنۍ لاره فرياد او شور ماشور او د شا وخوا خلکو خبرول دي، له دې پرته تر پښو لاندې کېږي». په همدې دليل موږ په دې نظر وو چې رسنۍ، مطبوعات، خبرې کول او فرياد کول موږ د امريکا له ظلم نه ژغورلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایان هم چې زموږ د دې وسلې اغېزمن توب ته یې پام شوی ؤ بیا بیا به یې موږ ته ویل «هر څه چې موږ ته وایی په خصوصي غونډو کې یې و وایی، خو مهرباني وکړئ په رسنیو کې زموږ پر خلاف خبرې مه کوی» زموږ یو شمېر روڼ اند مابانو او دیپلومات مابانو هم په اصطلاح په رسنیو کې زموږ ډېرې خبرې غیر دیپلوماتیک، د حکومتدارۍ د عرف خلاف، غیر مسلکي او غیر جدي کار باله. هغوی پر ما د «پوپولیست» تور لگاوه او ولسمشر ته یې ویل چې د یوه «دولتمدار» په څېر عمل نه کوي. د هغوی همېشنی استدلال دا ؤ چې موږ یو مسوول دولت یو، باید په هره موضوع کې اعلامیه ور نکړو او په هر اختلافي مورد کې په رسنیو کې خبرې ونه کړو. خو همدې ډلې بیا چې د امریکا گټو ایجابوله ویل: «موږ ولې له امریکا سره چنې ووهو، موږ یو غریب او ناتوانه هېواد یو، ښه ده چې د دوی د دوستۍ په سیوري کې گوزاره وکړو.»

ولسمشر په عین وخت کې د هېواد له بېلا بېلو خلکو سره د سلا مشورې لړۍ ته دوام ورکړ. یوه ورځ مې یادېږي چې د سپتمبر میاشتې په لومړیو کې د سنگي مانۍ د ډوډۍ خوړلو په خونه کې د هېواد د شمالي ولایتونو مشرانو او سپین گیرو له ولسمشر سره ډوډۍ خوړله او د امنیتي تړون په باب یې نظرونه څرگندول. یوه سپین گیري داسې وویل: «هوکې په رسنیو کې ستا خبرې اورو، همدغه سمه خبره ده چې د امنیت را وستل زموږ شرط وي، تاسو چې له امریکایانو سره چنې وهئ دا زموږ او زموږ د هېواد آبرو ده»

د ۲۰۱۳ کال په سپتمبر میاشت کې ولسمشر دا غوره وگڼله چې د ملگرو ملتونو په سپتمبر میاشت کې ولسمشر دا غوره وگڼله چې د ملگرو ملتونو په عمومي غونډه کې د گډون پر ځای د شانگهای د همکاریو سازمان په غونډه کې د گډون لپاره چین ته لاړ شي. څرنگه چې د امنیتي تړون پر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې ډېر حساس پړاو ته رسېدلې وې اړینه ښکارېده چې یو ځل بیا د هغو په باب د سیمې د مهمو هېوادونو او ګاونډیانو نظر واخلو. سره له دې چې پخپله ولسمشر او ما په منظم ډول هغوی د خبرو له جریانه خبرول.

واقعیت دا دی چې ولسمشر د زړه له کومې غوښتل چې د کوم مهم هېواد له لوري مخالفت او یا لږ تر لږه ملاحظه ووینې، خو له ایران پرته نورو ټولو په یوه بڼه له امنیتي تړون سره توافق ښودلو. ایران هم په دې برخه کې مسوولانه چلن نه درلود. ځکه خو ولسمشر کرزي ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته د ډاډ ورکولو هڅې پیل کړې، چې امریکایانو ته د اډو د ورکولو په صورت کې به د افغانستان خاوره په هېڅ صورت د هېچا پر خلاف و نه کارول شي.

د سپتمبر په ۲۷ مه مو د چین له صدراعظم سره ولیدل. له ښه راغلاست او تشریفاتي خبرو وروسته ولسمشر له امریکایانو سره د خبرو مساله مطرح کړه، نوموړي د خپلو خبرو په ترڅ کې افغانستان ته د امریکا د راتلو د پټو اهدافو یاونه هم وکړه. نوموړي زیاته کړه چې سوله، د هېواد خپلواکي او دا چې د امریکایي پوځیانو شتون او اډې به نورو ته ګواښ نه وي د امنیتي تړون په خبرو کې د افغاني لوري مهم شرطونه دي. صدراعظم «لي کي کیانګ» وویل چې په تېرو وختونو کې چین د بهرنیانو له اشغال او تېري ډېر بې پایه رنځونه زغملي دي او د خپلواکۍ په باب یې زموږ اندېښنه پر ځای وبلله. ولسمشر یو ځل بیا د پاکستان په اړه د چین د مرستې غوښته وکړه او له هغوی یې وغوښتل چې اسلام‌اباد ته د افغانستان د دوستۍ له نیته ډاډ ورکړي او د هغه هېواد له لوري په افغانستان کې د افراطیت او ترهګرۍ د کارولو مخه ونیسي. په هماغه ورځ له شاندارو تشریفاتي مراسمو او د توپونو له ډزو وروسته د ولسمشر «شي جینګ پینګ» ملاقات ته لاړو. هماغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان او له امریکا سره امنیتي تړون مو د غونډې مهم موضوعات وو. د چین ولسمشر وویل چې له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امریکا او ناټو پوځونو د حضور دوام د افغانستان او سیمې په سوله او ثبات اغېزه کوي.
نوموړي د امنیتي تړون د لاسلیک په تړاو وویل: «چین پوهېږي افغانستان د هغو ستونزو له مخې چې لري یې د بهرنیانو مرستو ته محتاج دی، خو د افغانستان خپلواکي او سلامتیا باید خوندي وي، هیله ده چې د امریکا حضور دې ته زیان و نه رسوي. کوم شرطونه چې له امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره تاسو ایښي دي موږ ته د منلو وړ دي (...) د چین شا وخوا ته د امریکایي پوځیانو شتون زموږ د نا آرامۍ سبب کېږي، د ساري په توګه په جنوبي کوریا کې او موږ دا امریکایانو ته ویلي دي، یا مثلاً په قرغیزستان کې د مناس اډه، ما ولسمشر اتنبا یوف ته دا وویل، هغه وویل چې امریکایان د مناس اډې ته د هغو پوځیانو لپاره اړتیا لري چې له ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان کې پاتې کېږي».
په دې ډول چین ګواکي د افغانستان اړتیاوې درک کړې وې او زموږ په هېواد کې یې د امریکا د اډو او پوځیانو له حضور سره د ولسمشر کرزي د شرایطو د پوره کېدو په صورت کې توافق درلود.
کابل ته تر الوت وړاندې په الوتکه کې ښاغلي سپنتا او د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو رییس حمید صدیق ولسمشر او ما ته وویل چې «زموږ الوتکه په ډیلي کې یوه ناسته لري» زه حیران شوم ومې پوښتل ولې؟ وې ویل: «د تېلو اچولو لپاره» ورته ومې ویل «امکان نه لري ځکه د صافي شرکت ما ته ډاډ را کړی ؤ چې الوتکه یې له تېل اچولو پرته د نهه ساعته الوت وړتیا لري او ما په همدې ډول ورسره قرارداد کړی دی، اوس په ډیلي کې د تېلو اچولو خبره له کومه را پیدا شوه؟» هغوی کله په ټوکو او خندا او کله جدي زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې ردولې. ولسمشر هم چې مخکې د سفر پروګرام لیدلی ؤ پر دې حیران ؤ چې په ډیلي کې ناسته څه ډول په هغو کې ځای کړای شوه؟ بالاخره هماغسې وشول او موږ نیمه شپه د ډیلي په هوایي ډګر کې ښکته شوو. هلته زموږ سفیر ښاغلی ابدالي او د هندوستان ځانګړی استازی ښاغلی «لمبا» زموږ هرکلي ته راغلل. موږ څو تنه جګپوړی پلاوی یې یوې ودانۍ ته بوتلو چای، قهوه او کلچې یې راوړې، نور کسان په الوتکه کې پاتې شول. تر څو شېبو عامو خبرو وروسته د هند ځانګړي استازي له ولسمشر کرزي سره د څو خاصو خبرو هیله وکړه، موږ د باندې ووتو او په بل اطاق کې کېناستو. ښاغلی سپنتا او زموږ سفیر له ولسمشر سره پاتې شول. کله چې بېرته الوتکې ته راغلو ولسمشر را ته وویل: «خُرم صاحب پوهېږې چې ولې یې موږ ډیلي ته راوستو؟ ورته ومې ویل «نه» وې ویل «امریکایانو د هندوانو په خوله هم ما ته پیغام راکړ چې امنیتي تړون لاسلیک کړم».

په دې ډول یې موږ له خپل تګلوري نه کاږه کړو او ډیلي ته یې راوستلي وو تر څو دغه پیغام ولسمشر ته ورسوي او له هغه نېک نظر نه چې ولسمشر یې د هند په باب لري ګټه پورته کړي.

کابل ته له راستنېدو سره په عمده مسایلو په ځانګړې توګه امنیتي تړون کار دوام وکړ. مهم مسایل چې ناحل شوي پاتې وو هغه د ګواښ (تېري) تعریف، له ۲۰۱۴ کال وروسته د بهرنیانو د عملیاتو څرنګوالی، د امریکایي پوځیانو په اړه د قضایي ادارې واکونه، یانې هغه څه چې د قضایي مصؤنیت په نامه یې شهرت موندلی ؤ، او د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو پیاوړتیا.

جنرال ډنفورډ او سفیر کننګهم چې د خپلو همکارانو لخوا بدرګه کېدل د سپتمبر پر ۲۹ مه د ولسمشر دفتر ته راغلل. هغوی غوښتنه کړې وه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې يادو شويو مسايلو له ولسمشر سره بحث وکړي او خپل نوي وړانديزونه مطرح کړي. د تهديد يا تېري د تعريف موضوع افغان لوري ته ځکه مهمه وه چې موږ فکر کاوه چې پاکستان به هېڅکله هم خپل پوځ په پوځي يونيفورم کې په ټانکونو سپاره افغانستان ته را وا نه ستوي، د پاکستان تېری زموږ په خپلو جامو کې د بم، ترهگر او تخريبکار په بڼه ترسره کېدو. بايد دغه موضوع امريکايانو ته څرگنده شوې وای.
سفير ولسمشر ته وويل چې دغه موضوع په ځانگړې توگه له ده سره مطرح کړي او ده ته به يې وضاحت ورکړي چې افغاني لوری د څه ډول تعريف غوښتونکی وي په سند کې به يې ځای کړي. د ۲۰۱۴ کال نه وروسته د امريکايي ځواکونو د عملياتو د بڼې په باب جنرال ډنفورډ وويل چې دوی به د ملکي مرگ ژوبلې د پېښېدو مخنيوی وکړي، او د ده په قول د دوی هدف به يوازې د القاعده کسان وي چې په وينا يې هغه مهال ټول ټال ۷۵ تنه په افغانستان کې فعال وو. سفير او امريکايي قوماندان دواړو ټينگار کاوه چې افغان ځواکونه له القاعدې سره د مبارزې د وړتياو ترلاسه کولو لپاره بايد ډېره زده کړه وکړي او وروزل شي.
جنرال ډنفورډ د ملکي مرگ ژوبلې په اړه چې د عملياتو په بهير کې پېښې شوې وې د ولسمشر د اعتراضونو او مثالونو د وړاندې کولو په ځواب کې په تکرار ويل: «دغه پېښه زموږ تر څېړنې لاندې ده». ولسمشر په دې باب يو ځل بيا انديښنه وښوده چې داسې نشي چې د پخوا په څېر د ترهگرو مرکزونه تر افغانستان د باندې خوندي وي خو د ترهگرۍ خلاف جگړه د افغانستان په کليو کې دوام ولري. دغه غونډه پايلې ته و نه رسېده او د ولسمشر پوښتنې بې ځوابه پاتې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه اوني وروسته سفیر او امریکايي قوماندان له نویو وړاندیزونو سره راغلل. د کابل او واشنګټن تر منځ اړیکې د خرابۍ په اوج کې وې، ولسمشر کرزی د امریکا د فشارونو په وړاندې کلک ولاړ ؤ او د دوی ضرب الاجلونه یې د نویو پوښتنو په مطرح کولو او په متن کې د نویو بدلونو په غوښتلو بابېزه ګڼل. په نوي وړاندیز کې امریکايي لوري شپږ مادې د ګواښ او تېري د تعریف او د کورنیو او بهرنیو خطرونو او د افغان او امریکايي ځواکونو د همکارۍ او پوځي عملیاتو په تړاو وړاندې کړل. جنرال ډنفورډ وویل چې له ۲۰۱۴ وروسته به افغان ځواکونه دومره پیاوړي کړي چې له القاعدې، د هغو د ملګریو او ورسره تړلیو ځواکونو سره مقابله وکړای شي. ولسمشر وپوښتل: «د القاعده ملګري او په هغوی پورې تړلي یانې څوک؟» جنرال ډنفورډ ځواب ورکړ: «ښايي طالبان یا پاکستاني طالبان» ولسمشر یو ځل بیا د ملکي مرګ ژوبلې مساله چې په اصطلاح د تروریزم خلاف عملیاتو کې پېښېدله مطرح کړه. نوموړي بیا د کونړ د کونړۍ څلور کلنې عایشې نومې ماشومې یادونه کوله. عایشه د کونړ د وټه پورې څلور کلنه نجلۍ وه. هغې له خپل مور او پلار او د کورنۍ له نورو غړیو سره له یوه کلي نه بل ته سفر کاوه چې د سپرلۍ پر موټر یې امریکايي هوايي ځواکونو برید وکړ. د هغې کورنۍ ټول غړي په دې برید کې ووژل شول یوازې دا ترې ژوندۍ پاتې شوه، خو په داسې ډول چې کیڼ لاس یې غوڅ شوی ؤ او مخ یې له سترګو او پزې سره له منځه تللی ؤ. امریکایانو ماشومه د کابل هوايي ډګر په پوځي برخه کې د فرانسویانو روغتون ته راوړې وه. ما له دې پېښې ولسمشر خبر کړ. څو ورځې وروسته یې پوښتنې ته ورغلو. د ماشومې مخ یې پر سپین ټوکر پوښلی ؤ، غوڅ شوی لاس یې په بنداژ کې پېچل شوی ؤ، د مصنوعي تنفس غبر یې ډېر جګ ؤ او وړوکې پښې یې له روجايي نه د باندې را وتلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر یې هک پک د کټ تر څنګ ودرېد. ما چې د دې نندارې د لیدو توان نه درلود لرې لاړم، ولسمشر وروسته وویل په ژوند کې مې هېڅکله هم د کوم ماشوم د مرګ هیله نه ده کړې خو په هغه ورځ یې له ځان سره ویلي وو درېغه دغه ماشومې هم له خپلې کورنۍ سره یو ځای ساه ورکړې وای. یو دوه تنه امریکایي سرتېري د سیوري په څېر په هغو فرانسوي ډاکترانو پسې وو چې موږ ته یې تشریحات را کول. څرنګه چې ولسمشر غوښتل چې سمدستي هغه د درملنې لپاره بهر ته واستول شي، ما خپل مرستیال محمد ظاهر غوث ته چې له فرانسویانو سره یې آشنایي درلوده دنده وسپارله چې فرانسې ته د عایشې د لېږلو زمینه برابره کړي، نوموړې د فرانسویانو له چمتووالي خبر را کړ. کله چې امریکایان له دې جریان نه خبر شول په ډېر ټینګار یې غوښتل چې عایشه د فرانسې پر ځای امریکا ته ولېږدول شي. بالاخره مو له هغوی سره موافقه وکړه. یاده ماشومه له یوه خپلوان سره امریکا ته ولېږدول شوه او په والتر رید روغتون کې بستري شوه. تر روغتون وروسته په امریکا کې یوه افغاني مهاجره کورنۍ داوطلبه شوه چې د درملنې تر بشپړېدو پورې نوموړې په خپل کور کې وساتي. ما څو کاله وروسته د ډاکتر اشرف غني د حکومت پر مهال عایشه له افغان ژورنالیست سید عبدالله نظامي او سویډنی لیکوالې «ترز سوفیا کرستیانسون» سره یو ځای د ولسمشر کرزي په کور کې ولیده. نوموړې لیکوالې غوښتل د عایشې په باب کتاب ولیکي. عایشه ګۍ غټه شوې وه خو له دوو سترګو، یوې برخې پزې او یوه لاس نه بې برخې وه.

ولسمشر د امریکا سفیر او قوماندان ته وویل چې نوی متن مو په محتوا کې هماغه څه دی چې پخوا ؤ، خلک به یې په جرګه کې ونه مني. جنرال ډنفورډ په نا آرامۍ وویل: «تر لویې جرګې پورې خو وخت لرو، دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې به لږ شي» ولسمشر د جنرال د خبرو په رد کې د ننګرهار د بهسودو د پېښې يادونه وکړه چې هلته هم د امريکايانو په هوايي بريدونو کې څو تنه ماشومانو ژوند له لاسه ورکړی ؤ. د بهسودو پېښه داسې مهال را منځته شوه چې د جلال‌اباد په هوايي ډګر کې د امريکايانو پر مرکز توغندويي بريد وشو. امريکايانو د هغه بريد په ځواب کې له خپلو الوتکو څخه هغه ماشومان چې په لوبو بوخت وو په نښه کړل، په پايله کې پينځو ماشومانو ژوند له لاسه ورکړ، سفير مداخله وکړه وې ويل: «موږ له جاپانيانو سره هم دغسې تړون لرو» ولسمشر ځواب ورکړ: «مګر هلته تاسو بمباري او وژنې نه کوئ» سفير يې په ځواب کې وويل: «ځکه چې هلته پر موږ بريدونه نه ترسره کېږي» ولسمشر وويل: «ستا د خبرې مانا دا ده چې افغانان تاسو وژني؟» ولسمشر پوښتنه وکړه، په داسې صورت کې چې پر مرکز بريد القاعده ترسره کړی وي په ځوابي عملياتو کې يې ولې د افغانانو ماشومان ووژل شي؟ نوموړي له امريکايانو وغوښتل چې له افغانانو سره مو اړيکې له جاپانيانو، المانيانو او ترکانو سره د اړيکو په څېر جوړې کړئ.

سفير پوښتنه وکړه: «ياني تاسو وايئ چې موږ دلته د ترهګرو خلاف عمليات ترسره نه کړو؟»

ولسمشر کرزی: «د افغانانو د کورونو او کليو پر خلاف عمليات مه کوئ»

سفير: «دغه توپير څه ډول وکړای شو؟»

ولسمشر کرزی: «اساسي خبره همدغه ده، دغه توپير بايد وشي»

ډاکتر سپنتا هڅه وکړه چې موضوع داسې حل کړي چې ګواکې امريکايان په استثنايي حالت کې د افغانستان په کليو کې د عملياتو حق درلودای شي.

ولسمشر د دې نظر په رد کولو د امريکا سفير ته وويل: «خپل ولسمشر ته مو ووايئ چې تر دې وروسته و نه وايي چې که امنيتي تړون و نه شو موږ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې لارې له ترهګرۍ سره مقابله پر مخ وړو. دا اخطار دی، موږ ته اخطار مه را کوئ موږ اخطار نه منو».

## کابل ته د جان کيري سفر او د امنيتي تړون پر سر خبرې

جان کيري داسې مهال کابل ته راغی چې په ارګ کې مولانا فضل الرحمان، اسفنديار ولي خان او افراسياب خټک زموږ مېلمانه وو. ولسمشر دغه د ګوندونو مشران کابل ته رابللي وو چې د افغان سولې په پروسه کې مرسته وکړي او له پاکستان سره مو اړيکې ښې کړي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر ۱۱ مه د جمعې په ماښام ارګ ته راغی. نوموړی د امريکا د سفير او د ناټو پر قوماندان سربېره د بېلا بېلو چارو د متخصصينو يوه لوی ټيم بدرګه کاوه. له افغاني لوري هم لوی پلاوی حاضر شوی ؤ. غونډه د کابينې په اطاق کې پيل شوه، پلاوي د ميز دواړو خواو ته ځای پر ځای شول. په پيل کې له دغه او هغه لوري عامې خبرې وشوې، د ډېورند د هغه لوري د مېلمنو په باب تر نواز شريف او بالاخره د چين تر اقتصادي وضعې پورې. له عامو خبرو وروسته جان کيري د ولسمشر د هغو اندېښنو چې د امريکا په باب يې درلودې يادونه وکړه او هغه يې بې ځايه وبللې. نوموړي وويل د هغو ملکي مرګ ژوبلې پړه چې د امريکايانو پر غاړه ده د ټولې مرګ ژوبلې يوازې يو سلنه ده، هغه هم واشنګټن د ټولو عاملين د خپلو اعمالو په سزا رسولي دي. نوموړي له امريکا سره د اوږد مهاله دوستۍ تړون د افغانستان د سلامتۍ ضامن او د پاکستان پر خلاف د پياوړتيا وسيله وباله، ولسمشر وويل: «د امنيتي تړون له لاسليک سره موږ بايد درې پيغامه درې لوريو ته واستوو. تر ټولو مهم پيغام د افغانستان خلکو ته دی په دې مانا چې د دغه تړون لاسليک بايد نوی باب پرانيزي، زموږ حاکميت ته بايد بشپړ درناوی وي، افغان ماشومان په امن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند وکړي او دا چې افغانستان باید د هر ډول تېري څخه خوندي او په امن کې وي. دوهم پیغام مو باید طالبانو ته وي په داسې ډول چې هغوی ووینې دغه تړون د دوو خپلواکو او مساوي هېوادونو تر منځ لاسلیک شوی دی. او بالاخره درېیم پیغام مو باید د پاکستان دولت ته وي» ولسمشر د خپلو خبرو په دوام یو ځل بیا د هغو پېښو یادونه وکړه چې ملکي مرګ ژوبله یې اړولې وه. جان کیري د ملکي وګړو د ژوند په باب اندېښنه پر ځای وبلله وې ویل چې «جنرال ډنفورډ د افغان ځواکونو پر پیاوړي کولو بوخت دی، خو تاسو دلته داسې ترهګر لرئ چې هم امریکایان وژني او هم افغانان. زموږ جګړه له هغو سره خامخا جانبي مرګ ژوبله را منځته کوي» ولسمشر وپوښتل چې امریکا ولې د ترهګرو مخه د پیداښت په ځای یانې په پاکستان کې نه نیسي؟ جان کیري ځواب ورکړ چې په تړون کې به داسې الفاظ ځای شي چې د افغاني لوري دغه اندېښنه به رفع کړي خو زیاته یې کړه چې افغانستان د ترهګرۍ ضد عملیاتو ته اړتیا لري. ولسمشر کرزي خپل استدلال ته داسې دوام ورکړ: «موږ افغانان غواړو چې ستاسو یو شمېر پوځیان دلته وي، تاسو خپل کارونه وکړئ، په سیمه کې مو خپلې ګټې خوندي کړئ، ځینې فعالیتونه د القاعده پر خلاف هم ولرئ، خو که د ساري په توګه راپور ترلاسه کړئ او د هغو له مخې په یوه کور حمله ور وړی بې ګناه خلک په هغو کې ووژل شي دا د منلو وړ نه ده، دې ته حل لاره پیدا کړئ، د ساري په توګه څو ورځې وړاندې مو زموږ پر بې ګناه خلکو بمباري وکړه. یا مثلاً د بګرام پر مرکز توغندي را لوېږي تاسو یې په ځواب کې عام خلک وژنی؟ که کوم درېیم هېواد یو لرې ویشتونکی توغندی چا ته ورکړي مثلاً د دېرش کیلو متري واټن نه ستاسو اډې نښه کړي، تاسو یې په ځواب کې بمباري کوئ؟ افغان ځواکونو ته احوال ورکوئ؟ څه کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «تر ۲۰۱۴ کال وروسته چې هر ډول عمليات ترسره کېږي ستاسو په مشوره به وي»
ولسمشر کرزی: «فرضاً ستاسو يو پوځي کتار له بګرام نه کابل ته راځي، د لارې په اوږدو کې تر بريد لاندې راځي، د خپلو پوځيانو د ساتنې په نامه به تاسو څه ډول اقدام کوئ؟ د مجاوريت تعريف ستاسو په اند څه شی دی؟
جنرال ډنفورډ: «افغان ځواکونه به له اډې د باندې ځای پر ځای وي او هغه به ځواب ورکوي»
ولسمشر کرزی: «مثلاً سبا ته ISI چا ته هاوان ورکړي او هغه ستاسو پر اډه بريد وکړي، تاسو به د کورونو پر بمباري کولو لاس پورې کوئ؟
جنرال ډنفورډ: «نه هېڅکله به دا کار ونه کړو»
ولسمشر کرزی: «مګر هغه بله ورځ مو په ننګرهار کې همدغه کار وکړ»
جنرال ډنفورډ: «هغه ماشومان هلته نژدې په خلاصه فضا کې وو، هليکوپترو په غلطۍ فکر کړی ؤ چې طالبان دي»
جان کيري: «امريکا غواړي دغه شيان پايته ورسوي، تاسو ته ډاډ درکوم!»
القاعده او ترهګر تر اوسه پورې شته دي، موږ چې هر څه کوو ستاسو په همکارۍ به وي، بمباري به نه کوو او د خلکو کورونو ته به نه ور ځو»
ولسمشر کرزی: «تېری به څه ډول تعريفوئ؟ راځئ لږ تاسو تېر شئ او لږ به زه را تېر شم. تاسو دلته په تړون کې يو ځای ليکلي دي چې افغانستان د تاريخ په اوږدو کې تر يرغلونو او تېري لاندې راغلی، دا سهي نه دي. دا حذف کړئ، دا يو ډول دوام ښيي. په بل ځای کې راغلي دي چې تېري ته به د امريکا له خوا ځواب ورکول کېږي. داسې وليکئ چې امريکا به پر افغانستان تېري ته اجازه ورنه کړي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «دلته دوهم پراګراف وضاحت لري، چې هر ډول تېرى د اندېښنې سبب ګڼل کېږي»
ولسمشر کرزی: «مګر دا يوازې اندېښنه ده»
جان کيري: «خو تاسو ته ځلور ميلياړده ډالر درکوو، اندېښنه مهم لفظ دی»
ولسمشر کرزی: «داسې دې راشي چې افغان ځواکونه پياوړي کېږي او هلته د تېري په ځواب کې پر ځای بل شی وليکل شي»
جان کيري: «که مخالفت oppose راشي څرنګه به وي؟»
جيف (د پلاوي غړی): «مشکل دی!»
جان کيري: «نه مخالفت سم دی، نو پر دې پراګراف توافق وشو»
ولسمشر کرزی: «په بشپړ ډول، هوکې»
جان کيري: «د لومړۍ مادې ځلورم پراګراف ته راځو»
ولسمشر کرزی: «دا سمه ده، تاسو ويلي دي چې يو طرفه عمليات به نه ترسره کوئ او د خلکو کورونو ته به نه ننوزئ»
جان کيري: «امنيتي تړون دوې موخې لري؛ يو موږ د هغو په واسطه امريکا له ترهګريزو بريدونو څخه خوندي کوو او دوهم له تاسو څخه دفاع کوو»
ولسمشر کرزی: «دا چې ويلي مو دي له القاعده سره تړلي (له القاعده سره پر تړليو عمليات) دا څرنګه تعريفوئ؟»
سفير کننګهم: «هر څوک چې له القاعده سره مرسته کوي»
ولسمشر کرزی: «فرضاً څو مياشتې وروسته هغه مهال چې دلته بل ولسمشر په واک کې وي، پاکستان کسان وروزي او دلته يې را واستوي، تاسو د هغو پر خلاف عمليات ترسره کوئ او په هغو کې افغانان وژل کېږي ...»
جنرال ډنفورډ: «نن په افغانستان کې د القاعده ۳۰ تنه غړي شته دي، موږ يې معلومات ستاسو د ملي امنيت له رياست سره شريک کړي دي... »

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کیري: «مثلاً داسې ولیکو چې دواړه لوري به خپلو همکاریو ته دوام ورکوي تر څو له القاعده سره په مبارزه کې د افغانستان ځواکمني زیاته شي.
جنرال ډنفورډ: «موږ د ساري په توګه په کونړ کې په یوه لرې پرته سیمه کې همدغسې همکاري ترسره کړه».
ولسمشر کرزی: «او هلته ماشومان پکې ووژل شول»
جنرال ډنفورډ: «نه هلته ماشومان و نه وژل شول»
جان کیري: «پر دې موضوع به تر ډوډۍ خوړلو وروسته او سبا کار وکړو»
د شپې ډوډۍ د خوړلو پر مهال پر بېلا بېلو موضوعاتو لکه د ۲۰۱۴ کال پر انتخاباتو او د سولې پر پروسه خبرې وشوې. جان کیري وویل چې امریکا به د ۲۰۰۹ کال اشتباوې بیا تکرار نه کړي او بیا به د افغانستان په انتخاباتو کې مداخله نه کوي. نوموړي وویل چې د اکتوبر په میاشت کې یې نواز شریف د مهمو موضوعاتو لپاره واشنګټن ته دعوت کړی دی ځکه چې له جنرال کیاني سره له څو کلونو کار امریکا هم و نه پوهېده چې د نوموړي ستراتیژي څه ده؟»
ولسمشر کرزي وویل چې افغانستان امنیتي تړون یوازې له ګاونډیو د ژغورنې لپاره مني. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر وویل ژمنه کوي چې افغانان به د ګاونډیو له شره ژغوري. ځکه چې هغوی په ډېره ناوړه بڼه له لشکر طیبه او حقاني ډلې سره اړیکې لري. ولسمشر وویل د امنیتي تړون د منلو لپاره د امنیت ټینګښدل ډېر مهم دي، نوموړي یادونه وکړه چې له تېرو درې میاشتو را هیسې لویې ترهګریزې پېښې نه دي شوې، زیاته یې کړه که دغه حالت وساتل شي د امنیتي تړون لپاره به ګټور تمام شي. جان کیري ټینګار کاوه چې سهار ته به پر ځینو کلمو او جملو کار وکړو او وروسته به په رسنیو کې اعلان شي چې دواړه لوري په اصولو کې توافق ته رسېدلي دي. نوموړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر ته چې وخت پر وخت په رسنیو کې توندې څرګندونې کوي یادونه وکړه چې دغه کار یې په کانګرس کې زموږ چارې له ستونزو سره مخ کوي ځکه چې د بودجې تصویب او د مرستو پیسې په کانګرس پورې اړه لري. نوموړي وویل ولسمشر اوباما غواړي «دغه خبرې اترې بریالۍ شي او وروسته دی د شیکاګو او توکیو د ژمنو پر عملي کولو کار پیل کړي».

ولسمشر د ملکي مرګ ژوبلې د پایته رسېدو او د افغانستان د خلکو لپاره د ښې راتلونکې د ضمانت غوښتونکی شو وې پوښتل: «آیا امنیتي تړون به دا موږ ته راکړي؟»

جان کیري یې په ځواب کې وویل: «تاسو بې شکه چې ښه سیاستوال یاست او له وضعې څخه بشپړ معلومات لرې، زه باید حقایق ووایم، تاسو ته ضمانت نشم درکولای، بلکې موږ به له تاسو سره مرسته کوو» ولسمشر د لطیف الله مسید د نیول کېدو پېښې ته اشاره وکړه چې نوموړی امریکایانو د ملي امنیت له کارکوونکیو نه وتښتاوه او له ځانه سره یې وړی ؤ. نوموړي دغه کار د افغانستان د حاکمیت نقض وباله، ځکه چې د ولسمشر له بیا بیا غوښتنو سره امریکایانو هغه نه ؤ خوشې کړی. جان کیري په ځواب کې وویل«کله چې امنیتي تړون لاسلیک شي دغه ډول یو طرفه اعمال به بیا نه ترسره کیږي»

د ډوډۍ تر خوړلو وروسته د متن پر سر کار له سره پیل شو او دوهمه ماده تر بحث لاندې ونیول شوه. دلته جنجالي موضوع د امریکایانو له هغو قراردادیانو سره د چلن څرنګوالی ؤ چې په نبیره کې افغانان وو خو د امریکا تابعیت یې ترلاسه کړی ؤ. ولسمشر ټینګار کاوه په داسې صورت کې چې امریکایان نه پرېږدي چې هغوی د افغانستان د عدلي او قضایي نظام پر وړاندې د افغانانو په څېر ځواب ویونکي وي غوره دا ده چې افغاني تابعیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې پرېږدي. د دې وېره وه چې یاد قراردادیان به په ټولنیزو اړیکو او بېلا بېلو دعواو کې له هغه مصؤنیت نه چې امریکا ورته غوښت ناوړه استفاده وکړي. ولسمشر دغه موضوع د قاضي القضات او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون تر نظرونو پورې اړونده وبلله. دا چې شپه ډېره تېره شوې وه پر ۱۳ مه ماده بحث چې د امریکایي عسکرو د مصؤنیت په باب وه سبا ته پرېښودل شو.

غونډه سبا ته په لسو بجو په همغه اطاق کې پیل شوه، په پیل کې جان کیري غونډې ته زېری ورکړ چې ګواکي پروني راوړل شوي بدلونونه واشنګټن منلي دي. تر هغه وروسته د غونډې عادي بهیر پیل شو؛ بیا هماغه چنې وهل، دلایل او د پاڼو اړول! پر لومړۍ او دوهمه ماده یو ځل بیا بحثونه وشول. ولسمشر هغه ټکي پلاویو ته پرېښودل چې خبرې پرې وکړي او نهایي یې کړي. نوموړی څلورمې مادې ته ورغی چې له افغان امنیتي ځواکونو سره یې د امریکا پر مرستو بحث کاوه. نوموړي وغوښتل چې امریکا دې خپلې ژمنې د دې مادې په متن کې واضح کړي. هغه دا اندېښنه وښودله چې داسې نشي چې امریکا لومړی کال مرستې وکړي او دوهم کال ترې انکار وکړي. جان کیري یو ځل بیا د شیکاګو په کنفرانس کې د خپل هېواد پر ژمنو استدلال وکړ وې ویل چې ځان پر هغه څه چې له راتلونکې سره تړاو لري ژمن کولای نشي او د کانګرس له لوري یې د بودجې او مرستو د تصویب د مسالې یادونه وکړه. نوموړي د امنیتي تړون لاسلیک د خپل هېواد د کانګرس لپاره د ډاډ وسیله وباله وې ویل چې پر دې سند د استناد له مخې به کانګرس اړینې مرستې تصویب کړي.

ولسمشر کرزی: «لویه جرګه به دغه اندېښنه ولري چې امریکا هر څه غوښتي دي (د سند په متن کې) خو پخپله یې تعهد نه دی کړی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «تاسو له مصر او اسراييلو سره زموږ تړونونه ولولئ، له شلو کالو راهيسې له هغو سره مرستې کوو خو کوم الفاظ چې تاسو له موږ غواړئ په هغو کې نه دي کارېدلي. که دلته د شيکاګو تعهداتو ته اشاره وشي ځنګه به وي؟»
ولسمشر کرزی: «موږ بايد په دې باب پخپلو کې مشوره وکړو (...) زموږ انديښنه دا ده چې تړون لاسليک شوی وي او وروسته بيا تاسو زموږ له راتلونکې حکومت سره مرستې ونه کړئ او پلمې به کوئ»
جان کيري: «زه هر ځل تنازل کوم او تاسو په مقابل کې هيڅ هم نه را کوئ»
ولسمشر کرزی: «تاسو به د دې په مقابل کې دغه تړون د ډالۍ په توګه ولرئ»
جان کيري: «دا خو ډالۍ نه ده»
ولسمشر کرزی: «اصلاً تاسو ډالۍ شل کاله مخکې ترلاسه کړې ده، کله چې د شوروي جمهوريتونو اتحاد له منځه لاړ»
جان کيري: «ښه، شپږمه ماده (...) اوومه ماده درېيمه فقره»
ولسمشر کرزی: «موږ پرون د ځواکونو په خونديتوب او مجاوريت بحث وکړ، زه غواړم دلته په وضاحت يادونه وشي چې تر دې وروسته امريکايي پوځيان د خلکو کورونو ته ننوتلی نه شي او بمباري نه شي کولای»
جان کيري: «داسې وليکو، امريکا به داسې عمليات ترسره نه کړي چې په هغو کې د خلکو کورونو ته ننوزي او يا پر هغو بمباري وکړي»
استاد قاضي: «زموږ اساسي قانون په ۳۸ مه ماده کې له قانوني پروسې پرته د خلکو کورونو ته ننوتل منع کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غرمې له ډوډۍ وروسته خبرو دوام موند. جان کيري چې غوښتل يې له غرمې وروسته له افغانستان نه لاړ شي او پرواز وکړي د خبرو د دوام لپاره يوه بله شپه هم په کابل کې پاتې شو.
په دې پړاو خبرو کې جان کيري وويل څرنگه چې د دوی پوځيان په افغانستان کې له خلکو سره سر و کار ولري کله کله به په دې برخه کې ستونزې را منځته کېږي. ولسمشر غوښتل چې دا پرېږدي چې لويه جرگه پرې بحث وکړي او زياته يې کړه: «دغه برخه ما ته ډېر ارزښت لري. زه غواړم چې اصلاً په استوگنو سيمو کې عمليات ودروم خو تاسو هڅه کوئ چې يوازې پايلې يې اصلاح کړئ»
جان کيري: «يانې موږ بايد له ځانونو دفاع ونه کړو؟»
ولسمشر کرزی: «له ځانونو دفاع وکړئ خو د خلکو د ژوند په بيه نه، دلته مو له اډو سره تر څنگ پرتو سيمو او نورو سيمو خبرې کړې، نورې سيمې يانې څه؟»
جان کيري: «عمليات به د افغانانو په خوښه ترسره کېږي، تاسو تېرو ۱۲ کلونو ته مه گورئ، دغه عمليات به په داسې شرايطو کې ترسره کېږي چې افغانان به يې پخپله د ترسره کولو مسؤوليت پر غاړه اخلي»
جنرال دنفورډ: «څه شي چې تاسو (ولسمشر) وايئ هغه ريښتيا دي خو په څو مياشتو مخکې شرايطو کې! موږ اوس په هر څه کې بدلون راوستلی دی»
ولسمشر کرزی: « انډيوالانو، افغانان غواړي چې د دوی کليو او کورونو ته ستاسو د پوځيانو ورتگ په بشپړ ډول بند شي، نو متن ساده کړئ او ووايئ چې امريکايان د خلکو کورونو ته د ننوتو اجازه نه لري، بيا به يې لويه جرگه و مني!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «موږ د خلکو کورونو ته د ننوتلو نيت او پروګرام نه لرو، بلکې موږ په طالبانو پسې يو او پر هغوی عمليات ترسره کوو.»
ولسمشر کرزی: «د طالبانو مساله زموږ خپله ده، تاسو (امريکايي چارواکي) په خپله خوله په واشنګټن کې ما ته وويل چې تر دې وروسته له طالبانو سره جګړه نه لرئ»
جان کيري: «په حقيقت کې به موږ دلته اډې نه لرو، دا ستاسو اډې دي، مسايل دومره مه پېچلي کوئ چې له تاسو سره مرسته و نه کولای شو»
ولسمشر کرزی: «دوې لارې شته: يو دا چې زموږ بشپړه حاکميت همدلته و منئ او يا دا چې مسالې لويې جرګې ته لاړې شي او لويه جرګه پر هغو پرېکړې وکړي»
جان کيري: «موږ دا قصد نه لرو چې ملکي وګړي هدف وګرځوو، جنرال ډنفورډه آيا تاسو داسې کوم پلان لرئ؟»
جنرال ډنفورډ: «نه!»
جان کيري: «تاسو به هغه وخت (هغه مهال چې امنيتي تړون لاسليک شوی وي) پرمختللې وسلې، پوځي توکي او الوتکې ولرئ»
ولسمشر کرزی: «زه د امنيتي تړون غوښتونکی يم خو په دې شرط چې د افغانانو امنيت او مصؤنيت تضمين کړي، له دې پرته را ته د منلو وړ نه دی، دلته تاسو اډې، له اډو سره تر څنګ سيمې (مجاوريت) او نورې سيمې ليکلې دي ...»
جان کيري: «دغه سيمې ستاسو په توافق ټاکل کيږي»
ولسمشر کرزی: «نو د هغو پر سر توافق بايد يوازې د وزير په کچه ترسره شي»
جان کيري: «سمه ده»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «دلته نړیوالو قوانینو ته اشاره شوې ده، دا حذف کړئ» (د اوومې مادې په درېیم بند کې)
جان کیري: «گومان کوم نشو کولای حذف یې کړو»
ولسمشر کرزی: «نو بیا انتظار وکړئ چې موږ له خپلو حقوقپوهانو سره د هغو پر سر خبرې وکړو او وپوهېږو چې نړیوال قوانین او توافقات یانې څه؟»
جان کیري: «ته هر ځل د ملکي مرگ ژوبلې موضوع ما ته یادوې په داسې حال کې چې د ۹۸ سلنه مرگ ژوبلې سبب طالبان دي»
ولسمشر کرزی: «هوکې! خو موږ له طالبانو سره امنیتي تړون نه کوو، پر هغه څه چې نړیوال قوانین ورته وایي زه بې باوره شوی یم، ځکه خو یې یو ځل له خپلو حقوقپوهانو سره مطالعه کوو، نړیوالو قوانینو تر دې شېبې موږ ته خوندیتوب نه دی را وړی»
جان کیري: «که د نړیوالو قوانینو پر ځای دلته یادونه وشي چې د امریکا متحده ایالات د چلن پر اساس ملکي وگړي نه په نښه کوي؟»
ولسمشر کرزی: «نه، دا سم نه دی»
جان کیري: «ولې؟ که تاسو وایئ چې موږ قصداً ملکي وگړي وژنو زموږ بحث بیا په بل شي بدلېږي. زه به تم شم چې ...» له یوې وقفې وروسته خبرې د ماښام په شپږ نیمو بجو بیا پیل شوې او د شپې تر ناوخته پورې یې دوام درلود.
ولسمشر کرزی: «په څلورمه ماده کې د شیکاگو د ژمنه شویو پیسو یادونه شوې ده، د هغو د لگولو او مصرف د تصمیم واک څوک لري؟»
جان کیري: «په دې برخه کې د مشورې امکانات شته او بل دا چې پیسې د افغانستان د بودجې له لوري لگول کېږي، تاسو یو خپلواک هېواد یاست، دا به یو مشترک تصمیم وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «مثلاً جنرال پتریوس غوښتل د جنراتور په وسیله کندهار ته برېښنا ورکړای شي او د میلیونونو ډالرو په بیه یې جنراتور وپیره، په داسې حال کې چې موږ د دې مفکورې مخالف وو»

بسم الله محمدي: «تر اوسه پورې یوه برخه پوځي تجهیزات پخپله (امریکایان) پیري د ساتنې او مراقبت لپاره پیسې را کوي»

ولسمشر کرزی: «تاسو د ساري په توګه د پېرلو په باب چې انتخاب یې کړئ واک یې لرئ؟»

بسم الله محمدي: «نه، تر اوسه یې واک نه لرو»

جان کیري: «ښه ده، دا به پکې زیات کړو چې په کلني صورت د افغانستان ترجیحات په هغو کې په پام کې نیول کېږي»

ولسمشر کرزی: «ولې په کلني صورت، یوازې د افغانستان ترجیحات ولیکئ او پر هغو سربېره د اوومې مادې په درېیمه فقره کې مو د اډو په باب لیکلي دي د امریکایانو ځانګړې اډې او بل هغه اډې چې په ګډه ترې کار اخیستل کېږي، آیا د دغو اډو اداره او کنترول هم مشترک دی؟»

جنرال ډنفورډ: «نه دلته یوازې افغانان کنترول لري»

ولسمشر کرزی: «موږ د اډو حق غوښتی ؤ، تاسو دلته لیکلي دي چې په مناسب وخت کې د پلټنو زمینه برابرېږي، امکان لري دا سبب شي چې ډېره موده ونیسي (تر څو د پلټنې زمینه برابره شي)»

جان کیري: «دغه ډول فکر کول سم نه دي، timely لغت کېدای شي همدا اوس وي»

ډاکتر سپنتا: «که دغه دوې کلمې (timely manner) حذف کړو ...»

جان کیري: «سمه ده لرې کوو یې، یانې امریکایان افغانانو ته د خپلو اډو د پلټنې زمینه برابروي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «تاسو په نهه سیمو کې اډې غوښتې دي، آیا تاسو چې له خپلو اډو نه را وزئ ویزې ته به اړتیا لرئ که نه؟ او که له موږ نه کوم ډول د هویت کارت اخلئ او که څه؟»

جنرال ډنفورډ: «نه، بې سنده نه وزو»

ولسمشر کرزی: «دفاع وزارت باید هغو ته له اډو د وتلو اجازه ورکړي»

جنرال ډنفورډ: «د هغو لپاره به یو چوکاټ جوړ کړو»

ولسمشر کرزی: «تاسو مو خپل پوځیان ملکي هوايي ډګرونو ته راولئ (د راتلو او ورود پر مهال)»

ډاکتر سپنتا: «نور ځایونه د هغو لپاره وټاکئ»

جنرال ډنفورډ: «دا وخت غواړي او په میلیونونو ډالر لګښت پرې راځي»

ډاکتر سپنتا: «په دې ډول خو پوځیان په ملکي هوايي ډګرونو کې ظاهرېږي او دا ښه خبره نه ده»

جان کیري: «تاسو غواړئ چې هم موږ دلته وو او هم نه وو؟»

ولسمشر کرزی: «ښه دا مهمه موضوع نه ده»

ډاکتر اشرف غني: «سمه ده»

ولسمشر کرزی: «سبا ته د ملي امنیت شورا غونډه لرو او دغه سند هغوی ته وړاندې کوو، تر هغو وروسته د افغانستان د (سیاسي) مشرانو غونډه را بلو او سند هغوی ته په مخ کې ږدو او بالاخره لویه جرګه ... »

جان کیري: «(سندونه او کاغذونه په غوسه له میزه را واخیستل) دا نور پاک او وروستی شوی سند دی او هېڅ شی پکې ناحل شوي پاتې نه دي، رسنیو ته به ووایو چې پر سند توافق شوی دی»

ولسمشر کرزی: «ځینې مسالې لکه د قضا پر وړاندې د پوځیانو مصؤنیت نه دي حل شوې، او زه به ووایم چې دغه مساله لویې جرګې ته وړاندې کیږي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «ټول سند لويې جرګې ته استول کېږي خو د افغانستان ولسمشر له دې سند سره توافق کړی دی»
ډاکتر اشرف غني: «وروستی توافق د افغاني ادارو کار دی»
ولسمشر کرزی: «زه داسې سند غواړم چې د افغانانو د خونديتوب سبب شي»
جان کيري: «موږ په ګډه کار وکړ او سند مو نهايي کړ، همدغه سند به لويې جرګې ته وړاندې کوئ»
ولسمشر کرزی: «نه، مثلاً زه د لومړۍ مادې له څلورمې فقرې سره موافق نه يم» (په هغه مسوده کې، يادې فقرې د امريکايي ځواکونو د عملياتو او د هغو پر څرنګوالي بحث کاوه)
جان کيري: «تاسو ماسپښين مهال له ما سره ومنله چې دغه سند نهايي او منل شوی دی، خو اوس بل څه وايئ»
ولسمشر کرزی: «نه، زه به رسنيو ته ووايم په هغو برخو کې مو چې انديښنې درلودې پرمختګ شوی دی خو ځينې مسالې تر اوسه حل شوې نه دي»
(په پام کې وه چې د خبرو په پای کې ولسمشر کرزی او جان کيري د مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کې د خپل کار د پايلو په اړه معلومات ورکړي)
جان کيري: «راځه چې يوازې خبرې وکړو»
ولسمشر کرزی: «نه په همدې غونډه کې خبرې کوو»
جان کيري: «زه به رسنيو ته ووايم چې ولسمشر يې خپله ژمنه ماته کړه او خبرې يې واړولې»
ولسمشر کرزی: «سمه ده ووايه، خو زه نشم ويلای چې د مصؤنيت پر مسالې مو توافق کړی دی، دا زما نظر دی»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «په ډېر احترام دا د نظر موضوع نه ده، د رهبرۍ او تعهد موضوع ده»

ولسمشر کرزی: «تعهد تاسو کړی ؤ، کله مو چې پر ۲۰۰۹ کال وويل چې دوهم پړاو انتخاباتو ته ځو خو لاړ نشوئ، ما ته مې د خپل هېواد گټه تر هر څه مهمه ده»

جان کيري: «دغه (د توافق مساله) اوس په وروستيو شېبو کې وايې»

ولسمشر کرزی: «دا سمه نه ده چې زه ووايم د دې سند هره کرښه مې لوستې ده» جان کيري په غوسه خپله دوسيه وتړله وې ويل: «تاسو ويلای شئ چې دغه سند مو نهايي کړی دی او په ځينو برخو کې به يې نور کسان نظر ورکړي»

ولسمشر کرزی: «دغه سند دا ضمانت نشي کولای چې تر دې وروسته به افغان ماشومه د ترهگرۍ پر خلاف د مبارزې په نوم مخ، سترگې او لاس له لاسه نه ورکوي» جان کيري چې د ولسمشر د نرمۍ په انتظار ؤ خو د دې پر خلاف يې چې د هغه د استدلال توندېدل وليدل وې ويل: «تاسو فکر کوئ چې زه په امريکا کې د معيوب په ليدو خوشالېږم؟»

ولسمشر کرزی: «هغه معيوب چې ته يې يادوې د امريکا لپاره جنگېدلی دی، هغه جگړه چې زه يې نوره نه غواړم، زه نه غواړم چې نور د افغانستان په باب د جگړې خبرې واورم. زه رسنيو ته نشم ويلای چې دا هغه سند دی چې زه يې غواړم»

ډاکتر اشرف غني: «تاسو کوم مهم مسايل غواړئ د رسنيو په مخکې يې ووايئ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جان کيري: «اوباما وويل چې امنيتي تړون بايد د اکتوبر تر پايه لاسليک شي که نه موږ درومو، روسانو، چينايانو او هندوانو تاسو ته وويل چې دغه سند لاسليک کړئ، نن دې پخپله را ته وويل چې دغه سند نهايي شوی دی»

ولسمشر کرزی: «موږ پرمختګ کړی دی، پر ځينو برخو توافق ته هم رسېدلي يو، او دغه سند لويې جرګې ته ورځي او د افغانستان خلک يې په اړه تصميم نيسي»

جان کيري: «تاسو خو لويې جرګې ته تر ورتلو مخکې سند را وباسئ»

ولسمشر کرزی: «نه، مثلاً د مصؤنيت په باب زه نشم ويلای چې ما هغه منلی دی»

جان کيري: «نه، موږ وروستی شوی سند غواړو»

ولسمشر کرزی: «نن سهار موږ کله د مصؤنيت پر سر توافق ته رسېدلي يو؟ ما وويل چې موضوع به لويې جرګې ته وړاندې شي او زه به ترې وغواړم چې ويې مني»

ډاکتر اشرف غني: «ولسمشر به ووايي چې د مهمو مسايلو پر سر توافق شوی دی»

ولسمشر کرزی: «نه، د يو شمېر مهمو مسايلو پر سر...»

جان کيري: «زه داسې حالت نشم منلای چې د افغانستان ولسمشر ځينې برخې ونه مني، پر دې هم بايد و پوهېږي که مصؤنيت نه وي دغه تړون به هم نه وي، دغه سند تاسو ته ډېرې ګټې لري، لږ تر لږه دومره ووايئ»

ولسمشر کرزی: «دا به لويې جرګې ته ووايم خو نن يې نشم ويلای»

ډاکتر اشرف غني: (جان کيري ته په خطاب کې): «ولسمشر خپل ځانګړی چلن لري پرېږده چې خپل کار وکړي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «دا ویلای شم چې موافق یم چې دغه سند لویې جرګې ته لاړ شي»
جان کیري: «د دې مانا دا ده چې تر نومبر پورې به موږ امنیتي تړون نه لرو»
ولسمشر کرزی: «بلکل همداسې ده، موږ جرګه د نومبر په وروستیو کې را غواړو، باید دا روښانه وي چې امنیتي تړون به هغه وخت وي چې لویه جرګه یې ومني»
د جان کیري پر شونډو ترخه خندا راغله وې ویل: «ما هسې خپل وخت ضایع کړ، نور به پر دې سند خبرې و نه شي»
ولسمشر کرزی: «نه، موږ مطلقه شاهي نه یو، سند امنیت شورا ته درومي، وروسته کابینې ته او تر هغه وروسته پارلمان ته ...»
جان کیري: «ستاسو ټیم خو د هغو پر سر خبرې کړې دي تاسو داسې څه اوس ما ته وایئ چې له هغه څه سره توپیر لري چې په خپل دفتر کې دې را ته ویل. بیا هم یو فورمول لرو دا چې ووایو کلیدي مسایل حل شوي دي»
ولسمشر کرزی: «نه، یو شمېر کلیدي مسایل حل شوي دي»
جان کیري: «یانې کلیدي مسایل حل شوي دي، د مصؤنیت مساله لویې جرګې ته پرېښودل کېږي یو شمېر تخنیکي مسایل ګومارل شویو ټیمونو ته سپارل کېږي چې حل شي، په اصولو کې دا منو چې دغه سند لویې جرګې ته لاړ شي»
ولسمشر کرزی: «زه خپل الفاظ لرم. زه به داسې ووایم چې په دې سند کې یو شمېر مهم مسایل لکه د حاکمیت مساله، پوځي عملیات او د خلکو خوندیتوب په دې ټولو کې د منلو وړ کلمې مومو او په نورو مسایلو به کار وشي او د مصؤنیت مساله لویې جرګې ته سپارل کېږي ځکه چې موږ نشو کولای د هغو په باب تصیم ونیسو»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو خبرو په پای کې چې په چندان دوستانه فضا کې ترسره نه شوې د مطبوعاتي کنفرانس نوبت راغی. د شپې پر لسو بجو د هغو ځراغونو په رڼا کې چې د چار چنار په ونو کې ټینګ شوي وو د افغانستان ولسمشر او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د افغان او امریکایي ژورنالیستانو په مخ کې ودرېدل چې د خبرو اترو او د هغو د پایلو او شویو توافقاتو په تړاو خبرې وکړي.

خبریالانو کړی ورځ د همدې شېبې په انتظار په ارګ کې تېره کړې وه، ولسمشر کرزي د خپل همېشني عادت پر خلاف په تروشه څېره او حاکمانه لهجه اوږدې خبرې پیل کړې. هر څومره چې د نوموړي خبرې اوږدېدې جان کیري نا آرامه کېدو.

ولسمشر کرزي له ژورنالیستانو نه د منني په ترڅ کې چې اوږده ساعتونه یې انتظار کړی ؤ د دوو ورځو او دوو شپو د خبرو د پای ته رسېدو خبر ورکړ. نوموړي وویل افغاني لوري په خبرو کې «ملي حاکمیت او د افغانانو د ژوند او سر او مال مصؤنیت» په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي دي. نوموړي د کونړ ماشومې عایشې د مثال په یادولو چې مخ، سترګې، پزه، یو لاس او ټوله کورنۍ یې د امریکایانو په هوایي برید کې له لاسه ورکړي وو په دې برخه کې د افغان ولس ترخو تجربو ته اشاره وکړه. نوموړي پر خپل دې ټینګار چې باید د تېري تعریف روښانه شي خبرې وکړې او وې ویل چې د ستراتیژیکو همکاریو تړون د افغانستان پر ختیځو سیمو د پاکستان د تېریو د مخنیوي په باب هېڅ ډول اغېزمنتوب نه درلود.

ولسمشر افغاني لوري ته د امریکا د لیکلي ضمانت په باب خبرې وکړې چې د هغو پر بنسټ به له خپلسریو عملیاتو نه ډډه کوي او د خلکو د ژوند او مال د خوندیتوب ضمانت به کوي. نوموړي زیاته کړه چې د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضا پر وړاندې د امریکایي پوځیانو د مصؤنیت مساله به لویې جرګې ته وسپاري ځکه د افغانستان حکومت د هغو په باب د پرېکړې واک نه لري.

د ولسمشر له اوږدو او تفصیلي خبرو وروسته جان کیري خبرې پیل کړې او د افغانستان د لرغوني تاریخ یادونه یې وکړه. نوموړي په افغانستان کې د خپلو پوځیانو د قربانیو یادونه وکړه او د امریکا د شتون په سیوري کې یې د افغانستان د خلکو هغه لاسته راوړنې چې په روغتیا، زده کړو او نورو برخو کې یې درلودې یادې کړې، نوموړي د راتلونکیو انتخاباتو په باب هم خبرې وکړې او هیله یې وښودله چې افغانستان د ولسمشرۍ ښه انتخابات ولري.

د هغې شپې په سبا د تړون پر بېلا بېلو موادو زموږ بحثونو دوام وکړ.

د اکتوبر پر ۱۹ مه نېټه په هغه غونډه کې چې په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه د امنیتي او دفاعي برخو مسوولین د عدلي او قضایي څانګو له مسوولینو سره یوځای راټول وو تر څو د ولسمشر په حضور کې هغه مادې چې د افغانستان له نظره باید ډېر بحث پرې شوی وای مطالعه کړي. د (له القاعده سره د تړلیو) تعریف، د لومړۍ مادې بېلا بېلې فقرې، د څلورمې مادې اوومه فقره، د پینځمې مادې لومړۍ فقره، د شپږمې مادې لومړۍ فقره او د همدې مادې پینځمه فقره، د اوومې مادې درېیمه فقره، د نهمې مادې درېیمه فقره، د څوارلسمې مادې لومړۍ فقره، د څلورویشتمې مادې لومړۍ فقره، د شپږویشتمې مادې لومړۍ فقره او د همدې مادې دوهمه فقره او دوه ویشتمه ماده له جزیاتو سره تر بحث لاندې راغلې. دا هغه مادې او ټکي وو چې ولسمشر یې یادښت نیولی ؤ او په اړه یې پوښتنې درلودې. په ډېرو برخو کې بدلونونه راوستل شول. ډېر په زړه پورې بحثونه وشول. د ساري په توګه د دعواو د فصل په اړه په دوه ویشتمه ماده کې ولسمشر وویل: «دلته امریکایي لوري ته مطلق معافیت ورکړل شوی دی» ډاکتر سپنتا په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وویل: «داسې نه ده، معافیت دوه اړخیزه وي، که د هغوی له لوري ځوک ووژل شي همدغسې چلن به ورسره کېږي». ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «نه، له هغوی نه ځوک نه وژل کېږي، که ځوک له دوی نه یو تن ووژني تاسو به هغه سمدستي را ونیسئ او اعدام به یې کړئ، زموږ زندانونه له دغه ډول خلکو ډک دي. پر دې سربېره په دوهمه فقره کې ویل شوي دي چې په دغه ډول پېښو کې به د دوی قانون پلي کېږي، خو زموږ د قانون په باب یوازې دومره ویل شوي دي چې په پام کې به نیول کېږي»
د یادونې وړ ده چې دوه ویشتمه ماده د هغو دعواو په تړاو بحث کوي چې د امریکایي او افغان ځواکونو لخوا د خسارې اوښتلو، شتمنۍ د تخریب، ټپي کېدو او یا وژل کېدو په باب شوې وي.
په بل ځای کې، په اتمه ماده کې چې د ژوند د چاپېریال په باب بحث کوي، ولسمشر د هغه په اړه وپوښتل. ډاکتر سپنتا ځواب ورکړ: «مثلاً که تېل یا ډیزل چېرته تویې شي او د ژوند چاپېریال ککړ کړي» ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «که داسې وي موضوع آسانه ده، خو تاسو د نهمې مادې درېیمه فقره وګورئ هلته د کنوانسیونونو او نورو پر اساس د امریکا د تعهداتو یادونه کوي، موږ د دې کنوانیسونونو له ګټو خبر نه یو. نو یادو شویو کنوانسیونونو ته له اشارې پرته باید ولیکل شي چې له اتومي، بیولوژیکي او نورو موادو څخه ګټه اخیستل، ساتل، ترانزیت او ... په افغانستان کې منع دي». په همدې ډول پر نورو موادو هم بحث دوام وکړ.
جان کیري بېله دې چې لاسته راوړنه یې لرلې وي له افغانستان نه لاړ. ځکه خو د هغه له سفر وروسته پر بېلا بېلو مادو غور او د هغو لوستل، او تعدیلونو نوې لړۍ پیل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې لړ کې د نومبر پر ۱۱ مه سفير کننګهم او جنرال ډنفورډ د ولسمشر دفتر ته راغلل او د امريکا له لوري يې نوي وړانديز شوي متنونه راوړل چې د افغاني لوري لخوا د غوښتل شويو تعديلاتو په ځواب کې وو. د امريکا سفير وويل چې واشنګټن په ډېره بې صبرۍ د سند د وروستي کېدو او لويې جرګې ته يې د وړاندې کېدو انتظار کوي. ډاکتر سپنتا اختلافي ټکي داسې وشمېرل: «د القاعده او له هغو سره د تړليو کسانو مساله، له غير قانوني لارو د حکومت را نسکورول، د افغان مسوولينو له خوا له اطلاع پرته د امريکايانو د وسايطو تلاشي، او بالاره دا چې په A ضميمه کې امريکايي لوري د اډې د يادونې پر ځای اوس د ساحو کلمه کارولې ده. دا اختلافي مسايل دي» ولسمشر يو ځل بيا د هغه څه په باره کې چې امريکايانو (له القاعده سره تړلي) ياد کړي وضاحت وغوښت.

سفير کننګهم: «هغه څوک چې تخريبي عمليات ترسره کوي، لکه د حقاني ډله او هغه څوک چې دې ډلو ته پناه ورکوي»

ولسمشر کرزی: «فرض کوو د چا په کور کې يې څوک وموند خو د کور خاوند له هغه خبر نه وي چې د القاعده غړی دی، په دې حال کې به څه پېښ شي؟»

جنرال ډنفورډ: «موږ ستاسو د عدلي څانګې له چارواکيو سره دا معلوموو چې د القاعده سره تړلي کوم کسان بلل کېدای شي»

ولسمشر کرزی: «دغه تړلي يو پراخ لفظ دی، مثلاً يو منصبدار او افغان مامور له امريکا سره موافق نه دی، سبا ته به يې له القاعده سره په تړاو تورن کړي. زيات شمېر افغانان د طالبانو په نوم ووژل او بنديان شول، آيا هغوی ټول طالبان وو؟ دغه له القاعده سره تړلي يو نوی عنوان دی چې هماغه وژنې او بنديانول به تر دې وروسته په همدې نامه دوام وکړي».

(c) ketabton.com: The Digital Library



«له القاعدې سره تړلې» داسې یوه اصطلاح وه چې ما یې پر واضح کېدو ټینګار کاوه.
سفیر: «زموږ مطلب دا دی چې کوم ماموریت مو چې په ګډه ترسره کړی دی د هغو لپاره هدف و ټاکو نه د عملیاتو ترسره کول او د کورونو پلټل ...»
جنرال ډنفورډ: «د امنیتي تړون په چوکاټ کې به موږ د افغانستان له حکومت سره له نژدې کار کوو، د ملي امنیت له ریاست او نورو اړوندو ادارو سره به همکاري کوو»
ولسمشر کرزی: «امریکا له کلونو راهیسې له طالبانو سره د جګړې په نامه کارونه ترسره کړي او جګړه یې کړې ده، په دې جریان کې ډېر غلط کارونه ترسره شوي دي. ایکن بیري په دې وروستیو کې ځینې حقایق ولیکل. تاسو (امریکایي چارواکیو) په واشنګټن کې ما ته وویل چې طالبان تر دې وروسته ستاسو دښمنان نه دي. زما هدف په دې برخه کې د ډاډ ترلاسه کول دي چې تر دې وروسته افغانان رنځونه و نه ویني، کورونو ته یې څوک ور ننه نه وزي، ماشومان یې څوک و نه وژني، زه غواړم د افغانستان د راتلونکي ولسمشر کار آسانه کړم»
جنرال ډنفورډ: «د دې تړون تعمیل به د افغان حکومت کار وي»
سفیر: «تاسو وویل چې که طالبان کومه سیمه ونیسي موږ له تاسو سره څه ډول مرسته کولای شو. دلته که تعریف پراخ نه وي نو د دښمن معلومول او د هغوی پر خلاف عمل به څنګه ممکن وي؟ دغه تعریف موږ ته اجازه راکوي چې په ځانګړیو حالاتو کې په عمل لاس پورې کړو»
ولسمشر کرزی: «ما نه دي ویلي چې که طالبان کومه سیمه ونیسي ما ویلي وو چې داسې طرحه مه جوړوئ چې هغوی کوم ځای ونیسي»
جنرال ډنفورډ: «هوکې ستاسو خبره موږ ته روښانه شوه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «په لویه جرگه کې به خلک د پیسو غوښتنه ونه کړي بلکې د دوی غوښتنه به امنیت او سوله او د داسې کړنو پایته رسول وي چې په تېرو لسو کلونو کې یې دوام درلود. په جرگه کې به داسې کسان هم وي چې د تېرو کلونو په اوږدو کې یې آزار او ځورېدل لیدلي دي. نو د زندانونو په برخه کې باید ښکاره ولیکئ چې تاسو به تر دې وروسته نه کوم بندي لرئ او نه به د کوم زندان اداره ستاسو په لاس کې وي»

سفیر: «سمه ده»

ولسمشر کرزی: «اوس راځئ شپږمه ماده وگورو. دلته لیکل شوي دي چې افغانستان تل تر غیر قانوني یرغلونو او د قواو د غیر قانوني کارولو لاندې راغلی ...»

سفیر: «په بل پراگراف کې د قوې قانوني کارولو ته اشاره شوې ده، ځکه خو د غیر قانوني توب یادونه دلته ضروروي ده»

ولسمشر کرزی: «فرضاً که تاسو پاکستانیانو ته ووایئ چې په افغانستان کې د قوې په کارولو حکومت را نسکور کړئ او وروسته هغه د قوې قانوني کارول و بولئ په دې صورت کې پر همدې سند استناد کېږي او گټه ترې پورته کېدای شي، مثلاً ووایي ملا فضل الله دلته پناه اخیستې ده او موږ په قانوني ډول د هغو پر خلاف له قوې کار اخلو»

سفیر: «ټول پراگراف لرې کړو؟»

ولسمشر کرزی: «نه یوازې همدلته اصلاح شي، دلته تاسو د نورو لخوا د تېري او د قوې د کارولو خبره کړې ده، فرضاً سبا ته تاسو له ایران سره دوستان شوي یاست او موږ پخپلو کې د اوبو پر سر ستونزه ولرو هغوی له قوې کار واخلي او تاسو هغو ته قانوني ووایئ. دېرش کاله پخوا زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت د شوروي دوست ؤ او تاسو له ایران او پاکستان سره دوستي درلوده»

سفیر: «دغه پراګراف ډېر ستاسو په ګټه دی. د دې په سبب خپل ګاونډي نا آرامه (وارخطا) کولای شئ، د پټنځایونو او وسله‌والو ګروپونو مساله پکې را نغښتې ده»

ولسمشر کرزی: «نو چې ستاسو هدف وسله‌وال ګروپونه دي او د افغانستان دننه د هغوی لخوا د غیر قانوني ځواک د کارولو یادونه کوئ مانا یې دا ده چې قانوني ډلې هم شته چې په قانوني ډول دلته راغلې او له ځواک کار اخلي (...) په داسې صورت کې چې د غیر قانوني ځواک کارول ولیکې په اتومات ډول ویل کېدای شي چې د مشروع ځواک کارول هم شته. (سفیر بې ځوابه شو، سترګې یې پر ځمکه وګنډلې او تر شونډو لاندې یې له ځان سره څه ویل) دا ترې لرې کړئ نور سمېږي. اوس ستاسو د وسایطو د تلاشۍ په باب، موږ په تېرو لسو کلونو کې داسې موارد لرل، مثلاً زموږ د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ما ته وویل چې هلیکوپټرو لرغوني آثار له ځینو سیمو نه ورسره وړي دي، په دې وسایطو کې مو د غیر قانوني وسلو د لېږد راپورونه درلودل. ځکه خو د وسایطو پلټنه ضروري ده» (هغه مهال چې زه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د چارو مسوول وم یوه ورځ یوه فرانسوي مېرمن چې په افغانستان کې یې مهمه رسمي دنده درلوده زما دفتر ته راغله او د بهرنیو هلیکوپټرو په واسطه یې د لرغونو آثارو د قاچاق او لېږد په باب خبر را کړ ما ولسمشر له دې کاره خبر کړ).

سفیر: «که مخکې موږ ته خبر راکړل شي او موږ ته معلومات راکړل شي موږ به په هغو کې اقدام کوو او زمینه به برابروو»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «پر دې وخت لګېږي او ډېر ځنډېږي (... ) مثلاً په زابل کې ستاسو يو منصبدار او يا قراردادي درول کېږي، په دې سبب چې زموږ پوليسو يو شی ليدلي دي چې هغه لېږدوي، موږ که پوليس پر دې کار مکلف کړو چې والي ته خبر ورکړي، والي وزير ته ... په دې ډول يوه بشپړه ورځ په دې کې ضايع کېږي».

جنرال ډنفورډ: «موټر دې ودروي او د تلو اجازه دې نه ورکوي»

ولسمشر کرزی: «دا سمه ده موټر دې ودرول شي، تاسو ته دې خبر درکړي او بيا به موږ موټر تلاشي کوو.»

سفير: «که ستاسو چارواکي يو څوک د جرم په ترسره کولو ووينې کولای شي موټر يې ودروي»

جنرال ډنفورډ: «په دې تړون کې داسې څه نشته چې د افغانستان د حکومت لخوا زموږ د موټرو او وسايطو د درولو مانع شي، پوليس کولای شي هغه ودروي او وروسته زموږ مسوولينو ته خبر ورکړي»

ډاکتر سپنتا: «ښه ده چې دوی (امريکايان) داسې متن راوړي چې افغانانو ته د موټرو او وسايطو د درولو حق ورکړي چې وروسته بيا په ګډه تلاشي ترسره شي»

ولسمشر کرزی: «د اډو په باب! کله چې تاسو وايئ چې هدف مو يوازې د کابل د هوايي ډګر شمالي برخه نه ده، نو موخه مو د ارګ تر څنګ (د اماني لېسې په خوا کې د ابګر کمپ ته اشاره) او نورې سيمې دي؟»

جنرال ډنفورډ: «په کابل کې زموږ مرکزونه يانې د ناټو عمومي قوماندانې يانې د دفاع وزارت او کورنيو چارو وزارت (عسکري کلوب)! موږ پخوا په کابل کې ډېر مرکزونه درلودل اوس تر شلو زيات مرکزونه لرو. لويې اډې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان اړوندې وي. لنډه دا چې د نن په نسبت به په لږ او محدودو ځایونو کې شتون ولرو»
ډاکتر سپنتا: «موږ خپل کار کوونکي جرګې ته استوو، د جرګې غړي به له هغو دا پوښتنه کوي چې امریکایي اډې په دقیقه توګه چېرته وي، زموږ همکاران باید دقیق ځواب ورکړای شي»
سفیر: «په دې سند کې د سي ـ آی ـ اې د شتون په اړه هم خبره نه ده شوې خو د هغو شمېر به هم لږ وي»
ولسمشر کرزی: «دې ته هم حل لاره پیدا کړئ»
ولسمشر د نومبر پر ۱۳ مه د لویې جرګې د جوړولو له کمېسیون سره ولیدل، نوموړي هغوی ته وویل چې جرګه ډېر دښمنان لري، یو شمېر له دې وېرې چې جرګه به امنیتي تړون رد کړي او یو شمېر بیا له دې وېرې چې دغه تړون به ومني. نوموړي تشریح کړه چې افغانستان د تاریخ په ډېر حساس پړاو کې واقع دی او تېرو وختونو ته په اشارې یې وویل چې هر وخت په دغسې شرایطو کې له ولس سره مشوره شوې ده مثبته پایله یې درلودلې ده. نوموړي د کمېسیون غړیو ته خپل همېشنی شرط تکرار کړ وې ویل: «موږ کمزوري یو او لومړۍ ګټه مو سوله او امنیت دی» ولسمشر د سیمې له مهمو هېوادونو او ګاونډیانو سره د لیدنو کتنو یادونه وکړه. نوموړي د چین او هند یادونه وکړه چې له تړون سره موافق دي، د پوتین په باب یې وویل چې نوموړي څرګنده کړې وه چې د نړۍ په نورو برخو کې له امریکایانو سره اختلاف لري خو په افغانستان کې ورسره همغږی دی. هغه وویل یوازې ایران له دې تړون سره موافق نه دی. حضرت مجددي وویل چې د ایران سفیر ده ته ورغلی ؤ او ترې غوښتل یې چې افغانان دې له امنیتي تړون سره موافقه نه کوي خو ده یې ګواکې په ځواب کې ویلي وو چې افغانستان د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیانو له وېرې دغه تړون غواړي، ولسمشر د کمېسیون د غړي ښاغلي واعظي د دې پوښتنې په ځواب کې چې آیا تاسو شخصاً د امنیتي تړون موافق یاست یا مخالف، وویل: «(....) موږ د همدې په واسطه د امریکا له زیانونو ځان خوندي کوو او هڅه کوو چې له دې نه ګټه هم ترلاسه کړو، ځکه خو زیاتره د افغانستان د ژغورنې مساله مطرح ده (...) زه نورې خبرې هم لرم چې نه یې نن د ویلو وخت دی او نه په جرګه کې. دا نن چې په افغانستان کې د امن حالت لرئ، د همدې تړون د انتظار لپاره دی»
عبدالحکیم مجاهد د کمېسیون بل غړي خبرې په ایتونو او احادیثو پیل کړې او امنیتي تړون یې د حدیبیې له سولې سره ورته وباله. نوموړي د خپلو خبرو په دوام د افغانستان د قضا پر وړاندې د امریکایي پوځیانو له مصؤنیت سره مخالفت وښود هغه یې د افغانستان له اساسي قانون، شریعت او بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې سره په تضاد کې وباله. نوموړي د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې او د ملګرو ملتونو د منشور مادې په انګلیسي او شرعي دلایل په عربي له خپلې حافظې وویل چې ټول په دغسې شرایطو کې د مصؤنیت ورکولو مخالف وو. ولسمشر یې په خندا په ځواب کې وویل: «مجاهد صاحب، امریکا د نړیوالو قوانینو پابندي نه کوي، ډېره مننه چې دا ټول دې په یاد پاتې وو او موږ ته دې تشریح کړل، موږ دلته کم راغلو» (سپنتا ته په اشارې). ولسمشر د کمېسیون غړیو ته تشریح کړه چې امریکایانو په نورو برخو کې له ډېرو چنو وهلو او جنجالونو وروسته تنازل وکړ خو په هېڅ صورت دوی د افغانستان د قضا پر وړاندې د مصؤنیت لرې کولو ته حاضر نه دي. حضرت مجددي او پوهاند نعمت الله شهراني هر یوه ولسمشر امنیتي تړون منلو ته وهڅاوه، ښاغلي شهراني وویل دین مصلحت مراعات کوي او له مشرکینو سره یې د پیغمبر (ص) د لومړني تړون یادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه وې ویل: «حضرت محمد (ص) د حدیبیې سولې په متن کې آن د بسم الله الرحمن الرحیم له لیکلو تېر شو» نوموړي هغه کسان چې دا نه مني سطحي ملایان وبلل چې د اسلام له مغز نه ناخبره دي (اشاره یې عبدالحکیم مجاهد ته وه)

له ولسمشر سره د «مصؤنیت» مساله حل وه ځکه چې هغه د بحث وړ نه بلله او د هغو په تړاو یې واک په بشپړ ډول لویې جرګې ته سپارلی ؤ. بله جنجالي موضوع چې پاتې وه هغه په کلیو کې د امریکایانو ځانګړي عملیات، د کورونو تلاشي او هغو ته د دغو پوځیانو ننوتل وو. په دې اړه د امریکا له سفیر او جنرال ډنفورډ سره ډېرې غونډې وشوې. هغوی ولسمشر ته وړاندیز شوي څو متنونه راوړل، هغوی دې ته راضي شول چې د تړون په متن کې دا یادونه وشي چې په ډېرو خاصو او استثنایي حالاتو کې امریکایي پوځیان کولای شي چې د خلکو کورونو ته ننوزي او په کلیو کې عملیات ترسره کړي. خو ولسمشر پر خپل دې دریځ ولاړ ؤ چې پر استوګنو سیمو عملیات او د کورونو تلاشي باید په بشپړ ډول منع وي. ډاکتر سپنتا هڅه کوله چې ولسمشر دې ته راضي کړي په داسې صورت کې چې «مشروع دفاع» مطرح وي نو امریکایي پوځیان د خلکو کورونو او کلیو ته د ننوتلو حق لري. ولسمشر د کاپیسا د یوه اوسېدونکي پېښه یاده کړه. بهرني پوځیان د شپنیو عملیاتو پر مهال د هغه کور ته ورننوتلي وو، په داسې حال کې چې نوموړی سړی له خپلې مېرمنې او بچیانو سره د خوب په بستره کې وو یوه پوځي پر خپلو پوځي بوټانو د هغه ماشومه لور تر پښو لاندې کړې وه. د حکومتي چارواکیو له جملې څخه مارشال محمد قسیم فهیم په دې برخه کې د ولسمشر د دریځ پلوی ؤ. د دفاع وزیر بسم الله خان په خپل نوبت ډېره هڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې ولسمشر قانع کړي چې امریکایانو ته په استثنایي حالاتو کې د خلکو کورونو ته د ننوتلو او هلته د عملیاتو د ترسره کولو اجازه ورکړای شي. د نومبر د ۱۷ مې په ناسته کې چې د ماښام په پینځو بجو د ولسمشر په دفتر کې ترسره شوه او هغو ته سفیر کننګهم او جنرال ډنفورډ د ځلورم ځل لپاره د کورونو د تلاشۍ او په استوګنو سیمو د عملیاتو په باب د واشنګټن نوی وړاندیز شوی متن راوړ. ولسمشر یو ځل بیا پر هغو قناعت ونه کړ او وې ویل: «له دې بدلون سره هم امریکا پر استوګنو سیمو د عملیاتو حق ځانته خوندي ساتلی دی» هغوی ته یې وړاندیز وکړ چې امنیتي تړون چې دومره جنجالي شوی ؤ ځو میاشتې وروسته یې دې له راتلونکي حکومت او ولسمشر سره نهایي او لاسلیک کړي. سفیر په ځواب کې ورته وویل: «ښایي انتخابات مو دوهم پړاو ته لاړ شي او ځو میاشتې ونیسي، پر دې سربېره پرون تا پخپله وویل چې اوس د پخوا په څېر په دې برخه کې د خلکو شکایتونه تا ته نه راځي» ولسمشر یو ځل بیا د تېرو غمونکیو پېښو له یادولو سره وویل: «(....) دا مې وجدان نه مني ما ته د دې منل د افغانانو د حقوقو تر پښو لاندې کولو په مانا دي، هغه ځلور کلنه کونړۍ ماشومه چې نور مخ نه لري، سترګې نه لري، لاس نه لري، کورنۍ نه لري، یو څوک باید وي چې د هغې له لوري دلته خبره وکړي، دا یوه معنوي مساله هم ده» خو د دوهم پړاو انتخاباتو او د هغو د اوږدولو په باب وړاندوینې د حامد کرزي په ذهن کې د خطر بل زنګ کړنګولی ؤ. نوموړی د ۲۰۰۹ کال په انتخاباتو کې د دوهم پړاو د اجرائیه ریاست د را منځته کولو پروګرام شاهد ؤ او له هغو څخه یې ډېرې تجربې زده کړې وې. هماغه ؤ چې د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره په مخکنیو شرطونو کې پر سولې او امنیت سربېره د انتخاباتو د سالم ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو شرط هم ورزيات شو او په لويه جرگه کې يې هم د خپلو خبرو په پای کې د هغو يادونه وکړه.
ولسمشر د شيکاگو کنفرانس په څنډه کې ولسمشر اوباما ته ويلي وو چې که واشنگټن د افغانستان د خلکو خونديتوب او امنيت تضمين کړي، دی حاضر دی د افغانستان ولس ته ودرېږي او ترې وغواړي چې امنيتي تړون ومني. دلته يو ځل بيا ولسمشر د امريکا سفير او قوماندان ته وويل چې دغه سند د افغانستان له راتلونکي ولسمشر سره نهايي کړئ نوموړي وويل چې ټولو نوماندانو له هغو سره توافق ښودلی دی، خو د امريکايانو ځواب بيا هماغه ؤ. يانې که داسې وشي پروسه به ډېره اوږده شي او ستونزې به را منځته کړي. ډاکتر سپنتا په ټيټ غږ ولسمشر ته وويل: «رييس صاحب نشي کېدای چې د دولت مشران را وغواړې او د دې متن په باب نظر ترې واخلې؟» ولسمشر ځواب ورکړ : «د دې حاجت نشته زه د دې متن مخالف يم ...» ځکه خو يا بايد دغه متن اصلاح شوی وای او يا به د دواړو لوريو وړاندې شوي متنونه لويې جرگې ته وړل کېدل او پرېکړه به د لويې جرگې غړيو ته پرېښودل کېده. د هغې ورځې سبا ته د ماښام پر پينځو بجو امنيتي او دفاعي مسوولين د لويې جرگې پر امنيتي تدابيرو د بحث لپاره را غوښتل شوي وو. ما او سپنتا د تړون ژباړه چې له نظره مو تېره کړې وه بايد ولسمشر ته مو وړاندې کړې وای. ما ولسمشر ته د ژباړې د سپارلو په ترڅ کې وويل په هغه کې «حق نه لري تلاشي وکړي» جمله لرې شوې ده. ولسمشر ډېر خپه او په غوسه شو ډاکتر سپنتا او د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين ته يې مخ واړاوه او د سبب پوښتنه يې وکړه. ډاکتر سپنتا وويل: «چې دا مو ليکلي چې امريکايان د خلکو کورونو ته ننوتلای نشي نو بيا خو د تلاشۍ هېڅ پوښتنه نه مطرح کېږي» ولسمشر د انگليسي متن کاپي را وغوښتله او وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې سمدستي په دې کې اصلاح راولئ. ډاکتر سپنتا په هغه ورځ ډېر غوسه ؤ تر دې پېښې مخکې یې د مجلس د نورو غړیو په مخکې اېمل فیضي ته ویلي وو: «ستا او خُرم د امریکایانو پیسې او لنډکروزرونه خوښېږي خو بیا یې مخالفت هم کوئ»

د ډاکتر سپنتا د غوسې سبب په نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې د دې خبرې خپرېدل وو چې د امریکا او افغانستان د دولتونو تر منځ د امنیتي تړون په برخه کې د نظر اختلاف دی. ډاکتر سپنتا فکر کاوه چې دغه مساله په پټه اېمل فیضي هغې ورځپاڼې ته افشا کړې ده. امریکایانو په دې برخه کې د نظر د اختلاف له افشا کېدو ډېره وېره درلوده.

سبا یانې د نومبر پر ۱۹ مه مو د امنیتي تړون په باب یو ځل بیا غونډه وکړه، ډاکتر اشرف غني احمدزی، د مالیې وزیر ښاغلی زاخېلوال، ارشاد احمدي او اکلیل حکیمي په دې غونډه کې ګډون درلود.

دا ځل ډاکتر اشرف غني دنده اخیستې وه چې ولسمشر کرزی راضي کړي چې له تونده چلند نه تېر شي، ښاغلي غني خپلې خبرې داسې پیل کړې: «باید ووینو چې په دې سند کې موږ کومې لاسته راوړنې لرلې دي، لومړی زموږ د ملي حاکمیت حق تضمین شوی دی، دوهم دا چې امریکا نور نېغ د قوې کارولو حق نه لري، درېیم د ترهګرو خلاف د قوې کارول یوازې د افغانانو په همکارۍ ترسره کېږي، څلورم د امریکایي او افغان ځواکونو رول سرچپه شوی دی، د لومړي ځل لپاره تېری روښانه تعریف شوی دی او ویل شوي دي چې افغانستان تل د بهرنیانو تر یرغل او تېري لاندې ؤ چې هم د دولتونو له خوا ترسره شوي دي او هم د غیر دولتي ډلو له خوا او ویل شوي دي چې د افغاني ځواکونو ظرفیت باید داسې وي چې له هغو (تېریو) سره مقابله وکړای شي. ټولې ملکي خانګې د افغانستان د قوانینو تر سیوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې راغلې دي په داسې حال کې چې پخوا داسې نه وو، څوک چې موږ نامطلوب وبولو کولای شو ویې شړو. زموږ خصوصي سکتور ته زیات حقونه ورکړل شوي دي، له حقوقي نظره د تړونونو په برخه کې افغانستان ته واک ورکړل شو دی. لنډه دا چې دغه تړون څو میاشتې پخوا نامتوازن ؤ خو نن متوازن شوی دی. د شیکاګو کنفرانس مانا ۱٦ ملیارده ډالره ده هغه هم د افغانستان د بودجې په چوکاټ کې.

ولسمشر کرزی: «مګر دا چې وایي د عملیاتو لپاره د خلکو کورونو ته ورتلای شي دا څنګه کړو؟»

اشرف غني احمدزی: «تاسو د اساسي قانون ۳۸ مه ماده وګورئ...»

ولسمشر کرزي د اساسي قانون پاڼې را واړولې وې ویل: «د سړي کور له تېري خوندي دی مګر د مشهود جرم په صورت کې...»

اشرف غني احمدزی: «که همدغه ماده ذکر کړو...»

ولسمشر کرزی: «مګر دغه ماده خو بهرني ته اجازه نه ورکوي»

اشرف غني احمدزی: «مګر هغوی په غیر مستقیم ډول عملیات کوي»

ولسمشر کرزی: «هغوی دې یوازې افغانانو ته خبر ورکړي!»

اشرف غني احمدزی: «لومړۍ ماده څلورمه فقره وګورئ، یو طرفه عملیات منعه کړای شوي دي له دې جملې څخه د افغانانو په کورونو کې»

ډاکتر سپنتا: «پر دې سربېره تاسو (ولسمشر) یوه بله فقره زیاته کړې چې هغوی یې نه مني ...»

اشرف غني احمدزی: «ما ته د نوي متن یوه کاپي راکړئ! (د هغو په لوستلو یې پیل وکړ) یو بدیل کېدای شي چې وویل شي د خلکو کورونه به د اساسي قانون د ۳۸ مې مادې پر اساس خوندي وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «مگر ۳۸ مه ماده د افغانانو لپاره ده. امریکایان غواړي اوس ځانونو ته یوه لاره پیدا کړي چې د خلکو کورونو ته ور ننوزي»
ډاکټر زاخېلوال: «نه، دغه ماده هغوی هم ضمني منع کوي»
ولسمشر کرزی: «گورئ، زما جنجال دا دومره کلونه پر همدې ؤ، له جان کیري سره مې همدغه خبرې وکړې. زموږ د خلکو اختلاف له دوی سره د دې پر سر نه دی چې موږ ته ولې پیسې نه راکوي، بلکې دوی غواړي چې څوک یې کورونو ته ورننه نه وزي. افغانان د افغانانو له عملیاتو څخه نه ځورېږي»
ډاکټر سپنتا: «که ولیکل شي .... د افغانانو په غوښتنه ...»
ولسمشر کرزی: «نه، دا د افغانانو خپل کار دی. تاسو مو خپلې هڅې وکړئ خو جرگه به ستاسو چاره در وکړي»
اشرف غني احمدزی: «که د دوی په متن کې راشي ...»
ولسمشر کرزی: «نه، دواړه متنونه جرگې ته وړو»
ډاکټر زاخېلوال: «دوه بدیل متنونه جرگې ته وړل جنجال جوړوي»
ولسمشر کرزی: «لږ تر لږه لس کاله کېږي چې زه له دوی سره دغه جنجال لرم، څرنگه هغوی ته اجازه ورکړم؟ همدا اوس ستاسو د وطن یوه نجلۍ په نیویارک کې په روغتون کې بستري ده چې نه مخ لري، نه سترگې لري، نه کورنۍ، د هغې ماشومې ویندوی باید څوک وي؟
ډاکټر زاخېلوال: «اوس وضعیت ډېر ښه شوی دی»
ولسمشر کرزی: «هوکې! خو د همدې جنجالونو او همدغو قربانیو په برکت ښه شوی دی»
اشرف غني احمدزی: «که د مثال په توگه د افغانانو له یوه کوره پر هغوی ډزې وشي هغوی باید څه وکړي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «هغوی دې پر کور عملیات نه کوي، که یې وکړي نو همدغه د نن ورځې وضعیت به وي. د ننگرهار د بهسودو پېښه مو هېره ده؟ ما یې جنرال را وغوښت ورته ومې ویل ولې مو داسې وکړل؟ وې ویل دا متقابل غبرگون ؤ. ورته ومې ویل چې ته د طالبانو د توغندیو په بدل کې ماشومان وژنې؟ بې ځوابه شو. هغوی غواړي د خلکو وژلو ته دوام ورکړي او ته (ډاکتر اشرف غني ته اشاره) به ولسمشر وې او ما به پخپل لاسلیک هغوی ته د دې اجازه ورکړې وي، په دې ډول به مې ستا لاسونه تړلي وي، که څه هم په فوق العاده حالاتو کې وي»

ډاکتر سپنتا: «هغوی په داسې وضعه کې د عملیاتو اجازه غواړي چې مثلاً پوځیان یې تښتول شوي وي او یا پېچلي ماین ایښودلو حالت کې، او په داسې حالت کې چې هغوی دا نه وایي خو هماغه اصلي حالت یې هدف دی چې القاعده دی. باید په واحده جمله بندئ جرگې ته لاړ شو څکه چې خلک خامخا زموږ جمله بندي مني»

ولسمشر کرزی: «ته وایې چې زه جرگې ته دوکه ورکړم او دروغ ورته ووایم؟»

ډاکتر سپنتا: «نه، یوازې په استثنایي حالت کې...»

ولسمشر کرزی: «دا هغو ته پلمه په لاس ورکوي، وایي استثنایي حالت ؤ، هلته دهشکه درېدلې وه، زه ورتلای نشوای او برید مې وکړ، دغه حالت چې تاسو وایئ نه پېښېږي هر څه پخوا شوي او زموږ په مخکې شوي دي. د کونړ حالت مو په یاد نه دی؟ پوځي عملیات یاني، بم، الوتکه، وژل. پوځي عملیات خو خلکو ته د گلانو ورکول نه دي»

ډاکتر سپنتا: «د پوځي عملیاتو کلمه خو تاسو پخپله ور زیاته کړه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «هوکې! خو د دې لپاره چې منع شي، هغوی خو هغه گونگ پرېښي وو»
اکليل حکيمي: «موږ د توقيف په باب يوه ماده ليکلې وه چې (توقيف) منع شوی ؤ، هغوی غوښتل چې لاس يې آزاد وي. موخه يې هغه مهال هم القاعده وه چې د هغو د نيولو لپاره د خلکو کورونو ته لاړ شي. اوس يې هغو ته د استثنايي حالاتو عنوان ورکړی دی، نو ښه ده چې ويې منو»
ولسمشر کرزی: «که وايئ چې دا ښه دی نو لاړ شئ جرگې ته و وايئ»
ډاکتر زاخېلوال: «خلکو ته دا ويلای شو»
ولسمشر کرزی: «سمه ده، لاړ شئ دواړه متنونه درسره يوسئ»
ډاکتر زاخېلوال: «دواړه متنونه خبره خرابوي»
ډاکتر سپنتا: «هغوی وايي چې د دې امکان د بندېدو په صورت کې (په استوگنو سيمو کې عمليات) زموږ کانگرس تړون ردوي، که تاسو لويه جرگه لرئ موږ هم خپل کانگرس لرو. زه د دې پلوی نه يم چې دغه تړون د لويې جرگې له مثبتې توصيې پرته را ووزي»
ولسمشر کرزی: «زه د دې تړون پلوی يم خو وجدان مې اجازه نه راکوي چې امريکايانو ته د خلکو په کورونو کې د عملياتو حق ورکړم»
ډاکتر زاخېلوال: «په داسې صورت کې چې هغوی دلته خپل مهم هدف ته لاسرسی پيدا نه کړي، مثلاً کوم چېرته په يوه کور کې ايمن الظواهري وي او دوی ورپسې ورتلای نشي...»
ولسمشر کرزی: «زموږ دولت ته دې ووايي»
ډاکتر زاخېلوال: «خو که دولت دا توان و نه لري... »
ولسمشر کرزی: «نو الظواهري الوتکه ده؟ سټلايټ دی، الظواهري خو سړی دی که ډېر زورور وي ستاسو د رامبو په څېر به وي، دومره دومره متې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې وي او يو لوی ټوپک به يې په لاس کې وي او پر ملا به يې بمونه راځړېدلي وي. داسې خو نشي کېدای چې هغه په يوه کور کې وي او F-۱٦ الوتکه به يې تر څنګ ولاړه وي.
ډاکتر زاخېلوال: «خو دلته د اعتماد خبره ده، که الظواهري ته مخکې خبر ورکړل شوی وي ...»
ولسمشر کرزی: «نو بيا خو امريکايان چې پر چا اعتماد نه لري تړون دې نه ورسره لاسليکوي»
اشرف غني احمدزی: «که جرګې ته له دوو متنونو سره لاړ شو، د افغانستان بديل سل په سلو کې منل کېږي نو راځئ چې د يوه واحد متن چوکاټ پيدا کړو، راځئ داسې لاره پيدا کړو چې رييس صاحب له هغو دفاع وکړي»
ډاکتر سپنتا: « رييس صاحب يې دې دفاع نه کوي خو مخالفت يې دې نه کوي»
تر دې وروسته ارشاد احمدي يو متن ولیکه چې په هغو کې هم د اساسي قانون ۳۸ مې مادې ته اشاره شوې وه»
ولسمشر کرزی: «متن خُرم صاحب ته ورکړئ چې ويې ويني»
ما وويل: «په اساسي قانون کې هېڅ وضاحت نشته چې بهرنی يا څوک چې له چا سره د چا کور ته ورځي د ورتلو حق نه لري»
اشرف غني احمدزی (په ډېره غوسه): «طبعاً دا د حاکميت مساله ده، ښکاره ده چې بهرنيان نشي کولای»
ولسمشر کرزی: «نو چې داسې ده او په اساسي قانون کې زموږ هدف يوازې افغانان دي نو زموږ په متن کې د ۳۸ مې مادې يادونه بې ځايه او بې مورده ده، ځکه چې موږ د امريکايانو په باب بحث کوو»
اشرف غني احمدزی: «نو لويه جرګه لغوه کړئ!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «نه، هلته توضیح ورکوو»
اشرف غني احمدزی: «که داسې ووایو چې په استثنایي حالاتو کې چې پېښېږي امریکایان غوښتنه کوي خو کورونو ته ننوتلای نشي»
ولسمشر کرزی: «چې کور ته ننه نه وزي، مرسته وکړي، ښه ده»
ضرار احمد عثماني: «استثنایي حالت باید تعریف شي، په کال کې څومره ځله پېښېږي ...»
ولسمشر کرزی: «تاسو فکر وکړئ، دا چې نن خلک پاځون نه کوي پوهېږي چې ولسمشر یې دفاع کوي. دلته القاعده هم تعریف نه لري، سبا ته هر سړی القاعده کېدای شي، سبا ته همدغه بسم الله خان القاعده کولای شي، دا د راتلونکیو لسو کلونو لپاره د خلکو پر کورونو د بریدونو د دوام پلمه کېږي»
تر هغه وروسته ډاکتر اشرف غني احمدزي یو متن ولیکلو چې په هغو کې یې لیکلي وو چې امریکایي پوځیان د افغان پوځیانو په غوښتنه له هغو سره مرسته کولای شي ښېله دې چې د خلکو کورونو ته ور ننوزي.
ولسمشر وویل سم دی، خو ما اعتراض وکړ و مې ویل چې په دې دلیل سم نه دی چې مثلاً امریکایي پوځیان په یوه کلي کې کوم کور په نښه کوي، وروسته له دوی نه د مرستې غوښتنه کېږي هغوی بې له دې چې کور ته ور ننوزي په هاوان یې هدف ګرځوي. خو ولسمشر زما په ځواب کې وویل: «نه، همدغه وروستی متن سم دی»
د همغې ورځې په ماښام د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري ولسمشر کرزي ته زنګ وواهه د کار د پرمختګ او د پاتې اختلافونو په باب یې خبرې وکړې. ولسمشر جان کیري ته وویل چې په استوګنو سیمو کې د عملیاتو او د خلکو د کورونو د پلټلو په اړه به لویې جرګې ته له دوو متنونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لاړ شو. نوموړي د بهرنیو چارو له وزیره وغوښتل چې پخپله کابل ته راشي او د ملکي مرګ ژوبلې په باب شخصاً د جرګې غړیو ته ډاډ ورکړي چې هغه څه چې پخوا پېښ شوي دي په راتلونکې کې پېښ نه شي. له دې پرته دې امریکا امنیتي تړون له راتلونکي ولسمشر او د افغانستان له راتلونکي حکومت سره لاسلیک کړي. جان کیري ولسمشر ته وړاندیز وکړ چې بارک اوباما به د لیک په واسطه د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکړي چې تېرې زړه بوږنوونکې پېښې به تکرار نشي. نوموړي له راتلونکي ولسمشر سره د تړون لاسلیک «غمیزه» وبلله او هغه یې ناشونی کار وباله. ولسمشر کرزي وغوښتل چې د اوباما د لیک متن دې له افغانانو سره شریک کړای شي او زموږ له موافقې وروسته یې دې لاسلیک کړي.

د تیلفوني خبرو له پای ته رسېدو څو دقیقې وروسته سفیر او جنرال ډنفورډ ارګ ته راغلل. ولسمشر له جان کیري سره د خبرو په کیسه بوخت ؤ چې ښاغلی رحیمي د ولسمشر سکرتر کوټې ته را ننوت او وې ویل چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر غواړي له سفیر سره یې په ټلیفون خبرې وکړي. جان کیري خپل سفیر ته دافغانستان له ولسمشر سره د خپلو خبرو معلومات ورکړي وو او د ولسمشر له لیک نه یې هغه خبر کړی ؤ چې په پام کې وه را واستول شي. ولسمشر کرزي ټینګار کاوه چې د امریکا ولسمشر په خپل لیک کې له تېرو پېښو او د ملکي مرګ ژوبلې څخه چې افغانانو ته اوښتې وه، پښېماني او خپګان وښيي او ژمنه وکړي چې په راتلونکې کې به د افغانانو د سر او مال عزت او درناوی کوي. کله چې سفیر او جنرال ډنفورډ د ولسمشر له دفتره ووتل ډاکتر سپنتا ولسمشر ته مخ ور واړاوه او وې ویل: «دا سمه ده چې د دوی لاس نن زموږ تر تېره لاندې دی، خو رییس صاحب!دوی ډېر کسات اخیستونکي خلک دي» ولسمشر یې په ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وویل: «یو ځل چې تضمین ترې واخلو بیا دې راشي ما دې ووژني او یا مې دې زوی وتښتوي او ویې دې وژني، د افغانانو په میلیونونو بچیان همدا اوس وژل کېږي».

سبا ته د نومبر پر ۲۰ مه د ولسمشر مرستیالان، ډاکتر اشرف غني احمدزی، ډاکتر زاخېلوال، ارشاد احمدي، ضرار احمد عثماني، اکلیل حکیمي او مورږ د ولسمشر همکارانو سهار پر لس نیمو بجو غونډه وکړه.

ولسمشر د پرونۍ غونډې او له جان کیري سره د تیلفوني خبرو بهیر خپلو مرستیالانو ته تشریح کړ وې ویل چې امریکایان باید د اوباما د لیک مسوده را ولېږي او له اصلاح وروسته یې لاسلیک کړي او بیا یې را واستوي. مارشال فهیم د ښاغلي کیري ژمنه «عاطفي خبره» وبلله وې ویل چې امکان نه لري چې داسې وکړي. حضرت عمر زاخېلوال هم د لیک د را لېږلو په باب شک وښود، هغه وویل د امریکایانو دلته څو زره کسان وژل شوي دي او په میلیاردونو ډالر یې لگولي دي په تېرو پېښو د پښېمانۍ ښودل دوی ته ناممکن دي. نومړي وویل چې زمورږ عام خلک وایي چې اوس وضعه ډېره ښه شوې ده.

ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «ته څه د هغوی پر ځای غږېږې!»

زاخېلوال وویل: «زه وېرېږم چې مساله خرابه نه کړو او بل دا چې خلکو ته به یې د لیک ور ښودل ښه کار نه وي»

ولسمشر وویل: «هغوی پخپله دا هر څه منلي دي ته ولې په دې کې ستونزې تراشې؟ (...) که لیک را وا نه ستوي بیا ته جرگې ته ورځې او له سند نه دفاع کوې؟» ډاکتر زاخېلوال: «زه په دې کې درې پاڼې لاسته راوړنې لرم، هغه جرگې ته تشریح کوم (...) ما پخوانۍ بې آبۍ لیدلې دي پر ۱۹۹۸ کال چې طالبان حاکمان وو زه په پېښور کې د کارخانو بازار ته لاړم، زیات شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانې مېرمنې را ټولې شوې وې، سوداګر به هغو ته لس کلدارې ورکولې خو هرې يوې بايد مخ لوڅ کړی وای او هغه ته يې ور ښودلی وای، خو نن بيرغ لرو، پاسپورت لرو، عزت لرو.»

مارشال فهيم: «موږ خو له پاکستان سره دښمني لرو، که طالبان راشي جګړه کېږي. ډېر تر ډېره به په يوه غره او يوه دره کې مقاومت وشي، اوس خلکو آرامي ليدلې ده او په خپلو بسترو کې آرام ويده کېږي. زه وايم که امريکا وي، زموږ حيثيت دې خوندي وي. خو که د يوه لوچک بادار په څېر وي نه يې منو. دا د امريکا په باب زما دريځ دی. ستا په اړه (ولسمشر ته اشاره) په ملګرتيا او کاکه ګۍ، که ته اور ته درومې درسره ځم، که نه د جرګې په باب له ما نه چا پوښتنه هم نه ده کړې او نه يې له ما نه کسان نيولي دي (...) نو ګيله لرم. خپله ګيله به اوس ووايم او د زړه براس به مې ووزي (...) زما له نظره امريکا چې راغلې له اولې ورځې يې زموږ په ګټه کار کړی، زموږ دښمنان يې وهلي دي، شپني عمليات يې په بغلان، تخار او کندز کې ډېر اغېزناک وو، کېدای شي په جنوبي لوري کې يې خرابۍ کړې وي»

ولسمشر کرزي وويل: «په شمال کې يې هم خرابۍ کړې خلک يې وژلي دي»

ډاکتر اشرف غني احمدزي يو ځل بيا د هغو مثبتو مواردو لېست چې په امنيتي تړون کې را ټول وو په تفصيل ووايه. نوموړي وويل: «د امريکا هېڅ شريک داسې ښکاره او تعريف شوی تعهد نه دی اخيستی او دا بايد ولس ته وويل شي (...) خو موږ د مجبوريت په حالت کې يو (...) نو بايد پخپله د خپل هېواد خاوندان شو. بهرنيان زموږ هېواد را ته جوړولای نشي، بنسټيز ټکی چې تاسو ته متوجه دی، وروستۍ پرېکړه ستاسو په لاس کې ده (اشاره ولسمشر ته) خو موږ بحث او مشوره کوو آيا په دې پړاو کې د عراق لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کوو که کومه بله لاره (...) د خلکو وېره له دې څخه ده چې د خلکو کورونو ته به د امريکايانو ننوتل عام شي. کورونو ته د ننوتلو له استثنا څخه دفاع کولای شو. (...) که د عراق لاره نه غوره کوو نو دغه تړون بايد برياﻟﯽ کړو»

د اوږدو خبرو او بحثونو په بهير کې ولسمشر او مارشال فهيم هر يو د لاسونو مينځلو ته لاړل، نور کسان حاضر وو، ډاکتر سپنتا ما ته مخ را واړاوه وې ويل: «خُرم صاحب! سره له دې چې په نظرياتو کې بشپړ سره مخالف يو او دا ښکاره وايم، خو زه تا ته تسليم يم او قسم خورم چې د زده کړې کورس هم درنه نيسم! بس په دې يوه لاس دې ټول حکومت را څرخوې.

ډاکتر اشرف غني احمدزي يو ځل بيا دا هڅه کوله چې د افغاني لوري په متن کې بدلونونه را ولي او د ولسمشر خوښه پکې ترلاسه کړي خو ولسمشر يې په ځواب کې وويل په داسې صورت کې چې د ولسمشر اوباما ليک را ورسېږي او د تېرو غلطيو يادونه پکې شوې وي په هغو صورت کې له افغاني متن سره توافق کوي. ډاکتر سپنتا وويل: «رييس صاحب يوه پوښتنه لرم، ستا د فکر او زړه په منځ کې توپير شته دی، ستاسو زړه د خلکو د وژلو په دليل دغه تړون نه غواړي آيا د خپل زړه او فکر تر منځ دې تعادل راولې که نه؟ د هراتيانو په اصطلاح غاښونه دې پر ځيګر ټينګوې که نه؟ »

ولسمشر وويل: «په خپل ځيګر غاښونه ټينګوم خو د ولس پر ځيګر يې نه ټينګوم»

ډاکتر سپنتا: «مګر موږ پرمختګونه وکړل (د تړون په متن کې)

ولسمشر کرزی: «پرمختګ مو په دې دليل وکړ چې همداسې ودرېدو او مقاومت مو وکړ، اوس هم که ودرېږو نو پرمختګ به وکړو (...) سبا ته مثلاً ۰۴ قطعه عمليات کوي، نن له پاکستان سره په معامله کې دا کار کوي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران سره په معامله کې دا کار کوي، پرېږدئ چې په کلک درېدو زه خپل کار وکړم، څه فشارونه راباندې راوړئ!؟»

داسې ښکارېدله چې امریکا پر دولتي چارواکیو ډېر زیات فشارونه راوړي وو چې حامد کرزی را نرم کړي تر څو په وروستیو شپېو کې وروستی شوی او بشپړ شوی سند لویې جرگې ته وړاندې کړي، هغوی به کله استدلال کاوه او کله به یې زغم له لاسه ورکړ، خو هر ځل د ولسمشر له استدلال او رد ځواب سره مخ کېدل. له لویې جرگې نه یوه ورځ وړاندې ماښام مهال په دفتر کې را ټول شوي وو، ولسمشر د هغه ارزگاني ځوان کیسه کوله چې استرالیایانو په دښته کې له خپلې ۱۹ کلنې مېرمنې څخه په هلیکوپتر کې را پورته کړی ؤ او بگرام ته یې راوړی ؤ دلته په زندان کې پروت ؤ. د نوموړي کیسه ښاغلي دادرس لیدلې وه چې د هرې پوښتنې په ځواب کې به یې ویل چې «زما مېرمن مو څه کړه؟» ولسمشر وویل: «زه د ولسمشر په توگه باید هغه ځوان ته ځواب ووایم، ته د ملي امنیت د سلاکار په توگه باید ځواب ورکړې، ستاسو په اصطلاح دغه هم شهروند دی او حقوق لري (...)» کله چې د کیري زنگ راغی، ولسمشر یو ځل بیا د ولسمشر اوباما د لیک غوښتنه وکړه او ټینگار یې وکړ چې مسوده یې مخکې ووینو تر هغو وروسته یې بیا لاسلیک شوې پاڼه را ولېږي.

## له امریکا سره د امنیتي او دفاعي تړون په تړاو مشورتي لویه‌جرگه

مشورتي لویه جرگه د ۲۰۱۳ کال د نومبر په ۲۱ مه د لویې جرگې په مشهور تالار کې جوړه شوه. زما مشوره ولسمشر ته دا وه چې په عنوان کې له لویې جرگې سره مشورتي ور زیات کړي. ولسمشر پرېښې وه چې په بشپړه آزادۍ د اړوندو کمېسیونونو له لوري ټولې مقدماتي چارې او تیارۍ ترسره شي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ټولو چارو په سر کې د چارو د ادارې رييس ډاکتر صادق مدبر ؤ، د ولسمشر ترجيح دا وه چې د لويې جرگې رييس حضرت صاحب شي.

د امريکا بېشانه حرص او تمې او د جرگې په چارو کې د ولسمشر نه مداخلې ته په پام مې گومان دا ؤ چې نوموړي د خلکو د آزادانه رايې په باب کوم حساب کړی ؤ هغه به سم را ونه وزي.

ډاکتر مدبر زما صميمي او ښه ملگری ؤ، تر دې وړاندې يې د يوې شېبې لپاره هم زه نه وم آزرده کړی خو د دې جرگې په جوړولو کې يې چلن بشپړ بدل شو. زما هغه وړانديزونه چې د امريکا د ميل خلاف وو په کلکه او له نه او نو پرته يې ردول. حضرت مجددي د تړون له پلويانو څخه ؤ، لنډه دا چې څرگنده وه چې جرگه په هغه لوري روانه وه چې امريکايانو غوښتل. ځکه خو لويې جرگې ته مشورتي ماهيت ورکول ضروري ښکارېدل.

وروستی شوی سند د «امريکا متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د امنيتي او دفاعي همکاريو تړون» تر عنوان لاندې په پښتو او دري دوو ژبو له يوې مقدمې، شپږ ويشت مادو او دوو ضميمو سره لويې جرگې ته وړاندې شو. په (الف) ضميمه د هغو ساحو او سيمو نوملړ چې بالفعل د امريکا اډې او تاسيسات پکې وو او يا په راتلونکي کې پکې جوړېدل ياد شوي ؤ. لاندې سيمې په دې نوملړ کې شاملې وې: کابل، بگرام، مزار شريف، هرات، کندهار، شوراب (هلمند)، گرديز، جلال‌اباد او شينډنډ. په (ب) ضميمه کې د امريکايي پوځيانو د ننوتلو او وتلو رسمي ځايونه ليکل شوي وو چې په هغو کې د بگرام هوايي ډگر، کندهار، شينډنډ، هرات، مزار شريف، شوراب او کابل او ځمکني بندرونه تورخم، سپين بولدک، تورغندي، حيرتان او شېرخان بندر شامل وو. نور بندرونه او هوايي ډگرونه هم د دواړو لوريو په توافق پر دې ور زياتېدای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د قضايي قوې پر وړاندې د امريکايي ځواکونو د مصؤنيت موضوع له پيله ولسمشر لويې جرگې ته پرېښې وه. د اوومې مادې د درېيمې فقرې په برخه کې يانې دا چې امريکايان په استوگنو سيمو کې د عملياتو او د خلکو کورونو ته د ورننوتلو او د هغو د تلاشۍ اجازه لري او که نه تر پايه د اتفاق وړ متن او کلمو په موندلو بريالي نشوو، ځکه خو امريکايانو د ولسمشر غوښتنې ته سر ټيټ کړ او ولسمشر اوباما په هغه سهار چې لويه جرگه افتتاح کېدله لاسليک شوی مکتوب د ضمانت په توگه ارگ ته را واستاوه. د يادولو وړ ده چې د دغه ليک مسوده يوه شپه وړاندې ولسمشر اصلاح کړه او د لاسليک لپاره يې امريکايي لوري ته واستوله.

د امريکا ولسمشر په خپل ليک کې يادونه کړې وه چې امريکايان به د افغانانو د کورونو خونديتوب او سلامتۍ د خپلو کورونو په څېر د درناوي وړ گڼي.

د بارک اوباما د ليک په ترلاسه کولو سربېره ولسمشر غوښتل چې د دواړو لويو وړانديز شوی متن چې په استوگنو سيمو کې د عملياتو او د امريکايانو لخوا د خلکو د کورونو د پلټلو په باب وو جرگې ته يوسي او هغوی ته يې ولولي. څرنگه چې د ملي امنيت سلاکار د خبرو کوونکيو د پلاوي رييس ؤ دفتر يې د اړوندو ټولو کاغذونو او د تړون د متن د چمتو کولو مسووليت درلود. په داسې حال کې چې موټرونه د باندې د گلخانې ماڼۍ په مخ کې کتار ولاړ او حرکت ته چمتو وو، ولسمشر او زه د نوموړي په دفتر کې د افغاني وړانديز شوي متن په انتظار وو. متن بايد د ډاکتر سپنتا همکار ښاغلي فوشنجي زما همکار جاويد کوټوال ته استولی وای او ما به هغه ولسمشر ته سپاره. په متن کې د امريکايانو لخوا د کورونو د تلاشۍ او د هغو منع کېدل ياد شوي وو. دوه ځله موږ اصلاح کړ او د اصلاح شوي متن په انتظار وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم ځل هم چې متن موږ ته پرته له اصلاح کېدو را ورسېد ولسمشر ډاکتر سپنتا ته زنګ وواهه او په غوسه یې د سبب پوښتنه وکړه، ښاغلي سپنتا په ځواب کې وویل: «زما د همکار غلطي وه» ولسمشر په غوسه د هغه همکار ته ځو سپورې خبرې وکړې چې پرلپسې (غلطۍ) یې کړې وې.
بالاخره موږ د امریکایانو له وړاندیز شوي متن، د افغاني لوري له متن او د ولسمشر بارک اوباما له لیک سره د لویې جرګې په لور وخوځېدو. د افغاني لوري په متن کې داسې راغلي وو: «امریکایي ځواکونه د تلاشۍ او عملیاتو لپاره د خلکو کورونو ته نشي ننوتلای. امریکایي ځواکونه نشي کولای افغانان بندیان کړي او په افغانستان کې زندان نشي درلودلای.
ولسمشر په لویه جرګه کې خپله وینا د جرګې د موخې په بیانولو پیل کړه، نوموړي زیاته کړه چې هېڅوک د ده استازیتوب نشي کولای او د لویې جرګې نه یې وغوښتل چې خپلواک او ملي ګټو ته په پام تصمیم ونیسي، نوموړي وویل: «زما استازی د افغانستان د خلکو ملي وجدان دی» ولسمشر تشریح کړه چې په څه ډول یې د دې تړون هره جمله او کلمه پخپله لوستې ده او په هغو کې یې بدلونونه راوستلي دي. نوموړي د امنیتي تړون له اهدافو څخه یو د افغانستان د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا وباله او له دې یې شکایت وکړ چې دی جېټ الوتکې غواړي خو امریکایان «بمبیرک» ورکوي. ولسمشر د اوباما د لیک یوه برخه جرګې ته ولوستله چې د ضمانت حیثیت یې درلود.
ښاغلي اوباما په خپل لیک کې یادونه کړې وه چې: «(...) پوهېږم چې تاسو هڅه کوئ چې د افغانستان خلک د جګړې له ناوړه اغېزو نه خوندي وي په تېره د هغوی کورونه! موږ په دې وروستیو کې هڅه کړې ده چې دغه هیله ترسره شي (...) د امریکا متحده ایالاتو ځواکونه به د عملیاتو په موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانانو کورونو ته نه ور ننوزي د سمدستي فوق العاده حالاتو او امريکايي ځواکونو ته د جدي خطر د پېښېدو له استثنا پرته (...)»

د سنا د مجلس يوې غړې بلقيس روشن چې چپي ماؤېستي تمايلات يې درلودل ودرېده او د اعتراض غږ يې اوچت کړ. نوموړې امنيتي تړون د «وطن پلورنې وثيقه» وبلله. د جرگې يو شمېر غړي چې هڅه يې کوله چې د هغې د اعتراض مخه ونيسي د ولسمشر له توند غبرگون سره مخ شول. ولسمشر وويل چې هر څوک کولای شي په جرگه کې خپل نظر ووايي. نوموړې د هغو غبرونو په ځواب کې چې مېرمن بلقيس يې د ايران او پاکستان نوکره بلله د اعتراض په دود وويل: «زه پخپله د دې تړون پر مخالفت تورن يم په داسې حال کې چې زه يې مخالف نه يم بلکې د هغو د منلو لپاره شرطونه لرم. که له تړون سره مخالفت له ايران او پاکستان سره تړاو گڼل کيږي بيا له هغو څخه دفاع له امريکا سره تړاو دی» ولسمشر په خپله وينا کې داسې جملې وکارولې چې د لويې جرگې غړيو له هغو څخه داسې انگېرله چې گواکي نوموړی ورسره موافق دی. نوموړي وويل که دغه تړون نه وي امريکايان زموږ له هېواده وزي او له دوی سره به نور هېوادونه او آن يو شمېر مسلمان هېوادونه هم لاړ شي. نوموړي امنيتي تړون د گزار (تېرېدو) په پړاو کې د هېواد د ثبات ضامن وباله. نوموړي همدارنگه د هغو مشورو چې د سيمې له هېوادونو او مهمو مسلمانو هېوادونو سره د دې تړون په باب کړې وې يادونه وکړه او وې ويل چې له ايران پرته نورو توافق درلود چې افغانستان يې د خپلو شرايطو په چوکاټ کې له امريکا سره لاسليك کړي. خو په پای کې ولسمشر يوه موضوع په ډېره ظريفانه بڼه ياده کړه چې په لومړيو کې د ډېرو لږو کسانو هغو ته پام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي وويل: همکاري دا ايجابوي چې اعتماد په منځ کې وي، زما او امريکا ترمنځ اعتماد نشته. که تاسو له دې تړون سره موافقه ځرګنده کړی، تړون بايد داسې وخت لاسليك شي چې انتخابات ترسره شي او امن رامنځته شوی وي. نو موږ د يوې مودې غوښتونکي يو، که انتخابات خرابی لور ته لاړ شي ملامتي يې زما پر اوږو رالوېږي. زه داسې انتخابات غواړم چې په امنيت کې ترسره شي.» هغه خپله وينا په دې جمله پايته ورسوله: «له نړۍ سره اړيکې درلودل زموږ په خير دي او په خپلواکۍ کې زموږ عزت دی»
په لويه جرګه کې د امنيتي تړون پلويان ډېر فعال وو. حضرت مجددي چې د لويې جرګې مشر وټاکل شو صادق مدبر چې د لويې جرګې د تدوير مشر ؤ او استاد شهراني چې د جرګې مرستيالي يې پر اوږو وه د جرګې بې نه او نوپلويانو څخه وو. ښاغلي مدبر د لويې جرګې د غړيو په ټاکلو کې تر خپله وسه کار وکړ او هڅه يې وکړه چې داسې کسان جرګې ته راشي چې له تړون څخه پلويتوب وکړي. پر دې سربېره په دې برخه کې فعال وزيران، نور کسان چې رسمي دندې يې نه درلودې او يا يې د لويې جرګې غړيتوب هم نه درلود خېمې ته يې آزادانه تګ راتګ کاوه او د جرګې غړي يې دې ته هڅول چې تړون تائيد کړي، چې له هغې ډلې څخه جاويد لودين يادولی شو. زموږ د ملي امنيت شورا دفتر هم ډېر کسان دې کار ته ګومارلي وو. د کمېټو په منځ کې مخالفو او انتقادي نظرونو ته د مطرح کېدو وخت نه ورکول کېدو.

د لويې جرګې له پايته رسېدو نه يوه ورځ مخکې له ماسپښين وروسته زما دوست «محمد ضيا بوميا» چې د لويې جرګې غړی ؤ احوال راکړ چې حضرت صاحب، شهراني صاحب، ډاکتر مدبر او ډاکتر سپنتا کمېټو ته سر ورښکاره کوي او د جرګې غړيو ته سپارښتنه کوي چې په وړانديزونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو چې د وروستۍ کاري ورځې په ترځ کې يې عمومي غونډې ته لولي دا ور زيات کړي چې ولسمشر بايد د جرګې له پايته رسېدو وروسته د يوې اونۍ په اوږدو کې امنيتي تړون لاسليك کړي.
دا برالا مداخله، خلکو د دوی ارادې او رايې ته سپکاوی ؤ. زه سمدستي د ولسمشر دفتر ته ورغلم ورته ومې ويل چې داسې د خلکو په وجدان او نظر بايد لوبې ونشي. هغوی د جرګې غړيو ته ويل چې دا د ولسمشر غوښتنه ده او موږ يې تاسو ته وايو. د جرګې غړيو چې پوهېدل دا هر يو ولسمشر ته نژدې دي فکر يې کاوه چې رښتيا وايي بې له دې چې وپوهېږي چې په څه ډول اغفالېږي. ځکه مې له ولسمشر نه اجازه وغوښته چې د جرګې ځای ته ورشم او وضعيت له نژدې وګورم. د همدې ورځې مازيګر د پوليتخنيك پوهنتون ته ورسېدم. هوا سړه وه، نرۍ باران اورېده. له خپل مرستيال ظاهر غوث سره يوځای د خېمې له ساحې نه ښکته لوري ته چې د پوليتخنيك تدريسي اطاقونه دي د جرګې له غړيو سره راکوز شوم د لارې په اوږدو کې مې له ځينو سره ستړي مشي وکړل. د نورو په نسبت زما خبرو د ولسمشر د دفتر د رييس په توګه هغوی ته ډېر د ولسمشر د نظر استازولي کوله. کله مې چې د دوی د پوښتنو په ځواب کې ورته ويل چې ولسمشر نه د تړون مخالف دی او نه موافق، تاسو آزاد ياست چې څه ډول فکر کوی د هغو په اړه تصميم ونيسی او دا چې ولسمشر هېچا ته دنده نه ده سپارلې چې د تړون په رد او يا تائيد تاسو ته پيغام ورسوي. ډېر به حيران شول، چې ماښام شو وضعيت د پوليتخنيك په ساحه بدل شو، زه د جرګې له غړيو سره په خبرو بوخت وم چې د ولسمشر زنګ راغی، نوموړي وويل چې زر تر زره له پوليتخنيکه راووزه او دفتر ته دې راشه، ځکه چې ډاکتر مدبر نوموړي ته تيلفون کړی ؤ او شکايت يې کړی ؤ چې ګواکې ما له راتلو سره هڅه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د جرگې د غړیو نظر واړوم. او زما دغه کار د جرگې د غړیو د انتقاد سبب شوی دی. ما چې وضعه بلکل برعکس ولیدله او د تړون د پلویانو دروغ او لاسوهنه د لمر په څېر ښکاره وو خپه شوم او د دفتر پر ځای کور ته ستون شوم.

لویې جرگې په ځو کاري ورځو کې په (۳۱) مادو کې پرېکړهلیک تیار کړ. د پای په غونډه کې د گډون لپاره د نومبر پر ۲۴ مه بیا هلته لاړو. ولسمشر د پرېکړهلیک او هغو شرطونو چې په هغو کې یاد شوي وو د تایید په ترڅ کې د سولې پر راتلو ډېر ټینگار وکړ، خو زیاته یې کړه چې سوله او امنیت څه وخت باید ټینگ شي؟ نن او که لس کاله وروسته؟ نوموړي له امریکا وغوښتل سوله او امنیت له هغه ورځې چې گواکي د افغانستان خلکو د امریکایي اډو په منلو له هغه هېواد سره (دوستي) څرگنده کړې وه ټینگ کړي. نوموړي دا اعلان هم وکړ چې له همدې شېبې دې نور «زموږ د خلکو په کورونو کې» عملیات بند کړي او که یو ځل بیا دغه کار تکرار شو بیا د امنیتي تړون خبره په منځ کې نشته، د امریکا سفیر ته یې د اشارې په ترڅ کې وویل «سفیر یې ناست دی او خبرې اوري!» ولسمشر د خلکو د کورونو پلټلو پر پایته رسولو هم ټینگار وکړ. وروسته یې د جرگې غړیو ته د دوو اونیو امنیتي راپور ور وښود او وې ویل چې په تېرو دوو اونیو کې د امنیتي ځواکونو او ملکي وگړو تلفات ډېر را ټیټ شوي دي، په داسې حال کې چې په تېره یوه میاشت کې په ټول هېواد کې د وژلو او قتلولو بهیر روان ؤ. نوموړي د جرگې غړیو ته وویل دغه وضعیت د تړون له منلو وروسته هم غواړو، بیا یې زیاته کړه: «وضعیت بېرته خراب نشي، پر خبره مې و پوهېدئ؟» ولسمشر غوښتل خلکو ته واضح کړي چې امنیت او نا امني دواړه د امریکایانو په لاس کې دي. خلک خبر نه وو چې تر هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترهګریزې پېښې او ملکي مرګ ژوبلې وروسته ولسمشر امریکایانو ته ویلي وو «که امنیتي وضعیت دغه ډول وي خلک به په لویه جرګه کې تړون و نه مني» موږ دواړو د پېښو او مرګ ژوبلې ګراف ځارلو او د راز په څېر مو په اشارو او د کاغذ پر پاڼو د لیکلو په واسطه د هغو له کمېدو یو بل ته خبر ورکاوه. د هغه راپور له مخې چې ولسمشر ولوست د جرګې د وروستۍ غونډې نه یوه ورځ وړاندې د امنیتي ځواکونو مرګونه یوه تن پولیس ته را رسېدلې وو. ولسمشر د امریکایانو له ژمنو ماتولو هم اندېښنه درلوده. د هغوی پر ټولو ژمنو باور نشو کېدای نوموړي په همدې سبب هغه لیک چې د قطر دفتر تر پرانیستلو یوه ورځ مخکې ولسمشر اوباما را لېږلی ؤ خو عملاً یا د دفتر له هغو سره په بشپړ مخالفت پرانیستل شو د جرګې غړیو ته ور وښود او وې ویل: «باید دا ډاډ ترلاسه کړو چې هېواد مو په سم لوري روان دی که نه؟ دغه تړون مفت دوی ته مه ورکوئ (...) تاسو له ما نه غوښتي دي چې د یوې میاشتې په موده کې تړون لاسلیک کړم. فرضاً زه یې لاسلیک کړم او سبا ته یې سوله نه وي، امریکایان یې په اډو کې په امن کې وي او زموږ وطن ټوټه ټوټه وي، په هغه صورت کې به ملامت زه وم او که بل څوک؟!»

ولسمشر د سالمو انتخاباتو ترسره کول هم د امنیتي تړون د منلو او لاسلیک لپاره د شرط په توګه یاد کړل. نوموړي د جرګې غړیو ته وویل: «د جرګې له جوړېدو دوې ورځې وړاندې ډاکتر صاحب سپنتا، د بهرنیو چارو وزیر صاحب او خُرم صاحب له ما سره په دفتر کې وو او د امریکا له سفیر او جنرال ډنفورډ سره مو ملاقات درلود، ما وویل چې تړون له راتلونکي حکومت سره لاسلیک کړئ دا چې د دریېمې فقرې په اړه (په استوګنو سیمو کې عملیاتو) مو بحث کاوه، د دوی سفیر وویل چې انتخابات دوهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړاو ته درومي او هغه به له پینځو تر شپږو میاشتو پورې وخت ونیسي، فکر مې د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ انتخاباتو ته لاړ»
ولسمشر د لویې جرګې د غړیو له پرلپسې چکچکو نا آرامه کېدو او داسې یې احساسوله چې هغوی د ده د خبرو ژورتوب ته پام نه کوي. نوموړي په وروستۍ غونډه کې هم له هغوی سره چې غوښتل یې د امریکایانو د یوه منتقد عالم د خبرو مخه ونیسي توند چلن وکړ او وې ویل «مولوي صاحب ته وخت ورکړئ چې خبرې وکړي که یې نه ورکوئ نو تاسو پخپلو کمېټو کې هم همدغسې چلن درلودلی دی او دغه پرېکړه‌لیک مو دروغ او جعلي دی» ولسمشر د خپلو خبرو په پای کې وویل: «زه د تطبیق پړاو غواړم لومړی دې سوله راشي، بیا یې لاسلیکوم»
د لویې جرګې رییس صبغت الله مجددي پام شو چې نښه یې خطا شوه او ولسمشر له دې انکار کوي چې امنیتي تړون به یوه میاشت کې لاسلیک کړي. د مایکونو شا ته ودرېد او خبرې یې په ایتونو او احادیثو پیل کړې، وروسته یې خپل صوفیانه کلام او بیتونه واورول خبرو ته یې داسې دوام ورکړ: «د رییس صاحب جمهور خبرې ریښتیا دي، هغه ما ته تل احترام کوي، لاسونه مې ښکلوي، خبرې مې اوري خو پر هغو عمل نه کوي خو هر وخت یې چې پرې عمل کړی دی له پایلې نه یې ډېر خوښ دی، لکه امریکا ته وروستی سفر یې، ما ورته ویلي وو چې نرمښت و ښیه، پر هغو یې عمل وکړ له هغه ځایه ډېر خوښ را ستون شو او وې ویل چې امریکایانو موږ ته ډېر قدر راکړ (...)»
ښاغلي مجددي ځان د حامد کرزي استاد او ولي نعمت باله او د نوموړي ولسمشري یې هم له خپل برکته ګڼله. حضرت مجددي له ولسمشر نه وغوښتل چې تړون لاسلیک کړي. ولسمشر چټک له ځایه جګ شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مایکونو شا ته ودرېد او خپل شرطونه یې بیا تکرار کړل. حضرت مجددي د ولسمشر د دغه «بې اطاعتۍ» په مقابل کې ګواښ وکړ چې که تړون لاسلیک نه کړي له هېواده به هجرت وکړم! خو ولسمشر بېله دې چې د هغه خبرو ته پام وکړي له ستېژ نه را ښکته شو.
غربیان د امنیتي تړون لپاره د سالمو انتخاباتو ترسره کولو په نوي شرط چې ولسمشر ایښی ؤ ډېر پرېشانه شوي وو. د لویې جرګې له پایته رسېدو نه یوه ورځ مخکې د برېټانیا سفیر ریچارد ستګ دغه اندېښنه په ارګ کې له ولسمشر سره شریکه کړه. نوموړي امنیتي تړون ته «کاتالیزر» عنوان ورکړی ؤ او هغه یې په افغانستان کې د لوېدیځو هېوادونو د شتون لپاره ضروري وباله.
سبا ته چې لویه جرګه پایته ورسېده، یانې د نومبر پر ۲۵ مه، د امریکا متحده ایالاتو د ملي امنیت سلاکاره «مېرمن سوزان رایس» د کندهار او ننګرهار تر سفرونو وروسته کابل ته راغله. حامد کرزي هغه د شپې ډوډۍ ته الحاقیه ودانۍ ته را دعوت کړه. الحاقیه ودانۍ د لومړي لمبر ماڼۍ چې د ولسمشر د استوګنې ځای ؤ او دوهم لمبر ماڼۍ چې د ملېمستون حیثیت یې درلود تر منځ جوړه وه، ښکلې او روښانه ماڼۍ وه. د کوټو غولی یې د رخامو په شین رنګه ښکلې ډبره پوښل شوی ؤ.
ولسمشر له مېرمن رایس نه وپوښتل چې سفر یې آیا د لویې جرګې په تړاو دی؟ نوموړې منفي ځواب ورکړ وې ویل چې مخکې د سپنتا له لوري دعوت شوې وه چې افغانستان ته سفر وکړي. نوموړې د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې په لویه جرګه کې د ښځو او نارینه ؤ ګډون یې ډېر خوښ شوی ؤ. سوزان رایس چې د بارک اوباما په څېر تورپوستو ښځه وه دې مقام ته تر رسېدو وړاندې په ملګرو ملتونو سازمان کې د خپل هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازې وه. ما دا د جان کيري پر خلاف داسې ځوک وليده چې په استدلال کې کمزورې وه. د کار په بهير کې مې د امريکا درې جګپوړي چارواکي وليدل چې د ولسمشر په سترګو به يې سترګې ښخې کړې او په ګواښنده نظر به يې هغه ته کتل. تر ټولو وحشتناک يې د ريچارډ هالبروک ګواښوونکي حرکتونه او نظر ؤ. جنرال جان الن او جان کيري هم خپلې کتابچې او دوسيې په غوسه ترلې وې او په ډېر وحشتناک ډول يې د حامد کرزي پر سترګو سترګې ښخې کړې وې. په دغه شپه سوزان رايس هم دا کار وکړ، خو د هغې حرکات ډېر مسخره او مصنوعي ښکارېدل. فکر کوم د امريکا حکومت خپل مامورين او ديپلوماتان روزي چې ځينې وخت د مقابل لوري د وېرولو او تر رعب لاندې راوستلو لپاره توند حرکتونه وکړي او د مقابل لوري په سترګو سترګې ور ښخې کړي ويې ګواښي او وارخطا يې کړي.

ولسمشر زر د امنيتي تړون د لاسليک مسالې ته راغی او وې ويل چې د افغانستان پر کليو او د خلکو پر کورونو د عملياتو د پايته رسېدو په صورت کې به يا پخپله ياد سند لاسليک کړي او يا به په حکومت کې بل چا ته دغه دنده وسپاري. مېرمن رايس ځرګنده کړه له دوو ورځو راهيسې يې چې په افغانستان کې له پنځوس تنو افغانانو سره ليدلي دي دا ټول د لويې جرګې د پرېکړه‌ليک او امنيتي تړون پلويان وو. نوموړې وويل چې د ولسمشر اوباما پيغام به موږ ته ورسوي چې امريکا په راتلونکيو ځو ورځو کې د امنيتي تړون لاسليک ته چمتو ده.

کله چې ولسمشر د سولې مساله او په استوګنو سيمو د عملياتو درولو خبره تکرار کړه مېرمن رايس وويل «ولسمشر اوباما په دې اړه مخکې تاسو ته ليک را استولی دی!»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی: «یانې دا هر څه له پرون راهیسې د عملي کېدو پړاو ته ننوتلي دي»
سوزان رایس: «نه، کله چې امنیتي تړون نافذ شي»
ولسمشر یو ځل بیا د عایشې کونړۍ ماشومې یادونه وکړه چې د امریکایانو په برید کې یې د بدن غړي او کورنۍ له لاسه ورکړي وو. مېرمن رایس وویل: «زه هم مور یم (...) مهرباني وکړئ پر دې هم وپوهېږئ چې ولسمشر اوباما هم د دوو ښکیلو لورانو پلار دی، زه پخپله د یوه زوی او یوې لور مور یم! موږ ګډ کار کولای شو چې د بې ګناه خلکو ژوند له لاسه و نه وزي»
ولسمشر کرزی: «تر اوسه خو د ژمنې درک نشته»
سوزان رایس: «دا د اوباما ژمنه ده»
ولسمشر کرزی: «د سولې مساله څنګه؟ صلاح الدین رباني څو ورځې وړاندې پاکستان ته تللی ؤ غوښتل یې له ملا برادر سره وګوري، نوموړی په یوه پوځي مرکز کې ؤ، پاکستانیانو ښاغلي رباني ته ویلي وو چې هغه نه غواړي له تا سره وګوري. ښاغلي رباني ټینګار کړی ؤ، کله یې چې لیدو ته ورغلی ؤ نوموړی په داسې حال کې چې سترګې یې تړلې وې بې حرکته پروت ؤ، دا د سولې پروسه نه ده (...)»
خبرو مو د ډوډۍ پر سر دوام وموند. لومړی د سولې د پروسې په باب خبرې وشوې وروسته ولسمشر د راتلونکیو ولسمشریزو انتخاباتو مساله را واچوله وې ویل: «په ۲۰۰۹ کال کای ایده د امریکایانو په استازیتوب تر دوهم پړاو مخکې د معاملې وړاندیز را ته وکړ او ویې غوښتل چې د اجرائیه ریاست کرسۍ ایجادول ومنم. جان کیري هم په همدې تړاو لاس اوچت کړ او پر انجیل او خدای یې قسم سوګند یاد کړ چې دوهم پړاو انتخابات به ترسره کیږي، خو ترسره نه شول.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان رایس: «زه دا درک کوم، زه په بشپړ صداقت او د ولسمشر اوباما په استازیتوب وایم چې د هېڅ نوماند ملاتړ نه کوو، په انتخاباتو کې څنډه نه غواړو او د سرتاسري انتخاباتو غوښتونکي یو»
ولسمشر کرزی: «سرتاسري یانې څه ډول؟»
سوزان رایس: «یانې دا چې ټول افغانان پکې ګډون وکولای شي»
ولسمشر کرزی: «کله چې سوله ټینګه نه وي، دغه هدف خو ترلاسه کېدای نشي (...)»
ولسمشر کرزي یو ځل بیا د امنیتي تړون تر لاسلیک وروسته د افغانستان د سلامتۍ په باب اندېښنه وښودله. نوموړي طالبانو ته د څو ولایتونو د سپارلو د وړاندیز یادونه وکړه چې یو وخت د امریکایانو لخوا شوی ؤ. نوموړي وویل چې واحد افغانستان غواړي چې که د طالبانو تر حاکمیت لاندې وي او که «د دې لاسپوڅي حکومت» تر حاکمیت لاندې. خو مېرمن رایس پرلپسې پر دې ټکي ټینګار کاوه چې امریکا نشي کولای نور انتظار وکړي. هغې زیاته کړه: «صادقانه وایم که تړون لاسلیک نه شي، د څو اونیو په موده کې به موږ په یوه ناممکن حالت کې وو. تاسو پخپله وینا کې زموږ پر خلاف توند الفاظ وکارول. که دا اوس لاسلیک نه شي کانګرس به د سند لاسلیک موږ ته نا ممکن کړي»
ولسمشر کرزی: «په مناسب فرصت کې به لاسلیک شي، هغه وخت چې خلک مثبتې نښې وګوري»
سوزان رایس: «ولسمشر اوباما به بلا تکلیف حالت کې شي»
ولسمشر کرزی: «نو راځئ چې معامله وکړو»
سوزان رایس: «زه دلته د معاملې لپاره نه یم راغلې»
ولسمشر کرزی: «نو تاسو له معاملې پرته امنیتي تړون سر ته رسوئ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان رایس: «معامله پخوا د خبرو په جریان کې شوې ده، داسې فکر ونه کړې چې زما خبرې جدي نه دي. موږ غواړو له افغانستان سره مرسته او همکاري ولرو خو روښانه خبره دا ده چې که د کال تر پایه (تر یوې میاشتې پورې) لاسلیک نه شي نور به همکاري تر منځ نه وي»

ولسمشر کرزی: «که امنیتي تړون غواړئ نو د سولې پروسه پیل کړئ او بریدونه مو ودروئ»

سوزان رایس: «د سولې د پروسې په باب تاسو ته ډاډ نشم در کولای (...) دا ډالۍ نه ده چې تاسو یې موږ ته راکوئ، دا یو دوه اړخیزه تړون دی» تر دې وروسته ولسمشر د بروکسل د درې اړخیزې غونډې او د امریکا او پاکستان د خپلمنځي جوړجاړي او بګرام زندان مسالې یادې کړې. نوموړي بګرام زندان د طالب جوړونې فابریکه وباله.

سفیر کننګهم: «تاسو خو ما ته وویل چې په سوله کې کار مه لرئ»

ولسمشر کرزی: «ما داسې نه دي ویلي»

سفیر کننګهم (په زهرجنه خندا): «ریښتیا؟! نو معذرت غواړم چې زه نه یم پوهېدلی»

ولسمشر کرزی: «ما ویلي وو چې زموږ په استازیتوب عمل مه کوئ، بلکې تاسو او پاکستانیان په سوله کې مرسته وکړئ»

د سولې پر پروسه له بشپړو خبرو او بحث وروسته ولسمشر له ګوانتامو زندان نه د طالب بندیانو د خوشي کولو خبره مطرح کړه. د لویې جرګې د پرېکړه‌لیک په یوه ماده کې د ګوانتانامو زندان نه د افغان بندیانو را خوشي کېدل او بېرته راوستل غوښتل شوي وو. سفیر وویل د ګوانتانامو بندیان د تړون برخه نه ده. خو ولسمشر یې خبرې ور غوڅې کړې وې ویل: «دا په پرېکړه‌لیک کې راغلي دي، تاسو د پرېکړه‌لیک یوه برخه منئ او یوه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې نه منئ» سوزان رايس وويل امريکا به د بنديانو په باب يو کار وکړي خو که امنيتي تړون زر لاسليک نه شي نو هېواد به يې له افغانستان نه خپل ټول پوځيان وباسي. نوموړې زياته کړه: «په انتخاباتو کې د نه لاسوهنې او پرا ستوګنو سيمو د عملياتو بندولو په باب ډاډ درکولای شو خو د سولې په باب موږ معجزه نه شو کولای». ولسمشر يې په خپل دريځ ټينګار کاوه او لږ تر لږه د سولې پروسې د پيلولو غوښتنه يې کوله. بالاخره د سوزان رايس زغم ختم شو او په ناخوښه لهجه يې وويل: «ښاغلی ولسمشره ووايه چې امنيتي تړون څه وخت لاسليکوې؟»

ولسمشر کرزی: «چې کله د ګوانتانامو بنديان خوشي شي او دلته راشي، د خلکو پر کورونو بريدونه ودرول شي، د سولې پروسه پيل شي (...)» په دې منځ کې جيفري ايګر چې نوی د جنرال لوت ځايناستی شوی ؤ سر ښکته اچولی ؤ او مېرمن رايس چې غوښتل يې ګواښنده ښه خپله کړي نېغ يې سترګې د ولسمشر په سترګو ور ښخې کړې وې او يوه خندوونکې ننداره جوړه وه. ولسمشر په داسې حال کې چې نه يې غوښتل مېرمن رايس ته يې پام شي په تکرار يې ويل: «موږ متحد افغانستان غواړو، موږ فدراليزم او ملوک الطوايفي نه غواړو» د امريکا د ملي امنيت سلاکارې په داسې لهجه چې ګواکي وروستۍ خبره کوي او له ځايه جګېږي وويل: «د مزه دارو خوړو څخه مو مننه...» خو د ولسمشر کرزي د حرکاتو په ليدو چې دې ته يې هېڅ پام نه کاوه يو ځل بيا يې د هغه لېست په تکرار پيل وکړ چې هېواد يې د افغانستان د رغاونې لپاره کړي وو. نوموړې ولسمشر ته په خطاب کې وويل: «تاسو د ښه او عالي په منځ کې له موږ عالي غواړئ، دا چې موږ يې له درکولو ناتوانه يو نو ښه هم له لاسه ورکوئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر وویل: «نه، ما د بد او بدتر ترمنځ بد غوره کړي دي، زه د هغو افغانانو له لوري خبرې کوم چې جنرال پتریوس یې کورونه او کلي ور وران کړي دي او پر هغوی یې بمونه غورځولي دي، زه پر امریکا اعتماد نه لرم، نو له راتلونکي حکومت سره یې لاسلیک کړئ، تاسو ما نشئ بدلولای، زه دوستي غواړم نه استثمار او دوستي یانې پر کورونو برید نه کول او د سولې راوستل» ولسمشر یو ځل بیا د ګوانتانامو د بندیانو مساله یاده کړه. سفیر کننګهم یې په ځواب کې وویل: «موږ خپل قوانین لرو»

ولسمشر کرزی: «دا د جرګې غوښتنه ده، جرګه موږ ته قانون دی»

سفیر: «جرګې تاسو ته دا هم ویلي تړون لاسلیک کړئ»

ولسمشر کرزی: «جرګې دا هم ویلي چې بندیان راولئ، نو را یې ولئ»

سوزان رایس: «موږ لاسلیک ته چمتو یو»

ولسمشر کرزی: «داسې امکان نه لري، نو خپل تصمیم ونیسئ»

سوزان رایس: «موږ خپل تصمیم نیولی دی»

ولسمشر کرزی: «زه واحد او یو موټی افغانستان غواړم، که امارت وي که جمهوریت ما ته توپیر نه لري»

سفیر کننګهم: «ستاسو خلکو ته خو توپیر لري...»

ولسمشر کرزی: «زه په کابل کې کمزوری حکومت، پر هلمند د طالبانو واکمني او بله سیمه د کوم بل چا په لاس کې نه غواړم (...) تاسو ځانمرګي بریدګر ډېرولای شئ، زیاتې چاودنې کولای شئ بې پیلوټه الوتکې کارولای شئ، زه پوهېږم تاسو د خرابۍ لپاره زیات توان لرئ خو پرېکړه موږ کوو او هاغه به وروستۍ پرېکړه وي»

سوزان رایس: «نو څه وشي.»

ولسمشر کرزی: «د سولې پروسه پیل کړئ، بیا را شئ چې مخته لاړ شو»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوزان رایس: «دا ستاسو هېواد دی او موږ پکې مېلمانه یو»
ولسمشر کرزی: «تاسو مېلمانه نه یاست تاسو دغه دولت له ماسره یو ځای اداره کوئ، حکومت کوئ، پوهېږم (...)»
سوزان رایس: «زه وایم چې امریکا لاسلیک ته چمتو ده خو تاسو داسې شرطونه وړاندې کوئ چې پوره کول یې ناشوني دي، موږ دلته د سرومال قرباني ورکړې ده»
ولسمشر کرزی: «هوکې، خو امریکا غلطه سیاسي لاره غوره کړې وه. زما پیغام درسره یوسه، یا روسیه، چین، هند، پاکستان، فرانسه او برېټانیا سره را ټول کړئ او ما ته ډاډ راکړئ چې د امنیتي تړون له لاسلیک وروسته افغانستان یو لاس پاتې کېږي»
سوزان رایس: «دا یو دوه اړخیز تړون دی، نور هېوادونه څرنگه پکې را شاملولای شو؟»
ولسمشر کرزی: «دا زموږ لپاره د ضمانت حیثیت لري»
غونډه د سوزان رایس په خبرو چې بیا بیا یې ویل امریکا د تړون په لاسلیک کې ځنډ نه مني په ناخوښه فضا کې پای ته ورسېده.
که به غونډه هر څومره له خپگان او د نظرونو له اختلاف سره وه، د حامد کرزي په مېلمه پالنه کې کمی او نیمگړتیا نه راتله. هغه به یې بیا بیا مېلمه ته د خوراکونو ست کاوه، هغوی به یې د تازه ترکارۍ له خوړلو ایسارول او د خدای پامانۍ پر مهال به د مېلمه تر روانېدو پورې د هغه د موټر تر څنگ ولاړ و. امریکایي چارواکي د موټرو له اوږده کاروان سره راتلل، د دوی ساتونکیو دا عادت درلود چې په موټر کې د مېلمه له کېناستلو وروسته به یې د څو دقیقو لپاره د لارې په اوږدو کې له ټولو امنیتي پوستو سره په مخابره کې اړیکې نیولې او ډاډ به یې ترلاسه کاوه. ولسمشر به په دې جریان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د موټر تر څنګ درېدلی ؤ. ما څو ځله هڅه وکړه چې نوموړی له دې کاره را وګرځوم ځکه چې دا مې د پروتوکول خلاف باله خو نوموړی چمتو نه ؤ چې دغه عادت پرېږدي. د نوموړي استدلال هماغه د افغانانو د «مېلمه پالنې دود» ؤ. بالاخره به ما زیاتره هغوی او د امریکایانو دود تولیدوونکي موټر پرېښودل او په خپله مخه به لاړم.

د نومبر پر ۳۰ مه د پاکستان نوی صدراعظم محمد نواز شریف کابل ته راغی او په دلکشا ماڼۍ کې یې لوړی له ولسمشر کرزي سره یوازې ناسته درلوده او  وروسته د پلاویو په حضور کې دواړو لوریو خبرې وکړې. نوموړي د کابل له ښکلاوو او په ۱۹۶۵ کال کې یې د خپل لومړي سفر کیسه وکړه چې هغه مهال نوموړی د ښوونځي زده کوونکی ؤ او له خپل پلار سره د نوروز جشن پر مهال د صنعتي نندارتون لیدو ته راغلي وو.

له پاکستاني پلاوي سره خبرې د سولې پروسې پر محوررا څرخېدې. د ملا برادر اخوند د خوشي کېدو او له نوموړي سره د صلاح الدین رباني لیدل، په کونړ کې د مولانا فضل الله او په زندان کې د مولوي فقیر محمد د شتون د خبرو او بحث ټکي وو. د پاکستان سفیر د ولسمشر او صلاح الدین رباني د بیا بیا غوښتنو په ځواب کې چې ملا برادر باید خوشی شي وویل چې هېواد یې د هغو په خوشي کېدو کې ستونزه نه لري خو CIA له دې سره موافقه نه ده.

د لویې جرګې له جوړېدو او د سوزان رایس له سفر وروسته د افغان وزیرانو او چارواکیو لخوا پر ولسمشر فشارونه بیا پیل شول. هغوی هېڅ فرصت له لاسه نه ورکاوه چې امنیتي تړون باید لاسلیک کړي. مثلاً جنرال بسم الله خان د ملي امنیت شورا په غونډه کې یادونه وکړه وې ویل چې د ملي اردو الوتکې آن له جبهو د شهیدانو د لېږدولو لپاره تېل نه لري. محمد عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



داودزي د کورنيو چاور وزير دې ته ورته شکايت درلود. خو ولسمشر په تکرار د دوی په ځواب کې وويل چې دا ټول زموږ د ټرلتوب او وابستګۍ کيسې کوي او موږ بايد له دې تراوونو څخه ځان وژغورو. کله چې ولسمشر وويل: «د شپې اعلانوم چې امريکايانو پر موږ تېل بند کړي دي» وزيرانو په دې عنوان چې د خلکو اندېښنه له دې اعلان سره زياتېږي ترې منع کړ، ولسمشر د دفاع له وزير وپوښتل: «بسم الله خانه! که امريکايان تا ته تېل در نه کړي هلمند ساتلی شې؟ نن د امنيتي ټرون په نامه تېل درباندې بندوي خو سبا ته پر يوې بلې پلمې همدغه کار کوي مثلاً وايي ملي اردو فاسده شوې ده. پرون نواز شريف ما ته وويل چې امريکايانو له ما نه غوښتي چې تا ته ووايم امنيتي ټرون لاسليک کړه، ترې ومې پوښتل چې بيا سوله څنګه کېږي؟ وې ويل چې پټې خبرې پيلوو او ملا برادر خوشې کوو. نو ورونو پښې مو ټينګې کړئ»

د هغې ورځې په سبا هوشيار زيباري د عراق د بهرنيو چارو وزير کابل ته راغی، نوموړي هم پر دې پښېماني ښودله چې عراقيانو د امريکايي پوځيانو مصؤنيت نه ؤ منلی او په پايله کې امريکا له عراق نه خپل ځواکونه ايستلي وو، نوموړي موږ ته توصيه کوله چې داسې غلطي ونه کړو. په همغه ورځ د پولنډ سفير زما دفتر ته راغی او وړانديز يې وکړ چې هېواد يې د افغانستان او امريکا تر منځ د بدګومانيو د رفع کولو لپاره دې ته چمتو دی چې هر کار ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امنيتي تړون د لاسليک لپاره د کورنيو او بهرنيو فشارونو دوام

د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا ځانګړی استازی جېمز ډوبنز پاکستان ته تر سفر وروسته د دسمبر پر ۵ مه په ارګ کې له ولسمشر سره وکتل. نوموړي افغانستان ته د سولې په راوستلو کې د پاکستان د نسبي چمتووالي خبر ورکړ. ښاغلي ډوبنز يو ځل بيا له پاکستان سره د درې اړخيزې ناستې وړانديز وکړ. خو ولسمشر له طالبانو سره پر رسمي او علني خبرو ټينګار کاوه، هغه څه چې د امريکا ځانګړی استازی يې منلو ته حاضر نه ؤ ځکه د ده په وينا طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر نه وو. نوموړي پر پاکستان په فشار راوړو کې د خپل هېواد ناتواني ياده کړه خو دا يې څرګنده کړه چې اسلام‌اباد کولای شي له يو شمېر با اعتماده کسانو سره د طالبانو د پټو ليدنو چاره برابره کړي. ښاغلي ډوبنز دا هم روښانه کړه چې طالبان د ولسمشرۍ انتخاباتو ته انتظار دي. نوموړي د ولسمشر د نيوکو او د امريکا د صداقت د نشتوالي په تړاو د بېلا بېلو مثالونو په ځواب کې وويل: «که موږ له افغانستان نه ووزو ستاسو پوليس او پوځ به سقوط وکړي» د امريکا ځانګړي استازي ولسمشر ته وويل چې هېواد يې افغاني لوري ته د سولې په برخه کې ډاډ ورکولای شي خو د امنيتي تړون د لاسليک لپاره نور نشي ايسارېدای، ځکه چې د ده په وينا طالبان د انتخاباتو تر ترسره کېدو پورې خبرو ته حاضر نه وو. ولسمشر وويل: «تاسو څه پوهېږئ چې هغوی تر انتخاباتو پورې له موږ سره خبرو ته حاضر نه دي (...) پر ۲۰۰۹ کال انتخابات تاسو خرابې ته بوتلل نه طالبانو (...)»

جيمز ډوبنز: «موږ دواړه په بېلو دنياوو کې ژوند کوو»

ولسمشر کرزی: «هوکې! بيا نو انتخابات وکړئ او وروسته تړون لاسليک کړئ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جیمز ډوبنز: «دا ناشونې ده، بل لوري ته ستاسو پیسې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، انفلاسیون زیاتیږي او هېواد مو کورنۍ جګړې لوري ته درومي»
ولسمشر کرزی: «څه ډول کورنۍ جګړې لوري ته درومي؟»
جیمز ډوبنز: «د دې لپاره چې تاسو به پوځ او پولیس نه لرئ»
ښاغلي جیمز ډوبنز وویل چې صدراعظم نواز شریف طالبان سولې ته هڅولي دي خو هغوی د افغانستان له حکومت سره خبرو ته حاضر نه دي. نوموړي زیاته کړه امریکا پر پاکستان تر یوه حده اغېزه لري او پاکستان پر طالبانو. خو ولسمشر وویل که هغوی د سولې خبرو ته حاضر نه وي پاکستان دې هغوی له خپلې خاورې وشړي. د جیمز ډوبنز ځواب دا ؤ چې طالبان له پاکستاني طالبانو سره اوسیږي. ولسمشر کرزي د پخوا په څېر پر دې ټینګار کاوه چې طالبان سوله غواړي خو له دوی نه چې هر یوه په دې لار کې ګام اېښی دی یا نیول شوی دی او یا وژل شوی دی. خو د امریکا ځانګړي استازي دغه استدلال نه مانه او دا یې د (توطیې تیوري) وبلله. له اوږدو خبرو او بحثونو او تکراري دلیلونو وروسته د جېمز ډوبنز زغم پایته ورسېد او ولسمشر ته یې داسې وویل: «ښاغلی ولسمشره! په داسې صورت کې چې په افغانستان کې سوله او آرامي وي نو بیا دلته د بهرنیو ځواکونو شتون ته څه اړتیا ده؟»
د دسمبر پر ۱۸ مه په ګلخانې ماڼۍ کې د ډاکتر اشرف غني په غوښتنه غونډه جوړه شوه چې په هغو کې پر موږ سربېره چې تل به له ولسمشر سره وو پخپله ډاکتر اشرف غني، محمد عمر داودزی، حضرت عمر زاخېلوال، ارشاد احمدي، او ضرار احمد عثماني ګډون درلود. په پیل کې ډاکتر اشرف غني وویل: «ما غوښتنه وکړه چې دغه غونډه جوړه کړو ځکه چې هر یو بېل له امریکایانو سره په خبرو بوخت یو، باید د هغو لپاره حدود وټاکو» ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داودزي وویل: «څلور ټکي د یادونې وړ دي، یو دا چې متن وروستی شوی دی او مشورې هم بشپړې شوې دي، یانې بله جرگه نه جوړېږي. نن هم د امریکا له سفارت نه کسان راغلي وو او ویل یې چې عملي او با مانا پروسه چې تاسو یې یادوئ یانې څه؟ جان کیري ما ته له اسراییلو نه زنگ وهلی ؤ ویل یې چې تاسو ولې سوله له موږ نه غواړئ؟ ما ورته وویل چې تاسو ځواکمن خلک یاست. په دې دلیل! (...) کیري وویل چې له پاکستانیانو سره په اړیکه کې دی او دې ته حاضر دی چې هر وخت موږ وغواړو دلته راشي خو ویل یې چې ناکام ستنېدل به یې ښه نه وي، نو زه په مساله کې روښنایي وینم»

ډاکټر اشرف غني: «اصلي مساله له موږ سره د نظام ثبات دی. اوسنی وضعیت نظام بې ثباته کوي، موږ که پر دې و نه پوهېږو بیا په هېڅ هم نه پوهېږو (...) دوهم د انتخاباتو خرابول دي، دې پایلې ته رسېدلي یو چې هغوی په انتخاباتو کې لاسوهنه نه کوي (...)»

ډاکټر زاخېلوال: «تاسو درې شرطونه درلودل، یو انتخابات، دوهم د خلکو پر کورونو د عملیاتو بندول، په دې کې پرمختگ شوی دی، درېیم د گوانتانامو بندیانو مساله ده دا د شرطونو په جمله کې نه وه»

ولسمشر کرزی: «دا د جرگې پرېکړه ده»

ډاکټر سپنتا د گوانتانامو بندیانو په اړه د امریکایانو له قانوني محدودیتونو یادونه کوله او ډاکټر اشرف غني ویل د سولې پروسه وخت غواړي باید د سمدستي پایلې هیله ترې ونه کړو. هغوی د امریکایانو اندېښنې یادولې چې له دې وېرېږي چې د ولسمشر هر شرط چې پوره کړي هغه بل شرط ورته وړاندې کړي. ښاغلي داود زي د جان کیري له قوله وویل چې په سپینه ماڼۍ او پنټاگون کې اوس دا نظر دی چې ولسمشر اصلاً د امنیتي تړون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسلیک ته چمتو نه دی په همدې دلیل په یوه شرط پسې بل شرط ابېږدي. خو ولسمشر ځواب ورکړ چې امریکایان دې د سولې ریښتینې پروسه عملاً پیل کړي د تړون د لاسلیک حکم به وکړي.

د ۲۰۱۴ کال په دوهمه ورځ امریکایي سناتوران کابل ته راغلل مشر یې جان مک‌کېن او همېشنی ملګری ورسره لیندسي ګراهام وو. جان مک‌کېن چې یو ځل د خپل هېواد د ولسمشرۍ د مقام نوماند هم ؤ د امریکا د سنا د مجلس له ځواکمنو او بانفوذه غړیو څخه شمېرل کېدو، نوموړي د وېتنام په جګړه کې برخه درلوده او هلته اسیر شوی ؤ. لاسونه یې ښه نشو پورته کولای. معلومه نه وه چې سبب یې په جګړه کې ټپي کېدل وو او یا یې کومه بدني نیمګړتیا درلوده، نوموړی سره له دې چې قاطع سړی ؤ خو د سناتور ګراهام پر خلاف یې بې منطقه، په تکبر او حاکمانه خبرې نه کولې.

سناتور مک‌کېن د خپل هېواد د کورني وضعیت یادونه وکړه چې یوازې ۱۷ سلنه خلک په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو پلویان دي. نوموړي د ولسمشر کرزي لخوا د امنیتي تړون لاسلیک ده ته لویه تاریخي کارنامه وبلله او دې ته یې چمتووالی وښود چې په دې لار کې هر خنډ له مخې لرې کړي. ښاغلي ګراهام دېرش ورځې ضرب الاجل د دې کار لپاره وټاکه ځکه چې کانګرس په همدې موده کې د خپل هېواد بودجه وروستۍ کوله. نوموړي د عراق د «بد» مثال یادونه هم وکړه چې د امریکایانو شتون یې نه ؤ منلی. هغه ولسمشر ته وویل چې د امنیتي تړون د لاسلیک په صورت کې به د افغانستان «جورج واشنګټن» شي او د هغه په څېر لوی میراث به خپل هېواد ته پرېږدي.

ولسمشر د امنیتي تړون له لاسلیک وروسته د افغانستان د یو موټي پاتې کېدو خبره وکړه او په دې تړاو یې یو ځل بیا خپله اندېښنه تکرار کړه. جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مک‌کېن یې په ځواب کې وویل: «تاسو ته ډاډ درکوم چې که امنیتي تړون لاسلیک شي او بیا طالبان یو شمېر سیمې ونیسي په امریکا کې به له ولسمشر پوښتنې وشي چې د افغانستان یو انچ خاوره هم وي»
سناتور ګراهام وویل یوازې د افغانستان د پولیسو لګښت د ټول هېواد تر بودجې لوړ دی، هغه زیاته کړه چې امریکا افغانستان القاعده ته نشي ور پرېښودلای او د مخالفینو د نیولو د توجیه لپاره یې استدلال وکړ چې له نیولو پرته یې نو بیا باید ووژنو. هغه هم ګواښ وکړ چې د تړون د نه لاسلیک په صورت کې به طالبان راشي او ټول افغانستان به ونیسي. دواړو سناتورانو بیا بیا حامد کرزي ته تر غوږ ور تېروله چې د امنیتي تړون د لاسلیک په صورت کې به د جورج واشنګټن په څېر شهرت وګټي او له دې سره هممهاله یې ویل چې کله امریکا له عراق نه خپل پوځونه و اېستل ترهګر راغلل او هغه هېواد یې په خاورو او وینو لت پت کړ. هغوی ګواښ کاوه چې بل عراق باید جوړ نشي. ولسمشر کرزي یو ځل بیا سوله، یو موټی افغانستان... او بالاخره د لویو هېوادونو د تضمین شرط کېښود. دغه وخت سناتور جان مک‌کېن ناڅاپه له ځایه جګ شو خو ملګریو یې هڅه کوله چې خپلو دلایلو ته دوام ورکړي. خو وروسته هغوی هم ودرېدل او له کومې په زړه پورې پایلې پرته د ولسمشر له دفتره ووتل.
د دولتي جګپوړیو چارواکیو فشارونه او ټینګار چې امنیتي تړون باید زر تر زره لاسلیک شي په ورځني معمول بدل شوی وو. د امنیتي او دفاعي سکتور وزیرانو په خپله کاري ساحه کې او د مالیې وزیر د اقتصاد په برخه کې دلایل راوړل او وضعه یې ډېره خرابه ښودله. ښاغلي داودزي د ملي امنیت شورا په یوه غونډه کې وویل: «متأسفانه موږ یې هم په فساد ککړ کړي یو او هم یې مجبور کړي یو» ځکه یې د امنیتي تړون لاسلیک غوښت. ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاخېلوال ویل: رییس صاحب تاسو داسې فکر مه کوئ چې څو تنه په ارګ کې (پخپله ولسمشر، ایمل فیضي او ما ته اشاره) د امریکا پر وړاندې توند دریځ نیسي (...) موږ پوهېږو چې د مسلمانانو اصلي دښمن امریکا ده، خو یوازې دریځ نیول کافي نه دي، دا هم ضروري ده چې کښتۍ ساحل ته ورسوو (...)»ښاغلي داودزي وویل: «زه تر ټولو ډېر له امریکایانو سره په دښمنۍ تورن یم، راشئ په ګوګل کې یې ولټوئ، خو زموږ پوځي څواکونه ډېر تړلي دي (...)» ډاکتر اشرف غني تر دې ټولو چارواکیو وړاندې ؤ او د پوځي کودتا آوازه یې توده کړې وه.

د المان صدراعظمې انګلا مرکل د جنوري په ۱۵ مه ماښام ولسمشر ته زنګ وواهه او له هغه یې وغوښتل چې هر څومره زر وي امنیتي تړون لاسلیک کړي. نوموړې وویل چې که امریکا له افغانستان نه ووزي المان به هم پاتې نشي. د المان صدراعظمې په دې تیلفوني خبرو کې د ولسمشرۍ د انتخاباتو په ترسره کېدو او برخلیک شک ښودلی ؤ.

نواز شریف هم چې د فبروري په نیمایي کې د درې اړخیزې غونډې په څنډه کې چې په ترکیه کې جوړه وه له ولسمشر کرزي غوښتي وو چې امنیتي تړون لاسلیک کړي. د هېواد په پارلمان کې هم په منظم ډول د امنیتي تړون د زر تر زره لاسلیک غږونه اوچتېدل. زیاترو وکیلانو د خونړیو ترهګریزو پېښو له پېښېدو وروسته ولسمشر چې د تړون په لاسلیک کې یې نه او نو کول د ملکي مرګ ژوبلې مسوول باله. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د لویې جرګې د وروستۍ غونډې له پایته رسېدو وروسته د شپې ناوخته ولسمشر ته زنګ وهلی ؤ او دا یې ورته ویلي وو چې که افغانستان امنیتي تړون لاسلیک نه کړي د سولې مخ به و نه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره هممهال زړه بوږنوونکې پېښې وشوې لکه د غوربند د سیاه گرد بمباري چې د ماشومانو په شمول په هغو کې زیاتو ملکي وگړیو ژوند له لاسه ورکړ. مگر عامو خلکو له نخبه گانو نه وضعه په متفاوت نظر لیدله. د ساري په توگه کله چې د پارلمان وکیل عبدالستار خواصي د ملي امنیت شورا ته د غوربند د پېښې راپور وړاندې کاوه خلکو هلته مرگ پر پارلمان شعارونه ورکړي وو او ویلي یې وو چې ولې وکیلان هره ورځ د امنیتي تړون د لاسلیک غوښتنې کوي. د غوربند له پېښې وروسته په وزیر محمد اکبرخان مېنه کې پر لبناني رستورانت ترهگریز برید د ډېرو بې گناه خلکو ژوند واخیست. دغه پېښه چې د کابل په ډېره کلکه خوندي سیمه کې وشوه ډېره شکمنه ښکارېدله. د واشنگټن پست یو خبریال د ایمېل په واسطه د ولسمشر ویندوی ایمل فیضي ته لیکلي وو چې د ده معلومات دا دي چې پر لبناني رستورانت په برید کې بهرنیو پوځیانو لاس درلود او په دې تړاو یې د ارگ د غبرگون غوښتنه کوله. د یادونې ده چې له دغه پېښې نه څه موده وروسته یو اروپایي خبریال چې د دې پېښې په باب یې څېړنې کولې په همدغه سیمه کې وویشتل شو او په مرمیو ووژل شو.

ولسمشر د خپل حکومت د ارزونې او تحلیل له لړوالي ځورېده. هغه د سر په سترگو لیدل چې یو شمېر کسانو د هغې پېچلې لوبې د ابعادو د درک توان نه درلود چې زموږ په هېواد کې روانه وه، او یو شمېر نور د تړاوونو او په فساد کې د ښکېلتیا په سبب پوهېدل خو د حقایقو له ویلو یې ډډه کوله، په همدې لانجو کې ولسمشر په خپل یوه مطبوعاتي کنفرانس کې بگرا م د طالب جوړونې کارخانه وباله او د سولې له ټینگښت پرته یې د امنیتي تړون لاسلیکول د گندمک او ډیورنډ د تړونونو انډول باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنوري په ۲۵ مه یو ځل بیا سفیر کننګهم او جنرال ډنفورډ د امنیتي تړون د لاسلیکولو لپاره د ولسمشر په راضي کولو پسې ارګ ته راغلل. دلایل هماغه وو چې پخوا څو ځله تکرار شوي وو. ولسمشر له هغوی سره په خبرو کې هغه وضعه چې د ډېورنډ تړون پکې لاسلیک شوی ؤ ډېره د افغانستان د هغو ورځو له فضا سره ورته وبلله: د مرستو او پیسو د بندولو ګواښ، د بهرني یرغل د احتمال ګواښ او نور. تر دې وروسته ولسمشر محمد معصوم ستانکزی خپل دفتر ته را وغوښت تر څو سفیر او امریکایي قوماندان ته له «ملا جلیل اخوند» سره د لیدنې جریان کیسه ورته وکړي. ښاغلي ستانکزي په دوبۍ کې له نوموړي سره لیدلي وو او ترې اورېدلي یې وو چې طالبان د سولې خبرو ته لېوال دي، ولسمشر وغوښتل چې یو ځل بیا امریکایانو ته ور یاده کړي چې طالبان سوله غواړي خو امریکا یې په مخه کې خنډ ده.

دوې ورځې وروسته سفیر او نوموړی قوماندان یو ځل بیا د ولسمشر دفتر ته راغلل. دا ځل ولسمشر هغوی ته وړاندیز وکړ چې له «معتصم آغا جان» سره وګوري چې د طالبانو له مشرانو څخه یو تن دی او دغه شېبه په کابل او احتمالاً په ارګ کې دننه ؤ او د سولې د پروسې د عملي پیل لپاره زمینه برابره کړي. خو سفیر له آغا جان سره له لیدو ډډه وکړه وې ویل چې باید له واشنګټن نه اجازه واخلي.

همدغه مهال د سولې لپاره تحرکات پیل شول چې په زړونو کې د هیلو راټوکېدو سبب وو، خو وروستیو پېښو وښودله چې دغه نوښتونه د امریکا او پاکستان له ملاتړ څخه برخمن نه دي.

له ملا جلیل اخوند سره د ښاغلي ستانکزي له لیدو وروسته معتصم آغا جان د طالبانو د پخواني رژیم د شپږو تنو وزیرانو او پخوانیو چارواکیو او د هغوی پینځو تنو قوماندانانو د یوې سیاسي شورا په جوړولو لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د افغانستان له حکومت سره د خبرو لپاره تمایل وښود. یوه اعلامیه یې خپره کړه او د یوې بین الافغاني لارې د موندلو غوښتونکي شول. د دې غونډې یو مهم غړی د طالبانو له پخوانیو وزیرانو څخه مولوي عبدالرقیب تخاري ؤ. په دې ډله کې د نوموړي حضور ولسمشر د دې نوښت راتلونکي ته خوشبین کړی ؤ او له ښاغلي ستانکزي نه یې وغوښتل چې هغوی ټول کابل ته را وبولي. متاسفانه مولوي عبدالرقیب له دوبۍ څخه پېښور ته لاړ او هلته د ناپېژاندو کسانو په ډزو کې ووژل شو. ولسمشر هدایت ورکړ چې د نوموړي جنازه له تورخم نه تر تخار پورې په پوره درناوي په پوځي هلیکوپټره کې ولېږدول شي. په دې ډول دغه سوله غوښتونکی حرکت په نطفه کې شنډ کړای شو. معتصم آغا جان هم وروسته د متحده عربي اماراتو د دولت لخوا له ډېرو بندیزونو سره مخ شو.

سفیر کننګهم او جنرال ډنفورډ د ۲۰۱۴ کال د فبروري پر ۱۶ مه بیا هم د ولسمشر کرزي دفتر ته راغلل. ولسمشر د پاکستان د صدراعظم محمد نواز شریف لخوا د امنیتي تړون د لاسلیک په اړه د ټینګار خبره چې څو ورځې وړاندې یې په ترکیه کې د درې اړخیزې ناستې پر مهال کوله یادونه وکړه، له هغوی یې وپوښتل چې امریکا له پاکستان سره څه معامله کړې ده؟ جنرال ډنفورډ وویل څرنګه چې د سولې د پروسې اړوند مسایل او د امنیتي تړون لاسلیک د دوی له توان نه لوړ دي غواړي چې د نورو مسایلو چې د دوی د واکونو په حدودو کې دي لکه د افغانستان د امنیتي ځواکونو پیاوړي کول او له ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره د مرستو په باب خبرې وکړي. جنرال ډنفورډ د خپلو خبرو په دوام په اغېزناکه لهجه وویل: «ښاغلی ولسمشره! له کوم وخته چې تاسو د امریکا د سیاستونو پر خلاف توند درېځ غوره کړی دی د دفاع وزارت منصبداران له موږ سره له اړیکې او رابطې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودو ځانونه غړوي، مهرباني وکړه هغوی ته هدایت وکړه چې له یادو وزارتونو سره د مرستې لپاره هغوی له موږ سره له اړیکو ډډه ونه کړي» ولسمشر چې له دې خبرو د زړه له کومې خوښ شو په ظاهراً آرام حالت یې له جنرال وپوښتل: «د دې لپاره چې ښه وپوهېږم، تاسو وویل چې پوځي افسران له تاسو نه لرې شوي دي او همکاري نه کوي. ویلای شې چې په کومه کچه افسران دي؟ جنرال ډنفورډ ځواب ورکړ: «د جنرالانو او ډګروالانو په کچه» ولسمشر وروسته د دفاع وزیر خپل دفتر ته را وغوښت، نوموړي هم دغه حقیقت تایید کړ چې جنرال ډنفورډ یې ادعا کوله.

جنرال ډنفورډ زیاته کړه چې د دوی پوځ په وروستیو دوو اونیو کې ۱۶ تنه تلفات درلودل، دوه تنه په تګاب کې، دوه تنه په څرخي پله کې ... د یادونې وړ ده چې له دغو تلفاتو څخه یې ځینې د افغان پوځیانو لخوا پر امریکایي پوځیانو د ډزو په سبب وو. مثلاً په تګاب کې یوه افغان پوځي هغه مهال دوه امریکایي پوځیان په ډزو ووژل چې هغوی روغتون ته د یوه ملکي ټپي وګړي د لېږدولو مخه نیوله. جنرال ډنفورډ په همدې غونډه کې د یوه کاناډایي وګړي د خوشي کولو غوښتنه وکړه چې د افغانستان په زندان کې پروت ؤ. نوموړي استدلال کاوه چې د MTA تړون په اساس نوموړی باید بندي نشي. ولسمشر یې په ځواب کې وویل چې نوموړي کاناډایي د یوه خصوصي امنیتي شرکت لپاره کار کاوه چې د وسلو په قاچاق کې ښکېل وو. هغه زیاته کړه چې نوموړی کاناډایي د یوه انګلیسي تښتیدلي ضامن دی او دواړو کسانو د افغانستان قوانین تر پښو لاندې کړي وو ځکه یې د خوشي کولو غوښتنه رد کړه. جنرال ډنفورډ په عاجزانه لهجه وویل : «زه د هغه بل کس په فکر کې نه یم خو دغه کاناډایي ډېر وهل شوی دی»

ولسمشر کرزی: «ډېر بد کار شوی دی، چا هغه وهلی دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال ډنفورډ: «نورو بنديانو»

په دې ډول ټولې يادې پېښې او له امريکايانو نه د يو شمېر افسرانو لرې کېدل له امريکايي پوځيانو نه د افغانانو ورځ تر بلې زياتېدونکې کرکې ښکارندوی وې چې جنرال ډنفورډ يې وېرولی ؤ.

د فبروري پر ۲۵ مه نېټه ماښام ناوخته ولسمشر اوباما زنګ وواهه او د انتخاباتو او امنيتي تړون د لاسليک په باب يې له ولسمشر کرزي سره خبرې وکړې. نوموړي په نرمه او آرامه لهجه خبرې کولې او ټينګار يې کاوه چې امنيتي تړون تر انتخاباتو وړاندې لاسليک کړي. نوموړي وويل چې د تړون د نه لاسليک په صورت کې به يې هېواد مجبور شي چې خپله درنه وسله له افغانستان نه وباسي. هغه د سولې په پروسه کې د وروستيو تحرکاتو په تړاو د حامد کرزي د خوشباورۍ په ځواب کې وويل چې پر طالبانو بايد اعتماد ونه کړو او په دې کې يې شک وښود چې هغوی به سوله وکړي. نوموړي زياته کړه چې په بروکسل کې به د ناټو په غونډه کې د امريکا د دفاع وزير د افغانستان په باب خبرې وکړي خو د هغو مانا به له افغانستان نه د امريکا وتل نه وي. ولسمشر اوباما په پای کې له ولسمشر کرزي هيله وکړه چې په رسنيو کې د امريکا پر خلاف خبرې ونه کړي.

يوه مياشت وروسته د امريکا د کانګرس د غړيو يوه پلاوي افغانستان ته سفر وکړ د مارچ پر ۲۲ مه يې په ګلخانې ماڼۍ کې له ولسمشر کرزي سره وليدل. د نورو په استازيتوب «مېرمن کيلي آيوت» وويل امنيتي تړون تر ټولو مهم ټکی دی چې غواړي پرې خبرې وکړي. هغوی وويل چې له امنيتي تړون پرته امريکا نشي کولای له افغانستان سره مرستو ته دوام ورکړي. هغو د بګرام د بنديانو پر خوشي کېدو هم نا خوښي وښودله وې ويل چې د ولسمشر کرزي سخت شرايط به راتلونکي ولسمشر ته لاره سخته کړي ځکه چې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپلو شرایطو داسې کرښې کاږي چې په راتلونکې کې به له هغو تېرېدل گران کار وي. هغوی امنیتي تړون د افغانستان لپاره «لویه پانگه» وباله. ولسمشر یو ځل بیا د افغانستان پر یووالي، د سولې پروسې په پیلولو او د افغانستان په پیاوړي کولو ټینگار وکړ او د امریکایانو له لوري یې د افغانانو بندي کول د قانون او حاکمیت خلاف کار وباله.

څو ورځې وروسته جان کیري زنگ وواهه او له ولسمشر سره یې خبرې وکړې. د نوموړي له تیلفوني اړیکې څو ساعته وړاندې د انتخاباتو کمېسیون پر ودانۍ ترهگریز برید وشو چې پړه یې طالبانو پر غاړه اخیستې وه، د یادونې وړ ده چې تر هغو څو ورځې وړاندې ترهگر سرینا هوټل ته ننوتل او یو شمېر مېلمانه یې د ماشومانو په شمول ووژل. ټول شواهد د دې ښکارندوی وو چې د یاد هوټل امنیتي شرکت په برید کې همکاري او یا ډېر جدي غفلت کړی دی. معتصم آغا جان هم چې سوله ییز فعالیتونه یې په متحده عربي اماراتو کې پیل کړي وو د هغه هېواد امنیتي ادارو و نیو.

ولسمشر د امنیتي تړون په باب جان کیري ته وویل چې دې ټولو پېښو د دغه تړون لاسلیک ستونزمن کړی دی او د پاکستان او امریکا د استخباراتو تر منځ د همکارۍ په باب بدگومانۍ را منځته کوي. دغو خبرو اترو هم و نه کولای شول چې د ولسمشر په دریځ کې بدلون راولي.

بل لور ته له ایران سره د جامع ستراتیژیکو همکاریو د تړون پر سر خبرو دوام درلود او ښاغلي سپنتا د هغو کار پر مخ بېولو. ایرانیانو د تړون په متن کې راوړي وو چې «هېڅ لوری به اجازه نه ورکوي د برښنایي جگړې، او دې ... په څېر عملیات د دریيم هېواد له لوري د دواړو اړخونو په خاوره کې ترسره شي. د یوه لوري خاوره هم د ترهگرو له لوري و نه کاول شي (...)» په داسې حال کې چې امریکایانو کله د اعلا سرقوماندانۍ د قوماندې د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکز ودانۍ له سمڅو سره بشپړه کړه د سپارلو پر مهال یې موږ ته وویل «که له ایران نه توغندي وویشتل شي په اتو دقیقو کې به دلته را ورسېږي، ځکه خو به تاسو کافي وخت و لرئ چې ځانونه دغه پټنځای ته را ورسوئ»

ولسمشر کرزي د اوبو له اړوند فصل پرته غوښتل چې هر څومره زر له ایران سره دغه تړون لاسلیک کړي. ولسمشر د همدې جنجالونو په بهیر کې له روسیې سره د کریمیا د ټاپو وزمې یو ځای کېدل په رسمیت و پېژندل او رسماً یې له هغو ملاتړ وکړ.

دا ټول د ولسمشر کرزي د بهرني سیاست د ښکاره بدلون نښې وې.

زموږ بحثونه ورو ورو له امنیتي تړون نه د انتخاباتو اړوند مسایلو په لوري ور ښتېدل. امریکایان هم په تدریج د تړون د لاسلیک په تړاو له ولسمشر نهیلي کېدل.

د کابل او واشنګټن تر منځ د بشپړې بې باورۍ فضا په اوج کې ولسمشر اوباما د ۲۰۱۴ کال د مې پر ۲۵ مه بګرام ته راغی. د شپې نهه بجې وې چې ولسمشر ته زنګ راغی او د نوموړي له راتلو یې خبر کړم. د امریکا سفارت د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو له لارې نوموړي ته خبر ورکړی ؤ چې ښاغلی اوباما هیله لري چې ولسمشر د ملاقات لپاره د بګرام هوایي ډګر ته ورشي. ولسمشر په دې تړاو له ما سره تیلفوني مشوره وکړه او زما نظر یې وغوښت، زما نظر طبعاً منفي ؤ. نوموړي هم نه غوښتل چې د امریکا د ولسمشر غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي.

طلوع تلویزیون د شپې ناوخته بګرام ته د اوباما د راتګ خبر خپور کړ او زیاته یې کړه چې نوموړی له حامد کرزي سره د لیدو اراده نه لري. رویترز آژانس او نیویارک ټایمز ورځپاڼې هم بیا بیا د ارګ له مطبوعاتي دفتر سره اړیکه نیوله او غوښتل یې چې په دې باره کې زموږ نظر معلوم کړي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو مجبور شوو چې اعلامیه خپره کړو او په هغو کې د پېښې ریښتینی جریان بیان کړو، دا چې ولسمشر کرزي په بګرام کې د بارک اوباما د ملاقات بلنه رد کړې وه او ویلي یې وو چې د افغانستان د ولسمشر د لیدو کتو ځای ارګ دی نه بګرام.

په دې پسې ما له رویترز آژانس او بي بي سي او آزادي راډیو ګانو سره مرکې وکړې او موضوع مې ورته تشریح کړه. د شپې په ۱۲ بجو ولسمشر یو ځل بیا له ما سره په تیلفوني اړیکه کې شو او وې ویل: «ولسمشر اوباما غواړي په تیلفون ورسره خبرې وکړم ستاسو نظر څه دی؟» دواړه پر دې موافق وو چې تیلفوني خبرې ستونزه نه لري. له امریکا سره تړلیو رسنیو، وکیلانو او کارپوهانو! چې څومره توان درلود پر دې مساله یې بحثونه وکړل او د افغانستان د بدیو او د امریکا د ښېګڼو یادونې یې تکرار کړې.

دوې ورځې وروسته ښاغلي اوباما یو ځل بیا له حامد کرزي سره تیلفوني اړیکه ونیوه او دا ځل یې په افغانستان کې د خپلو ځواکونو پر کمولو خبرې وکړې.

سبا ته یې سفیر کننګهم او جنرال ډنفورډ د ولسمشر دفتر ته راغلل. هغوی هم د یو شمېر ځواکونو د اېستلو او د یو شمېر مرکزونو او اډو د خالي کولو پروګرام تشریح کړ. ښایي دوی به دې ته انتظار وو چې د دې خبرې په اورېدو به ولسمشر وارخطا شي او غوښتنه به وکړي چې امریکایان دې پاتې شي. خو ولسمشر د دوی د ځواکونو کمولو ته له پام پرته ترې وغوښتل چې خپل وسایط او تاسیسات له منځه یو نسي او یا یې پاکستان ته پرې نږدي. امریکایانو دا اوس په همدې کار لاس پورې کړی ؤ، ولسمشر د دې ټولو ترلاسه کول د افغانستان حق باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایانو د جون پر لومړۍ رسماً اعلان کړه چې د ګوانتانامو پینځه تنه بندیان چې د طالبانو له جګپوړیو قوماندانانو څخه وو د خپل یو بندي شوي پوځي په بدل کې پرېښودل او قطر ته یې استولي دي. سره له دې چې له افغان حکومت سره د دوی ژمنه داسې وه چې یاد بندیان به له خوشي کېدو وروسته افغانستان ته سپاري وروسته چې د هغو هر چېرته زړه وغواړي لاړ دې شي، خو داسې و نه شول.

په پېښور کې د پوځیانو پر یوه ښوونځي تر برید وروسته د پاکستان پوځ په وزیرستان کې پراخ عملیات پیل کړل. د هغه هېواد صدراعظم د جون پر ۱۷ مه یو پلاوی کابل ته را واستاوه چې په ترکیب کې یې محمود خان اڅکزی او د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت معین شامل وو. محمود خان اڅکزی د ولسمشر د درناوي وړ او د پاکستان د صدراعظم نواز شریف دوست دی. پلاوي د پاکستان د «ضرب عضب» په عملیاتو کې د افغانستان مرسته وغوښته او ژمنه یې وکړه چې د دې په پایله کې به د ترهګرو پټنځایونه له منځه یوړل شي، ولسمشر له دې ګیله وکړه چې پاکستان ملا برادر خوشي نه کړ او د سولې په راوستلو کې یې مرسته ونه کړه. نوموړي یادونه وکړه چې په دې جګړه کې د ښو او بدو ترهګرو توپیر ونه کړي. نوموړي پلاوي ته وویل چې پخپله به په دې تړاو نواز شریف ته لیک واستوي. لیک ما ولیکه، په دې عملیاتو کې د افغانستان شرطونه په څو مادو کې یاد شوي وو. په یوه ماده کې ویل شوي وو چې د عملیاتو په بهیر کې باید ملکي وګړو ته زیان وا نه وړي. ډاکتر سپنتا دغه لیک اسلام‌اباد ته یووړ او د پاکستان صدراعظم ته یې وسپاره. د پاکستان پوځیانو د یاد شوي شرط په اړه توند غبرګون ښودلی ؤ او څرګنده کړې یې وه چې ګواکې د افغانستان ولسمشر د ډېورنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لوري ته پراته خلک خپل بولي او د خونديتوب په باب يې اسلام‌اباد ته حدود ټاکلي دي.

په دې ډول د سولې پروسه بې پايلې پاتې شوه، امريکايانو چې په کوم ډول غوښتل د گونتانامو بنديان يې خوشي کړل او قطر ته يې واستول، پاکستان په وزيرستان کې پوځي عمليات پيل کړل او د خلکو په عامه وژنه يې لاس پورې کړ، پاکستان د افغانستان پر ختيځو سيمو درنو ډزو ته دوام ورکړ. د ولسمشرۍ د نوماندانو نومليکنه او انتخاباتي سيالۍ پيل شوې، امنيتي تړون لاسليک نه شو او يو له ستونزو او ترينگلتيا ډک بل پړاو پيل شو چې دا د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د انتخاباتو له پېښنو ډک پړاو ؤ.

## د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ پر انتخاباتو ځغلند نظر او د واک لېږد:

حامد کرزی لږ تر لږه د ولسمشرۍ تر انتخاباتو درې کاله وړاندې د هغو لپاره د مناسب نوماند په لټه کې ؤ. ولسمشر د خپلې ځانگړې فکري تگلارې له مخې و نه کولای شول چې تر ۱۳ کلونو زياته موده کې د خپلو همفکره همکارانو منسجم ټيم پيدا کړي. همدا رنگه هغه هڅه ونه کړه چې د هېواد اداره خپلو نژدې او همفکره کسانو ته وسپاري، په هغه څه چې د ده مرستيالان او لوی او وړوکي مشران ډېر د افراط تر حده بوخت وو. نوموړي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمېسيون او د گومارنو د بورډ گومارنې د تقدس تر بريده د احترام وړ بللې په داسې حال کې چې د هغو دوو بنسټونو مشران پخپله په سياسي معاملو کې سخت بوخت وو. ولسمشر د ۲۰۰۹ کال په انتخاباتو کې تر بريا وروسته خپل دوه کلک مخالفين عطا محمد نور چې ازبکستان ته تللی ؤ او ډاکټر اشرف غني احمدزی چې امريکا ته تللی ؤ را وغوښتل، لومړی يې د بلخ د والي پر مقام پرېښود او دوهم ته يې د اقتصادي او پوځي انتقال د پروسې مسووليت وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغې نوې جوړې شوې مهمې ادارې په مشرۍ د ډاکتر اشرف غني ګومارل کېدل هغه ته دا امکان برابر کړ چې بېلا بېلو ولایتونو ته مفت سفرونه ورته برابر شي او د هېواد په هر ګوټ کې له دولتي مسوولینو او خلکو سره اړیکې ونیسي. ډاکتر اشرف غني په ټولو تصمیم نیوونکیو او مهمو غونډو کې ګډون کاوه او په مهمو بهرنیو سفرونو کې یې حضور حتمي ګڼل کېدو.
کله چې نوموړي د خپلې ډېرې خرېیل پرېښودل او د غونډې په جریان کې به جګ شو په داسې ځای کې به چې لیدل کېدای شوای په لمانځه ودرېد وپوهېدم چې په سر کې یې د نوماندۍ خیالونه پالي.
په حکومت کې د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول د خپلې نوماندۍ خبره نه پټوله، نوموړی د دولتي ادارې د زیاترو غړیو له ملاتړه برخمن ؤ ځکه چې ولسمشر ته له نږدې کسانو څخه ګڼل کېدو.
یوه ورځ مې له ولسمشر نه پوښتنه وکړه چې آیا د ډاکتر اشرف غني له احتمالي نوماندۍ څخه ملاتړ کوې؟ وې ویل: «بده نه ده چې ولسمشر شي، دوې ځانګړتیاوې لري: یو دا چې کاغذ یې مخې ته کېږدې پر مغز یې پوهېږي دوهم دا چې که «وغواړي» د هېواد له ګټو څخه دفاع کولای شي»
په هغو ورځو کې د بېلا بېلو اسنادو له هغو څخه له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو پر تړون، د ځانګړیو عملیاتو او شپنیو عملیات پر تفاهم‌لیک او بالاخره له امریکا سره د امنیتي تړون پر سر تاوده بحثونه روان وو. په دې بحثونو کې، په ځانګړې توګه چې پخپله د افغانانو تر منځ به وو ډاکتر اشرف غني به هڅه کوله چې د وطن دوستۍ د تمایلاتو په څرګندولو د ولسمشر پام ځانته ور واړوي. نوموړي د اختر په یوه ورځ د امنیتي تړون پر سر له امریکایانو سره له یو لړ توندو خبرو وروسته ولسمشر کرزي ته ویلي وو: «رییس صاحب! که زه پوهېدای چې تر دې بریده د هېواد له ګټو څخه دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې هېڅکله به په ۲۰۰۹ کال کې ستا پر وړاندې سیالیو ته نه وم درېدلی»
په هغو پرلپسې بحثونو کې چې له ولسمشر سره مې د کلونو په بهیر کې د
یوه منسجم ټیم د جوړولو پر سر درلودل څو ځو ځله مې په دې تړاو د
نوموړي په نه لېوالتیا او په نه روزلو او سیاسي صحنې ته د ولسمشر د مقام د
داوطلبانو په نه راوستلو انتقادونه وکړل. په ځواب کې نوموړي د څو تنو
نومونه اخیستل چې د ولسمشرۍ مقام ته یې په نظر کې وو خو د کار په
جریان کې یې خپله ناتواني څرګنده کړې وه. دلته نه غواړم د هغو کسانو
نومونه یاد کړم.

له احتمالي نوماندانو څخه بل تن ډاکتر عبدالله عبدالله ؤ چې عملاً د دې
سیالیو لپاره پر تیاریو بوخت ؤ. د ولسمشر مشر ورور عبدالقیوم کرزی هم
پر ۲۰۱۴ کال هېواد ته راغی او په دې تړاو یې غونډې او مجلسونه جوړ
کړل.

ولسمشر د خپلې ولسمشرۍ د دوهمې دورې له نیمایي مودې تېرېدو
وروسته د یوه مناسب کس د موندلو لپاره مستقیمې او غیر مستقیمې مشورې
پیل کړې. نوموړي د پوهنتونو له استادانو، سیاسي شخصیتونو، دیني علماؤ،
قومي مشرانو او سپین ګیرو، محصلینو، د ښځو د حقوقو له فعالانو ... په
تکرار پوښتل چې څوک غوره دی چې ولسمشرۍ ته نوماند شي. نوموړي
په بېلا بېلو فرصتونو کې له خپلو همکارانو هم همدغه پوښتنه کوله خو په
زړه پورې او روڼ ځواب یې نه اورېد. زیاترو د راتلونکي ولسمشر
ځانګړتیاوې یادولې بېله له دې چې د شخص د نوم وړاندیز وکړي. تقریباً
ټولو به همدا ویل چې راتلونکی ولسمشر باید مسلمان، وطندوست او عادل
وي. خو چې دغه ځانګړتیاوې په چا کې را ټولې شوې، دې ته چا ځواب
نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انتخاباتي قوانين او د کمېسيونونو د نويو غړيو ټاکل

د انتخاباتو پر قوانينو کار د فضل احمد معنوي د رياست پر مهال پيل شو. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو انتخاباتي لانجې او د بهرنيانو فشارونه د دې لامل شول چې د انتخاباتو لپاره نوي قوانين تصويب شي. له دې قوانينو څخه يوه نيغ انتخابات تنظيمول او بل يې د کمېسيونونو تشکيل او د غړيو واکونه. د نويو قوانينو پر بنسټ چې د ۲۰۱۳ کال په نيمايي کې د پارلمان لخوا تصويب شول د انتخاباتي شکاياتو کمېسيون دايمي بڼه خپله کړه، په داسې حال کې چې تر دې وړاندې دغه کمېسيون يوازې د انتخاباتو پر مهال جوړېدو او وروسته به لغوه شو. بهرنيانو ډېره هڅه وکړه چې د کمېسيونونو په ترکيب کې په تېره د انتخاباتي شکايتونو په کمېسيون کې بهرنيانو ته هم د غړيو په توگه ځاى ورکړاى شي. هغوى دې موخې ته د رسېدو لپاره د مدني ټولنې په بنسټونو او پارلمان کې ډېر کار وکړ خو د ولسمشر له ډېر کلک مقاومت سره مخ شول.

نوي قانون د کمېشنرانو انتخابات يوې کمېټې ته وسپارل چې د «غوراوي کمېټه» ونومول شوه. تر دې مخکې به ولسمشر له سياستوالو سره په مشوره د انتخاباتي کمېسيونونو غړي ټاکل او مشخص کول.

د انتخاباتو د خپلواک کمېسيون د دارالانشأ رييس د ۲۰۱۰ کال د انتخاباتو له رسوايۍ وروسته له خپلې دندې لرې شو او په يوه معتبره امريکايي موسسه يانې «د اسيا بنسټ» کې يې د هغو د رييس په توگه زياته عايد لرونکې دنده ترلاسه کړه.

ښاغلي معنوي غوښتل چې «ذکريا بارکزى» د دارلانشا د رييس په توگه وټاکل شي. خو په هغه غونډه کې چې د شپې ناوخته په ارگ کې جوړه شوه او په هغو کې د انتخاباتو د خپلواک کمېسيون ټولو غړيو گډون درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی د رایو په اکثریت «ضاالحق امرخېل» دې مقام ته وړاندیز کړ. ښاغلي امر خېل د انتخاباتو په ترسره کولو کې کافي تجربه درلوده او د دارلانشأ د عملیاتي څانګې مسوولیت یې عملاً پر اوږو ؤ. ښاغلي معنوي د ضیاالحق امر خېل په انتخابېدو کې زه او د کابینې یو شمېر غړي ښکېل بلل. نوموړي په هغه غونډه کې ډېر توند غبرګون وښود او د دې انتخاب پایلې یې خطرناکې وګڼلې، خو د ښاغلي معنوي کاري دوره پای ته نژدې شوې وه او نوموړی بېله له دې چې په بل پست و ګومارل شي د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له ریاست نه ګوښه شو. ما په ارګ کې د خپل ماموریت پر مهال هڅه وکړه چې د مدني ټولنې په نوم د یو شمېر کېنې اړخو له لوېدیزو هغو سفارتونو سره د تړلیو کړیو چې پخوا کېنې اړخې وو انحصار مات کړم. دا د دې سبب شول چې د بشري حقونو په نوي کمېسیون او انتخاباتي کمېسیونونو کې د بدلون رنګ او بوی احساس شي، ځکه چې د درې واړو کمېسیونونو غړي له نوې لارې او د غوراوي په پروسه کې د مدني ټولنې د فعالینو په ګډون انتخاب شول.

د نویو کمېسیونونو غړیو د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر پر ۱۹ مه د لوړې مراسم ترسره کړل، او د دوی دننه د رایو په پایله کې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون مشر «احمد یوسف نورستاني» او د انتخاباتي شکایاتو د کمېسیون رییس «عبدالستار سعادت» انتخاب شو. ښاغلي نورستاني تر دې وړاندې په بېلا بېلو دولتي مقامونو کې لکه د وزارت معینیت او د والي په توګه دندې ترسره کړې وې، په داسې حال کې چې ښاغلی سعادت د هېواد له ځوانو او د لوړې کچې حقوقپوهانو څخه ؤ د حقوقپوهانو د شبکې د ادارې تر څنګ یې د ولسمشر د دفتر ریاست د حقوقي سلاکار په توګه هم دنده ترسره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوېدیزو هېوادونو چې په سر کې یې د امریکا متحده ایالات وو هڅه کوله چې د کمېسیون د غړو په باب د ولسمشر واکونه تر ممکن حده محدود کړي. د غوراوي کمېټه چې په نوي قانون کې د هغو جوړېدل راغلي وو د دواړو مجلسونو د رییسانو، د سترې محکمې د رییس، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار کمېسیون رییس، بشري حقونو خپلواک کمېسیون رییس او د انتخاباتو اړوند مدني ټولنې د بنسټونو له دوو غړیو څخه جوړه وه. سره له دې بیا هم نوي جوړ شوي کمېسیونونه ډېر د امریکا په مزاج برابر نه وو. ولسمشر لکه چې ژمنه یې کړې وه د کمېسیون خپلواکي یې ډېره محترمه بلله، د هغو له غړیو سره یې له خصوصي لیدنو ډډه کوله او هڅه یې کوله چې ټولې لازمې آسانتیاوې په واک کې ورکړي او امنیت یې خوندي وي.

## د نوماندانو د لیست نهایي کېدل

د ولسمشرۍ د نوماندانو لیست له پخوا څخه معلوم ؤ. د هغوی له ډلې څخه د ډاکتر عبدالله، ډاکتر زلمي رسول، ډاکتر اشرف غني احمدزي او قیوم کرزي نومونه اخستلای شو. ولسمشر په بېلا بېلو وختونو کې له یادو کسانو سره ناستې جوړولې او د هغوی نظریات به یې غوښتل. تر هغه مهاله د نوملیکنې او د نوماندانو د لیست نهایي کېدو پړاو ته ډېره موده پاتې وه. له دغسې لیدنو څخه یوه د دوهم لمبرماڼۍ په چمن کې په یوې لمرینې ورځې کې له غرمې وروسته له ډاکتر عبدالله سره وه په هغه ناسته کې زه هم وم. ولسمشر له ډاکتر عبدالله پوښتنه وکړه چې د انتخاباتو د ښه ترسره کېدو لپاره باید کوم کارونه ترسره شي. نوموړي د هغو شیانو نوملړ یاد کړ چې باید رعایت شي. ما د هغو یادو شویو موارد د تایید په ترڅ کې وویل چې د انتخاباتو د بریا تر ټولو لوی ضمانت د هغو د پایلو منل دي. ما چې د ۲۰۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال له انتخاباتو کوم درس زده کړی ؤ پر دې باوري شوی وم چې که د نړۍ په کچه تر ټولو غوره انتخابات ترسره شي خو چې نوماندان يې د پايلو د منلو اراده و نه لري د پروسې له ناکامۍ پرته بله پايله نه لري. زما خبرې په لومړي ګام کې پخپله ډاکتر عبدالله ته متوجه وې.

ډاکتر زلمی رسول چې د زياترو دولتي مقامونو او د ولسمشر د نژدې کسانو له ملاتړه برخمن ؤ هېڅکله يې د حامد کرزي ريښتينی ملاتړ ترلاسه نکړای شو. خو د ځواکمنو وزيرانو او انجنير ابراهيم سپين زاده شتون داسې انګېرنې را منځته کړې وې چې ګواکي نوموړی د ولسمشر د نظر وړ نوماند دی، ځکه خو سياسي فرصت غوښتونکي په لومړي پړاو کې ټول هغه ته ورغلل او ملاتړ يې ترې وکړ.

ډاکتر اشرف غني په لومړيو وختونو کې خپلې ټولې مشورې په يوازې توګه له ولسمشر سره کولې. خو د انتخاباتو له را نژدې کېدو سره د حامد کرزي د زړه له کومي تمايل دغه نوماند ته را څرګندېده.

استاد عبدالرب رسول سياف هم له نوماندانو څخه يو ؤ، لکه چې ولسمشر ويلي وو چې زړه يې ورته ويل له دې نوماند څخه ملاتړ وکړي خو دا چې پوهېده چې « ښاري خلک، ښځې او اهل تشيع به د نوموړي په ملاتړ کې دوه زړي وي» له نوموړي څخه يې هيله کړې وه چې دې سيالۍ ته له ننوتلو څخه ډډه وکړي. دا هغه خبرې وې چې ولسمشر د خپل کار په دفتر کې زما په مخ کې استاد سياف ته وکړې خو نوموړي څو ځلي دا ادعا کړې ده چې په پيل کې د ولسمشر لخوا وهڅول شوم او په پای کې بيا يوازې پرېښودل شوم.

هغه څوک چې له لومړۍ ورځې ولسمشر د هغه له نوماندۍ سره مخالفت وکړ او له افغانانو او بهرنيانو سره يې په مجلسونو کې په ښکاره د دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالفت په باب خبرې کولې هغه د ولسمشر مشر ورور قیوم کرزی ؤ. قیوم کرزی هم د خپل انتخاباتي ټیم پر جوړولو بوخت ؤ او هره ورځ یې له بېلا بېلو پاړکیو څخه له زیاتو کسانو سره په وزیر محمد اکبر خان مېنه کې لیدل. ورو ورو کار د ټیمونو نهایي کېدو او نوملیکنې ته نژدې کېدو او سره له دې چې ولسمشر د هغه له نوماند کېدو سره مخالف و. نوموړي خپل کار ته دوام ورکړ. د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر پر ۵ مه نېټه د ازبکو او ترکمنو یوه ډله مشران او وکیلان د ولسمشر لیدو ته راغلل. هغوی له ولسمشر نه د قیوم کرزي د انتخاباتي ټیم لپاره «دعا» وغوښته وې ویل چې نوموړي وحید الله شهراني او ډاکتر صادق مدبر  د خپلو مرستیالانو په توګه انتخاب کړي دي، ولسمشر هغوی ته په صفا ټکیو وویل چې د قیوم کرزي له نوماندۍ سره مخالف دی او ښاغلي مدبر ته به اجازه ور نکړي چې د نوموړي مرستیالي ومني. سپنتا د قیوم کرزي له پخوانیو دوستانو او کلکو ملاتړ کوونکیو څخه ؤ.

ولسمشر، قیوم کرزی یو ماښام خپل دفتر ته را وغوښت، په دې غونډه کې یوازې زه له ولسمشر سره شریک وم. ولسمشر خپل ورور ته په نسبتاً درنو الفاظو وویل چې له نوماندۍ نه تېر شي او رسماً دا اعلان وکړي. نوموړي ګواښ وکړ چې که داسې ونه کړي مخامخ به خلکو او رسنیو ته ووایم چې ورور مې امریکایي دی او زما ملاتړ ورسره نشته. هغه ګواښ وکړ چې خلکو ته به توصیه وکړي چې ده ته رایه ورنکړي. دغه خبرې زما په څېر د یو چا په مخکې چې هېڅکله هم د قیوم کرزي او محمود کرزي ښه نه ابشېدم پر هغو ډېرې سختې ولګېدې رنګ یې تک سور واوښت او له ډېرې غوسې او غضبه تاو را تاو شو. څو ورځې وروسته ښاغلی کرزی له خپلې نوماندۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېر شو او له خپلو پلويانو يې وغوښتل چې له نورو ټيمونو سره ملګري شي. هماغه وو چې زياتره برخه يې له زلمي رسول سره يو ځای شول.
د انجنير ګلبدين حکمتيار په مشرۍ حزب اسلامي د ۲۰۱۳ کال د سپتمبر پر ۲۹ مه حاجي عبدالمالک او حسن نياز کابل ته را واستول. هغوی وړانديز وکړ چې ډاکتر غلام فاروق وردګ د ولسمشرۍ لپاره د ښاغلي حکمتيار د نظر او اعتماد وړ کس دی. دغه خبر لږ موده مخکې هم موږ ته را استول شوی ؤ. حزب اسلامي په پام کې درلودل چې صلاح الدين رباني د مرستيال په توګه په دغه ټيم کې ونيول شي. د ولسمشر ځواب دا ؤ چې اوس ډېره ناوخته شوې ده او د زياترو ټيمونو تشکيل وروستی شوی دی. د ټيمونو او يا په اوسنۍ اصطلاح د انتخاباتي ټکټونو په جوړېدو کې ولسمشر کرزي مهم رول و لوباوه. د نوموړي موخه له دې څخه د ټولنې جوړښت او د ملي يووالي پياوړتيا وه، د ساري په توګه هڅه يې وکړه چې د تاجکانو يوه پېژندل شوې څېره د ډاکتر اشرف غني لومړی مرستيال کړي. په دې برخه کې يې هڅه وکړه چې محمد يونس قانوني او يا عطا محمد نور دې معاملې ته زړه ښه کړي. هغوی دواړو د ښاغلي غني له خوی او ځانګړتياوو څخه بېزاري وښوده او له دې کار نه يې انکار وکړ. نژدې ؤ چې غني مرستيال پيدا نه کړي او له نومليکنې پاتې شي چې حامد کرزي جنرال دوستم قانع کړ چې له نوموړي سره ملګری شي. ولسمشر کرزي عبدالهادي ارغنديوال او انجنير محمد خان و هڅول چې د ډاکتر عبدالله مرستيالي و مني او له هغه ټيم سره ملګري شي، هغه داسې فکر کاوه چې په دې کار به حزب اسلامي او جمعيت اسلامي سره نژدې شي. افغانستان د دغو دوو ګوندونو له سياليو او جګړو نه ډېر رنځونه ګاللي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوم چې ولسمشر کرزي د نورو دلایلو تر څنګ، له ډاکتر زلمي رسول څخه په دې سبب ملاتړ ونه کړ چې نوموړي د پښتنو له دراني څانګې سره تړاو درلود. په عین وخت کې یې خپل ورور قیوم کرزی په دې دلیل له نوماندۍ څخه لاس په سر کړ چې دغه شک او تردید په نطفه کې له منځه یوسي چې ګواکي نوموړی د خپلې کورنۍ د حاکمیت پلوی دی او له دې سره هممهاله د بهرنیانو له لاسه د انتخاباتو تخریبوونکې وسله واخلي. ما له نوموړي نه په دې تړاو یوه وړوکې خبره هم نه ده اورېدلې خو هغو اندېښنو چې نوموړي د افغانستان د راتلونکې په باب درلودې مخکې یاد شوي فکتورونه یې د ولسمشرۍ د انتخاباتو په تړاو په پرېکړو کې اغېزمن ګڼم. د یادونې وړ ده چې د دې ټولو پرېکړو ګټه اشرف غني ته رسېدله. زه د ولسمشر د کار له دوام سره سخت مخالف وم او په هغو کې مې لویه توطیه لیدله چې په ورانوونکې فاجعې به اوښتله.

## حامد کرزی باید ولسمشر پاتې شي

د افغانستان اساسي قانون یو چا ته اجازه ورکوي چې دوې دورې د هېواد ولسمشر شي. ولسمشر کرزی وایي چې دغه قید د ده د ټینګار په پایله کې ځای کړای شوی دی، ځکه چې ده نه غوښتل چې د دورو د نه قیدولو څخه په ناوړه استفادې څوک د دېکتاتورۍ د حاکمولو او د عمر تر پایه د حکومت خیال په ماغزو کې و نه پالي.

د ولسمشرۍ د نوماندانو لېست د ۲۰۱۳ کال د نومبر پر ۱۹ مه اعلان شو. په هغه لېست کې ۱۱ تنو د ولسمشرۍ د انتخاباتو په سیالیو کې ځای نیولی ؤ. حقیقت دا دی چې افغانانو د هغوی په منځ کې د حامد کرزي ریښتینی ځایناستی نه لیدو، ځکه خو د خپلې مبهمې راتلونکې په باب اندېښمن وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وروستي لېست تر اعلان مخکې او تر هغو وروسته ډېر خلک، قومي مشران، سیاستوال چې په بېلا بېلو مناسبتونو د ولسمشر کرزي لیدو ته راتلل له نوموړي یې غوښتل چې خپل حکومت ته دوام ورکړي او هېواد له یوه نامعلوم حالت سره مخ نه کړي. د هغو کسانو یو شمېر یې د دې کرښو د لیکلو پر مهال پر مهمو دولتي مقامونو د ولسمشر غني او یا د اجرائیه رییس په ونډه کې گومارلي دي. یو شمېر قومي مشران چې له اوسنیو حکومتي مشرانو او د هغه مهال له نوماندانو سره یې قومي آن قبیلوي تړاوونه درلودل بیا بیا یې له حامد کرزي وغوښتل چې هېواد هغوی ته و نه سپاري. ځینو به لکه ډاکټر سپنټا قانون په لاس کې گرځاوه او غوښتل به یې چې ولسمشر ته واضح کړي چې د قانون له مخې یې د کار موده پای ته نه ده رسېدلې. زه د ولسمشر د کار له دوام سره سخت مخالف وم او په هغو کې مې لویه توطیه لیدله چې په بربادوونکې فاجعه به منتج کېدله.

بل لوري ته ایرانیانو، روسانو، المانیانو او ... د خپلو ځانگړیو دلایلو له مخې او امریکایانو او انگلیسانو هم له حامد کرزي غوښتل چې په واک کې پاتې شي. د روسیې د دوما رییس په هغه سفر کې چې کابل ته یې درلود د دلکشا په ماڼۍ کې یې له ولسمشر سره ولیدل. نوموړي د لیدنې په وروستۍ برخه کې هیله وکړه چې له ولسمشر کرزي سره څو شېبې ځانگړې وگوري. موږ د پلاویو غړي د خبرو له اطاقه را ووتو او په دهلېز کې انتظار شوو. وروسته خبر شوو چې نوموړي د ولسمشر پوتین پیغام ولسمشر کرزي ته راوړی ؤ ویلي یې وو چې د افغانستان د ثبات د ساتنې او د سیمې د هېوادونو د ډاډمن کېدو لپاره ضروري ده چې نوموړی په واک کې پاتې شي ځکه چې افغانستان د مشرتابه بدلون ته چمتو نه دی. وروسته چې د ۲۰۱۴ کال د مې په میاشت کې د «سیکا» په غونډه کې د گډون لپاره موږ شانگهای ته سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود، ولادیمیر پوتین د افغانستان ثبات ته په اشارې ولسمشر کرزي ته وویل: «دریغه ته پاچا وای او د واک پرېښودو ته نه وای اړ شوی» ایرانیانو هم په افغانستان کې له بدلون وېره درلوده ځکه هغوی باوري شوي وو چې ولسمشر کرزی سره له دې چې هېواد یې په فقر او ناتوانۍ کې دی له امریکا سره یې د ناټو‌لیو هېوادونو په وړاندې خپلواک سیاست غوره کړی دی. د المان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی شتاین مایر چې د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر پر ۶ مه ارګ ته راغی د حرمسرای ماڼۍ په چمن کې یې له ولسمشر سره ولیدل د ډاکټر عبدالله او ډاکټر اشرف غني تر منځ نه ختمېدونکیو اختلافونو په باب یې د نهیلۍ له ښرګندولو سره له ولسمشر وغوښتل چې د ملي حکومت لپاره بدیل پیدا کړي. نوموړي هیله درلوده چې ولسمشر په واک کې پاتې شي خو له دې سره هممهاله له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي. موږ د المان د بهرنیو چارو وزیر د سفر په تړاو داسې ګڼله چې نوموړي له حامد کرزي سره د معاملې د ترسره کولو لپاره د امریکایانو پیغام راوړی ؤ. د امریکا او برېټانیا سفیران یوه ورځ یو ځای له ولسمشر سره د لیدو لپاره راغلل او په ویلز کې یې د ناټو د سرمشرانو د غونډې په تیاریو خبرې کولې. هغوی ولسمشر ته وړاندیز وکړ چې د ولسمشرۍ دوو نوماندانو تر منځ یوه توافق ته په رسېدو کې ناکامۍ ته په پام دې سمدستي پر خپل مقام پاتې شي او په یاد کنفرانس کې دې د افغانستان په استازیتوب ګډون وکړي. ولسمشر په ګواښناک ډول هغوی ته وویل چې که برېټانیا ته لاړ شي او د ناټو په سرمشریزه غونډه کې ګډون وکړي رسماً به وغواړي چې د امریکا او د دوی د متحدینو پوځونه دې له افغانستانه ووزي او دا اعلان به وکړي چې امنیتي تړون نه لاسلیکوي او دا د خپل هېواد په خیر نهویني. له هغې ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په حیرانوونکي ډول د دواړو نوماندانو د رایو د پلټنو په چارو کې فوق العاده چټکي راغله.
ولسمشر د سپټمبر د میاشتې په رانژدې کېدو سره تقریباً په هره لیدنه کې چې له امریکایانو او برېټانویانو سره یې درلودې د لوړې د مراسمو د نېټې معلومولو خبره یې کوله او گواښ یې کاوه چې که هغوی د انتخاباتو د پایلې د روښانه کېدو او د واک په لېږد کې له صداقت او سرعت څخه کار وانخلي ارگ به پرېږدي او په یوه کرایي کور کې به و اوسي. د دې لپاره چې هغوی د ده گواښونه جدي وگڼي پخپله یې له ما نه وغوښتل چې په شش‌درک او یا وزیر اکبر محمد خان مېنه کې کور ورته ولټوم. هغه پوهېده چې زما د کور لټولو راپور امریکایانو ته ورځي او هغوی په دې تړاو د ولسمشر پر جدي توب باوري کېږي.

## د انتخاباتو ترسره کېدل او تر هغو وروسته لانجې

د ولسمشرۍ انتخابات د ۲۰۱۴ کال د اپریل پر ۵ مه یانې د ۱۳۹۳ لمریز کال د وري پر ٦ مه ترسره شول. دا لومړني سل په سلو کې افغاني انتخابات وو. ولسمشر کرزي د امریکایانو پر وړاندې ډېر سخت مقاومت وکړ پرې یې نښودل چې د کمېسیونونو په تېره د شکایاتو په کمېسیون کې بهرنیان غړیتوب ولري. اروپايي هېوادونه او هغه شمېر افغانان چې په شعوري او یا لاشعوري توگه د کمېسیونونو په ترکیب کې د بهرنیانو غوښتونکي وو د پارلمان او له لوېدیز سره له تړلیو رسنیو نه په استفادې یې د نوموړي پر خلاف تونده تبلیغاتي څپه را پورته کړې وه.
د انتخاباتو لپاره د تیارۍ ډېرې چارې ترسره شوې او په دې تړاو ډېرې امنیتي غونډې جوړې شوې. ملي امنیت ریاست وخت پر وخت د امنیتي گواښونو په اړه راپورونه راوړل. د هغو راپورونو له مخې هم طالبانو او هم پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصمیم درلود چې انتخاباتي بهیر د کمېسیونونو، حساسو انتخاباتي موادو او نوماندانو په نښه کولو ګډوډ کړي. د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت ریاست او زما دفتر چې د جګپوړیو چارواکیو د ساتنې ځانګه ور پورې تړلې وه مسؤولیت مو درلود چې د کمېشنرانو، کمېسیونونو او نوماندانو ټولې اړتیاوې رفع کړو، ځکه چې حق مو نه درلود چې ډېرې وړوکې کمۍ او ناغېړۍ ته اجازه ورکړو. کله کله له دې نه کمېشنرانو او نوماندانو ناوړه ګټه اوچتوله خپلو خپلوانو او دوستانو ته یې د ساتونکي په نوم تنخواه او دنده ورکوله د خپلو زرهي او تعقیبي موټرونو شمېر یې پرلپسې زیاتوه. استخباراتي راپورونه د استاد سیاف، ډاکتر عبدالله او ډاکتر اشرف غني په اړه زیات وو.

د کورنیو چارو وزارت جنرال احساس د انتخاباتي پروسې د امنیت مسؤول ټاکلی ؤ. په دغه زماني محدوده کې غموونکې ترهګریزې پېښې د کابل په ښار کې وشوې، چې له هغه جملې څخه په وزیر محمد اکبر خان مېنه کې پر لبناني رستورانت او سرینا هوټل ترهګریز بریدونه وو. په سرینا هوټل کې وسله‌والو کسانو د یوې کورنۍ ماشومان چې د ډوډۍ خوړلو لپاره دلته راغلي وو د پلار او مور په مخکې په مرمیو وویشتل او ویې وژل.

پر دې سربېره د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وداني د مارچ پر ۲۹ مه نېټه تر ترهګریز برید لاندې راغله. د کورنیو چارو وزیر محمد عمر داوودزي د برید موخه د انتخاباتي پانو له منځه وړل هدف وښودل چې د ده په وینا انتخابات په خپله ټاکلې موده کې ترسره نشي.

احمد یوسف نورستاني چې د ملي امنیت شورا ته د مارچ پر ۳۰ مه کوم راپور وړاندې کړ څرګنده یې کړه چې د امنیتي ننګونو په سبب به ٪۱۰ د رایې اچونې مرکزونه تړلي وي. د یادونې وړ ده چې د انتخاباتو له ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو وړاندې مارشال محمد قسیم فهیم د ولسمشر لومړی مرستیال په پروان مېنه کې په خپل کور کې وفات شو او محمد یونس قانوني د نوموړي ځایناستی شو. د ښاغلي محمد یونس قانوني پر ځایناستي کېدو له سیاسیونو په تېره جمعیت اسلامي او نظار شورا سره له څو غونډو او مشورو وروسته وروستۍ پرېکړه وشوه. نوموړی پخوا تر دې چې ملي شورا ته د تایید لپاره لاړ شي د مارچ پر ۱۹ مه ولسمشر ته راغی او د نوموړي له «له مهربانۍ او لطف» یې مننه وکړه وې ویل چې دغه حق به یې ادا کړي.

د اپرېل په پینځمه نېټه مازیگر مهال یانې د انتخاباتو په ورځ، د اروپایي اتحادیې استازی او د هغه اتحادیې د څارونکیو د ټیم مشر د ولسمشر دفتر ته راغلل. دواړو د انتخاباتو پر «فوق العاده» ترسره کېدو خوښي کوله او د دې بریا مبارکي یې موږ ته راکړه. د اروپایي اتحادیې استازي وویل چې په خپله یې څو انتخاباتي سایټونو ته سر ور ښکاره کړ او هغه نظم او دسپلین یې چې هلته لیدلی پرې حیران شوی دی. هغوی د ډاکټر عبدالله د پلویانو د شکایت یادونه هم وکړه چې د رای پاڼو د کمبود په اړه ؤ.

د ملي امنیت شورا په غونډه کې چې د انتخاباتو په سبا ورځ وه ولسمشر ټولو په تېره امنیتي او دفاعي ادارو ته په بري د انتخاباتو په ترسره کېدو مبارکي ورکړه او د مالیې له وزیر نه یې وغوښتل چې که امکان وي د امنیتي او دفاعي سکتور ټولو منسوبینو ته یوه میاشت بخششي معاش ورکړي.

د بریالیو انتخاباتو ترسره کولو، د کمېسیونونو په غړیو، د حکومت په منسوبینو او ټولنه کې د غرور او پر خپل ځان د اعتماد یو احساس را پیدا کړی ؤ. د ملي دفاع وزیر بسم الله محمدي ویل چې د انتخاباتو په ورځ موږ د ملي پوځ اووه تنه شهیدان درلودل چې تر عادي ورځو هم لږ وو، د کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو وزیر محمد عمر داوود زي «د دې بریا ټول ویاړ» د ولسمشر او د ده د مرستیالانو وباله.

د امریکا متحده ایالاتو سفیر او جنرال ډنفورډ چې د اپرېل پر ۸مه د ولسمشر دفتر ته راغلي وو په خپل نوبت یې په بریا د انتخاباتو ترسره کېدل وستایل.

د انتخاباتو لومړنیو پایلو وښودله چې ډاکتر عبدالله په لومړي مقام کې دی او ډاکتر اشرف غني احمدزی دوهم او ډاکتر زلمي رسول درېیم ځای نیولی دی.

له انتخاباتو وروسته چې په ارگ کې ډېر بحثونه او کارونه کېدل له همدې پروسې سره یې تړاو درلود. ولسمشر پرلپسې د هغو د پایلو په باب پوښتنې کولې. تر انتخاباتو وروسته د نوماندانو  له ډلې څخه لومړی ډاکتر اشرف غني، ورپسې ډاکتر عبدالله او تر هغه وروسته ډاکتر زلمی رسول د ولسمشر کرزي لیدو ته ارگ ته راغلل. ډاکتر عبدالله څرگنده کړه چې ښایي په لومړي پړاو کې د انتخاباتو گټونکی شي. نوموړي وویل: «د ډاکتر اشرف غني تر څنگ د نا مناسبو څېرو شتون او د زلمي رسول تر څنگ د احمد ضیا شتون زما په گټه تمام شول » د برېټانیا سفیر ریچارډ سټگ د وروستیو پایلو تر اعلان مخکې د یو ډول «سیاسي تفاهم» په باب خبره وکړه او د ولسمشر پام یې ور واړاوه، واشنگټن پوست ورځپاڼې هم ولیکل چې د امریکا د دولت مامورین د نوماندانو تر منځ د سیاسي تفاهم غوښتونکي دي. له انتخاباتو اته ورځې وروسته د ۱۰٪ شمېرل شویو رایو پایلې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له لوري اعلان شوې چې د هغو له مخې ۴۲٪ ډاکتر عبدالله، ۳۸٪ ډاکتر اشرف غني او ۱۰٪ ډاکتر زلمي رسول وړې وې. وروستۍ پایلې د اپرېل پر ۲۶ مه اعلان شوې. د هغو پر اساس ولیدل شول چې په لومړي پړاو کې کوم نوماند گټونکی نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د می پر ۴ مه ولسمشر د ولسمشرۍ دوهم مرستیال استاد خلیلي، قاضي القضات عبدالسلام عظیمي، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس گلرحمان قاضي، د ولسي جرگې رییس عبدالروف ابراهیمي، د مشرانو جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار، د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون رییس ډاکتر یوسف نورستانی، د انتخاباتي شکایاتو د کمېسیون رییس عبدالستار سعادت، د دواړو کمېسیونونو د دارالانشا رییسان ضیاالحق امر خېل او ډاکتر محمد علي ستېغ او بالاخره ډاکتر اشرف غني احمدزی او ډاکتر عبدالله ارگ ته را وغوښتل.

د بحث وړ موضوع د دوهم پړاو انتخاباتو د ترسره کولو څرنگوالی ؤ او دا چې حکومت په کوم ترتیب مناسب شرایط ورته برابر کړي. له ښاغلي سعادت پرته نورو ټولو داسې خبرې کولې چې گواکي دوهم پړاو ته له تللو پرته بله چاره نشته، ښاغلي امرخېل له یو شمېر دولتي کارکوونکیو څخه پرته په امنیتي او دفاعي برخه کې شکایت وکړ چې په یو شمېر برخو کې یې په تقلب کې لاس درلود. دوو مخکښو نوماندانو هم د هغه څه په باب چې په لومړي پړاو کې لیدلي وو شکایت وکړ. ډاکتر عبدالله وویل چې په اوو ولایتونو کې د انتخاباتي رای پاڼو کمبود ستونزې را منځته کړې، هغوی وتوانېدل چې یوازې په درې پړاوونو کې څارنه وکړي، تر هغه مهاله د یو شمېر صندوقونو برخلیک معلوم نه ؤ، د پلټنې او بیا شمېرلو لایحه ډېره په ځنډ تصویب شوه... ډاکتر اشرف غني له کمېسیونونو شکایت وکړ چې د ده له ټیم سره معلومات نه شریکوي، له رسنیو یې گیله وکړه چې د ده پر خلاف یې ناوړه تبلیغات کړي «یو مسلمان سړی کافر او یهودی بولي» نوموړي هیله وکړه چې په راتلونکي پړاو کې د حکومت غړي بې طرفه پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا تر دې چې دوهم پړاو انتخابات ترسره شي دوه مخکښ نوماندان هر یو بېل راغلی او له ولسمشر سره یې خپل شکایتونه مطرح کړل. ډاکتر عبدالله د ضیا الحق امرخېل د لرې کولو غوښتنه وکړه ځکه چې هغه یې بې طرفه نه باله. ډاکتر اشرف غني د کورنیو چارو له وزیر ښاغلي داوودزي او یو شمېر والیانو او د ولایتونو له امنیه قوماندانانو نه شکایت وکړ چې په انتخاباتو کې د یوه ځانګړي نوماند «ډاکتر عبدالله» په ګټه لاسوهنې کوي.

امنیتي ګواښونه هم مخ پر زیاتېدو وو. د ډاکتر عبدالله د انتخاباتي ټیم کاروان په کابل کې تر یوه ځانمرګي برید لاندې راغی، په دې برید کې نوموړي خپل څو تنه ساتونکي له لاسه ورکړل او د ده د مرستیال انجنیر محمد خان موټر بشپړ له منځه لاړ.

د ولسمشرۍ د انتخاباتو دوهم پړاو د ۲۰۱۴ کال د جون پر ۱۴ مه نېټه د ډاکتر اشرف غني او ډاکتر عبدالله تر منځ ترسره شول.

د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون په دفتر کې د انتخاباتو پر ورځ له ماسپښین وروسته یوه پېښه وشوه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت نظام ته د ویجاړوونکیو جنجالونو پیلامه شوه. ضیاالحق امرخېل د سروبي ولسوالۍ او د پلچرخي ساحې د خلکو په غوښتنه چې د رای پاڼو د کمبود په باب یې درلوده پرېکړه وکړه چې له رای پاڼو ډک صندوقونه په هغو سیمو کې یادو مرکزونو ته واستوي. تر دې پېښې مخکې مولوي تره خېل محمدي ما ته زنګ وواهه چې د دوی حق تلف شوی دی. نوموړي وویل چې له څو ساعتونو راهیسې د دوی په محلونو کې رای پاڼې ختمې شوې دي، خلک په کتارونو کې ولاړ دي خو څوک د رای پاڼو د ور استولو په اړه د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب نه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولاً باید د رای پاڼو وړونکیو موټرو امنیت باید د پولیسو لخوا نیول شوی وای. د کابل امنیې قوماندان جنرال محمد ظاهر ځان د کمېسیون دفتر ته رسولی ؤ او هلته یې د یو شمېر کامرو په مخکې ښاغلی امر خېل پر دې تورن کړی ؤ چې له رای پاڼو ډک صندوقونه په غیرقانوني ډول یادو محلونو ته استوي. دغه جنجال ډېر لوی شو تر دې چې بالاخره د هغو له خېټې د ملي یووالي حکومت را و ووت.

د یادونې وړ ده چې په هماغه ورځ د ځایي خلکو په غوښتنه رای پاڼې د کابل لوېدیځ، شېرمې ناحیې، خیرخانې کوتل او نورو سیمو ته هم د رایو ورکولو محلونو ته استول شوې وې.

ښاغلي قانوني، ښاغلي داودزي او ښاغلي ډاکتر عبدالله دغه پېښه ډېره جدي وبلله او د هغو د څېړنې غوښتنه یې وکړه. ښاغلي نورستاني هغه انتخاباتي مساله وبلله چې باید د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون لخوا و څېړل شي او که جرمي عناصر په کې ولیدل شي لویې څارنوالی ته یې وسپاري.

ولسمشر په هغه غونډه کې چې د جون پر ۱۷ مه ولسمشری د مرستیالانو، د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون غړیو، قاضي القضات، د کورنیو چارو وزیر او د اساسي قانون په تطبیق د څار کمېسیون رییس په ګډون جوړه شوه موضوع یې وڅېړله او وې ویل چې د ډاکتر عبدالله شکایت په دې برخه کې باید جدي ونیول شي، رسیده ګي ورته وشي او د نوموړي ډاډ باید ترلاسه شي.

ډاکتر عبدالله د جون پر ۱۸ مه اعلان وکړ چې له انتخاباتي کمېسیونونو سره خپله اړیکه ځنډوي. نوموړي ولسمشر کرزی تورن کړ چې د انتخاباتو په پروسه کې بې طرفه نه دی ځکه یې د یوناما د مداخلې غوښتنه وکړه او ویې غوښتل چې د انتخاباتي لانجو اړوند مسایل دې د ملګرو ملتونو سازمان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشراف لاندې وڅېړل شي. ښاغلي عبدالله سمدستي د انتخاباتو له خپلواک کمېسیون نه خپل ځارونکي ور وغوښتل.
د ملګرو ملتونو سازمان را ننه وېستل سړې اوبه وې چې پر ولسمشر کرزي ور تویې شوې. نوموړي ډېرې هڅې او خوارۍ کړې وې چې د انتخاباتو پروسه افغاني کړي او د بهرنیانو له نفوذه یې را وباسي، نوموړی له ډېرو ستونزو ګاللو سره وکولای شول چې کمېسیونونه افغاني کړي او د بهرنیانو غړیتوب پکې له منځه یوسي، خو دا دې یوه تن نوماند نه یوازې دا چې هغه په پلوي توب تورن کړ بلکې د انتخاباتي لانجو د حل کیلي یې د بهرنیانو په لاس کې ورکوله.
د یوناما رییس یان کوبیش په همدې ورځ د امریکا له سفیر سره یو ځای ارګ ته راغی تر څو په هغه غونډه کې چې موږ د ولسمشر همکاران او د نوموړي مرستیالان پکې شامل وو ګډون وکړي. نوموړي د ډاکتر عبدالله لخوا د خلکو د پارولو او «عدالت غوښتنې» په موخه خبرې او له کمېسیونونو سره د کار درول غیر قانوني او خطرناک وبلل خو هممهاله یې د یوې سیاسي پروسې د پیل غوښتنه هم وکړه. د امریکا سفیر د ډاکتر عبدالله تصمیم «لویه غلطي» وبلله او وې ویل «پر یو شخص د بې دلیله تورونو لګول باید ټوله پروسه له پوښتنې سره مخ نه کړي» نوموړي د دواړو نوماندانو د پلویانو په منځ کې د درغلیو شتون یو شان و باله او د کمېسیونونو د کار پر دوام یې ټینګار وکړ. خو ولسمشر کرزي تر هغه وروسته چې ډاکتر عبدالله ته یې زنګ وواهه او پخپله یې د هغه له خولې واورېدل چې د ملګرو ملتونو سازمان د مداخلې غوښتونکی دی له دې غوښتنې سره یې خپل توافق اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ضیاالحق امرخېل د ثبت شویو غږونو خبر چې د ډاکتر اشرف غني په پلوۍ د غیر قانوني مداخلې ښکارندوی وو د لومړي ځل لپاره د ایران د سفیر ښاغلي بهرامي لخوا ولسمشر ته ورسول شو. نوموړي په هغه لیدنه کې چې له ولسمشر سره یې درلوده وویل «په داسې حال کې چې امریکا او یوناما د انتخاباتو د پروسې پر نورمال دوام ټینګار کوي نو د پایلو مسوولیت یې هم باید پر غاړه واخلي»

د ولسمشر نوي مرستیال محمد یونس قانوني موږ ته خبر را کړ چې د انتخاباتو د کمېسیون د رییس د غږ سي ـ ډي د جمعې په ورځ د جون پر ۲۰ مه ارګ ته راوړي. سره له دې چې موږ انتظار شوو خو په هغه ورځ د ښاغلي قانوني درک معلوم نه شو.

اعتراضونه او د پرلت خېمې په کابل کې په درېدو وې. د هغو معلوماتو پر اساس چې د هماغې جمعې په ورځ یان کوبیش موږ ته راکړ ډاکتر عبدالله ترلاسه کړی سند یوې امریکایي ورځپاڼې ته سپارلی ؤ.

د ډاکتر عبدالله پلویان د موټرو په کاروان کې چې په منځ کې به یې د دفاع وزارت اړوند موټرونه هم لیدل کېدل په ښارو کې ګرځېدل او هوایي ډزونه به یې کول. د ښار په ځینو برخو کې د پرلت خېمې ودرول شوې، ډاکتر عبدالله ته نژدې رسنیو په ګواښنده بڼه ولیکل چې که کمېسیون ډاکتر غني ګټونکی اعلان کړي ډاکتر عبدالله به خپل بېل حکومت اعلان کړي.

د جون پر ۲۱ مه ښاغلي قانوني د انتخاباتو خپلواک کمېسیون د دارالانشا د رییس د غږ سي ډي موږ ته را وړه چې د ډاکتر غني په ګټه د «درغلیو» ښکارندوی ؤ. ولسمشر هغه کمېسیونونو ته د قانوني ارزونې لپاره واستوله.

د هماغې ورځې په مازیګر د یوناما مرستیال «نیکولاس هایسم» د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وویل چې که څه هم ډاکتر عبدالله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزي په انتخاباتي لانجه کې د ملګرو ملتونو سازمان د مداخلې غوښتنه کړې خو یوناما دا اراده نه لري چې د افغانانو په کورنیو چارو کې مداخله وکړي. نوموړي له مهالوېش سره سم د انتخاباتي کمېسیونونو د کار له دوام خبر ورکړ خو د پیل شویو لاریونو په اړه یې اندېښنه وښوده. نوموړي د خپلو خبرو په پای کې وغوښتل چې د دوهم پړاو انتخاباتو یوې برخې د پایلو اعلان دې څو ورځې وځنډول شي.
د کورنیو چارو وزیر هره ورځ د کابل د وضعې وېرووونکي راپورونه ولسمشر ته را وړل. پر نوماندانو او کمېسیونونو د بریدونو احتمال، او بالاخره دا چې ګواکې په شمالي کې وسله‌وال کسان را ټول شوي او پر کابل یرغل ته تیار دي. د کورنیو چارو وزارت جنرال محمد شفیق فضلي د ډاکتر غني د کور او جنرال زمری پیکان د ډاکتر عبدالله د کور د امنیت مسوول وټاکل.
تر دې پېښې وړاندې یوه ورځ ښاغلی معنوي زما د کار دفتر ته راغی او هیله یې وکړه چې له ډاکتر عبدالله سره وګورم. دا کار مې وکړ او د شپې مې د پروان مېنې په دوهم سړک کې د هغه په کور کې ورسره یوازې ولیدل. په پیل کې نوموړي زما او زما د «پاک» کار ستاینه وکړه. له خبرو یې وپوهېدم چې فکر کوي ښاغلی سعادت او ښاغلی امر خېل له ما سره نژدې دي او زه باید ورته ووایم چې حق مې تلف نه کړي. ما د خپل ځان او ولسمشر د بې طرفۍ ډاډ ورکړ. نه پوهېږم چې له زړه نه یې ومنله که نه، خو لیدنه مو په محترمانه فضا کې ترسره شوه. په همدې ډول مې له حاجي محمد محقق سره د هغه په کور کې وکتل. دا ځل ما وار ړومبی کړ او غوښتل مې چې د خپلې بې طرفۍ ډاډ ورکړم. نوموړي د هغو لانجو یادونه وکړه چې د وزارت پر مهال مې د ولسي جرګې له فرهنګي کمېسیون سره درلودلې او وې ویل:
«هغه مهال ته هم بې تجربې وې او موږ هم اشتباه وکړه»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر هڅه وکړه چې خپل مرستیالان فعال کړي چې یوه د ډاکټر غني پلوي کوله او بل د ډاکټر عبدالله، چې هغوی د دواړو تر منځ د سیاسي توافق په راوستلو کې رول ولوبوي.
د ضیاالحق امر خېل غږ چې خپل د لاس لاندې کسانو ته یې هدایت ورکاوه چې صندوقونه ډک کړي د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې د ډاکتر عبدالله د پلویانو له لوري خپور شو.
نوموړی غږ څو دوه اړخیزې مکالمې وې، یانې یوه درېیم لوري چې د غږ اورېدو توان یې درلود هغه ثبت کړی ؤ. وروسته یوه افغاني نژاده امریکایي ما ته کیسه وکړه چې د یادو خبرو اترو ژباړه او ترانسکېرت ده د امریکایانو په یوه مرکز کې اصلاح کړه او وروسته بیا رسنیو خپرې کړې. د افغانستان په ادارو کې د ملي امنیت عمومي ریاست او د کورنیو چارو وزارت د غږ اورېدو او ثبت (استراق سمع) امکانات درلودل. د دواړو ادارو مسوولینو ولسمشر ته وویل چې د امر خېل او د هغه د همکارانو د غږ ثبتول د دوی کار نه دی. د یادونې وړ ده چې د استاد خلیلي او زما د همکار جاوېد کوټوال غږونه هم ثبت شوي وو. ښاغلي کوټوال له کمېسیون نه یوازې پایلې غوښتې وې او بس.
یان کوبیش څو ځله له ولسمشر څخه وغوښتل چې د ښاغلي امر خېل امنیت او خوندیتوب ته ځانګړې پاملرنه وکړي. استعفا ته د نوموړي د چمتو والي خبر لومړی ځل موږ ته د امریکا سفیر د جون پر ۲۲ مه نېټه را وړ.
د یوې برخې رایو له څنډولو سره د یوناما موافقې د ولسمشر اندېښنې زیاتې کړې وې. نوموړي د واک د لېږد او د لوړې د مراسمو لپاره د اګست دوهمه نېټه په نظر کې نیولې وه او ډاکتر مدبر ته یې دنده سپارلې وه چې د هغې ورځې لپاره بشپړه لازمه تیاري ونیسي. ولسمشر هیله درلوده چې له بهر نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مراسمو کې د ګډون لپاره جګپوړي پلاوي کابل ته راشي. د برېتانيا د سفير دغه پوښتنه چې د اپرېل پر ۲۶ مه يې ويلي وو چې ځوک به د لوړې مراسم ترسره کوي د خطر د زنګ په څېر د ولسمشر په ذهن کې کړنګېدله. له هغه ليدنې وروسته ولسمشر ما ته وويل: «خُرم صاحب دا مهمه پوښتنه ده، د دې تر شا څه مسايل شته، ښايي هغوی (امريکايان او برېتانويان) وغواړي چې په انتخاباتو کې د يوه نوماند لخوا د غوغا له راپورته کولو وروسته دوی غږ اوچت کړي چې ملګرو ملتونو سازمان بايد د لوړې مراسم تنظيم او ترسره کړي» دا دي اوس د پايلو په اعلان کې د ځنډ منل د هغه اندېښنې پر واقعيت د تاييد مهر ږدي.

يوه ورځ ولسمشر د امريکا له سفير کننګهم وپوښتل چې چا ته ورشو چې د ډاکتر عبدالله لخوا جوړې شوې ستونزې حل کړي، نوموړي ځواب ورکړ: «ستاسو لوېديځ ګاونډي ته» ولسمشر وپوښتل: «ايران؟» د سفير ځواب مثبت ؤ.

د امر خېل د غږ خپرېدو په سبا ولسمشر نوموړی له ښاغلي نورستاني سره د خپل کار دفتر ته را وغوښت ښاغلي امرخېل د خپلو خبرو په يوه برخه کې وويل چې درې ځلې يې د لومړي پړاو د پايلو له اعلان څخه مخکې په خصوصي توګه له ډاکتر عبدالله سره يوازې ناستې درلودلې. د نوموړي په وينا ډاکتر عبدالله ويل چې ځوک به په پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو کې د رايو اچولو لپاره له کورونو را و نه وزي او له نوموړي غوښتل شوي وو چې د استاد سياف او ډاکتر زلمي رسول رايې دې باطلې اعلان کړای شي تر څو دی (ډاکتر عبدالله) وکولای شي په لومړي پړاو کې اکثريت رايې وګټي. ښاغلي امر خېل زياته کړه چې د دې کار په بدل کې له نوموړي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غیر مستقیم ډول د مالي امتیازاتو او په پښتنو کې د ځانګړي مقام ژمنه شوې وه.
ولسمشر ښاغلي امر خېل ته ژمنه ورکړه چې د استعفا په صورت کې به یې خوندیتوب ته پام وشي. خو د دارالانشا رییس ډاډه نه و چې د ده له استعفا سره به ډاکتر عبدالله له پروسې سره له مخالفت څخه لاس پر سر شي. نوموړي استعفا ته چمتووالی وښود خو وې ویل چې د یوه خبري کنفرانس په ترڅ کې به د انتخاباتو پروسې له سالمیت نه دفاع وکړي.
د ولسمشر په مرستیالانو کې ښاغلی قانوني د سیاسي حل لارې رامنځته کولو ته ډېر لېوال ؤ. نوموړي ډاکتر اشرف غني ته د صدراعظمۍ د پست جوړولو وړاندیز کړی ؤ چې د نوموړي له خوا منل شوی ؤ. ښایي د قانوني هدف به دا ؤ چې یوه ورځ پخپله دغه مقام ترلاسه کړي ځکه چې د ډاکتر غني په انتخاباتي ټیم کې تاجک مرستیال نه ؤ.
د پایلو اعلان هماغسې ځنډول شوی ؤ او ښاغلي قانوني پرلپسې ګواښونه کول چې که کمېسیون پایلې اعلان کړي بدې پایلې به ولري.
یوناما او امریکایانو د ډاکتر عبدالله د پلویانو لخوا د موازي حکومت د اعلان له اړخه ډېره زیاته اندېښنه درلوده خو ولسمشر ډاډه ښکارېدو او ویل یې چې که د دې دسیسې شا ته امریکایان نه وي موازي حکومت به را منځته نشي.
د انتخاباتو جنجالونو په بهیر کې عجیبې امنیتي پېښې هم وشوې. د جولای پر ۳ مه د دلکشا ماڼۍ په انګړ کې دوه توغندي ولګېدل. څو نور توغندي د هوایي ډګر په هغه سمڅه (هنګر) را پرېوتل چې د ولسمشر ځانګړې الوتکه پکې درېدلې وه، د ولسمشر ځانګړې الوتکې ته زیان هم ورسېد. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سره هممهاله د ارغندۍ په سیمه کې سلګونو د تېلو ډکو ټانکرونو اور واخیست او زیات زیانونه یې واړول.

د جولای پر ۶ مه یان کوبیش یو ځل بیا ولسمشر ته راغی او د پایلو په اعلان کې یې د پینځو ورځو ځنډېدو غوښتنه وکړه. د نوموړي په وینا ډاکتر غني د پایلو په اعلان کې ځنډ نه مانه او ډاکتر عبدالله یې اعلانول!.

دوې ورځې وروسته جان کیري د تیلفون په اړیکه ولسمشر ته په نژدې وخت کې کابل ته د راتلو خبر ورکړ. نوموړي تر دې وړاندې له دواړو نوماندانو سره هم په تیلفون خبرې کړې وې. هغه شېبه چې د جان کیري زنګ راغی ولسمشر او ما د اوبو او انرژۍ له وزیر اسماعیل خان سره ناسته درلوده. ولسمشر هڅه کوله چې نوموړی د مشرانو جرګې ریاست منلو ته غاړه کېږدي. د اساسي قانون له مخې په داسې حال کې چې ولسمشر او د هغه مرستیالان پر خپلو دندو نه وي د مشرانو جرګې رییس د دولت د ریاست پر مقام کښېني. ځکه خو ولسمشر غوښتل چې د نوموړي او د مرستیالانو د کار له پای ته رسېدو وروسته د اسماعیل خان غوندې یو څوک د دغه خطرناکې دندې مسوولیت پر غاړه واخلي.

په دې ترخ کې یان کوبېش یوه طرحه چمتو کړې وه چې د رایو د بیا ځېړنې وړاندیز یې کاوه. دغه نوې څېړنې باید د جولای تر ۲۴ مې پای ته رسېدلې وای.

## د ا مریکا علني مداخله او کابل ته د جان کیري سفر

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د جولای پر ۱۰ مه له چین نه کابل ته راغی. نوموړی سبا سهار ولسمشر ته په ترات راغی، کیري د ډاکتر عبدالله له لوري د موازي حکومت د اعلان له اړخه اندېښنه وښودله. سبا ته د ولسمشرۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو نوماندانو سره تر لیدو وروسته بیا ارګ ته راغی او د ډاکتر غني له دې وړاندیز یې خبر راکړ چې سل په سلو کې رایې دې له سره وپلټل شي.
نوموړي زیاته کړه چې د سل په سلو کې رایو پلټل وخت نیسي او ښایي د اګست تر پایه هم پایته و نه رسېږي. ولسمشر په دې صورت کې د امنیتي تړون د برخلیک په باب پوښتنه وکړه، جان کیري ځواب ورکړ: «آیا حامد کرزی به د ناټو سرمشرانو تر غونډې وړاندې د امنیتي تړون لاسلیک ته حاضر شي؟» د ولسمشر ځواب بیا هم هماغه پخوانی ؤ: د سولې د پروسې عملي پیل د مخکیني شرط په توګه! خو له هغه څه چې حامد کرزي وېره درلوده د پېښېدو په درشل کې وو: د لوړې د مراسمو په جوړېدو کې ځنډ او د انتخابي ولسمشر معلومېدل چې باید واک هغو ته ورسپارل شوی وای!.
هېواد په یو ګونګ لانجمن حالت کې ؤ. سره له دې چې موږ په ارګ کې وو او حامد کرزی رسماً د افغانستان ولسمشر ؤ خو په کرار کرار واک زموږ له لاسو وتلو او د نندارچیانو بڼه مو خپلوله. په واقعیت کې افغانستان ډېر ګړندی د بې حکومتۍ او انارشۍ په لور پر مخ تلو. د دغه بې برخلیکه حالت په اوج کې «متیو روزنبرګ» د نیویارک ټایمز ورځپاڼې استازي د سپتمبر د ۱۹ مې په ګڼه کې په یوه لیکنه کې ولیکل چې په افغانستان کې د یو شمېر مهمو وزیرانو لخوا د کودتا او د لنډمهالي حکومت د جوړېدو امکان شته دی. ولسمشر یاد ژورنالیست د ملي امنیت په خطر کې اچولو او استخباراتي فعالیتونو په تور له هېواده وشاړه او ممنوع الدخول یې وګرځاوه. خو چې کله اشرف غني د ولسمشرۍ مقام ترلاسه کړ له لومړنیو اقداماتو څخه یې یو له روزنبرګ نه د پابندیو لرې کول وو.
جان کیري د جولای پر ۱۲ مه د یان کوبېش په کور کې د ولسمشرۍ له دواړو نوماندانو سره اوږد مجلس درلود. تر دې چې نوموړی و نه توانید چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وعدې سره سم ماښام ارګ ته راشي. د هغوی غونډه د شپې تر یوولس نیمو بجو پورې اوږده شوه او د یوه خبري کنفرانس په ورکولو پای ته ورسېده. د شپې په ۱۲ بجو جان کیري ارګ ته راغی او یو کاغذ یې ورسره راوړ. ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله د یوه سیاسي چوکاټ پر اساس منلې وه چې د انتخاباتو پروسه او د رایو پلټنه مني. ځکه خو د لوړې مراسم باید یو ځل بیا ځنډېدلي وای.

ښاغلي کیري د یان کوبېش په لاسلیک د یوناما رسمي مکتوب هم ورسره راوړی ؤ چې له ولسمشر پکې غوښتنه شوې وه چې د لوړې د مراسمو له ځنډېدو سره موافقه وکړي هغه یې په خپل لاس ولسمشر ته وسپاره.

د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړی استازی جېمز ډوبنز د جولای پر ۲۰ مه له ولسمشر سره د لیدو لپاره راغی. ولسمشر د لومړي ځل لپاره د نوموړي له خولې د دوو نوماندانو د هوکړې له کلیاتو خبر شو، جېمز ډوبنز وویل ډاکټر غني او عبدالله هوکړه کړې ده چې دواړه به د رایو د تفتیش پایلې مني، د ملي یووالي حکومت به په ګډه جوړوي، د دوو کلونو له تېرېدو وروسته به د صدراعظم د پست را منځته کولو لپاره لویه جرګه راغواړي، د امنیتي او اقتصادي سکتور وزارتونه به پخپلو کې مساوي وېشي، لومړی ګټونکی به ولسمشر شي او دوهم ګټونکی به اجرائیه رییس ټاکي او داسې نور.

د رایو د بیا شمېرنې او څېړنې کار پیل شو خو له ډېرو ستونزو او خنډونو سره مخ ؤ. د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون مشرتابه او ډاکټر اشرف غني شکایت درلود چې وسله‌وال کسان هره ورځ د کمېسیون انګړ ته ننوزي، له زور کار اخلي او درایو په بیا شمېرنه کې خنډونه جوړوي. هغوی له فضل احمد معنوي څخه چې د ډاکټر عبدالله د ټیم مشري یې په دې پروسه کې پر غاړه وه سر ټکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي امنیت شورا په هغه غونډه کې چې د شپې ناوخته د یوه نوماند یانې ډاکتر اشرف غني په ګډون جوړه شوې وه نوموړي په ښار کې له بدنظمۍ او هوايي ډزو، د ډاکتر عبدالله د وسله‌والو کسانو له خوا د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون د څارنوالانو او کارکوونکیو د ګواښلو او د یو شمېر پولیسي منصبدارانو له پلوي توب نه شکایت وکړ. نوموړی د خپلو خبرو په یوه برخه کې ډېر احساساتي شو سوک یې په مېز وواهه او یونس قانوني ته یې په خطاب کې وویل: «په خدای سوګند قانوني صاحب که په دې ډول څو نورې مرکې وشي ستاسو ټولې لاسته راوړنې به برباد شي» نوموړي زیاته کړه چې په فشار او ګواښ به هېڅ شی هم قبول نه کړي. د نوموړي اشاره ښاغلي معنوي او د ډاکتر عبدالله نورو پلویانو ته وه.

ولسمشر د کورنیو چارو له وزیر ښاغلي داودزي وپوښتل چې په ښار کې ولې د فتنه جوړوونکیو کسانو د ګرځېدو او ډزو مخنیوی نه کوي او ولې د پروان د امنیت آمر ښاغلي سیدخیلي نه پوښتنې نه کوي چې د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون مرستیاله ریدا عظیمي یې ګواښلې وه. او ولې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون د غړې مېرمن لیلا احراري د موټر چلوونکي قاتل نه بندي کوي؟ ښاغلي داودزي په ګواښنده لهجه د استعفا ورکولو خبره وکړه او وې ویل: «د هر څه جلب مې له لاسه تللی دی، زه دا کارونه نشم کولای، څه مصلحتونه په منځ کې دي».

په هغو بېلا بېلو ناستو کې چې ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله له ولسمشر سره درلودې بیا بیا به یې نوموړي ته ویل چې ولسمشر شي نوموړی (کرزی) به ملي زعیم اعلانوي او ټولې مهمې ګومارنې به د ده په موافقه ترسره کېږي.

د ولسمشر کرزي ځواب به هر ځل دا ؤ چې دی به په راتلونکي کې ملي زعیم نه بلکې تقاعد شوی ولسمشر وي، نوموړي ویل چې د ولس زعامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فرمان نه رامنځته کېږي. هغه په ګومارنو کې د جهادي مشرانو ترخې تجربې ته په اشارې په دې چارو کې مداخلې منتفي بللې. خو زما په مخکې يې هغوی ته ځو ځلې وويل چې په ځو مسالو کې به مداخله وکړي:
د ملي يووالي په مساله کې که له ګواښ سره مخ شي، د دولت د حاکميت په مساله کې او د ډيورنډ کرښې په باب.
د بهرنيو چارو وزير جان کيري د خپل دوهم سفر په ترڅ کې د جمعې په ورځ د اګست پر ٨ مه ارګ ته راغی او له ولسمشر سره يې وليدل. نوموړي د دواړو نوماندانو تر منځ د وروستۍ هوکړې په باب خوشبيني وښوده او زياته يې کړه چې امريکا غواړي دا وښيي چې پروسه بشپړه افغاني ده او هر ډول توافق د افغانانو کار دی. ولسمشر د «دوه سره» حکومت له رامنځته کېدو اندېښنه وښوده وې ويل چې بايد د راتلونکي ولسمشر لاسونه تړلي نه وي.
بالاخره وروستۍ هوکړه د اګست پر لسمه ترلاسه شوه او جان کيري په داسې حال کې چې يان کوبېش هم ولاړ ؤ د ولسمشرۍ د دواړو نوماندانو ډاکتر اشرف غني او ډاکتر عبدالله لاسونه يې د کامرو په مخکې اوچت کړل د خلکو پر رايو د معاملې او د لاسپوځي توب تلپاتې ننداره يې وړاندې کړه.
د اګست پر ١٢ مه سفير کننګهم او جنرال ډنفورډ د ولسمشر دفتر ته راغلل. يو ځل بيا دغه مساله مطرح شوه چې د برېټانيا ويلز ته د ناټو سرمشريزې ته څوک بايد لاړ شي. ولسمشر کرزي وغوښتل چې د لوړې مراسمو په ترسره کېدو کې بايد بيړه وشي. نوموړي ګواښ وکړ چې د اګست تر ٢٨ مې نېټې وروسته به ارګ پرېږدي او خپل کور ته به لاړ شي. سفير پوښتنه وکړه چې آيا ولسمشر هغه کور ته چې د ده لپاره نوی جوړ شوی (سپيدار ماڼۍ) ته ورځي؟ نوموړي ځواب ورکړ: «نه، هلته چې په پام کې ده زما دفتر وي، ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته جوړ شوی کور د دولت او راتلونکي ولسمشر لپاره ښه مېلمستون کېدای شي.»

ورځې تېرېدې، دواړو نوماندانو د ملي يووالي حکومت د جوړېدو په باب سياسي هوکړه‌ليک هم لاسليک کړی ؤ خو د رايو د پلټنې پايلې نه معلومېدې.

د انتخاباتي کمېسيونونو غړي د ولسمشرۍ د مرستيالانو او يان کوبېش په حضور کې را وغوښتل شول تر څو معلومه شي چې د دوی د کار په مخه کې خنډ څه شی دی او څه ډول لرې شي. ښاغلي سعادت د رايو په تفتيش کې د بهرنيانو په شاملولو نيوکه وکړه وې ويل چې د دوی کمېسيون دا وړتيا درلوده نوموړي تر دې مخکې هم ويلي وو «د انتخاباتو دوسيه بايد د ولسمشر د مرستيالانو او سفارتونو د مېز له سره را واخيستل شي»

ولسمشر د اگست پر ۲۱ مه سفير کننگهم خپل دفتر ته را وغوښت او له نوموړي يې وغوښتل چې په چارو کې بيړه وکړي. سفير ځواب ورکړ: «دا ستاسو افغانانو کار دی» ولسمشر د سفير د خبرو په رد کې وويل: «داسې نه ده که داسې وای نو جان کيري به دلته څه کول؟» سفير وويل: «دا بايد روښانه وي چې دا د افغانانو پروسه ده، امريکا په هغو کې مسووليت نه لري، دواړه نوماندان، د هغو پلويان او ستاسو خلک بايد هغو ته حل لاره ولټوي» ولسمشر ځواب ورکړ چې کله د جان کيري او ملگرو ملتونو پښه پکې ور ننوته نور نو پروسه افغاني کېدای نشي. ولسمشر سفير ته وويل: «(...) ما امنيتي تړون لاسليک نه کړ، زه په هېواد کې د ناټو د حضور مخالف يم، تاسو غواړئ زما ميراث خراب کړئ خو زه نه پرېږدم چې داسې وشي»

سفير: «تاسو داسې خبرې کوئ چې گواکې زموږ ولسمشر په منځ کې وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر کرزی (په غوسه ناکه لهجه): «نو زموږ ولسمشر موږ ته راکړئ، زموږ اجرائیه رییس موږ ته راکړئ، زموږ انتخابات موږ ته راکړئ»
ولسمشر یو ځل بیا ګواښ وکړ چې که اړ شي د ناټو سرمشریزې غونډې ته لاړ شي نو همالته به له امنیتي تړون سره خپل مخالفت څرګند کړي او له افغانستان نه به د ناټو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړي. له دې ګواښ وروسته د رایو د پلټنې بهیر په حیرانوونکي ډول ډېر چټک شو.
سره له دې چې دواړو نوماندانو سیاسي هوکړهلیک لاسلیک کړی ؤ خو د پایلو د اعلان طریقه او د کابینې ریاست دوې داسې مسالې وې چې پر هغو مخالفت کار ډېر ځنډاوه. ډاکتر عبدالله غوښتل چې اجرائیه رییس د کابینې مشري وکړي او د مشروعیت سرچینه هماغه سیاسي هوکړهلیک وګرځول شي.
انتخاباتي جنجالونه آن د دې سبب شول چې موږ د سلما بند د پرانیستې لپاره چې د اوبو را ټولېدل پکې بشپړ شوي وو هرات ته سفر ونه کړای شو.
د اګست د ۳۰ مې نېټې په شپه کې ولسمشر اوباما ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله ته زنګ وواهه او دا یې ورته ویلي وو چې وروستۍ پایلې د ناټو تر سرمشریزې غونډې مخکې را وباسي.
حکومت پرېکړه وکړه چې د ناټو سرمشریزې غونډې ته چې په ویلز کې جوړېده د دفاع وزیر جنرال بسم الله خان واستوي. بسم الله خان برېټانیا ته تر تلو وړاندې له دواړو نوماندانو سره ولیدل او له دواړو یې پیغامونه ترلاسه کړي وو چې د بریالي کېدو په صورت کې به له امریکا سره امنیتي تړون او له ناټو سره به د ځواکونو د وضعیت په تړاو تړون لاسلیکوي. دواړو ډاکترانو پر دې هم بسنه نه وه کړې او په داسې حال کې چې د دوی د مخالفتونو په سبب بشپړ ولس په عذاب کې پروت او د کورنۍ جګړې په درشل ولاړ ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناټو د مشرانو په عنوان يې ګډ ليک وليکه او په هغو کې يې ډاډ ورکړ چې د بريا په صورت کې به د دوی هر يو له امريکا سره امنيتي تړون او له ناټو سازمان سره به د ځواکونو د وضعيت تړون لاسليک کړي.
ولسمشر اوباما هم په ويلز کې په خپله وينا کې د ډاکتر غني او ډاکتر عبدالله تر منځ د سياسي هوکړې يادونه وکړه او دا يې د يوه ښه خبر په توګه د ناټو مشرانو ته اعلان کړ.
ښاغلي معنوي چې د ډاکتر عبدالله له لوري د رايو د پلټنې د څارنې مسووليت ور سپارل شوی ؤ وويل چې که پايلې اعلان شي، و به يې نه مني.
ځکه خو ولسمشر له سفير کننګهم او يان کوبېش وپوښتل چې که کمېسيونونه له پلټنو را وتلې پايلې اعلان کړي د دوی دريځ به يې په رد او يا تاييد کې څه وي؟ هغوی سره له دې چې له څرګند ځواب ورکولو ډډه کوله خو وې ويل چې د مشروعيت سرچينه هماغه د انتخاباتي کمېسيونونو اعلان دی او بس! د امريکا سفير ډاډ ورکړ چې دوی د پايلو د اعلان لپاره لازم فورمول چمتو کړی دی. د پايلو د اعلان فورمول امريکايانو وموند او هغه يې نوماندانو او د انتخاباتو خپلواک کمېسيون ته وسپاره. د هغو په پای کې د امريکا سفير کننګهم، د يوناما رييس يان کوبېش، د ډاکتر عبدالله د ټيم په استازيتوب وحيدالله شهراني او د ډاکتر اشرف غني د ټيم په استازيتوب محمد حنيف اتمر لاسليکونه وکړل. نوموړی کاغذ د يان کوبېش لخوا ښاغلي نورستاني ته وسپارل شو. د کابينې د رياست مساله تر هغه مهاله لا حل شوې نه وه.
بالاخره دوی توافق ته سره ورسېدل چې د حکومت غونډې به د ولسمشر تر رياست لاندې د کابينې غونډې بلل کېږي او د حکومت هغه غونډې چې د اجرائيه رياست تر مشرۍ لاندې کېږي د وزيرانو د غونډې په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده شي. د دې هوکړې له مخې د وزیرانو شورا غونډه په اونۍ کې یو ځل او د کابینې غونډه به په میاشت کې یو ځل ترسره کېږي. دغه فورمول هم امریکایانو جوړ کړی ؤ، ځکه چې اصلي متن یې په انګرېزۍ ژبه لیکل شوی ؤ، حضرت عمر زاخېلوال چې د ډاکټر غني په انتخاباتي ټیم کې فعال ؤ د سپتمبر پر ۱۳ مه د ولسمشر د کار په دفتر کې په غونډه کې له خپل جېبه را ویوست او موږ ته یې ولوست.
ولسمشر ډېره هڅه وکړه چې د راتلونکي ولسمشر واکونه د اساسي قانون سره سم خوندي پاتې شي او د سیاسي هوکړه‌لیک په واسطه محدود نشي.
سره له دې چې د انتخاباتو ګټونکی تر هغه شېبې پورې معلوم نه ؤ خو ټولو د ډاکټر عبدالله په شمول دا حتمي بللې وه چې ډاکټر اشرف غني به ولسمشر او ډاکټر عبدالله به اجرائیه رییس شي.
د سپتمبر پر ۸ مه ډاکټر عبدالله د رایو د پلټنې پر څرنګوالي نیوکه وکړه وې ویل چې د دوی له صبر نه ناوړه ګټه اوچته شوې ده او د ډاکټر غني پلویان هوکړه‌لیک یوازې یوه اعلامیه ګڼي. نوموړي زیاته کړه چې له درغلیو څخه په راوتلي حکومت کې به ونډه وانخلي.
د هغې ورځې په سبا د احمد شاه مسعود د وژل کېدو په تړاو د لویې جرګې په خیمه کې غونډه جوړه شوه، د ډاکټر عبدالله پلوي احساساتي ځوانانو په تالار کې ټینګ د ولسمشر کرزي تصویرونه څیرې او را کوز کړل او حضرت مجددي یې چې د ډاکټر غني له پلویانو څخه ؤ پرېنښود چې وینا وکړي.
د واک وېش او د مهمو ګومارنو پر سر د نوماندانو تر منځ چنې وهل د ولسمشر کرزي لپاره ډېر ځوروونکي وو ځکه چې د سر په سترګو یې لیدل چې هغه اداره چې په ډېر زحمت د ملکي خدماتو د اصولو سره سمه که هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره په ځنډ جوړه شوې وه اوس له منځه تله او حکومتي مقامونه د متاع په څېر د سیاست په بازار کې د حریصو سیاسي لوبغاړو تر منځ معاملې ته اېښودل شوي وو، امریکایان له خپل لومړي دریځ نه شا ته شول او د سیاسي معاملې له نهایي کېدو مخکې یې د پایلو له اعلان څخه له ملاتړه انکار وکړ. «دانیل فیلدمن» چې د امریکا د ځانګړي استازي په توګه د جېمز ډوبنز ځایناستی شوی ؤ د سپتمبر پر ۱۷ مه یې له ولسمشر کرزي سره د لیدو پر مهال وویل په داسې صورت کې چې کمېسیون په یو طرفه ډول پایلې اعلان کړي دوی به پرې کار و نه لري ځکه چې انتخابات د افغانستان د خلکو ملکیت دی. ولسمشر یې په ځواب کې وویل: «ټوکې مه کوه، دغه انتخابات د امریکا اړوند دي، افغانستان بې وزله هېواد دی او عام خلک له دې وضعې ډېر ځورېږي»

د هغې ورځې په سبا سیاسي او جهادي مشران د مشورې لپاره د ولسمشر په بلنه ارګ ته راغلل ځکه چې د سیاسي هوکړه‌لیک په شتون کې د انتخاباتي لانجو دوام ډېر د پوښتنې وړ ګرځېدلی ؤ. ولسمشر په ټینګار وویل چې که د انتخاباتو خپلواک کمېسیون را وړاندې شي پایلې اعلان کړي د اساسي قانون له مخې به یې نوموړی و مني او د لوړې او د واک د لېږد مراسم به چمتو کړي. ښاغلي قانوني د ولسمشر له دې نظر سره مخالفت وکړ او د کمېسیون د یو طرفه اعلان پایلې یې خطرناکې وبللې. استاد سیاف وویل: «(...) که د پایلو یو طرفه اعلان وشي هېواد به په همغه ورځ بحران ته لاړ شي او مسوولیت به په مستقیم ډول تاسو (ولسمشر کرزي ته اشاره) ته راجع شي (...) څوک چې په دې انتخاباتو ولسمشر کېږي شرعاً له هغه څخه اطاعت جواز نه لري، په دې کې چې دعوه وشي چا ګټلې، چا بایللې زه یوه میاشت بحث ته حاضر یم. خدای هم پوهېږي، اسمان هم پوهېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه هم پوهېږي چې آن درې میلیونه رایې نه دي کارول شوي» په دې غونډه کې د استاد سیاف او حضرت مجددي تر منځ لنډه لفظي شخړه هم وشوه. غونډې د ښاغلي قانوني په وړاندیز پرېکړه وکړه چې د انتخاباتو خپلواک کمېسیون ته پیغام ورکړل شي چې سیاسي حل لارې ته تر رسېدو پایلې اعلان نه کړي. ولسمشر کرزی دې پرېکړې هم له ستونزو سره مخامخ کاوه ځکه چې د ده په وینا داسې انګېرنې یې را پیدا کولې چې ګواکي دی د خپل حکومت د دوام هیله لري. ځکه یې وړاندیز وکړ چې نوماندان ارګ ته را وغوښتل شي او دغه مجلس خبرې ورسره وکړي. له هغوی سره تیلفوني اړیکه ټینګه نه شوه، سکرترانو یې ځواب ورکړ چې دواړه ډاکټران د امریکا په سفارت کې په بېلا بېلو اطاقونو کې ناست دي او د سفارت مامورین د دواړو په منځ کې تګ را تګ کوي او د جوړ جاړي پر جوړېدو بوخت دي.

بله ورځ یو ځل بیا جهادي او سیاسي مشران پر دواړو نوماندانو سربېره د دلکشا ماڼۍ ته را وبلل شول. ولسمشر کرزي غوښتل چې غونډه دې د ده په غیاب کې جوړه شي. خو د ډاکټر عبدالله او استاد سیاف په بیا بیا غوښتنه نوموړی د دلکشا ماڼۍ ته راغی او خپل مرستیالان یې هم را وغوښتل. په دې غونډه کې دواړو نوماندانو په خپلو کارونو کې د ډېر پرمختګ خبر ورکړ. د دې خبرې په اورېدو د غونډې ټول برخوال ډېر خوشاله شول او دواړو ډاکټرانو ته یې مبارکي وویله. بل لوري ته ښاغلي نورستاني پرلپسې له ما سره اړیکه نیوله او له ولسمشر سره یې د لیدو هیله کوله. ما د تېرې ورځې د غونډې د وړاندیز کیسه ورته وکړه، نوموړی ډېر خپه شو وې ویل: «مونږ نن یا سبا لیدل غواړو دغه معامله ډېره شرمناکه شوې ده. هغوی (دواړه نوماندان) سره جوړېدای نشي خو مونږ تر دې زیات نشو معطل کېدای، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایلې اعلان نه کړو موږ بې حیثیته کېږو پر دې سربېره دوستان هم غواړي چې پایلې اعلان شي» ترې و مې پوښتل: «موخه دې له دوستانو نه بهرنیان او امریکایان دي؟» ځواب یې راکړ: «هوکې» سبا ته یانې د جمعې په ورځ یو ځل بیا نورستاني زنګ وواهه او را ته وې ویل چې یوه ورځ نور به هم معطل شي.

د شنبې په ورځ ډاکتر احمد یوسف نورستاني د انتخاباتي شکایتونو د وروستۍ فیصلې د اعلانولو پرځای د هغه فورمول له مخې چې امریکایانو او یوناما جوړ کړی ؤ او د امریکا سفیر، د یوناما رییس، وحید الله شهراني او حنیف اتمر یې په پای کې لاسلیکونه کړي وو د انتخاباتو او د رایو د پلټنو پایلې اعلان کړې. تر دې وړاندې ډاکتر اشرف غني او ډاکتر عبدالله د سیاسي هوکړه‌لیک متن په ارګ کې د ولسمشر کرزي، سیاسي مشرانو او دولتي چارواکیو په حضور کې لاسلیک کړی ؤ.

ښاغلي نورستاني ډاکتر اشرف غني احمدزی ولسمشر اعلان کړ، شمېرنې یې یادې نه کړې، د درغلیو شتون یې ومانه خو هغه یې دومره ژور وباله چې اړخونه یې نامعلوم پاتې شول. په زړه پورې دا چې ښاغلي نورستاني په خپل اعلان کې ډاکتر عبدالله ته د اجرائیه ریاست مقام مبارکي وویله.

په هغه غونډه کې چې د پایلو له اعلان وروسته د سپتمبر پر ۲۲ مه په ارګ کې جوړه شوه او په هغو کې د دواړو کمېسیونونو ټولو غړیو ګډون کړی ؤ د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون رییس عبدالستار سعادت د پایلو د اعلان پر وخت او ځرنګوالي توندې نیوکې وکړې او هغه یې پر دواړو انتخاباتي بنسټونو سخت ګوزار وباله. نوموړي وویل: «موږ خپل استقلالیت او عزت و نه ساتلای شو»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولسمشر اشرف غني ته د واک لېږد

چې څنګه ډاکټر اشرف غني د نوي ولسمشر په توګه اعلان شو، ولسمشر کرزي هدایت وکړ چې نوموړی دې له کورنۍ سره ارګ ته را ولېږدول شي او په الحاقیه ودانۍ کې دې ځای پر ځای شي. له دې سره هممهاله د ولسمشر د ساتنې ریاست PPS وګومارل شو چې د نوموړي امنیت ونیسي. ما مې خپل مرستیال ظاهر غوث ته دنده وسپارله چې ټولې اړوندې چارې تنظیم کړي او ځینې کسان د تشریفاتو په څانګه کې د نوموړي د لیدنو لپاره و ګوماري.

ولسمشر د حکومت په وروستیو میاشتو کې تقریباً هره ورځ ما ته ویل چې ټول یادښتونه مې منظم او په دوسیو کې یې ځای کړم او هغه راتلونکي د دفتر رییس ته وسپارم. همدارنګه رسمي لیکونه لکه د بهرنیو دولتونو او حکومتونو د رییسانو لیکونه، د افغانستان د ولسمشر لیکونه او د مطبوعاتو ریاست ارشیف باید په بشپړ او منظم ډول نوي ادارې ته وسپارم. له ډاکټر اشرف غني سره په یوه وروستۍ لیدنه کې ولسمشر کرزي له هغه نه وغوښتل چې څوک یې د دفتر ریاست ته په نظر کې نیولي ما ته یې معرفي کړي چې د ارګ د ادارې د تسلیمولو مقدمات ورسره تنظیم کړم. ښاغلي غني د مالیې وزارت پخوانی معین ښاغلی عبدالسلام رحیمي ما ته معرفي کړ. تر دوو په زیاتو غونډو کې چې ما له ښاغلي رحیمي سره درلودې د ارګ اداره مې نوموړي ته معرفي کړه او پر هغه څه چې باید پوهېدلی وای ورته تشریح مې کړل. ورته ومې ویل چې یو ارزښتناک شی چې په منظم ډول مې په دوسیو کې درته ایښي زموږ د بهرنیو او کورنیو لیدنو یادښتونه دي.

د دولتي ادارې له جوړېدو سره موازي د ارګ د مسوولینو یادښتونه هم بشپړ شوي وو. ما د پخوانیو د دفتر رییسانو یادښتونه هلته و نه لیدل. د ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاوېد لودين د دورې يادښتونه لړ پيدا شول او د ښاغلي داودزي د دفتر رياست د دورې يادښتونه منظم شوي وو او هغه څه چې په هغو کې مې وموندل په دوسيو کې مې منظم کړل. ولسمشر ټينګار کاوه چې د دې يادښتونو يوه کاپي د بهرنيو چارو وزارت ته هم واستوم خو دغه فرصت مې ترلاسه نه کړ.

د ډاکتر اشرف غنی مېرمنې او د کورنۍ نورو غړيو د ارګ د ليدو پر مهال له دې سره علاقه ښودلې وه چې د دوی د استوګنې ځای کوټې باغچه و ټاکو. دغه وړوکې ماڼۍ چې د امير عبدالرحمان خان پر مهال جوړه شوې وه او نوې يې د بيا رغاونې چارې سر ته رسېدلې وې په ارګ کې زموږ د توکرۍ د ګل حيثيت درلود، موږ آن لوحې هلته ايښې وې چې څوک يې نقاشي شويو او په ميناتوري شويو تابلو ګانو ښکليو شويو دېوالونو ته تر يوه متر زيات ور نژدې نشي. دې غوښتنې زه حيران کړم ځکه چې موږ د حامد کرزي له ساده او بې تکلفه ژوند سره بلد وو.

په يوه ځانګړې ليدنه کې مې خپل درې تنه مرستيالان او د بېلا بېلو څانګو رييسان ښاغلي رحيمي ته ور وپېژندل. د ارګ اړوندې بېلا بېلې ادارې، د جګپوړيو چارواکو د محافظت له لسم رياست نه تر B کنډک، د ولسمشر د محافظت رياست، د مطبوعاتو څانګه، خدمات او نور مې نوموړي ته ور وپېژندل.

ډاکتر اشرف غني آن د لوړې تر مراسمو وړاندې د ارګ په سلامخانه کې لويې غونډې را بللې او هره ورځ يې له سوونو کسانو سره ليدل. حامد کرزي پخوا د خپل کور کالي او سامانونه په کارتنونو کې ځای پر ځای کړل او اوسني استوګنځي ته يې چې په پيل کې د ده د دفتر په توګه په پام کې نيول شوی ؤ په ليږدولو پيل کړی ؤ. دې ودانۍ چې پخوا د ملګرو ملتونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



UNDP دفتر پکې ؤ د هغه ودانۍ سره چې د نوموړي د استوګنې لپاره جوړه شوې وه له ځمکې تر اسمانه توپير درلود. ولسمشر د هغه ودانۍ د جوړولو چارې پخپله څارلې. نوموړې ودانۍ د سردار محمد داود خان د کور پر ځای جوړه شوې وه، تقريباً ټول سامانونه او وسايل يې له بهر نه را وړل شوي او کارول شوي وو. ولسمشر کرزي د خپل حکومت په وروستيو ورځو کې خپله کورنۍ او موږ له دې پرېکړې خبر کړو چې دغې ودانۍ ته نه ورځي. ډاکتر اشرف غني ډېره هڅه وکړه چې حامد کرزی له خپلې دې پرېکړې نه را وګرځوي، بالاخره يې نوموړي ته وويل: «که تاسو دلته را نشئ يا به يې جنرال دوستم او يا ډاکتر عبدالله له ما نه غصب کړي».
د ماښيو جګړه هغه وخت پيل شوه چې د لوړې د مراسمو او د واك تر لېږد يوه ورځ وړاندې د جنرال دوستم وسلهوال کسان د صدارت انګړ ته ننوتل او دفترونه يې ونيول. د صدارت مشهوره ماڼۍ او احاطه د ولسمشر د مرستيالانو د کار ځای ؤ، ډاکتر عبدالله چې د نوي جوړ شوي اجرائيه رياست پست مسوول ؤ له صدارت پرته يې بل ځای د خپل دفتر لپاره ونه موند، سره له دې چې د مرمرينې ماڼۍ وړانديز يې ورته کړی ؤ خو هغه يې نه وه خوښه شوې، د جنرال دوستم دغه عمل د ډاکتر عبدالله د خپګان سبب شو تر دې چې هغه پرېکړه وکړه چې د لوړې مراسم ترسره نه کړي. خو د ولسمشر کرزي په منځګړيتوب او هڅو هغه دې ته چمتو شو چې د لوړې په مراسمو کې ګډون وکړي. د واك له لېږد وروسته د اختر ورځې راورسيدې. د اختر په ورځو کې ولسمشر کرزي د تقاعد شوي ولسمشر لپاره نوې جوړه شوې ماڼۍ ډاکتر عبدالله ته ور وښودله او د هغو يې ډېرې ستاينې ورته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجرائیه رییس له هغې ورځې وروسته په اصطلاح دواړه پښې په یوه موزه کې ننه ایستې تر څو له ډاکتر اشرف غني نوي ولسمشر نه دغه ودانۍ ترلاسه کړي او نوم یې پرې «سپېدار ماڼۍ» کېښود. که څه هم ولسمشر کرزي غوښتل چې یاده ودانۍ افغانستان ته د بهرنیو دولتي او حکومتي مشرانو د سفر پر مهال دولتي مېلمستون شي، خو هم د ملي یووالي حکومت د مشرانو شمېر زیات ؤ او هم تر پخوانیو د هغوی د کش او فش او دبدبې اشتها زیاته! له همدې ځایه ویجاړې شوې ودانۍ چې بېرته جوړې شوې او نوې جوړې شوې ماڼۍ د هغوی لپاره کافي نه وې.

بالاخره د سپتمبر پر ۲۹ مه د سلامخانې په ماڼۍ کې د لوړې مراسم ترسره شول. د ملي یووالي حکومت لوېدیزوالو په ځانګړې توګه امریکایانو جوړ کړی ؤ خو د لوړې په مراسمو کې د دوی له جګپوړیو څه آن له ټیټ پوړیو کسانو څخه هم له بهره څوك نه وو راغلي. که څه هم د دې مراسمو د تنظیم د چارو مسوولیت د ډاکتر مدبر پر غاړه ؤ خو د ولسمشر هغه ښه نه اېسېدو د پروګرام چلول، انانسري او د چارو تنظیم یې ډاکتر غلام فاروق وردګ ته سپارلي وو. ښاغلی وردګ په لومړي پړاو کې د ډاکتر زلمي رسول له پلویانو څخه ؤ خو په دوهم پړاو کې له ډاکتر اشرف غني سره یو ځای شو.

د ولسمشر کرزي لنډه وینا ما لیکلې وه، ما قصداً په هغو کې دوه ټکي ځای کړي وو: یو دا چې «که ما هغه تجربه چې نن یې لرم د کار په پیل کې درلودای ډېرې چارې به مې په بل ډول مخ ته وړې وې» او بل دا چې «باور مې دی چې افغانستان به له صفر نه د پیل ترخه تجربه بیا تکرار نه کړي» د تجربې په مساله کې زما له امریکا سره اړیکې د بازار اقتصاد او ... په نظر کې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له امریکا سره اړیکې د طالبانو د رژیم له رانسکورېدو وروسته د غني توب تر بریده په نیک گومان، دوستانه شوې وې، له هغو ټولو تجربو وروسته، ډاکتر غني باید له هغه ټکي نه پیل کړې وای چې موږ هلته رسېدلي وو او له صفر نه د پیل په باب، دا لومړی ځل ؤ چې په ارگ کې ناست واکمن له بهرني فشار پرته د انتخاباتو په پایله کې واك نوي ولسمشر ته سپاره. دغه کار زموږ له پېښو په ډك تاریخ کې بې سابقې ؤ. په هغه تاریخ کې چې د واك لپاره له کودتاؤ او وژنو او ړندولو ډك ؤ.

موږ په ارگ کې له کانتینري دفترونو نه پیل وکړ، اعلیحضرت نادرشاه په چور شوي ارگ کې کار پیل کړ او ... ځکه خو دغه د واك لېږد د هېواد لپاره ډېر ښه پیل کېدای شو. ځکه د لومړي ځل لپاره روغه اداره په ډېره خوښۍ او د بشپړې همکارۍ په روحیه نوي واکمن ته سپارل کېدله.

ډاکتر اشرف غني احمدزی د قاضي القضات ترځنگ ودرېد مراسم یې ترسره کړل. ورپسې د نوموړي مرستیالانو او بیا ډاکتر عبدالله او مرستیالانو یې د لوړې مراسم ادا کړل.

د یادونې وړ ده چې د تاجکانو د استازي د تش ځای د ډکولو لپاره د ډاکتر غني د مشرتابه په ټیم کې وروسته احمد ضیا مسعود د ولسمشر د مرستیال له واکونو او تشریفاتو سره په ښې حکومتولۍ کې د نوموړي د استازي په توگه وټاکل شو او د لوړې مراسم یې ترسره کړل. نوموړی له څه مودې وروسته د ولسمشر لخوا له دندې گوښه کړای شو.

د سلامخانې په ماڼۍ کې د مېلمنو شمېر ډېر ؤ، د مراسمو له پایته رسېدو وروسته د گلخانې ماڼۍ په لور چې د ولسمشر دفتر هلته ؤ پلي روان شوو. لویه ډله همغه لوري ته روانه وه، هر چا هڅه کوله ځان نوي ولسمشر ته ور ورسوي، جنرال عبدالرشید دوستم له معذرت غوښتلو سره په بېړه زه له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ ته کړم او د ډاکتر غني ترڅنګ یې ځان ته ځای وکړ. د ولسمشر دفتر د دومره کسانو د ځایولو ظرفیت نه درلود، یو شمېر د ګلخانې په دهلېزونو کې انتظار پاتې شول، مولوي تره خېل محمدي اوږدې تسبیح په لاس کې دعا وکړه او ولسمشر کرزي په دواړو لاسونو چوکۍ وړاندې کش کړه له ډاکتر غني یې وغوښتل چې پر هغو کښېني.

کله چې ولسمشر کرزي خدای پاماني وکړه او غوښتل یې له ارګه ووزي ډاکتر اشرف غني ورسره ملګری شو او وې ویل چې تر نوي کوره درسره ملګرتیا کوم. لاندې د ګلخانې ماڼۍ د دروازې مخې ته خدماتي کارکوونکي، د ارګ د تشریفاتو د ځانګړي کنډك سرتیري او د ولسمشر د محافظت ساتونکي له ولسمشر کرزي سره چې نور پخوانی ولسمشر شوی ؤ له اوښکو په ډکو سترګو خدای پاماني وکړه. زه سنګي ماڼۍ کې خپل دفتر ته راغلم، شخصي شیان مې راټول کړل، د موټرونو کیلي ګانې مې ادارې ته وسپارلې په خدمتي موټر کې خپل کور ته راغلم د آرامۍ عجیب احساس مې کاوه، د ښې راتلونکې په انتظار وم که هر څو هم انتخاباتي لانجې، د ملي یووالي حکومت معامله او د دغه حکومت د مشرانو شخصیت چا ته اجازه نه ورکوله چې د راتلونکې په باب دې ډېر ښه ګومان وکړي.

څو ورځې وروسته خبر شوم چې د ارګ د جګپوړیو او ټیټ پوړیو مامورینو د لرې کولو لړۍ پیل شوې وه. نوې ادارې هغه کسان بې برخلیکه کورونو ته استول چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو له ازموینو وروسته په دندو ګومارل شوي وو او تر درې کلونو پورې د ملکي خدماتو د قانون له مخې هغوی باید ګوښه او یا تبدیل شوي نه وای. نوې ادارې ډېره په بېړه دا پرېکړه وکړه چې د ریاست دفتر او د چارې اداره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بل سره مدغم کړي، هغه کار چې ډېره ګډوډي او سرګرداني یې جوړه کړه خو د دې کړښو تر لیکلو پورې یې عملي نکړای شوه.
نوی حکومت په لومړۍ کاري ورځ امنیتي تړون لاسلیك کړ. د تلویزیون له لارې د دغه ذلت نه ډکې ننداره لیدلو ډېر ځورولم. ما د دغه ډول تړون او دغه ډول لاسلیك په مخالفت کې مبارزه کړې وه او ځو ځله مې د وخت ولسمشر ته ور یاده کړې وه، چې په څومره قربانیو، تورونو او سپکاویو زغملو مو چې د هېواد عزت او خپلواکي ساتلې وه په دغه ډول اداره او دې ډول نوماندانو به ډېره ګرانه وي چې خوندي دې پاتې شي، خو یوازې دا نه وه داناروراباکر د امریکا د کانګرس غړی چې په افغانستان کې د اختلافونو په ایجادولو بوخت ؤ او په همدې سبب ممنوع الدخول ګرځېدلی ؤ افغانستان ته راغی او په داسې حال کې چې پکول یې پر سر ؤ په عزت او احترام یې هرکلی وشو او د ملي یووالي حکومت له مشرانو سره یې وکتل.
متیوروزنبرګ چې د ژورنالیست په نوم په استخباراتي چارو بوخت ؤ د نظام په تخریب د لیکنو په سبب له هېواده شړل شوی ؤ په احترام افغانستان ته راوبلل شو.
امنیتي تړون لاسلیك شو، امریکا په عملیاتو کې په بشپړې آزادۍ پوځي اډې لاسته راوړې. زندانونه یې بېرته فعال شول. خو جګړه پایته ونه رسېده، فقر زیات شو، هغو ځوانانو چې د طالبانو له دورې وروسته یې لوړې زده کړې کړې وې له هېواده تېښتې ته اړ شول. لوېدیزو هېوادونو آن په خپلو سفارتونو کې د ویزو د اجرا ځانګې وتړلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متاسفانه دغه لړلیک ډېر اوږد دی. خو په وروستیو معلوماتو کې چې ما له ارګه ترلاسه کړي دي هغه دوسیې چې ما په خپل دفتر کې ایښې وې چا یې پاڼه نه ده اړولې. لکه په افغانستان کې چې کودتا شوې وي.
په دې ډول یو ځل بیا افغانستان یو لوی چانس چې لاسته ورغلی ؤ بیا له لاسه ورکړ بیا یې له صفر نه پیل وکړ ان تر دې هم بدتره ګړندی شاته وګرځېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library





له خپل پلار (عبدالغفور خُرم) سره. پغمان – د سردار محمد داوود خان باغ




ماشومتوب - کور- پروان مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library





استقلال لېسه – کال - ۱۳۵۹ - له ټولګیوالو سره



د ځدرانو سیمه: د پېښور په لاره له حاجي احمد جان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





پاریس – سن ژرمن واټ – له ټولګیوالو سره



ژنیو – د یوه علمي سفر په جریان کې – له ټولګیوالو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





د قبرس غونډه



د قبرس غونډه –له پوهاند عبدالاحمد جاوید او د غونډې يو بل ګډونوال سره

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سولې او ملي وحدت د ټولنې جلسه په پېښور کې



د سولې او ملي وحدت د ټولنې غونډه – نشترهال - پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د الفتح غنډ (سپینه شګه) په لار کې – ځاځي – له ډاکټر محمد قاسم همت سره



سرخرود – له طالبانو سره د مذاکرې لپاره د کابل په لار – له سید حامد ګیلاني
او وکیل اکبرزي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library






د بن کنفرانس وروستۍ ورځ - کال ۲۰۰۱



د بن کنفرانس وروستۍ ورځ - کال ۲۰۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library





د بن کنفرانس–پترستبرگ مانۍ–له حاجي عطاالله خان او مصطفی ظاهر سره



افغان پوهنتون ـ پېښور –د حقوقو د لومړي کال له محصلینو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library






د امناء هیأت ځلورمه غونډه – د ۱۳۸۸ کال نوروز – مزار شریف



د اطلاعات او فرهنګ وزارت لخوا د یوه نندارتون پرانیسته

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ناټو کې د امریکا د سفیر کور – له امریکا او پاکستان سره د درې اړخیزې غونډې پر مهال – بروکسل



د درې اړخیزې غونډې د تفریح پر مهال – بروکسل (په عکس کې ډیویډ پیرس هم لیدل کېږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د امریکا له قوماندان او سفیر سره یوه غونډه د ولسمشر په دفتر کې – ګلخانه ماڼۍ



له بارک اوباما سره ملاقات، کابل ته تر پرواز د مخه – د استاد رباني د ترور له پیښې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ارگ په حرمسرای کې له بارک اوباما سره د نیمې شپې ملاقات د
ستراتیژیک قرارداد د امضا کولو پر مهال



د ولسمشر کرزي له خوا جوړه شوې ماښامنۍ په بلیر هاوس کې – کال
۲۰۱۳ (زبیگنیوبریژنسکي له حامد کرزي سره د نظر تبادله کوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library





له ولسمشر کرزي سره د ده په دفتر کې



د قطر له امیر سره کتنه - امیري دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library





د امریکا خاص استازی جیمز ډوبنز او سفیر کننګهم سره ملاقات. د ولسمشر د کار دفتر.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library